تفسیر

حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابوزہیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور

Mob: 0301-8828402



حکمۃ القرآن



تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابوزهیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د کتاب نوم ———— تفسیر حکمة القرآن (جلد څلورم)
د مؤلف نوم ———— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله
جمعه وترتیب ———— ابوزهیر سیف الله (غفر له)
سنۀ طباعت ———— (١٤٣٦) هجری صفر - ٢٣ /موافق (١٧/١٢/٢٠١٤)
د نسخو تعداد ———— ١١٠٠
فن ———— تفسیر
ناشر ———— مکتبه محمدیه گنج پیښور
کمپوزنگ ———— الراقم ابوزهیر

د ملاویدو پته

١- **مکتبه محمدیه** بیرون گنج گیټ پهندو روډ منگل مارکیټ پیښور پاکستان
ولی الله : 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابوزهیر : 03075924001
٢- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور.
٣- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پیښور.
٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان.
٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402
٦- دینی کتب خانه تیمرگره پاکستان.
٧- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترڅنگ دکان نمبر ٢

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا
يقيناً الله حكم كوى تاسو ته چه ادا كړئ امانتونه خپل اهل (مستحقينو) ته او كله
حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّٰهَ
چه فيصله كوئ تاسو د خلقو ترمينځ چه فيصله اُوكړئ په انصاف سره يقيناً الله
نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾
ډير ښه دے هغه شے چه نصيحت كوى تاسو ته په هغے سره يقيناً الله آوريدونكے ليدونكے دے۔

تفسير : اُوس الله تعالىٰ بيرته قوانينو بيانولو ته رجوع وكړه۔

مضمون :

ددے ځاى نه تر (١٣٥) پورے الله تعالىٰ داسے سياسى قوانين بيانوى چه د ملك د نظام سره تعلق لرى، او داسے حقوق دى چه د راعى او د رعيت متعلق دى۔ نو اول آيت كى وائى چه تاسو اهل خلك مشران جوړ كړئ او بيا وائى چه د الله او د رسول او د مشرانو تابعدارى وكړئ ځكه چه په چا باندے مشر مقرر نۀ وى نو بيا افراتفرى جوړيږى او كه د هغه اطاعت نۀ وى نو نظام خرابيږى نو اطاعت د اولى الامر او د هغے متعلقات ئے بيان كړيدى، بيا په مينځ كى د (٦٠) آيت نه تر يوه ركوع پورے منافقانو ته زجرونه دى او د هغوى پنځه بد صفتونه ذكر كوى ځكه چه دا هغه خلك دے چه ددے قوانينو مخالفت كوى،

بيا الله تعالىٰ په مختلفو طريقو سره د رسول الله ﷺ اتباع ته ترغيبات وركړيدى، چه نبى خو دے له راځى چه د هغه اطاعت به كولے شى او د هغه اطاعت سبب د مغفرت دے (٦٤)۔ بيا په (٦٥) كى وائى چه د رسول الله ﷺ د تحكيم نه بغير انسان مؤمن كيدے نشى، په خپله خو به هغه حاكم جوړوى او د هغه په فيصله به رضا كيږى۔ بيا وائى چه د رسول الله ﷺ اتباع آسانه ده، څه مرگ او قتل پكى نشته۔

بيا په (٦٦) كى وائى چه د رسول الله ﷺ اطاعت كولو سره بنده ته پنځه فضائل

حاصلیږي خیریت او ایمان په (٦٧) کې، او اجر عظیم په (٦٨) کې، او هدایت د صراط مستقیم په (٦٩) آیت کې، او د انبیاؤ علیهم السلام او د نیکانو ملګرتیا په جنت کې حاصلیږي۔

او پدې کې به اشاره وي چه په کوم ملك او نظام کې د الله او د رسول خبرې درنې وګڼل شي نو دغهٔ ملك به ودان وي او که هغه سپکې وګڼلې شي نو نظام به ګډوډ کیږي۔

بیا د نظام عسکري متعلق یو حکم بیانوي چه هرکله الله او رسول حاکم وګڼلې شي نو اُوس به ددې دین او نظام د حفاظت دپاره جهاد او قتال کولې شي نو اول حکم کوي په تیارولو د آلات او وسلې۔ او بیا زجر دې منافقانو ته چه هغوي پدې کار کې مداهنت کوي په (٧٣) آیت کې بیا بل سیاسي (عسکري) حکم بیانوي چه اعداد المقاتلین دې یعنی مخلصان مجاهدین تیارول ضروري دي۔ بیا ئې قتال ته ترغیب ورکړیدې چه قتال به د دوه غرضونو دپاره کیږي یو د اعلاء کلمة الله دپاره او بل د کمزور د راخلاصولو دپاره۔ د هغې نه روستو به بیا حاصل راځي۔

مدینه دار الخلافه جوړه شوه نو دې خبرې ته ضرورت دې چه امانتونه دې خپل اهل ته وسپارل شي او په عدل (یعنی کتاب او سنت) باندې دې فیصلې وشي او رشوتونه دې وانخستې شي، او ظلم دې ونشي، تولو عوامو سره دې یو شان عدل وشي نو پدې سره به خلافت باقي پاتې وي او معاشره او نظام به نهٔ خرابیږي۔

نو پدې آیت کې الله تعالیٰ مسلمانانو ته دا حکم کړیدې چه دوي دې د امانتونو په سختۍ سره حفاظت اُوکړي، او د هغې په ادائیګۍ کې دې ذره کوتاهي هم نهٔ کوي۔

ابو داودؒ (٣٥٣٦)، ترمذيؒ (١٢٦٤) او دارميؒ وغیرهم روایت کړیدې چه رسول الله ﷺ فرمائي: [أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ]

((د امانت والا امانت ادا کړه، او څوك چه خیانت کوي د هغه سره خیانت مهٔ کوه))۔ (وسنده صحیح)

حافظ ابن کثیرؒ لیکلي دي چه د امانت کلمه هر قسم امانتونو ته شامل ده، برابره ده چه د الله حقوق وي لکه مونځ، زکاة او روژه وغیره، او که د بندګانو خپل مینځ کې حقوق وي چه هغوي هغه په دنیا کې ادا نکړي نو د مسلمؒ او احمدؒ د روایت کړي یو صحیح حدیث مطابق هغه به په قیامت کې ادا کوي، تردې چه د بې ښکرو چیلۍ قصاص به د ښکرو والا چیلۍ نه اخستې شي۔

شان نزول

ډیرو مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت د عثمان بن ابی طلحه په باره کی د فتح د مکے په موقعه نازل شوے وو، چه د هغه سره د خانه کعبے چابیانے وے۔ او دا ورته په خاندانی طور سره راروانے پاتے وے، رسول الله ﷺ چه کله خانه کعبے ته راورسیدو نو عثمان ئے راوغوختو او چابیانے ئے ترے واخستے او د کعبے دروازه ئے کولاوه کړه ورداخل شو،

او کله چه راووتو نو همدا آیت ئے اُولوستلو او عثمان ئے راوغوختو او چابیانے ئے ورته حواله کړے۔ ورته ئے وویل : (هَاكَ مِفْتَاحَكَ يَا عُثْمَانُ)

اے عثمانه! خپله کنجی بیرته واخله، او نن ورځ د نیکئ او د وفادارئ ورځ ده چه دا دِے همیشه دپاره ستا او ستا په اولادو کی وی۔ سیرتِ ابن هشام۴/۳۲، الدر المنثور۲/۵۷۱)

په یو بل روایت کی دی : شیبه بن ابی طلحه او عثمان بن ابی طلحه ته ئے وفرمایل:

(خُذُوهَا يَا بَنِيْ طَلْحَةَ خَالِدَةً تَالِدَةً لَا يَأْخُذُهَا مِنْكُمْ اِلَّا ظَالِمٌ)

(معجم الصحابة لابی القاسم البغوی۳/۱۵۱) رقم (۱۲۲۸) ومعرفة الصحابة للاصبهانی)

اے د طلحه ځامنو! تاسو دا چابیانی واخلئ چه همیشه به تاسو سره وی او تاسو نه به ئے صرف ظالم اخلی۔

حافظ سیوطیؒ وئیلی دی چه په ظاهره کی داسے معلومیږی چه دا آیت په هغه باندے په هغه وخت نازل شوے وو کله چه هغه په کعبه کی دننه وو۔

د امانتونو نه څه مراد دے؟

ددے آیت شان نزول اګر که خاص دے لیکن الفاظ ئے عام دی نو دا بیا د حُکامو سره هم لګی او د عوامو سره هم، دواړو ته الله تعالیٰ حکم کوی چه امانتونه هغه خلکوته ورسوئ چه د امانتونو اهل وی،

(۱) پدے کی هغه امانتونه هم شامل دی چه چا د چا سره ایخودی وی چه په هغے کی به خیانت نشی کیدے بلکه هغه به د طلب په وخت واپس کولے شی۔

(۲) دویم : عهدے او مناصب به اهل خلکو ته ورکولے شی، محض په سیاسی بنیاد، یا په نسلی او وطنی او لسانی بنیاد، یا د قرابت او خپلولئ او خاندان په بنیاد باندے عهده او منصب ورکول ددے آیت خلاف دی۔

دارنګه خپلو کشرانو (مامورينو) ته به د هغوی د استحقاق نه زيات امر نۀ کوئ چه هغوی په ګناه کولو باندے مکلف کړئ يا ورته وواييئ چه ځانونه مړه کړئ بلکه هغوی باندے به د خپل وس مطابق امانت او ذمه واري اچولے شي۔

ددے نه دا هم معلومه شوه چه خلافت، وزارتونه، او د مسجد امامت، خطابت او درس او تدريس او تعليم او تعلم به اهل خلکو ته سپارلے شي او په حديث د بخاری کي دي :

(فَاِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ قَالَ :كَيْفَ اِضَاعَتُهَا ؟ قَالَ : اِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ اِلٰى غَيْرِ أَهْلِهٖ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ)۔ بخاری :٥٩)۔

رسول الله ﷺ نه يو تن د قيامت متعلق پوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمايل : کله چه امانت ضائع شي نو د قيامت انتظار کوه، هغه عرض وکړو : د امانت ضائع کيدل به څنګه وي؟ وے فرمايل: کله چه کارونه نا اهله خلکو ته وسپارل شي نو د قيامت انتظار کوه۔

کله چه غير اهل ته کارونه وسپارل شي نوپدے سره د ملك نظام خرابيږي۔

(۲) تفسير : پدے کی د ابی بن کعب ﷺ نه نقل دی چه دا خطاب هر مسلمان ته دے چه هغه به امانتونه ادا کوی خپل اهل ته، دا امانتونه عام دی چه د الله امانتونه وی او که د بندګانو لکه د الله امانتونه، مونځ، زکاة، روژه، حج، د غسل جنابت، د حفظ الفرج وغيره دی چه الله دا مونږ ته راسپارلی دی، دا به الله تعالیٰ ته ادا کوو۔ که څوك دا نۀ ادا کوی نو هغه بۀ خائن وی۔ د زنانه امانت دا دے چه خپل عورت به خپل خاوند ته حواله کوی نۀ بل چا ته وغيره وغيره او د بندګانو امانتونو کی امانت د مال هم وی، امانت د خبرے هم وی، او امانتُ د عهدے هم وی چه کله تا ته يو کار در وسپارلے شو مثلًا د ماشومانو درس نو هغوی سره چل ول باندے به وخت نۀ تيروے، تدريس دروسپارل شو نو په هغے کی به کوشش کوے او د کتاب مطالعه به کوے، غلط درس به نۀ کوے۔ دارنګه کاريګرانو او ګيلکارانو او مزدورانو ته يو کار وسپارل شي چه دا ديوال جوړ کړئ نو هغوی چل ول وکړی او هسے وخت تير کړی خپله ديړی اړوی، دا خائنان دی، دارنګه ټهيکيدارانو ته سړك جوړول، د کو هيانو کنستل وسپارل شي هغوی پکی خواری ونکړی دا خيانت دے۔

دارنګه علماء امانت دے د عوامو دپاره، د دوی ضائع کول جائز نۀ دی بلکه د دوی نه به فائدے اخلی او د دوی خدمتونه به کوی۔ دينی مکتبی او کتابونه امانت دے او د مسلمانانو سرمايه او ميراث دے دا به نۀ ضائع کوی۔

که هر مسلمان پدے يو آيت باندے عملَ وکړی نو معاشره به ډيره زياته برابره شي۔

پدے کی گواهی هم داخل ده چه تۀ چا گواه کړے نو په خپله موقعه کی به گواهی ادا کوے او د چا نه به یره نکوے۔ او حدیث کی دی چه (لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهٗ) چا کی چه امانت نۀ وی هغه کی ایمان نشته۔ (مسند احمد :١٢٤٠٦، ابن حبان، وابی یعلی: ٢٨٦٣ بسند حسن)

وَإِذَا حَكَمْتُمْ : دا دویم حکم دے چه کله تاسو د خلکو ترمینځ فیصله کوئ نو په عدل او انصاف سره به فیصله کوئ، یو طرف ته به نۀ مائله کیږئ۔ او د خلکو ترمینځ فیصله کی دا هم داخل دی چه چا باندے فیصله کول چه دا ښه دے او دا بد او ددۀ قول صحیح دے او ددۀ غلط، نو پدے کی به هم د انصاف نه کار اخستے شی او د مذهب پرستئ نه به کار نشی اخستے، ډیر ملیان په کتابونو کی د خپل مذهب د تائید دپاره ځان سره جمهور علماء ملګری کوی او د اجماع دعوے کوی۔

إِنَّ اللهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ : یعنی کیدے شی چه تاسو به په امانتونو کی د خیانت او په فیصله کی د بی انصافئ په ضررونو سمدستی پوهه نۀ یئ خو روسته به پوهه شئ چه الله تاسو ته څومره فائده مند نصیحتونه کوی او په څومره فائده منه لاره مو روانوی۔

او د الله پدے حکمونو باندے عمل کولو سره انسان ته د دنیا او د آخرت فائدے ملاویږی، معاشره پرے برابریږی۔ او آسمان او زمکه په عدل باندے ولاړ دی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَأُولِي
اے ایمان والو ! تابعداری اُوکړئ د الله او تابعداری اُوکړئ د رسول (د الله) او د خاوندانو
الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ إِلَى اللهِ
د حکم ستاسو نه پس که جګړه راغله ستاسو په یو شی کی نو واپس کړئ هغه الله
وَالرَّسُوْلِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذٰلِكَ خَيْرٌ
او رسول ته، که تاسو ایمان لرئ په الله او په ورځ روستنئ دا کار ډیر غوره دے
وَّأَحْسَنُ تَأْوِيْلًا ﴿٥٩﴾
او ډیر ښائسته دے په اعتبار د انجام۔

تفسیر :

ربط : په تیر شوی آیت کی الله تعالیٰ حُکامو او رعیت ټولو ته د عدل او د انصاف حکم وکړو نو اُوس پدے آیت کی الله تعالیٰ عوامو (مامورینو) ته څو حکمونه کوی، برابره ده

چه هغه کسان د فوج افراد وی یا عام خلك وی :
(۱) اول حکم دا چه د الله اطاعت وکړئ، که تاسو ته خپل آمران د قرآن کریم مخالف حکم وکړی نو د هغوی اطاعت مهٔ کوئ۔ (۲) همدارنګه د نبی کریم ﷺ اطاعت وکړئ او ستاسو د مشرانو چه کوم امر د احادیثو نه مخالف وی ذ هغه اطاعت مهٔ کوئ۔
(۳) د خپلو هغه اولوا الامر (آمرانو، مشرانو) امر منئ چه هغوی ستاسو نه وی او مسلمانان وی او لکه څنګه چه په تاسو باندے د الله په مخالفت کی د آمر اطاعت نشته نو دغه شان د کافرانو اطاعت درباندے نشته۔ ځکه ئے مِنْكُمْ لفظ استعمال کړو۔
(٤) د اولوا الامر اطاعت په تاسو باندے په هغه حکم کی واجب دے چه اتفاقی وی او ستاسو پکی اختلاف نهٔ وی، او هغه حکم ظاهراً د الله او د رسول خلاف نهٔ وی۔
(٥) که ستاسو او د مشرانو په یو حکم کی اختلاف راغلو نو هغه د الله کتاب او د رسول الله ﷺ سنت ته پیش کړئ، که د چا خبره د الله د کتاب او د رسول الله ﷺ سره برابره وه هغه واخلئ، که د یو مشر خبره د قرآن کریم یا د رسول الله ﷺ د حدیث خلاف راوځی نو د هغے منل په تاسو لازم نهٔ دی بلکه د الله د کتاب او د رسول الله ﷺ د حدیث تابعداری به واجب وی۔
نو د آیت نه معلومه شوه چه د حُکامو اطاعت په اتفاقی خبرو کی لازم دے مګر دا چه حُکام د الله په نافرمانئ حکم کوی نو د هغوی خبره به نهٔ منلے کیږی ځکه چه چرته د خالق نافرمانی کیږی هلته د مخلوق اطاعت نهٔ کیږی۔
د بخاری روایت دے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : ((چا چه زما اطاعت اُوکړو نو هغه د الله اطاعت اُوکړو او چا چه زما نافرمانی اُوکړه نو هغه د الله نافرمانی اُوکړه او چا چه زما د امیر اطاعت اُوکړو نو هغه زما اطاعت اُوکړو او چا زما د امیر نافرمانی اُوکړه نو هغه زما نافرمانی اُوکړه))۔

شان نزول

بخاریؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه دا آیت د عبد الله بن حذافه بن قیس بن عدی السَّهمِی رضی الله عنه په باره کی نازل شوے وو۔ امام احمدؒ د علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ د یو انصاری په قیادت کی یوه فوجی دسته اُولیږله، د دستے امیر په څه خبره باندے د خلقو نه ناراضه شو نو هغه د اُور بَلولو حکم وکړو او خلقو

تـه ئے هغے ته په دنګلو حکم اُوکړو، د دستے یو ځوان خلقو ته اُووئیل چه مونږ په رسول الله ﷺ باندے ایمان پدے وجه راوړیدے چه مونږ د اُور نه بچ شو، پدے وجه مونږ دِے جلتی اُونـکـړو تـردے چـه رسـول الله ﷺ نـه تـپـوس اُوکـړو، کله چه دوی واپس راتلو نه روستو د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو نو نبی کریم ﷺ اُووئیل :

[لَوْ دَخَلُوْهَا مَا خَرَجُوْا مِنْهَا اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، اَلطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوْفِ] [(بخاری ۲/ ۶۲۲]

چـه کـه دوی هـغـه اُور تـه دانـګلی وے نود هغے نه به هیڅ کله نهٔ وے وتلی، د امیر یا قائد اطاعت په نیك کار کی وی۔

عـلامـه طيبیؒ لیـکلی دی چه ﴿وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾ کـی د فـعـل اعـاده پدے خبره باندے دلالـت کـوی چـه د رسول اطاعت مستقل دے او ﴿وَاُولِي الْاَمْرِ﴾ کـی د فـعل نهٔ اعاده کول پـدے دلالـت کـوی چـه د هـغـوی اطاعـت مشروط دے۔ که د هغوی حکم د قرآن او سنت مطابق وی نو اطاعت به ئے کیږی او که نهٔ وی نو اطاعت ئے نشته۔

اولی الامر څوك دی؟

پدے کی د سلفو نه دوه اقوال نقل دی :

(۱) د ابو هريره ﷛ نـه نـقل دی چه ددے نه مراد امراء او واليان دی او د امر نه مراد اختيار د حـکـومـت دے۔ (۲) د ابـن عبـاس رضی الله عنهما په نیز د (اولی الامر) نه مراد اهل فقه او دين دی۔ او د مجاهدؒ، عطاءؒ او حسن بصریؒ وغيرهم په نيز ددے نه مراد علماء دی۔

لیـکن حقه دا ده چه ددے نه تمام اهل حل وعقد، اميران او علماء مراد دی ځکه چه علماء هـم د الله او د رسول د خبرو بيانونکی دی او شارعان نهٔ دی۔ او د سلفو په زمانه کی به غالباً واليان علماء او فقهاء هم وو۔

نـو ددے نـه مـعلومه شوه چه د الله او د رسول خبره به بغير د شرط او قيد نه منلے شی او د عـلـمـاء او حُکامو خبره به په شرطونو سره منلے شی، که خبره ئے د الله او د رسول سره برابره وه نـو مـنـلے به شی ځکه چه علماء د امت لوی مُحسنين دی چه دين ئے بيان کړيدے او که خبـره ئے د آيت او د حديث سره برابره نهٔ وه (يا ورته حديث نهٔ وو رسيدلے، يا ئے اجتهاد خطا شوے وی يا بل څه وجه وی) نو سره د اکرام د هغوی نه به د هغوی خبره پريخودلے شی او د الله او د رسـول خبـره بـه اخستـلے شـی او دا د مسـلـمـانـانـو عـقيده ده، ائمه ؤ سره به خپلو شاګردانو بحثونه کول کله به چه ورته د هغوی خبره خطا ښکاره شوه۔

او د باطل پرستو طریقه دا ده چه د الله او د رسول خبره په شرط سره منی، که د خپل مذهب یا امام یا پارټۍ سره برابره وی نو منی ئے، بیا وائی چه په آیت کی یا په حدیث کی داسے راغلی دی او که برابره نهٔ وی، نو بیا ئے منلو ته تیار نهٔ وی او د خپل امام، مجتهد، پیر او مرشد خبره په غیر د شرط نه منی، او دا وائی چه د مجتهد نه به د دلیل تپوس نشی کیدے، اګر که د هغه خبره به خطا وی، دلیل به ورسره نهٔ وی هم کلك ورپورے انښتے وی، نو د هغه نه ئے نبی جوړ کړے وی، دا په دین کی غلو ده او مسلمانان ددے کار نه سخت منع شویدی، که څوك د خپل آخرت غم کوی داسے طریقه به نهٔ اختیاروی۔

نو کوم خلك چه ددے آیت نه د تقلید په اثبات باندے دلیل نیسی نو د ډیرو وجوهو نه خطاء دے چه د هغے د تفصیل دپاره زمونږ رساله ((د تقلید حقیقت او د مقلدینو اقسام)) ته رجوع کول بهتر معلومیږی۔

مختصر دا چه دلته خو الله تعالیٰ د اولی الامر (مشرانو) خبره مشروط کړه په اطاعت د الله او د رسول سره۔ یعنی د مشرانو اطاعت به هله وی چه د الله او د رسول د طاعت لاندے وی، او مستقل مطلق اطاعت د هغوی نشته، او دا خبره د تقلید بیخ وباسی،

دارنګه الله تعالیٰ د (اولی الامر) اطاعت مشروط کړیدے، چه په وخت د تنازع کی رجوع قرآن او سنت ته لازمه ده او دا خو د تقلید د معنیٰ خلاف ده، څکه چه تقلید خو د چا بی دلیله خبرے منلو ته وئیلے شی، دریم دا چه دلته امر دے په اطاعت، او تقلید غیر دے د اطاعت نه، بله دا چه اولی الامر جمع استعمال شویده نو آیا په اولی الامر کی صرف یو عالِم مجتهد داخل دے او که نهٔ د امت ټول حق پرست علماء دی چه کله ئے خبره د دلیل سره موافقه وی؟۔

دومره ضد ؟

بیا مقلدینو تقلید د اختلافاتو لویه ذریعه وګرزوله، د دمشق قاضی محمد بن موسی البلاساغونی حنفی به وئیل : [لَوْ كَانَ لِيُ أَمْرٌ لَأَخَذْتُ الْجِزْيَةَ مِنَ الشَّافِعِيَّةِ] (میزان الاعتدال رقم : ۸۲۳۹) که زما اختیار راشی نو زهٔ د شوافعو نه جزیه اخلم (څکه چه دوی په منزله د اهل کتابو دی) د تقلید د باطل والی دپاره دا یو مثال هم بس دے۔ د دوی دعوه ده چه څلور مذهبه حق دی آیا دا به د څلورو مذهبونو منل وی؟!۔

بله دا چه دلته الله تعالیٰ حکم کړیدے چه د اختلاف په صورت کی به خبره الله او رسول

ته وړاندې کوئ او که څوك ئې د يو عالم رأي يا مذهب ته وړاندې کړي نو آيا دا به د الله خبره منونکې وي؟ تفصيل دپاره رجوع وکړئ تفسير قاسميؒ محاسن التاويل (۲/۲٦۳-۲٦٥) او اعلام الموقعين د حافظ ابن قيمؒ ته.

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ : که ستاسو خپل مينځ کې اختلاف راشي يا مو د اولي الامر سره راشي. دا هم دليل دې دپاره د رد د تقليد ځکه چه مقلد کله هم د مجتهد سره تنازع نکوي بلکه هغوي خو وائي : (لَا يُسْئَلُ عَنِ الْمُجْتَهِدِ) (درمختار) د مجتهد نه به تپوس نشي کيدې.

فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُوْلِ :

مجاهدؒ او ميمون بن مهرانؒ او د سلفو نورو علماؤ وئيلي دي چه ((الله او د هغه رسول طرف ته ئې واپس کړئ)) نه مقصود قرآن او سنت دي. د آيت پدې جمله کې مسلمانانو ته دا حکم شويدې چه په هره مسئله کې د دوي ترمينځ اختلاف واقع شي نو د هغې فيصله به د قرآن او سنت مطابق کوي. په الله او په آخرت باندې د ايمان تقاضا همدا ده.

حافظ ابن کثيرؒ فرمائي : [فَدَلَّ عَلَى أَنَّ مَنْ لَّمْ يَتَحَاكَمْ فِيْ مَجَالِ النِّزَاعِ إِلَى الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَلَمْ يَرْجِعْ إِلَيْهِمَا فَلَيْسَ بِمُؤْمِنٍ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ]

يعني : معلومه شوه چه هر هغه شخص چه په يوه اختلافي مسئله کې د قرآن او سنت حکم نهٔ مني، نو هغه به په الله او په ورځ د آخرت ايمان لرونکې نهٔ ګڼلې کيږي.

او دا هم معلومه شوه چه علماؤ سره اختلاف پدې وجه کيږي چه دليل ورسره نهٔ وي، نو دليل طرفته به رابنکلې شي چه هغه قرآن او حديث دې. (ابن کثير ۲/۳٤٦)

ذٰلِكَ : يعني قرآن او سنت طرف ته رجوع کې هر خير دې، او د انجام په اعتبار سره هم دا عمل بهتر دې، ځکه يو پدې سره الله رضا کيږي، او بل پدې سره لانجې ختميږي، او خبره يو طرفته کيږي.

او بل پدې کې عدل او انصاف دې، که بل چا ته ئې يوړو نو يو طرفته به ظلم راځي.

فائده : ځيني مفسرينو يو قول دا ذکر کړيدې چه دا خطاب رعيت ته دې چه د امراؤ سره ئې کله اختلاف راشي، نو هغوي به کتاب او سنت ته راکاږي او هرچه د عوامو او د علماؤ ترمينځ اختلاف دې نو هغې ته نهٔ دې شامل ځکه چه مقلد د مجتهد سره تنازع (جګړه) نشي کولې؟ مګر دا خبره يو خو د قرآن کريم د الفاظو د عموم خلاف ده، او بل طرفته محققينو مفسرينو دا تصريحات کړيدي چه دا خطاب عام دې او هرچه د عوامو اختلاف د علماؤ سره دې، نو هغه هم راتلې شي پدې معنیٰ چه کله يو عالم مجتهد او

مفتی یوه مسئله وکړی او د دلیل خلاف وی، نو په امی باندے واجب دی چه تحقیق به کوی او عالِم به دلیل طرفته راکاږی، که دے امی ته د بل عالِم سره دلیل ملاؤ شو نو دے علم والا وګرزیدو، نو ددهٔ اختلاف د دغه مخکنی عالِم سره صحیح کیږی۔ او الله تعالیٰ عوامو ته هم په علم باندے امر کړیدے ﴿فَاسْئَلُوْا أَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ ځکه چه علم دے ته وائی چه بنده مسئله سره د دلیل شرعی نه زده کړی۔ (احسن الکلام)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ أَنَّهُمْ آمَنُوْا بِمَا
آیا تهٔ نهٔ ګورے هغه کسانو ته چه ګمان کوی دوی چه بیشکه دوی ایمان لری په هغه کتاب
أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ
چه نازل کړے شویدے تا ته او په هغه کتاب چه نازل شویدے مخکی ستا نه، اراده لری دوی
أَنْ يَّتَحَاكَمُوْا إِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ أُمِرُوْا أَنْ يَّكْفُرُوْا
چه فیصله یوسی طرف د شیطان ته او حال دا چه حکم شویدے دوی ته چه کفر به کوی
بِهٖ وَيُرِيْدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيْدًا ﴿٦٠﴾
په دهٔ باندے او اراده لری شیطان چه ګمراه کړی دوی لره په ګمراهئ لرے سره (د حق نه).

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ منافقانو ته زجرونه ورکوی چه دوی ددے قوانینو مخالفت کوی او مؤمنانو ته تنبیه ورکوی چه د منافقانو په شان جوړ نشئ چه هسے د ایمان دعوه مو کړی وی او چه کله څه مشکل راشی نو بیا خپل ایمان پریدئ د دنیا دپاره، او غیر الله ته فیصله یوسئ، د ایمان تقاضا دا ده چه بنده به هر وخت کی د الله د حکم تابع وی۔

ربط : الله تعالیٰ قانون مقرر کړیدے نو منافقان پکی د خپل ځان نه قوانین ایږدی او د غیر الله قانون ته فیصلے وړی نو د هغوی بد حال بیانوی۔

شان نزول

مفسرینو کرامو دلته ځینی تفسیری روایات ذکر کړیدی چه تقریباً څلور یا پنځو ته رسیږی چه هغه زاد المسیر (۱۴۵/۲) التفسیر الکبیر (۱۵۳/۱۰) او اسباب النزول د واحدی ص (۱۰۶) کی ذکر دی مګر مشهور روایت پکی د عبد الله بن عباس رضی الله

عنهما دے چه یوه ورځ د یو منافق (د بِشر په نوم) او د یو یهودي په یو شي باندے جګړه راغله، نو یهودي وویل چه فیصله به رسول الله ﷺ ته ویسو (ځکه چه هغه ته معلومه وه چه رسول الله ﷺ رشوت نۀ اخلي) او منافق وویل چه فیصلے دپاره کعب بن الاشرف یهودي (ملا) ته ورځو (دے دپاره چه هغه ته څه رشوت ورکړي او فیصله ددۀ په حق کې وکړي) خو یهودي ورسره ونۀ منله، آخر دا چه مجبوراً رسول الله ﷺ ته د فیصلے دپاره ورغلل۔ نو رسول الله ﷺ د یهودي دپاره فیصله وکړه نو پدے باندے منافق راضي نۀ وو، کله چه بهر راووتل نو منافق پدے کلك شو چه یو ځل عمر فاروق ﷺ ته هم ورځو چه په هغه فیصله وکړو۔

(رسول الله ﷺ په خپله زمانه کې نور هم ډیر قاضیان مقرر کړي وو یو په هغے کې عمر فاروق ﷺ وو، او بل معاذ بن جبلؓ او بل عقبه بن عامرؓ وو ځکه چه رسول الله ﷺ باندے کار زیات وو او لوی امت ورپه غاړه وو، د عقبه بن عامر ﷺ واقعه په احکام القرآن للجصاص۲/۲۱۳ کې ذکر ده)

(یهودي ورته وویل چه ستاسو نبي یو ځل فیصله وکړه بس دغه کافي ده، مګر منافق پدے کلك وو چه عمر فاروق ﷺ ته هم ورځو، مقصد ئے دا وو چه کیدے شي هغه زما ایمان ته وګوري او زما په حق کې فیصله وکړي، یا په نیمائي راله فیصله وکړي، نو د منافق خوئي دا دے چه د الله د رسول په فیصله باندے ناراضه وي، کله چه ورله په قرآن او حدیث فیصله وکړے شي، نو که د هغه په حق کې وي خوشحاله وي او چه کله د هغه په حق کې نۀ وي، نو بیا وائي په شریعت فیصله ونشوه او په قرآن او حدیث ئے بد ګماني پیدا شي)

کله چه عمر فاروقؓ ته ورسیدل نو یهودي ورله خبر ورکړو چه رسول الله (ﷺ) زمونږ فیصله یو ځل کړیده، هغه د منافق نه تحقیق وکړو نو هغه وویل چه آؤ یو ځل شویده) نو عمر فاروق ﷺ کور ته ننوتو او توره ئے راوښکله او د منافق څټ ئے پرے ووهلو او وے ویل:

(هٰكَذَا أَقْضِيْ بَيْنَ مَنْ لَمْ يَرْضَ بِقَضَاءِ اللّٰهِ وَقَضَاءِ رَسُوْلِهٖ)۔

(تفسیر البغوی۲/۲۴۲ طبع دار طیبة)

زۀ دغه شان فیصله کوم د هغه چا ترمینځ چه د الله او د رسول په فیصله باندے نۀ راضي کیږي۔ (وجه دا وه چه دا پدے وخت کې مرتد شویدے ځکه چه کلمه ئے وئیلے ده او د رسول الله ﷺ په فیصله نۀ راضي کیږي او مرتد واجب القتل وي) نو پدے کې دا آیتونه نازل

شو او په ځينې رواياتو کې راغلي دي چه جبريل علیه السلام وفرمايل :
[إِنَّ عُمَرَ فَرَّقَ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ] عمر فاروق رضی الله عنه د حق او د باطل ترمينځ جدائي راوسته نو پدے وجه ورته رسول الله ﷺ د (الفاروق) لقب ورکړو . (روح المعانی ٦٧/٥)
نو د بِشر منافق خپلوان رسول الله ﷺ ته راغلل او شکايت ئے وکړو چه زمونږ يو مؤمن عمر فاروق رضی الله عنه وژلے دے او مونږ ته دِے ديت راکړے شي، تپوس وشو چه تاسو هغه ته فيصله ولے ورله ؟ نو هغوی ووېل چه زمونږ خو احسان او جوړجاړے مقصد وو، او د رسول الله ﷺ مخالفت مقصد نهٔ وو، نو الله پدے آيتونو کې په دغه منافق او د هغه په خپلوانو منافقانو ئے هم رد وکړو. او د عمر فاروق رضی الله عنه د خبرے تصديق ئے وکړو او وے فرمايل چه پدے منافقانو به دغه شان نور مصيبتونه هم راځي.
أَلَمْ تَرَ : پدے کې تعجيب دے (خلك په تعجب کې اچول دي) چه دے خلکو څنګه د متناقضينو ترمينځ جمع والے کړيدے چه دعوه د ايمان لري او بيا فيصلے طاغوت (باطل قانون) ته وړي.
يَزْعُمُونَ : زعم لفظ کله په معنیٰ د مطلق وينا سره، او کله په معنیٰ د باطلے او دروغژنے خبرے سره، او کله په معنیٰ د حقے خبرے سره استعماليږي، ابن دُرَيْدؒ وائي ددے په باطل قول کې استعمال زيات دے آه، اکثر استعمال ئے په شکي خبرو کې کيږي او پدے مقام کې ترے بې دليله وينا مراد ده. (روح المعانی ٦٧/٥)
يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ : دلته د ارادے نه مراد عزم (مضبوطه اراده) ده او پدے کې اشاره ده چه طاغوت ته د فيصلے وروړلو اراده ګناه ده نو تحاکم خو يقيناً ګناه ده (ابوالسعود، قاسمی)
طاغوت : نه مراد هر معبود من دون الله دے چه د هغه عبادت کيږي يا ئے د الله په خلاف اطاعت کيږي. دلته طاغوت د قرآن او سنت خلاف قانون ته وائي لکه حافظ ابن کثيرؒ وئيلي دي چه (مَاسِوَى الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ مِنَ الْبَاطِلِ) د قرآن او حديث نه په غير چه کوم باطل قوانين دي هغے ته فيصله وروړل طاغوت ته فيصله وړل دي. (ابن کثير ٣٤٦/٢)
لکه دلته مفسرينو طاغوت کعب بن الاشرف او د هغه قانون ته وئيلے دے.
دا پدے خبره دليل دے چه د طاغوت اطلاق په انسان او په بت او شيطان او دغه شان په طاغوتي نظامونو کيږي. او د باطل قيد ځکه لګوی چه کله د قرآن او حديث نه سوئ نظام اداري او امور اداريه وي چه د قرآن او حديث خلاف نهٔ وي او ځوك ئے د خپل د ژوند

ترتیب کولو دپاره اړدی نو دا طاغوت نهٔ دے۔
دغه څیزونو ته طاغوت څکه وائی چه په طاغوت کی معنیٰ د گمراهئ پرته ده او دا څیزونه او کارونه هم انسان د حقے لارے نه اړوی۔
او دا آیتونه زمونږ ددے زمانے سره ډیر ښه لګیږی چه ډیر خلك دعوه د قرآن او حدیث کوی او بیا فیصلے د لاډمیکالے په قانون کوی او د الله شریعت بدلوی۔
وَقَدْ أُمِرُوْا : یعنی الله تعالیٰ دوی ته دا حکم کړیدے چه په طاغوت به کفر کوی او ددے نه به انکار کوی او د الله شرع ته به تسلیمیږی او دا امر الله تعالیٰ په سورت بقره (۲۵٦) آیت ﴿ فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ ﴾ او په سورتِ نحل (۳٦) آیت کی کړیدے ﴿ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ﴾ یو اځے د الله بندګیٔ وکړئ او د طاغوت (د غیر الله د بندګیٔ) نه جدا شئ۔ ﴿ وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْا اِلَى اللّٰهِ ﴾ (الزمر: ۱۷) دا اګرکه جمله خبریه ده لیکن په معنیٰ کی ئے حکم دے۔
فائده : دلته تفسیر قاسمیؒ یوه فرع لیکلے ده چه کله د دوه کسانو اختلاف راشی، یو تن ورته ووائی چه دلته یو عالِم او حاکِم د مسلمانانو دے هغه باندے فیصله کوو، او بل انکار وکړی او ووائی چه راځه په یو بل قانون فیصله کوو (چه هغه د انګریزانو قانون وی) نو دا سړے پدے خبره کافر کیږی څکه چه پدے کار کی د کافرانو په شِعار باندے راضی کیدل دی انتهی۔
أَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ : د کفر نه مراد انکار دے او د طاغوتی قانون نه د انکار صورت دا دے چه د هغے تعظیم به نهٔ کوی، په هغے به فیصلے نکوی، البته کله کله د مجبورتیا په صورت کی ډیے بل ورته راکاږی نو په هغے باندے بنده نهٔ کافر کیږی دا په هغه صورت کی ده چه انسان ته قرآن او حدیث ښه معلوم وی او بیا هغه پریدی او بل نظام او قانون ته فیصله وړی لکه مخکی د قاسمیؒ په عبارت کی معلومه شوه۔
ضَلٰلًا بَعِيْدًا : وجه دا ده چه د هدایت چینه خو قرآن او حدیث دے او کله چه بنده دا قصداً شاته ګوزار کړل نو دے د هدایت نه ډیر وړاندے شو۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ
او کله چه ووئیلے شی دوی ته راشئ هغه څه ته چه نازل کړیے دے الله تعالیٰ او رسول ته

رَأَيْتَ الْمُنَافِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ﴿٦١﴾
نو وینې به ته منافقانو لره چه اوړی به ستا نه په اوړیدو سره.

تفسیر : د منافقانو بل بد صفت ذکر کیږی.

وَإِلَى الرَّسُوْلِ : یعنی د هغه په ژوند کی رسول الله ﷺ ته راوویللے شی او د هغه د وفات نه روستو د هغه سنت طریقو ته راوویلے شی.

يَصُدُّوْنَ عَنْكَ: دا خطاب نبی ﷺ ته او بیا هر مخاطب ته دے چه هغه منافقانو ته د حق دعوت ورکوی.

صُدُوْدًا : دلته لازم دے او د دوی دا اعراض پدے وجه دے چه دوی د خواهشاتو پسے روان دی او د باطل سره اموخته شویدی. (المنار)

دا دلیل دے چه چا باندے دلیل د قرآن او حدیث په اختلافاتو او فیصلو کی بد لګی نو دا منافق دے اګرکهٔ ځان ته هرڅومره بزرګ ووائی.

فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ بِمَا
نو څرنګه به وی دوی کله چه اُورسیږی دوی ته یو مصیبت په سبب د هغه ګناهونو
قَدَّمَتْ أَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآؤُوْكَ يَحْلِفُوْنَ بِاللهِ
چه مخکی لیږلی دی لاسونو د دوی بیا راشی تا ته چه قسمونه کوی په الله تعالیٰ
إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ﴿٦٢﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
چه اراده نهٔ ده کړے مونږ (په دے کار) مګر د نیکئ او د جوړ جاړی. دا هغه کسان دی
يَعْلَمُ اللهُ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ
چه پیژنی الله تعالیٰ هغه څه چه په زړونو د دوی کی دی نو مخ واړوه د دوی نه
وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ فِيْ أَنْفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيْغًا ﴿٦٣﴾
او نصیحت اُوکړه دوی ته او وایه دوی ته په باره د ځانونو د دوی کی خبره تاثیر ناکه.

تفسیر : پدے کی رسول الله ﷺ ته زیرے ورکړے کیږی چه دے منافقانو ته به مصیبتونه راپیښیږی او ستا خواته به راځی او د خپل اخلاص او ایمان اظهار به کوی، او

قسمونہ بہ خوری چہ د دوی مقصد د دواړو ډلو پہ مابین کی صلح کول وو۔
نو پدے آیت کی اللہ تعالیٰ د دوی جهالت او بی همتی بیانوی چہ دومرہ خو بیکارہ دی چہ پہ خپل اعراض باندے مضبوط پاتے کیدے هم نشی بلکہ بیرتہ تا تہ محتاج کیږی۔ (المنار)
فَكَيْفَ : ددے مدخول پټ دے اَیْ فَكَيْفَ يَحْتَالُوْنَ ۔ یا فَكَيْفَ حَالُهُمْ۔ نو دوی بہ څنګہ حیلے جوړوی کلہ چہ دوی تہ مصیبتونہ ورسیږی، یا - د دوی بہ څہ حال وی کلہ چہ دوی تہ د دوی د ګناهونو پہ وجہ مصیبتونہ ورسیږی۔
نو پدے کی د دوی بی عقلی ذکر دہ یعنی کہ دا خلك عقلمند وے نو کوم ایمان ئے چہ راښکارہ کړیدے هغہ بہ ئے مضبوط نیولے وے، دے دپارہ چہ د هغے نہ ئے پورہ فائدہ اخستے وے ځکہ چہ عاقل انسان تہ دا معلومہ دہ چہ دغہ حال چہ دوی پکی طاغوت تہ فیصلہ وړل غورہ کړیدی، دا د دوی دپارہ همیشہ نۀ پاتی کیږی، او نزدے دہ چہ دوی بہ د هغے نہ نقل شی او پہ بل مصیبت کی بہ واقع شی چہ پہ هغے کی بہ مجبورہ وی چہ رسول اللہ ﷺ تہ رجوع وکړی، دے دپارہ چہ هغہ ورلہ مسئلہ حل کړی او دوی بہ بیا د خپل اعراض کولو عذرونہ پیش کوی چہ مونږ غیر اللہ تہ فیصلہ ځکہ وړلہ چہ زمونږ د خیر او د احسان ارادہ وہ۔ خو دوی دومرہ بی وقوف دی چہ پہ خپل صدود او اعراض باندے مضبوط نشی پاتی کیدے نو اُوس دوی د لوی سزا مستحق دی دے دپارہ چہ د بل چا دپارہ عبرت وګرځی۔ (المنار)
نو پدے کی یوہ اشارہ دہ د بِشر منافق واقعے تہ چہ هغہ تہ د عمر فاروق رضی اللہ عنہ پہ لاس مصیبت ورسیدو، قتل شو۔ او دویم اشارہ دہ چہ هر مُلك چہ پہ هغے کی طاغوتی نظام موجود وی نو هلتہ بہ مصیبتونہ ډیر وی، او نظام شرعی کی تہول امن وامان دے، مال او عزت بہ محفوظ وی، او قتل وقتال بہ نۀ وی۔
إِنْ أَرَدْنَا : أَيْ بِالتَّحَاكُمِ یعنی زمونږ پدے فیصلہ وړلو سرہ د احسان ارادہ وہ چہ مونږ یهودی سرہ احسان وکړو، او یهودی ئے مونږ سرہ وکړی، او احسانی فیصلہ وشی، او توفیق مو غرض وو چہ هغہ اصلاح او جوړ جاړے دے۔ نو دے نہ معلومہ شوہ چہ د منافقانو عادت دا دے چہ د هغوی پہ زړہ کی یوہ خبرہ وی، او پہ خُلہ باندے وائی چہ زمونږ بل مطلب وو او بنہ ارادہ مو وہ۔ یعنی د قرآن او د حدیث او د اللہ د حکم پہ مخالفت کی ورلہ باطل عذرونہ او بهانے ډیرے ورځی۔

د منافقانو مصيبتونه

منافقانو ته چه په هره موقعه کې کوم مصيبت رسيدلے دے نو رسول الله ﷺ ته ئے په دروغه قسمونه کړيدي چه د هغې په وجه ئے خپل ځانونه پاك کړيدي لکه :

(١) کله چه دوی مسجد ضِرَار د فساد دپاره جوړ کړو او رسول الله ﷺ د تبوك د غزا نه په واپسئ کې هغه وران کړو، نو دوی راغلل او قسمونه ئے وکړل چه دا خو مونږ د اصلاح دپاره جوړ کړے وو.

(٢) د تبوك غزا ته دوی لاړ نشو نو بيائے رسول الله ﷺ ته د دروغو عذرونه کول.

(٣) په بعض غزواتو کې دوی د کفر خبرے کړے وے لکه په سورة التوبه (٧٦) او سورة المنافقون (٨/٦) آيتونو کې د هغې واقعات راغې چه الله تعالىٰ دوی رسوا کړل.

(٤) دوی دا ويلي وو چه مونږ به مسلمانان د مديئے نه وباسو کله چه رسول الله ﷺ ته ددے خبر ورکړے شو نو دوی راغلل قسمونه ئے وکړل چه دا خبرے مونږ نۀ دی کړی مګر الله تعالىٰ په آيتونو نازلولو سره دوی رسوا کړل. (المنافقون٦/٨)

يَعْلَمُ اللهُ : يعنی دے کسانو خو ځان ته مؤمنان وويل او د احسان او توفيق اراده ئے رابنکاره کړه، ليکن الله پرے رد وکړو چه الله د دوی د زړونو نفاق پيژنی. ليکن د مصلحت تقاضا دا ده چه اے نبی! ته دوی ته اُوس څه سزا ورنکړے، او ضرف د اشارے په ذريعه په دهمکی او نصيحت باندے اکتفاء اُوکړے، او دوی ته يو داسے خبره اُوکړے چه د دوی په زړونو باندے اثر ګوزار کړی چه دوی غمجن جوړ کړی او د دوی په زړونو کې يره پريوزی مثلًا دا اُووائے چه د نفاق انجام ډير خراب وی، او کله قتل ته خبره رسيږی، او داسے وويل شی چه د دوی او د مشرکانو ترمينځ هيڅ فرق نشته.

د اعراض صورتونه

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ : اَیْ عَنْ عُقُوْبَتِهِمْ، وَلَا تُبَالِ عَلَيْهِمْ. دا د منافقانو بله سزا ده. (١) يعنی د دوی د عذاب ورکولو نه مخ واړوه، (٢) او د دوی په ايمان نۀ راوړلو باك مۀ کوه. (٣) دارنګه په فراخه او کولاؤ تندی ورته مۀ ګوره، دے دپاره چه دوی پو هه شی چه نبی کريم ﷺ رانه خفه دے نو ددے خطره شته چه زمونږ په مقابل کې چرته جهاد اعلان کړی.

وَعِظْهُمْ : يعنی وعظ ورته کوه، اَیْ اِنْهَهُمْ عَمَّا فِیْ قُلُوْبِهِمْ مِنَ الشَّرِّ . يعنی د دوی په زړونو

کې چه کوم شر دے د هغے نه ئے منع کړه چه اے خلکو ! دا کار مهٔ کوئ، د الله حکم مو مات کړو غرق او تباه به شئ۔

وَقُلْ لَّهُمْ فِيْ أَنْفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيْغًا : بنا په يو تفسير (فِيْ اَنْفُسِهِمْ) متعلق دے د (بَلِيْغًا) پورے يعنې داسے خبره ورته وکړه چه د دوی په نفسونو کې تاثير وکړی۔ يا فِيْ اَنْفُسِهِمْ معنىٰ دا ده چه د دوی د نفسونو او زړونو په باره کې ورته تاثيرناکے خبرے وکړه۔

د تاثيری خبرو يو صورت دا هم دے چه د دنيا د زهد او بې رغبتۍ او د مرګ خبرے ورته وشی ځکه چه منافق د دنيا په مينه مست وی او د آخرت او د مرګ نه بيخي غافل وی۔

۞ او دارنګه د دنيا شرمونه به ورته ياد کړے شی چه منافقان الله تعالىٰ په دنيا کې هم شرموی لکه په دغه واقعه کې ئے وشرمول۔

۞ دارنګه داسے به ورته ووئيل شی چه په خپلو ځانونو باندے رحم وکړئ او په لوی لاس خپل ځانونه د دنيا او د آخرت په مصيبتونو باندے مهٔ اخته کوئ۔

۞ او داسے به ورته ووئيل شی چه الله تعالىٰ ستاسو په زړونو پوهه دے، د نفاق نه لاس واخلئ هسے نهٔ چه ستاسو په باره کې هم د بنکاره کافرانو په شان د جهاد امر وکړی۔

دے نه معلومه شوه چه هرچا ته به د خپل شان مطابق بيان کولے شی۔

د فِيْ اَنْفُسِهِمْ بله معنىٰ ده يو اځے ورته خبره وکړه ځکه چه منافق د خلکو نه ډير متاثره کيږی نو کيدے شی چه په يو اځے ځای کې پرے اثر وشی۔

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا لِيُطَاعَ
او نهٔ دے رالیږلے مونږ هيڅ رسول مګر ددے دپاره چه تابعداری ئے اُوکړے شی
بِإِذْنِ اللهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَّلَمُوْا أَنْفُسَهُمْ
په حکم د الله سره، او که چرته دوی کله چه ظلم کړے وے دوی په خپلو ځانونو باندے
جَآؤُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ
راغلی وے تا ته او بخنه ئے غوختلے وے د الله نه او بخنه غوختلے وے د دوی دپاره رسول
لَوَجَدُوا اللهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿٦٤﴾
نو خامخا موندلی به وے دوی الله تعالىٰ لره توبه قبلونکے رحم کونکے۔

تفسير : ربط : دا آيت د مخکني آيتونو دپاره د دليل په شان دے۔ يعني څوك چه د الله رسول ﷺ ته فيصلے نۀ وړی نو بيا الله تعالىٰ خپل رسول د څه دپاره رالیږلے دے، بيا خو مقصد د رسالت خراب شو۔

نو دلته الله تعالىٰ د نبي کريم ﷺ د اطاعت زيات تاکيد کړيدے چه مونږ يو رسول ددے دپاره راليږو چه د هغه اطاعت اُوکړے شي، او هرکله چه د هغه اطاعت ونکړے شي نو بيا ددے رسول د راليږلو فائده څه شوه، او دا شے بغير د الله د توفيق نه نۀ حاصليږي، معلومه شوه چه د رسول اطاعت فرض دے او د هغه د فرضيت نه انکار کفر دے۔

باذن الله : دا قيد ولے لګوی چه دا طاعت په غير د اذن يعني توفيق د الله نه نشي کيدے، دارنګه اذن شرعي هم شته چه الله تعالىٰ د پيغمبر په اطاعت باندے حکم هم کړيدے او دا قيد پکې ځکه وائي چه د مؤمنانو د زړونو نه فخر وځي، د دوی د الله د نبي د اطاعت کولو سره په زړه کې فخر او کبر پيدا نشي او خپل کمال ونه ګڼړي بلکه ورته وئيلے شي چه دا کار تاسو د الله په توفيق سره کوئ۔ او منافقانو ته هم پکې اشاره ده چه تاسو چه ددے نبي طاعت نکوئ نو تاسونه د الله توفيق اخستلے شويدے۔

وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَّلَمُوٓا : پدے کې منافقانو ته د توبې ترغيب ورکوی ځکه چه دے منافقانو د رسول الله ﷺ په ځای کاهنان او طاغوتونه خپل فيصله کونکے مني، نو دوی په خپلو ځانونو ډير لوئی ظلم اُوکړو چه د نفاق د عذاب سره د الله د يو بل عذاب مستحق هم شو، نو الله اُوس دوی ته د توبې دعوت ورکوی فرمائي : چه ددے عذاب نه د بچ کيدو صرف يوه لاره وه چه د خپل نفاق او ددے لوئی جرم نه د توبې ويستلو دپاره ستا خوا ته راغلي وے، او د الله نه ئے بخښنه طلب کړے وے او تا هم د دوی دپاره بخښنه طلب کړے وے او په خپلو کړو باندے پښيمانه شوی وے، نو الله به د دوی ګناهونه معاف کړی وے۔

ظَلَمُوٓا : دلته د ظلم نه مراد د رسول الله ﷺ د تحاکم او اطاعت نه مخ اړول لکه منافقانو دغه کار کړے وو۔

جَآءُوكَ : د رسول الله ﷺ په زمانه کې دا قانون وو چه يو تن نه به ګناه وشوه او رسول الله ﷺ ته به راغلو چه ما دپاره د الله نه بخښنه وغواړه نو هغه به ورله دعا وغوښته نو الله به معاف کړو ځکه چه د رسول الله ﷺ دعا ډيره تاثيرناکه وه۔ او کله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو صرف الله تعالىٰ نه به بخښنه غوښتے شي، او د رسول الله ﷺ خوا ته ورتلل نشته ځکه چه هغه اُوس په دنيا کې ژوندے نۀ دے۔ البته د هغه نائبان علماء موجود دی، يو نيك

عالِم ته یو گناهګار انسان ورشي او دا ورته ووائي چه زما دپاره د الله نه بخښنه وغواړه او هغه ورله دعا وغواړي نو امید دے چه الله تعالیٰ به ئے معاف کړي دے ته توسل بِـدُعَاءِ الْحَيِّ (د ژوندي په دعا سره وسیله نیول) وائي او دا هم شرعي وسیله ده۔

د رسول الله ﷺ د استغفار او دعاګانو حاصلولو یوه بله طریقه هم شته هغه دا چه رسول الله ﷺ کومے دعاګانے او استغفارونه کړیدی هغه ته ووایه نو الله به ئے تا ته هم درکړي، دارنګه کومو کارونو په باره کي چه رسول الله ﷺ دعاګانے کړیدی هغه کارونه ځان کي راولـه نو هغه فضائل به درته حاصل شي لکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي هغه سړے دے الله تعالیٰ تروتازه کړي چه زما خبره واوري او بیا ئے یاده کړي او خلکو ته ئے بیان کړي۔ دارنګه فرمایلي ئے دي: الله دِے په هغه چا رحم وکړي چه د مازیګر مانځه نه مخکي ئے څلور رکعاته وکړل۔ (الله دے په هغه تن رحم وکړي چه نرم وي کله چه اخستل خرخول کوي او نرم وي کله چه چا نه قرض غواړي۔ نو د رسول الله ﷺ دعاګانے خو الله تعالیٰ ضرور قبلوي، نو د هغے نه د فائدے حاصلولو دغه طریقه یاده ساتل پکار دي۔

د بدعتیانو طرز او د اعرابي د قصے نه غلط استدلال

بعض مبتدعین وائي چه د رسول الله ﷺ قبر ته راتلل او د بخښے دعا طلب کول داسے دي لکه چه د هغه په ژوند کي د هغه خوا ته راتلل او بخښنه طلب کول وو، ځکه چه دوی رسول الله ﷺ په قبر کي داسے ژوندے ګڼړي لکه څنګه چه د مرګ نه مخکي وو۔ وائي چه صرف یوه پرده حائل شویده او ددے آیت نه دلیل نیسي۔ په قرآن کریم کي دا تحریف معنوي دے۔ او د رسول الله ﷺ د وفات په باره کي د قرآن او سنت سراسر خلاف عقیده ده۔ او کوم روایت چه عتبيؒ ذکر کړیدے او بعض مفسرینو نقل کړے چه یو اعرابي راغے او اُوښه ئے د رسول الله ﷺ د قبر خوا کي وتړله او بیا قبر ته متوجه شو او د قبر نه ئے بخښنه وغوښته (يَا خَيْرَ مَنْ دُفِنَتْ بِالْقَاعِ أَعْظُمُهُ - فَطَابَ مِنْ طِيبِهِنَّ الْقَاعُ وَالْأَكَمُ)

اشعار ئے وویل۔ لکه هغه روایت کي مختلف الفاظ نقل دي چه هغه خوب ولیدو چه ستا بخښنه وشوه۔ او دا روایت بیهقيؒ په شعب الایمان کي په اسناد مظلم سره ذکر کړیدے، نو دغه روایت منکرت او دروغ دي چه هیڅ صحیح سند نهٔ لري، او د یو اعرابي عمل دے چه هیڅ حالت ئے نهٔ دے معلوم۔ لکه ددے تفصیل په الصارم المنکي ص (۲۷۳) د علامه ابن عبد الهادي المتوفی (۷٤٤) کي وګوره چه هغه په سبکيؒ باندے رد کي لیکلے دے

چه هغه وئیلی دی چه د رسول الله ﷺ قبر خوا ته راتلل او د هغه نه بخښنه غوښتل مستحب دی، مګر دا خبره د هغه سراسر غلطه ده چه دغه کتاب کی ئے پوره تفصیل موجود دے. او فتاوی الدین الخالص (۱) او (۲) تفصیلا وګورئ.

یو خو پدے طرز باندے صحابه کرامؓ هیڅکله داسے عمل نۀ دے کړے چه د رسول الله ﷺ قبر خوا ته ورغلی وی او د هغه نه ئے دعا طلب کړی وی.

بله دا چه دلته ئے (جاؤوك) وئیلی دے او (جاؤوا الی قبرك) (ستا قبر خوا ته راشی) ئے نۀ دے وئیلی، دا دلیل دے چه دا خبره د رسول الله ﷺ د ژوند پورے خاص وه لکه د منافقانو دغه واقعه پرے دلیل دے. او د رسول الله ﷺ په قبر کی ژوند اګرکه شته لیکن هغه برزخی ژوند دے او د دنیا په لحاظ هغه وفات دے. نو په آیت باندے په داسے طریقه عمل کول چه صحابه کرامؓ پرے نۀ وی کړے دا ناروا ده لکه وګوره الصارم المنکی ص (۲۷٤)

بله دا چه دلته الله تعالیٰ دعوت ورکړے که د چا نه څه جرم وشی نو هغه دے رسول الله ﷺ ته راشی چه هغه ورله بخنه وغواړی نو څوك چه د رسول الله ﷺ په ژوند کی د هغه د استغفار دپاره ورنشی نو الله تعالی د هغوی بدی بیانوی نو کله چه هغه وفات شو او د هغه قبر خوا ته څوك ورنشی نو آیا هغه به هم د منافقانو سره مشابه وی، نو په امت کی څومره خلك جرمونه کوی او ډیر خلك د هغه قبر خوا ته نۀ ورځی چه د هغه نه بخښنه طلب کړی، نو آیا هغه به ګنے د الله دا حکم نۀ وی پریښے؟ او صرف دا بدعتیان دے پرے عمل کوی؟! دا څومره عجیبه خبره ده، معلومه شوه چه دا آیت د رسول الله ﷺ د زمانے پورے خاص وو او عموم پکی نشته ورنه ټول امت به په حرج کی پریوزی.

الصارم المنکی (۳۱۸) طبع مؤسسة الريان بيروت)

بله دا چه پدے آیت کی دغه تفسیر اخستو سره د الله د نبی د حدیث سره ټکراؤ او تضاد راځی څکه چه که د هر ګناهګار دپاره دا خبره مشروع شی چه د بخښے طلب کولو دپاره به د رسول الله ﷺ قبر خوا ته ورځی نو بیا خو به د رسول الله ﷺ قبر ددے مجرمانو دپاره لوی عید (اختر) وګرځی کوم نه چه رسول الله ﷺ پناه غوښتے وه

(اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِیْ وَثَنًا یُعْبَدُ)

اے الله! زما د قبر نه بت مۀ جوړوه چه هلته بندګیانی شروع شی. المصدر السابق)

نو معلومه شوه چه قبر نه استغفارونه او مددونه غوښتل بدعت دی او کله په شرك کی داخلیږی. او رسول الله ﷺ ته د عبودیت عاجزی او د هغه سره د عبودیت محبت ساتل

شرك دے، ځكه چه غير الله ته سر ټکته كول او سجده كول او ځان ذليله كول او عاجزي كول دا په شرك كې داخليږي، رسول الله ﷺ ته الله تعالىٰ ډير قدر او مرتبه وركړيده، د هغه طاعت شته او د هغه سره ديني محبت ساتل فرض دي، او د هغه اكرام او تعظيم كول شته ليكن د هغه عبادت كول شرك دے۔

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ
پس داسے نهٔ ده قسم دے زما په رب ستا چه دوی مؤمنان نهٔ دی تردے چه فيصله كونكے جوړ كړی تا لره
فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا
په هغه څه كې چه اختلاف راغلے دے د دوی ترمينځ بيا به نهٔ موندهٔ كوی
فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿٦٥﴾
په خپلو زړونو كې تنګسيا د هغه څه نه چه تا فيصله كړے او غاړهٔ كيدي په غاړه كيخودو سره۔

تفسير : پدے آيت كې هم د رسول الله ﷺ اطاعت بيانيږي او څوك چه د هغه اطاعت نهٔ كوی د هغوی نحوست (سپيرهٔ والے) بيانيږی چه د ايمان نه خلاصيږی۔

شان نزول

مفسرينو كرامو ددے آيتونو په شان نزول كې دوه روايتونه ذكر كړيدی :

۱ - يو روايت دغه مخكنئ واقعه د منافق او يهودي وه۔ تفسير الطبرى ١٥٩/٤)
ددے سند اګر كه ضعيف دے ليكن مجاهدؒ ددے تائيد كړيدے، او طبريؒ دے ته ترجيح وركړيده، دے دپاره چه ددے تهولو تعلق د يو سبب سره شي۔ او دغه روايت په اسحاق بن راهويهٔ په خپل تفسير كې په اسناد صحيح سره د شعبيؒ نه نقل كړيده۔ (قاسمی)

۲ - روايت دا دے چه يوه ورځ د زبير العوام ؓ د يو انصاري صحابي سره د اُوبو په لختي جګړه وه نو اول رسول الله ﷺ د مصالحت په طريقه او احساني فيصله وكړه چه (اِسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ اَرْسِلِ الْمَاءَ اِلٰى جَارِكَ) اے زبيره ! خپل باغ ته اُوبه وركړه او بيا ئے د ګاونډي باغ ته ورخوشي كړه نو هغه انصاري ناراضه شو او وے ويل چه تا ددهٔ په حق كې ځكه فيصله وكړه چه دا ستا د ترور ځوی وو. بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : چه اے زبيره ! خپل باغ اُوبه كړه تردے چه اُوبه د پولو سرونو ته ورختي (يعني خپل حق پوره واخله) بيا اُوبه ګاونډي ته

خوشی کړه. زبیر ﷺ فرمائی: زما گمان دے چه دا آیت به په همدغه واقعه کی نازل شوے وی (صحیح بخاری سورة النساء) وسنن النسائی (۳۰۷/۲).
پدے آیت کی ډیر تاکیدات دی. یو ئے نفی د ایمان مخکی کړیده فَلَا اَیْ لَیْسَ الْأَمْرُ كَمَا يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ آمَنُوْا) (البحر المحیط ۵۹۶/۳) - داسے نۀ ده څنگه چه دوی گمان کوی چه دوی مؤمنان دی. خو دوی دروغجن دی. دویم : (وربك) ئے قسم راوړو او اضافت ئے رسول الله ﷺ ته وکړو پدے کی زیات تاکید دے، او اشاره ده د رسول الله ﷺ شرافت او قدر ته.
لَايُؤْمِنُوْنَ : دے کی ضمیر ټول امت ته راجع دے چه ټول امت مؤمنان نۀ دی ترڅو چه راتلونکی صفات پکی پیدا شوی نۀ وی او دا اجماعی مسئله ده.
حَتّٰی يُحَكِّمُوْكَ : د ایمان د راوړو شرطونه دا دی چه رسول الله ﷺ به حاکم گرزوی. یعنی فیصلے تا له راوړی.

د فیصلے صورتونه

بیا فیصله کله په اختلافی خبرو کی وی چه دا به رسول الله ﷺ او د هغه سنت ته واپس کولے شی، او فیصله کله دے ته هم وائی چه رسول الله ﷺ یو حکم وکړی چه داسے وکړئ نو د هغے سره به اختلاف نۀ کوی بلکه هغه به په سر سترگو منی.
فِيْمَا : اَیْ مِنْ اُمُوْرِ الدِّيْنِ وَالدُّنْيَا سَوَاءٌ كَانَتْ مُتَعَلِّقَةً بِالْاِيْمَانِ اَوْ بِالْفُرُوْعِ. (بدائع)
یعنی هغه کارونه عام دی که د دین سره متعلق دی او که د دنیا سره، دارنگه د ایمانیاتو سره وی او که د مسائل شرعیهٔ سره، په ټولو مسائلو کی به رسول الله ﷺ حاکم او فیصله کونکے منی.
شَجَرَ بَيْنَهُمْ : اَیْ وَقَعَ التَّشَاجُرُ - یعنی اختلاف پکی واقع شویدے. شَجَرَ کی معنیٰ د فعل لازم ده. یعنی دغه مسئله اختلافی شویده د دوی ترمینځ، یو وائی جائز ده او بل وائی ناروا، یو ورته حلاله او بل ورته حرامه وائی، یو وائی زما ده او بل وائی زما. نو یو شرط دا شو چه فیصله به تا باندے کوی، نۀ په نرخ او رواج او بل قانون باندے، او بل دا چه په هره مسئله کی به ئے کوی. شَجَرَ کی معنیٰ د اختلاط (گهوډ والی) او اختلاف ده.
دریم شرط :
ثُمَّ لَايَجِدُوْا فِيْ اَنْفُسِهِمْ : تا چه کومه فیصله وکړه نو دوی به په سینو کی هیڅ قسم تنگی او شك او تردد نۀ محسوس کوی، یعنی باطناً به ورته منقاد کیږی. مثلاً رسول الله

ﷺ وفرمایل: چه داسے کار وکړئ، یا دا شے حلال دے، نو زړه به ورته نهٔ راتنګوی چه دا
خو زما د غیرت خلاف ده، یا دا فیصله د ظلم ده، په زړه کی به هم دا خبره نهٔ راولی۔ لکه
رسول الله ﷺ فیصله وکړه چه جینکو له میراث ورکړئ، نو یو تن باندے دا خبره بده
ولګی او زړه ئے راتنګ شی چه خور لور له به څوك میراث ورکړی، نو دا انسان بی ایمانه
دے۔ رسول الله ﷺ فرمائی: کله چه یو تن د یوے جینئ سره نکاح کوی نو ورته دے
وګوری (فَانْظُرْ اِلَيْهَا) نو که دهٔ ته وویل شی چه فلانے به ستا خور لور وینی، بیا به ئے په
نکاح واخلی یا نهٔ نو که د هغه زړه دے خبرے ته راتنګ شو او نفرت ئے وکړو نو پوهه شه
چه دهٔ کی ایمان نشته ځکه چه رسول الله ﷺ اجازه ورکړیده او دے ترے نفرت کوی۔
دا داسے آیت دے چه بنده په خپل ځان ویریږی چه مونږ هم د شریعت په ډیرو مسائلو کی
داسے نفرتی انداز اختیاره وو، نو دے خبرے ته به هر مسلمان فکر کوی۔
دارنګه که یو حدیث راشی او هغه د رواج، او عادت او د پیسو خلاف وی، یا د پارټئ او د
قاعدے او د اصولو او د مذهب خلاف وی، نو ډیر خلك ورته زړه راتنګ کړی نو مسلمان
به دا کار نکوی۔
علامه قاسمیؒ وئیلی دی چه ددے نه مراد دا دے چه په زړه کی به ئے جزم او یقین حاصل
وی چه کومه فیصله رسول الله ﷺ وکړه هغه حقه او رشتینی ده او هرچه غیر اختیاری
نفرت او میلان دے نو هغه د انسان په وسع کی نهٔ دے۔ (محاسن التاویل ۲/ ۳۷۶)
فائده : صاحب د ((المنار)) لیکلی دی چه انسان کله د یوے ګټے امید لری لیکن کله چه
د هغه په خلاف فیصله وشی نو په اول وَهلت کی ددهٔ زړه ته غیر اختیاری یو درد ورسیږی
پدے وجه الله تعالیٰ دا معاف کړو او لفظ د (ثُمَّ) ئے راوړو چه په روستو والی دلالت کوی چه
اګرکه ددهٔ زړه ته درد رسیدلے دے لیکن کله چه فکر وکړی نو نفس ملامته کړی او د ایمان
رڼا ورته راواپس شی نو خوشحاله به شی چه د شریعت فیصله حقه او یقینی ده۔ اګرکه
کامل مؤمن د اول وهلة نه دے خبرے ته غاړه اږدی۔
بله دا چه :
وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا : (تسلیما) مفعول مطلق راوړو کی اشاره ده دوام او ظاهراً ته یعنی د
فیصلے نه روستو به پوره منقاد او غاړه ایخودونکے وی ظاهراً او همیشه دپاره به منقاد وی
او هره فیصله کی به د رسول الله ﷺ منی، داسے به نهٔ وی چه یوه مسئله کی وائی چه
(وَلَنَا) دا زمونږ دلیل دے، او چه بل حدیث راشی نو بیا وائی (وَلَهٔ) دا د فلانی مذهب دلیل

دے، زمونږ دپاره نۀ دے. هر مسلمان ډېر دا آيت ځان ته متوجه کړی.
ډیر د حدیثو منکرینو ته چه کله یو حدیث راشی نو زړه ورته راتنګ کړی او وائی چه دا څنګه حدیث دے، دا خو د قرآن خلاف دے، او ډیر عقلانیین پکی وائی چه دا حدیث خو د عقل خلاف دے، او ډیرو جامدو مقلدینو ته هم چه کله یو حدیث مخے ته راشی او د مذهب خلاف وی نو خوَلے پرے راماتے شی چه دے سره به څه کوو، دا خو زمونږ د اصولو او مذهب خلاف دے نو بیا ترے جوابونه شروع کړی. آیا حدیث د جوابونو دپاره راغلی دی که د منلو دپاره ؟!
١ - علامه فخر الدين رازیؒ وائی : چه د رسول الله ﷺ هر صحيح حديث ددے آيت په ضمن کی راځی او هر هغه شخص چه په الله او د هغه په رسول ایمان لری، په هغه واجب دی چه د رسول الله ﷺ هر صحيح حديث قبول کړی، او د مذهبی تعصب په وجه هیڅ حديث رد نکړی، ورنه پدے آيت کی ذکر شوے وعید به هغه ته هم شاملیږی.
٢ - امام ابن القیم رحمه الله په «اعلام الموقعين» کی لیکلی دی چه ته به ډیر خلق اُووینے چه کله یو حدیث د هغه د امام د وینا موافق وی د کوم چه دا تقلید کوی او د هغے د راوی عمل د هغے خلاف وی، نو وائی چه دلیل د راوی روایت دے، د هغه عمل نۀ دے، او کله چه د راوی عمل د هغه د امام د وینا موافق وی او حدیث د هغے مخالف وی، نو وائی چه راوی د خپل روایت مخالفت پدے وجه کړیدے چه دا حدیث د هغه په نیز منسوخ شویدے، ورنه د هغه دا مخالفت د هغه عدالت ساقطوی.
پدے طریقه هغه خلق په خپل کلام کی په یو ځای کی او په یو باب کیّ د بدترین تناقض ښکار کیږی، لیکن زمونږ ایمان دے چه د صحیح حدیث د راتلو نه روستو د امت دپاره د هغے د پریخودو هیڅ ګنجائش باقی نۀ پاتے کیږی.
٣ - شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی چه د قرآن او سنت او اجماع په ذریعه دا ثابت شوے حقیقت دے چه الله په خپلو بندګانو باندے د خپل ځان او د خپل رسول اطاعت فرض کړیدے، په اوامر او نواهیو کی الله د رسول الله ﷺ نه سویٰ پدے امت باندے د هیچا اطاعت فرض کړے نۀ دے. پدے وجه ابوبکر صدیق رضی الله عنه (چه هغه د نبی کریم ﷺ نه روستو په امت کی د ټولو نه غوره انسان وو) به وئیل چه ترڅو زۀ د الله اطاعت کوم نو تاسو به زما اطاعت کوئ او که زۀ د الله نافرمانی اُوکړم نو تاسو اطاعت مۀ کوئ. دَ امت د تمامو علماؤ پدے اتفاق دے چه د رسول الله ﷺ نه سویٰ هیڅوك معصوم نشته، پدے

وجه ډیرو ائمه کرامو وئیلي دي چه د هر سړي څه خبرې به منلې کیږي او څه به پریخودې کیږي، سِویٰ د رسول الله ﷺ نه،

او همدا وجه وه چه د فقهي مذاهبو څلورو مشهورو امامانو خلقو لره په هره خبره کې د خپل تقلید نه منع کړې وو. مجموع فتاوی ابن تیمیه ۲۱۱/۲۰) وتیسیر الرحمن)

٤- امام جعفر صادقؒ وئیلي دي چه که چرې یو قوم د الله عبادت کوي، مونځونه، روژې، حج او زکاة ادا کوي لیکن چه یو کار نبي ﷺ کړې وي اوِ دا قوم یا شخص په هغه کار باندې اعتراض کوي چه دې نه خلاف کارئې ولې نهٔ کولو، یا په زړه کې په هغې باندې خفه وي نو دغه شخص مشرك دې. (تیسیر)

وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ
که چرته بیشکه مونږ فرض کړې وې په دوی باندې دا چه قتل کړئ خپل ځانونه
أَوِ اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ وَلَوْ
یا اُوځئ د کورونو خپلو نه نهٔ به وې کړې دوی دا کار مګر لږو د دوی نه او که چرته
أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ
بیشکه دوی کړې وې هغه څه چه نصیحت کولې شي دوی ته په هغې سره
لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴿٦٦﴾
خامخا دا به ډیره غوره وې د دوی دپاره او ډیر سخت به وې په مضبو طولو کې (د دوی ایمان لره).
وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾
او په دغه وخت کې به خامخا ورکړې وې مونږ دوی ته د خپل طرف نه اجر لوی.
وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾
او خامخا هدایت به کړې وې مونږ دوی ته د لارې نیغې.

تفسیر : پدې کې هم د رسول الله ﷺ اطاعت ته ترغیب دې چه دا خو دومره ګران کار نهٔ دې چه پدې کې قتل وي یا جلاوطني وي بلکه آسان کار دې ځکه که الله تعالیٰ داسې وئیلې وې چه ستاسو دپاره به د رسول الله ﷺ اتباع هله کامليږي چه تاسو به ځان وژنئ

يا به جلا وطني كوئ نو دا به ډيره ګرانه وه، ډير خلك به دے ته نۀ تياريدلے،
نو معلومه شوه چه په سنت نبوى كى راحت او سكون هم دے او پدے كى امن او فائدے او عبادت هم دى۔
بل طرفته د رسول الله ﷺ په مخالفت كى مالى او صحى نقصانات دى، او ډير لوى بد اثرات دى۔
إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ : ددے نه مراد صحابه كرامؓ دى چه دوى به د رسول الله ﷺ په تابعدارئ كى ځانونه هم وژل لكه رواياتو كى راغلى دى چه ددے نه مراد عمار بن ياسر، ابن مسعود، ثابت بن قيس بن شمّاس، عبد الله بن رواحه، عمر فاروق او ابوبكر صديق رضى الله عنهم دى چه دوى وئيلى هم وو چه اے د الله رسوله ! كه تۀ مونږ ته د خپلو ځانونو په وژلو حكم وكړے نو مونږ به ځانونه هم ووژنو۔ (ابن كثير والبغوى)
او دا يقينى رشتينى خبره وه۔ او بلكه دغه صحابه كرامؓ خپل ځانونه د رسول الله ﷺ په تابعدارئ (جهاد) كى وژلو ته وركړى وو۔ نو د (الا قليل) سره منافقان خارج شو چه دوى داسے خلك دى چه كه دوى ته د رسول الله ﷺ په تابعدارئ كى د قتل حكم شوے وے نو دے ته نۀ تياريدل ليكن الله پرے پرده واچوله او احكام ئے ورته آسان كړل نو اُوس خو پكار ده چه پدے آسانو احكامو كى سستى ونكړى او ځانونه كمال ته ورسوى۔
وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا : يعنى كه دے منافقانو په هغه حكمونو باندے عمل كړے وے د كومو چه دوى ته نصيحت كيږى نو دا به د دوى دپاره ډيره بهتره او د ثابت قدمئ سبب وے ځكه چه ايمان په طاعاتو سره زياتيږى او په ګناه سره كميږى۔
ددے ځاى نه الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ د اتباع فائدے بيان كړيدى، يو دا چه دے كى خير او فائدے دى۔
دويم پدے كى (اَشَدَّ تَثْبِيتًا عَلَى الْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ) دے يعنى بنده په ايمان او اسلام باندے مضبوطيږى لكه د ايمان د ډيروالى يوه لاره اتباع د سنت ده، او د استقامت فى الدين دپاره ضرورى لاره او ركن اتباع د سنت ده۔
وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا : يعنى نيغه لاره باندے به مو روان كړى وے كومه چه سيده الله تعالىٰ ته رسيدلے ده۔

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُوْلٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ
او څوك چه تابعداري اُوكړي د الله او د رسول نو دغه كسان به د هغه كسانو سره وي
أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ
چه انعام كړے الله تعالىٰ په هغوي باندے د پيغمبرانو نه او د صديقينو نه او د شهيدانو نه
وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿٦٩﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ
او د نيكانو نه او ډير ښۀ دي دغه كسان په اعتبار د ملګرتيا. دا مهرباني ده د طرفه
اللّٰهِ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿٧٠﴾
د الله نه، او كافي دے الله پوهه (په اعمالو ستاسو).

تفسير : پدے كي بله فائده د اتباع الرسول ﷺ دا ده چه پدے سره د رسول الله ﷺ او د صحابه كرامؓ او نيكانو سره معيت او ملګرتيا په جنت او برزخ كي ملاوېږي او دا د ټولو نه لويه فائده ده، د خپلو محبوبانو سره يو ځاى كيدل.

شان نزول

ددے آيت د شان نزول په باره كي ابن مردويه په خپل سند سره د ابن عباسؓ نه روايت راوړيدے چه ١- يو صحابيؓ راغے عرض ئے وكړو اے د الله رسوله ! زما تا سره ډير محبت دے كله چه كور كي راياد شے نو كور كي مے وخت نۀ تيرېږي ستا خوا ته راشم، او دا خوښوم چه زۀ تا سره په درجه (د جنت) كي يو ځاى شم (ځكه چه تۀ خو به زمونږ نه ډير پورته يے نو زمونږ وخت به څنګه تيرېږي)، رسول الله ﷺ هغه ته هيڅ جواب ورنكړو نو الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو. (ابن مردويه، والمعجم الطبراني ٨٦/١٢) قال الهيثمي في المجمع٧/٧) وفيه عطاء السائب وقد اختلط- وتفسير ابن كثير)

٢- ابن جرير طبريؒ د سعيد بن جبير رحمه الله نه روايت كړيدے چه يو انصاري صحابيؓ د رسول الله ﷺ خوا كي غمجن ناست وو، نبي كريم ﷺ تپوس اُوكړو : ولے غمجن ئے ؟. هغه اُووئيل چه اے د الله نبي ! زۀ په يوه خبره كي سوچ كوم، نبي ﷺ پوښتنه اُوكړه څه دى ؟ نو هغه اُووئيل چه نن خو مونږ تا ته سحر او ماښام راځو، ستاسو مخ ته ګورو، او ستا سره ناست يو، صبا به په جنت كي تۀ د انبياؤ سره ئے، نو مونږ به تاسو ته نشو رسيدلے (او

دا خو ډیر لوی غم دے)۔
نبی کریم ﷺ هیڅ جواب ورنکړو، نو جبریل علیه السلام دا آیت راوړو، نبی ﷺ هغه صحابی راوغوختو او هغه ته ئے زیرے ورکړو۔ دا روایت د نورو ډیرو تابعینو نه نقل شویدے او مختلف الفاظ ئے دی لیکن د سعید بن جبیرؒ والا روایت سند زیات ښه دے۔
او دا صحابی ثوبان رضی الله عنه دے کما فی البغوی واسباب النزول للواحدی (۱۵۸) ومجمع الزوائد وحیاة الصحابة)
په جنت کی د نبی کریم ﷺ سره د ملګرتیا په باره کی ډیر صحیح حدیثو نه راغلی دی۔ په صحیح مسلم کی د ربیعه بن کعب اسلمی رضی الله عنه روایت دے چه زهٔ د رسول الله ﷺ سره اُودهٔ وم نو ما د اودس او د قضاء حاجت دپاره هغه ته اُوبه راوړے نو هغه راته اُوفرمایل چه څه رانه اُوغواړه، نو ما اُووئیل چه زهٔ په جنت کی ستا ملګرتیا غواړم، نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : یا بل کوم شے؟ نو ما اُووئیل : بس همدغه۔ نو نبی کریم ﷺ اُوفرمایل :
[فَاَعِنِّیْ عَلٰی نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ)
بیا د سجدو په ډیر والی سره زما پدے سلسله کی مدد اُوکړه))۔
ترمذیؒ په کتاب البیوع کی د ابوسعید رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْاَمِیْنُ مَعَ النَّبِیِّیْنَ وَالصِّدِّیْقِیْنَ وَالشُّهَدَاءِ)
(رشتینی امانت دار تاجر به د انبیاء علیهم السلام او صدیقین او شهیدانو سره وی۔
وسنده صحیح لغیره، صحیح الترغیب ۱۷۸۲)
ابن کثیرؒ وائی چه ددے ټولو نه لوئی زیرے خو هغه دئ چه په صحیح احادیثو کی د صحابه کرامو د یوے ډلے نه ثابت دے چه د رسول الله ﷺ نه د یو داسے سړی په حقله تپوس اُوشو چه هغه د یو قوم سره محبت کوی، لیکن د هغوی سره لا ملاؤ شوے نهٔ وی ؟ نو نبی ﷺ اُوفرمایل : (اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ)
(د قیامت په ورځ) به بنده د هغه چا سره وی چه د چا سره ئے محبت کولو۔ انس رضی الله عنه وائی چه مسلمانان ددے حدیث په آوریدو سره ډیر زیات خوشحاله شو۔
(صحیح بخاری کتاب الادب، باب نمبر ۹۷ ومسلم کتاب البر والصلة رقم الحدیث : ۱٦٤۰)۔
وَالصِّدِّیْقِیْنَ : صدیقیت د کامل ایمان او کامل اطاعت نوم دے، د نبوت نه روستو د صدیقیت مقام دے، چه پدے امت کی د ټولو نه اول دا صفت سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته حاصل دے پدے وجه په اتفاق سره د انبیاؤ نه روستو افضل انسان ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے۔

امام راغبؒ په مفردات کی لیکی چه صِدِّیق د صِدْق نه اخستے شوید ے او دا د صادق مبالغه ده نو صِدِّیق هغه چا ته وائی چه هیڅکله ئے په خوله باندے دروغ نهٔ راځی او هر عمل او طرز ئے د رشتیاو وی۔

ځینی وائی : هغه څوك دے چه په ایمان راوړو کی هیڅ دلیل او برهان ته نهٔ وی محتاج شوے او د نورو مؤمنانو دپاره په ایمان راوړو کی مقتدیٰ جوړ شوے وی۔ (تفسیر کبیر)۔

بعض وائی : صدیق هغه دے چه په ټول دین ئے تصدیق کړے وی او په هغے کی ورته هیڅ قسمه شك نهٔ وی راغلے، لکه آیت کی دی ﴿وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ﴾ (الحدید: ١٩)۔

وَالصّٰلِحِيْنَ : صالح هغه چا ته وائی چه د الله حقوق او د بندګانو حقوق په کامله توګه ادا کوی او په هغے کی هیڅ کوتاهی نهٔ کوی۔

بیا پدے کی اختلاف دے چه ددے صالحین نه څوك مراد دی ؟

(١) یو قول دا دے چه دا ټول صفات د یو موصوف دی چه هغه انبیاء علیهم السلام دی ځکه چه انبیاء علیهم السلام صدیقین هم دی او څه یکی شهیدان شوی هم دی او صالحین هم دی۔ نو دا صفات د یو بل سره منافات نهٔ لری بلکه جمع کیدلے شی، لیکن دلته تسمیه ده په وصف مشهور سره، په انبیاؤ کی د نبوت صفت مشهور دے او په ځینو کی د صدیقیت صفت مشهور دے او په ځینو کی د شهادت او په ځینو کی د صلاح لکه الله تعالیٰ د بیل بیل نبی سره دغه شان صفتونه په قرآن کریم کی ذکر کړیدی۔ د ابراهیم او ادریس علیهما السلام دپاره صدیقیت صفت ذکر شوید ے په سورة مریم (٤١ او ٥٤) کی ﴿اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا﴾ او د یوسف علیه السلام دپاره په سورة یوسف (٤٦) کی استعمال دے، او دارنګه د هر نبی دپاره صفت د شهادت هم شته لکه په سورة نساء (٤١) او (١٥٩) او سورة بقره (١٤٣) او سورة مائده (١١١) کی او په سورة النحل (٨٩) او سورة حج (٧٨) او سورة قصص (٨٥) کی۔ لکه یو عالِم کی صفت د علم مشهور دے اګرکه مونځ به کوی، حج او عمره هم وکړی خو خلك ورته مصلی او حاجی نهٔ وائی بلکه په عالِم مشهور وی۔

(٢) یا دا صفات د بیلو بیلو ذواتو دی او دا څلور قسمه ډلے جنت ته تلونکی دی، اول انبیاء علیهم السلام دی او دویم د صدیقینو لکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه وغیره، او دریمه ډله د شهداؤ ده لکه عمر، عثمان او علی رضی الله عنهم وغیره شو او څلورمه ډله د صالحینو

چه باقي صحابه کرامؓ او د امت عام مؤمنان دي۔ او دا قول فراء بغویؒ د عکرمهؒ نه نقل کړیدے۔ لیکن پدے کي عموم ظاهر دے۔
او د معیت نه مراد دا دے چه د هغوی سره به ملګرے وی لکه روستو ﴿وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا﴾ پرے دلیل دے۔ او دا ملګرتیا به په مجلس او مکان کي وی۔
وَحَسُنَ أُولَـٰئِكَ رَفِيقًا : یعني دا خلك په ملګرتیا کي ډیر مزیدار دي، نو دوه نعمتونه شو یو جنت او بل ښائسته ملګری۔ لکه یو مزیدار سفر وی او بل نیکان او ښه ملګری د بنده سره ملګری شي نو دا ډیر اُوچت سفر وی۔
ذَٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللَّهِ : دا جواب د سوال دے چه د الله او د رسول اطاعت کونکی خو په عمل کي د انبیاء علیهم السلام او صحابه کرامؓ نه کم دي نو دوی به څنګه د هغوی سره په جنت کي یو ځای کیږی؟ نو جواب وشو چه دا د هغوی د عمل د وجه نه نۀ ده بلکه دا خالص د الله مهرباني ده۔
وَكَفَىٰ بِاللَّهِ عَلِيمًا : یعني الله کافي پوهه دے په اهل د مهربانۍ خپلے، چه چا ته ئے ورکوی الله تعالیٰ هغه خلك ښه پیژني۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا﴿٧١﴾
اے ایمان والو! ونیسئ یره خپله (یعني بچاؤ خپل) پس اُوځئ ډلے ډلے یا اُوځئ ټول په یو ځای۔

تفسیر : مضمون : د منافقانو د تردید نه روستو اُوس الله تعالیٰ بیرته نظامي او سیاسي حکمونه بیانوی نو د عدل د قانون د جاری کولونه روستو اُوس د قتال في سبیل الله دپاره په تیارۍ باندے حکم کوی، او د جهاد دوه طریقے بیانوی چه هغه نفیر عام او دویم بَعْثُ السَّرَايَا (دستے لیږل) دي، اسلامي نظام کي دا ضروري ده چه جهاد به پکي رائج وی، په کوم خلافت کي چه جهاد نۀ وو هغه به صحیح اسلامي خلافت نۀ وی، او جهاد چونکه د بادشاهانو د شان سره لائق شے دے ځکه چه دوی طاقت والا دي، نۀ د عوامو پدے وجه الله تعالیٰ دلته د خلافت د احکامو په مینځ کي راوړو، البته که خلیفه نۀ وی نو بیا به مسلمانان خلك جمع کوی او یو طاقت به برابروی او جهاد به کوی۔
نو ددے نه روستو الله تعالیٰ بیا په منافقانو باندے رد کړیدے او د جهاد مقاصد ئے ذکر کړیدي، بیا په منافقانو باندے تفصیلي رد دے او د هغوی بد صفات ئے ذکر کړیدي ځکه چه په جهاد سره منافقان رابنکاره کیږی، بیا ئے (فقاتل في سبیل الله) سره ترغیب قتال ته

ورکړیدے سره د اخبار نه پدے خبره چه الله تعالیٰ به د کافرانو جنګ ختموی۔ بیا د یو خاص مناسبت د وجه نه مسئله د شفاعت او مسئله د سلام ذکر ده۔ بیا په (۸۷) آیت کی د جهاد غایه او مقصد ئے بیان کړیدے چه جهاد به د توحید دپاره کیږی۔

نو پدے آیتِ کریمه کی مؤمنانو مخلصینو ته خطاب کی وئیلے شی چه د الله په لاره کی د جهاد دپاره وتلو نه مخکی ښه طریقے سره تیاری کوئ د اسلحه او د جنګ د نورو سامانونو په اعتبار سره هم، او د مجاهدینو د شمیر په اعتبار سره هم۔

مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت د مکے د فتح نه مخکی نازل شوے وو، او پدے سره مقصود مسلمانان په هره طریقه سره ددے دپاره تیارول چه د دشمن په مقابله کی کمزوری نهٔ شی۔

حِذْرَكُمْ : یعنی خپل بچاؤ اختیار کړئ په وسله او د جنګ په سامان تیارولو سره۔

حذر : په اصل کی اَلتَّيَقُّظُ لِلْمَكْرُوْه ته وائی یعنی یو بد شی ته چه په نفس بد لګی هغے ته ځان ویښ او بیدار ساتل۔ یعنی ونیسئ بیداری خپله او دشمن ته بیدار شئ او د هغوی د چالونو نه ځانونه خبر کړئ او د هغوی په مقابله کی وسلے تیارے کړئ۔

او ددے نه معلومه شوه چه وسله تیارول د تقدیر خلاف نهٔ دی بلکه دا شرعی اسباب استعمالول دی چه شریعت پرے حکم کړیدے۔

د جنګی وسائلو زده کول هم ضروری دی

ددے آیت نه معلومیږی چه مسلمانان د هغه ټولو وسائلو په جوړولو او استعمالولو باندے د فرض کفائی په توګه مکلف دی چه د زمانے په جنګونو کی استعمالیږی لکه :

(۱) جهازونه، ټینکونه، توپونه، بمونه او نورے سپکے او درنے وسلے جوړول او د هغے ترمیم او استعمالول۔

(۲) مخابراتی سیستمونه جوړول او په کار اچول چه د جنګ دپاره د اعصابو مثال لری۔

(۳) هندسی علوم چه د اهدافو ټاکل او د پُرزجاتو صنعت سره مضبوط تعلق لری۔

(٤) ارضی علوم (جغرافیا) زده کول ځکه چه کله مجاهد د دشمن د زمکے او د موقعیت نه خبر نهٔ وی نو دشمن ته ډیر نقصان نشی ورکولے۔ (المنار ٥/٢٠٤ وعزیز التفاسیر)

لنډه دا چه پکار ده چه مجاهد د دشمن سره په جنګی وسائلو کی سیالی وکړی۔

فَانْفِرُوْا : دا د نَفَرَ يَنْفِرُ نفیرًا نه هم دے او د نَفَرَ يَنْفُرُ نُفُوْرًا نه هم دے او دغه شان د نِفَار نه هم

دے چه په معنیٰ د نفرت او بد ګنړلو او وړاندے والی سره دے، بیا د دشمن د مقابلے دپاره یا د علم د زده کړے دپاره د بهر وتلو په معنیٰ استعمالیږی، او پدے لفظ کی اشاره ده چه د جهاد فی سبیل الله دپاره به د کور کلی او اهل وعیال نه داسے وځی لکه چه د هغوی سره نفرت کونکے وی یعنی د هغوی محبت تاسو لره د سفر نه منع نکړی. (قرطبی واحسن الکلام).

ثُبَاتٍ : جمع د ثُبَةٌ ده چه په اصل کی ثُوَبٌ وو واو حذف شو او په عوض کی ئے په آخر کی ګرده (ـة) زیاتـه شوه نو ثُبَة ترے جوړ شو نو ثُبَة پدے تقدیر سره د حوض بیخ ته ویل کیږی چه هلته اُوبه ورتوییږی او جمع کیږی او تصغیر ئے (ثُوَيبَةٌ) راځی. (لسان العرب ١٤/١٠٨)

(۲) یا ثبات جمع د ثُبَة ده چه په اصل کی ثُبَوَةٌ ده لکه د خُطَمَةٌ پـه شان نو واو حذف شو لکه په سِنَةٌ کی چه حذف شویدے نو ثبة پدے تقدیر سره په معنیٰ د جماعت او ډلے سره دے چه د دریو نـه تر لسو پورے کسانو دپاره استعمالیږی. او جمع ئے ثُبَات او ثِبِيْنَ راځی. (روح المعانی والقرطبی)

او دلته ترے همدا مراد دے. نو ددے نه مراد سرایا (دستے د فوج) لیږل شو.

فائده : جهاد دوه قسمه دے یو فرض کفائی وی، نو په هغے کی به سرایا لیږلے شی لکه رسول الله ﷺ بـه داسے سرایا لیږلے، کله یو ځای ته او کله بل ځای ته د دشمن د کمزوری کولو دپاره. او دویم فرض عین وی چه دیته نفیر عام وائی لکه په غزا د تبوك کی په ټولو مسلمانانو فرض وه چه جهاد ته به ووځی ځکه چه دشمن راغلے وو،

دغـه شان د اُحد غزا ته ټول وتل لازم وو ځکه چه دشمن کلی ته راننوتے وو، او نفیر عام په هغه وخت کی لازمیږی چه مسلمانان طاقت نهٔ لری، یا دشمن په کلی باندے راوخیژی نو پخوانو علماؤ دا مسئله لیکلے ده چه په داسے وخت کی به زنانه هم په جهاد کی شریکیږی او سړی بـه حج ته هم نهٔ ځی بلکه په شریکه به دشمن خوك په وسلو سره او خوك په کانړو ویشتـل کوی. دا د پخوانے زمانے طرز وو، مګر په اُوسنۍ زمانه کی وضع لره بدلـه ده نو پدے وخت کی به مسلمانان جهادونه هم کوی او حجونه او عمرے به هم کوی.

وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنْ أَصَابَتْكُم
او یقیناً بعض ستاسو نه خامخا هغه څوك دی چه روستو روستو کیږی نو که اُورسیږی تاسو ته

مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُنْ
یو مصیبت، دے وائی یقیناً انعام کړے الله په ما باندے په هغه وخت چه زهٔ نهٔ اوٌم
مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿۷۲﴾ وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللهِ
د دوی سره حاضر (په غزا کی) او که ورسیږی تاسو ته مهربانی د طرفه د الله نه
لَيَقُولَنَّ كَأَنْ لَّمْ تَكُنْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ مَوَدَّةٌ يَا لَيْتَنِي
خامخا وائی دے گویا که نهٔ وه په مینځ ستاسو او په مینځ ددهٔ کی دوستانه، اے ارمان دے
كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿۷۳﴾
چه وے زهٔ د دوی سره نو کامیاب شوے به وے په کامیابئ لوی سره۔

تفسیر : اُوس د منافقانو حال بیانیږی چه د نفاق په وجه به جهاد ته نهٔ وتل، او د نورو همت به ئے هم خکته کولو۔ د عبد الله بن اُبی ابن سلول خو دا خاص عادت وو۔ د غزوهٔ اُحُد په موقعه هغه خلق راپورته کړی وو او د منافقانو یوه ډله ئے د لارے نه راواپس کړے وه۔ په جهاد کی چه کله یو تکلیف اُورسی نو منافقان وائی چه ښه اُوشو چه مونږ ددے مسلمانانو سره نهٔ وو، او کله چه غلبه نصیب شی او مالِ غنیمت لاس ته راشی نو داسے افسوس نه ښکاره کوی لکه چه د مسلمانانو سره ئے د مخکی نه هیڅ آشنائی نهٔ وه، او وائی چه ارمان! مونږ هم د دوی سره وے نو د غنیمت مال به لاس ته راغلے وے۔

لَّيُبَطِّئَنَّ : تبطئه او ابطاء لازم او متعدی دواړه استعمالیږی، یعنی خپله هم د جهاد نه سستی کوی او بل څوك هم د وتلو نه پاتے کوی۔ (قرطبیؒ)

قَدْ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيَّ : یعنی په ما باندے الله دا احسان وکړو چه زهٔ جهاد ته لاړ نشوم گنے زهٔ به هم د دغه مسلمانانو سره په دغه مصیبت کی گرفتار وے، نو منافق د مسلمانانو په مصیبت خوشحالیږی او د جهاد نه ایساریدل کمال گنړی، او صرف خپل ځان ورته ښکاره کیږی او نور د هیڅ پرواه نهٔ لری۔

فَضْلٌ مِّنَ اللهِ : د فضل نه مراد فتح او غنیمت دے۔

يَا لَيْتَنِي : دا بنا په یو تفسیر د (لَيَقُولَنَّ) دپاره مقوله ده، یعنی داسے وائی چه ارمان چه زهٔ هم د مسلمانانو سره حاضر وے نو لویه کامیابی به راته حاصله شوے وے، منافقان د دنیا مال گټلو ته لویه کامیابی وائی، او د الله په نیز دا غټه کامیابی نهٔ ده، بلکه لویه کامیابی

ایمان او جنت دے۔ او د منافقانو همت کمزورے دے، صرف د دنیا مال ورته کامیابی ښکاری، او مؤمن ددے خبرو پرواه نۀ لری، بلکه د مسلمانانو په حال خوشحالی کوی چه ښه ده چه الله ورله فتح او مال ورکړو۔

كَأَنْ لَّمْ تَكُنْ : دا په مینځ کی د الله د طرفنه رد دے په خبرو د منافقانو باندے چه د دوی دے تناقض ته وګورئ چه هلته ستاسو د دوستئ دعوه کوی او دلته داسے خبرے کوی ګویا که ستاسو او د هغوی ترمینځ هیڅ دوستی نشته۔

(۲) تفسیر دا دے چه (كَأَنْ لَّمْ تَكُنْ) تر آخره پورے دا تهوله د (لَيَقُوْلَنَّ) دپاره مقوله ده، او دا تهوله وینا د منافق ده لکه همدا تفسیر ظاهر دے، نو مطلب ئے داسے کیږی : چه کله تاسو ته څه فضل او مال او غنیمت ورسیږی نو دا منافق تاسو ته وائی چه تاسو خو دا تهول مال ځانله واخستو او مونږ له مو پکی څه رانکړل، ګویا که زما او ستاسو ترمینځ هیڅ دوستی نشته، او بیا د ځان سره وائی چه ارمان چه زۀ ورسره حاضر شوے وے نو مال به راته حاصل شوے وے۔ نو (كَأَنْ لَّمْ تَكُنْ) کی د دوی سوال شو او (يَا لَيْتَنِيْ) کی ارمان شو۔

فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ
پس جنګ دِے اُوکړی په لاره د الله کی هغه کسان چه خرخوی ژوند دنیوی په آخرت
وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ
او څوک چه جنګ کوی په لاره د الله کی پس اُووژلے شی یا غالبه شی نو زردے
نُؤْتِيْهِ أَجْرًا عَظِيْمًا﴿٧٤﴾
چه ورېه کړو مونږ دۀ ته اجر لوی۔

تفسیر : د دشمن دپاره د تیار وسیدلو او د جهاد دپاره د تیارئ حکم کولو نه روستو اُوس مسلمانانو ته د جهاد ترغیب ورکولے شی چه کوم خلق دنیا ورکولو سره آخرت اخستل غواړی، هغوی دِے د الله په لاره کی جهاد اُوکړی۔ او کوم خلق چه د الله په لاره کی جهاد کوی نو برابره ده چه شهید شی یا غلبه حاصلولو سره کور ته واپس شی، په دواړو حالتونو کی به الله تعالیٰ هغوی ته لوئی اجر ورکوی۔

بخاری او مسلم د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

((څوک چه د الله په لاره کی د جهاد دپاره اُوځی نو الله د هغه ضامن کیږی او وائی چه که دا

زما په لاره کې د جهاد په نیت سره وتلے دے په ما باندے ایمان لري، او زما د رسولانو تصدیق کوي نو زهٔ ددهٔ ضامن یم چه یا خو به دا جنت ته داخلوم او یا به ئے د اجر او غنیمت سره خپل کور ته واپس رسوم))۔

بیا پدے آیت کې دوه تفسیره دي :

(۱) مرجوح تفسیر دا دے چه پدے آیت کې په منافقانو باندے رد دے او هغوی ته دعوت دے چه اے منافقانو! ارمانونه څلـه کوئ بلکه تاسو هم لاړ شئ د الله په لاره کې قتال وکړئ، تاسو ته به هم غنیمتونه حاصل شي نو (يَشْرُوْنَ) کې شراء په معنیٰ د اخستو سره شوه۔

(۲) غوره تفسیر دا دے چه دلته الله تعالیٰ مؤمنانو ته د قتال فی سبیل الله ترغیب ورکړیدے او شراء په معنیٰ د بیع سره دے او د فاء راوړو مطلب دا دے چه (اِنْ تَخَلَّفَ الْمُنَافِقُ فَلْيُقَاتِلِ الْمُؤْمِنُ) یعنی که منافقان د الله په لاره کې د جنګ کولو نه روستو پاتې کیږي نو مؤمنان دِے د الله په لاره کې قتال وکړي، ځکه چه دوی ته آخرت لوی شے ښکاره کیږي نهٔ دنیا، او دنیا په آخرت باندے خرڅوي۔

يَشْرُوْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا : یعنی نهٔ د دنیا د مال پرواه لري او نهٔ د راحت او نهٔ د بچو بلکه ټول نظر ئے په آخرت لګی۔

وَمَنْ يُّقَاتِلُ : اُوس الله تعالیٰ جهاد فی سبیل الله ته ډیر کامل ترغیب ورکړیدے چه په هر حال کې ددهٔ دپاره لوی اجر تیار دے۔ نو پدے آیت کې الله تعالیٰ شهادت ته هم فتح او اجر عظیم وئیلے دے، د مؤمن دپاره دواړه حالتونه غوره دي که غالب شو، نو دنیا کې ورته غلبه هم ملاؤ شوه او اجر هم او کله به غنیمتونه هم ملاؤ شي او که مغلوب شو نو د آخرت اجر خو چرته تلے نهٔ دے۔

او د آیت نه دا خبره هم واضحه شوه چه دا ضروري نهٔ ده چه په هر قتال فی سبیل الله کې به مسلمانان غالبه کیږي که په وقتي طور سره مغلوب شو، لیکن انجام د ایمان والو ښه دے۔ او مغلوبه کیدل هم کامیابي ده لکه ډیر خلك د مسلمانانو مغلوبه کیدل د جهاد نه د منع کیدو دپاره دلیل نیسي۔ نهٔ بلکه الله تعالیٰ دپاره وینه ورکول او د هغه دپاره منډے تړے او سختے برداشت کول الله تعالیٰ ته خوښ دي او پدے باندے ډیر خوشالیږي او همدا کامیابي ده، نو هر مسلمان له د جهاد حقیقت پیژندل پکار دي۔

وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَاتِلُوۡنَ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ وَالۡمُسۡتَضۡعَفِیۡنَ
او څه وجه ده تاسو لره چه جنګ نهٔ کوئ په لاره د الله کی او په (راخلاصولو) دضعیفانو کی
مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالۡوِلۡدَانِ الَّذِیۡنَ یَقُوۡلُوۡنَ رَبَّنَآ اَخۡرِجۡنَا
د سړو نه او د ښځو نه او د هلکانو نه هغه کسان چه وائی دوی اے ربه زمونږه ! اُوباسے مونږ
مِنۡ هٰذِهِ الۡقَرۡیَةِ الظَّالِمِ اَهۡلُهَا وَاجۡعَلۡ لَّنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ
ددے کلی نه چه ظالمان دی اُوسیدونکی ددے او اُوګرځوه زمونږ دپاره د خپل طرف نه
وَلِیًّا وَّاجۡعَلۡ لَّنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ نَصِیۡرًا﴿۷۵﴾
دوست او اُوګرځوه زمونږ دپارهٔ د خپل طرف نه مددګار۔

تفسیر: پدے آیت کی هم مسلمانان په جهاد فی سبیل الله باندے راپارولے شی او د جهاد دوه مقصده ذکر کوی چه یو د الله د دین غالبه کول او بل کمزوری مؤمنان راخلاصول،

لکه په مکه کی کمزوری مسلمانان سړی، ښځے او ماشومان موجود وو دے دپاره چه هغوی د قریشو د ظلمونو او زیاتو نه خلاص شی، کومو چه مشرکانو د هجرت کولو نه منع کړی وو، او نهٔ ئے پریخودل، او په هره زمانه کی مسلمانانو باندے داسے قید وبند شته چه څوك په جیلونو کی وی، او چا باندے مختلف قسم پابندیانی وی د خپلو ملکونو نه بهرئے نهٔ پریدی، آزادی نهٔ ورکوی او تعلیمونو ته ئے نهٔ پریدی۔

بخاریؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه په هغه ورځوکی به رسول الله ﷺ چه کله په مانځه کی د رکوع نه سر پورته کولو نو د څه کمزورو مسلمانانو نومونه به ئے اخستل او د مکے د مشرکانونه د هغوی د نجات دپاره به ئے دعا کوله۔

وَالۡمُسۡتَضۡعَفِیۡنَ : دلته مضاف پټ دے اَیۡ فِیۡ اِنۡقَاذِ الۡمُسۡتَضۡعَفِیۡنَ۔

یعنی په راخلاصولو د کمزورو کی۔

لکه په مکه کی سُهیل بن عمرو خپل ځوی ابوجَندل ﷺ تړلے وو او وهل ئے هم ورکړی وو چه دوی چرته هجرت ونکړی، او دارنګه عمار بن یاسر او صهیب او عبد الله بن عباس رضی الله عنهم او د هغه مور به مشرکانو منع کول لکه بخاری کی دی چه ابن عباسؓ فرمائی زهٔ او زما مور په مستضعفینو کی وو۔(صحیح البخاری کتاب التفسیر)

او د الله د محبوب ﷺ لوری زینب رضی الله عنها چه کله د هجرت اراده وکړه نو

مشرکان ورپسے راووتل او هغه ئے په برچه باندے ووهله او د اوښ نه راګوزار شوه او روستو بیا د هغے د وجه نه وفات هم شوه چه د هغے تفصیلی دلسوزه واقعه زمونږ په کتاب ((سیرتِ رسول ﷺ)) کی وګورئ۔

مستضعفین دے ته وائی چه دوی وتل غواړی دے دپاره چه په دین باندے عمل وکړی لیکن کفارئے نهٔ پریدی۔

په آیت کی د ((قریة)) نه اول مراد مکه او د ((الظالم اهلها)) نه مراد د هغه ځای مشرکان دی۔ او په ((وَلِيًّا)) کی د ولی نه مراد د الله یو داسے بنده چه د هغه په ذریعه دکمزوری مسلمانانو د دین حفاظت اُوشی، او د ((نصیراً)) نه مراد یو داسے سړے دے چه د دشمنانو نه هغوی راخلاص کړے شی۔ نو الله د هغوی دعا واوریدله، د هغوی نه څه کسان راووتل او مدینے ته په رارسیدو کی کامیاب شو او څه هلته پاتے شو تردے چه نبی کریم ﷺ مکه فتح کړه او الله د هغه ځای باقیمانده مسلمانانو ته د ذلت نه روستو عزت ورکړو۔

اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ : **فائده** : الله تعالیٰ پدے آیت کی مسلمانانو ته دا غیرت ورکوی چه ستاسو ورونه او خویندے او ماشومان د کافرو د لاس د لاندے دی او هغوی پرے ظلمونه کوی، او په بعض ځایونو کی کفار د مسلمانانو زنانو سره بی حیائی هم کوی، نو ځان کی غیرت پیدا کړئ، او دغه مظلومان راخلاص کړئ، پخوانو حُکامو کی دا غیرت وو،

لکه د هارون رشیدؒ په باره کی راځی چه هغه ته یو تن جواب راولیږو چه په اندلس کی یوه زنانه ده چه د کفارو سره په یو جیل کی بنده ده، نو دهٔ ورته ددے ځای نه آواز وکړو چه (لَبَّيْكِ يَا اُخْتِيْ!) ۔ اے خورے زهٔ ستا تابعدار یم!۔ او خپله ئے فوج واخستو او خپله ورسره روان شو (عام خلفاء به جنګونو ته نهٔ تلل) تردے چه په هغه ځای ئے حمله وکړه او هغه زنانه ئے راخلاصه کړه، داسے غیرتی خلفاء وو۔

د منصور بادشاه په باره کی هم راځی چه هغه په ترکیا باندے حمله کړے وه او د یوے زنانه د راخلاصولو دپاره ئے ډیرے سختے تیرے کړے وے او دا به ئے وئیل چه د مسلمانانو حکومت دِے وی او په یوه زنانه دے ظلمونه کیږی۔ ارمان که داسے خلك اُوس پیدا شی څو مره به ښه وی!!۔

اَلَّذِيْنَ آمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَالَّذِيْنَ
هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے دوی جنګ کوی په لاره د الله کی او هغه کسان

كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْا أَوْلِيَآءَ
چه كفرئے كړے جنګ كوی په لاره د شيطان كی نو جنګ اُوكړئ تاسو د دوستانو
الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿٧٦﴾
د شيطان سره بيشكه مكرد شيطان ډير ضعيف دے۔

تفسير : دا هم ترغيب دے پدے طريقه چه كافر هم جنګ كوی ليكن د شيطان دپاره نو اے مؤمنه! ته ئے د الله دپاره ولے نۀ كوے۔

كافرانو ته اَولياء الشيطان اُووئيلے شو، ګويا كه دا اشاره ده چه مسلمانان د الله اولياء دی، او پدے كی يو قِسم د مسلمانانو همت پورته كول هم دی۔

او پدے كی دا اشاره هم ده چه مؤمن به ډيے ته وائی چه د الله په لاره كی به جهاد كوی نو په چا كی چه جهاد نۀ وی، ګويا كه په هغه كی د ايمان يوه شعبه نشته۔

او د فی سبيل الطاغوت نه دا هم معلومه شوه چه كوم انسان د طاغوت (شيطان او د هغه د تابعدارو) دپاره قتال كوی دا به مسلمان نۀ وی۔

كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيْفًا : پدے كی الله خبر وركړو چه د شيطان چل او مكر ډير كمزورے وی، او د الله د كامل قدرت په مقابله كی خو د هغے هيڅ حيثيت نۀ پاتے كيږی۔

سوال وجواب

په سورة يوسف كی دی (إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ) اے زنانو! ستاسو مكر ډير لوی دے نو آيا د زنانو مكر د شيطان نه هم زيات لوی دے؟ جواب دا دے چه دلته نسبتونه جدا جدا دی، د شيطان مكر د الله د كَيد په مقابله كی ضعيف دے او هلته د سړو په مقابله كی د ښځو مكر سخت وی۔ او د شيطان مكر د الله په مقابله كی ځكه كمزورے دے چه علم ورسره نشته، او دارنګه قدرت ورسره نشته او د الله سره علم او قدرت په كامله طريقه دے۔

نو پدے آيت كی هم اشاره ده مغلوبيت د كفارو ته چه الله تعالىٰ به دوی لره مغلوبه كوی۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْا أَيْدِيَكُمْ
آيا تۀ نۀ ګورے هغه كسانو ته چه وئيلے شوی دی هغوی ته بند كړئ لاسونه خپل

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ
او قائموئ مونځ او ورکوئ زکاة نو هرکله چه فرض شو په دوی باندے جنګ (د کافرانو سره)
إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً
نو دغه وخت یوه ډله د دوی نه ویریدله د خلقو نه په شان د ویریدو د الله نه یا په سخته یره سره
وَقَالُوا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلَا أَخَّرْتَنَا
او وائی دوی اے ربه زمونږ! ولے فرض کړو تا په مونږ باندے جنګ، ولے نۀ روستو کولو تا مونږه
إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ
یو بے نیتے نزدے ته، اُووایه! فائده د دنیا ډیره لږه ده او آخرت ډیر غوره دے د هغه چا دپاره
اتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾
چه یریږی (د الله نه) او ظلم به نشی کیدے په تاسو په اندازه د تار د هډوکی د کجورے۔

تفسیر: پدے آیتونو کی بیا د منافقانو بد صفتونه راجمع کوی او پدے کی ضعیف الایمان خلك هم داخلیږی۔

شان نزول

ددے آیت د نازلیدو د سبب په حقله وئیلے شی چه دا د صحابه کرامؓ د یو جماعت په سلسله کی نازل شویدے چه هغوی په مکی ژوند کی د مشرکانو د ظلم او زیاتی نه تنګ راغلی وو، او د رسول الله ﷺ نه ئے د قتال اجازت غوختلے وو، نو نبی کریم ﷺ اُوفرمایل چه اُوس ما ته د الله د طرف نه د جنګ کولو اجازت نۀ دے ملاؤ شوے، اُوس د مونځ او صدقاتو او خیراتونو په ذریعه د غریبانو مسلمانانو په مدد کولو باندے اکتفاء کول پکار دی، (جهاد چه کله فرض نۀ وی نو خلکو ته آسان ښکاری چه فرض شی نو بیا ګران کار وی نو دوی ته وویل شو چه کوم عمل درباندے لازم دے هغه وکړئ چه مونځ، زکاة او د مسلمانانو مدد کول، او چه کوم درباندے لازم نۀ دے هغه مۀ غواړئ، د بنی اسرائیلو په شان مۀ کیږئ چه هغوی ځان دپاره قتال غوختے وو بیا روستو شول)

لیکن کله چه دوی مدینے ته راغلل نو الله د جهاد اجازه ورکړه چه که څوك جنګ کوی کولے ئے شی، بیا په غزا د بدر کی الله تعالیٰ جهاد فرض کړو نو په بعض کسانو کی

سستي پيدا شوه، د هغوی نه یوه ډله د مرګ د ډیرے نه د جنګ نه روستو شو، نو پدے ځای کی منافقت او د ایمان کمزوري راښکاره شوه نو دا آیت نازل شو۔ (محاسن التاویل ۳۹۵/۲)

چه پدے کی مسلمانانو ته یو دا سبق ورکړے شو چه کوم شے درباندے لازم نۀ وی هغه به نۀ غواړئ، بلکه خپله ذمه واری سنبال کړئ۔ او بله فائده پکی دا ده چه کوم عمل ستا د شان سره لائق دے او تۀ ئے کولے شے نو هغه عمل ستا دپاره فائده مند دے۔

د شیطان طریقه دا ده چه کله یو بنده په یو اُوچت عمل کی مصروف وی، نو هغه ورته وسوسه واچوی چه د دین بل لوی عمل وکړه نو ددے عمل نه چه وځی هغه بل عمل هم پرے سرته نۀ رسوی، نو بی عمله ئے کړی لکه یو طالب العلم په علم کی مصروف وی هغه ته ووائی چه جهاد فرض دے، نو هغه د علم نه هم وران کړی او چه هلته لاړ شی بیا ئے هلته هم ساعت نۀ تیریږی نو د هیڅ نۀ شی۔ دا د شیطان دسیسه ده۔

(۲) ځینو وئیلی دی چه دا آیت د مدینے د یهودیانو په باره کی نازل شوے وو،

(۳) او ځینی نور وائی چه دا آیت د هغه منافقانو په باره کی نازل شویدے چه هغوی د جهاد فرض کیدو نه مخکی د اسلام اعلان کړے وو، او کله چه جهاد فرض شو نو په یره سره د هغوی نفس په مصیبت کی پریوتو۔

امام شوکانیؒ وائی چه همدا دریم قول د آیت سیاق ته زیات نزدے دے ځکه چه هغه خلقو وئیلی وو: اے الله! تا په مونږ باندے جهاد ولے فرض کړو؟ دارنګه الله د هغه خلقو دا صفت بیان کړو چه ((که دوی ته خیر رسیږی نو وائی چه دا د الله د طرف نه دے، او که څه تکلیف رسیږی نو رسول الله ﷺ ته وائی چه دا تول ستا په وجه دی))۔

او دغسے اقوال د صحابه کرامؓ نه صادریدے نشی۔

صاحب د ((محاسن التاویل)) هم همدا رائے غوره کړیده او وئیلی ئے دی چه د ابن عباس رضی الله عنهما نه چه کوم روایت نقل کیږی چه دا په مکی ژوند کی د صحابه کرامؓ د یوے ډلے په باره کی نازل شویدے۔نو هغه د سند په اعتبار سره صحیح نۀ دے،

او په مکی ژوند کی چه کله مسلمانان نهایت درجه کمزوری وو، هغوی د اسلام د ښکاره کولو نه یریدل، نو دا خبره د عقل نه لرے معلومیږی چه هغوی به د جنګ کولو اجازت غوختلے وی۔ او په آیت کی ددے خلقو دا صفت بیان شویدے چه دوی د خلقو نه داسے یریږی لکه څنګه چه د الله نه یریدل پکار دی، یا د هغے نه هم زیات، دا صفت د کافر یا

منافق کیدے شی، د مسلمان نشی کیدے۔

(٤) او ځینی مفسرین وائی چه پدے آیت کی د پخوانو قومونو نه د یو قوم حال بیانیږی چه هغوی به اول کی جهاد غوښتلو خو چه فرض شو نو ډیر پکی ملا ماتی شو لکه د جالوت او د طالوت په قصه کی تیر شویدی۔ (البحر المحیط ۷۱۲/۳)۔

كُفُّوْا أَيْدِيَكُمْ : یعنی د قتال کولو نه لاسونه بند کړئ۔

يَخْشَوْنَ النَّاسَ : د انسانانو نه یره کول یواځے د منافقانو کار نهٔ دے، بلکه دا کله په مؤمن هم راځی لیکن خشیت (یره) دے ته وائی چه د کافرانو عظمت او لوئی ئے په زړه کی دومره زیاته شی چه بیا ورته کار هم پریدی، جهاد شا ته ګوزار کړی۔

لَوْلَا أَخَّرْتَنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ : وَهُوَ زَمَانُ الْقُوَّةِ وَالْعَدَدِ ۔ نزدے نیتے نه مراد زمانه د قوت او عدد ده چه طاقت مو زیات شوے او شمیر مو ګڼ شوے وے نو د جهاد قابل شوی به وے۔

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا : د جواب حاصل دا دے چه جهاد به تر کومه پورے روستو کوو ؟ د دنیا ټول ژوند او خوندونه لږ دی، ختمیدونکی دی، نو تا باندے به مرګ راشی بیا به څه وخت جهاد فرض کیږی؟!

او پدے جملو کی څلور خبرے راجمع شویدی : یو تزهید فی الدنیا (د دنیا بی رغبتی) چه دنیا ډیره معمولی ده، او ددے خوندونه په یو څو ورځو کی ختمیدونکی دی۔ دویم پکی ترغیب دے چه آخرت ډیر غوره کور دے، هغے سره مینه ساتل پکار دی، او هغه په ایمان او نیك اعمالو او جهاد فی سبیل الله سره ملاویږی، او دریم په (لِمَنِ اتَّقٰی) کی (اَلْحَثُّ عَلٰی فِعْلِ الْخَيْرِ) دے، یعنی تیزی ورکول دی په کولو د نیك اعمالو، چه تقویٰ وکړه چه الله درله خیر درکړی، او څلورم زجر دے په کولو د بدو اعمالو او شرونو چه د شر کارونه مهٔ کوئ الله به درباندے ظلم نکوی۔ (کما فی بدائع التفسیر)

لِّمَنِ اتَّقٰی : اَیِ الشِّرْكَ وَمُخَالَفَةَ الرَّسُوْلِ ۔ یعنی څوك چه د شرك او د رسول الله ﷺ د مخالفت نه ځان بچ کړی، آخرت د هغه دپاره ډیر غوره دے۔

وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيلًا : یعنی که نیك عمل ډیے وکړو نو د هغے اجر به نهٔ کموی او که بد عمل ئے وکړو، نو د هغے سزا به نهٔ زیاتوی بلکه د عمل مطابق به وی۔ او ظلم په معنیٰ د کمی او زیاتی دواړو سره دے۔

نو په آیت کی ډیرے ذهن سازیانی وشوے،

(١) یو دا چه کوم عمل لازم دے هغه وکړه او چه کوم نهٔ دے هغه پریده۔

(۲) بل دا چه د مخلوق نه داسې يره كول لكه د الله په شان، دا جائز نۀ دى چه د الله حكم ورته پريدى۔
(۳) بله دا چه د الله په حكم كى ټال متهول كول ناروا دى۔
(٤) بله دا چه دنيا معمولى ده او آخرت هميشه دے او د متقيانو دپاره بهتر كور دے۔
(٥) او بله دا چه د الله په قانون كى ظلم نشته۔

أَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ
هر چرته چه يئ تاسو لاندے كوى به تاسو لره مرګ اګركه يئ تاسو په قلعه ګانو
مُّشَيَّدَةٍ وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُوْلُوْا هٰـذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَإِنْ
مضبوطو كى او كه اُورسيږى دوى ته خوشحالى نو وائى دوى دا د طرف د الله نه ده او كه
تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ
اُورسيږى دوى ته تكليف وائى دوى دا د طرفه ستا نه ده، ته اُووايه ! دا ټول د طرفه
اللّٰهِ فَمَا لِهٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَايَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿۷۸﴾
د الله نه دى پس څه شويدى دے خلقو لره چه نزدے نۀ دى چه پو هه شى په خبره۔

تفسير : دا بله ذهن سازى ده چه مرګ په هر ځاى كى راځى، يو تن به په مضبوطه قلعه كى وى مرګ به پرے راشى، نو يواځے جهاد سبب د مرګ نۀ دے۔ او دا متعلق ده د (لَوْلَا أَخَّرْتَنَا) سره يعنى د جهاد د حكم په تاخير كى هيڅ فائده نشته ځكه چه د مرګ نه خلاصے نشته، دارنګه د قتال نه د اعراض دوه وجے وے يو د دنيا حرص او محبت نو د هغے ترديد ئے په (قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا) سره وكړو او دويم د مرګ نه يره نو د هغے ترديد اُوس كوى۔
بُرُوْجٍ : جمع د برج ده لوى قلعه ته وائى چه په هغے كى څوكيداران ناست وى چه څوك ترے بى اجازته تيريدے نشى خو چه مرګ راځى نو هلته ئے هم څوك نشى منع كولے۔
په بروج كى معنىٰ د ښكاره والى ده، نو لويه قلعه هم د لرے نه ښكاره كيږى، دلته ترے د زمكے قلعه ګانے مراد دى۔
مُشَيَّدَةٍ : د تشييد نه دے په معنىٰ د مضبوطوالى سره يعنى داسے مضبوطے قلعه ګانے چه هغے ته انسانى قاتل نشى رسيدلے۔

قصه

دلته ابن جریرؒ او ابن ابی حاتمؒ د مجاهدؒ نه لویه قصه ذکر کړیده چه په پخوا زمانه کی په یوه ښځه باندے درد ولادت راغے نو خپل مزدور ته ئے حکم وکړو چه اُور راوړی نو هغه ووتو نو ناڅاپه په دروازه کی د یو سړی سره ملاؤ شو نو هغه سړی تر ے تپوس وکړو چه د ښځے څه پیدا شو؟ مزدور ووئیل : جینۍ ۔ نو هغه سړی ووئیل چه خبردار دا جینۍ به د سلو کسانو سره زنا کوی، بیا به ئے یو مزدور په نکاح اخلی او مرګ به ئے د جولاګی د لاسه وی ۔ نو دغه مزدور راواپس شو او دغه جینۍ ئے په خیټه کی په چاړه باندے ووهله، څیری ئے کړه، بیا وتښتیدو او دۀ ګمان وکړو چه جینۍ مړه شوه، مګر مورئے خیټه وګنډله نو هغه روغه شوه او لویه شوه او په خپل کلی کی ښائسته جینۍ ترے جوړه شوه، او دغه مزدور ډیر سفرونه وکړل او دریابونو ته لاړو تردے چه ډیر مالونه ئے حاصل کړل،

بیا خپل کلی ته راواپس شو او اراده ئے وکړه چه واده وکړی، نو یوے بوډۍ ته ئے ووئیل چه زۀ غواړم چه پدے ښار کی د ټولو نه ښائسته جینۍ سره واده وکړم، هغے ورته ووئیل چه دلته د فلانۍ جینۍ نه ښائسته نشته۔

نو هغه ووئیل چه دغه جینۍ باندے ما له جرګه وکړه، نو هغه لاړه او جرګه ئے وکړه نو هغه جینۍ خبره قبوله کړه ۔ نو دۀ ورسره واده وکړو نو دے جینۍ دۀ لره ډیر په تعجب کی واچولو ۔ نو جینۍ ترے د کارونو تپوسونه وکړل او دا چه دا د کوم ځای نه راغلو؟

نو دغه مزدور ورته قصه بیان کړه او د تښتیدو وجه ئے ورته بیان کړه نو جینۍ ووئیل چه هغه جینۍ خو زۀ یم او د چاړے ځای ئے ورته وخودو نو هغه ته یقین وشو، نو دۀ ووئیل که ته هغه جینۍ یی نو ما ته به دوه خبرونه نور راکوے، یو دا چه تا د سلو سړو سره زنا کړیده؟ هغے ووئیل : څه خو شویدی لیکن ما ته د هغوی شمار نۀ دے معلوم ۔ دۀ ووئیل : هغه سل سړی وو ۔ دویم دا چه تۀ به په جولاګی (غنے) سره مرے۔

نو خاوند د هغے دپاره لویه قوی بنګله جوړه کړه دے دپاره چه ددے نه محفوظه شی نو څه موده روستو دوی په بنګله کی ناست وو چه ناڅاپه په چهت کی ئے یو جولاګے ولیدو نو خاوند ښځے ته ووئیل چه دا هغه شے دے؟ نو ښځے ووئیل چه آیا تاسو ما ددے شی نه یره وئ؟ قسم په الله ! دابه زۀ وژنم، نو خلکو دغه جولاګے د چهت نه راخکته کړو، ښځه ورغله او خپه ئے پرے کیخوده او هغه ئے مړ کړو نو د هغے په غټه ګوته کی د نوك او د غوښے ترمینځ د هغے څه زهر داخل شو او خپه ئے توره (کینسر) شوه نو ددے په وجه مړه

شوه۔ (ابن کثیر۲/۳٦۱ والقاسمی۲/۳۹۷)

ذو القرنین ته سوچ وکړه چه په دنیا باندے ئے بادشاهي کوله لیکن په سفر وتلے وو کله چه بیرته خپل کلي (عراق) ته رسیدو نو په لاره کې پرے مرګ راغلو، خپل کور ته هم ونۀ رسیدو، د مرګ نه ئے ځان نشو خلاصولے۔

وَإِنْ تُصِبْهُمْ : پدے کې د منافقانو بل بد صفت بیانیږي چه دا هغه خلك دي چه کله دوی ته په مال او اولاد کې څه نعمتونه او فراخي رسیږي، یا سلامتیا، امن او فراخ کالي، خوشحالي، یا فتح او غلبه او مالداري راشي، نو دوی وائي چه دا د الله د طرفنه دے او الله تعالیٰ ته مونږ ښه ښکاره کیږو پدے وجه ئے دا هر څه راکړیدي او را کوی ئے۔

نو مطلب دا چه پدے کار کې د رسول الله ﷺ شکریه نۀ ادا کوی او دا قانون دے چه (مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللَّهَ) ځوك چه د انسان شکریه ونکړي هغه د الله شکر نشي کولے۔

دا ښه حالت الله راوستو لیکن د چا په وجه ئے راوستو هغه د الله د رسول د تابعدارئ په وجه۔ دوی له داسے وئیل پکار وو چه الله تعالیٰ مونږ ته ځومره ښه نبي او ښه دین راکړیدے چه ددے په وجه مونږ ته داسے ښائسته حالتونه او نعمتونه ملاویږي۔نو پدے جمله کې د دوی ناشکرئ ته اشاره ده۔

او کله چه دوی ته بد حالت رسیږي لکه مشقتونه، مرضونه، قحط سالي، یره، ګراني، غمونه، شکست، فقیري او مالي یا بدني تکلیف رسیږي نو دوی رسول الله ﷺ ته وائي چه دا ستا په وجه وشو،

(۱) نو د (مِنْ عِنْدِكَ) یوه معنیٰ ده اَیْ تَطَيَّرُوْا بِكَ ۔ یعنی په تا باندے بد فالي نیسي او وائي چه ته کله مدینے ته راغلے نو دا حالت مونږ وینو، لکه دا خبره د یهودیانو هم وه چه وئیل به ئے چه کله نه دا سړے (رسول الله ﷺ) او د هغه ملګري دلته راغلي دي، نو زمونږ په فصلونو او میوو کې کمي راغلے دے۔

او فرعونیانو د موسیٰ علیه السلام او د هغه د قوم په باره کې وئیلي وو ﴿ فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هٰذِهِ، وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسٰى وَمَنْ مَعَهُ ﴾ (الاعراف : ۱۳۱)

کله چه دوی ته ښه حالت راشي نو وائي چه دا زمونږ دپاره دے (مونږ ددے اهل یو) او کله چه دوی ته بد حالت ورسیږي نو بد نیالي نیسي په موسیٰ علیه السلام او د هغه په ملګرو۔

او د صالح علیه السلام قوم هم وئیلي وو ﴿ قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَعَكَ ﴾ (النمل : ٤٧)

مونږ په تا او ستا په ملګرو سره سپیره شو۔

او سورة یس کی دی: د بعض انبیاؤ قومونو په انبیاء علیهم السلام باندے بد فالی نیوله او هغوی ته ئے د سپیره والی نسبتونه کول۔ ﴿قَالُوْا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ﴾۔
(۲) یا د مِنْ عِنْدِكَ نه مراد دا دے چه هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ اَیْ بِسَبَبِ قِلَّةِ تَدْبِيْرِكَ۔
یعنی دا مصیبتونه پدے وجه راځی چه ستا تدبیر او قیادت کمزورے دے لکه په منافقانو باندے به چه کله په جهاد کی څه تکلیف راغلو، بیا به ئے ویل چه دا د رسول الله ﷺ (العیاذ بالله) د قیادت او تدبیر کمزوری ده، لکه رئیس المنافقین د اُحد په غزا کی پدے بهانه باندے ځان سره درے سوه کسان راستانه کړل چه صحیح تدبیر دا وو چه د دشمن د مقابلے دپاره په مدینه کی پاتی شوی وے۔
قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ : اَیْ بِتَقْدِيْرِ اللّٰهِ وَبِخَلْقِهٖ وَاِيْجَادِهٖ ۔ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم اُوکړو چه د دوی د باطل گمان د رد کولو دپاره ته اُووایه چه اے منافقانو! د نعمت یا مصیبت ټولو تعلق د الله سره دے او هغه په تقدیر کی خیر هم لیکلے او شر هم، د رسول الله ﷺ په هغے کی هیڅ مداخلت نشته، نو کله چه ښه حالت راولی، دا د الله تعالیٰ خالص احسان وی او چه کله بد حالت راولی، نو دا په سبب د گناهونو د بندگانو چه هغوی ته پرے بعض سزا ورکولے شی۔ (ابوالسعودؒ والقاسمیؒ)
فَمَا لِهٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ : لیکن خبره په اصل کی دا ده چه تاسو په جهالت او عناد کی پراته یئ، ستاسو په پوهه کی هیڅ نۀ راځی ځکه که تاسو بی وقوف نۀ وے نو تاسو به ددے نصیحتونو نه فائده اخستے او پدے به پوهه شوی وے چه نعمتونه او تکلیفونه ټول د الله د طرفه دی۔ (قاسمیؒ)
لَايَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا: امام بغویؒ وائی چه حدیث دلته د قرآن په معنیٰ سره هم دے یعنی دوی د قرآن کریم په معانی او مقاصدو نۀ پوهیږی ځکه داسے خبرے کوی، منافق همیشه دنیا پرست وی، نو ځکه ترے الله تعالیٰ فهم اخستے وی، وړاندے ئے نظر نۀ لګی۔
او دا قول ابن ابی حاتمؒ د سُدیؒ نه نقل کړیدے۔
فائده : فقه ژور فهم (پوهے) ته وائی چه په هغے سره د الله د کتاب او د رسول الله ﷺ د سنت نه حکمتونو راویستل کیږی، ددے وجه نه په دین کی مقصود تفقه پیدا کول دی لکه سورة توبه (۱۲۲) آیت پرے دلیل دے ﴿لِيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ﴾۔
او د منافقانو نه الله تعالیٰ فقاهت نفی کړیدے په طریقه د مبالغه سره چه فقاهت خو لا په ځای پریده چه دوی نزدے هم نۀ دی چه په خبره پوهه شی او د رسول الله ﷺ د خبرو

رازونه وپیژنی۔ یعنی د فقاهت استعداد ئے ختم شوید ے۔ (احسن الکلام)
او فقه صرف احکام شرعیه ؤ ته یا د علماؤ مسائل جزویه قیاسیه ؤ ته نۀ وائی، دا د متأخرینو اصطلاح ده۔

مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللهِ وَمَا أَصَابَكَ
هغه چه اُورسیږی تا ته د خوشحالئ نه نو د طرفه د الله نه دی او هغه چه اُورسیږی تا ته
مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا
د تکلیف نه نو دا د طرفه د نفس ستا نه دے او مونږ رالیږلے دے تا لره د خلقو دپاره رسول
وَكَفٰى بِاللهِ شَهِيْدًا ﴿٧٩﴾
او کافی دے الله تعالیٰ گواه۔

تفسیر : پدے خطاب کی اختلاف دے (۱) ځینی وائی دا رسول الله ﷺ ته خطاب دے او بیا ترے مراد امت دے۔ (۲) یا دا خطاب هر هغه چا ته دے چه د هغه سره خبرے صحیح کیږی سویٰ د نبی کریم ﷺ نه۔
دلته الله فرمایلی دی چه اے انسانه ! که تا ته څه خیر او نیکی ملاویږی نو دا د الله فضل او کرم وی او که کوم تکلیف در رسیږی نو ستا د کومے گناه نتیجه وی۔
پدے کی دفع د وهم دے چه د مخکنی کلام نه پیدا شو چه د نفس دپاره به په مصیبت راتللو کی څه تاثیر نۀ وی؟ نو الله دلته اصل قانون بیانوی چه هغه دوه قانونه دی :
(۱) یو دا چه الله تعالیٰ نیکی او بدی د مخکی نه په خپل تقدیر کی لیکلے ده۔
(۲) دویم دا چه نیکی او بدی چه راځی نو په هغے کی د انسان د عمل دخل وی، ځکه چه تقدیر الله تعالیٰ همداسے په اټکل سره نۀ لیکی بلکه هغه ته بهتره معلومه وی چه دے انسان کی به دا دا عمل راځی پدے وجه به ورته دا دا نتیجه ملاویږی، نو پدے کی د انسان د عمل تاثیر شته۔
فَمِنَ اللهِ : یعنی تا ته چه کوم ښه حالت ورسی نو دا خالص د الله نعمت او فضل وکرم او په هغه باندے د بنده هیڅ واجب حق نشته۔ او تا ته چه کوم مصیبت در ورسیږی فَمِنْ نَفْسِكَ اَیْ بِسَبَبِ ذَنْبِ نَفْسِكَ۔ دا په سبب د گناه د نفس ستا۔ او د ابن عباسؓ په تفسیر سره دلته وقف دے، او هغه ورسره دا عبارت راوباسی : وَأَنَا كَتَبْتُهَا عَلَيْكَ۔ او دا سیئه دربانده ے ما

لیکلے ده لیکن ستا د عمل دخل او تاثیر پکی شته۔ (بغویؒ)

نو پدیے سره د تقدیر مسئله ډیره مزیداره معلومیږی۔ یعنی الله ته مخکی نه معلومه وه چه د انسان نه به دا فلانئ گناه صادریږی نو دا فلانئ سزا به ورته رسیږی، نو بنده چه کله هغه عمل وکړی سزا پرے راشی، نو ددۀ عمل دپاره پدیے کی پوره مداخلت دیے، الله تعالیٰ په خپل علم او تقدیر سره په بنده باندیے گناه نۀ کوی بلکه بنده ئے په خپل اختیار سره کوی نو ځکه د سزا مستحق گرځی۔

نو پدیے کی مونږ ته دا سبق پروت دیے چه کله تا سره الله احسان وکړی نو د هغه شکر کوه او داسیے وایه چه ایے الله ! دا ستا مهربانی وه، او کله چه درته مصیبت ورسیږی نو داسیے وایه چه ایے الله ! دا تا لیکلے وه لیکن پدیے کی زما تقصیر او کوتاهی او نقصان او ورانے وو، نو زۀ تا نه بخنه غواړم او تا ته توبه وباسم او همدا د اهل سنت والجماعة عقیده ده۔

ددیے دواړو خلاف قدریه او جبریه ؤ کړیدیے، قدریه وائی چه هر څه انسان پیدا کوی نیکی وی که بدی۔ ددیے وجه نه چه کله نیکی وکړی نو تکبر پرے کوی او چه کله گناه وکړی نو خفه کیږی پرے، او جبریه وائی چه دا دواړه کارونه الله کوی، د انسان پکی هیڅ اختیار نشته، نو چه گناه ترے وشی نۀ خفه کیږی ځکه وائی چه دا راباندیے الله وکړه مونږ څه وکړو۔ او چه نیکی وکړی نو خوشحاله وی چه الله راباندیے وکړه۔ دا دواړه عقیدے د قرآن او حدیث خلاف دی۔

امام ترمذیؒ د ابو موسیٰ اشعری ﷺ نه روایت کړیدیے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : بنده ته چه وړوکے یا لوئی هریو مصیبت رسیږی نو د هغه د گناه په وجه رسیږی او الله خو اکثر گناهونه معاف کوی، بیا ئے دا آیت ولوستلو۔

سوال وجواب

په مخکی آیت کی الله تعالیٰ د منافقانو دغسے قول رد کړیے دیے او وئیلے ئے دی چه دا ټول د الله د طرفه دی او پدیے آیت کی وائی چه آؤ، سیئه د انسان د نفس د وجه نه ده نو دا خو بیرته د منافقانو تائید وشو؟

جواب : خوشحالی او غمونه د ایجاد په اعتبار سره دواړه الله تعالیٰ ته نسبت کیږی چه دواړه د الله د طرفه موجودیږی، او دواړه د الله په اراده پوریے تعلق لری، او دا مطلب د ﴿كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللهِ﴾ وو یعنی هر شے په اعتبار د پیدائش او تقدیر سره الله تعالیٰ ته منسوب دیے، او

په ﴿ مِنۡ عِنۡدِكَ ﴾ سره د منافقانو مقصد نبی کریم ﷺ ته د سپیرهٔ والی نسبت وو، نو الله هغه رد کړو چه دا الله په تقدیر کی لیکلی دی۔ او دلته چه د سیئه نسبت نفس ته شوید ے نو دا په اعتبار د ظاهری سبب سره دے چه هغه گناهونه دی، لکه همدا مضمون د مخکنی تفصیل نه معلوم شو۔

ځینی علماء وائی چه دلته د آیت په سر کی (يَقُوْلُوْنَ) لفظ پټ دے چه دا هم د منافقانو خبره ده، لیکن دا تفسیر ضعیف دے۔

وَأَرۡسَلۡنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُوۡلًا : ددے جملے د مخکی سره مناسبت دا دے چه دا د (هٰذِهٖ مِنۡ عِنۡدِكَ) سره لګی یعنی لَا تَأۡتِیۡ بِالۡمَصَائِبِ ۔ یعنی تهٔ مونږ خلکو ته رسول رالیږلے یی، ستا کار دا نهٔ دے چه په خلکو به مصیبتونه راولے او الله ستا په رسالت باندے پوره ګواه دے۔

(۲) اظهره دا ده : فَإِذَا أَصَابَهُمۡ مَا یَسُوۡءُ هُمۡ لَمۡ یَکُنۡ ظَالِمًا لَهُمۡ لِأَنَّهٗ أَرۡسَلَ رَسُوۡلًا)

کله چه بندګانو ته هغه تکلیف ورسی چه دوی پرے خفه کیږی، نو پدے کی به پرے الله تعالیٰ ظلم کونکے نهٔ وی، ځکه چه هغه خو رسول رالیږلے دے، او هغه خلکو ته ښه او بده لاره واضحه کړیده، او ګناهونه او د هغے سزاګانے ئے بیان کړیدی، نو اُوس چه یو تن دغه ګناه کوی او الله سزا ورکوی، نو دا به ظلم نهٔ وی، د بندګانو عذر به هله قبلیدے چه الله رسول نهٔ وے رالیږلے، او هغوی ګناهونه کولے او الله پرے رانیولے، نو دوی به عذر کولے چه مونږ ګناه نهٔ پیژندله نو سزا څنګه راکړے شی۔

وَکَفٰی بِاللّٰهِ شَهِیۡدًا : الله پوره ګواه دے ستا په رسالت او رشتینوالی باندے چه ستا په لاسونو ئے معجزات ښکاره کړیدی، نو هرکله چه ستا رسالت ثابت شو نو ستا په طاعت کی یُمن (خیر او برکت) دے او ستا نه په مخالفت کی سپیرهٔ والے دے۔ (قاسمی)

د الله ګواهی د رسول الله ﷺ په رسالت باندے په څه طریقه ده ؟ ددے بیان ددے سورت په آخر آیت (۱۶۶) کی راځی ان شاء الله تعالیٰ تفصیلًا۔

مَنۡ یُّطِعِ الرَّسُوۡلَ فَقَدۡ أَطَاعَ اللّٰهَ وَمَنۡ
څوك چه تابعداری کوی د رسول نو یقیناً هغه تابعداری اُوکړه د الله او څوك
تَوَلّٰی فَمَا أَرۡسَلۡنَاكَ عَلَیۡهِمۡ حَفِیۡظًا ﴿۸۰﴾
چه واوړیدو نو نهٔ ئے رالیږلے مونږ تهٔ په دوی باندے ساتونکے۔

تفسیر : پدے آیت کی هم کامل ترغیب دے اطاعت د رسول الله ﷺ ته، پدے طریقه چه الله تعالیٰ خپل اطاعت د رسول الله ﷺ په اطاعت کی بند کړیدے چه څوك د رسول الله ﷺ خبره ومنی نو دا د الله خبره منل دی او څوك چه د رسول الله ﷺ نافرمانی کوی هغه هیڅ کله د الله فرمانبردار نشی جوړیدے۔ د رسول الله ﷺ د سنتو خلاف ورزی کولو سره د الله بندګی نشی کیدے۔ لکه چه مخکی د (۵۹) آیت د تفسیر په ضمن کی ددے تفصیل تیر شو۔ نو پدے کی د رسول الله ﷺ ډیر لوی شان او د اتباع سنت اهمیت ذکر شو۔

فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ : د محمد رسول الله ﷺ هر حرکات او سکنات او خبرے د الله خوښی دی نو د رسول الله ﷺ خبره منلو سره الله راضی کیږی۔

وَمَنْ تَوَلّٰی : أَيْ عَنْ طَاعَتِكَ ۔ یعنی کوم خلق چه ستا د اطاعت نه مخ اړوی نو دوی په خپل حال باندے پریده، ستا ذمه واری صرف زما پیغام هغوی ته رسول وو، او هغه تا اُوکړل، اُوس چه څوك ستا اتباع کوی نو هغه به نیك بخت وی او د جهنم نه به نجات مونده کوی او چه څوك مخ اړوی نو هغه به په دنیا او آخرت کی تاوان مونده کوی۔

حَفِيظًا : أَيْ حَفِيظًا لِأَعْمَالِهِمْ ۔ یعنی د دوی د اعمالو حفاظت کونکے او نګرانی کونکے او څوکیداری کونکے ته نهٔ یی، چه دوی څه فساد او ورانے وکړی ګنے د رسول الله ﷺ نه به الله تپوس کوی، داسے نهٔ ده۔ ځکه چه دا د رسول الله ﷺ په طاقت کی نشته چه د هر چا د عمل نه ځان خبر کړی او خلك په زوره په حق باندے راولی۔

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ
او وائی دوی کار زمونږ تابعداری ده، پس کله چه اُووځی ستا د خوا نه نو شپه تیروی
طَائِفَةٌ مِنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ وَاللهُ يَكْتُبُ مَا
یوه ډله د دوی نه په غیر د هغه خبرو نه چه دوی ئے وائی او الله لیکی هغه خبرے
يُبَيِّتُونَ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ وَكَفٰى بِاللهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾
چه دوی ئے د شپے کوی نو مخ واړوه د دوی نه او ځان سپاره په الله تعالیٰ باندے او کافی دے الله ذمه وار۔

تفسیر : پدے آیت کی هم الله تعالیٰ د منافقانو د باطنی خباثت خبر ورکړیدے او په دوی ئے رد کړیدے چه دوی کله د رسول الله ﷺ په خوا کی وی، نو وائی چه زمونږ کار خو ستا

اطاعت کول دي، لیکن کله چه د رسول الله ﷺ د خوا نه به لاړل نو د شپې په تیاره کې به ئے د منافقانو سردارانو سره خپل مینځ کې د هغه د نافرمانئ او د سرکشئ لوظ تازه کولو، او د رسول الله ﷺ او د سنت خلاف خبرے به ئے کولے او مسلمانانو ته به ئے مکرونه او چلونه جوړول۔ نو هرکله چه دوی داسے کارونه کوی، نو د دوی نه خو یره پکار ده نو الله حکم کوی (وَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ) د دوی نه یره مه کوه بلکه الله ته ځان وسپاره۔

بَيَّتَ : هغه خبرو ته وائی چه انسان پرے شپه تیروی، او توله شپه گپ شپونه او غلطے خبرے کوی، پدے وجه شریعت د ماسخوتن نه روستو فضول خبرے او گپے شپے حرامے کړیدی ځکه چه پدے کې ډیر ضررونه دی، او د کافرانو او منافقانو سره تشبه ده۔

بَيَّتَ لفظ په اصل کې د بَيْت یا د بَيَات نه اخستے شویدے او بَيْت کور ته وائی نو دا هغه خبرے ته وائی چه په شپه کې جدا په یو گوټ کې جوړه کړے شوی وی، یا هغه کار چه په دغسے موقعه کې په ډیر فکر سره ترتیب کړے شوی وی نو د هغے نه په بَيَّتَ سره تعبیر کیږی۔ (تفسیر القاسمی ۳۹۹/۲)

او په بل تعبیر سره : د دقیق (باریك) پلان نه په بَيَّتَ لفظ سره تعبیر کیږی اگرکه هغه د ورځے جوړ کړے شوے وی، ددے وجه نه منظوم کلام ته اَبْيَات وئیلے کیږی ځکه چه د هغے په ترتیب کې لږ څه دقت (باریکی) وی۔

امام رازیؒ د زجاجؒ نه نقل کړیدی چه هر هغه کار چه د هغے په مصالح او مفاسدو کې ډیر فکر او سوچ وکړے شی نو هغے ته مُبَيَّت وئیلے شی۔ (قاسمی)

تَقُوْلُ : (۱) دا یا صیغه د واحدے مؤنثے ده۔ او ضمیر (هِيَ) مخکې (طَائِفَةٌ) ته راجع دے۔ او مطلب دا دے چه دوی شپه تیروی په غیر د هغه خبرو باندے چه دوی ئے دعوه کوی یعنی دعوه د طاعت کوی او بیا خبرے د طاعت خلاف کوی، او د رسول الله ﷺ د اوامرو او نواهیو خلاف کوی۔

(۲) یا (تَقُوْلُ) د مخاطب مذکر صیغه ده۔ یعنی اے نبی ! ستا د وینا نه په خلاف خبرو باندے شپه تیروی چه هغه د کفر او شرك او بدعاتو او فسق او فجور خبرے دی۔

وَاللّٰهُ يَكْتُبُ : پدے کې الله تعالیٰ منافقانو ته دهمکی ورکړیده چه الله د خپلو ملائکو په ذریعه د دوی تمام اعمال لیکی، او دوی ته به د خپلو منافقتونو او خباثتونو پوره پوره بدله ملاویږی۔

فائده : امام قرطبیؒ لیکی چه دا آیت دلیل دے چه صرف وینا (بغیر د عمل) نه په

اسلام کی هیڅ فائده نهٔ ورکوی۔

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ : اَیْ لَاتُبَالِ بِهِمْ۔ پدے کی ئے نبی کریم ﷺ ته فرمایلی دی : چه د دوی سره د عفو او مخ اړولو نه کار واخله، یعنی هیڅ باك پرے مهٔ کوه او کار ورته مهٔ پریده، او د دوی سره په بحثونو باندے وخت مهٔ ضائع کوه، بلکه د یو وخته پورے ورسره خبره مه سپینوه، او د دوی حقیقت د خلقو نه پټ اُوساته، او د دوی نه یره مهٔ کوه، او پهِ الله باندے بهروسه کوه، ځکه چه څوك په الله بهروسه کوی نو الله د هغه دپاره کافی کیږی، او که دوی هرڅومره هلے ځلے وکړی نو د الله د ارادے مخه نشی نیولے۔

او داسے حالت په هر داعی مؤمن باندے په هر وخت کی راځی۔

وَكِيْلًا : وکیل هغه چاته وائی چه هغه ته کار سپارلے شی۔

أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ
آیا سوچ نهٔ کوی دوی په قرآن کی او که وے دا د طرفه د غیر الله نه
لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿۸۲﴾
خامخا به موندلے وے دوی په دے کی اختلاف ډیر۔

تفسیر : پدے کی هم رد دے په منافقانو باندے او دوی ته زجر ورکړے کیږی او د دوی قباحت بیانیږی چه دوی په قرآن کریم کی تدبر نهٔ کوی، یعنی که منافقانو قرآن کریم په سوچ سره آوریدلے وے، د هغے په مضامینو او معانیو کی ئے تدبر کولے، نو دوی ته به پوره معلومات حاصل شوی وے چه رسول الله ﷺ په حق دے او کوم دین ئے چه راوړیدے هغه هم حق دے، او اطاعت ئے واجب دے، او د هغه نفاق نه به خلاص شوی وے کوم چه د دوی زړونه فاسد کړیدی، او د دوی فکرونه ئے بدبویه کړیدی۔

ربط : مخکی د رسول الله ﷺ په رشتینوالی باندے د الله شهادت ذکر شو نو سوال پیدا شو چه د الله شهادت څنګه معلومیږی؟ نو ووئیلے شو چه دوی دِے په قرآن کریم کی سوچ وکړی نو د رسول الله ﷺ صدق به ورته ښکاره معلوم شی۔

د تدبر څه معنیٰ ؟

أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ : د تدبر نه اخستے شویدے، او تدبر په اصل کی [اَلتَّأَمُّلُ وَالنَّظَرُ فِیْ أَدْبَارِ

الْأَمْرِ وَعَوَاقِبِهِ خَاصَّةً) د یو کار په عاقبت او انجام کی سوچ او فکر کولو ته وئیلے شی، بیا استعمالیږی په معنیٰ د نفس فکر او سوچ سره، برابره ده چه په حقیقت د یو شی کی وی یا ئے په انجام وغیره کی وی۔ (قاسمی)

حکمة :

الله تعالیٰ په تدبر باندے حکم وکړو او داسے ئے په سورة مؤمنون (٦٨) آیت کی هم وئیلی دی﴿ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ﴾ ۔ او داسے ئے ونۀ وئیل (أَفَلَا يَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ) دوی قرآن ولے نۀ لولی؟ وجه دا ده چه منافقان خو د قرآن ډیر قرائتونه او تلاوتونه کوی لکه په حدیث کی د خوارجو په باره کی راغلی دی (يَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ لَايُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ) قرآن به لولی لیکن د مرو نه به ئے نۀ پورته کیږی۔ نو اصل مقصد په قرآن کریم کی تدبر او تفکر کول دی۔

(احسن الکلام بتغیر)

ددے وجه نه د مؤمن صفت به دا وی چه په قرآن کریم کی به تدبر کوی، چه دا کتاب ما ته څه وائی او ما کوم طرفته راکاږی او که زۀ دا خبرے ونۀ منم نو ما سره به څه کیږی؟ آیا زۀ به الله ته نۀ پیش کیږم، هغه به را نه تپوس نۀ کوی؟!

ددے وجه نه سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه فرمائی :

[وَلَا خَيْرَ فِيْ قِرَاءَةٍ لَيْسَ فِيْهَا تَدَبُّرٌ] (اخلاق العلماء للآجری متوفی : ٣٦٠ هـ رقم الاثر : ٤٥)۔

او په هغه قراءت کی هیڅ خیر نشته چه په هغے کی تدبر نۀ وی۔

حسن بصریؒ وائی : [أُنْزِلَ الْقُرْآنُ لِلتَّدَبُّرِ فَجَعَلُوْهُ لِلتِّلَاوَةِ] ۔ قرآن کریم د تدبر دپاره نازل شوے وو نو خلکو دا صرف د تلاوت پورے خاص کړو۔

او په بل روایت کی دی : [نُزِّلَ الْقُرْآنُ لِيُعْمَلَ بِهِ فَاتَّخَذَ النَّاسُ تِلَاوَتَهُ عَمَلًا]۔

قرآن کریم ددے دپاره نازل شوے وو چه خلك به پرے عمل کوی لیکن خلکو ددے تلاوت عمل جوړ کړو۔

(تفسیر السمعانی ٤/١٩٩ سورة النمل والانوار الساطعات لآیات جامعات لعبد العزیز السلمان)

وَلَوْ كَانَ : دے نه روستو الله اُوفرمایل چه دا قرآن حق دے، او د الله کلام دے، که د غیر الله کلام وے، نو پدے کی به اختلاف او پریشانی او تعارض وے، په خاص توګه په غیبی اُمورو کی۔ لیکن پدے کی داسے یوه کومه خبره نشته، په سلګونو غیبی امورو سره متعلق تفاصیل دی، او په تیریدو د زمانے سره د هغے تصدیق او تائید کیږی۔ پدے وجه منافقانو لره خپل نفاق پریخودل او پدے قرآن باندے ایمان راوړل پکار دی۔

ابن عاشورؒ لیکی: تدبر د قرآن په دوه قسمه دے:
(۱) [أَنْ يَتَأَمَّلُوا دَلَالَةَ تَفَاصِيلِ آيَاتِهِ عَلَى مَقَاصِدِهِ الَّتِي أُرْشَدَ إِلَيْهَا الْمُسْلِمِينَ اَیْ تَدَبُّرَ تَفَاصِيلِهِ)
اول دا چه د آیتونو په شرعي مقاصدو باندے په تفصیلي دلالت کولو کې تامل او فکر وکړي او په هغے کې احکام او حکمتونه او لطائف الٰهیه معلوم کړي۔
(۲) [أَنْ يَتَأَمَّلُوا دَلَالَةَ جُمْلَةِ الْقُرْآنِ بِبَلَاغَتِهِ عَلَى أَنَّهُ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ]
دویم دا چه په اجمالي طریقے سره د قرآن کریم په فصاحت او بلاغت کې سوچ وکړي چه دا د الله تعالیٰ د طرف نه نازل شویدے، رشتیني کتاب دے۔ او دا دواړه تدبره صحیح دي لیکن دلته اول قسم تدبر اخستل د سوق د آیتونو په وجه غوره دي او مطلب دا دے چه که دے منافقانو د قرآن کریم په هدایاتو باندے پوره فکر وکړو نو دوی به لوی خیر حاصل کړي او د نفاق نه به بچ شي۔ (التحریر والتنویر ۱۹۹/٤)
وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ: دا د تدبر یو صورت دے چه که دا کتاب د غیر الله کلام وے، نو پدے کې به ډیر اختلاف او تناقض وے، او هرکله چه اختلاف نشته نو دا د الله کتاب شو او هرکله چه د الله کتاب شو، نو ددے منل پکار دي او ددے تابعداري پکار ده ځکه چه د یو عاقل دپاره د الله خبره غورزول پکار نهٔ دي۔

د تدبر صورتونه

(۱) یو تدبر پدے کې کیږي چه دا قرآن د غیر الله کلام نشي کیدے ځکه چه پدے کې داسے کمالات او اعجاز او فصاحت او بلاغت دے چه هغه د الله نه سویٰ د بل چا په کلام کې نشي کیدے، او ټول امت ئے مقابله نشي کولے، نو پدے تدبر سره به منافق ایمان ته مجبوره شي او د منافقت نه به خلاص شي۔
(۲) دویم تدبر: اَلنَّظَرُ فِي عَاقِبَةِ الْوَعِيدِ۔ قرآن کریم کې چه کوم وعیدونه او عذابونه ذکر شویدي چه که منافق په هغے کې سوچ وکړي چه دا خو زهٔ نهٔ منم مګر که دا راشي نو الله به ما ته په قبر کې عذاب راکړي، او جهنم ته به مے بوځي، نو آیا زهٔ به د هغے برداشت وکړے شم؟ هیڅکله نهٔ، نو ما دپاره ددے کتاب او ددے نبي منل پکار دي، ځکه چه پدے تابعدارئ کې دومره تکلیف نشته، او هغه عذابونه ډیر سخت دي نو کله چه عذابونو ته سوچ وکړي، نو په قرآن به مؤمن هم شي او عامل به هم شي۔
(۳) اَلتَّدَبُّرُ فِي اَخْبَارِ الْقُرْآنِ: په مخکنی آیت کې الله تعالیٰ د منافقانو پټې خبرے افشاء

کړې چه دوی د بې اطاعتۍ پلانونه جوړوي، که دوی د قرآن کریم یوائې په همدغه خبره کې تدبر وکړي (چه د واقع سره مطابقه ده) هم د نبی کریم ﷺ د رسالت تصدیق به ئې کړې وې، که بالفرض دغه ذکر شوی اخبار واقعیت نهٔ لرلے نو خامخا به منافقانو اعتراض کړې وې چه دا خبره خطاء ده۔

(٤) په یو کلام یا یوه حادثه باندې چه کله عمر زیات تیر شي او بیا اُوږد کلام هم وي نو په هغې کې ضرور تفاوت او اختلاف پیدا کیږي او قرآن کریم په درویشت کاله ژوند کې په مختلفو واقعاتو او موقعو کې نازل شویدې او په مختلفو علومو او قوانینو باندې مشتمل دې او د اختلافاتو او تناقضاتو نه خالي دې۔ دا تصور هم بنده دې ته مجبوره کوي چه اعلان وکړي چه آؤ دا صرف د الله تعالیٰ کلام کیدې شي، نهٔ د بل چا۔

(٥) د مؤمنانو تدبر هم مختلف صورتونه لري۔ د قرآن کریم په معنیٰ او مقصد کې تدبر کول، او کله تدبر وي دپاره د راویستلو د احکامو او حکمتونو او رازونو، او کله د قرآن کریم په کمالاتو کې تدبر کول وي چه فلانی ځای کې ئې دا لفظ استعمال کړو او دا نهٔ، ددې څه کمال دې ؟ دا د ایمان د زیادت سبب گرځي نو دا تدبر هم ضروري دې۔

د تدبر طریقه

په تدبر سره په بنده باندې ډیر علمونه راکولاویږي۔ د تدبر طریقه دا ده چه په هر لفظ کې سوچ وکړې شي چه ددې اصلي معنیٰ څه ده او دلته څنگه استعمال شویده ؟ دارنگه دلالة الاقتران کې سوچ چه دوه څیزونه په یو ځای ذکر شویدي ددې څه حکمت دې؟، دارنگه تقدیم تاخیر ولې شویدې؟۔ دارنگه دا لفظ پدې سورت کې ولے راوړې شویدې۔ یو لفظ په یو سورت کې بار بار ولے ذکر شویدې۔

کله جمع بین الالفاظ المختلفة من السور المختلفة وي یعنی د بیلو بیلو سورتونو نه مختلف الفاظ راواخله او یو ځای ئې کړه نو ددې نه به بیل حکمة راوځي۔

د تدبر یوه بله طریقه دا هم ده چه کله یو تن د یو آیت نه پوره استنباط نشي کولے نو د علماؤ کتابونه وگوري، په هغې کې به د حکمة یوه خبره وینی نو هغه راواخله، بیا ئې د قرآن کریم په آیتونو کې وگوره، نو په یو آیت کې به درته همغه مقصد راوځي، نو د آیت په مطلب به ډیر ښه پوهه شې چه دا خبره خو د قرآن پدې آیت کې هم شته اگرکه تا ته به دغه خبره د آیت نه اول کې نهٔ ښکاره کیږي۔ نو د علم د ډیر والي د وجه نه په قرآن کریم

کی تدبر ډیریږی. او دا تدبر په علم لغت او سیرت پیژندلو باندے زیاتیږی. نو کوم شخص چه په علم لغت (نحو، صرف او علم معانی، علم بیان او بدیع) کی مهارت لری نو هغه په قرآن کریم ډیر ښه پو هیږی. او په دے تدبر کی وخت تیرول دا بعینه حیاتِ طیبه دے او دا مزیدار علم دے.

فَتَدَبَّرِ الْقُرْآنَ اِنْ رُمْتَ الْهُدٰی	❁	فَالْعِلْمُ تَحْتَ تَدَبُّرِ الْقُرْآن

(حافظ ابن القیمؒ)

فائده : امام قرطبیؒ وائی : وَفِيْهِ دَلِيْلٌ عَلَى الْأَمْرِ بِالنَّظَرِ وَالْاِسْتِدْلَالِ وَاِبْطَالِ التَّقْلِيْدِ) (تفسیر القرطبی ۲۸۸/۵) په دے آیت کی دلیل دے او امر دے په دے خبره چه په یوه مسئله کی به فکر کولے شی او دلیل به پیش کولے شی، او دا دلیل دے چه تقلید باطل شے دے.

علامه قاسمیؒ د امام رازیؒ نه نقل کړیدی چه هغه فرمائی:

[دَلَّتِ الآيَةُ عَلٰى وُجُوْبِ النَّظَرِ وَالْاِسْتِدْلَالِ وَعَلَى الْقَوْلِ بِفَسَادِ التَّقْلِيْدِ]

دا آیت دلیل دے چه په یوه مسئله کی فکر کول او دلیل ورله پیش کول واجب دی، او په تقلید سره په یوه مسئله کی قول کول فاسد کار دے. (ځکه چه تقلید د تدبر دروازے بندوی) ځکه چه الله تعالیٰ منافقانو ته حکم کړے چه د نبی کریم ﷺ د نبوت په رشیتنوالی باندے دغه مخکښے دلیل ونیسی. (محاسن التاویل ۴۰۱/۲)

بعض ملیان په تفسیر کی هم د خپل استاذ تقلید کوی که هغه غلط شوے وی بیا هم د هغه ترجمه کوی او خپل کوم سوچ نۀ لری او دا خلك ډیر دی. یو ملا د (صرة) معنیٰ د کرکیٔ کړے وه، شاګردانو به هم دغه معنیٰ کوله حالانکه (صرة) چغے ته وائی.

لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا :

د اختلاف اقسام

اخْتِلَافًا كَثِيْرًا : اَیْ تَنَاقُضًا وَتَفَاوُتًا (قاله ابن عباس ؓ - بغوی، قرطبی)

ابوبکر الجصاصؒ او قرطبیؒ وئیلی دی چه اختلاف په درے قسمه دے

(۱) اختلاف تناقض، چه د یو بل تکراؤ خبرے پکی وی دا په قرآن کریم کی نشته.

(۲) دویم اختلاف تفاوت، چه په یو آیت کی ئے کمال وی یعنی فصاحت او بلاغت او بل کی هغه شان نۀ وی لکه د انسانانو کلام داسے وی چه یو ځای کمالی عبارت وی او بل ځای نۀ وی، دا هم قرآن کریم کی نۀ دے موجود.

(۳) اختلاف تلاؤم : دا دے تـه وائي چه ټول كلام په فصاحت او بلاغت او كمال او صدق كي سره برابر وي ليكن په يو ځاى كي يو لفظ وائي او بل ځاى كي بل، نو دا د قرآن كريم كمال دے چه يوه قصه په مختلفو عبارتونو نقل كوي، او ټول د فصاحت او بلاغت والا وي۔

فائده : مفسر ابوحيانؒ ليكي : دا نظري حجت دے او دليل د ملازمے دا دے چه ځوك اُوږد كلام جوړ كړي او په هغے ډيره موده تيره شي نو په دغه كلام كي ضرور اختلاف راځي يا په وصف او لفظ كي (چه بعض اعلىٰ فصيح او بليغ وي او بعض درميانه وي او بعض بيخي ساقط كلام وي) او يا په معنىٰ كي په تناقض د خبرونو سره، يا پدے طريقه سره چه د مخبر عنه (يعني د واقع) خلاف وي (چه هغے ته كذب يا خطائي وائي) يا په داسے ځيز باندے مشتمل وي چه هغه نا مناسبه وي او تطبيق ئے نۀ كيږي۔ او يا ئے مقابله ممكنه وي او هرچه قرآن كريم دے نو په هغے كي هيڅ قسم لفظي يا معنوي مخالفت كذب او خطائي او غلطي وغيره نۀ راځي۔

ابن عطيهؒ وئيلي دي : كه د چا په قرآن كريم كي څه شك يا گمان د اختلاف پيدا شي نو لازمه ده چه په خپل نظر او پوهه باندے دِے تهمت ولگوي او د هغه چا نه دِے تپوس وكړي چه ددۀ نه په قرآن ښه پوهه وي۔ انتهىٰ كلام ابي حيان (البحر المحيط۳/۷۲۵)

فائده ۲ : عام مفسرين ليكي چه دا آيت دليل دے چه د قرآن كريم نه ماسوىٰ په هر كتاب كي، خصوصًا هغه كتاب چه د هغے په تصنيف او تاليف باندے ډير وخت ولگي او لوي كتاب وي ضرور غلطي او تناقض او تفاوت وي او دا بديهي (ښكاره) خبره ده۔

هر مصنف چه خپل تصنيف څه زمانه روستو وگوري نو ضرور ورته ډير داسے ځايونه ملاويږي چه دا غواړي چه ما دا عبارت پدے طريقه نۀ وے ليكلے بلكه ددے نه هم ښه وے۔

علامه قاسميؒ وائي چه پدے آيت كي عذر دے د مصنفينو د كتابونو دپاره چه د هغوى نه به تناقض او اختلاف واقع كيږي ځكه چه د خطائي نه سلامتيا د الله تعالىٰ د كتاب خصوصيت دے۔ (محاسن التاويل ۲/۱۰۴)۔

كَثِيْرًا : دا لفظ ولے وائي؟ آيا گنے قرآن كريم كي لږ اختلاف شته؟

۱- نو ددے يوه وجه دا ده چه اختلاف ډير صورتونه لري لكه په فصاحت او بلاغت كي، په صدق او عدم صدق كي، په صحيح او فاسده معنىٰ كي، بل په تناقض كي او بل په تفاوت وغيره نو ددے ټولو نه يو قسم اختلاف هم په قرآن كي نشته، پدے وجه ئے

(اختلافًا کثیرًا) وئیلے دے۔

۲- صاحب اللباب لیکی چه قرآن کریم لوی کتاب دے او په ډیرو قسمونو د علمونو مشتمل دے نو که بالفرض په دیکی غلطیانی راځی نو ډیرے به وی خو هرکله چه په کی یوه غلطی هم نشته نو معلومه شوه چه دا کتاب د الله تعالیٰ دے۔لهذا دا قید احترازی نهٔ دے۔

وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهٖ وَلَوْ
او کله چه راشی دوی ته یو کار (یا خبر) د امن یا د یرے، خوروی دوی هغے لره او که
رَدُّوْهُ إِلَى الرَّسُوْلِ وَإِلٰٓى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ
دوی واپس کړے وے دا خبره رسول ته او خاوندانو د کار ته د دوی نه خامخا پو هه شوی به وے
الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ وَلَوْلَا فَضْلُ
پدے باندے هغه کسان چه راوباسی تدبیر د هغے خبرے د دوی نه او که نهٔ وے مهربانی د
اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾
الله په تاسو او رحمت د هغه نو خامخا تابعداری به کړے وے تاسو د شیطان مګر لږو کسانو۔

تفسیر : شان نزول :

(۱) د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ به کله یوه سریه (ډله د مجاهدینو) د غزا دپاره ولیږله او هغه به په دشمن غالبه شوه یا به مغلوبه شوه او د هغوی په باره کی به مدینے ته څه افواهی خبر راورسیده نو منافقانو به بغیر د تحقیق نه دغه خبر مشهور کړو او د نبی کریم ﷺ اخبار ته به ئے انتظار نکولو نو دا آیت نازل شو۔

کله به منافقانو دا خبره خوره کړه چه دغه مجاهدینو ته خو ډیر سخت تکلیف رسیدلے دے، دومره دومره کسان پکی مړه شویدی، تعیین به ئے د ځان نه وکړو، دلته به په مسلمانانو کی پریشانی راغله نو لږے ورځے روستو به هغه خبر دروغ وختو او دغه مسلمانان به روغ راورسیدل، او کله به مجاهدینو ته تکلیف رسیدلے وو نو دوی به خبره خوره کړه چه هغوی بیخی روغ او سلامت دی او غنیمتونه ئے واخستل، نو څه وخت روستو به خبر د هغے په خلاف راورسیدو، نو مسلمانانو باندے به ئے سمدستی پریشانی

راوسته نو پدے کی ډیر نقصانات وو، یو پدے کی دروغ خبره خوره ول دی (لکه حدیث کی دی : کَفٰی بِالْمَرْءِ کَذِبًا اَنْ یُّحَدِّثَ بِکُلِّ مَا سَمِعَ- صحیح مسلم
د انسان دپاره دا دروغ هم بس دے چه هره خبره واوری هغه بیانوی)
او بل مسلمانان پریشانه کول دی، او بل بی وخته د خلکو ذهنونه په داسے خبرونو مصروفه کول دی چه دا هم لوی جرم دے۔ نو دلته الله تعالیٰ منع وکړه چه تاسو ته کله یوه خبره راورسیږی نو همداسے به ئے نه خوروے بلکه تهٔ به ځے او رسول الله ﷺ نه به د هغے تحقیق کوے که هغه سره نشے ملاویدے نو ابوبکر او عمر او عثمان او علی رضی الله عنهم سره ملاؤ شه یا په روستو زمانه کی د یو فوج مشر او عالم او امیر ته رجوع وکړه او تحقیق وکړه۔
او نن سبا هم د بی تحقیقه خبرو د خوره ولو د وجه نه توله معاشره خرابه ده، یو بل باندے بدګمانیانی او یو بل سره بی محبتیانی د همدے لارے نه پیدا دی۔ څوك پکی وائی فلانی د کافرو ملګرو دے، فلانی د کافرو نه دومره دومره پیسے واخستے، او فلانے خو جاسوس دے، بی تحقیقه خبرے خوروی، دا لوی مجرمان دی۔
او د بی تحقیقه خبرو خورولو نه په اسلامی معاشره کی ډیر قسمه نقصانات راپورته کیږی، ځکه چه په عامه توګه په غیر تحقیق شوی خبرو کی ډیر د دروغو خبرے خوریږی۔ منافقانو به کله د مسلمانانو د غلبے په باره کی خبره خوره کړه او د مبالغے نه به ئے کار واخستو او ددے نسبت به ئے رسول الله ﷺ ته هم وکړو چه هغه داسے وویل، بیا به هغه خبره هغه شان نهٔ راوتله نو ډیرو خلکو ته به د رسول الله ﷺ په رشتینوالی کی شك پیدا کیدو۔ دا هم لوی نقصان وو۔
د هغه خبرونو یو نقصان دا هم دے چه د مسلمانانو د جنګی تیاریانو خبر به په ډیره تیزئ سره کافرانو ته رسیږی چه په هغے سره جنګی پروګرام سر ته نهٔ رسیږی، یا د تاوان سره مخامخ کیږی۔ او که د یرے او رعب والا خبر وی نو کمزوری مسلمانان به د هغے په وجه یریږی، ددے خرابیانو د وجه نه الله تعالیٰ د خبرو د تشهیر (مشهورولو) نه منع وفرمایله۔
(۲) ځینی مفسرینو پدے کی د نبی کریم ﷺ د طلاق خبر هم ذکر کړیدے چه هغه منافقانو خور کړے وو، رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو نه یوه میاشت د جدائی قَسَم کړے وو نو منافقانو او بی تحقیقه خلکو دا خبره خوره کړه چه رسول الله ﷺ خپلے بیبیانی طلاقی کړیدی پدے کی عمر فاروق رضی الله عنه خبر شو نو هغه د تحقیق دپاره د رسول

الله ﷺ خوا ته راغے، دلته معلومه شوه چه خبره هغه شان نهٔ وه. (صحيح مسلم ۴۸۱/۱)

أَذَاعُوا بِهِ : اذاعة، خبره خوررولو ته وئیلے شی، دا کله متعدی بالذات استعمالیږی او کله متعدی بالواسطه. او ځینی وائی دا ځکه په باء سره متعدی شویدے چه دا متضمن دے معنیٰ د تحدیث (خبر ورکولو) لره.

وَلَوْ رَدُّوْهُ : الله اُوفرمایل چه که دے خلقو ددے خبرونو په باره کی د رسول الله ﷺ او د بصیرت والا صحابه کرامو د رائے انتظار کولے، نو هغوی ته به حقیقتِ حال معلومیدلے. او دا به هم معلومیدلے چه کوم خبر مشهورول پکار دی او کوم پټول پکار دی. نو هغوی چه ورته هر قسمه هدایت کړے وے نو دوی به په همغه پروگرام باندے تلی وے او په هغوی باندے به ئے د خبر په باره کی پروگرام نهٔ وے خراب کړے.

د استنباط معنیٰ

يَسْتَنْبِطُونَهُ : دا کلمه د استنباط نه اخستے شویده او هغه په اصل کی د نَبَط لکه بَشَر نه جوړه شویده او نبط هغه اُوبو ته وائی چه د کوهی د کنستلو په وخت کی اول ځل د کوهی نه راپورته کړے شی. بیا کله د کوهی نه اُویه راویستونکو او کوهیان کنستونکو ته هم وائی او کله زمیندارو ته هم وائی. نو معنیٰ ئے د راویستلو او د تحقیق ده.

او دلته ئے معنیٰ ده : اَیْ یَسْتَخْرِجُوْنَ تَدْبِیْرَهٗ.

یعنی د هغه خبرے تدبیر راوباسی په خپل عقل او تجربی او فکر سره، چه آیا ددے خبرے خوره ول پکار دی او که نهٔ ؟ یا دروغجن خبر دے او که رشتینی.

نو معنیٰ به دا وی : که چرته دے منافقانو دا خبره رسول الله ﷺ یا اولی الامر (د رائے والا مشرانو) ته واپس کړے وے کوم چه د دوی د جنس نه دی، نو خامخا پدے خبر باندے به پوهه شوی وے هغه مشران چه راوباسی تدبیر د خبرے چه هغه بعض صحابه کرامؓ دی. او هرکله چه هغوی پوهه شوے وے نو هغوی ته به معلومه شوے وے چه آیا دا خبر د خوررولو لائق دے او که نهٔ.

او استنباط کله په معنیٰ د حرص کول او تپوس کول د هغے دی (عکرمةؒ)

او ضحاکؒ وئیلی دی چه استنباط تتبع (تفتیش او تالاش) ته وئیلے شی نو پدے معنیٰ باندے به د (الذین) نه مراد منافقان وی او (مِنْهُمْ) ضمیر (اولو الامر) ته راجع دے. یعنی هغه خلك چه تپوسونه د اولو الامر نه کوی. یا بیرته منافقانو ته راجع دے ځکه چه

منافقانو کی دوه قسمه وی یو هغه دی چه د خبرے تالاش او تفتیش کوی او د هر څه نه خان خبرول غواړی نو منافقان د خپل بی تحقیقه خلکو نه تپوسونه کوی او د هغوی په ذریعه خبره معلوموی۔ نو دوی ته وئیلے شی چه که دوی دا خبره رسول الله ﷺ او اولو الامر (صحابه کرامو) ته واپس کړے وے نو خامخا پدے خبره باندے به پوهه شوی وے دا منافقان کوم چه د خبرے د معلومولو حرص او تتبع او تالاش کوی د منافقانو نه۔

یعنی چه د نورو منافقانو نه ددے خبرے تتبع او تالاش او معلومات کوئے نو رسول الله ﷺ او مشرانو ته ئے واپس کړه نو هغه به درله خبر درکړی نو پوهه به پرے شی، یعنی د بی تحقیقه خلکو نه معلومات ته څه ضرورت دے بلکه اهل التحقیق ته رجوع وکړه چه هغه دِے په صحیح خبر باندے پوهه کړی، او د هغے تدبیر هم درته وښائی، لیکن دا ظالمان د بی تحقیقه خلکو خبره ښه منی او تحقیق والا ته صبر نکوی، دا د منافق خوئی دے۔

مِنۡهُمۡ : نه معلومه شوه چه اولی الامر په دوه قسمه دی یو هغه دی چه هغوی کامل عقل او رایه او علم لری، او بعض داسے نۀ دی۔

فائده ۱ : ددے آیت د عموم نه دا خبره هم معلومیږی چه کله یوه مسئله راشی او د هغے حقیقت او دلیل نۀ وی معلوم، نو هغه به د رسول الله ﷺ سنت ته پیش کولے شی تردے چه د هغے صحت او ضعف معلوم شی او که همداسے په اټکل سره مسائل بیانوی او الله او د هغه رسول ته پکی رجوع نۀ کوی نو دا به ددے آیت د وعید لاندے داخل وی۔

فائده۲ : ځینی مفسرینو لیکلی دی چه ددے آیت نه استنباط او اجتهاد ثابتیږی چه احکام شرعیه ؤ کی به دا کیږی او دا په ډیرو نصوصو سره ثابت دے ځکه چه نوی نوی حوادث پیدا کیږی نو د قرآن او حدیث نه به مسائل راویستلے کیږی او دا اُوس هم باقی پاتی دے، نو کومو مقلدینو چه دا لیکلی دی چه اجتهاد په څلورمه صدئ کی بند شویدے، دا بی دلیله او خطاء خبره ده۔ لکه شامی رد المحتار (۳) وګوره۔

فائده۳: بیا ځینی مفسرینو لکه جصاصؒ، رازیؒ او قرطبیؒ لیکلی دی چه ددے نه تقلید ثابتیږی ځکه چه یو مجتهد اجتهاد وکړی نو عوام خلك به هغه منی نو دغه خلك د دغه عالِم او مجتهد مقلدین جوړیږی۔ ددے جواب په ډیرو طریقو سره دے :

(۱) پدے آیت کی په تقلید باندے رد دے ځکه چه د آیت مقصد دا دے چه بی تحقیقه او بی دلیله خبره پسے مۀ روانیږئ او تقلید خو بی دلیله خبرے منلو ته وائی۔

وَالۡعِلۡمُ مَعۡرِفَةُ الۡهُدٰی بِدَلِيۡلِهٖ ۞	مَاذَاكَ وَالتَّقۡلِيۡدُ مُسۡتَوِيَان

إِذْ أُجْــمِـــعَ الْـــعُــقَلاءُ أَنَّ مُــقَــلِّـدًا	لِـلـنَّــاسِ وَالْأَعْــمٰـــى هُمَـا أَخَوَانِ

او علم خو ديته وائي چه هدايت (يعنى مسئله) سره د دليل نه ويپژندلے شى، دا او تقليد دواړه چرته برابرېږي. النونية لابن القيم ص (١٢٦)

او ددے آيت نه دا اشاره ملاوېږي چه بې تحقيقه خبرو پسے روانيدل د منافقانو كار دے او صحيح مسلمان به هره خبره حقيقت ته رسوى او په دليل او په بصيرت باندے به په خبره عمل كوى۔

٢- دويـم دا چـه كـلـه يـوه مسئله راشي او خلك پكى عالِم ته رجوع وكړي نو آيا عالِم به ورتـه د كتـاب او سنت دليل وركوى او كه خپله رايه به ورته بيانوى؟ كه خپله يا د بل عالِم رايه ورتـه بيـان كـړي نو په عوامو د هغے منل نشته، او كه آيت او حديث ورتـه پيش كړي، نو تقليد ختم شو۔

او ددے آيت نـظير بل آيت دے ﴿ فَـاسْـئَـلُـوٓا أَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ﴾ كـه خپـلـه نهٔ پـو هيـږئ نـو د عـلـم خاوندانو نه تپوس وكړئ۔ نو هغوى به درته علم (چه قرآن او حديث دے) وښـائـى۔ نـو د رد الـتـقـليـد معنىٰ دا نهٔ ده چه د علماؤ نه به فائده نشى اخستلے كيدے بلكه علماء به د امت رهنمائى كوى او كتاب او سنت ته به ئے رسوى۔

٣- دريـم دا چـه دلتـه د امـور د حـرب په باره كې خبر مراد دے ځكه چه دلته امن او خوف لـفـظ راغـلـے دے ځـكـه كه شرعي امور مراد وے نو بيا د رسول الله ﷺ او د هغه د سنت نه عـلاوه بل هيڅا ته نشى پيش كيدے، كه عالِم ته هم پيش كيږي نو هغه به ورته د قرآن او سنـت مسـئـلـه ښائي نو بيا (اَوْ الى اولى الامر) كې اختيار ذكر كول بې فائدے كيږي۔ نو د اولى الامر نه مراد اهل حل او عقد او اهل الشورىٰ دى۔

او د احـكام شرعيه ؤ په باره كې پدے سورت كې مخكې ذكر شو (فروده الى الله والرسول) صرف الله او رسول ته به واپس كولے شى، دا هم دليل دے چه دلته امور د حرب مراد دى۔ او تـفـصيـل دپاره رجـوع وكړه تفسير المنار د محمد رشيد رضاؒ ته (٢٤٩/٥) او هغه په امام رازيؒ باندے پدے مقام كې ډيرے ښے نيوكے كړيدى۔

وَلَوْلَا فَضْلُ اللهِ:

دے نه روستو الله اُوفرمايل چه كه د نبى كريم ﷺ د بعثت او د قرآن د نزول په ذريعه د الله فـضـل او كرم نهٔ وے نو اے مسلمانانو ! سوىٰ د يو څو هوښيارو صحابه كرامو نه تاسو ټول به د شيطان تابعدار جوړ شوى وے او ددے دروغو خبرونو تصديق به مو كولے۔

سوال وجواب

إِلَّا قَلِيْلًا په استثناء باندې ظاهراً دا اشکال کیږی چه که د الله فضل او رحمت نهٔ وې نو د شیطان پسې ورتلل دی مګر لږ کسان د شیطان نه په بچ کیدو کی د الله فضل او رحمت ته محتاج نهٔ دی؟ یعنی لږ کسان د الله د فضل او د رحم نه په غیر هم د شیطان تابعداری نهٔ کوی او حال دا چه دا خو د صریح نصوصو خلاف خبره ده؟

ددې یو څو جوابونه دی

(۱) جواب : دلته د (فضل الله) نه مراد د قرآن نازلول او د (رحمته) نه د رسول الله ﷺ رالیږل دی۔ (قاله السُدیّ والضحاك) یعنی که قرآن او رسول نهٔ وې نو تاسو به شیطان پسې روان شوی وې، لیکن د قرآن او د رسول په وجه الله د شیطان نه بچ کړئ، مګر لږ کسان د قرآن کریم او د رسول الله ﷺ د راتللو نه مخکې هم د شیطان نه د الله په رحم باندې بچ وو چه هغه د جاهلیت زمانې بعض موحدین وو لکه زید بن عمرو بن نفیل، ورقه بن نوفل، قُس بن ساعده، ابوذر غفاری، عمرو بن عبسه وغیره۔ (روح المعانی)

(۲) جواب : دا استثناء د (وَلَوْ رَدُّوْهُ) سره لګی۔ اَیْ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِی الرَّدِّ اِلَى الرَّسُوْلِ اَوْ اِلٰى اُولِى الْاَمْرِ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ اَیْ لَعَمِلْتُمْ بِآرَاءِ الْمُنَافِقِيْنَ۔

یعنی که د الله فضل او رحمت په تاسو نهٔ وې چه تاسو خبره رسول الله ﷺ ته واپس کړه نو خامخا تاسو به د منافقانو (چه د شیطانانو ورونه دی) د رائې پسې روان شوی وې څکه چه عام خلك د منافقانو خبرې منی، منافقانو ته دهوکې ډیرې ورځی او په عجیب انداز خپلې خبرې ښائسته کوی، مګر لږ خلك بیا هم منافقانو پسې نهٔ ورځی او د هغوی په خبرو نهٔ دهوکه کیږی چه هغه اولوا الامر دی چه د هغوی عقلونه د مضبوط ایمان په رڼا باندې روښانه دی او په رازونو خبردار دی او د احکامو په پیژندلو کی پوره رسوخ او کلك والے لری۔ نو دا استثناء منقطع ده۔ (روح المعانی ۳/۹۲ والمنار)

(۳) جواب : ابو مسلم الاصفهانیؒ وائی چه د (فضل الله ورحمته) نه مراد پدې مقام کی اَلنَّصْرُ وَالظَّفْرُ وَالْمَعُوْنَة) دې یعنی که چرته په تاسو باندې د الله فضل او رحمت (چه مدد او فتح او غلبه ده) نهٔ وې نو تاسو به د شیطان پسې روان شوې وې اَیْ فِيْمَا يُلْقِیْ اِلَيْكُمْ مِنَ الْوَسَاوِسِ یعنی د شیطان په وساوسو کی به اخته شوې وې۔ مطلب دا چه که الله فتح او مدد نهٔ رالیږلے نو ډیر کسانو ته به دا وسوسه راتللې چه دا دین او رسول الله ﷺ حق نبی نهٔ

دے ځکه چه په يو ځاى كى هم ورسره مدد ونشو، سوئ د لږو كسانو نه چه هغه د بصيرت او لوى عزم خاوندان دى چه هغوى به د تكليف سره سره نبى كريم ﷺ حق نبى منلے او دنياوى غلبه او فتح يا ناكامى به ئے د حقانيت او غير حقانيت نښه نهٔ ګڼړلے. امام رازئ دا قول د ابو مسلم نقل كړيدے او بيا ئے وئيلى دى چه دا په ټولو كى غوره وجه ده.
وانظر تفسير المنار (٢٤٦/٥) واللباب (٥٢٤/٢).

(٤) جواب: پدے كى بعيد تفسير دا دے چه (اِلَّا قَلِيْلاً) چا د (لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ) سره لګولے دے يعنى لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهُ اِلَّا قَلِيْلًا مِنْكُمْ) يعنى دغه خبره به معلومه كړے وے هغه كسانو چه تحقيق د خبرے كوى مګر لږو كسانو به نهٔ شوے معلومولے. او پدے مقام كى صاحب اللباب لس وجوه بيان كړيدى چه اكثر پكى ضعيف دى. غوره دا مخكنى تفسيرونه غوره دى.

فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ
پس جنګ كوه تهٔ په لاره د الله كى، تكليف نشى دركولے تا ته مګر په اندازه د وسع د نفس ستا
وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ
او تيزى وركړه مؤمنانو ته، نزدے ده چه الله تعالىٰ به بند كړى جنګ د هغه كسانو
كَفَرُوْا وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿٨٤﴾
چه كافران دى او الله سخت دے په اعتبار د جنګ او سخت دے په اعتبار د سزا وركولو.

تفسير: د تير شوى آيتونو په شان ددے آيت تعلق هم د نبى ﷺ په زمانه كى د جنګى سياست سره دے. الله تعالىٰ نبى كريم ﷺ ته اُووئيل چه كه منافقان ستا اطاعت نهٔ كوى او په جهاد كى سستى كوى نو نهٔ دِے كوى، ته د الله په لاره كى جهاد كوه، ته د خپل ځان ذمه وار ئے، الله به ستا مدد كوى نهٔ د فوج افراد. كه الله غواړى نو ته به يواځے ئے او په دشمنانو باندے به تا له غلبه دركړى.
او مسلمانانو ته په جهاد باندے تيزى وركړه (لكه چه نبى كريم ﷺ د بدر په ميدان كى د مجاهدينو د صفونو برابرولو په وخت اُوفرمايل چه د هغه جنت حاصلولو دپاره پاځيږئ چه د هغے فراخى د آسمانونو او زمكے برابره ده). (مسلم).
فَقَاتِلْ : دا فاء متعلق ده د مخكى ﴿فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا﴾ سره او

په مينځ کې د منافقانو خبرې رد شوې۔
د (فاء) د راوړو معنیٰ دا ده: اَیْ اِذَا کَانَ الْاَمْرُ کَذٰلِکَ: کله چه خبره داسې شو چه منافقان په جهاد کې سستي کوي او ستا خبره نهٔ مني نو (فقاتل): تهٔ جنګ کوه او د هغوی هيڅ پروا مهٔ لره، او د هغوی د کارونو په وجه د جهاد نه مهٔ سستيږه۔ او دا خطاب اول کې نبي کريم ﷺ ته دې او بيا هر شخص ته چه خطاب ورته صحيح کيږي۔
لَا تُکَلَّفُ: دا جمله مستانفه ده يعني ته په خپل عمل مکلف يې، او د بل چا ذمه وار نهٔ يې بلکه د خپل ځان غم وکړه او د خپل رب حکم عملي کړه۔
يا معنیٰ ده: (لَیْسَ عَلَیْکَ ذَنْبُ غَیْرِکَ) (تفسير مقاتل بن سليمان)
تا باندې د بل چا د ګناه هيڅ ضرر نشته۔ يعني که يو تن جهاد نهٔ کوي نو الله به تا نهٔ راګيروي کله چه تا خپله ذمه واري سرته رسولې وي۔
البته بله ذمه واري درباندې دا ده چه (وحرض المؤمنين) مؤمنانو ته په جهاد تيزي ورکړه، د جهاد فضائل او اجرونه ورته بيان کړه، او د جهاد نه د کيناستو عذابونه ورته واضح کړه، بيا الله پوهيږه او هغوی پوهه شه، ستا ذمه واري به فارغه وي۔ او رسول الله ﷺ پدې دواړو حکمونو باندې په ډير تاکيد سره عمل وکړو چه خپله هم په غزواتو کې شريك شو، او په هره موقعه کې ئې مسلمانانو ته د جهاد ترغيبات ورکړل لکه د احاديثو او د سيرت کتابونه پدې ګواه دي۔
ځيني وائي د نفسك نه مخکې مضاف پټ دې اَیْ وُسْعَ نَفْسِکَ۔
يعني تهٔ ذمه وارئې موافق د وسع د خپل ځان۔ يعني ستا چه څومره طاقت وي په هغه اندازه به تهٔ مکلف يې۔
وَحَرِّضِ: تحريض په اصل کې ازالة الحَرَض ته وئيلې شي او حَرَض بې فائدې او بې کاره او بې اهميته شي ته وئيلې شي يعني بيکاره او بې فائدې کارونو او مشاغلو نه د خلکو توجه جهاد طرفته راواړه وه۔ (مفردات الراغب ص١١٢)
يعني مؤمنانو ته د جهاد اهميت او خير او فائدې بيان کړه چه په منافقانو رد وشي چه هغوی خلکو ته وسوسې اچوي چه جهاد کې خير نشته او خالص خپل ځان هلاکول دي او بې اهميته شې دې۔ او دا تحريض (تيزي ورکول) به کله په ژبه سره وي او کله په قلم سره او کله به په تربيت ورکولو سره وي۔ (احسن الکلام)
فائده: آيت کې خو دا راغلل چه ستا ذمه واري دا ده چه جهاد به کوې، جهاد په تا فرض

دے او د بـل چا غم مکوه، لیکن ددے سره نور شرطونه شته چه جهاد به هله فرض وی چه مشروط بالقدرة وی، او دا قدرت هله حاصلیږی چه سړی سره ملګری پیدا شی، ځکه چه د اجتـماعیت نه بغیر جهاد کولو کی نقصان دے، د جهاد ثمره نهٔ ملاویږی، او د اجتماعیت نـه مـراد دا دے چـه دومـره مـلـګـری پیدا کړی چه د هغوی په وجه په دشمن کی زخم کولے شـی، د هغوی نه پـتیـدلے شی او د هغوی دفاع کولے شی او د خپل زخمی یا شهید حفاظت او سنبالښت کولے شی، که دا نشے کولے نو بیا دربانده جهاد فرض نهٔ دے۔

نـو کـوم عـلـمـاء چه ددے نه دا دلیـل نیسی چه یو مجاهد په یواځے تن هم جهاد کولے شی چـه د کـافـرو یو ملك ته ورشی او په ځان پورے بم وتړی او د کافرانو مینځ ته ننوزی او ځان والـوزوی نـو دا استـدلال ددے آیـت نه بعید دے ځکه که دا مطلب واخستے شی نو بیا به د روستو (وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ) څه مطلب وی۔

او بـلـه دا چه هیڅ مفسر او عالِم دا معنیٰ نهٔ ده کړے چه پهٔ یواځے تن به بنده جهاد کوی، د سیـرت نـه ددے هیڅوك مثال نشی پیش کولے چه نبی کریم ﷺ یا یو صحابی یواځے تن پـه کـفـارو حـملـه کـړی وی البته کومو ځایونو کی چه بعض صحابه کرامؓ یواځے جنګ کـړے نـو د هغه به دا فکر وو چه ما پسے روستو مسلمانان راروان دی لکه د سلمه بن اکوع ؓ واقعه پرے دلیل ده۔

او ددے مـثـال داسے دے چـه د کـافـرانـو پـه یـوه پـوسـتـه بانـدے دوه یا درے مسلمانان حمله وکړی، کولے ئے شی ځکه چه روستو ورپسے طاقت شته چه هغے ته رجوع وکړی۔

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ : پـدے کـی الله وعـده اُوکـړه چـه هغه به په مسلمانانو باندے د مکے د کـافـرانـو د ظـلـم او زیـاتـی سلسله ختمولو دپاره خپل رسول او مسلمانان په هغوی باندے مسـلـط کوی او هغوی ته به شکست ورکوی، او هغوی به تس نس کیږی۔ نو د الله وعده پـوره شـوه او جزیره د عربو او د وخت په تیریدو د فارس او روم په زمکه باندے د اسلام جنډه ورپیده۔

نـو پدے جمله کی مؤمنانو ته تشجیع (بهادری) ورکول دی چه تکړه شئ ددے کفارو سره جنګونه وکړئ، او کافرانو ته دهمکی ده چه الله به ستاسو بیخ وباسی۔

تَنْكِيْلًا : د نَكْلٌ نـه دے چـه پـه اصـل کـی قید ته وئیلے شی او په قید سره منع کول راځی پـدے وجـه تـنـکـیل منع ته هم وئیلے شی او په عرف کی هغے سزا ته وئیلے شی چه په هغے کـی د عبرت معنیٰ پرته وی۔ او دلته ترے مراد سخت عذاب او سخته سزا ده۔ او سختوالے ئے داسے دے چـه هیڅوك د هغے نه خلاصول نشی کولے او هغه به همیشه وی چه فناء او

زوال ئې نشته.

مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا وَمَنْ
چا چه سفارش اُوکړو سفارش ښائسته وی به ددهٔ دپاره برخه د هغې نه او چا
يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُن لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا
چه سفارش اُوکړو سفارش بد، وی به د هغه دپاره برخه د هغې نه (يعنی سزا به خوری)
وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿٨٥﴾
او دے الله په هر شی باندے قدرت لرونکے (يا جزا ورکونکے).

تفسير: پدے کی نيك شفاعت ته ترغيب او د بد شفاعت نه منع کول دی.

١- مناسبت ئې دا دے چه مسلمانانو لره د کافرانو په خلاف د جهاد ترغيب ورکول د الله په نيز د مسلمانانو په حق کی خير خواهی او نيك سفارش دے.

٢- دارنګه د جهاد په باب کی انسان د خپل ځان ذمه وار دے ليکن په باب د جهاد کی بل دپاره سفارش کول هم يوه ذمه واری ده او په جهاد کی سفارشونو ته ډير ضرورت راځی مثلاً يو سړے دے چه هغه سره د جهاد وسله (توره او ټوپك) نشته نو تهٔ امير يا بل مالدار ته د هغه په باره کی سفارش وکړه، دارنګه د جهاد دپاره چنده کول هم شفاعت دے، او د يو ملګری نه وسله اخستل او بل له ورکولو سفارش او اميرانو ته د ملګرو سفارش کول چه يو ملګری ته امير د وتلو حکم کړے وی او د هغه په کور کی ضرورت وی، نو امير ته ويل چه دا دِے پاتی شی ددهٔ کور کی ضرورت دے.

نو دلته د سفارش نه دنياوی سفارش مراد دے.

پدے مناسبت سره دلته د ښه او بد سفارش بيان راغلو. د ښه سفارش صفت اُوکړے شو او د الله وعده ذکر شوه چه سفارش کونکو ته به هم الله نيکه بدله ورکوی، او بد سفارش يعنی چه د وخت حاکم ته ورشی او هغه ته د خلقو شکايتونه وکړی نو دهٔ ته به ددهٔ د عمل بده بدله ضرور ملاويږی.

د شفاعت څه معنیٰ ؟

شفاعت څه ته وائی : كُلُّ مَنْ أَعَانَ غَيْرَهٗ بِقَوْلٍ أَوْ فِعْلٍ فَقَدْ صَارَ شَفِيْعًا لَهٗ ـ هر هغه څوك چه

د بل چا سره په خبره يا په عمل سره مدد وکړی نو دا د هغه دپاره شفاعت کونکے شو۔
مثلاً يو تن چا ته ووائی چه فلانی ته ورشه خه به درکړی، دائے سفارشی شو، يا ورسره خپله لاړ شی۔ يا عملاً د يو سړی خدمت وکړی چه جهاد ته روان وی، او دے ئے په سورلئ باندے يو ځای پورے ويسی۔ او شفاعت حسنه ديته وائی چه څوك يو نيك كار كوی، مثلاً جهاد كوی، يا طلب د علم كوی، يا بل نيك كار كوی او تهٔ ورسرهٔ په هغے كی ملګرے شے يا تعاون ورسره وکړے۔

د نيك سفارش د فضيلت په باره كی ډير صحيح احاديث راغلی دی :

په صحيحينو كی د ابو موسیٰ اشعری ﷺ نه روايت شويدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : [إِشْفَعُوْا تُؤْجَرُوْا] چه سفارش كوئ، ددے به تاسو ته اجر ملاويږی۔

مجاهدؒ، حسنؒ، كلبیؒ او ابن زيدؒ وئيلی دی چه دا آيت د خلكو خپل مينځ كی د سفارشاتو په باره كی نازل شويدے، جائز سفارش ښائسته سفارش وی او ناجائز سفارش شفاعتِ سيئه.وی۔ (القرطبی)

د شفاعت حسنه نور مصداقات

شفاعت كی معنیٰ د يو ځای والی ده نو پدے اعتبار سره ددے لاندے مصداقونه كيدے شی

(۱) د خپل ايمان سره د كفارو سره قتال جمع كول۔

(۲) د يو مؤمن دپاره د قتال د آلاتو او سامانونو سفارش كول۔

(۳) جهاد ته دعوت وركول۔ (٤) توحيد او سنت ته دعوت وركول۔

(٥) د يو مسلمان د بل مسلمان دپاره دعا كول۔ (٦) د چا د نفعے يا د ضرر د دفع كولو دپاره سفارش كول ليكن شرط دا دے چه په هغے كی به رشوت نهٔ وی لكه روستو راځی۔

(۷) د خلكو ترمينځ اصلاح او جوړ جاړے كول۔

(۸) حُسْنُ الْقَوْلِ فِي النَّاسِ۔ د خلكو په باره كی نيكی خبرے كول چه په هغے سره اجر او ثواب حاصل كړی۔ (قرطبی وابن كثير والبغوی)

د شفاعت سيئه مصداقات

(۱) د كفر سره د كافرانو دوستانه جمع كول۔ (۲) د انفاق فی سبيل الله (جهاد) نه خلك منع كول۔ (۳) د خلكو د منع كولو او متنفر كولو دپاره د جهاد بدی بيانول۔

(٤) شرك، بدعت، فحاشي او گمراهئ ته دعوت ورکول۔

(٥) د مؤمن غیبت کول، بهتان تړل او چغلي کول۔

(٦) په غیر شرعي کار سفارش کول۔ (٧) یو مؤمن ته بنیرے کول وغیره۔ (المصادر السابقة)

فائده

د سفارشاتو په بدله کی د هدیه قبلولو ډیره لویه بدی راغلے ده۔ د ابوداوّد حدیث دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: ((چا چه د خپل مسلمان ورور دپاره سفارش وکړو چه د هغے په بدله کی هغه ته هدیه ورکړه او هغه قبوله کړه نو هغه د سود د دروازو نه په یوه لویه دروازه داخل شو))۔ (ابوداود: ٣٥٤١) والصحیحة رقم: (٣٤٦٥) باسناد حسن)

د نصیب او کفل ترمینځ فرق

(١) نصیب مطلق برخے ته وائي برابره ده چه د بلے برخے سره مساوی وی او که ترے زیاتی وی او کفل فقط په مساوی برخه کی استعمالیږی، نو د نیکیانو اجرونه الله تعالیٰ د خپل اصل اجر نه زیاتوی پدے وجه ئے د هغے دپاره (نصیب) لفظ استعمال کړو او په بدیو کی برابره جزا ورکوی نو ځکه پکی کفل استعمال شو۔

(٢) نصیب په نیکه برخه کی استعمالیږی او د کفل کلمه اګرکه په لږه توګه په نیکه برخه کی استعمال شوے ده مګر اغلب استعمال ئے په بده برخه کی دے۔

مُّقِیْتًا : عبد الله بن عباس رضي الله عنهما معنیٰ کوی په مقتدراً سره، یعنی الله په هر شي باندے قدرت لرونکے دے۔ (الطبری وزاد المسیر)

٢- یا د اَقَاتَهٗ نه دے، قوت ورکولو ته وائي، یعنی الله هر انسان ته قدرت ورکونکے دے۔ (القرطبی) (٣) مقیت: د قُوْت نه اخستے شویدے چه رزق ته وائي۔ (ابوعبیدةؒ) (المنار والقرطبی) نو په معنیٰ د رازق سره دے یعنی الله هر شي ته رزق رسونکے دے۔ قرطبي وائي: قول د ابوعبیدةؒ ډیر غوره دے۔

(٤) مقیت: حفیظ او شاهد (ساتونکی او ګواه او کتونکی) ته هم وائي۔ او ټول معانی دلته صحیح دی۔ ابن کثیرؒ د عبد الله بن رواحه رضی الله عنه نه نقل کړیدی چه د هغه نه یو تن د (وکان الله علی کل شیء مُقیتًا) مطلب تپوس وکړو نو هغه وفرمایل: (یُقِیْتُ کُلَّ اِنْسَانٍ عَلٰی قَدَرِ عَمَلِهٖ) (هر انسان ته د هغه د عمل په اندازه خوراك ورکوی)۔

وَإِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا
او کله چه سلام واچولے شي په تاسو باندے په سلام سره نو جواب ورکړئ تاسو
بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوْهَا إِنَّ اللهَ
په ښائسته د هغے نه یا واپس کړئ هغے لره۔(یعنی د هغے په مثل) یقیناً الله تعالیٰ
كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا﴿٨٦﴾
په هر شي باندے حساب کونکے دے۔

تفسیر : د سلام مسئله ئے پدے مقام کی ځکه راوړے ده چه کله مسلمانان د جهاد سفر ته وځی نو یو شخص پرے سلام اچوی نو مجاهد ګمان وکړی چه دا کافر دے نو د هغه سلام ته هیڅ توجه او التفات ونکړی لکه روستو آیت (٩٤) کی واقعه ذکر کیږی، نو پدے آیت کی ذکر کوی چه د هر سلام کونکی حق دے ځکه چه سلام کول یو قسم اکرام دے، او د اکرام مقابله په اکرام سره بلکه د هغے نه په زیات سره پکار ده، نو که کافر سلام واچوی نو وژنی به ئے نهٔ ځکه چه ضرر نشی ورکولے او که مسلمان وی نو د هغه وژل خو ډیره لویه ګناه ده۔

او د سلام مسئله ئے پدے وجه هم راوړه چه په هغه زمانه کی سلام اچول د مسلمان شعار وو، کافرو به سلام نهٔ اچولو، لکه اذان په هغه زمانه کی د اسلام نښه وه، اُوس پدے زمانه کی بعض کافرانو هم دا سلام زده کړیدے، نو اُوس پوره نښه د اسلام نهٔ ده، هر څوك سلام اچوی۔

وَإِذَا حُيِّيْتُمْ : یعنی کله چه په تاسو باندے سلام واچولے شی۔

امام راغبؒ وائی : تحیه په اصل کی دعاء کول دی په ژوند او د هغے په اوږدوالی باندے (یعنی الله دے ژوندے وساته او اُوږد ژوند دِے درکړے شی) بیا په هره دعاء کی استعمالیږی او عرب چه به کله یو د بل سره ملاویدل نو (حَيَّاكَ اللهُ) لفظ به ئے وئیلو بیا شریعت تحیه لفظ په سلام کی استعمال کړو چه هغه السلام علیکم لفظ دے۔

او السلام علیکم لفظ د (حَيَّاكُمُ اللهُ) نه ډیر غوره دے، ځکه چه په (حَيَّاكُمُ اللهُ) کی صرف د ژوند د اوږدوالی دعا ده، اګرکه د غمونو نه ډك وی او په السلام علیکم کی د ټولو آفتونو او غمونو نه د سلامتیا دعا ده، سره د اُوږدوالی د ژوند نه هم ځکه چه مرګ هم یو آفت او

مصيبت دے۔

(۲) او تحيه کله په معنىٰ د هديه او تحفه سره هم استعماليږي، نو ځيني علماؤ دا آيت د تحفے سره لګولے دے يعني کله چه تاسو ته تحفه او هديه درکړے شي نو تاسو د هغے نه ښائسته بدله ورکړئ يا بعينهٖ هغه شان واپس ورکړئ۔ لکه نبي کريم ﷺ ته به چه چا څه هديه ورکړه نو هغے ته به ئے زياتي بدله ورکوله لکه يو اعرابي رسول الله ﷺ ته يوه اُوښه تحفه کړه نو رسول الله ﷺ ورته شپږ ورکړے مګر اعرابي پدے هم خفه وو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : (وَأَيْـمُ اللّٰهِ لَا أَقْبَـلُ بَعْدَ يَوْمِيْ هٰذَا مِنْ أَحَدٍ هَدِيَّةً اِلَّا أَنْ يَكُوْنَ مُهَاجِرًا، قُرَشِيًّا أَوْ أَنْـصَارِيًّـا أَوْ دَوْسِيًّا أَوْ ثَقَفِيًّا) (ابوداود ۳۵۳۹ والترمذی:۳۹۴۵) وسنده صحيح– البانی واحمد شاكر– ومسند احمد) قسـم په الله ! زۀ به د خلکو د نن نه پس تحفے نۀ قبلوم سوئ د مهاجر، قريشي يا انصاري يا دوسي يا ثقفي نه (ځکه چه دا خلك په ښه نيت هديه راوړي)

دا معنىٰ هم جائز ده مګر دلته مراد نۀ ده۔ امام قرطبیؒ وائي چه صحيح دا ده چه دا آيت د سلام په باره کي دے، او سلام يو قسم تحفه او ډالئ ده۔ او تحيه په قرآن کريم کي د سلام په معنىٰ استعمال ده لکه ﴿تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً﴾ (النور:۶۱) او سورة المجادله (۸) آيت کي دي : ﴿وَاِذَا جَاۗءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ﴾ ۔

ځيني علماؤ به ددے نه د توحيد مسئله ثابتوله او داسے معنىٰ به ئے کوله چه کله تۀ په مسئله د توحيد باندے ژوندے کړے شے، نو بيا ئے ښه بيانه کړه، يا ئے د هغے په شان بيانه کړه۔ دا معنىٰ دلته د تحريف مشابه ده، د توحيد دپاره نور ډير آيتونه دي، دلته دا معنىٰ هيڅ سلفي مفسر نۀ ده کړے، او دا قسم تفسيرونه د مرجئهٔ او د غُلاتو دي۔

د سلام بعض مسائل

۱– مسئله : قرطبیؒ ليکلي دي چه په اتفاق د علماؤ د سلام ابتداء کول سنت دي او ددے جواب ورکول فرض دي ځکه چه دلته امر راغلے دے (فَحَيوا باحسن منها) آه۔

حافظ ابن کثیرؒ وائي : ددے سبب دا هم دے چه د سلام په جواب نۀ ورکولو کي د مسلمان اهانت (سپکاوے) دے چه هغه حرام دے۔

د حسن بصریؒ او سفيان ثوریؒ وغيرهما هم دغه قول دے۔ آه

ليکن صحيح خبره دا ده چه سلام اچول هم واجب دي ځکه چه په هغے باندے هم په احاديثو کي امر راغلے دے (اِذَا لَقِيْتَهٗ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ)

کله چه د مسلمان سره ملاویږے نو سلام پرے واچوه۔ (صحیح مسلم : ۵۷۷۸)
۲- : د سلام ښائسته جواب ورکول دا دی چه سلام کونکے (السلام علیکم) ووائی نو ته ورته (وعلیکم السلام ورحمة الله) زیات کړه که هغه (ورحمة الله) زیات کړی، ته ورسره (وبرکاته) زیات کړه که هغه (وبرکاته) زیات کړی، ته ورسره (وَمَغْفِرَتُهٗ) زیات کړه او بس۔ ددے نه زیادت په صحیح احادیثو کی نهٔ دے ثابت کما فی الصحیحة رقم : (۱٤٤۹)۔
یا هغه صرف (السلام علیکم) ووائی نو ته دا تول کلمات زیات کړه، دا د تهولو نه ښه جواب دے۔
د (وَمَغْفِرَتُهٗ) والا روایت امام بخاریؒ په التاریخ الکبیر (۱/۳۳۰) کی راوړیدے او شیخ البانیؒ په ((صحیحه)) کی ورته صحیح وئیلے دے، اګرکه د بعض علماؤ په نیز د (مَغْفِرَتُهٗ) والا روایت هم ضعیف دے وتفصیله فی اعلام الانام بما انتهی الیه السلام (ص: ۳) لابی محمد ابراهیم بن شریف المیلی) ځکه چه د هغے په سند کی محمد راوی دے چه بخاریؒ مطلق ذکر کړیدے،
شیخ البانیؒ وائی چه دا محمد بن سعید الاصبهانی دے چه د بخاری د شیوخو نه دے نو سند متصل دے او علامه میلی وائی چه دا محمد بن حمید الرازی دے چه متهم بالکذب والسرقه دے، او روستو راوی ابراهیم بن المختار الرازی دے،
ابن حبانؒ وائی چه کله محمد بن حُمیدؒ د ابراهیمؒ نه روایت وکړی نو دده د روایت نه به ځان ساتے۔
شیخ البانیؒ وائی : اګرکه محمد بن سعید او محمد بن حُمید دواړه د ابراهیم بن المختار شاګردان دی لیکن د محمد بن سعید روایت قوی دے ځکه چه دا د امام بخاری استاذ دے او محمد بن حمید د بخاری په استاذانو کی هیڅ نهٔ دے شمارلے۔ او هرچه ابراهیم بن المختار دے نو دهٔ په باره کی کلام دے لیکن البانیؒ وائی چه ما دهٔ په باره کی په قول د ابوحاتمؒ اعتماد کړیدے چه هغه وائی صالح الحدیث دے او د هغه سره پدے خبره ابوداودؒ او ابن شاهینؒ او ابن حبانؒ موافقه کړیده آه۔
لهذا خبره د البانیؒ قوی ده او تفصیل ئے په الضعیفة رقم (۵٤۳۳) کی وګوره۔
۳- که یو یهودی یا کافر صحیح سلام واچوی نو د هغه جواب به هم ورکولے شی ځنګه چه هغه وئیلی وی مثلاً هغه (السلام علیکم) وویل نو ته به هم ورته (وعلیکم السلام) وائے او که هغه (السلام علیکم ورحمة الله) وویل نو مسلمان به هم ورته (وعلیکم السلام

ورحمة الله) وائی ځکه چه مسلمان به د کافر نه په اخلاقو کی خکته نهٔ وی. لکه همدا خبره د عبد الله بن عباسؓ نه ابن المنذرؒ، ابن ابی حاتمؒ، قرطبیؒ او سیوطیؒ په الدر المنثور کی نقل کړیده.

د حسن بصریؒ نه نقل شویدی چه هغه به د کافر د سلام جواب په (وعلیکم السلام) سره ورکولو. او د (رحمة الله) لفظ به ئے نهٔ زیاتولو. او شعبیؒ د یو نصرانی د سلام په جواب ورکولو کی (وعلیکم السلام ورحمة الله) اُووئیل. نو د هغه نه دے باره کی تپوس اُوشو، هغه جواب ورکړو چه آیا هغه د الله د رحمت د سوری لاندے ژوندے نهٔ دے. (قاسمیؒ)

بلکه په صحیحه کی د ابو موسیٰ اشعری ﷺ نه روایت دے چه هغه یو کافر ته صحیح جواب ورکړے وو.

او ځینی علماؤ (اَوْ رُدُّوْهَا) د اهل ذمه ؤ سره متعلق کړیدے چه هغوی ته به جواب بالمثل ورکولے شی، او مسلمان ته به احسن جواب ورکولے شی.

مګر صحیح دا ده چه مسلمان ته هم جواب بالمثل ورکول جائز او زیادت پرے غوره دے. ٤- صحیح حدیث کی راغلی دی: (السلام علیکم) لس نیکئ او (ورحمة الله) لس او (وبرکاته) لس دی، ټولے دیرش شوے.

(ابوداود فی الادب باب کیف السلام) وصحیح الترغیب والترهیب للالبانی ٢٧١٠)

٥- که د یوے ډلے نه یو کس سلام وکړی هم جائز ده او د یوے ډلے نه د یو کس جواب ورکول هم کافی کیږی، حدیث کی دی:

(يُجْزِئُ عَنِ الْجَمَاعَةِ إِذَا مَرُّوا أَنْ يُسَلِّمَ أَحَدُهُمْ وَيُجْزِئُ عَنِ الْجُلُوسِ أَنْ يَرُدَّ أَحَدُهُمْ) (سنن ابی داود عن علی مرفوعا) واسناده صحيح- صحيح الجامع ٨٠٢٣ والصحيحة: ١١٤٨ و١٤١٢).

کله چه یوه ډله تیریږی د دوی د طرفنه دا کافی ده چه یو تن پکی سلام واچوی او د ناستو خلکو نه دا کافی ده چه یو تن پکی جواب ورکړی.

٦- سلام په هر چا اچول جائز دی سِویٰ د هغه شخص نه چه په قضاءِ حاجت (بول وبراز) ناست وی، نو په اذان کونکی، تلاوت کونکی او درس او تدریس کونکی ټولو باندے سلام په احادیثو کی ثابت دے، حدیث کی دی: اَفْشُوا السَّلَامَ. (صحیحین)

سلام عام کړئ او په پابندیانو باندے صحیح دلیل نشته.

د سلام په باره کی تفسیر قرطبیؒ مسائل لیکلی دی، او علامه قاسمیؒ پدے باره کی ډیر احادیث راجمع کړیدی چه هغے ته رجوع کول فائده ورکوی، که څوك تفصیل غواړی.

حَسِيبًا : يعنى هر كله چه د الله حساب حق دے، نو ددے وجه نه احتياط وكړئ چه مسلمان مو دلاس نه قتل نشى او نۀ ورته ضرر ورسى۔

اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلٰى يَوْمِ
الله تعالىٰ نشته لائق د بندګئ سوئ د هغه نه خامخا به راجمع كوى تاسو لره ورځ
الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيثًا ﴿۸۷﴾
د قيامت ته چه نشته هيڅ شك په هغے كى او څوك ډير رشتينى دے د الله نه په خبره كى۔

تفسیر : ربط دا دے چه جهاد او قتال به د توحيدد مسئلے دپاره كولے شى چه د تمامو مخلوقاتو معبود صرف يو الله دے۔

او پدے كى نتيجه او عاقبت د قتال ذكر دے چه قتال به د توحيد پورے او د توحيدد پاره كيږى چه خلك يو اځے د الله بندګى شروع كړى۔

لَيَجْمَعَنَّكُمْ : دا دويمه عقيده د بعث بعد الموت ده چه دا هم وپيژنئ چه تاسو ټول به د قيامت په ورځ راجمع كوى او حساب به درسره كوى او هر يو ته به د هغه د عمل بدله وركوى، او اول حساب به په توحيد وى ځكه دا مقصودى مسئله ده۔

وَمَنْ أَصْدَقُ : يعنى د الله د خبرے نه زياته د بل چا خبره رشتينى كيدے شى۔ هيڅوك نشته نو ددے خبرے پوخ يقين وكړئ چه تاسو به د الله سره ملاويږئ۔

د الله نه هيڅوك په خبره كى ډير رشتينى نشته، وجه دا ده چه انسان كله په خبره كى مبالغه كوى، او كله بى حقيقته خبره كوى، او كله خطاء شى او كله ترے غير اختيارى دروغ راوځى، او د الله خبرے ددے نه پاكى دى۔

فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ
پس څه وجه ده تاسو لره (چه اُوګرځيدئ تاسو) په باره د منافقانو كى دوه ډلے او الله تعالىٰ
أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوا أَتُرِيدُونَ أَنْ تَهْدُوا مَنْ
ذليله كړيدى دوى لره په سبب د عملونو د دوى، آيا اراده لرئ تاسو چه هدايت والا اُووايئ هغه چا ته
أَضَلَّ اللّٰهُ وَمَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا ﴿۸۸﴾
چه ګمراه كړى دى الله او چا له چه ګمراه كړى الله پس هيچرے به تۀ مونده نه كړے هغه لره لاره۔

تفسیر : پدے راتلونکی رکوع کی د منافقانو د اقسامو بیان دے مخکی ئے صفات بیان شو اُوس ئے انواع بیانوی (۱) یو هغه منافقین دی چه غیر مهاجرین دی (۲) دویم هغه دی چه حَصِرَتۡ صُدُوۡرُهُمۡ والا دی (۳) دریم هغه دی چه (یَأۡمَنُوۡكُمۡ وَیَأۡمَنُوۡا قَوۡمَهُمۡ) والا دی۔ او ددے هر یو بیل بیل حکم ئے ذکر کړیدے او دا د هغه زمانے منافقان وو لیکن زمونږ د زمانے سره هم ډیر ښه لګیږی چه تفصیل ئے راروان دے۔

شان نزول

ددے آیت په شان نزول کی تقریباً دولس اسباب خودلے شویدی چه هغه واحدیؒ په اسباب النزول کی او سیوطیؒ په الدر المنثور او ابن الجوزیؒ په زاد المسیر کی او ابن عاشورؒ په التحریر والتنویر کی او ابن عادلؒ په اللباب کی ذکر کړیدی، بعض قریب قریب ذکر کوو :

(۱) بخاریؒ، مسلمؒ، احمدؒ او ترمذیؒ د زید بن ثابت ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ کله د اُحد غزا دپاره ووتلو نو څه کسان چه د هغه سره وتلی وو، د لارے نه راواپس شول۔ د هغوی په باره کی د صحابه کرامؓ دوه رائے شوے، ځینو خلقو اُووئیل چه مونږ له ددے کسانو قتلول پکار دی، (دا کافر دی د کافرو ملګری دی، ځکه چه رسول الله ﷺ ئے په عین موقعه کی کافرانو ته پریخودو) او ځینو اُووئیل چه نهٔ، بلکه دوی مسلمانان دی۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو او د هغه منافقانو نفاق ئے ښکاره کړو، او رسول الله ﷺ هم دا اُوفرمایل چه ((دا طیبه ښار دے، زنګ او ګندګی داسے جدا کوی لکه څنګه چه د لوهار بټئ د اُوسپنے زنګ جدا کوی))۔ (بخاری : ۱۸۸۳) واللفظ لاحمد)

نو الله پدے آیت کی د دوی منافقت راښکاره کړو چه تاسو د دوی دے ګمراهئ ته نهٔ ګورئ (وَاللّٰهُ اَرۡكَسَهُمۡ بِمَا كَسَبُوۡا) چه دوی ستاسو کافر کول غواړی او د خوږ نبی ملګرتیا پریدی، او د کافرانو عمل اختیاروی نو آیا دا به منافق نهٔ وی۔

۲ - قول : كَانَ بَعۡضُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ يُدَافِعُ عَنۡ بَعۡضِ الۡمُنَافِقِيۡنَ لِعَدَمِ عِلۡمِهِمۡ بِهِمۡ)

بعض مؤمنانو به د بعض منافقانو نه دفاع کوله ځکه چه د هغوی په منافقت باندے خبر نهٔ وو (ځکه چه هغوی به په ظاهره کی کلمه هم وئیله او مونځونو ته به حاضریدل، لکه په معاشره کی دغسے ډیر منافقان شته چه ډیرے لوی لوی دعوے د بزرګئ، دعوت الی الله او ایمان هم کوی، لیکن ډیرو خلکو ته د هغوی منافقت نهٔ معلومیږی) نو الله دا آیت نازل

کړو چه ددے خلکو بد عمل ته وګوری، نو دفاع ترے مهٔ کوئ، نو څوك چه د منافقانو صفات بیانوی او د هغوی نه دفاع کوی، نو پدے کی په هغوی باندے رد شویدے۔ د ګنده خلکو صفت بیانولو سره الله تعالیٰ ناراضه کیږی۔

لکه زمونږ بعض اسلامی جماعتونه د طواغیتو په باره کی ډیر ښه ګمان لری او دفاع ترے کوی چه دے سره ایمان ته ډیر نقصان رسیږی، دوی چه کله د هغوی په انکار باندے قادر نهٔ وی نو بهتر دا ده چه د هغوی د دفاع نه غلی کینی۔

۳- قول: د آیت د الفاظو سره زیات موافق دا دے چه دا آیت د هغه کسانو په باره کی نازل شویدے (رِجَالٌ أَسْلَمُوا بِمَكَّةَ ظَاهِرًا) په مکه کی ځینو خلکو ظاهراً ځانونه مسلمانان ښکاره کړی وو حال دا چه د زړه نه کافر وو او د مشرکانو په مینځ کی وسیدل، د دوی د منافقت نه مقصد دا وو چه که مونږ چرته سفر ته لاړ شو، د مسلمانانو د حملو نه به په امن کی یو۔ نو کله چه د دوی په سفرتګ باندے صحابه کرامؓ خبر شو نو ځینو وویل چه دوی وژنو، او ځینو وویل چه نهٔ ئے وژنو ځکه چه دوی مسلمانان دی، زمونږ په شان کلمه وائی او نبی کریم ﷺ هم غلے ناست وو، نو پدے کی دا آیتونه نازل شو۔ (تفسیر الطبری والمنار)

او ځینی روایاتو کی دی چه دوی مؤمنانو ته خبر راولیږو چه مؤنږ ستاسو په شان اسلام راوړیدے، لیکن په پټه به ئے د مشرکانو مدد کولو، نو دوی د مکے نه د تجارت دپاره ووتل، صحابه کرامؓ پرے خبر شو، نو ځینو ملګرو وویل چه دے خبیثانو پسے ووځو او وژنو ئے ځکه چه دوی ستاسو په خلاف د دشمنانو سره مدد کوی،

او بلے ډلے د مؤمنانو وویل چه سبحان الله! تاسو هغه خلك وژنئ چه هغوی ستاسو په شان کلمه وائی صرف پدے وجه چه هجرت ئے نهٔ دے کړے، او کورونه ئے نهٔ دی پریښی، نو آیا پدے باندے تاسو د هغوی وینه او مالونه حلال ګنړئ (یعنی دوی صرف ګناهګار دی) او رسول الله ﷺ به یوه ډله هم نهٔ منع کوله نو دا آیتونه نازل شو۔ (تفسیر الطبری ۷/۲۸۱ طبع دار هجر وتفسیر المنار)۔

نو پدے آیتونو کی وویل شو چه دا اعتقادی منافقان دی، او په حکم د کافرانو کی دی نو مفسرین دلته د (أَرْكَسَهُمْ) معنیٰ کوی: أَیْ رَدَّهُمْ إِلَی حُكْمِ الْكُفَّارِ (ابن القیمؒ والقاسمیؒ)

الله دوی په حکم د کفارو کی ګرځولی دی چه د دوی سره قتال او د دوی نه غنیمتونه اخستل هم جائز دی، اګرکه کلمے والا وی ځکه چه ناقص الایمان پکی موجود دے چه هغه کفر اختیارولی دی، او د کافرانو ملګرتیا کوی او د کفر غلبه غواړی۔

صاحب المنار د خپل استاذ نه نقل کوی وائی چه دلته د منافقانو نه مراد یوه ډله د مشرکانو ده چه کارئے د منافقانو په شان کړے وو چه مسلمانانو ته ئے خپله مینه او دوستانه ښکاره کړے وه او په مینځ کی دروغجن وو، د کافرانو ملګری وو، او دوی به د مسلمانانو سره په دوستانه ښکاره کولو کی د احتیاط نه کار اخستو، کله چه به ئے د هغوی قوت ولیدو، مګر کله چه به دوی ته د مسلمانانو ضعف ښکاره شو، نو بیرته به ترے واوړیدل او دوی سره به ئے دشمنی راښکاره کړه، نو مؤمنان د دوی په باره کی دوه ډلو ته تقسیم شو، یوے ډلے وویل چه دا زمونږ دوستان دی، او د ښکاره مشرکانو په مقابله کی به د دوی نه مدد اخلو،

او ځینو وویل چه د دوی سره به د ښکاره دشمنانو په شان معامله کولے شی. نو الله د دوی پدے اختلاف رد وکړو چه تاسو څنګه د دوی په باره کی تقسیمیږئ حال دا چه الله دوی د هغه حق نه اړولی دی کوم باندے چه تاسو روان یئ په سبب د کارو د شرك او د ګناهونو، او دوی تاسو ته د دشمنانو په نظر ګوری او ستاسو د مصیبتونو په انتظار کی دی، آه.

٤- ددے آیت د نازلیدو د سبب په باره کی په مسند احمد کی د عبد الرحمن بن عوف ﷺ نه هم یو روایت نقل شویدے چه څه عرب خلك د رسول الله ﷺ خوا ته مدینے ته راغلل، او مسلمانان شول، لیکن هغوی د مدینے منورے په مشهور بخار کی اخته شول، نو د اسلام نه واوړیدل او د هغه ځای نه اُووتل. په لاره کی څه صحابه کرامؓ د هغوی نه پوښتنه اُوکړه چه تاسو ولے واپس کیږئ؟ نو هغوی اُووئیل چه د مدینے د بیمارئ نه مونږ تنګ راغلو، صحابهٔ اُووئیل: آیا رسول الله ﷺ ستاسو دپاره غوره نمونه نهٔ وه؟

بیا د هغوی په باره کی د صحابه کرامؓ اختلاف شو، ځینو اُووئیل چه دا منافقان شول، چا اُووئیل چه نهٔ. نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو. (مسند احمد وقال شعیب الارناووط: اسناده ضعیف) لیکن ممکن ده چه د مدینے منافقانو او د عربو نورو منافقانو د ټولو حالاتو په باره کی د صحابه کرامؓ اختلاف واقع شوے وی او دا اختلاف سختئ ته رسیدلے وی نو دا آیت نازل شوے وی. (القاسمی، تیسیر الرحمن)

علامه قاسمیؒ وائی چه که د آیت په الفاظو کی ژور او رشتینی نظر واچوے نو دا سبب د نزول ډیر قریب ښکاره کیږی لکه دا خبره فاضل مهایمیؒ په خپل تفسیر کی غوره کړیده. اګرکه دا به د زید بن ثابت روایت ته هم شاملیږی لیکن اصل سبب د نزول ئے نهٔ دے. ځکه چه دلته (حتی یُهَاجِرُوا) الفاظ ورسره پوره سمون نهٔ خوری. او روستو (فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ

حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ) نـه هم معلومیږي چه دا بهرنی منافقان مراد دی ولے چه د مدینے منافقان خو د صحابه کرامؓ سره شپه او ورځ ملاویدل، فتدبر۔

فِي الْمُنَافِقِيْنَ فِئَتَيْنِ : اَیْ صِرْتُمْ فِیْ بَابِ الْمُنَافِقِیْنَ فِئَتَیْنِ ۔ یعنی تاسو د منافقانو په باره کی دوه ډلے وګرځیدلئ۔ یعنی دوه ډلے مهٔ جوړیږئ بلکه ټول ورته منافقان ووایئ۔

وَاللّٰهُ أَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا : یعنی الله دوی لره د دوی ددے بد عمل په وجه ذلیله کړیدی۔ نو عمل ته ئے وګورئ چه څرنګ دے، په دے سره به د دوی کفر او ایمان ښکاره کیږی، اُوس چه کوم اختلاف د مسلمانانو د طواغیت په باره کی دے، دغه مسئله هم په دے آیت حل کیږی، راځئ چه عملونو او کردار ته ئے وګورو او په قرآن او سنت ئے وتلو چه آیا دوی مسلمانان دی او که کافر؟ نو هر عقل والا چه خواهش پرست، تنظیم پرست نهٔ وی د دوی په حال پو هیږی چه ایمانی غیرت ورسره وی۔

قتادةؒ وائی : أَهْلَكَهُمْ۔ الله دوی لره هلاك کړیدی۔ یعنی د دوی بد اعمالو ته کتل پکار دی او سره د بد عمل نه دوی ته ښه وئیل نهٔ دی پکار، اسلامی غیرت پکار دے البته کومو خلکو چه دوی ته ښه وئیلی دی نو دوی پدے خبره ګناهګار نهٔ دی لیکن په خطاء کی ضرور واقع دی۔

أَرْكَسَهُمْ : د رَکْسٌ نه دے په زور د راء سره د باب نصر نه رَدُّ الشَّیْءِ مَقْلُوْبًا ته وائی یعنی یو شے الټه راواپس کول۔ او رِكْسٌ په زیر د راء سره ګندګئ ته وائی۔ پدے وجه رَکس او اِرْکاس د اړولو او واپس کولو بد ترین قسم دے هغه دا چه یو شے سرخکته راواپس کړے شی یا یو شے د یو حالت نه بل ډیر ردی حالت ته راواپس کړے شی لکه طعام او ګیاه نه ګندګی او خوشیان جوړ کړے شی، دلته ترے مراد غدر (دهوکے)، قتال او شرك ته واپس کول دی۔

او دلته په معنوی واپس کولو کی استعمال شویدے چه هغه د مسلمانانو نه اړول او د مشرکانو نه شمیرل دی۔ ګویا که دا خلك سرکوزی شویدی او سرخکته کونه پورته روان دی او دا حالت ډیر بد تر او ناکاره منظر دے نو د چا چه دا حالت وی نو پکار ده چه د مؤمنانو نه هیڅ یو تن هم دا امید ونهٔ ساتی چه دوی به د حق ملګرتیا وکړی او مؤمنان به خپل مینځ کی د دوی په حالت کی اختلاف وکړی آه۔ (المنار۵/۲۶۲)

أَنْ تَهْدُوْا : أَیْ أَنْ تُسَمُّوْهُمْ مُهْتَدِیْنَ۔ (ابن الانباریؒ) یعنی چه تاسو ورته د مهتدینو (هدایت والا) نوم ورکړئ۔ اودا ډیره بده خبره ده چه الله تعالیٰ یو تن ته کافر وائی او یو بنده ورته مسلمان وائی، او دا هم بده ده چه الله یو تن ته مسلمان وائی او یو بنده ورته کافر وائی، نو

دے دواړو خبرو کې به د ډير زيات احتياط نه کار اخستلے شي۔ نو فيصله به په ظاهر کولے شي چه کله ظاهره کې د کافرانو ملګرے وو، او د کفر کارئے کولو که زړه کې هر څنګه وي نو کافر به ګڼړلے شي۔ او ددے دپاره په اسلام کې اصول او ضوابط موجود دي نو هرچا ته د فتوے لګولو اختيار نشته۔

فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ سَبِيۡلًا : يعنى چا لره چه الله تعالىٰ د خپل دين نه واړوي نو د هغه دپاره به هيڅ لاره د هدايت مونده نکړے۔

وَدُّوۡا لَوۡ تَكۡفُرُوۡنَ كَمَا كَفَرُوۡا
خوښوي دوي ارمان چه کافران شئ تاسو لکه څنګه چه کفر کړيدے دوي
فَتَكُوۡنُوۡنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوۡا مِنۡهُمۡ اَوۡلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوۡا
پس شئ تاسو (او دوي) برابر نو مهٔ نيسئ تاسو د دوي نه دوستان تردے چه هجرت اُوکړي
فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَخُذُوۡهُمۡ وَاقۡتُلُوۡهُمۡ حَيۡثُ
په لاره د الله کې، پس که دوي واوړيدل نو اُونيسئ دوي لره او قتل کړئ دوي هر ځاى کې
وَجَدۡتُّمُوۡهُمۡ وَلَا تَتَّخِذُوۡا مِنۡهُمۡ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيۡرًا ﴿۸۹﴾
چه مونده کړل تاسو دوي لره او مهٔ نيسئ د دوي نه دوست او نهٔ مددګار۔

تفسير : پدے کې بل سبب د کفر د دوي ذکر دے چه دا کسان خو خپله کفار دي نو دا غواړي چه تاسو هم د دوي په شان کافران شئ، او په کفر او ګمراهئ کې د هغوي برابر شئ، پدے وجه تاسو هغوي په دوستانه مهٔ نيسئ، تردے چه هغوي د الله په لاره کې د دار الکفر نه هجرت اُوکړي۔ او تاسو ته د هغوي د ايمان يقين اُوشي۔ او که هغوي د هجرت کولو نه انکار اُوکړي، نو اګرکه هغوي اسلام ښکاره کړي، د هغوي سره د کافرانو په شان سلوك کوئ، ځکه دار الکفر ته د تللو نه روستو د هغوي کفر راښکاره شو، پدے وجه دوي اُونيسئ او په حِل او حَرَم هر ځاى کې چه مو مونده کړل نو قتل ئے کړئ، او دوي خپل دوستان او مددګاران مهٔ نيسئ۔ (قاسميؒ)

فائده : دا آيت دليل دے چه کوم انسان د بل چا کفر خوښوي چه هغه کفر وکړي نو دا هم مسلمان نشي کيدے۔

فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ أَوْلِيَآءَ : يعنی د دوی نه په مدد او نصرت کی دوستان مهٔ نیسئ دیے دپاره چه تاسو ورسره کفر ته ونهٔ رسیږئ، اګرکه دوی تاسو ته ایمان ښکاره کړیدیے دیے دپاره چه ستاسو دوستانه طلب کړی۔

فَإِنْ تَوَلَّوْا : اَیْ عَنِ الْهِجْرَةِ۔ یعنی که د هجرت نه واوړیدل۔

فائده : دلته دا خبره معلومه شوه چه د داسیے شخص په باره کی به دوه شرطونو ته ګوریے، یو نهٔ هجرت او بل په کارونو د کفر کی نهٔ شریکیدل نو هله به منافق ګنړلے شی۔که یو داسیے مسلمان وی چه هغه هجرت نهٔ کوی او د کافرانو ملګرتیا هم نهٔ کوی نو دا به ګناهګار وی او منافق به ورته نشی وئیلے۔

إِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ إِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ
مګر (مهٔ وژنئ) هغه کسان چه یوځای شی دوی د یو قوم سره چه په مینځ ستاسو
وَبَيْنَهُمْ مِيْثَاقٌ أَوْ جَآؤُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ أَنْ
او په مینځ د هغوی کی وعده وی او یا راشی دوی تاسو ته چه تنګے وی سینے د دوی ددینه
يُّقَاتِلُوْكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ
چه جنګ اُوکړی تاسو سره یا جنګ اُوکړی د خپل قوم سره او که د الله اراده شویے ویے
لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوْكُمْ فَإِنِ
خامخا به ئے مسلط کړی وی په تاسو نو خامخا جنګ به ئے کړیے ویے تاسو سره نو که
اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ
دوی جدا شو ستاسو نه پس جنګ ئے اُونکړو تاسو سره او ګوزارئے کړو تاسو ته صلحه
فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾
نو نهٔ دیے مقرر کړیے الله تعالیٰ ستاسو دپاره په هغوی باندیے هیڅ لاره (د قتال)۔

تفسیر : د منافقانو په باره کی چه کوم حکم مخکښی بیان شو نو د هغے نه الله تعالیٰ دوه قسمه خلك پدیے آیت کی مستثنیٰ کړیدی او وئیلی ئے دی چه دوی مهٔ قید کوئ او نهٔ د دوی سره قتال کوئ۔

۞ یو خو هغه منافقان چه د یو داسې قوم خوا ته پناه واخلي چه د هغوی سره د مسلمانانو د صلح او امن معاهده وي، نو دوی به د هغوی په حکم کې وي، ځکه په اسلام کې د وعدې دومره پابندي راغلې ده چه د یو کافر سره وعده وي نو د هغوی ملګرې به هم نۀ وژنې.

۞ او دویم هغه خلك دي چه د خپل صلح طلب کولو د وجه نه نۀ د مسلمانانو سره جنګ کول غواړي او نۀ د مسلمانانو سره په یو ځای کیدو د خپل قوم سره جنګ کول غواړي، بلکه د جنګونو نه تنګ راغلي وي او غلي ناست وي، او په خپل کفر باندې روان وي، نو د داسې خلکو سره هم جنګ نشته ځکه چه په اسلام کې نفس کافر سره جنګ نۀ کیږي بلکه خاص کافرانو سره به قتال کولې شي چه هغه تا ته لاره نیسي او تا سره جنګونه کوي او دین ته دِې نۀ پریدي او جزیه نۀ مني. او دا کافران جزیه هم مني نو د دوی سره به جنګ نۀ کیږي.

شان نزول

ابن ابی حاتمؒ او حافظ ابن مردویهؒ د حسن بصریؒ نه موقوفاً روایت کړیدې چه د بدر او د اُحد د غزواتو نه روستو سُراقه بن مالك مُدْلَجی رسول الله ﷺ خوا ته راغلو، او وې وئیل چه ماته معلومه شویده چه ته خالد بن ولید زما په قوم (بنی مدلج) باندې د حملې کولو دپاره لیږل غواړې. زما رائې ده چه ته د هغوی سره صلح اُوکړې، او کله چه ستا قوم اسلام راوړي نو هغوی به هم اسلام راوړي. او که هغوی اسلام نۀ راوړي نو مناسب نۀ ده چه ته خپل قوم په هغوی باندې غالب کړې. رسول الله ﷺ د هغه خبره واوریده او د خالد بن ولیدؓ لاس ئې ونیولو او وې وئیل چه ددۀ سره لاړ شه او څنګه چه دا غواړي هغه شان اُوکړه. نو خالد ؓ د هغه سره په دې شرط باندې صلح اُوکړه چه هغوی به د رسول الله ﷺ په خلاف د دوی د دشمنانو سره مدد نۀ کوي. او کله چه قریش اسلام راوړي نو هغوی به هم اسلام راوړي، نو الله تعالیٰ ﴿ اِلَّا الَّذِیۡنَ یَصِلُوۡنَ اِلٰی قَوۡمٍ ﴾ الآیة نازل کړو.

وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ : پدې کې الله تعالیٰ خپل امتنان او احسان بیانوي په مؤمنانو باندې چه وګوره چه الله تعالیٰ دا کافران تقسیم کړل او ټول ئې داړه مار ونۀ ګرځول، بلکه څه ئې نرم کړل او څه سخت، ولې که دا ټول په یو ځل سخت شوي وې، او ټول په یو ځل په مسلمانانو راتاو شوي وې او جنګ ئې ورسره شروع کړې وِې نو د مسلمان نام ونشان به پاتې نۀ وې، که

تهول ملکونه د کافرانو مسلمان ته یو شوی وي، نو یو مجاهد ته به هیچرته د پناهئ ځای نهٔ ملاویدلے، نو ځینی کافران او منافقان الله تعالیٰ نرم کړل هغوی مسلمانانو ته پناهی ورکړی او په هغوی کی به د دوی فائدے هم وی مگر مسلمان ته پکی آزادی ملاو وی، نو الله فرمائی کــه دوی تاسو سره جنگ نهٔ کوی او د صلح لاس در اُوږد کړی نو دوی سره جنګونه مهٔ کوئ او مهٔ ئے قید ته اچوئ ځکه چه اسلام ته د دوی نه نقصان نشته، او د هغوی سره قتال کول د هغوی قوت رابنکاره کول دی۔

سَبِيْلًا : أَيْ سَبِيْلَ الْقِتَالِ وَأَخْذِ الْأَمْوَالِ۔ یعنی د داسے کافرانو سره به قتال هم نشی کولے او نهٔ به ترے مالونه اخستلے شی۔

سَتَجِدُوْنَ آخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ أَنْ يَّأْمَنُوْكُمْ
زردے چه موندهٔ به کړئ تاسو نور کسان چه اراده به لری چه ځان په امن کی کړی ستاسو نه
وَيَأْمَنُوْا قَوْمَهُمْ كُلَّ مَا رُدُّوْا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوْا
یا په امن کړی ځانونه د خپل قوم نه هرکله چه دوی واپس کړے شی فتنے (شرك) ته دوی ذلیله شی
فِيْهَا فَإِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْا
په هغے کی نو که جدا نهٔ شو دوی ستاسو نه او کوزارئے نهٔ کړه تاسو ته صلحه او بندئے نکړل
أَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ
لاسونه خپل نو اُونیسئ دوی لره او قتل کړئ دوی لره کوم ځای چه موندهٔ کړل تاسو دوی لره
وَأُولَٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِيْنًا ﴿٩١﴾
او همدا کسان مونږ. گرځولے تاسو لره په دوی باندے دلیل ښکاره۔

تفسیر : پدے آیتِ کریمه کی د یو دریم قسم خلقو حال بیان شویدے چه ډیر بدترین قسم منافقان وو او د هغوی نیت د مخکی ذکر شوی منافقانو او کافرانو نه جدا وو، او د دوی کار صرف د خپل ځان ساتل وو۔

دے خلکو به د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو په مخکی اسلام ښکاره کولو، دے دپاره چه د مسلمانانو د طرف نه د هغوی ځانونه، مالونه او د هغوی اولاد محفوظ پاتے شی، او په پټه به ئے د کافرانو سره دوستی ساتله او د هغوی د بتانو عبادت به ئے کولو، دے دپاره

چه د هغوی مخالفت کی واقع نهٔ شي۔ دا خلك د تِهَامه (مکے) نه بعض بني عبد الدار او څه د غطفان او بنو اسد قبیلو نه وو چه د مدینے په خواوشا کی وسیدل۔
دوی نـه چـه بـه کـلـه خپـل قـوم تپوس وکړو چه تاسو خو ایمان راوړیدے ؟ نو دوی به مسخرے کولے او دا به ئے وئیل :آمَنَّا بِالْعَقَارِبِ وَالْخَنْفَسَاءِ وَالْقِرَدَةِ)
مونږ په لړمانو او گونګټانو او شادوګانو ایمان راوړیدے، او کله چه به د صحابه کرامؓ سره ملاؤ شو ورته به ئے وئیل چه مونږ ستاسو په دین یو۔
(تفسیر مقاتل بن سلیمان والقاسمي والقرطبي والبغوي والمنار والتحریر والتنویر)۔
بلـه دا چه کـلـه بـه د مسلمـانـانو او د کافرانو جنګ شروع شو نو دوی به د کافرانو سره ملګری کیدل، او هغوی ته به ئے وسله هم ورکوله۔ نو الله د دوی په باره کی فیصله صادره کړه چه دا یقیني کافر دی او د جنګ لائق دی۔
ددے او د دویم قسم خلکو فرق دا دے چه دویم قسم خلك د مؤمنانو سره قتال نهٔ کوی د وجه د احترام د مؤمنانو نه، او پدے وجه چه د قتال نه ستړی شویدی، او دا قسم منافقان په خپلو ځانونو یریږی پدے وجه قتال نکوی او که موقعه ورته ملاؤ شی نو بیا د کافرانو ملګرتیا کوی او د مؤمنانو مقابلے ته راوځی۔ (السعديؒ)
ابن جریرؒ د مجاهدؒ نه روایت کړیدے چه دا آیت د مکے والو نه د هغه خلکو په باره کی نازل شوے وو چه دُوغله (دوه مخیزه) پالیسی به ئے چلوله۔ رسول الله ﷺ ته به راغلل نو د ریاء دپاره به ئے اسلام قبول کړو، بیا چه به قریشو ته واپس شو نو هلته به بیرته د بتانو په عبادتونو کی ننوتل او پدے پالیسئ کی د دوی مقصد دا وو چه ژوند تیر کړی او د هیچا د طرفـنـه ورته څه تکلیف پیخ نشي نو الله د دوی په قتل او قید کولو باندے حکم وکړو کله چه دوی ددے کار نه لاس وانخلی یا صلح ونکړی۔ (محاسن التاويل للقاسمي ٤١٩/٢)
امام رازيؒ لیکلی دی : د ډیرو په نیز دا آیت دلیل دے چه کوم کافران د مسلمانانو سره جنګ نکوی او د صلح خواهش ښکاره کوی او مسلمانانو ته ضرر نهٔ رسوی نو د هغوی سره قتال کول جائز نهٔ دی۔ (قاسمي)
سَتَجِدُوْنَ : دا د وِجْدَان نه دے په معنیٰ د اطلاع موندل، خبریدل او پیژندلو سره دے او یو مفعول ته متعدی دے۔ (ابن عاشور)
كُلَّمَا رُدُّوْا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوْا فِيْهَا : یعني هرکله چه شرك ته یا د مسلمانانو قتال کولو ته واپس شي او دعوت کړے شي۔

ارکسوا : یعنی واړولے شی شرك ته او یا د مؤمنانو د عهد نه واوړی۔

فَإِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ : یعنی که ستاسو د قتال نه په ډډه نشی او تاسو سره صلح نکوی او ستاسو د هر قسم ضرر او تکلیف رسولو کوشش کوی۔

وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ : دا د (لَمْ) د لاندے دے اَیْ لَمْ يُلْقُوا۔

وَيَكُفُّوا : دا هم د (لَمْ) د لاندے دے۔ اَیْ لَمْ يَكُفُّوا۔

وَاقْتُلُوهُمْ : دلته دا خبره پیژندل پکار دی چه هر حکم شرعی مشروط بالقدرة والاستطاعة وی یعنی کله به یو حکم راشی چه قتل ئے کړئ، او د قتل لائق دے او واجب القتل دے لیکن ستا به قدرت نهٔ وی نو تا باندے ددے حکم ذمه واریٔ نشته، او دا خبره تفصیل غواړی۔

د ثقف معنیٰ

ثَقِفْتُمُوهُمْ : د ثَقْفٌ نه اخستے شویدے او ثقف د یو شی موندلو ته وائی، خو چه موندل ئے لرِ باریکیٔ او هوښیارتیا ته ضرورت لری۔ (مفردات راغب: ٧٦) او دا لفظ ئے ځکه استعمال کړو چه د منافقانو چلونه ډیر زده وی او د لاس بر کیدل پرے باریکی او هوښیارتیا غواړی، او دا قسم منافقان هم ډیر چالاك وو پدے وجه ئے دلته د تاکید لفظ استعمال کړو او مخکی ئے صرف (وَجَدتُّمُوهُمْ) وئیلے وو ځکه چه هغه ښکاره کافران وو۔

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ
او نهٔ دی جائز مؤمن لره چه قتل کړی یو مؤمن مګر په خطا سره او هر هغه چا چه قتل کړو
مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ
مؤمن لره په خطا سره نو په دهٔ باندے لازم دی آزادول د مریی مؤمن، او دیت دے چه اُوسپارلے شی
إِلٰى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَّصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ
وارثانو د مقتول ته مګر که هغوی معاف کړو، پس که وو دا د یو داسے قوم نه چه دشمنان وو
لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ
ستاسو او هغه مؤمن وی نو لازم دی آزادول د مریی مؤمن او که دا وو د داسے قوم نه

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ
چه په مینځ ستاسو او په مینځ د هغوی کې لوظ وی نو لازم دے دیت چه وسپارلے شی
إِلٰى أَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ
د هغه وارثانو ته او آزادول د مریی مؤمن دی پس که څوك نهٔ مونده کوی (دا) نو (نیول د) روژو دی
شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللهِ وَكَانَ اللهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٩٢﴾
دوه میاشتے پرله پسے، دا آسانی ده د طرفه د الله نه او دے الله پو هه حکمتونو والا۔

تفسیر: مضمون:

د رعیت د احکامو نه بل حکم دا دے [اَلنَّهْيُ عَنْ قَتْلِ الْمُؤْمِنِ وَحُكْمُ قَتْلِ الْخَطَأِ] چه مؤمن بـه په قصد سره نهٔ وژنی مگر که په خطاء سره وشو نو د هغے حکم بیانوی بیا په (۹۳) کی وائی چه چا مؤمن په قصد سره قتل کړو نو د آخرت ډیره لویه سزا به ورته ورسیږی۔

بیا پـه (۹٤) کـی وائی چه ایمان والا به د قتل په باب کی انتهائی احتیاط او تفتیش او تالاش کوی چه آیا دا شخص مسلمان دے او که کافر؟ او په قتل کی به جلتی نکوی۔

بیا د وهم د دفع د وجه نه ئے په (۹٦) آیت کی ترغیب جهاد ته ورکړیدے او د مجاهدینو فضائل ئے بیان کړیدی او مجاهدین ئے تقسیم کړیدی یو هغه دی چه یو ے درجے والا دی او بل ډیرو درجو والا۔ بیا پـه یـوه رکـوع کی بیان د هجرت دے تر (۱۰۰) آیت پورے چه اسلامی حکومت دِے د مهاجرینو دپاره د استوګنے انتظام وکړی۔

ربط:

مخکی ئے وویل چه ښکاره کفار او منافقان ووژنئ نو ددے دپاره چه څوك ددے حکم نه بده فائده وانخلی او یو ایماندار شخص د کافر یا د منافق په نوم ونهٔ وژنی نو ددے د وجه نه د مؤمن د قتل د حکم لوی والے بیانوی۔

پدے آیت کی د قتل خطاء حکم بیانوی۔

نـو د ټـولـو نه اول خو الله تعالیٰ دا بیان کړل چه د مسلمان دپاره په هیڅ شان دا مناسب او جائز نهٔ دی چه هغه خپل مسلمان ورور قتل کړی، آؤ که په خطائی سره بغیر د قصد نه قتل کړے شی نو هغه بیله خبره ده، او دا قتل خطاء په دوه قسمه دے، یو خطاء فی الفعل

ده لکه یو تن یو کافر ولی یا ښکار ولی او په خطائی سره تربے یو مسلمان اُولګی، دویم خطاء فی القصد ده یعنی په یو تن باندے د کافر ګمان اُوکړی او مړ ئے کړی، او مینځ کی هغه مسلمان اُوخیژی، یعنی اراده ئے د همدغه سړی د وژلو کړیده لیکن په ګمان کی خطاء شو۔

شان نزول

ددے آیت د شان نزول په باره کی د رسول الله ﷺ په زمانه کی ګنړ واقعات راپیښ شوی وو چه په هغے کی په خطاء سره ځینی مؤمنان وژل شوی وو:

(۱) ابن جریرؒ، ابن ابی حاتمؒ او ابن المنذرؒ وغیرهم د مجاهدؒ نه روایت کړیدے چه دا آیت د عیاش بن ابی ربیعه ﷺ په باره کی نازل شویدے، چه هغه حارث بن یزید کافر اُوګنړلو او په مدینه کی ئے قتل کړے وو۔ حارث او ابوجهل به په مکه کی عیاش ته سزا ورکوله۔ روستو حارث مسلمان شو او مدینے ته راغلو۔ عیاش چه هغه په مدینه کی اُولیدو نو ګمان ئے اُوکړو چه لا تر اُوسه کافر دے، نو هغه ئے په خپله توره سره قتل کړو، کله چه هغه ته د هغه د اسلام پته اُولګیده نو د رسول الله ﷺ نه ئے پوښتنه اُوکړه، نو پدے باندے دا آیت نازل شو چه پدے کی د قتلِ خطاء حکم بیان شو۔

(۲) د اُحد په غزا کی د حذیفه بن الیمان ﷺ پلار (الیمان ﷺ) د جنګ په میدان کی د مسلمانانو دلاسه شهید شو پدے ګمان چه دا کافر دے، صحابه کرامؓ ته حذیفه ﷺ ډیرے نارے وکړے چه دا زما پلار دے خو د جنګ د سخت والی د وجه نه هیچا د هغه خبره وانۀ وریده (صحیح البخاری)

د قتل خطاء احکام

که یو شخص په خطائی سره مسلمان قتل کړی او د مقتول ورثه دیت معاف کوی نو دیت ساقطیږی، لیکن د الله حق یعنی یو مسلمان غلام یا وینځه آزادول به واجب وی، دے دپاره چه د هغه د هر اندام په بدله کی د قاتل هر اندام د جهنم د اُور نه آزاد شی، کما فی حدیث الصحیحین وغیرهما)

که د مقتول وارثان معافی نۀ کوی نو دیت ورکول به واجب وی، چه د هغے مقدار د عمرو بن حزمؓ او د جابرؓ نه په روایت شوی صحیح احادیثو کی سل اُوښان، یا دوه سوه غواګانے، یا دوه زره چیلئ، یا زر دیناره یا دولس زره درهم دی، چه هغه به د قاتل د پلار د طرف نه چه

كوم خپلوان دي هغوی به ئے ادا کوی۔ (چه لږ لږ به پرے مقرر کړے شی او ټول چه راغونډ شي نو ديت به پرے ادا شي) او ټول به د قاتل د مال نه نۀ ادا کيږي ځکه چه د قتل خطاء د بار بار راتللو نه امن نشته نو بيا به پدے طريقه سره د قاتل ټول مال ختم کړي، او که همداسے پريخودے شي نو د مقتول وينه ضائع کيږي۔ (نيل الاوطار باب العاقلة ١٤٠/٧)

(رواه النسائی فی کتاب القسامة و ابوداود فی الديات رقم (٤٥٤٤) والموطأ فی کتاب العقول، و ابن خزيمة و ابن حبان و الحاكم وغيرهم بسند صحيح)

او که مقتول د يو داسے قوم فرد وی چه هغوی د مسلمانانو دشمنان وی ليکن هغه خپله مسلمان وو نو يو مسلمان غلام يا وينځه آزادول به وی او ديت به ساقطيږی ځکه چه ددۀ د قوم خلق کافران او د مسلمانانو دشمنان دی، ځکه چه ددۀ او ددۀ د خپلوانو په مابين کی وراثت نۀ ثابتيږی، لهذا حربی کافران د مال ورکولو لائق نۀ دی۔

او که مقتول د يو داسے قوم فرد وی چه د هغوی د مسلمانانو سره معاهده وی او دا مقتول مسلمان وی او قوم ئے کافران وی نو د مقتول وارثانو ته به ديت ورکول وی، او يو مسلمان غلام يا وينځه به هم آزادول وی۔ او که غلام يا وينځه نۀ ملاويدل چه هغه آزاد کړی نو د توبې په توګه به مسلسل دوه مياشتو پورے روژے نيول وی۔

او رسول الله ﷺ د بنی عامر قبيلو د دوه کافرانو ديت ورکړے وو کله چه هغه سيدنا عمرو بن اُمَيه الضَمری ﷺ قتل کړی وو ځکه چه د هغوی د رسول الله ﷺ سره معاهده وه او عمرو بن اميه الضمری ﷺ د هغے نه خبر نۀ وو۔ (ترمذی کتاب الديات باب رقم ١٢ وفی اسناده ابوسعد البقال ضعيف)

دلته ئے ديت مخکی راوړو پدے وجه چه چرته قاتل دا ګمان ونکړی چه ددے مقتول قوم خو کافران دی، دوی ته ولے ديت ورکړم؟ نو الله وفرمايل چه ديت به ورکوی ځکه چه په اسلام کی د وعدے ډيره سخته پابندی راغلے ده۔

فائده : دا حکم د هغه چا هم دے چه په خپل بچی يا پردی بچی باندے په خوب کی ورواوړی او په خطاء سره ئے قتل کړی چه دا هم ګناهګار نۀ دے مګر کفاره او ديت به ورکوی، البته که د ديت مطالبه کونکے نۀ وی نو صرف کفاره به ورکړی ځکه چه د نفس انسانی ډير احترام دے، دے دپاره چه دا وينه همداسے ضائعه لاړه نشی۔ او دے ته په اصطلاح د علماؤ کی قتل شبه خطاء وئيلے شی۔

بعض جاهلان وائی : رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثٍ نه معلوميږی چه ديت او کفاره نشته ليکن

صحيح خبره دا ده چه گنهگار نهٔ دے او ديت او كفاره پرے شته لكه تفصيل ئے په خپل مقام كى ذكر كيږى۔ او دا اجماعى مسئله ده، د سلفو نه په كى اختلاف نشته۔ انظر فتاوى الدين الخالص جلد (۳)۔

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ : دا ماكان نفى ده په معنىٰ د نهى او تحريم سره ده يعنى دا كار مؤمن لره جائز نهٔ دے لكه پدے قول د الله تعالىٰ كى دى : ﴿ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللّٰهِ ﴾ (احزاب:۵۳)

إِلَّا خَطَأً : خطأ منصوب دے مفعول له دے اَىْ لَايَجُوْزُ لَهٗ أَنْ يَّقْتُلَهٗ لِعِلَّةٍ مِنَ الْعِلَلِ اِلَّا لِلْخَطَأِ وَحْدَهٗ (زمخشرى) دا جائز نهٔ دى مؤمن لره چه مؤمن قتل كړى په يو سبب د اسبابو سره مگر په خطاء سره۔ (قاسمىؒ)

يا خطأ : مفعول مطلق دے اَىْ اِلَّا قَتْلًا خَطَأً۔ يعنى نهٔ دى جائز چه مؤمن قتل كړى مگر كه قتل ئے كړى په قتل خطاء سره نو په هغے باندے گناهگار نهٔ دے مگر كفاره به پرے راځى۔

يا دا استثناء منقطع ده۔ اَىْ لٰكِنْ اِنْ وَقَعَ خَطَأً فَحُكْمُهٗ مَا سَيَأْتِىْ۔

ليكن كه هغه قتل په خطاء سره واقع شى نو د هغے حكم روستو راروان دے۔

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ : دلته دا قيد راغلو چه خامخا به مؤمن غلام آزادوى ځكه چه مؤمن ئے وژلے دے، دے دپاره چه د هغه د اندامونو سره برابر شى، لكه مخكى حديث ذكر شو۔

وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلٰى أَهْلِهٖ : دا ديت فى الحال ته هم شامليږى او مؤجل (نيتى والا) ته هم، مگر د امت د علماؤ پدے خبره اتفاق دے چه د قتل خطاء ديت به په عاقله ؤ باندے وى او په نيته كى اختلاف دے (۱) اكثر اهل علمؒ وائى چه دغه نيته به درے كاله وى يعنى په درے كاله كى به دغه ديت پوره كوى۔ او پدے باندے على ﷺ فيصله كړيده او دا قول د عمر فاروق او ابن عباس رضى الله عنهما دے او د دوى مخالف نهٔ دے موجود۔

(۲) ځينى (ربيعة الرأىؒ) وائى چه پنځه كاله دى ليكن خبره ئے ضعيفه ده۔ (قاسمىؒ)

إِلَّا أَنْ يَّصَّدَّقُوْا : يَصَّدَّقُوْا په اصل كى يَتَصَدَّقُوْا دے يعنى كه د مقتول وارثان صدقه وكړى په ديت باندے او قاتل ته ئے معاف كړى نو بيا به ديت ساقط وى، ځكه چه دوى خپل حق معاف كړو۔ او تعبير ئے په صدقه سره وكړو پدے كى ترغيب او تيزى وركول دى په معافى كولو، او ددے په فضيلت باندے تنبيه ده۔

شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ : يعنى كه مياشت د نهه ويشتو حساب كړے شى نو اته پنځوس

روژې بـه ونیسـي او د روژو نیـول تعبّدي حکم دې چه غیر معقول المعنیٰ دې، ځکه چه د قتـل پـه بدلـه کې د روژو نیولو مناسبت په ظاهره کې نهٔ ښکاره کیږي، کیدې شي چه په دې کـې پـه قـاتـل بـاندې یو مشقت راوستل مقصود وي چه آینده کې د روژو په یره سره د قتـل نـه احتیـاط وکړي، یـا دهٔ نـفس وژلې دې نو ده لره خپل نفس وژل پکار دي، او هغه په روژو سـره وژل کیـږي، یـا ددهٔ په نفس کې قوت غضبي او سَبُعي زیات شوې وو نو په روژو سره به ددهٔ دغه نفس کنټرول شي، او آینده کې به احتیاط کوي۔ هره وجه چه وي خو د الله تعالیٰ حکم دې، عمل به پرې کوي۔

تَوْبَةً : دا مـفعول له دې اَیْ شَـرَعَ اللّٰهُ ذٰلِكَ لِلتَّوْبَةِ ۔ یـعـنـي الله دا حکم مشروع کړو دپاره د تـوبـه ویـسـتـلـو۔ او قاسميؒ وائي چه توبه دلته رحمت ته وائي یعني دا د الله رحمت دې چه تـاسـو تـه ئې داسې حکم راولیږلو، ولې که پدې کې ئې په هر صورت قصاص یا خامخا دیت وئیلې وې نو دا به ډیره ګرانه وې۔ او توبه تخفیف او آسانئ ته هم وائي۔

یعني دا د الله د طرفنه ستاسو دپاره آساني ده۔

او خپـلـه لـغـوي مـعنیٰ ئې دا ده چه پدې کار سره به ستاسو رجوع وشي الله طرفته ځکه چه پـه قـتـل سـره بـنـده د الله نه وړاندې کیږي۔ یعني پدې حکم کې د الله د طرفنه ستاسو رجوع ده الله طرفته۔

سوال وجواب

سـوال : هـرکـلـه چه په قتل خطاء کې د آخرت سزا نشته نو پکار ده چه په دنیا کې پرې کفاره هم رانشي، وجه دا ده چه حدیث کې دي : [اِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیَ الْخَطَأَ وَالنِّسْیَانَ وَمَا اسْتُکْرِهُوْا عَلَیْهِ] (ابن ماجه: ۲۰۴۳) الله تـعـالـیٰ زما د امت نه خطاء او هیره او هغه شې چه په هغوي باندې په زوره وکړې شي معاف کړیدي۔

جواب : د آخـرت سـزا پـرې نشته ځکه چه نیت د قتل ئې نهٔ وو او د دنیا سزا پرې شته د ډیـرو وجـو نـه (۱) قاتل بې احتیاطي کړیده، نو دلته د قتل خطاء په صورت کې قاتل د بې احتیـاطـئ پـه وجـه نیـول کیـږي، ولې کـه دهٔ احتیـاط کړې وې نو قتل به ترې نهٔ وې واقع شـوې، مثلًا کـه مـور خپل ماشوم خپل ځان ته نزدې نهٔ وې اچولې نو د اړخ نه به ئې نهٔ وې لانـدې کـړې۔ (۲) د مـؤمن د وینې احترام دې۔ (۳) دریم دا چه دیت او کفاره د باب د خطاب الـوضـع نـه دې نـهٔ د بـاب د سبب نه او قانون دا دې چه احکام وضعیه دا د خپل علت سره

ګرځي راګرځي برابره ده که هغه په قصد سره صادر شوی وي او که بغير د قصد نه انظر الوجيز باب الحكم)

په يو بل حديث کې دي :

[رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثٍ، عَنِ النَّائِمِ حَتّٰى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يَحْتَلِمَ وَعَنِ الْمَجْنُوْنِ حَتّٰى يَعْقِلَ] (ابوداود: ٤٤٠٠) قلم د درې کسانو نه پورته دې د اُوده نه ترديې چه رابيدار شي او د ماشوم نه ترديې چه بالغ شي او د ليوني نه ترديې چه عقلمند شي. او په اتفاق د علماؤ سره د اُوده سړی چه کله احتلام وشي نو هغه به غسل کوي او که ليوني قتل وکړو نو د هغه نه به ديت اخستلې کيږي لکه سيدنا معاويه رضی الله عنه دا فيصله کړيده.

أَنِ اعْقِلُهُ وَلَا تَقُدْ مِنْهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ عَلٰى مَجْنُوْنٍ قَوَدٌ (الموطأ: ١٥٤٩) يعنى ددې شخص نه ديت واخله او قصاص ترې مهٔ اخله ځکه چه په ليوني قصاص نهٔ وي.

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيْهَا وَ
او چا چه قتل کړو مؤمن په قصد سره نو بدله ددهٔ جهنم دې هميشه به وي په هغې کې او
غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَأَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿٩٣﴾
غضب کړې الله په هغه باندې او لعنت ئې کړې په هغه او تيار کړې دې هغه له عذاب لوئې.

تفسير : پدې آيت کې د قتل عَمْد (قصداً) حکم بيان شويدې چه يو شخص يو مسلمان په قصد سره قتل کړي نو د هغه ځای د اُوسيدو به جهنم وي الخ

قتلِ عَمْد دومره لويه ګناه ده چه الله تعالیٰ دا په ګڼرو آيتونو کې د شرك سره يوځای بيان کړيده، لکه چهٔ سورة الفرقان (٦٨) آيت کې دي : ﴿وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ﴾ او دا هغه خلك دي چه د الله سره هيڅوك شريك نهٔ رابلي او هيڅ نفس نهٔ قتلوي چه الله د هغه قتل حرام کړې وي مګر په حق سره).

او په احاديثو کې هم ددې ډير لوی وعيد راغلې دې. لکه چه ترمذیؒ د ابوسعيد خدری رضی الله عنه او د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت کړې چه [لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَأَهْلَ الْأَرْضِ اشْتَرَكُوْا فِيْ دَمِ مُؤْمِنٍ لَأَكَبَّهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ] (ترمذى: ١٤٥٩ بسند صحيح) که د آسمان او زمکې ټول اُوسيدونکي د يو مؤمن په قتل کې شريك شي نو الله به هغه ټول جهنم ته ګوزار کړي.

او په حديث د نسائیؒ، ترمذیؒ او ابن ماجهؒ کې دي :

[لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عِنْدَ اللهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ] (وسنده صحیح)۔
د الله تعالیٰ په نیز د دنیا ختمیدل د مسلمان سړی د وژلو نه معمولی او سپك دی۔
او په حدیث د احمدؒ او ابوداوُدؒ کې دی: [لَايَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ] (واسناده صحیح)
همیشه وی مؤمن (چه په نیکئ کی) جلتی کونکے وی، نیکی کونکے وی ترڅو چه ئے حرامے وینے ته رسیدل نۀ وی کړی نو کله چه حرامے وینی ته رسیدل وکړی (یعنی مؤمن ووژنی) نو بند شی (او د خیر په کارونو کی مخ په وړاندے نشی تلے او توفیق نشی موندلے او دین ئے وخت په وخت کمیږی تردے چه ارتداد ته نزدے شی)۔

شان نزول

د مقیس بن صُبابه الکنانی ورور هشام بن صبابه په بنی النجار قبیله کی وژلے شوے وموندل شو نو نبی کریم ﷺ مقیس او یو بل فِهرِی صحابیؓ دواړه بنی النجار ته ورولیږل چه بنی النجار ته ووایه چه مقیس ته د هغه د ورور قاتل ورکړئ او که قاتل ئے درته معلوم نۀ وی، نو بیا د مقتول دیت ورکړئ نو بنی النجارو ویل چه مونږ خو قاتل نۀ پیژنو، البته دیت به ورکړو، نو مقیس د خپل ورور دیت (سل اُوښان) راروان کړل او د خپل ملګری سره بیرته راستون شو نو شیطان راغلو او مقیس ته ئے وسوسه واچوله چه دا خو به په تا باندے د ورور لوی پیغور پاتی وی، نو راشه دا مسلمان قتل کړه او دیت هم وتښتوه نو هغه دغه خپل ملګرے (فِهری) قتل کړو او اُوښان ئے وتښتول او مکے ته لاړو مرتد شو،
او دا اولنے سړے وو چه د اسلام نه مرتد شو ددۀ نه مخکی هیڅوك د اسلام نه نۀ وو مرتد شوی (بیا د مکے د فتح په زمانه کی رسول الله ﷺ د څلورو کسانو سره ددۀ وینه هم هدر اعلان کړه نو صحابه کرامو د مکے په بازار کی قتل کړو)
(شعب الایمان للبیهقی رقم: ۲۹۲) والدر المنثور والطبری والبغوی۲/۲٦٦)
نو دا آیت د هغه په باره کی نازل شو، او الفاظ ئے عام دی۔

مسئله

یو مؤمن لره د قصداً قتلونکی توبه قبلیږی او که نۀ؟ دے باره کی د صحابه کرامو اختلاف وو۔ سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما وائی چه ددۀ توبه نۀ قبلیږی۔

بخاريؒ د سعيد بن جبيرؒ نه د ابن عباس رضى الله عنهما قول نقل كړيدے چه دا آيت په آخرى ورځو كى نازل شويدے۔ او بل كوم آيت دا نۀ دے منسوخ كړے۔ مسلمؒ، نسائيؒ او ابوداودؒ پدے معنیٰ باندے يو بل حديث د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت كړيدے چه د هغے په آخر كى دى چه ددے آيت نه روستو بل كوم آيت نۀ دے نازل شوے چه هغه دا منسوخ كړى۔ د زيد بن ثابتؓ، ابو هريرهؓ، عبد الله بن عمروؓ، حسنؒ او قتادهؒ وغيرهم همدا رائے ده۔ نو دا به ئے د كافر په شان گڼړلو۔

او د امت د عامو علماؤ قول دے چه د قصداً قاتل د هغه او د هغه د رب ترمينځ توبه شته۔ كه توبه اُوباسى او د نيك عمل په ذريعه خپل حالات صحيح كړى، نو الله تعالىٰ به د هغه گناهونه په نيكيانو سره بدل كړى او مقتول ته به د هغه د مظلوميت په وجه ښائسته بدله وركړى او خوشحاله به ئے كړى، او د عام كافر او مشرك توبه شته نو د قاتل به خامخا وى، د سورة الفرقان چه كوم آيت اُوس تير شو، په هغے كى د الله سره د شرك، قتلِ عمد او زنا په شان لوئى جرمونو ذكر كولو نه روستو الله فرمايلى دى : ﴿ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴾ چه څوك توبه وباسى او ايمان راوړى او نيك عمل كوى نو الله به د هغوى گناهونه په نيكيانو سره بدلوى او الله بخونكے رحم كونكے دے۔ الله تعالىٰ د سورة الزمر په آيت (۵۳) كى فرمايلى دى : ﴿ قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ﴾ ته ووايه ! چه اے زما بندگانو ! كومو چه په ځانونو ظلم كړيدے، د الله د رحمت نه مۀ نا اُميده كيږئ، يقيناً الله ټول گناهونه معاف كوى۔ پدے دواړو آيتونو كى د ټولو گناهونو په باره كى عام حكم دے چه د رشتينى زړۀ نه توبه كولو سره الله هغه معاف كوى۔

نو هغه آيتونه مقيد كونكى دى دے آيت لره او دلته ئے مطلق ولے وئيلے دے؟ جواب : دپاره د يره وركولو خلكو ته۔

دلته يو بل سوال پاتے كيږى چه د امت اجماع ده چه د توبى په وجه د هيڅا حق نۀ ساقطيږى، پدے وجه د توبے نه روستو به هم د مقتول حق د قاتل په ذمه باقى پاتى وى، او هغه به د قيامت په ورځ د خپل حق مطالبه كوى۔ نو ددے جواب دا دے چه كله الله تعالىٰ د قاتل توبه قبوله كړه، نو ممكن ده چه الله تعالىٰ به مقتول ته د هغه د مظلوميت دومره ښائسته بدله وركړى چه هغه به خوشحاله شى، او د قاتل د توبے قبليدو په وجه به هغه هم د الله په فضل او كرم سره جنت ته اُوليږلے شى۔

بله مسئله:

که څوك قتل وکړي او توبه ونۀ باسي نو آیا همیشه به جهنم کې وي؟ د اهل سنتو مذهب خو دا دے چه قاتل مسلمان دے، یو وقت د اوقاتو کې به د جهنم نه راوځي نو ددے آیت څه تحقیق کیدے شي؟

نو ددے جواب دا دے چه دلته د قتل سزا بیانول مطلب دے چه د قتل سزا دومره ده چه دے مستحق دے چه جهنم ته همیشه دپاره داخل شي، او غضب او لعنت دِے پرے راشي او عذاب عظیم دِے ورکړے شي، لیکن دے سره دا مراد دے چه مَا لَمْ يَمْنَعْ مَانِعٌ مِنَ الْخُلُوْدِ، یعنی چه په جهنم کې د همیشه پاتے کیدو نه مانع نۀ وي موجود او که هغه موجود وو لکه ایمان او نور نیك اعمال دي نو بیا به همیشه پکې نۀ پاتې کیږي.

امام بیهقيؒ په شعب الایمان کې د ابو مِجلز (لاحق بن حُمَیدؒ) نه داسے تعبیر نقل کړیدے : [هِيَ جَزَاؤُهٗ فَإِنْ شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَّتَجَاوَزَ عَنْ جَزَائِهٖ فَعَلَ] (شعب الایمان رقم: ٢٩٢).

یعنی دا ئے سزا ده لیکن که الله وغواړي چه سزا ورته معاف کړي نو کولے ئے شي)

او دلته نور ډیر جوابونه دي چه مفسرینو پرے بنه څانونه ستړي کړیدي لیکن هغه ټولو باندے اعتراضونه واردیږي چه څوك وائي چه دا آیت په هغه قاتل حمل دے چه حلال ګنړونکے وي یا کافر وي لکه شان نزول پرے دلیل ګنړي، او یا د خلود نه مراد مکث طویل (اوږده زمانه ایساریدل) دي او څوك ئے د سورة الفرقان په ﴿اِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا﴾ آیت سره منسوخ ګنړي، دا ټول جوابونه دلته پوره نۀ لګیږي.

فائده: په دنیا کې د مقتول اولیاؤ ته اختیار دے، که غواړي نو قصاص دِے واخلي او که غواړي نو معاف دِے کړي، او که غواړي نو دیتِ مغلظه دِے واخلي، یعنی سل اُوښان. ددے اجمال تفصیل د حدیث فقه په کتابونو کې موجود دے.

لیکن که د مقتول اولیاء هغه معاف کړي یا د دیت په اخستو راضي شي نو آیا قاتل به کفاره ورکوي؟ نو ډیر علماء وائي چه آؤ، قاتل به کفاره ورکوي څکه چه هرکله چه قتل خطاء کې کفاره واجب ده، نو په قتل عمد کې به په درجه اولیٰ واجب وي.

او دلیل کې حدیث پیش کوي چه امام احمدؒ د واثله بن الاسقع ﷺ روایت راوړیدے چه رسول الله ﷺ ته د بنو سُلیم څه کسان راغلل عرض ئے وکړو چه زمونږ یو تن څان له اُور واجب کړیدے (یعنی په قتل سره). نو هغه وفرمایل : [فَلْيُعْتِقْ رَقَبَةً يَفْدِي اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ

مِنْهَا عُضْوًا مِنْهُ فِي النَّارِ] مریبی دِے آزاد کړی نو الله به د هغه په هر اندام سره ددهٔ هر اندام د اُور نه آزاد کړی۔ (ابوداود والنسائی) (محاسن التاویل ۴۳۸/۲)

وجود اسناده حسین سلیم اسد فی تحقیق مسند ابی یعلی رقم : ۷۴۸٤) وضعفه الالبانی فی الضعیفة : ۹۰۷) وقال فی اسناده الغریف بن عیاش مجهول لم یوثقه غیر ابن حبان وقال الحافظ عن ابن حزم : مجهول- وکذا ضعفه سعیب الارناووط والراجح ضعفه)

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَاتَقُوْلُوْا

اے ایمان والو! کله چه سفر کوئ تاسو په لاره د الله کی نو تحقیق کوئ او مهٔ وایئ

لِمَنْ أَلْقٰى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيَاةِ

په باره د هغه چا کی چه واچوی تاسو ته سلام چه تهٔ نهٔ ئے مؤمن، لټوئ تاسو سامان د ژوند

الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللهُ

دنیوی پس دی د الله تعالیٰ سره غنیمتونه ډیر، همدغه شان وئ تاسو مخکی ددے نه نو احسان اُوکړو

عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا إِنَّ اللهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿٩٤﴾

الله په تاسو نو ښهٔ تحقیق کوئ یقیناً الله دے په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ خبردار۔

تفسیر : پدے آیت کی بل حکم بیانوی د قتل خطاء متعلق او د آیت مطلب دے اَلتَّبَيُّنُ وَالتَّثَبُّتُ فِيْ قَتْلِ النَّاسِ یعنی د خلکو د وژلو په باره کی به د پوره تفتیش او تحقیق او یقین او احتیاط نه کار اخستے شی او په معمولی گمان سره به هغوی نشی وژلے۔

شان نزول

مفسرینو پدے مقام کی د آیت د نزول په باره کی ګڼړ واقعات ذکر کړیدی :

(۱) مشهوره واقعه دا ده چه عبد الله بن ابی حدرد ﷺ قصه بیانوی چه رسول الله ﷺ یوه سریه ولیږله بطن اِضَم علاقے ته چه په هغے کی ابوقتاده (الحارث بن ربعی) انصاری ﷺ او مُحلّم بن جثامه اللیثی هم وو (او دے پکی خپله هم وو) کله چه مونږ بطن اضم ته ورسیدو نو مونږ بانديے عامر بن الاضبط الاشجعی راتیر شو چه په اُوښ بانديے سور وو او د هغه سره نور سامانونه هم وو، نو کله چه په مونږ راتیر شو نو مونږ باندیے ئے سلام واچولو۔ او ځینی رِوایاتو کی دی چه کلمه (لا اله الا الله) ئے هم وویله نو مونږ د هغه نه بند

شو لیکن مُحلم بن جثامه پرے حمله وکړه او قتل ئے کړو پدے وجه چه ددۀ او د عامر بن الاضبط په مابین کی په جاهلیت کی دشمنی وه او د هغه نه ئے اُوښ هم واخستو او محلم وویل چه دا کافر دے او هسے زمونږ نه ځان خلاصوی او مطلب ئے دا وو چه دا به هم قتل کړم او ګډے بزے به هم ترے واخلم۔

عبد الله وائی : بیا مونږ چه کله رسول الله ﷺ ته راغلو او قصه مو ورته بیانه کړه نو دا آیت نازل شو۔ او رسول الله ﷺ هغه ته ښیرے وکړے چه الله دِے تا هلاك کړی او زمکه دے تا قبول نکړی (پدے وجه چه دۀ د دغه شخص ضد کړے وو) او د کلمے احترام ئے نۀ وو کړے۔ نو روایاتو کی دی چه اُوه ورځے پس مړ شو او خلکو دفن کړو لیکن زمکے راګوزار کړو بیا ئے دفن کړو بیا ئے راګوزار کړو، درے کرته داسے وشو نو خلکو نبی کریم ﷺ خبر کړو نو هغه وفرمایل: [اِنَّ الْاَرْضَ تَقْبَلُ مَنْ هُوَ شَرٌّ مِنْهُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَرَادَ اَنْ يُّعَظِّمَ مِنْ حُرْمَتِكُمْ] وَفِیْ رِوَايَةٍ : وَلٰكِنَ اللّٰهَ اَحَبَّ اَنْ يُّرِيَكُمْ تَعْظِيْمَ حُرْمَةِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه] (ابن ماجه) وسنده حسن - البانی) - زمکه ددۀ نه زیات بد تر مړے هم قبلوی لیکن الله غواړی چه تاسو ته د بنده د وینی لوی والے وښائی۔ او په یو بل روایت کی دی چه الله غواړی چه تاسو ته د لا اله الا الله کلمے د احترام لوی والے وښائی۔ (چه دے انسان بی احتیاطی وکړه او د کلمے احترام ئے ونۀ ساتلو ورنه زمکه لوی لوی کافران قبلوی لکه د ابوجهل او فرعون په شان او دا انسان مسلمان دے مګر د بی احتیاطئ په وجه ورته دا سزا ورکړے شوه چه زمکے قبول نکړو) بیا ئے وفرمایل : دا په یوه کنده کی وارتوئ او کاڼړی پرے دپاسه واچوئ۔ او ددۀ په باره کی دا آیت نازل شو۔ (ابن جریر عن ابن عمر، القاسمی ۲/ ٤٤٠ والقرطبی وابن کثیر وغیره)

۲- ځینی مفسرینو دا هم لیکلی دی چه دا آیتونه د اسامه بن زید رضی الله عنهما په باره کی نازل وو چه د هغه د توری لاندے یو کافر راغلو نو هغه لا اله الا الله وویله نو اسامه ﷺ ددے دپاسه هم قتل کړو، رسول الله ﷺ ته دا خبره بیان شوه نو هغه اسامهؓ راوغوښتو او دا ئے ورته وفرمایل: أَقَتَلْتَهُ وَقَدْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ؟] آیا تا ووژلو حال دا چه هغه لا اله الا الله وویله؟ نو اسامه وویل اے د الله رسوله : [اِنَّمَا قَالَهَا مُتَعَوِّذًا] هغه دا کلمه د ځان خلاصولو دپاره وویله۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: [فَهَلَّا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهٖ]

تا د هغه زړه ولے نۀ څیری کاوه چه کتلی دِے وے چه آیا د زړه نه ئے وئیلے ده او که په دروغو۔ یعنی تا خو د هغه په خوله باندے باور ونکړو او د هغه په زړه باندے دِے علم نۀ وو۔ او مطلب ئے دا وو چه تۀ به د یو انسان ظاهر ته ګورے او د زړه علم ئے د الله سره دے۔ او

رسول الله ﷺ به دا خبره بار بار کوله او دا ئے هم وفرمایل: تهٔ به د لا اله الا الله سره څه کوے کله چه د قیامت په ورځ راشي نو اسامهٔ فرمائي: ما ارمان وکړو چه دا کار ما د اسلام نه مخکې کړے وے نو بنه به وه او په اسلام کې مې نهٔ وے کړے. (دغه وژلے شوے مسلمان مِرْدَاس بن نَهِيكُ الفزاري من اهل فدك وو).

(ابن جرير الطبريّ والدر المنثور والبغويّ وغيرهم) والروض الانف ٤/٥٠٤)

۳- امام احمدؒ او بخاريؒ د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کړيدے چه د هغے خلاصه دا ده چه د بنو سليم يو سړی خپلے چيلئ څرولے څه صحابه کرام د هغه په خوا تير شو نو هغه سلام وکړو، ليکن صحابه ؤ ووئيل چه دا شخص د خپل ځان او چيلو ساتلو دپاره مونږ ته سلام کوی نو هغه ئے قتل کړو او د هغه چيلئ ئے رسول الله ﷺ ته راوستے نو الله دا آيت نازل کړو. (صحيح البخاري ٢/ ٦٦٠ و الترمذي ٢/ ١٣٢)

دا سړے د مخکې نه مسلمان وو ليکن د صحابه کرامو پرے علم نهٔ وو او دا گمان ئے وکړو چه دا گنے د ځان خلاصولو دپاره کلمه وائي.

○ حافظ ابوبکر البزارؒ د ابن عباس رضي الله عنهما نه يو بل روايت نقل کړيدے چه رسول الله ﷺ مقداد بن اسودؓ په يو فوجي دسته باندے امير مقرر کړو او په يو قوم باندے د حملے دپاره ئے اُوليږل، کله چه مسلمانان هلته اُورسيدل، نو تول خلك وتختيدل صرف يو سړے پاتے شو چه د هغه سره ډير مال وو. هغه د شهادت کلمه وويله ليکن ددے سره مقدادؓ هغه قتل کړو. يو صحابي اُووئيل چه تا يو داسے سړے قتل کړو چه هغه د شهادت کلمه وئيلے وه، زهٔ به دا واقعه رسول الله ﷺ ته ضرور بيانوم. نو رسول الله ﷺ مقداد راوغوختو او تپوس ئے ترے اُوکړو او وے وئيل چه د قيامت په ورځ به د (لا اله الا الله) سره ته څه کوے؟ نو دا آيت نازل شو. په دے روايت کې راځي چه نبي ﷺ مقدادؓ ته اُووئيل چه تا هم په مکه کې خپل ايمان پټ ساتلو.

دے ټولو ته دا آيت شامليږي.

بيا دا حکم د کافر او مشرك دے چه په جنګ کې ايمان راوړي نو قبليږي به او د مرتد دا حکم نهٔ دے هغه چه کله دين پريخودو او بيا په جنګ کې ونيولے شو نو که هر څو مره کلمے ووائي نو د هغه وژل جائز دي. (مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهٗ فَاقْتُلُوْهُ) (بخاري: ٣٠١٧). آؤ توبه ئے په مابين د الله او دهٔ کې قبوله ده چه اخلاص سره وي.

إِذَا ضَرَبْتُمْ : ضرب سره چه ارض لفظ ذکر شي مراد ترے نه سفر کول وي.

سفر ئے ځکه ذکر کړو چه په کلی کی د مؤمن او غیر مؤمن معلومات کیږی لیکن په سفر کی دا معلومات نهٔ کیږی اګرکه دا حکم حضر ته هم شامل دے۔

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ: پدے کی هم د تبین او د تحقیق تاکید دے چه تاسو خو د الله د کلمے د اُوچتوالی دپاره راوتلی یئ نو چا نه چه دغه کلمه واورئ نو پکار ده چه تحقیق ئے وکړئ او د دغه کلمے اکرام وکړئ۔

تَبْتَغُوْنَ : یعنی تاسو د هغه په وژلو د دنیا سامان طلب کوئ، او اکثر انسانان داسے بی احتیاطی د دنیا دپاره کوی، نو الله فرمائی چه د الله سره غنیمتونه زیات دی د بل طرفنه به الله تعالیٰ غنیمتونه درکړی، د مشکوك مسلمان نه ئے ولے اخلئ۔

کَذٰلِكَ كُنْتُمْ : دا ډیره د عقلمندئ خبره ده چه تهٔ خپل ځان ته هم وګوره چه تهٔ هم مخکی دغه شان حالت کی وے چه ذهن ډے د حق نه بند وو او کمزوری ایمان والا وئ که تاسو نبیٍ کریم ﷺ وژلی وے او ستاسو کلمه ئے نهٔ وے قبوله کړی نو ستاسو به څه حال وے، دا خو روستو درله الله تعالیٰ په دین باندے پوهه درکړه، او ایمانونه ئے درله قوی کړل نو دغه شان د بل مسلمان په باره کی هم صرف کلمه وئیل قبول کړئ، هغه به ساده وی، پوره تعبیر به نشی کولے، نو د هغه حالت قبول کړئ۔ او دا خبره د داعی دپاره ډیره فائده منه ده۔او د مجاهد دپاره هم۔ بعض خلك په شبهاتو نور مسلمانان قتلوی او صرف بدګمانی وی چه دا به د کفارو ملګرے وی انا لله وانا الیه راجعون۔

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَیْكُمْ : اَیْ بِالتَّثَبُّتِ ۔ یعنی الله په تاسو احسان وکړو چه په دین ئے مضبوط کړئ او ایمانونه ئے درله قوی کړل۔

سعید بن جبیرؒ وئیلی دی چه په اول کی تاسو هم د قوم (کافرانو) د یرے د وجه نه ایمان پټ ساتلو په شان د دغه مقتول شخص نو الله تعالیٰ په تاسو احسان وکړو چه قوت او عزت ئے درکړو تردے چه تاسو خپل ایمان راښکاره کړو۔

او مقاتل بن حیانؒ وئیلی دی چه تاسو د هجرت کولو نه مخکی د کافرانو په مینځ کی وئ نو د صحابه کرامؓ په مخکی به تاسو د خپل امن دپاره کلمه د اسلام وئیله نو الله د هجرت توفیق درکړو۔

کَذٰلِكَ كُنْتُمْ : کی تولو صحابه کرامؓ ته خطاب نهٔ دے بلکه بعض مراد دی چه د هغوی اول کی دغسے حال وو۔ او اکثر مفسرین وائی چه دلته د تشبیه نه مراد دا دے چه اول وخت کی چه تاسو په اسلام کی داخل شوئ نو صرف په کلمه وئیلو سره ستاسو مالونه

او وینه محفوظ شو، ددې خبرې تحقیق نۀ وو چه ستاسو په زړونو کې ایمان شته او که نه ؟ نو اوس هم د اول داخلیدونکې سره داسې کار کوئ چه ظاهري اقرار باندې ئې اکتفاء وکړئ۔

لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ

برابر نۀ دي ناست خلق د مؤمنانو نه چه نۀ دي تکلیف والا او هغه کسان چه جهاد کوي په لاره

اللّٰهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ

د الله کې په مالونو خپلو او نفسونو خپلو غوره کړيدي الله تعالیٰ جهاد کونکي په مالونو خپلو سره

وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى

او نفسونو خپلو سره په ناستو باندې يوه درجه او ټولو سره وعده کړې ده الله تعالیٰ د جنت

وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا﴿۹۵﴾

او غوره کړي دي الله تعالیٰ جهاد کونکي په ناستو خلقو باندې په اجر لوئې سره.

دَرَجَاتٍ مِنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴿۹۶﴾

چه درجې دي د طرفه د الله نه، او بخنه ده او رحمت دې او دې الله بخنه کونکې رحم کونکې۔

تفسیر: پدې کې فضائل د مجاهدینو او د هغوی انواع بیانیږي۔

۱- ربط: مخکې الله تعالیٰ د مؤمن د قتل په باره کې ډیر کلك وعیدونه نازل کړل نو څه لرې نۀ ده چه د چا ذهن ته د جهاد پریښودل او په کور کې کیناستل بهتر ښکاره شي ځکه چه په جهاد کې د مؤمن د وژلو خطرهٔ شته، چه یا په قصد سره او یا په خطائي سره پکې سرې واقع شي نو پدې آیتونو کې دغه وهم او خیال رد کوي چه مجاهدین او د جهاد نه ناست خلك په هیڅ شان برابر نۀ دي او په جهاد کې ډیر درجات دي چه هغه ناستو خلکو ته حاصل نۀ دي نو پدې وهمونو سره جهاد پریښږدئ۔

۲- ربط: په تیر شوو آیتونو کې مؤمنانو ته د جهاد ترغیب ورکړې شویدې، اُوس د هغوی درجات بیانیږي۔ او دلته د آیت د نزول په زمانه کې هغه مجاهدین مراد وو چه هغوی په جنګِ بدر کې شرکت کړې وو او هغه خلق چه د څه مجبورتیا په وجه په هغې کې نۀ وو شریك شوي۔ بیا ئې حکم عام دې۔

غیر اولی الضرر : بخاریؒ د براء بن عازب ﷺ نه روایت کړیدے چه کله دا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ زید بن ثابت ﷺ راوغوختـو او هغه ته ئے ددے د لیکلو حکم وکړو نو عبد الله بن ام مکتوم ﷺ نابینا صحابی د رسول الله ﷺ شا ته ولاړ وو، نو هغه اُووئیل اے د الله رسوله ! قسم په الله که ما جهاد کولے شوے نو ضرور به مے کولے، نو فوراً ((غَيْـرُ أُولِي الضَّرَرِ)) نازل شو۔

لـکه ددے وضاحت د انس بن مالك ﷺ په حـدیث کی راغلے دے چه هغه احمد، بخاری رقم (٤٤٢٣) او ابو داودؒ روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ د تبوك غزا نه په واپس کیدو کی په لاره کی اُوفرمایل [اِنَّ بِالْمَدِيْنَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيْرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا اِلَّا كَانُوْا مَعَكُمْ (وَفِيْ رِوَايَةٍ اِلَّا شَرَكُوْكُمْ فِي الْأَجْرِ، قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! وَهُمْ بِالْمَدِيْنَةِ ؟ قَالَ وَهُمْ بِالْمَدِيْنَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ] چه په مدینه کی څه داسے خلق پاتے شویدی چه تاسو سره په سفر کی شریك دی، او په بل روایت کی دی چه تاسو سره په اجر کی شریك دی۔ صحابهؤ تپوس اُوکړو چه اے د الله رسوله ! اګرکه هغوی په مدینه کی پاتے شویدی ؟ نبی ﷺ وفرمایل چه آؤ، هغوی لره څه عذر د راتللو نه بند کړیدی۔

اشکال او جواب

په ظاهره کی دا اشـکـال راځی چه په آیت کی ئے یو ځل وویل چه مجاهدین په ناستو خلکو په یوه درجه غوره دی او روستو وائی چه په ډیرو درجو غوره دی؟

١- ددے یو جواب دا دے چه ناست خلك دوه قسمه دی یو اولی الضرر (معذورین) دی او بـل غیـر مـعـذور دی او مجاهدین یو قسم دی، نو مجاهدین د معذرو خلکو په مقابله کی پـه یـوه درجـه غـوره دی لـکـه مـخـکـی حدیث د انس بن مالكؓ پرے دلیل دے۔ او د غیر مـعـذورو خـلـکـو نـه پـه ډیرو درجـو غـوره دی بـلـکـه پـه بعض اوقاتو کی به ناست خلك ګناهګاروی نو مجاهد ته نشی رسیدلے دے۔ او په حدیث د مسلم وغیره کی دی : صحابه کرامؓ تپوس وکړو : [مَا يَعْدِلُ الْجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ؟] د الله په لاره کی د جهاد سره کـوم عـمـل بـرابـر دے ؟ رسـول الله ﷺ وفـرمـایـل : د هـغـه (عمل) طاقت تاسو نشئ لرلے، صـحـابـه کـرامـؓ بیـا عرض وکړو، رسول الله ﷺ دویم ځل هم وفرمایل : تاسو ددے طاقت نشئ لرلے، په دریم ځل ئے وفرمایل : [مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللّٰهِ لَايَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَلَا صَلَاةٍ حَتّٰى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ]

د مجاهد في سبيل الله مثال په شان د هغه روژه دار دے چه په مانځه ولاړ وی او د الله آيتونه لولی (او هميشه روژه وی) او د روژے او مانځه نه نهٔ ستړے کيږی تردے چه مجاهد راواپس شی)۔ (مسلم : ٤٩٧٧)

(۲) جواب : ناست خلك دوه قسمه دی (۱) يو هغه دی چه د امام او امير په اجازه ناست وی، او بل هغه دی چه په خپله خوښه ناست وی نو د اول قسم په مقابله کی مجاهد په يوه درجه غوره دے، او د دويم قسم په مقابله کی په ډيرو درجو غوره دے۔ لکه سيدنا عثمان ﷺ رسول الله ﷺ د بدر د غزا نه پاتے کړو چه زما د لور خدمت وکړه ځکه چه هغه بيماره وه۔ او سيدنا علی بن ابی طالب ﷺ ئے په غزا د تبوك کی د زنانو د حفاظت دپاره پريخودو۔ هغه عرض وکړو : ما تاسو ښځو ته پريدئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا تهٔ پدے خوشحاله نهٔ ئے چه تهٔ زما داسے خليفه جوړ شے لکه هارون ﷺ چه د موسیٰ ﷺ خليفه جوړ شوے وو۔ صرف زما نه روستو نبی نشته۔(بخاری : ۳۷۰٦ ومسلم: ٦۳۷۰)

علامه قاسمیؒ د ابو السعودؒ نه نقل کړيدی (او دا رايه د سيوطیؒ هم ده په خپل کتاب ((الاكليل)) کی ئے ذکر کړيده او آلوسیؒ هم دے ته ترجيح ورکړيده) چه مجاهدين او ناست معذورين دواړه په اجر او درجاتو کی شريك دی، او د عمل زيات اجر لره اعتبار نشته ځکه چه بل طرفته د نيت شان هم ډير اُوچت دے لکه مخکنے حديث د انس بن مالكؓ پرے دليل دے چه په مدينه کی ناست خلك (معذورين) د وتلو مجاهدينو سره په اجر او درجاتو کی شريك وو [إِلَّا شَرَكُوكُمْ فِي الْأَجْرِ]

او په آيت کی دواړه ځايونو کی صرف د مجاهدينو اجر ذکر دے په مقابله د ناستو خلکو کی چه معذورين نهٔ دی په دوه طريقو سره يو ځل ئے (دَرَجَةً) لفظ ذکر کړو او بيا ئے (دَرَجَات) ددے حکمة دا دے چه اول ځل دَرَجَةً (نکره) کی اجمال وو او په دويم ځل ئے په (دَرَجَاتٍ مِنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً) سره د هغے تفصيل وکړو

(لکه په حديث کی دی چه په جنت کی سل درجے دی او د هرے درجے نه تر بلے درجے پورے دومره فاصله ده لکه د زمکے نه آسمان پورے) (صحيحين)

يعنی (دَرَجَةً) جنس دے او درجات سره ئے د هغے مبهم افراد ذکر کړل۔او دا ئے ددے دپاره وکړل چه د اجمال او ابهام نه روستو تفصيل په ذهن کی ښه کيني او دے دپاره چه د مجاهدينو فضيلت ته خلك ښه متوجه شی۔

(۲) يا په اول ځل کی دنياوی درجه مراد ده چه هغه مدحه او تعظيم او بيا د غنيمتونو

اخستلو درجه ده او په مینځ کی ئے د جنت وعده د دواړو قسمه خلکو سره ذکر کړه دے دپاره چه د ناستو خلکو هم تسلی وشی، او په دویم ځل کی د جنت درجات مراد دی چه دا به صرف مجاهدینو ته ورکولے شی۔

(محاسن التاویل٢/٤٤٥) وروح المعانی (١١٩/٣) وابی السعود٢/١٤٢)۔

لَا يَسْتَوِى : دا عدم مساوات او برابر والے په ثواب او فضیلت او درجاتو کی دے۔

غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ : دا په پیښ د راء سره صفت د القاعدون دے یا بدل دے۔

د اولی الضرر : (تکلیف والا) نه مراد مریض، ړوند، ګوډ یا دا چه مال او سورلی ورسره نهٔ وی چه جهاد ته پرے لاړ شی، یا علم او عقل ئے نهٔ وی لکه لیونی وغیره۔ (مفردات راغب)

وَالْمُجَاهِدُونَ : دا عطف دے په (القاعدون) باندے او د (لایستوی) دپاره دا هم فاعل دے۔

بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ : یعنی هغه مالونه چه مجاهدین ئے په جهاد کی په خپلو ځانونو ولګوی، یا ئے په بل مجاهد ولګوی یعنی مجاهد به خپل مال لګوی او که هغه ورسره نهٔ وی نو د بل په مال هم تللے شی۔ او نفس به هم لګوی که څوك صرف په مال لګولو اکتفاء کوی او پدے باندے ځان بری ګنړی نو دا هم نقصان دے،

او که څوك په نفس سره جهاد کوی لیکن مال نهٔ لګوی بلکه په جهاد سره د خلکو مالونه راجمع کوی نو دا هم نقصان دے۔

وَكُلًّا : کلًا په معنیٰ د كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُجَاهِدِينَ وَالْقَاعِدِينَ سره دے یعنی هر یو د مجاهدینو او ناستو خلکو سره الله تعالیٰ د جنت وعده کړیده۔ او د ناستو خلکو دپاره ئے د جنت وعده ذکر کړه، نو ددے نه مراد هغه ناست خلك دی چه جهاد فرض کفائی وی نو د هغے په پریخودو به ګنهګار نهٔ وی۔ یا مخکی تیر شو چه معذور خلك مراد دی۔

الْحُسْنٰى : ددے نه مراد یا جنت دے یا ترے اَلْجَزَاءَ الْحُسْنٰى مراد ده۔

(یعنی ښائسته بدله چه هغه جنت دے)

أَجْرًا عَظِيمًا : دا منصوب دے په نزع الخافض سره اَیْ فَضَّلَهُمْ بِأَجْرٍ عَظِيمٍ۔ غوره کړی ئے دی په اجر عظیم سره۔ یا اَجْرًا منصوب دے مفعول ثانی دے د فَضَّلَ دپاره او فَضَّلَ متضمن دے معنیٰ د اعطاء لره اَیْ أَعْطَاهُمْ زِيَادَةً عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا) ورکوی به دوی ته د ناستو خلکو په نسبت زیات اجر عظیم۔ (ابوالسعودؒ)

دَرَجَاتٍ مِنْهُ : دا بدل دے د (اَجْرًا عَظِيمًا) نه او (مِنْهُ) لفظ د درجات دپاره په اعتبار د متعلق سره صفت دے چه دلالت کوی په فخامت او اُوچته مرتبه ددغه درجاتو چه دا به د

عظیم ذات د طرفنه ملاویږی۔

وَمَغْفِرَةً : ددے نه مراد تول گناهونه معاف کیدل دی۔

وَرَحْمَةً : ددے نه مراد اول جنت ته داخلیدل او د عذابونو نه بچ کیدل دی۔

إِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَآئِكَةُ ظَالِمِيْ

یقیناً هغه کسان چه روحونه اخلی د هغوی نه ملائك پداسے حال کی چه ظلم کونکی وی

أَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ قَالُوْا كُنَّا

د نفسونو خپلو سره وائی دوی ته ملائك په کوم کار کی وئ تاسو نو وائی دوی وو مونږه

مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْأَرْضِ قَالُوْا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللهِ وَاسِعَةً

ضعیفان کړے شوی په زمکه کی، وائی ورته ملائك آیا نهٔ وه زمکه د الله فراخه

فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا فَأُولٰٓئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ

پس چه هجرت کړے وے تاسو په هغے کی نو دا کسان ځای د دوی جهنم دے او ډیر بد دے دا

مَصِيْرًا ﴿۹۷﴾ إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

ځای د ورګرځیدو۔ مګر کمزوری د سړو نه او د ښځو نه او د بچو نه چه طاقت نهٔ لری

حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۹۸﴾ فَأُولٰٓئِكَ عَسَى

د هیڅ تدبیر (او چل د وتلو) او نهٔ پیژنی لاره (د هجرت کولو)۔ نو دغه کسان نزدے ده

اللهُ أَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾

چه الله به معافی وکړی دوی ته او دے الله معافی کونکے بخونکے۔

تفسیر : پدے آیت کی ترغیب الی الهجرة دے او زجر دے هغه چا ته چه هجرت پریدی او پدے کی ئے هغه خلق ذکر کړیدی چه هغوی د دار الکفر (مکے) او د هغے د ماحول نه دار الاسلام (مدینے) تـه هجرت نهٔ دے کړے، د دشمن د طرف نه ئے هر ظلم او زیاتے برداشت کړو، او د الله چـه څنګه عبادت کول پکار وو هغه شان عبادت ئے اُونکړو، نو الله تعالیٰ دوی تـه په خپل ځانونو باندے ظلم کونکی اُووئیل۔ ملائك به د داسے خلقو نه د روح د اخستو پـه وخت کی تپوس کوی چه تاسو دلته نه هجرت ولے نهٔ دے کړے؟ نو دا خلق به دا عذر

پیش کړی چه مونږ کمزوری وو، ملائك به وائی چه آیا د الله زمکه ستاسو دپاره فراخه نهٔ وه چه هلته تاسو هجرت کړے وے او د الله عبادت مو په آزادئ سره کړے وے؟ الله پدے آیت کی د هغوی د اوسیدو ځای جهنم خودلے دے نو دا انسان کبیره گناه والا دے۔

شان نزول

ددے آیت شان نزول او سبب نزول د ابن عباس رضی الله عنهما د روایت مطابق کوم چه بخاریؒ ، ابن المنذرؒ او ابن جریرؒ وغیره د څه الفاظو په اختلاف سره بیان کړیدے، دا دے چه د رسول الله ﷺ او د مهاجرینو مدینے ته د هجرت کولو نه روستو په مکه کی څه داسے خلق باقی پاتے شول چه د زړهٔ نه مسلمانان وو لیکن د کافرانو د یرے نه ئے خپل اسلام نشو ښکاره کولے، او د تکلیف او امتحاناتو د یرے نه ئے هجرت هم اونکړو، کله چه د بدر جنگ اوشو نو د کافرانو سره دغسے خلق هم راغلل، نو د هغوی نه څه کسان د مسلمانانو په غشو او نیزو اووژل شو، مسلمانانو د هغوی په باره کی اوُوئیل چه دا خلق خو مسلمانان وو، او مجبوراً د جنگ میدان ته راغلی وو، او د هغوی دپاره ئے د مغفرت دعا هم اوکړه نو دا آیت نازل شو۔ او په آخرت کی د هغوی انجام اوخودلے شو، البته د هغه انجام نه ئے هغه سړی، ښځے او ماشومان مستثنیٰ کړل چه واقعی معذور وو، لکه څوك ړوند وو، څوك گوډ وو، څوك بوډا ضعیف وو، او د هغوی ښځے او د هغوی ماشومان د هجرت کولو نه مجبور وو، د هغوی په باره کی الله وفرمایل چه الله به دوی ته معافی اوکړی۔

توفی : په اصل کی تَتَوَفّٰی دے مضارع ده۔ او توفی په معنیٰ د روح قبض کولو سره دے۔ یعنی د زنکدن په وخت به ورته ملائك دغه خبره کوی۔

ظالمی انفسهم : اَیْ بِتَرْکِ الْهِجْرَةِ ۔ یعنی د هجرت په پریخودو سره ئے په ځانونو ظلم کړے او د الله حکم ئے مات کړے۔

(۲) بخاریؒ کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه دا هم نقل دی چه ظَالِمِیْ اَنْفُسِهِمْ بِتَکْثِیْرِ سَوَادِ الْمُشْرِکِیْنَ ۔ په خپلو ځانونو ظلم کونکی دی چه د مشرکانو ډله ئے ډیره کړیده او د هغوی سره راوتلی دی لکه بعض مسلمانان د مشرکانو سره وو، او کله چه به هغوی د رسول الله ﷺ مقابلے ته راتلل نو مسلمانانو به ورله ډله ډیره وله، نو پدے کی به غشے راغلو هغه به پکی ولگیدو، یا به په توره ووهل شو نو قتل به شو، نو دا آیت د هغوی په باره کی نازل شو۔ (بخاریؒ)

او ابن مردویهؒ په خپل روایت کی د هغوی نومونه هم اخستی دی لکه قیس بن الولید بن المغیرة، ابو قیس بن الفاکه بن المغیرة، ولید بن عتبة بن ربیعة، عمرو بن امیه بن سفیان، او علی بن امیة بن خلف او د دوی په باره کی ئے ذکر کړیدی چه دوی کله بدر ته راووتل نو دوی د مسلمانانو کموالے ولیدو، نو شك ورته راپیښ شو او دا ئے وویل چه دا خلك خو خپل دین غولولی دی نو دوی په بدر کی قتل شول. او ابن ابی حاتمؒ پکی حارث بن زمعة بن الاسود او عاص بن منبه بن الحجاج ذکر کړیدی. (قاسمیؒ)

او پدے کی عباس ﷺ هم راغلے وو چه په مکه کی وسیدو نو مشرکانو ځان سره په زوره بدر ته رازوان کړو او زړه ئے بیخی نهٔ وو لیکن د کلی والیٔ نه مجبوره دے نو په قیدیانو کی ونیولے شو او سخت وتړلے شو او بیا د فدیه خبره راغله نو عباسؓ وویل زهٔ مسلمان یم، ما نه ولے فدیه اخلئ. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

[أَمَّا ظَاهِرُ أَمْرِكَ فَكَانَ عَلَيْنَا] (مسند احمد : ۳۳۱۰ ودلائل النبوة)

هر چه ستا ظاهری حالت وو نو دا زمونږ په خلاف وو، نو فدیه ترے واخستے شوه.

نو د اسلام قانون دا دے چه څوك په ظاهره کی د کفر او د کافرانو ملګرے شو د هغوی سره ئے توره او توپك واخستو او د مسلمان مقابلے ته راووتو نو دا به په حکم د کافرانو کی وی اګر که ددهٔ نیت به صحیح وی یا مجبوره وی لیکن ددهٔ قتل به جائز وی او مال به ئے اخستل جائز وی. ظاهر دا ده چه پدے آیت کی هغه مسلمانان مراد دی چه صرف هجرت ئے نهٔ وو کړے، ولے که د دوی ګناه ارتداد یا په اسلام کی شك وے نو بیا به ورته ملائکو ضرور داسے وئیلے چه آیا تاسو د اسلام نه بیرته نهٔ وئ واپس شوی؟.

مسئله :

۱- هجرت د یو ملك او علاقے نه هله فرض کیږی چه کله د کافرانو داسے غلبه او زور راشی چه مسلمانان مونځونو، اذانونو او نورو عبادتونو ته نهٔ پریدی، او په زوره پرے ګناهونه کوی، او که په حدیث د جبریل علیه السلام باندے عمل کولے شو نو هجرت لازم نهٔ دے. او په حدیث د جبریل کی څلور ارکان د اسلام ذکر دی.

۲- دویم : هجرت په هغه وخت لازمیږی چه فتنے او ګناهونه دومره زیات شی چه انسان د هغے نه په هیڅ شان ځان نشی ساتلے او کفار ئے دریاندے په زوره کوی.

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی لیکلی دی چه په اسلام کی دوه قسمه هجرتونه واقع

شویدی۔ یو خو د دار الکفر نه دار الامن ته لکه د مکې د مصیبت زده خلقو حبشو ته دوه ځل هجرت، او د مکې نه مدینې ته د مسلمانانو په ابتداء د اسلام کې هجرت۔ دویم د دار الکفر نه دار الایمان ته هجرت یعنې کله چه نبي کریم ﷺ او نور ډیر مسلمانان په مدینه منوره کې اُوسیدل، دې نه روستو د نورو مسلمانانو مدینې ته هجرت اُوشو۔ په هغه وخت هجرت صرف د مدینې پورې خاص وو، کله چه مکه فتح شوه نو دا خصوصیت ختم شو او د هر دار الکفر نه دار الاسلام ته د هجرت حکم تر قیامته پورې باقي پاتې شو۔

إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ: بعض رشتینی مستضعفین (ضعیف کړې شوی) خلکو حالت بیانوي۔

حِيلَةً: یعنې چل نۀ ورځي چه دار الایمان یا دار الامان ته لاړ شي او د مکې نه په کومه طریقه وځي، او سبیل دا چه لاره هم ورته نۀ ده معلومه او څه ذریعه د رسیدلو هم ورسره نشته۔

عَسَى اللَّهُ: مفسرینو وئیلي دي چه عسیٰ د الله د طرفنه د وجوب او یقین دپاره وي۔

وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا
او هغه څوك چه هجرت اُوکړي په لاره د الله کې مونده به کړي په زمکه کې ځایونه د آرام (یا فائدې)
كَثِيرًا وَسَعَةً وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ
ډیرې او فراخي او څوك چه اُوځي د خپل کور نه چه هجرت کونکې وي الله او د هغه رسول ته بیا
يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿١٠٠﴾
لاندې کړي دۀ لره مرګ نو یقیناً واقع شو اجر د هغه په الله باندې او دې الله بخنه کونکې رحم کونکې۔

تفسیر: مخکې آیت کې د هجرت نۀ کولو سزا بیان شوه، نو پدې آیتِ کریمه کې هجرت ته ترغیب ورکړې شویدې چه دا مۀ وایه چه زه هجرت وکړم، پوله پټې او کور به رانه پاتې شي، نو اُوسیږم به چرته او خوراك به د کوم ځای نه کوم؟ الله فرمائي چه مؤمن کله د خپل کور نه د خپل دین د حفاظت د خاطره د هجرت په نیت سره راوځي، نو د الله په زمکه به هغه ته د سر پټولو ځایِ ملاویږي او رزق به هم ملاویږي او که د هجرت کولو سره منزلِ مقصود ته د رسیدو نه مخکې دۀ ته مرګ راغلو نو د هغه دپاره به د هجرت اجر او ثواب لیکلې شي لکه چه په حدیث کې راغلي دي چه د عمل دارومدار پۀ نیت دې۔

شان نزول

ددے آیت د سبب نزول په باره کی ابن ابی حاتمؒ او ابو یعلیٰؒ وغیره په جیّد سند سره د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه ضَمُرَه بن جُنُدب د خپل کور نه د هجرت په نیت را ووتو او رسول الله ﷺ ته د رارسیدو نه مخکی په لاره کی وفات شو نو دا آیت نازل شو۔ او مفسرینو ددهٔ قصه داسے لیکلے ده، کله چه مخکی (۹۷ او ۹۹) آیتونه نازل شو او په هغے کی چه کوم وعیدونه ذکر وو د هغے نه هغه مسلمانان خبر شو چه په مکه کی وسیدل او لا هجرت ئے نهٔ وو کړے نو یو صحابی (چه حَبیب بن ضَمُرَه یا ضَمُرَه بن جُندب) ډیر بوډا وو مزل ئے نهٔ شو کولے) خپلو زامنو ته ئے وویل چه ما مدینے منورے ته بوځئ، نو زامنو ئے مدینے ته په اُوږو باندے سور روان کړو ځو کله ئے چه تنعیم (چه اُوس ورته مسجد عائشهؓ هم وائی) ته ورساوه نو هلته وفات شو نو ځینی صحابه کرامو وفرمایل : که دا مونږ ته رارسیدلے وے نو اجر به ئے پوره شوے وے، نو زامن ئے رسول الله ﷺ ته راغلل او دا قصه ئے ورته بیان کړه نو دا آیتونه نازل شول۔

(القرطبی واسباب النزول للواحدی، والتحریر والتنویر لابن عاشور)۔

او په بعض روایاتو کی دی چه مشرکانو ورپورے خندا شروع کړه چه نهٔ په خپل کور کی پاتے شو او نهٔ مقصد ته ورسیدو۔ (بغوی)

امام احمدؒ د عبدُ الله بن عَتِیك ﷺ نه روایت کړیدے چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه څوك د خپل کور نه د هجرت په نیت اُوځی او د خپلے سورلۍ نه راپریوتو مړ شو، نو د هغه اجر د الله په نیز ثابت شو۔ (وفیه عنعنة محمد بن اسحاق وبقیة رجاله ثقات)۔

مُرَاغَمًا : د رُغام نه دے او رُغام په اصل کی ډیرے نرمے خاورے ته وائی (مفرداتِ راغب) او رَغِمَ الْاَنُفُ (په خاورو باندے د پوزے ککړ کول) د خجالته کولو او ذلیله کولو نه کنایه وی او مُرَاغم هغه فائدو ته وائی چه دشمن په هغے سره ذلیله کیږی، نو معنیٰ ئے دا جوړیږی څوك چه د الله دپاره هجرت وکړی نو په زمکه کی به دومره فائدے مونده کړی چه د هغے په سبب به دشمن خړ او خجالته کړی۔

امام بخاریؒ حاصل معنیٰ کړیده اَیُ مُهَاجَرًا۔ یعنی ځایونه د هجرت به مونده کړی۔

سُدیؒ وائی: مُبْتَغًی لِلْمَعِیْشَةِ۔ یعنی ځای د طلب کولو د ژوند۔ (طبریؒ)

مجاهدؒ وائی : مُتَزَحْزَحًا عَمَّا یَکْرَهُ۔ د مکروه (ناکاره) څیزونو نه د خلاصۍ ځای۔ (بغویؒ)

د هجرت فائدے

صحابه کرامؓ هجرت وکړو نو الله تعالیٰ ورته په مدینه کی ځایونه ورکړل او په آسانئ ئے ورته رزقونه ورکړل او بیا په جهادونو کی د غنیمتونو په وجه الله تعالیٰ فراخه رزقونه ورکړل او جائیدادونه ورته ملاؤ شول۔

او په هر دور کی چه څوك هجرت وکړی نو الله تعالیٰ ورته صحیح عقیدے ورنصیب کړی، علمونه او عقل ئے زیات شی او په هر ملك کی ورته د وسیدلو موقعه ملاؤ شی، مختلفه دنیا وینی او یو مجاهد مړ شی نو د هغے په بدله کی ورته الله تعالیٰ ډیر بچی ورکړی۔ ځکه د الله تعالیٰ قانون دا دے: مَنْ تَرَكَ شَيْئًا لِلّٰهِ عَوَّضَهُ اللّٰهُ خَيْرًا مِنْهُ ۔ (رواه احمد باسناد صحیح) چا چه د الله دپاره څه شے پریخودو نو الله به ورته په عوض کی د هغے نه غوره ورکړی۔

د هجرت حکمة او د مشروعیت اسباب

د آیتونو او احادیثو نه داسے معلومیږی چه هجرت د دریے حکمتونو او اسبابو په وجه مشروع شوے وو (۱) اول دا چه د مسلمان دپاره دا جائز نهٔ دی چه په یو داسے وطن کی وسیږی چه هلته ذلیله او پابند وی او دینی او شخصی آزادی هغه ته حاصله نهٔ وی نو هر مسلمان چه کله په دینی فتنوکی اخته کیږی یائے څوك نهٔ پریدی نو هغه باندے هجرت لازمیږی۔

(۲) تَلَقِّي الدِّيْنِ وَالتَّفَقُّهُ فِيْهِ۔ یعنی دین زده کول او په دین کی مهارت حاصلول۔ او دا په زمانه د رسول الله ﷺ کی ګران وو ځکه چه په ابتدائی دور کی د مشرکانو قوت زیات وو نو رسول الله ﷺ نشو کولے چه علاقو ته مُعلمین او داعیان ولیږی چه خلکو ته دین بیان کړی نو په خلکو لازم وه چه رسول الله ﷺ ته به هجرت کوی۔

نو هر هغه ځای چه په هغے کی علماء نهٔ وی چه خلك ترے دین یاد کړی نو د هغے نه د مسلمان دپاره هجرت لازم دے۔

(۳) مسلمانانو دپاره یو حکومت ضروری دے چه د اسلام دعوت عام کړی نو کله چه یو اسلامی حکومت ضعیف وی نو په نورو مسلمانانو لازم دی چه دلته راشی او هجرت وکړی دے دپاره چه اسلامی حکومت او د مسلمانانو جماعت مضبوط شی۔ او دا دریے واړه اسباب په فتح د مکه کی موجود شو نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

[لَا هِجُرَةَ بَعُدَ الْفَتُحِ] چه د مکې د فتح نه روستو هجرت نۀ کيږي۔ (تفسير المنار۵/۲۹۴)۔
إِلَى اللّٰهِ : يعنى د الله د رضا دپاره به وى او (وَرَسُولِهٖ) په هغه زمانه کې مدينې ته هجرت فرض وو، او اوس چونکه رسول الله ﷺ وفات دے نو د هغه د سنت مطابق هجرت به کوى۔ او مهايمیؒ وئيلى دى چه ددينه مراد هغه ځاى دے چه الله تعالىٰ او د هغه رسول په هغې کې حکم ورکړيدے۔

او ابوحيانؒ او زمخشرى وئيلى دى چه هر هجرت چه د دينى غرض او مقصد دپاره وى لکه طلب د علم، جهاد، حج، يا داسې ښار ته سفر کول چه په هغې کې د الله ډير عبادت او د رسول الله ﷺ ډير طاعت کيږى او د حلال رزق د طلب دپاره دا ټول په هجرت الى الله والرسول کې داخل دى او که په لاره کې مړ شو نو اجرئې په الله باندے واقع دے۔ (قاسمی)۔
فَقَدُ وَقَعَ أَجُرُهٗ عَلَى اللّٰهِ : يعنى الله په ځان باندے ددۀ اجر لازم کړو او دا د الله د طرفنه تفضل او احسان دے او استحقاقى وجوب نۀ دے۔

وَإِذَا ضَرَبُتُمُ فِي الْأَرُضِ فَلَيُسَ عَلَيُكُمُ جُنَاحٌ أَنُ تَقُصُرُوا
او کله چه تاسو سفر کوئ په زمکه کې نو نشته په تاسو باندے ګناه چه کوتاه والے وکړئ تاسو
مِنَ الصَّلَاةِ إِنُ خِفُتُمُ أَنُ يَّفُتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا
د مانځه نه که يريدلئ تاسو چه په فتنه کې به واچوى تاسو لره کافران
إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمُ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿١٠١﴾
يقيناً کافران دى ستاسو دپاره دشمنان ښکاره۔

تفسير : پدے آيت کې الله تعالىٰ د صلاة الخوف او صلاة السفر حکم بيانوى،
ربط : چونکه هجرت بغير د سفر نه ممکن نۀ وو پدے وجه د هجرت د احکامو سره په سفر کې د مانځه حکم بيانول مناسب شو، چه مسلمانان کله په سفر کې وى نو د څلورو رکعاتو والا مونځ دِ دوه رکعاته اُوکړى۔ او د مانځه حکم څکه کوى چه مشرکانو د مانځه په وخت په مسلمانانو د حملې اراده کړے وه۔
۲- ربط : مخکې هجرت ذکر شو نو اُوس وائى چه هجرت خو خامخا سفر غواړى او سفر سره مشقتونه راجمع کيږى نو په هغې کې د مانځه د قصر حکم بيانوى۔
او پدے سورت کې د مسلمانانو دپاره امور انتظاميه بيانيدل نو دا هم د امور انتظاميه ؤ

نه ده چه د مسلمانانو سفرے به خنګه وی او کوم کوم کارونه به کوی او مسلمانان دے د سفر د وجه نه په مانځه کی سستی ونکړی.

۳- مخکی د جهاد او هجرت احکام بیان شول او ښکاره ده چه د جهاد سره په اکثرو وختونو کی خوف او یره ملګری وی نو پدے آیتونو کی د خوف او د سفر په مانځه باندے حکم کوی چه امت ته آسانی ورکړی.

ضَرَبۡتُمۡ فِی الۡاَرۡضِ : په عربئ کی ضرب په معنیٰ د وهلو سره استعمالیږی مګر چه کله زمکے سره ذکر شی نو بیا ترے مراد مزل او سفر کول وی، او په مزل کی هم زمکه په خپو سره وهلے کیږی. او دلته ترے د کلی نه بهر مزل کول دی یعنی سفر.

فی الارض : دا لفظ تولو سفرونو ته شامل دے چه هغه دنیاوی سفرونه وی او که دینی، پدے وجه ئے (فی سبیل الله) تهکے نۀ دے وئیلے.

اَنۡ تَقۡصُرُوۡا :

مسئله

په سفر کی د قصر څه حکم دے؟ (۱) نو اهل ظواهر او احناف وائی چه قصر واجب دے او دا قول د عمر، علی او ابن عمر، جابر او ابن عباس رضی الله عنهم دے او دا قول د حسنؒ، عمر بن عبد العزیزؒ او قتادهؒ دے او دا مذهب د امام مالکؒ هم دے. (۲) ځینی اهل علمؒ وائی چه قصر رخصت دے او اتمام افضل دے، او دا قول د عثمان او سعد بن ابی وقاص رضی الله عنهما نه نقل دے او دا مذهب د امام شافعیؒ دے، او هغه دلیل نیسی په عمل د عثمان او عائشه رضی الله عنهما سره چه هغوی به په سفر کی اتمام کولو. (بغویؒ وتحفة الاحوذی ۸۲/۲) او امام نوویؒ د امام شافعیؒ نه نقل کړیدی چه د هغه مشهور صحیح قول دا دے چه قصر افضل دے او اتمام جائز دے. (شرح النووی علی مسلم) صحیح دا ده چه قصر سنت دے او اتمام جائز دے او پدے باندے اته دلیلونه په فتاوی الدین الخالص (٦) او الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح کی وګورئ.

او بله دا چه دلته الله تعالیٰ فرمایلی دی: ﴿فَلَیۡسَ عَلَیۡکُمۡ جُنَاحٌ﴾ یعنی ستاسو دپاره په قصر کی ګناه نشته. مګر راجح دا ده چه په سفر کی قصر سنت عمل دے او افضل دے او اتمام جائز دے. مسلم، احمد، ابوداود او ترمذی د یعلیٰ بن اُمیه نه روایت کړیدے چه عمر ﷠ د رسول الله ﷺ نه ددے آیت په باره کی تپوس اُوکړو: چه آیا د امن کیدو نه روستو به

هم د قصر مونځ کولے شي؟ نو نبي ﷺ اُوفرمايل : دا د الله صدقه ده، مسلمان دِے دا قبوله کړي. او د رسول الله ﷺ عمل هم دا وو چه په سفر کې به ئے په غير د حالت د يرے نه قصر کولو.

اَنْ تَقْصُرُوْا : دلته قصر په اعتبار د کميت سره او قصر په اعتبار د کيفيت سره دواړه مراد کيدل صحيح دي، يعني د څلور رکعاتي مونځ په ځاى دوه رکعاته وکړي، لکه دا هم په احاديثو کې راغلے دے، او روايت د يعلى بن اميةؒ پرے دليل دے. او په اعتبار د کيفيت سره قصر دا دے چه د مانځه ترتيب بدل کړي لکه په صلاة الخوف کې چه کومو طريقو سره کيږي نو دا آيت دواړو ته شامليږي.

د قصر طريقے

کله قصر پدے طريقه کيږي چه قراء ت لنډ وکړي لکه رسول الله ﷺ د سهار مونځ په آخري دوه سورتونو سره وکړو. او کله قصر کيږي په پريخودو د سننِ رواتبو سره. او بله آساني هم پکې په احاديثو کې راغلے ده چه جمع بين الصلاتين پکې وکړے شي.

سوال وجواب

سوال دا دے چه ﴿اِنْ خِفْتُمْ﴾ که تاسو يريږئ نو قصر کوئ)) دا خو دلالت کوي چه په حالت د امن کې قصر نۀ دے جائز؟

جواب دا دے چه دا قيد په هغه زمانه کې د مسلمانانو د حال بيانولو دپاره وو يعنې په طريقه د عادت سره وئيلے شويدے چه په هغه زمانه کې عادت دا وو چه په سفرونو کې به د کافرانو د طرف نه يره وه. نو دا قيد واقعي دے احترازي نۀ دے.

دويم دا چه زمونږ دين په قرآن او حديث دواړو کې دے نو په آيت کې د يرے حالت ذکر شو او په احاديثو کې بغير د يرې د حالت نه هم قصر ثابت دے نو دواړه به منلے شي لکه:

ترمذيؒ، نسائيؒ او ابن ابى شيبةؒ د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت کړيدے چه نبي کريم ﷺ د مدينے منورے نه د سفر دپاره اُووتو او هغه سره د رب العالمين نه سوئ د هيچا نه يره نۀ وه. او هغه دوه دوه رکعته مونځ اُوکړو. او بخاريؒ او نورو محدثينو د انس ﷺ نه روايت کړيدے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د مدينے نه مکے ته روان شو او هغه به دوه دوه رکعاته مونځ کولو ترديے چه مونږ مدينے ته راواپس شو.

ان يفتنکم الذين کفروا : دلته فتنه په معنىٰ د حملے کولو دے په مانځه کې، يا په مانځه

کې د خشوع نه اړول او منع کول دي۔

فائده : اميه بن خالدؒ د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه تپوس وکړو :

[إِنَّا نَجِدُ صَلَاةَ الْحَضَرِ وَصَلَاةَ الْخَوْفِ فِي الْقُرْآنِ وَلَا نَجِدُ صَلَاةَ السَّفَرِ فِي الْقُرْآنِ]

مونږ په قرآن کريم کې د حضر او د خوف مونځ مومو ليکن د سفر مونځ په قرآن کريم کې نۀ مومو (ځکه چه په ظاهره کې د سفر لفظ پکې نشته او د خوف لفظ شته) نو هغه ډير ښه ايماني جواب ورکړو : [يَا ابْنَ أَخِي ! إِنَّ اللَّهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا ﷺ وَلَا نَعْلَمُ شَيْئًا فَإِنَّمَا نَفْعَلُ كَمَا رَأَيْنَا مُحَمَّدًا ﷺ يَفْعَلُ اه]۔

اے وراره ! يقيناً الله تعالىٰ محمد ﷺ راوليږلو او مونږ په هيڅ نۀ پوهيدو نو مونږ به هغه عمل کوو کوم باندے چه مونږ هغه ليدلے دے چه هغه کړيدے۔ يعنی نبی کريم ﷺ د قرآن خلاف نۀ کوی بلکه د رسول الله ﷺ عمل د قرآن کريم تشريح ده۔ (تفسير المنار ۳۰۲/۵) ومحاسن التاويل (۴۵۷/۲) وتفسير المراغي)

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ
او کله چه ته ئے په دوی کې او اُودروے دوی دپاره مونځ نو ودِ دريږی يوه ډله د دوی نه ستا سره
وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَائِكُمْ وَلْتَأْتِ
او ودِ نيسی وسله خپله نو کله چه دوی سجده وکړی نو شي دِ روستو ستاسو نه او رادِے شي
طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ
ډله بله چه مونځ ئے نۀ وی کړے نو مونځ دِے وکړی ستا سره او ودِے نيسی يره خپله او وسلے خپلے،
وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ
خوښوی کافران ارمان چه تاسو غافله شئ د وسلو خپلو نه او سامانو نو خپلو نه نو حمله به وکړی
عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ
په تاسو باندے حمله يوه (په يو ځل) او نشته گناه په تاسو باندے که وی په تاسو باندے
أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ
تکليف د وجے د باران نه يا يئ تاسو ناجوړه چه کيږدئ وسلے خپلے او ونيسئ يره خپله

﴿إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا﴿١٠٢﴾

یقیناً الله تعالیٰ تیار کړیدے کافرانو لره عذاب سپکونکے۔

تفسیر: پدے کی او ددے نه روستو آیت کی د یرے په حالت کی د مانځه ادا کولو کیفیت بیان شویدے۔ نو دا قصر په اعتبار د کیفیت سره دے۔

شان نزول

احمدؒ، ابوداودؒ، او نسائیؒ وغیرهم روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ او صحابه کرام مکے ته روان وو چه د عُسفان په مقام کی ئے پړاؤ اچولے وو (چه دا د مکے نه اتیا کیلو میټره وړاندے ځای دے د مدینے په لاره دے- المعالم الاثیرة ١٦٥/١) نو مشرکانو خپل مینځ کی اُوونیل (پدے وخت کی د دوی مشر خالد بن ولید دے چه لا د ایمان توفیق ورته نهٔ دے ملاؤ شوے) چه دا خلك به لږ وخت روستو یو بل مونځ کوی چه دوی ته د پیغلو جینکو نه هم ډیر محبوب دے (یعنی د خپلو پیغلو دومره حفاظت او اهتمام نکوی څومره چه ددے مونځ کوی) نو مونږ به په دوی باندے حمله اُوکړو، نو جبریل علیه السلام دا آیت راوړو او رسول الله ﷺ ته ئے خبر ورکړو چه دا خلك دوه تقسیمه کړه، نو رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ د یرے په حالت کی د (مازیګر) مونځ اُوکړو۔ او الله تعالیٰ د دشمن د حملے نه محفوظ کړل، کله چه خالد بن ولید دا حالت ولیدو نو د رسول الله ﷺ په قیادت باندے ئے تعجب وکړو۔

امام ابویوسفؒ او اسماعیل بن عُلیّهٔ وئیلی دی چه د یرے مونځ د رسول الله ﷺ پورے خاص وو ځکه چه الله د یرے د مانځه دپاره د رسول الله ﷺ کیدل شرط ګرځولی دی، او هغه نه روستو به د خوف په وخت دوه جَمعے کول پکار وی، او مُزَنی شافعیؒ وئیلی دی چه صلاة خوف منسوخ شویدے لیکن دا دواړه قولونه صحیح نهٔ دی، ځکه چه د رسول الله ﷺ نه روستو صحابه کرامؓ په یره کی مونځونه کړیدی او د رسول الله ﷺ په سنت ئے عمل کړیدے۔ او د (كُنْتَ) خطاب اول نبی کریم ﷺ ته وو، او بیا د هغه نائبانو امیرانو ته دے۔

د صحابه کرامو رضی الله عنهم صلاة خوف

١- عبد الرحمن بن سمره رضی الله عنه د مجاهدینو سره په کابل کی صلاة خوف ادا کړیدے

(سنن ابی داود ۱/۱۷۷) دے صحابیؓ په یو دیرشم (۳۱) هجری کال کی کابل فتح کړو (چه اُوسیدونکی ئے بت پرستان وو) او هلته ئے داسے یو بُت هم مات کړو چه مُجسمه ئے د سرو زرو او سترګی ئے د یاقوتونو نه جوړے وے. (تاریخ ابن خلدون ۲/۱۳۳)
دغه صحابی د فتح نه روستو بیرته ستون شو او تقریباً په پنځوستم (۵۰) هجری کی په بصره کی وفات شو او هلته دفن شو (الاستیعاب لابن عبد البر ۲/۳۹٤)
۲- سعید بن العاص ﷺ د طبرستان په غزا کی د خپلو ملګرو مجاهدینو نه پوښتنه وکړه چه په تاسو کی چا د نبی کریم ﷺ سره صلاة خوف ادا کړیدے؟ نو حذیفه ﷺ جواب ورکړو چه ما ادا کړیدے نو حذیفه مخکی شو او مجاهدین ئے په دوه ډلو تقسیم کړل او صلاة خوف ئے ورته وکړو او هیچا ورباندے اعتراض ونکړو. (سنن النسائی : ۱۵۲۹) واحمد و سنده صحیح- البانی و شعیب)

د صلاة الخوف کیفیتونه

د رسول الله ﷺ نه صلاة خوف په پنځه ځایونو کی نقل دے لکه ۱- د ذات الرقاع غزا، ۲- د عُسفان غزا ۳- د نجد غزا ٤- د بطن نخلے غزا ٥- د ذی قَرَد غزا.
(البحر المحیط ٤/٥٠)
او امام قرطبی وئیلی دی چه د رسول الله ﷺ نه په لسو ځایونو کی صلاة خوف نقل دے پدے وجه په صلاة خوف کی ډیر زیات کیفیات او طریقے نقل دی چه ځینی مفسرینو ځلیریشتو ته رسولی دی، او ابوحیانؒ په البحر المحیط کی (٤/٤٩) کی یولس کیفیتونه ذکر کړیدی او صاحب د المنار (٥/٣٧٥) شپږ کیفیتونه اصول ګنړلی دی. او امام ابوداودؒ پکی ډیر کیفیتونه روایت کړیدی. زاد المعاد کی اته کیفیات خودل شویدی او همدا په فتاوی الدین الخالص (٦) کی هم ذکر دی.
امام شوکانیؒ وائی چه په احادیثو کی د صلاۃِ خوف ډیر صورتونه راغلی دی. او ټول صورتونه صحیح دی. په هر صورت باندے عمل کول جائز دی. چا چه یو صورت اختیار کړیدے او باقی صورتونه ئے پریخی دی دوی غلطی کړیده.
كُنْتَ فِيهِمْ : **فائده** : دا ښکاره دلیل دے چه رسول الله ﷺ په امت کی په هر ځای کی موجود نهٔ دے او حاضر ناظر نهٔ دے ځکه چه که هغه حاضر ناظر وی نو بیا خو ضروری ده چه رسول الله ﷺ جمعے ته مخکی شی، د هغه په موجودګئ کی د بل هیچا د امامتئ

حق نهٔ کيږي، نو دا عقيده د شرك ده چه څوك رسول الله ﷺ هر ځاى حاضر ناظر گڼري۔
فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ : د مانځه دومره اهتمام دے چه په جهادونو او سختو وختونو كي به هم نشي پريخودلے۔

فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ : د صلاة خوف طريقي

(۱) په احاديثو كې ددے مونځ يو صورت دا راغلے دے چه د مسلمانانو فوج به په دوه ډلو تقسيم شي، يوه ډله به د دشمنانو مخے ته ودريږي او يوه ډله به د فوج د امير سره يو ركعت اُوكړي، دے نه روستو به امام په خپل ځاى ودريږي او مونځ كونكے ډله به دويم ركعت كولو سره سلام نه روستو د دشمنانو مقابلے ته ودريږي،
او دويمه ډله به راشي د امام شا ته به ودريږي امام به هغوى ته خپل دويم ركعت اوكړي او سلام به واړوي او دويمه ډله به خپل دويم ركعت ځانله اُوكړي او سلام به واړوي، په دواړو حالتونو كې به د مسلمانانو سره وسله وي، دے دپاره چه دشمنان پرے د خالي لاس گڼړلو سره حمله ونكړي۔
فَإِذَا سَجَدُوا : د سجدے نه مراد يو ركعت دے ځكه چه ركعت په سجده سره پوره كيږي۔ نو ددے نه بيا دوه طريقے معلوميږي (۱) يو دا چه د امام دوه ركعاته شي او د مقتديانو صرف يو يو ركعات وشي او بس، او دا هم په احاديثو كي ثابت دے او پدے باندے عطاءؒ، جابرؓ، حسنؒ، مجاهدؒ، حكمؒ، قتادهؒ، حمادؒ قول كړيدے او دا مذهب د ضحاكؒ او طاووسؒ دے، او امام اوزاعيؒ، اسحاق بن راهويهؒ، ابن حزم ظاهريؒ او امام مسلمؒ او عام اهل الحديث پرے قول كړيدے او دا د ابن عباسؓ نه هم منقول دے۔ (قاسمي ٢/٤٦٩) ورواه مسلم في صحيحه : وفي الخوف ركعة)
(۲) دويمه طريقه پكي دا ده چه دوه ډلے به د امام سره يو يو ركعت وكړي او بيا به ځانله يو يو ركعت وكړي لكه مخكې ئے طريقه ذكر شوه۔
(۳) دريمه طريقه ترے اشارةً معلوميږي هغه دا چه (فَإِذَا سَجَدُوا) نه مراد پوره مونځ دے لكه په بعض احاديثو كې د ذكر د سجدے نه مراد مونځ وى لكه د تحية المسجد په باره كي راغي (فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ) يعني دوه ركعاته دے وكړي۔ نو طريقه دا شوه چه امام به يوے ډلے ته پوره دوه ركعاته وكړي، بيا به بله ډله راشي هغوى ته به هم پوره دوه ركعاته وكړي نو پدے كې د امام دوه ركعاته فرض او دوه نفل شو او د مقتديانو فرض، نو ددے نه

ثابته شوه چه اقتداء د مفترض (فرض مونځ کونکی) د متنفل (نفل مونځ کونکی) پسے جائز ده۔او دا هم د رسول الله ﷺ نه په احادیثو کی نقل ده۔

فَلْيَكُونُوا مِنْ وَرَآئِكُمْ : یعنی دغه سجده کونکی دِے لاړ شی او د دشمن مقابلے ته دِے ودریږی خو کله چه دویمے ډلے یو رکعت وکړو نو هغوی به راشی او یو رکعت به ځانله وکړی۔ او ددے نه معلومه شوه چه په مانځه کی دننه تلل راتلل او صفونه برابرول یا د دشمن مخے ته ودریدل جائز دی، او په مینځ کی به خبرے اترے نهٔ کوی ځکه چه دوی د مانځهٔ په حالت کی دی۔ دا پکی څلورمه طریقه شوه۔

وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ : یعنی دویمه ډله به د امام خوا ته راشی کوم چه مونځ نهٔ دے کړے او پدے وخت کی به امام ورته انتظار کی وی چه کله دویمه ډله راورسیدله او نیت ئے وتړلو نو امام بهٔ د خپل دویم رکعت قراءت شروع کړی، جهری وی او که سری۔

فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ : ددے نه مراد یا پوره مونځ دے لکه په یوه طریقه کی ذکر شو یا یو رکعت دے چه دا ددے دویمے ډلے اول رکعت دے او د دویمے دپاره دویم دے۔

دلته د مقتدیانو د دویم دویم رکعت ذکر ونشو ځکه چه رسول الله ﷺ هغه په خپل عمل سره بیان کړیدے، نو په بعض احادیثو کی داسے طریقه هم راغلے ده چه کله دویمه ډله راشی او د امام سره خپل اول رکعت وکړی نو امام به ورته په تشهد کی په انتظار کی کینی او دوی به پاځیږی او خپل دویم رکعت به وکړی بیا به د امام سره په تشهد کینی او د امام سره به په شریکه سلام وګرځوی۔او اولنئ ډله به خپل دویم رکعت ځانله وکړی۔ (قاسمیؒ)۔ او پدے حالت کی چه امام به دویم رکعت ته پاځیږی او دوی به ترے مخکی شی ځان له به یو رکعت وکړی، سلام به وګرځوی او لاړ به شی۔(دا پنځمه طریقه شوه)۔

وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ : یعنی په مانځه کی به بیدار وسیږی او وسله به هم ځان سره ونیسی او دا حکم ئے ددے دویم رکعت په مقام کی ذکر کړو ځکه چه په اول رکعت کی چه کله دوی ولاړ وی نو دشمن به ګمان کوی چه دوی جنګ ته ولاړ دی خو چه کله دوی دویم رکعت ته راپاځیږی نو دشمن ته به ښکاره شی چه دوی په مانځه کی دی نو هغوی به د حملے فرصت مونده کړی نو پدے وجه حکم وشو چه بیدار وسیږئ او وسله ځان سره ونیسئ۔

او دا دلیل دے چه په مانځه کی د خشوع سره بل طرف ته فکر وړل هم جائز دی او دا د ژورو زړونو والا دپاره آسانه ده۔ (واحدیؒ)

وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا : د آیت دا جمله د مخکنی شان نزول سره متعلق ده. مګر په الفاظو کی ئے عموم دے چه ټول کافران دا غواړی چه مسلمانان دِے په غفلت کی ژوند تیر کړی او هیڅ وسله دِے ورسره نهٔ وی، نهٔ دے جوړه کړی او نهٔ دے ئے لاس کی راواخلی او نهٔ دے پرے پوهه شی لکه اُوس هم د ټولو کفارو دا ارمان او هدف دے، یهود او نصاراؤ زر کاله مخکی د مسلمانانو په خلاف وسله جوړول شروع کړل او مسلمانان ئے په خواهشاتو مشغول او غافل کړل او دا ئے ورته ووئیل چه مونږ درله وسله جوړه وو او خپله ئے مختلف قسمه وسلے جوړے کړے چه عام اسلامی ملکونه اُوس هغوی ته محتاج دی حال دا چه ټول طاقتونه، د تیلو ذخائر، جواهرات، هر قسم خوراکی مواد او نور وسائل په مشرقی ممالکو کی زیات دی. او حال دا چه کافران د مسلمان د وسلے نه یریږی، او هغه د مسلمانانو سره نشته، حکامو پدے قول د الله تعالیٰ عمل ندے کړے ﴿وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾. (الانفال: ٦٠)

وَأَمْتِعَتِكُمْ : یعنی هغه سامانونه او وسائل چه تاسو پرے مقصد ته رسیږئ.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ : د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه عبد الرحمن بن عوف ﷺ زخمی شو او د وسلے د پورته کولو طاقت ئے نشو لرلے نو الله دا جمله نازله کړه چه ولا جناح علیکم الخ (بخاری ٦٦١/٢) یعنی په تاسو ګناه نشته چه څه تکلیف لرئ لکه باران وی یا مریضان یئ چه خپلے وسلے کیږدئ مګر بیا هم (وَخُذُوا حِذْرَكُمْ) د خپل بچاؤ او د بیدارئ سامان ځان سره یاد ساتئ. یا دا چه وړه وړه وسله ځان سره واخلئ.

فائده : آیا په مانځه کی د وسلے اخستل واجب دی؟ نو د احنافو په نیز دا حکم د وسلے اخستلو مستحب دے (تفسیر المدارك ٣٤٤/١)

لیکن راجح دا ده چه دا حکم واجب دے ځکه چه دلته الله تعالیٰ صرف معذورو خلکو ته د وسلے کیخودلو اجازه ورکړه نهٔ نورو ته لکه دغه شان نزول پرے دلیل دے.

فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ
پس کله چه تاسو ادا کړو مونځ نو یادوئ الله تعالیٰ لره په ولاړه او په ناسته او په
جُنُوبِكُمْ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ
اړخونو خپلو نو کله چه په آرام شئ تاسو نو پابندی کوئ د مانځه یقیناً مونځ

كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا ﴿۱۰۳﴾

دے په مؤمنانو باندے فرض کړے شوے وخت په وخت۔

تفسیر : دا د مخکی آیت دپاره تتمه ده او پدے آیت کی دوه تفسیرونه دي :

(۱) یو دا چه د قضاء نه مراد د مانځه نه فارغه کیدل او د مونځ پوره کول دی، او د ذکر نه مراد د مانځه نه روستو اذکار کول دی سره د نورو حالتونو نه یعنی کله چه تاسو د مانځه نه فارغه شئ نو بیا د الله په ذکر کی مشغوله شئ۔ او عام حالت کی هم ذکر کوئ۔

(۲) تفسیر : یا دا چه قضاء په معنیٰ د ادا سره دے او د ذکر نه مراد مونځ ادا کول دی په دغه درے حالتونو کی او دا مونځ په سختته یره کی مراد دے چه په دغه حالت کی په جماعت سره مونځ نشی کیدے نو معنیٰ دا ده چه کله تاسو په سختته یره کی مونځ ادا کوئ نو که په هر حالت کی یئ، په ولاړه یا ناسته یا اړخ باندے یئ نو ادا ئے کړئ لکه دا حالت په سورة بقره آیت (۲۳۸) کی ﴿ فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا﴾ سره ذکر شوید ے۔

او په داسے وخت کی قبلے ته مخ ګرځول هم فرض نهٔ دی۔اول تفسیر ددے مقام سره ډیر مناسب دے۔

قِيَامًا وَقُعُودًا وَّعَلٰى جُنُوبِكُمْ : پدے آیت کی مؤمنانو ته په هر حال کی د الله د یادولو حکم شویدے او خاصکر کله چه هغوی په حالت د جنګ کی وی، ځکه چه روحانی قوت به په مادی قوت باندے په هر حالت کی غالبه کیږی، پدے وجه د اسلام مجاهدین ډیے صرف په مانځه کی په ذکر باندے اکتفاء نهٔ کوی بلکه په هر حال کی ډیے ژبه د الله په یادولو لمده ساتی۔ (تیسیر الرحمن)

فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ : اَیْ سَكَنَتْ قُلُوْبُكُمْ بِالْاَمْنِ) یعنی کله چه ستاسو زړونه په آرام شی او په امن کی شی نو بیا په خپل اصلی حالت سره مونځ ادا کړئ، او هیڅ هیئت ورله مهٔ بدلوئ (قاسمی) نو که حالت د سفر وی نو مسافرانه مونځ به کوی او که حالت د حضر وی بیا به پوره مونځ کوی۔

كِتَابًا مَّوْقُوتًا: اَیْ فَرْضًا مُوَقَّتًا۔ یعنی فرض کړے شویدے په خپل خپل وخت سره۔

او دا جمله ددے دپاره وویل شوه چه که څوك دا وَهم وکړی چه هرکله د جنګ حالت دے او سخت مشقت دے نو دا مونځ دے بلے ورځے ته روستو کړے شی یا دے بیخی پریخودے شی نو الله فرمائی چه مونځ په خپل خپل وخت مقرر کړے شویدے، او الله پدے راضی

کیږی چه د مونځ اهتمام دِے وکړے شی او په خپل وخت دِے ادا کړے شی، پدے وجه ئے په حالت د مشقت کی هم معاف نکړو، او نهٔ ئے ددے په روستو والی حکم وکړو بلکه د هر حالت دپاره ئے خپله خپله طریقه راولیږله۔ او پدے وختونو کی کمال دے پدے وجه که یو تن د ماسپښین مونځ په لسو بجو کی وکړی، یا د سهار مونځ نمرخاته کی وکړی، نو اګرکه ډیر په خشوع سره وی لیکن د الله په نیز مقبول نهٔ دے ځکه چه د وخت نه وتلے دے۔

ځینی ناپوهه خلك دا آیت په سفر کی د جمع بین الصلاتین د رد دپاره پیش کوی، دا قرآن پیش کول دی د احادیثو د رد کولو دپاره، او دا د اهل زیغو طریقه ده، دا مسکین پدے خبره نهٔ پوهیږی چه د مانځه د وختونو بیان چا کړیدے؟، قرآن کی خو د هغے تفصیلی بیان نشته، دا رسول الله ﷺ بیان کړیدی

نو دغه شان رسول الله ﷺ په سفر کی د جمع بین الصلاتین رخصت هم ورکړیدے، لکه پدے باندے ګڼړ احادیث دلیل دی او جمع حقیقی پکی ذکر ده چه په کتابونو د حدیث کی ئے کتلے شئ او زمونږ ((الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح)) کی ئے تفصیل وګورئ۔

او ددے وجه نه چه دا په احادیثو کی بیان کړے شویدی نو اهل الحدیث د سهار او ماسخوتن مونځ نهٔ یو ځای کوی ځکه چه ددے ثبوت نشته صرف د ماسپښین او مازیګر یا د ماښام او ماسخوتن جمع والے جائز ګڼړی۔

فائده : حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : ددے آیت کریمه نه د هغه خلکو دلیل نیول هم ډیر ښائسته ښکاره کیږی چه هغوی جماعت ته فرض وائی ځکه چه د جماعت د وجے نه ډیر کارونه معاف شو نو که جماعت فرض نهٔ وے نو دا کارونه به جائز نهٔ وے۔ (قاسمیؒ)

وَلَا تَهِنُوْا فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ

او سستی مهٔ کوئ په لټولو د قوم (کافرانو) کی (دپاره د جنګ) که یئ تاسو درمند

فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ وَتَرْجُوْنَ

(صبر کوئ) ځکه چه دوی درمند کیږی لکه څنګه چه تاسو درمند کیږئ او امید لرئ تاسو

مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۰۴﴾

د الله تعالیٰ نه د هغه ثواب چه امید نهٔ لری دوی (د هغے) او دے الله پوهه حکمتونو والا۔

تفسیر : پدے کی په قتال کولو باندے تیزی او تشجیع بیانوی او فرمائی چه د دشمنانو

په طلب کولو کی کمزورتیا او سستی مهٔ ښکاره کوئ، ځکه که تاسو ته تکلیف رسی نو هغوی ته هم تکلیف رسی، دا تکلیف تاسو پورے خاص نهٔ دے، دواړه انسانان دی، او مؤمنانو له په جنګ کی زیات صبر ښکاره کول پکار دی ځکه چه دوی د الله د نزدیکت او د هغه د جنت امید ساتی چه کافر هغه امید نهٔ ساتی۔

د مسلمانانو نظر په الله او د هغه په رضا او په شهادت او په آخرت او د الله په وعدو او د اسلامی حکومت په ترقئ باندے وی او د کافرانو نظر صرف په دنیا او خپله تنخواه او نوکرئ او د خپلو مشرانو په حکمونو باندے وی، نو هرکله چه هغوی د دنیا دپاره دومره سخته تیره وی، نو ستاسو خو ډیر لوی هدف دے او لوی همت دے نو د هغے دپاره خو ډیره قربانی پکار ده۔

وَلَاتَهِنُوْا : د وهن معنیٰ مخکی ذکر شویده چه دنیا سره مینه لرل او مرګ بد ګڼل۔

ربط : فَاذْكُرُوْا وَأَقِيْمُوْا وَلَاتَهِنُوْا ۔ یعنی الله یادوئ او مونځونه ادا کوئ او د کافرانو د قتال په لټولو کی سستی مهٔ کوی۔

إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ
یقیناً مونږ نازل کړے په تا باندے کتاب په رشتیا سره دے دپاره چه ته فیصله وکړے په مینځ
النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ﴿١٠٥﴾
د خلقو کی په هغه طریقه چه خودلے ده تا ته الله تعالیٰ او مهٔ کیږه خیانت لره ګرو جګړه کونکے
وَاسْتَغْفِرِ اللهَ إِنَّ اللهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٠٦﴾
(طرفدار)۔ او بخنه غواړه د الله تعالیٰ نه، یقیناً الله تعالیٰ دے بخنه کونکے رحم کونکے۔

تفسیر : ددے ځای نه بل حکم بیانوی چه یو مقصد پدے کی [تَحْكِيْمُ الْكِتَابِ وَالسُّنَّة] دے یعنی خپلے ټولے فیصلے کتاب او سنت ته وړل لازم دی۔

دویم پدے کی [اَلنَّهْیُ عَنِ الْوَكَالَةِ فِی الْمَعَاصِیْ] دے یعنی په ګناهونو کی د چا د طرفنه وکالت جائز نهٔ دے، دا ډیر لوی جرم دے لکه د قاتل او غل او زنا کار نه دفاع کول پکی داخلیږی۔ لکه عام وکالت والا خلك په همدے طریقه وی چه په غلط قانون فیصلے هم کوی او د مجرمانو نه دفاع هم کوی۔

نو دلته د راتلونکی واقعے مطابق فرمائی چه دا مخکنی احکام شرعیه به نافذ کیږی نو

منافقان به ددې خلاف کوي او څه ساده مؤمنان به د دغه کسانو نه دفاع کوي نو الله فرمائي چه پدې سره نظام خرابيږي، دا کار چرته ونکړئ، ځان بيدار کړئ. که په يوه علاقه کې يو نظام شرعي نافذ شو نو دا به په ټولو باندې يو شان نافذ کيږي، نو پدې کې به د چا د طرفنه دفاع نکوئ، که مجرم ستا خپلوان وي، هم دفاع به نهٔ کوئ نو الله پدې آيتونو کې قانون ماتونکي مجرم ته هم د سزا اعلان کړے او د هغوي دفاع کونکو ته هم. او ټولو ته دعوت ورکوي چه د رسول الله ﷺ اطاعت وکړئ او رسول الله ﷺ ته هم وائي چه تهٔ هم احتياط کوه.

شان نزول

د تفسير او د احاديثو په کتابونو کې لکه امام ترمذيؒ اُوږد روايت راوړيدے او شيخ البانيؒ ورته حسن وئيلے دے، خلاصه ئې دا ده چه قتاده بن النعمان رضي الله عنه قصه نقل کوي چه په مونږ کې يوه کورنئ وه چه د اُبيرق ځامن وو بِشر، بَشِير او مُبَشِر نومونه ئې وو چه بشير پکې ډير لوی منافق وو، دوی په جاهليت او اسلام دواړو کې فقر او فاقے والا وو، کله چه به د شام نه چا غنم راوړل نو صرف مالداره سړي به ترے ځانله واخستل او د نور کور والو خوراك به ئې کجورے او وريشے وے (نو غنم په هغه زمانه کې د بسکتهو په شان وو) نو زما ترهٔ رفاعه بن زيد يوه بورئ د وړو واخسته او په کور کې ئې په يوه کوټه کې کيخوده او د هغے سره ئې وسله او زغره او توره هم کيخوده، نو دا کسان د شپے راغلل او دغه کور کې ئې سورے وکړو او دغه وړه او وسله او زغره او توره ئې غلا کړل، نو کله چه سهار شو، ما ته زما تره (رفاعه) ووئيل چه اے وراره! بيګاه شپه زما نه غلا وشوه، نو تهٔ تالاش وکړه، نو مونږ په محله کې تلاش شروع کړو، چا ووئيل چه مونږ بيګاه شپه د اُبيرق ځامن ليدلي وو چه په کور کې ئې اُور بل کړے وو او ستاسو په طعام باندے اخته وو، (هغوي راوغوښتے شو) نو پدے کې هغوي د غلا پړه په لبيد بن سهل (رضي الله عنه) باندے ورواچوله چه دا زمونږ نه يو نيك او مسلمان سړے وو چه دا کار مونږ نهٔ دے کړے هغه کړے دے (او مونږ څکه بيګاه شپه په خپل کور کې رڼا کړے وه چه څه ضرورت مو لرلو، رڼا خو د غلا دليل نهٔ دے) خو کله چه لبيد خبر شو توره ئې راويستله چه پدے توره مو وهم يا به غلا ښکاره کوئ نو دوی د خپلے خبرے نه منکر شو چه مونږ ته غل معلوم نهٔ دے.

بيا بشير د خپل ځان د بری کولو دپاره خپل يو قومي ته ورغلو چه د هغه اَسِير بن عُروَه

نوم وو ډیر چالاکه او خوله ور سرېے وو نو هغه د خپل قوم څه کسان راجمع کړل (چه پدے کې ډیر مؤمنان هم وو لیکن تحقیق ئے نۀ وو کړے او ددے منافق ظاهری خبرو باندے دهوکه شوی وو) او یوه جرګه ئے رسول الله ﷺ ته ولیږله او فریاد ئے ورته وکړو چه رفاعه بن زید او د هغه وراره قتاده (رضی الله عنه) په مونږ باندے بې دلیله د غلا دعوه کوی او تهمتونه راباندے لګوی او دا کسان نیکان او صحیح مسلمانان دی، او دوی ورته ددے قبیح کار نسبت کوی، قتاده وائی ما ته خپل تره وویل چه تۀ رسول الله ﷺ ته ورشه او شکایت ورته وکړه، نو کله چه زۀ د رسول الله ﷺ خوا ته راغلم نو هغه ما ته تندے تریو کړو او وے فرمایل: تا بد کار کړے او ډیره بده منده تره دے وهلے ده چه یوه شریفه او نیکه کورنۍ باندے تۀ په غیر د ګواه نه د غلا تهمت لګوے، نو زه په ډیر خفګان واپس شوم ما ته ترۀ وویل چه څه دے وکړل ؟ ما ورته وویل چه ارمان چه زما مال ختم شوے وے خو چه د رسول الله ﷺ خوا ته پدے باره کې نۀ وے ورغلے او قسم په الله چه بیا به (پدے معامله کې ورنشم) نو ترۀ ئے وویل : والله المستعان۔ (د الله نه به مدد غواړو)۔

نو دا آیتونه نازل شو او غل ئے وخودو چه دغه بشیر وو۔ (او ددے بشیر کنیه ابو طعمه بن ابیرق وو او ځینی راویانو ترے (ابو) کلمه هم لرے کړیده نو طعمه بن ابیرق ذکر کوی)۔

بیا دۀ وسله بیرته راوړه او رفاعه ته ئے واپس کړه، دۀ ته وویل شو چه راشه د الله نه بخنه وغواړه نو دے مکے ته لاړو مرتد شو او د مشرکانو سره یو ځای شو او د سُلافه بنت سعد په کور کې دیره شو نو حسان بن ثابت ورپسے څه شعرونه ورولیږل نو سلافه پرے غصه شوه او د طعمه سامان ئے په سر کړو د کور نه ئے ویستلو او خوړ کې ئے ګوزار کړو او دا ئے ورته وویل چه تا ما ته خیر نۀ دے راوړے اُوس ستا په وجه په ما پسے حسان شعر وائی۔(او څه موده روستو د اسلام نه محروم وفات شو)۔

(الترمذی: ٣٠٣٦ والحاکم :٨١٦٤ وصححه)

او ځینی مفسرین او اهل سِیَر ددے قصے خلاصه داسے بیانوی چه ابو طعمه بن ابیرق چه کله وړه پټ کړل نو د تالاش نه روستو معلومه شوه چه د وړو آثار ددۀ کور ته تلی وو نو په هغوی باندے دعوه وشوه چه تاسو غلا کړے ده، نو دوی زر زر د غلا د پټولو دپاره دغه زغره او وړه د یو یهودی کور ته ګوزار کړل، او ځینی وائی چه امانت ئے د هغه سره کیخودل، خلکو تلاش کولو نو دغه مال د یهودی په کور کې وموندے شو نو په هغه باندے ئے د غلا دعوه وکړه او طعمه خپل قومیان او څه انصار مسلمانان نبی کریم ﷺ ته

بوتلل چه کار خو په یهودی کی راووتو او دا خلك مونږ بدناموی، او طعمه او د هغه ورونو ورته قسمونه وکړل، نو رسول الله ﷺ اراده وکړه چه د یهودی نه لاس پریکړی، ځکه چه سامان هلته موجود شویدے، لیکن یهودی ددے کار نه بیخی بری وو، نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل او رسول الله ﷺ ته ئے ادب ورکړو چه ددے خیانتګرو ملګرتیا مهٔ کوه او یهودی بری دے (اګرکه کافر دے لیکن الله تعالیٰ د عدل والا ذات دے، د هغه په قانون کی په هیچا باندے ظلم نشی کیدے) او ددے منافقانو بد بد صفات ئے راوړل او په مینځ کی ئے د توبی ترغیب هم ورکړو او الله خپل فضل او امتنان په نبی کریم ﷺ باندے بیان کړو چه نزدے وه چه دے خلکو تهٔ خطا کولے خو د الله په احسان سره بچ شوے او بعض ایمان والو ته ئے هم تنبیه ورکړه چه په غیر د تحقیق نه د خیانتګرو ملګرتیا مهٔ کوئ۔

نو پدے کی چه کله د طعمه دروغ راښکاره شول، نو هغه خپل کفر راښکاره کړو او مرتد شو او مکے طرف ته اُوتختیدو چه هلته هغه د یو کور نه غلا کوله نو دیوال پرے راپریوتو او د کفر په حالت کی مړ شو۔ او ځینی وائی چه په دیوال کی ګیر شو مګر مکے والو راویستو، بیا د شام د یوے قافلے سره ملګرے شو نو د هغوی نه ئے غلا وکړه هغوی پرے راجمع شو او رجم ئے کړو او پدے طریقه د دنیا نه کافر لاړو۔

او چونکه دا سړے مشرك شوے وو نو الله به دلته د شرك قباحت هم بیان کړی او خلکو پدے مینځ کی جرګے مرکے هم زیاتی کولے، نو الله به په ډیرو جرګو هم رد وکړی۔ نو دا ټوله رکوع تر (۱۲۶) آیتونو پورے ددے موضوع د بحث لاندے ده مګر آیتونو کی د ټول امت دپاره ښائسته قوانین پراته دی او د یوے واقعے پورے خاص نهٔ دی۔

● اَرٰىكَ اللّٰهُ: یعنی الله چه کوم علم تا ته د وحی په ذریعه درکړیدے چه هغه سنت نبوی دے، او بل رسول الله ﷺ به کله په خپل صوابدید باندے فیصلے کولے خو هغه به د الله تعالیٰ د مرضئ مطابق وے یعنی اجتهاد به ئے وو نو دا دواړه د رسول الله ﷺ په سنت کی داخل دی۔ نو په (الکتاب) کی قرآن مراد شو او په (بِمَا اَرٰىكَ اللّٰهُ) کی حدیث مراد شو۔

((وَلَا تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا)) اَیْ مُخَاصِمًا : یعنی جګړه کونکے۔

خائنین ئے جمع راوړه ځکه چه دا عام دے چه غلا ئے کړی وی او که د غلا ملګرتیا ئے کړی وی یا ئے بله ګناه کړی وی۔

دا دلیل دے چه ترڅو د چا په رشتینی او حق کیدو یقین نهٔ وی شوے د هغه سره ملګرے کیدل نهٔ دی پکار۔ پدے کی رسول الله ﷺ ته یو قسم عتاب (ملامتیا) ده چه تا له د

خیانت کونکو د طرف نه دفاع نهٔ دی کول پکار۔ پدے وجه الله تعالیٰ هغه ته اُوفرمایل چه د الله نه بخنه طلب کره چه تا د بی گناه یهودی لاس پریکول غوختل۔ په آیت کی د هغه خلقو په خلاف سخته دهمکی ده چه بغیر د تحقیق نه د بل چا سره ملگرتیا کوی۔

ډیر خلك د خپلے ژبی او قومیت او پارټئ والا د طرف نه مدافعتونه کوی، بعض د بچو یا د ښځے یا د ورور د طرفه مدافعت کوی اگرکه هغه په باطله باندے وی والله المستعان۔ او دے نه دا هم معلومه شوه چه خیانتگر اگرکه مسلمان وی او د یو کافر په مقابله کی وی نو هم د هغه ملگرتیا به نشی کیدے۔

سوال وجواب

وَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ : سوال دا دے چه آیا د رسول الله ﷺ نه گنے گناه شویده چه هغه ته د استغفار امر کوی ؟ مفسرینو ددے ډیر جوابونه کړیدی (۱) چا وئیلی دی دلته استغفار د مؤمنانو دپاره مراد دے چه رسول الله ﷺ ته ئے په خپله ساده گئ سره غلطه مشوره ورکړے وه چه طعمه بری وگرځوی او یهودی ملامته کړی۔

(۲) ځینی وائی چه د استغفار حکم امر تعبدی دے، دا د الله تعالیٰ حق دے چه بنده به د هغه نه بخنه غواړی لکه رسول الله ﷺ به د ورځے اویا او سل کرته بخنه غوښتله نو آیا هغه گنے اویا گناهونه کول؟!، لنډه دا چه استغفار گناه لره مستلزم نهٔ دے۔

(۳) رسول الله ﷺ په مخکنئ معامله کی مجتهد وو او مجتهد که خطاء هم شی نو په هغه باندے گناه نهٔ وی بلکه یو اجر ئے کیږی، لکه دا خبره د حدیث نه ثابته ده، نو دلته الله د استغفار حکم هغه ته وکړو پدے کی تنبیه ده هغه چا ته چه په غیر د تحقیق او په غیر د دلیل نه د خیانتگرو ملگرتیا کوی او غلطه مشوره ورکوی، او تر قیامته پورے د اُمت حاکمانو ته وائی چه په داسے معامله کی د غلطو خبرو د منلو نه استغفار وغواړی او په فیصلو کی صرف د مسئلے حقانیت په نظر کی ونیسی او د خپلولئ او د نورو تعلقاتو د تاثیر لاندے رانشی۔

(٤) ځینی وائی چه کیدے شی چه د هغه سختے لهجے او غصے نه استغفار مراد وی چه نبی کریم ﷺ پرے قتادهٔ ته خبرے کړے وے، او یا به د نبی کریم ﷺ په خیال کی تیره شوی وی چه همدا یهودی ملامته دے۔ (روح المعانی ١٤٠/٥ وعزیز التفاسیر بتصرف)۔ او دا یو خلافِ اولیٰ کار وو چه استغفار ته محتاج دے۔ او د حسنات الابرار سیئات المقربین په

درجه کی دے۔ یعنی د نیکانو خلکو نیکیانی د مقربینو گناهونه شمارلے کیږی۔

وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ
او جگړه مهٔ کوه د طرفه د هغه کسانو نه چه خیانت کوی د خپلو ځانونو سره
إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ﴿۱۰۷﴾
یقیناً الله مینه نکوی د هغه چا سره چه وی ډیر خیانتګر ګنهګار

تفسیر : پدے کی بیا منع ده د خیانتګرو د ملګرتیا او د هغوی د طرفنه د مدافعت او وکالت کولو نه او په صیغه د خطاب ئے راوړه ځکه چه پدے کی پوره طریقے سره یره ورکول دی نورو حاکمانو ته چه چرته ددوی نه داسے خصلت صادر نشی۔

سوال : مخکی هم ذکر شو چه د خیانتګرو د طرف نه جګړه مهٔ کوه او دلته بیا وائی ددے دواړو څه فرق دے ؟

(۱) جواب : مخکی جمله کی د خائنینو سره صرف د ډله بازئ او د هغوی د طرفدارئ نه منع وه او پدے جمله کی د هغوی نه د سزا دفعه کول او بچ کولو نه منع ده یعنی چه کله په یو مجرم باندے شرعی سزا ثابته شی نو بیا د هغوی نه حدود، تعزیر او سزا اړول منع دی۔ (تفسیر السعدی)

(۲) جواب : مخکی خاص خیانتګر مراد وو چه د هغوی په باره کی دغه آیتونه نازل شوی وو او دلته د (الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ) نه عام خیانتګر مراد دی چه هغه هر قسم مجرم وی۔

(۳) یا مخکی جمله کی د هغوی طرفداری مراد وه چه هسے په ډله کی ورسره شریك شی او دلته د هغوی د طرفنه بحث کول او وکالت کول مراد دی۔ (احسن الکلام)

يَخْتَانُوْنَ : اختیان او خیانة دواړه په یوه معنیٰ دی مګر په اختیان کی مبالغه زیاته ده۔ اَىْ يَظْلِمُوْنَ اَنْفُسَهُمْ بِالْخِيَانَةِ وَالسَّرِقَةِ۔ یعنی په خپلو ځانونو باندے په خیانت او غلا سره ظلمونه کوی۔ (بغوی) اَىْ يُوْقِعُوْنَهَا فِى الْهَلَكَةِ بِالْعِصْيَانِ فِيْمَا اُوْتُمِنُوْا عَلَيْهِ مِنَ الْاُمُوْرِ الْخَفِيَّةِ] (نظم الدرر للبقاعی) یعنی ځانونه په هلاکت کی اچوی پدے وجه چه په کومو پټو څیزونو باندے دوی امانتګر ګڼړلے شویدی په هغے کی خیانت کوی)۔

اَنْفُسَهُمْ : په خیانت کی اچوی ځانونه خپل ځکه چه څوك د بل سره خیانت کوی داسے ده لکه ځان سره خیانت کول ځکه چه ددے ضرر هم دوی ته راواپس کیږی۔

﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ﴾ خوان : د مبالغې صيغه استعمال شويده ځکه چه الله تعالیٰ ته ښه معلومه وه چه طعمه ډير لوئی خائن او ډير لوئی ګناهګار دے۔ او حالاتو هم د هغې تصديق اُوکړو چه هغه مرتد شو او مکے ته اُوتختيدو او په کفر باندے مړ شو۔

او ددے ځای نه د منافقانو قبيح صفتونه شروع کيږی۔

خوان هغه چا ته وائی چه هغه بار بار خيانتونه کوی او د خيانتونو او ګناهونو سره عادت شوے وی۔

خَوَّانًا فِيْ دِيْنِهٖ اَثِيْمًا بِرَبِّهٖ ۔ يعنی چه په خپل دين کی خيانتګر وی او د خپل رب ګناهګار وی۔ (تفسير مقاتل)

يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ
پټوی دوی ځانونه د خلقو نه او نشی پټيدلے د الله تعالیٰ نه او هغه د دوی سره دے
اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ
په هغه وخت چه دوی د شپے وائی هغه څه چه نۀ خوښی الله تعالیٰ د خبرو نه
وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ﴿۱۰۸﴾
او دے الله په هغه عملونو چه دوی ئے کوی راګيرونکے

تفسير : پدے کی د منافقانو نور بد صفتونه ذکر کيږی او د منافقانو د باطن د بد والی عکاسی شويده چه دوی د شرم نه د بچ کيدو دپاره د خلقو نه خپل بد اعمال پټول خوښوی او الله ته ئے ورښائی، يعنی د الله مخامخ ښکاره ګناهونه کوی او د انسانانو نه خپل بد عملونه پټ ساتی، او دا د منافقانو مرکزی صفت دے چه (تَرْجِيْحُ جَانِبِ الْمَخْلُوْقِ عَلٰى جَانِبِ الْخَالِقِ) چه دوی مخلوق طرفته د خالق په نسبت ډيره ترجيح ورکوی، د مخلوق ډير رعايت کوی نۀ د خالق، د مخلوق نه شرميدل او د خالق نه نۀ شرميدل او د مخلوق مخامخ ګناهونه نۀ کول او د خالق مخامخ کول، نو دا صفت دِے هر انسان خپل ځان ته متوجه کړی والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔

۲– حاصل تفسير ئے دا دے : اَیْ يَسْتَحْيُوْنَ مِنَ النَّاسِ ۔ يعنی دوی د خلکو نه حياء کوی او د الله نه حياء نۀ کوی۔ (پدے وجه د غلا کولو نه په دروغو قَسَم سره انکار کوی او په بل چا باندے بهتان لګوی) او دا تفسير د ابن عباسؓ نه يو روايت دے۔

وَلَا يَسْتَخْفُونَ : ځانونه نۀ پټوی د الله نه یعنی ځانونه نشی پټولے۔
وَهُوَ مَعَهُمْ : یعنی الله د دوی په ټولو کارونو خبردار دے او هغه وینی۔
امام قرطبیؒ وائی چه ددے نه مراد معیت دے په اعتبار د علم او لیدلو او آوریدو سره، او دا مذهب د اهل سنتو دے او جهمیه، قدریه او معتزله وائی چه الله تعالیٰ په هر مکان کی دے، او ددے آیت نه دلیل نیسی نو دا خطاء ده ځکه چه پدے کی لویه بی ادبی د الله تعالیٰ راځی چه الله تعالیٰ د هغې نه پاك او اُوچت دے،آه۔ (قرطبی ۳۷۹/۵)
إِذْ يُبَيِّتُونَ : یعنی دوی د شپے داسے غلطے خبرے کوی چه الله په هغې باندے راضی نۀ دے چه هغه د اسلام او د مسلمانانو په خلاف سازشونه جوړول او دروغجن قسمونه کول او د دروغو ګواهی او په پاکدامن انسان باندے بدنامه لګول دی۔ او د اسلام او د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو پورے ټوقے کول دی، او د شپے به ځکه جمع کیدل چه مسلمانان به ورسره خوا کی نۀ وو، لیکن الله تعالیٰ د هغوی دغه حال رابنکاره کړو او دوی ئے وشرمول۔ دا وجه ده چه رسول الله ﷺ د ماسخوتن نه روستو د لایعنی خبرو نه منع کړیده ځکه چه پدے کی تشبه بالمنافقین والکفار راځی۔
وَكَانَ اللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا : یعنی د دوی مشورے او جرګے اګرکه د خلکو نه پټے وے لیکن د الله تعالیٰ نه هیڅ نۀ دی پټ، ددے سزا به ورکوی۔

هَاأَنْتُمْ هَؤُلَاءِ جَادَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَمَنْ يُجَادِلُ
خبردار تاسو اے دا خلقو! جګړه کوئ د طرفه د دوی نه په ژوند دنیوی کی نو څوك به جګړه وکړی
اللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْ مَنْ يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿۱۰۹﴾
د الله سره د طرفه د دوی نه په ورځ د قیامت یا څوك دے هغه چه شی به د دوی ذمه وار۔

تفسیر : پدے کی توجه خیانتګرو او د هغوی مددګارو طرفته راړولے شویده او مطلب ئے دا دے چه هر شخص ډِے د خپل ځان غم وکړی او په دنیا کی ډِے د ګناه نه توبه وباسی، که تاسو د مجرمانو نه په دنیا کی مدافعت وکړئ نو د قیامت په ورځ به ئے د الله د عذابونو نه څوك بچ کړی۔ نو هرکله چه تاسو د قیامت په سخته ورځ کی د دوی دفاع نشئ کولے نو په دنیا کی هم د دوی دفاع مۀ کوئ، نو پدے کی مقصد زجر دے چه تاسو له د خیانتګرو مدافعت نۀ دے پکار۔

یعنی اول خو تاسو د دوی جنایت نشئ پټولے، الله به ئے رسوا کړی۔ او که بالفرض الله ئے په دنیا کی رسوا نکړی نو د آخرت د عذاب نه خو نشی خلاصیدلے، او دا څه دوستی نهٔ ده چه د دنیاوی لنډ عذاب او لږ خجالت نه ئے وساتئ خو د آخرت د لوی عذاب او غټے رسوایئ سره ئے مخامخ کړئ۔ او د قیامت په ورځ لکه څنګه چه تاسو د هغوی په کار نهٔ راځئ نو هغوی هم ستاسو په کار نهٔ راځی۔

جَادَلْتُمْ : جَدل په اصل کی د رسئ (پړی) کلك وودلو ته وائی، او په عرف کی جګړے ته وائی نو ګویا که هر جګړه کونکے خپل مقابل لره د مقصد نه اړوی او دا قول د زجاجؒ دے۔

یا دا د جَدَالَةُ نه دے په مخ د زمکه باندے راغورځولو ته وئیلے شی او په جګړه کی هم هر یو خپل مقابل ذلیله کول او زمکے ته راغورځول غواړی۔ یعنی اے خلکو! تاسو ددے خیانتګرو مقابل کسان په زمکه راغورځول غواړئ۔

د وکیل اصل معنیٰ ده هغه شخص چه هغه ته کار وسپارلے شی۔ او دلته ئے معنیٰ ده د عذاب نه بچ کونکے۔

او د (یُجَادِلِ او وکیل) مطلب دا دے چه دغه مجرمان تاسو د الله نه نهٔ په بحث سره خلاصولے شئ، او نهٔ ئے په زوره سره۔ بلکه په قیامت کی به مدافعین د منافقانو او خیانتګرو سره یو ځای راپاڅیږی۔

أُمُّ مَّنْ : دلته ام په معنیٰ د بَلْ سره دے۔

وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ
او چا چه عمل وکړو بد یا ئے ظلم وکړو د خپل ځان سره بیا بخنه وغواړی د الله تعالیٰ نه
يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴿۱۱۰﴾
ویه مومی الله تعالیٰ لره بخونکے رحم کونکے

تفسیر : اُوس ترغیب ورکوی توبی او استغفار ته۔ او دا هغه آیت دے چه ددے امت دپاره د دنیا او ما فیها نه غوره دے (ابن عباسؓ)

یعنی بنده چه هر څومره او هرقسمه ګناه کړی وی او په دنیا کی د الله نه بخنه طلب کړی نو الله به ورته بخنه وکړی او دا د الله تعالیٰ وعده ده۔

د یَجِدِ الله نه معلومیږی چه د توبی او استغفار سره سمدست د الله مغفرت او رحمت به

دۀ ته حاضرېږي.

د سوء او ظلم فرقونه

(۱) سوء هغه گناه ته وائي چه متعدي گناه وي چه ضررئے نورو خلكو ته هم رسيږي لكه غلا او غصب او كنځلې وغيره. او ظلم على نفسه هغه دے چه لازمي وي چه ضررئے صرف په گناهگار پورے خاص وي لكه د روژے خوړل وغيره.

(۲) سوء د شرك نه علاوه گناه ده، او يَظْلِمْ نَفْسَه نه مراد شرك كول دي.

(۳) سوء : صغيره گناه ده او ظلم كبيره گناه ده.

(٤) سوء غلا كول دي، يا هره گناه ده، او ظلم په چا باندے تهمت او بهتان لگول دي.

د سيدنا علي ﷺ نه نقل دي چه ما ته ابوبكر صديق ﷺ حديث بيان كړيدے او هغه رشتيا وئيلي دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي : كوم بنده چه يوه گناه وكړي او بيا اودس وكړي او دوه ركعاته مونځ وكړي او د الله نه بخنه وغواړي نو الله به ورته خامخا بخنه كوي او بيائے دا آيت ولوستلو﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ﴾ الآية.

(ابوداود: ١٥٢٣ والترمذي: ٤٠٦ ومسند احمد مسند ابى بكر الصديق رقم ٢: واسناده صحيح)

نكته

په (يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا) كې ئے په وجدان سره تعبير وكړو، پدے كې نكته دا ښكاره كيږي چه څوك توبه وباسي او بخنه وغواړي نو هغه به په خپل نفس كې د مغفرت اثر مونده (محسوس) كړي چه گناه به ورته بدې ښكاره شي، او د هغې داعي به ئے ختم شي، او د رحمت اثر به محسوس كړي په نيكو اعمالو كې چه په هغې سره نفس پاكيږي او دغه خيرے ترے صفا كيږي نو كوم سوء او ظلم چه بنده كړے وي نو پدے سره به ئے الله ته عاجزي او ذلت زيات شي او تكبر به ئے ختم شي. (تفسير المنار ٣٢٦/٥)

وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ
او چا چه وكړه گناه يقيناً كوي گناه (چه ضرر به ئے) په خپل ځان (وي)
وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا﴿۱۱۱﴾
او دے الله پوهه حكمتونو والا.

تفسير : پدے كې الله تعالىٰ بل قانون بيانوي چه د هر چا گناه خپله خپله ده، او يو تن

بـه د بـل پـه گـنـاه کـې نـهٔ نیـولـے کیـږي، پـلار بـه د څوی او څوی بـه د پـلار پـه گناه نهٔ نیولے کیږي، او دغـه شـان نـور خـلـك واخـلـه۔ او دا ددے دپاره وائـي چـه چرته یو مؤمن دا گمان ونـکړي چه زمونږ په معاشره کې دا گناه وشوه مونږ به پدے باندے راگیرېږو نو الله فرمائي چه کله تهٔ په گناه کې شامل نهٔ ئے نو تا نهٔ راگیروي۔

یا مـطـلـب دا دے چه څوك گناه وکړي او ددهٔ دا گمان وي چه دهٔ فائده واخسته، نو دا گمان ئے خطاء دے ځکه چه ددے وبال او ضرر ئے په نفس باندے راوستو ځکه چه د هرے گناه سره الله تـعـالـیٰ پـه دنیـا او آخرت کې مصیبتونه او ضررونه تړلي دي۔ د دنیا ضرر ئے دا دے چه کله به ئے گناه رابنکاره شي او ویه شرمیږي لکه په قصه د طعمه کې۔ (المنار)

يَّكۡسِبۡ : کسب هر هغـه قول او عمل ته وائي چه مقصد په هغے کې ځان دپاره فائده رابنکل وي، یا د ځان نه ضرر دفع کول وي، پدے وجه د الله کارونو ته کسب نشي وئیلے۔

إِثۡمًا : اثم هرے گناه ته وائي، صغیره وي او که کبیره، نو پدے کې خیانت او د خیانتگرو د طرف نه جدال او خصومت کول هم داخل دي۔

عَلٰى نَفۡسِهٖ : (علی) دلته د ضرر دپاره دے، او د غلبے دپاره دے یعني دا گناه به په دهٔ باندے غلبه کړې وي او دپاسه به پرے راغلې وي۔

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا : یعني الله د هر چا په گناه باندے پوهه دے لیکن في الحال چه سزا نـهٔ ورکـوي یا مـعـافي کوي نو په هغے کې ئے حکمتونه دي چه کیدے شي بنده توبه وباسي، یا ورته آخرت کې زیاته سزا ورکړي۔

او کـه دویـم مـطـلـب سره ولـگـي نـو علیما یعني الله تعالیٰ په خپل علم سره خلکو ته د شـریـعـت او احـکـامـو حدود مقرر کړیدي چه د هغے نه تجاوز د هغوی دپاره ضرر دے او په خپـل حکمت سره ئے د هغے دپاره سزاگانے مقرر کړیدي چه هغه تجاوز کونکي ته رسیږي نو مجرم بنده په گناه سره خپل ځان ته ضرر ورکوي نهٔ الله ته۔ (المنار)

وَمَنۡ يَّكۡسِبۡ خَطِيۡٓـئَةً اَوۡ اِثۡمًا ثُمَّ يَرۡمِ بِهٖ بَرِيۡٓـئًا فَقَدِ احۡتَمَلَ
او چا چه وکړه وړه گناه یا لویه گناه بیا ولي په هغے سره پاکدامن لره نو یقیناً دهٔ بار کړه
بُهۡتَانًا وَّاِثۡمًا مُّبِيۡنًا ﴿۱۱۲﴾
(په خپل ځان) بهتان (بدنامه) او گناه ښکاره۔

تفسیر : د خطیئة او اثما فرقونه

خطیئة عامه گناه ده چه په قصد سره یا په غیر د قصد نه وی، او اثم هغه دے چه په قصد سره وشی۔ (ابن جریر الطبریؒ)

(۲) خطیئة صغیره گناه ده، او اثم کبیره ده۔

(۳) خطیئة هغه گناه ده چه په خطائی سره وشی او اثم هغه گناه ده چه په قصد سره وشی۔

ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْئًا : یعنی دغه خطیئه او اثم باندے بل څوك ولی او په بل چائے وروتپی چه دا فلانی کړیده نو پدے کی اشاره ده د طعمه په واقعه کی کړے شوو گناهونو ته۔

بِهٖ : (ه) ضمیر یا هر یو د خطیئه او اثم ته راجع دے یا کسب ته راجع دے۔ (روح المعانی)

بریئا : بریٔ هغه انسان ته وائی چه جرم ئے نۂ وی کړے او نسبت ورته کیږی، او دیته بهتان او تهمت هم وئیلے شی۔ لکه بنو ابیرق په نیك سړی (لبید بن سهل رضی الله عنه) باندے د غلا تهمت ولگولو۔

بُهْتَانًا : او د صحیح مسلم د یو حدیث نه معلومیږی چه په یو شخص کی یو کار نۂ وی او څوك ئے هغه ته نسبت کوی، نو دا بهتان دے، او که په یو تن کی یو بد صفت وی او څوك ئے ذکر کړی نو دا غِیبت دے۔

وَاِثْمًا مُّبِيْنًا : دا ښکاره گناه ده چه په هغه اوه گناهونو کی شمار ده چه هلاکونکی دی۔

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ
او که چرته نۂ وے فضل د الله په تا او رحمت د هغۀ (نو دوی به تۀ خطا کړے وے)
لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ وَمَا يُضِلُّوْنَ
خامخا کلکه اراده کړے وه یوے ډلے د دوی نه چه خطا کړی تا (په فیصله کی) او نۂ گمراه کوی دوی
اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ
مگر ځانونه خپل او ضرر نشی درکولے تا ته هیڅ شے او نازل کړے دے الله تعالیٰ په تا باندے
الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾
کتاب او سنت او درویخودو تاته هغه څه چه تۀ پرے نۂ پو هیدلے او دے فضل د الله په تا باندے لوئی۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ په خپل رسول باندے احسانات ذکر کویچه که الله په خپل فضل او کرم سره د وحی په ذریعه تا ته خبر نهٔ وے درکړے چه غل یهودی نهٔ دے بلکه ابن ابیرق دے نو تا به د بی گناه سړی لاس پریکړے وے، لیکن ددے دروغو خبرو وبال به د دغه دروغجنو په سر وی، رسول الله ﷺ ته به د هغے هیڅ نقصان نهٔ رسیږی ځکه چه رسول الله ﷺ ته د هغے د حقیقتِ حال هیڅ علم نهٔ وو۔

سوال وجواب

وَلَوْلَا فَضْلُ : ددے شرط جزاء پته ده۔ لَّأَضَلُّوكَ۔ خامخا دے خلکو به تهٔ خطا کړے وے۔ یا (لَهَمَّتُ) ئے جزاء ده۔ نو پدے باندے سوال دا دے چه بیا خو د آیت مطلب دا جوړیږی چه که د الله فضل نهٔ وے نو دوی به د نبی کریم ﷺ د خطا کولو قصد کړے وے حال دا چه دوی خو قصد کړے وو لیکن ناکام شو؟

(۱) جواب دا دے چه د دوی د قصد ناکامی داسے وګڼړلے شوه لکه چه د سره ئے قصد نهٔ وی کړے یعنی هرکله چه دوی پدے قصد سره رسول الله ﷺ خطا نکړے شو او دے التهه نتیجه ورکړه نو ګویا که خائنانو د نبی کریم ﷺ د بی لارے کولو قصد نهٔ وو کړے بلکه صرف خپل ځانونو ته ئے نقصان ورکړو۔

(۲) او څه لرے نهٔ ده چه مطلب ئے دا وی چه که په تا باندے د الله فضل نهٔ وے او د خائنانو دسیسه ئے نهٔ وے شنډه کړے، نو په راتلونکی زمانه کی به دوی ستا د خطا کولو ډیر پلانونه جوړ کړی وے خو چه کله د دوی ذکر شوے پلان ناکام شو نو ترخو پورے چه دا شرم د دوی یاد وی بیا به دغسے د شرم پلان ته لاس وانچوی۔ (عزیز التفاسیر)

ظاهر دا ده چه هم (قصد) دوه قسمه دے (۱) یو هم اضرار دے یعنی دوی دا اراده لری چه رسول الله ﷺ ته ضرر ورکړی۔ (۲) او بل هم د خطراتو دے نو اول د الله د فضل په وجه مدفوع دے، او دویم همیشه دپاره موجود دے۔ یعنی د دوی په زړونو کی همیشه دپاره دا اراده راپیښیږی او دوی قصد کوی چه رسول الله ﷺ خطاء کړی لیکن نهٔ ئے شی۔

او د فضل نه مراد دا چه وحی ئے راولیږله چه په هغے سره مجرم معلوم شو او د رحمت نه مراد رسول الله ﷺ لره د غلطے فیصلے نه بچ ساتل دی۔ (ابو حیانؒ)

یا د (فضل) نه مراد وحی د قرآن ده او د رحمت نه وحی خفی (وحی د سنت) ده۔

وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ : ځکه چه دا قانون دے چه څوك د بل د ګمراه کولو کوشش

کوی نو الله تعالیٰ هغه لره گمراه کوی، او د حق نه ئے وخت په وخت جدا کوی، نو دا په اصل کې خپل ځان گمراه کول دی۔

وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ : پدې کې الله تعالیٰ خپل رسول ته تسلی ورکوی چه د دوی پلانونه به الله شنډوی او تا ته به ئے هیڅ تکلیف نۀ رسی ځکه چه الله تعالیٰ تا د کتاب او سنت په وجه د دوی د پلانونه وخت په وخت خبروی۔

وَعَلَّمَكَ : د الله په خپل رسول دا احسان هم دے چه الله تعالیٰ هغه ته د قرآن او سنت په شان نعمت ورکړو او د دین او شریعت هغه کارونه ئے وراوُخودل چه هغه رسول الله ﷺ ته مخکې بالکل نۀ وو معلوم۔

نو د ﴿عَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾ نه مراد د شریعت کارونه او احکام دی چه د قرآن کریم د نازلیدو نه مخکې پرے رسول الله ﷺ نۀ پو هیدو، لکه دا د ابن عباس رضی الله عنهما نه ابو حیانؒ په «البحر المحیط» کې نقل کړیدی۔

(۲) یا د (مَا) نه مراد خپله کتاب او سنت دی یعنی الله تعالیٰ تا ته کتاب او سنت نازل کړل او ددے علم ئے درکړو چه مخکې پرے نۀ وے پو هه۔

(۳) یا ترے رازونه او حکمتونه د کتاب او سنت مراد دی چه تۀ پرے مخکې نۀ وے پو هه نو په آینده کې به هم منافقان تا نشی گمراه کولے۔ (قفال)

(٤) یا مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ مِنْ أَخْبَارِ الْقُرُوْنِ السَّالِفَةِ فَكَذٰلِكَ يُعَلِّمُكَ مِنْ حِيَلِ الْمُنَافِقِيْنَ وَكَيْدِهِمْ مَا لَا يُقْدَرُ عَلَى الْاِحْتِرَازِ مِنْهُ) (قفال - ابو حیان) یا ددے نه مراد د مخکنو پیړو (قومونو) خبرونه دی چه په هغے باندے تۀ نۀ پو هیدے او بیا ئے پرے پو هه کړے، نو دغه شان به تا د منافقانو په هغه حیلو او چلونو پو هه کړی چه د هغے نه ځان ساتل ډیر گران دی۔

(٥) ابو سلیمان الدمشقیؒ وائی : أَخْبَارُ الْأَوَّلِيْنَ وَالْآخِرِيْنَ ۔ تۀ ئے پو هه کړے په اخبارو او قصو د پخوانو او روستنو خلکو باندے۔ (٦) یا د (مَا) نه مراد مرتبه ده۔ اَیْ مِقْدَارَ نَفْسِكَ النَّفِيْسَةِ۔ یعنی تا ته ئے وخودو اندازه (مرتبه) د غوره نفس ستا۔ (البحر المحیط ٢٨٣/٣)

(٧) د ما نه مراد دا قصه د طعمه بن ابیرق هم ده۔

ظاهر دا ده چه آیت دے ټولو ته شامل دے۔

بعض ناپو هه خلك ددے نه دلیل نیسی چه رسول الله ﷺ په مَا كَانَ او مَا يَكُوْنُ باندے عالِم دے، دا د الله تعالیٰ حق رسول ته ورکول دی چه دے ته شرك وائی، او د ا اهل زیغو طریقه دا ده چه متشابهات رانیسی او محکمات پریدی، رسول الله ﷺ فرمائی : ﴿وَلَا

﴿أَعۡلَمُ الۡغَیۡبَ﴾ زۀ په غیبو نۀ پو هیږم. حال دا چه دلته (مَا) کلمه د عموم دپاره نۀ ده بلکه د خصوص دپاره ده، ځکه که عموم مراد شی نو بیا به نورو آیتونو سره ټکراؤ راشی، الله فرمائی: ﴿وَیُعَلِّمُکُمۡ مَا لَمۡ تَکُوۡنُوۡا تَعۡلَمُوۡنَ﴾ (البقره: ۱۵۱) ﴿وَعُلِّمۡتُمۡ مَا لَمۡ تَعۡلَمُوۡا أَنۡتُمۡ وَلَا آبَاؤُکُمۡ﴾ (انعام: ۹۱) او ﴿عَلَّمَ الۡاِنۡسَانَ مَا لَمۡ یَعۡلَمۡ﴾ (العلق: ۵)

نو که دلته ما د عموم دپاره شی نو بیا به د ټول امت دپاره، بیا د بنی اسرائیلو دپاره، او بیا د جنس انسان دپاره به علم کلی ثابت شی. والتالی باطل فالمقدم مثله.

وَکَانَ فَضۡلُ اللهِ عَلَیۡكَ عَظِیۡمًا : یعنی په تا باندے د الله همیشه دپاره لوی لوی احسانات دی، چه هغه د ټول عالم دپاره نبی ګرځول او نبوت په دۀ باندے ختمول، او ډیر معجزات او ددۀ امت تر قیامته پورے باقی پریخودل دی.

فخر الدین رازیؒ لیکلی دی: دا آیت دلیل دے چه د علم نه لوئی بل هیڅ نعمت، هیڅ شرافت او هیڅ منقبت نشته. (قاسمیؒ)

لَاخَیۡرَ فِیۡ کَثِیۡرٍ مِنۡ نَّجۡوَاهُمۡ اِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ
نشته هیڅ خیر په ډیر جرګو د دوی کی مګر جرګه د هغه چا چه حکم کوی په صدقے سره
أَوۡ مَعۡرُوۡفٍ أَوۡ إِصۡلَاحٍ بَیۡنَ النَّاسِ وَمَنۡ یَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ ابۡتِغَآءَ
یا په نیك کار یا په صلح کولو سره په مینځ د خلقوکی او چا چه وکړو دا کار دپاره د طلب
مَرۡضَاتِ اللهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِیۡهِ أَجۡرًا عَظِیۡمًا﴿۱۱۴﴾
د رضا د الله تعالیٰ نو زردے چه وربه کړو مونږ هغه ته ثواب لوئی.

تفسیر: پدے آیت کی الله تعالیٰ د ډیرو جرګو، مرکو او مشورو نه منع کړیده سویٰ د یو څو جرګوؤ نه.

مناسبت دا دے چه کله داسے یوه واقعه راپیښه شی نو خلك ډله ډله په حجرو کی جرګے او بحثونه او تبصرے کوی، او خپل عملنامے بربادوی، نو الله تعالیٰ ددے نه منع وکړه چه پدے کار کی هیڅ خیر نشته ددے نه ځان وساتئ. او دارنګه د بنی اُبیرق د اصل غل د سزا او شرم نه د بچ کولو دپاره د هغوی حمایت کونکو خپل مینځ کی جرګے کولے، لیکن د تفسیر د قاعدے مطابق د آیت حکم او معنی عامه ده چه په عامه توګه د خلقو په جرګو کی څه خیر او نیکی نۀ وی.

د جرګو دريے قسمونه

لَا خَیْرَ : الله تعالیٰ عجیب لفظ استعمال کړو، داسے ئے ونۀ ویل چه لَا تَنَاجَوْا۔ (جرګے مۀ کوئ مګر دغه دريے قسمه)۔ بلکه خیر ئے ترے نفی کړو، پدے کی حکمة دا دے چه جرګے په دريے قسمه دی (۱) کله به پکی خیر وی لکه دغه راتلونکی دريے قسمه جرګے او نور د خیر کارونو دپاره جرګے شوے۔ او کله به پکی خیر نۀ وی نو یا به پکی شر وی لکه د ګناه جرګے، او کله به پکی شر نۀ وی بلکه مباحے به وی لکه عامے خبرے اترے چه د ګناه نۀ وی۔

نجواهم : نجوی په اصل کی مصدر یا اسم مصدر دے د نَجْوَةٌ یا د نَجَاءٌ نه، هغه پټو خبرو او ویناګانو ته وائی چه سرے ئے د خلکو نه د راز په شکل ساتی،

او کله نا کله دوه یا ډیر کسان چه جرګه کوی هغوی دپاره هم استعمالیږی لکه

﴿وَاِذْ هُمْ نَجْوٰی﴾ (الاسراء : ٤٧)

یعنی الله تعالیٰ ته د هغه کسانو حال هم معلوم دے چه کله دوی جرګه کونکی وی۔

فائده : دا هم هغه آیت دے چه ددے امت دپاره ډیر بهتر دے چه الله تعالیٰ په دغه دريے کارونو باندے چه کله د الله د رضا دپاره وشی لوی اجر ورکوی چه هغه جنت دے۔

د دريے څیزونو د تخصیص حکمة

مخلوق ته فائده ورکول به یا په جلب المنفعة (فائده راښکلو) سره وی یا په دفع د مضرة (ضرر دفع کولو) سره، که د جلب المنفعة سره وی نو یا به منفعة بدنی وی، دا صدقه شوه او یا به روحانی وی، دا معروف (نیکی) شوه، او یا به دفع د مضرة (تکلیف) وی دا اصلاح بین الناس شوه۔ دارنګه په صدقه او اصلاح کی حقوق العباد دی او په معروف کی حقوق الله ته اشاره ده۔

أَمَرَ بِصَدَقَةٍ : که یو انسان خپله صدقه کوی دا خو لوی فضیلت دے، لیکن که صرف په صدقه باندے بل ته حکم کوی، او ددے دپاره جرګه کوی، او پدے کی ئے مقصد د الله رضا وی نو جنت ورته ملاویږی۔

سوال وجواب

که څوک ووائی چه معروف خو هر شرعی او نیك کار ته وئیلے شی، نو دا صدقے ته هم شامل ده، او اصلاح بین الناس ته هم، نو بیا ولے صدقه او اصلاح دواړه جدا هم ذکر شو؟

جواب دا دے چه په عامو نیکیانو کی د صدقے او د اصلاح دواړو په اسلام کی ډیر لوی اهمیت او ډیر فضیلت دے نو ځکه ئے جدا ذکر کړل لکه حدیث کی دی:

((ځوك چه د حلال مال نه د یوے کجورے برابر هم صدقه وکړی نو د اُحُد د غر هومره به جوړه شی)). (صحیح بخاری: ۱۴۰۱وصحیح مسلم، ۲۳۹۰کتاب الزکاة)

او په یو حدیث کی دی: [أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ؟ قَالُوا بَلٰى يَا رَسُولَ اللّٰهِ! قَالَ إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَقَالَ: وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ]

(ابوداود کتاب الادب والترمذی کتاب البر والصلة ومسند احمد ٦/٤٤٤، ٤٤٥)

آیا زهٔ تاسو په یو داسے عمل نهٔ خبروم چه هغه د نفلی روژو، نفلی مونځونو او نفلی صدقات او خیرات نه ډیر غوره وی؟ صحابه کرامو عرض وکړو: ولے نهٔ اے د الله رسوله! وے فرمایل: هغه عمل په خپل مینځ کی اختلاف ختمول او جوړ جاړے راوستل دی، او دا ئے هم وفرمایل: او په خپل مینځ کی اختلاف (د نیکیانو) خریونکے (یعنی ختمونکے) دے.

تردے چه د صلح کونکو دپاره د دروغو جوړولو اجازه هم ورکړے شویده، دے دپاره چه یو بل ته نزدے کړی نو که ضرورت داسے خبرو ته راپیښ شو چه هغه د دروغو سره مشابه وی نو هم دِے ووائی: حدیث کی دی:

[لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِىْ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِىْ خَيْرًا أَوْ يَقُوْلَ خَيْرًا]

(بخاری: ۲۶۹۲ومسلم والترمذی واحمد: ۷۳۱۳).

هغه ځوك دروغژن نهٔ دے (نهٔ گنهگاریږی) چه د خلکو په مینځ کی اصلاح کوی نو (یو طرفته د بل طرفنه) یوه د خیر خبره ورسوی، او یا ورته د خیر خبره وکړی (حال دا چه هغه ئے د بل طرف نه نهٔ وی آوریدلی).

فائده: ددے واقعے سره ئے نزدے د صدقے او اصلاح خبره نزدے راوړه، وجه دا ده چه غلا او خیانت د حرص چینه ده، او ددے مرض دپاره صدقه بنه دوائی ده چه د حرص بیخ وباسی او همدارنگه د ابن اُبیرق د قصے دا نتیجه ورکړه چه خبره په خپل مینځی فساد باندے تمامه شوه، نو دلته وویل شو چه د دوی ترمینځ اصلاح ډیر غوره عمل دے.

﴿ اِبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ﴾ دا دلیل دے چه ددے اعمالو د اجر او ثواب موندلو دپاره شرط دا دے چه پدے کارونو سره به مقصد د الله رضا حاصلول وی، که اخلاص یعنی د الله رضا حاصلول مقصود نهٔ وی، نو لوی نه لوی عمل به نهٔ صرف ضائع کیږی، بلکه د انسان دپاره به بوج تمامیږی.

ترمذیؒ، ابن ماجهؒ او حافظ ابن مردویهؒ د ام حبیبه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل: د بنیادم هره خبره د هغه په سر بوج وی، د هغه دپاره فائده منه نهٔ وی سوی د هغے نه چه الله یاد کړی، یا د کومے نیکئ حکم اُوکړی یا د کومے بدئ نه منع وکړی۔ (الترمذی ومسند ابی یعلی: ۷۱۳۲ وسنده حسن)

او دا قید (ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللهِ) پکی ځکه وائی چه اکثر انسانان چه نیك عملونه کوی نو خپل نفس پکی لوی لوی کوی، او وائی چه ما دا جرګه وکړه، فلانی کسان زما په وجه روغ شو، او ما فلانی ته وویل چه دومره دومره مال صدقه کړه،

نو پدے کی خلك نوم او شهرت او رِیاء کوی، نو وویل شو چه دا لوی عملونه دی لیکن شرط به پکی د الله رضا وی۔

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى
او څوك چه خلاف وكړی د رسول (ﷺ) نه پس د هغے نه چه ښکاره شو هغه ته هدایت
وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى
او روان شو په غیر د لارے د مؤمنانو نو وابه ړو دهٔ لره هغه طرف ته چه دے ورته واوړیدو
وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾
او داخل به کړو دے جهنم ته او بد دے ځای د ورتللو (دا جهنم)۔

تفسیر: پدے کی تخویف دے هغه چا ته چه د رسول الله ﷺ مخالف وی او ددے تعلق هم د بنی اُبیرق د واقعے سره دے ځکه چه دطعمه پدے خبره یقین وو چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے او اسلام حق دین دے۔ خو ددے سره سره هغه د صحابه کرامؓ په ځای د کافرانو لاره اختیاره کړه او مرتد شو، او کافرانو سره ملاؤ شو۔

لیکن ددے آیت حکم هم عام دے لکه چه د مخکنی آیت په باره کی ووئیلے شو۔

نو هر څوك چه د حق ښکاره کیدو نه روستو د رسول الله ﷺ مخالفت کوی، او د مسلمانانو لاره یعنی دین اسلام نه سویٔ د بل چا لاره خپلوی، نو الله تعالیٰ به هغه لره په همدے مخالفت د رسول او د اسلام د نهٔ تابع کیدو په لاره پریدی، بلکه ددهٔ په سترګو کی به ددهٔ کار ښائسته او غوره اُوګرځوی تردے چه جهنم ته به داخل شی۔

فوائد الآية:

وَمَنْ يُّشَاقِقِ : مشاقة د شِق نه دے، یو طرفته وائی۔ نو مشاقه دیته وائی چه د رسول الله ﷺ په مخالفت کی داسے راشی چه د هغه په مقابل طرف کی ودریږی، د مسلمان نه کله گناه کیږی لیکن هغه ځان گناهگار گنړی او په مقابله کی نهٔ ودریږی۔

مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ : د مخالفت دوه قسمونه

د رسول الله ﷺ نه مخالفت دوه قسمه دے (۱) یو قبل العلم چه یو سړی ته د یوے خبرے او د یوے سنت طریقے علم نهٔ وی، او د رسول الله ﷺ خلاف کوی، نو دا پدے کار گناهگار نهٔ دے۔ (۲) بعد العلم۔ دا چه سنت ورته راورسیدو او بیا هم د څه وجوهو نه د هغے مخالفت کوی، یا دنیاوی لالچ وی، یا مداهنت وی یا یره وی، یا ضد او عناد وی، یا تنظیم پرستی او تقلید وی۔ نو دا انسان لوی مجرم دے۔

دا آیت دلیل دے چه د رسول الله ﷺ مخالفت بنده کفر ته رسوی۔

الْهُدٰی : هدایت دلته سنت نبوی ته وویل شو۔

سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ : د مؤمنین نه مراد صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین دی چه د دین اسلام اولنی تابعدار او د اسلام د تعلیماتو کامله نمونه وه، او ددے آیتونو د نازلیدو په وخت کی د دوی نه سویٰ نور مؤمنان په مخ د زمکه نهٔ وو موجود چه هغه مراد شی۔ پدے وجه د رسول الله ﷺ مخالفت او د غیر سبیل المؤمنین اتباع دواړه په حقیقت کی د یو شی نومونه دی۔

سوال وجواب

سوال دا دے چه څوك د رسول الله ﷺ مخالفت وکړی نو هغه هسے هم تباه دے که د مؤمنانو په لار ځی او که نهٔ، نو بیا دا قید ولے وائی چه (ویتبع غیر سبیل المؤمنین) ؟

جواب : ددے قید ډیره مزیداره فائده ده هغه دا چه په بعض اوقاتو کی یو سړے د رسول الله ﷺ خلاف کوی په باطن کی، او په ظاهره کی د رسول الله ﷺ حدیث پیش کوی، نو هغه هم د حدیثو دشمن دے ځکه چه دغسے معنیٰ او مطلب د حدیث صحابه کرامؓ نهٔ ده کړے، مؤمنان په دغه لاره نهٔ دی تلی، نو ددے نه دا فائده هم راووتله چه د آیت او حدیث داسے معنیٰ کول چه صحابه کرامؓ پرے تلل نهٔ وی کړی، او د ځان نه معنیٰ ایجاد شوی وی او د هغوی فهم ورته نهٔ وی رسیدلے، نو دا هم د رسول الله ﷺ مخالفت دے، بلکه آیت او حدیث به په فهم د سلفو روانوی۔ لکه عام مبتدعین او مشرکین د خپل بدعت او شرك

دپاره د آیت او حدیث نه دلیل نیسی حال دا چه په دغه آیت او حدیث کی د هغوی په بدعت او شرك باندے رد وی۔

ددے مثال : لکه یو تن د تحیة المسجد د فرضیت دپاره حدیث د بخاریؒ پیش کړی حال دا چه دے ته په امت کی هیڅ عالِم فرض نۀ دیٰ وئیلی لکه دا اتفاق حافظ ابن حجرؒ په ((فتح الباری)) کی نقل کړے۔ نو دے شخص د حدیث داسے فهم وکړو چه هیڅ صحابی او عالِم نۀ دے کړے نو دۀ د حدیث خلاف وکړو او په دین کی ئے غلو وکړه۔

٢- ځینی خلك ځان ته د جماعة المسلمین نوم کیږدی او بیا حدیث پیش کوی چه (تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ وَإِمَامَهُمْ) یعنی جماعة المسلمین او د هغوی د امام سره یو ځای شه۔ نو دا معنیٰ په امت کی هیچا نۀ ده کړے بلکه د سلفو په زمانه کی چه د جماعة المسلمین څه معنیٰ وه هغه به مراد وی، او په سلفو کی ددے دوه معانی مراد وے،

(١) یو : سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی: [اَلْجَمَاعَةُ مَا وَافَقَ الْحَقَّ وَاِنْ كُنْتَ وَحْدَكَ] جماعة د حق تابعداریٔ او صحیح عقیدے ته وائی۔ (شرح اصول الاعتقاد (١/١٠٨/١٦٩) تاریخ دمشق لابن عساکر (١٣/٦٤٢ و ٦٤٣) والبیهقی والوجیز واغاثة اللهفان واسناده صحیح)

او په بل روایت د ابن عساکرؒ کی په حسن سند سره داسے الفاظ دی : [وَيْحَكَ اِنَّ جُمْهُوْرَ النَّاسِ فَارَقُوْا الْجَمَاعَةَ، اِنَّ الْجَمَاعَةَ مَا وَافَقَ طَاعَةَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ] جماعت هغے ته وائی چه د الله د طاعت موافق وی۔ (السنة النبویة مکانتها واثرها لاحمد بن عبد الکریم نجیب)۔

دویم جماعة المسلمین خلافت ته وائی لکه دغه حدیث کی (وَإِمَامَهُمْ) ورسره ذکر دے او خلافت ډیر شرطونه لری۔ لکه ددے تفصیل د سورة آلعمران آیت (١٠٣) لاندے وګوره۔

او اکثر مقلدین د خپلو امامانو د تائید دپاره ضعیف روایتونه پیش کوی، یا د صحیح حدیثونو غلطے معانی کوی، او دۀ دا ګمان وی چه مونږ ګنے د دین لوی خدمت وکړو۔

٣- شامیّ لیکی : په احادیثو کی په مانځه کی د لاسونو کیخودل او تړل (یعنی رانیول) دواړه راغلی دی، نو داسے وکړه چه په دوه ګوتو باندے مروند ونیسه او درے ګوتے ورله په مینځ کی خورے کړه نو په دواړو حدیثونو به عمل وشی حال دا چه دا په یو حدیث هم عمل نۀ دے بلکه یو بل دین جوړ شو ځکه چه صحابه کرامؓ نه دا طریقه نقل نۀ ده۔

لنډه دا چه اُوس زمانه کی د آیت یا حدیث نه چا یوه مسئله راویستله چه هغه صحابه کرامؓ کی هیچا نۀ وه وئیلے نو دا به خطاء وی۔ لکه د امام احمدؒ ددے وینا : [اِيَّاكَ اَنْ تَتَكَلَّمَ فِيْ مَسْئَلَةٍ لَيْسَ لَكَ فِيْهَا اِمَامٌ] (اعلام الموقعین ١/٢٩/٣٢) مجلة البحوث الاسلامیة ١٧/١٤٠)

په يوه مسئله کې خبرے مۀ کوه چه ستا دپاره په هغې کې امام نۀ وي) مطلب هم دا دے، چه داسے مسئله د ځان نه مۀ ايجاد کوه چه په سلفو کې هيڅا نۀ وي وئيلې۔

او ددے آيت معنىٰ په هغه حديث کې هم راغلې ده چه رسول الله ﷺ فرمائي : فرقه ناجيه هغه ده [مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِيْ] چه په هغه دين روان وي چه زۀ او زما صحابه کرام پرے روان دي۔ وَأَصْحَابِيْ لفظ ورسره ځکه وائي چه دين به د سلفو په فهم باندے اخستے شي۔ (الترمذي : ٢٦٤١ باسناد حسن)

او دا آيت پدے خبره باندے هم دليل دے چه د مسلمانانو د اجماع مخالفت هم کبيره گناه ده، او دا چه اجماع د قرآن او سنت په شان دليل دے۔

امام شافعي رحمه الله ددے آيت نه د اجماع په حجت کيدو باندے دليل نيولے دے۔

او وئيلي ئے دي چه چونکه د مؤمنانو د طريقے د مخالفت انجام جهنم خودلے شويدے پدے وجه دا آيت دليل دے ددے خبرے چه د هغوي اتباع کول فرض دي۔

بله فائده دا راووتله چه فهم د کتاب او سنت به هله مقبول وي چه د سلفو صالحينو د فهم موافق وکړے شي نۀ د اهواء او آراؤ موافق۔

فائده عجيبه : علامه قاسميؒ په خپل تفسير کې د شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله نه نقل کوي چه هغه په کتاب «الفرقان بين اولياء الرحمن واولياء الشيطان» کې يوه ناشنا مقاله ليکلې ده چه حاصل ئے دا دے چه په قرآن او سنت کې د دين تمام کارونه بيان شويدي، اصول وي او که فروع، او د هغے د اثبات دپاره ئے ډير آيتونه پيش کړيدي لکه سورة مائده (٣)، سورة يوسف (١١١)، سورة نحل (٨٩)، سورة توبه (١١٥)، سورة انعام (١١٩) او سورة نساء (٥٩) آيتونه شول،

او د امت اجماع پخپله حق دے، ځکه چه امت په گمراهئ باندے نشي جمع کيدے۔ هغوي د قرآن کريم د گڼړو آيتونو نه دليل نيولے دے او په آخر کې ئے وئيلي دي چه امام شافعيؒ ددے آيت نه د اجماع په حجت کيدو باندے دليل نيولے دے۔

دے نه روستو ئے وئيلي دي چه دا آيت دلالت کوي چه د مؤمنانو د لارے اتباع نۀ کونکے د وعيد مستحق دے لکه چه د رسول الله ﷺ مخالفت کونکے د وعيد مستحق دے، ورنه ددے صفت جدا بيانولو نه به هيڅ فائده نۀ وي۔

بيا ليکي چه هيڅ يوه مسئله هم داسے نۀ موندے کيږي چه په هغے باندے د علماؤ اجماع شوي وي او د هغے دپاره د سنت نه دليل موجود نۀ وي، ليکن کله هغه دليل بعض

خلقو ته معلوم نهٔ وي، او د علماؤ د اجماع علم ورته وي نو ددے نه دليل نيسي او كله په قياس سره دليل نيسي، او كله په يوه مسئله كې خاص نص موجود وي، او مجتهد په هغے كې په عام نص باندے دليل نيسي، او ډير علماء داسے دي چه هغوي په يوه مسئله كې په قياس باندے دليل نيسي او په هغے كې اجماع هم وي يا بل نص هم وي،

ليكن د اجماع او هغه نص علم ورته نهٔ وي، نو ددهٔ قياس د اجماع يا د نص سره برابر شي لكه د ابن مسعودؓ اجتهادي فتوىٰ په باره د مفوضه كې چه كله ئے خاوند وفات شي چه د هغے دپاره به مهر مثل وي، دا د نص سره برابر شو چه رسول الله ﷺ د بِرْوَع بنت واشق دپاره مهر مثل مقرر كړے وو.

بيا ئے بعض هغه مسائل ذكر كړيدي چه په هغے كې ځينې علماؤ دا دعوه كړيده چه دا په اجماع يا قياس سره ثابت دي او نص پكې نشته نو د هغے دپاره ئے نصوص ذكر كړيدي لكه مسئله د مضاربه وغيره شو. او كله په يوه مسئله كې خاص نص موجود وي،

ليكن د عالِم علم هغے ته نهٔ وي رسيدلے لكه تيمم د جنب دپاره شو او كله د يو نص دلالت خفي وي نو د ډيرو علماؤ ذهن هغے ته ونهٔ رسيږي او د ځينو ورته ورسيږي نو اختلاف پيدا شي. بيا فرمائي:

[فَمَنِ ادَّعٰى اِجْمَاعَهُمْ عَلٰى تَرْكِ الْعَمَلِ بِالرَّأْيِ وَالْقِيَاسِ مُطْلَقًا فَقَدْ غَلِطَ وَمَنِ ادَّعٰى أَنَّ مِنَ الْمَسَائِلِ مَا لَمْ يَتَكَلَّمْ اَحَدٌ مِنْهُمْ اِلَّا بِالرَّأْيِ وَالْقِيَاسِ فَقَدْ غَلِطَ بَلْ كَانَ كُلٌّ مِنْهُمْ يَتَكَلَّمُ بِحَسَبِ مَا عِنْدَهُ مِنَ الْعِلْمِ فَمَنْ رَأٰى دَلَالَةَ الْكِتَابِ ذَكَرَهَا وَمَنْ رَأٰى دَلَالَةَ الْمِيْزَانِ ذَكَرَهَا وَالدَّلَائِلُ الصَّحِيْحَةُ لَا تَتَنَاقَضُ لٰكِنْ قَدْ يَخْفٰى وَجْهُ اِتِّفَاقِهِمَا أَوْ ضُعْفُ أَحَدِهِمَا عَلٰى بَعْضِ الْعُلَمَاءِ]

نو څوك چه دا دعوه كوي چه د صحابه كرامؓ مطلقاً په رأى او قياس باندے د عمل پريخودو اجماع ده نو هم غلط وائي او څوك چه دا دعوه كوي چه ډير مسائل داسے شته چه هغه صرف په رأى او قياس سره ثابت دي نو دا هم غلطه ده بلكه هر يو عالم د خپل علم مطابق خبره كړيده نو چا چه د كتاب الله نص موندلے دے هغه ئے ذكر كړيدے او چا چه د عقل نه دليل موندلے دے هغه ئے ذكر كړيدے او صحيح دليلونه د يو بل ضد نهٔ ګرځي ليكن كله په ځينو علماؤ باندے د هغے د تطبيق وجه يا د هغے د ضعف وجه پټه پاتې شي) آه. (محاسن التاويل ۲/ ۴۸۲- ۴۹۰)

د امت د اجماع مطلب دا دے چه په يوه مسئله كې د امت د تمامو علماؤ او فقهاؤ اتفاق وي يا په يوه مسئله باندے د صحابه كرامؓ اتفاق وي، دا دواړه صورتونه د امت د اجماع دي

او د دوارو نه انکار یا ددے نه دیو نه انکار کفر دے، بیا د صحابه کرامو اتفاق خو په ډیرو مسئلو کی موجودیږی یعنی د اجماع دا صورت خو ملاویږی لیکن د صحابه کرامو د اجماع نه روستو په یوه مسئله کی د ټول امت د اجماع او د اتفاق دعوے خو په ډیرو مسائلو کی کړے شویدی لیکن په حقیقت کی داسے اجماعی مسائل ډیر کم دی چه په هغے کی واقعی د امت د تمامو علماؤ او فقهاؤ اتفاق وی، بیا هم که کوم داسے مسائل وی نو د هغے نه انکار به هم د صحابه کرامو د اجماع نه د انکار په شان کفر وی ځکه چه په حدیث کی دی: [إِنَّ اللّٰهَ لَايَجْمَعُ أُمَّتِيْ عَلٰى ضَلَالَةٍ وَيَدُ اللّٰهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ]

یقیناً الله تعالیٰ زما امت په ګمراهئ باندے نهٔ راجمع کوی او په جماعت باندے د الله لاس دے۔ (صحیح الترمذی للالبانی رقم: ۱۷۵۹) وصحیح الجامع رقم: ۱۸۴۸)۔ (القاسمی واحسن البیان)

نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى : ددے مطلب دا دے چه کله یو حیوان سړی په لاس کی نیولے وی نو هغه به د هلاکت نه بچ کیږی او د صحیح ګیاه ځای ته به رسیږی او کله چه یو حیوان باندے سړے پړے ورواړوی نو هغه به د هلاکت کندو ته هم پریوزی، پردئ ګیاه به خوری او په خپله طبع به صحیح ګیاه ته هم نشی رسیدلے، نو دغه شان کله چه بنده خپل ځان الله تعالیٰ ته حواله کړی او د هغه په حکمونو کی ځان بند کړی نو مقصد ته به ورسیږی، او کله چه بنده د الله حکمونه پریدی، نو الله به پړے پړے ورواړوی نو چه په کومه کنده کی پریوتو الله به پرے پرواه نهٔ کوی یعنی الله به ورته هدایت نه کوی۔ یعنی په دنیا کی ئے چه کوم طرف ځان دپاره خوښ کړیدے همغه طرف ته به ئے ورتاؤ کړو او هغه به ورته آسان کړو لکه بل آیت کی الله فرمائی: ﴿فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى﴾ (اللیل: ۱۰)

(زر دے چه آسان به کړو دهٔ ته لاره د ګرانوالی)۔ یعنی د ګناه کارونه به ورته آسان شی، او په هغے کی به ئے شوق او ذوق پیدا شی، او په نتیجه کی به د مشکلاتو سره مخامخ شی لکه همدا معنیٰ د شان نزول د جنایتکار د عاقبت نه ډیره ښه معلومیږی چه هغه کله رسوا شو نو لاړو مکے ته وتښتیدو او مشرکانو ته ئے پناه ویوړه او د بتانو عبادت ئے شروع کړو او په غلاګانو سر شو۔ (البغوی)

ځینی مفسرین ددے داسے معنیٰ کوی چه په آخرت کی به ئے هغه طرف ته ورتاو کړو کوم طرف ته چه په دنیا کی ورتاو شوے وو۔ (بغوی ۱/ ۲۸۰) واللباب (۷/ ۱۵)

مجاهدؒ معنیٰ کوی: اَیْ نَتْرُکُهٗ وَمَا يَعْبُدُ) دے به پریدو چه د هر چا عبادت چه کوی یعنی

خپل اختيار ته به ئے پريدو چه کومه لاره ځان دپاره غوره کوی او مونږ به ورته د هدايت توفيق نهٔ ورکوو۔ (معانی القرآن للنحاسؒ، والقرطبیؒ)

فائده : معلومه شوه چه سنت نبوی د انسان مهار دے او چا چه سنت نبوی پريخودو هغه به شتربی مهار شی نو اتباع د سنت د هلاکت نه د بچ کيدو مهمه ذريعه ده او عصمت دے۔

بله **فائده** : پدے آيت کی د صحابه کرامو رضی الله عنهم شان او عظمت پروت دے، ځکه چه الله تعالىٰ د هغوی عمل مجموعی طور سره په امت باندے حجت گرځولے دے۔

وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ : يعنی په آخرت کی به ئے جهنم ته داخل کړو۔

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ
يقيناً الله نهٔ بخی دا چه شرك وکړے شی د هغه سره او بخی نور هغه گناهونه چه کم دی
ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ
د هغے نه چا لره چه وغواړی او چا چه شرك وکړو د الله سره نو يقيناً دا گمراه شو
ضَلٰلًا م بَعِيْدًا ﴿۱۱٦﴾
په گمراهئ لرے سره د حق نه۔

تفسير : مناسبت : مخکی د رسول الله ﷺ مشاقه او اتباع د غير سبيل المؤمنين بيان شو نو اُوس د هغے لوی مصداق بيانوی چه هغه شرك دے۔

ددے آيت کريمه تفسير په (٤٨) آيت کی تير شويدے۔ تکرار سره مقصد يا خو د شرك د خطرناکئ زيات تاکيد دے۔ يا د طعمه د قصے تکميل دے چه هغه مرتد شو او د مشرکانو سره يو ځای شو او په حالت د شرك کی مړ شو۔ نو الله تعالىٰ ددے مناسبت د وجه نه دلته د شرك بدی بيانوی۔

يا تکرار پدے طريقه ختميږی چه د آيت (٤٨) نه مخکی او روستو آيتونه د اهل کتابو په باره کی نازل شوی وو، او د هغوی عقيده ئے رد کړيده چه د خپلو ځانونو تزکيه مهٔ بيانوئ، تاسو کی شرك موجود دے او هغه الله تعالىٰ نهٔ معاف کوی۔

او دلته ټول بحث د مرتدينو په باره کی دے نو پدے وجه فرمائی چه الله تعالىٰ لکه څنګه چه اصلی کافرانو ته بخنه نهٔ کوی لکه يهود او نصاریٰ وغيره شو نو دغه شان هغه خلك

هم نۀ بښي چه د اسلام نه واوړي او د کافرانو د ډلے سره ملګرے شي، پدے وجه ئے هلته د آيت په تتمه کی ﴿فَقَدِ افْتَرٰى اِثْمًا عَظِيْمًا﴾ وئيلے وو ځکه چه د خپل ځان تزکيه بيانول او الله دپاره اولاد ثابتول دروغ دی۔ او دلته ئے ﴿فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا﴾ وئيلے دے يعنی څوك چه د اسلام لاره پريدی، نو خپل ځان ئے د ډيرو لوی کمرو نه ګوزار کړو چه هيڅکله به سمه لاره مونده نکړی۔

اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾
نۀ رابلي دوی سوئ د الله تعالیٰ نه مګر زنانه او نۀ رابلي دوی مګر شيطان سرکش لره
لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا
لعنت کړے په دۀ باندے الله تعالیٰ اودۀ وئيلی دی خامخا به نيسم زۀ د بندګانو ستا نه څه حصه
مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾ وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَ
مقرر کړے شوے او خامخا ګمراه به کړم دوی لره او خامخا اميدونه به ورکوم دوی ته او
لَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ
خامخا حکم به کوم دوی ته نو پريکوی به غوږونه د چارپيانو او حکم به کوم دوی ته
فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ
نو بدلوی به پيدائش د الله تعالیٰ او هغه څوك چه ونيسي شيطان لره دوست سوئ
اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۹﴾
د الله تعالیٰ نه نو يقيناً دۀ تاوان وکړو په تاوان ښکاره سره۔

تفسير : پدے آيتونو کی د شرك انتهائی درجه پليتی، او د مشرکانو انتهائی درجه خسيس والے او بی وقوفتيا بيان شويده چه دوی د داسے بتانو عبادت کوی چه دوی هغوی ته د ښځو نومونه ورکړيدی (منات، عزیٰ، لات او دغه شان نور بتان چه دوی به د هغے عبادت کولو د هغوی نومونه د ښځو په شان وو) يعنی يو طرف ته د تعظيم دپاره د بتانو عبادت کوی، او بل طرفته ئے د ښځو په نومونو سره يادوی چه دوی ته ډير سپك مخلوق ښکاری تردے چه په ژوندی خخولو باندے ئے هم صرفه نۀ کوی او د ابليس عبادت کوی

يعنې د هغه اطاعت كوي نو ګويا كه د هغه عبادت كوي. (زاد المسير ۲/۱۹۳)

ان يدعون : د دعا نه مراد عبادت كول دي، ليكن په تعبير د دعا سره ئې راوړو ځكه چه د مشركانو شرك اكثر د دعا په صورت كې وي لكه وائي اے فلاني بابا راورسيږه او رامدد شه !۔

إِلَّآ إِنَاثًا : ۱- د ابن عباسؓ او حسن بصريؒ او د ضحاكؒ د تفسير مطابق د اناث نه مراد اموات (مړي) او بې روحه څيزونه دي چه دوي به ورته د ښځو په شان نومونه وركول نو ځكه ئې ورته اناث وئيلي دي۔

۲- بله دا چه مشركان اكثر په قبرونو باندے د زنانو كپړے او جامے اچوي، او بت پرستان اكثر بتان د ښځو په شان مُجسّمو سره جوړ كړي وي، او د ښځو په شان ئې ښائسته كوي نو ځكه ئې ورته اناث وئيلي دي چه دوي ورسره د زنانو په شان معامله كوي۔

۳- يا تشبيه په كمزورتيا كې ده لكه زنانه چه څنګه كمزوري دي، نو دغه شان د دوي دروغژن معبودان هم كمزوري دي چه د دوي هيڅ مدد نشي كولے۔

٤- يا د اناث نه مراد ملائك دي چه د عربو مشركانو به د الله لونړه ګڼړلے او د هغوي عبادت به ئې كولو. لكه دا ابن جريرؒ د ضحاكؒ نه نقل كړيدي۔

وان يدعون الا شيطانا مريدا : د بتانو، ملائكو او د نورو هستيانو عبادت په اصل كې د شيطان عبادت دے ځكه چه دا كارونه د هغه په وسوسه كيږي او شيطان انسان لره د الله د در نه اړوي او په نورو درونو ورله سر كوي۔

سوال وجواب

مشركانو خو شيطان ته رامدد شه نۀ دي وئيلي او نۀ ئې د شيطان عبادت كړيدے نو ددے جملې څه مطلب دے؟

مفسرينو ددے ډير جوابونه ذكر كړيدي (۱) يو دا چه دے باطلو معبودانو ته رامدد شه وئيل داسے دي لكه سركش شيطان ته رامدد شه وئيل، ځكه چه دا كارونه د شيطان په وسوسه كيږي او هغه پرے رضا كيږي۔ (۲) د دعاء نه مراد دلته اطاعت دے او اطاعت هم عبادت دے نو معنىٰ دا ده چه دوي په شرك كولو كې اطاعت نۀ كوي مګر د شيطان سركش اطاعت كوي چه هغه جني يا انسي شيطان دے۔

(۳) عبد بن حُمَيد د ابن عباسؓ نه او ابن ابي حاتمؒ د سفيانؒ نه نقل كړيدي چه په هر صنم

(بت) کې شیطان جنې داخلیږي او مشرکانو ته ښکاره کیږي (یا ورسره خبرې کوي) او هغوی ته د شرك دعوت ورکوي چه زما خوا له راځئ، زهٔ به ستاسو حاجتونه پوره کوم لکه د مشرکانو نه دا خبرې ډیرې مشهورې دي چه فلاني بابا له تلے وم او هلته راته آواز وشو، یا راته بابا لاس راوښکلو چه ستا حاجتونه پوره شو، او ما له نذر او منښته کوه، نو دا په اصل کې شیطان وي لکه ډیرو صوفیاؤ ته به د سپینو جامو والا نیك انسان په شکل راغلو، او کله به ئې دعوه وکړه چه زهٔ رسول الله (ﷺ) یم لکه د بعض دیوبندیانو کتابونه پدے ګواه دي اُوګوره تذکرة الرشید وغیره) او کله به ئې ورته رڼا راښکاره کړه او ورته به ئې وویل چه ما ستا عبادت قبول کړو او د اولیاؤ په دیوان کې مې ولیکلې، دا ټول شیطاني خرافات دي چه د انسان د ګمراه کولو کوشش کوي۔

د شیطان د عابدانو تاریخ

(۳) جواب : او دا هم ممکن ده بلکه واقع ده چه په امت کې ډیر داسې خلك شته چه حقیقةً د شیطان عبادت کوي او هغه ته آوازونه کوي، او د هغه په نوم نذر او منښتې او ذبحې کوي لکه د انټرنیټ بعض ویډیوګاني پدے باندې ګواه دي۔

((مؤرخینو د شیطان د عابدانو تاریخ کې اختلاف کړیدے، ځیني وائي چه دا په قرن اول میلادي کې غنوصیینو کې پیدا شویدے چه دوی به دا فکر کولو چه شیطان (العیاذ بالله) د الله سره په بادشاهۍ کې برابر دے، بیا دے فکر ترقي وکړه او بولصیینو ته رانقل شو چه دوی به دا عقیده ساتله (العیاذ بالله) چه شیطان ددے کائناتو خالق دے او الله تعالیٰ د هغه نه ددے د اختستو قدرت نهٔ دے لرلے، نو هرکله چه دوی د هغه په بادشاهۍ کې وسیږي نو د خپل خالق (ابلیس) عبادت به هم کوي۔ لیکن حقیقت دا دے چه دا عبادت د میلاد نه مخکې نه هم موجود وو لکه قرآن کریم کې د ابراهیم (علیه السلام) په قصه کې راغلي دي ﴿ يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا﴾ مریم : ٤٤)

او بیا دا عبادت د صلاح الدین ایوبیؒ په زمانه کې هم په (فُرُسَان الْهَيكل) والو کې شروع شوے وو په سنه (۱۲۹۱ هـ) کې چه د دوی مشر (جاك دي مولی) او د هغه اتباعو د تورې پیشو په شکل د شیطان صورت جوړ کړے وو او دوی کې څه اشارات او شیطاني نښې مقرر وې لکه پنځه ګوډونو والا ستورے چه په مینځ کې به ئې د ګډ سر وو۔

او دا عبادت تر ډیرې اُوږدې زمانې پورې پټ وو لیکن پدے نوې دَور کې بیرته قوت

مونده کوی تردے چه د شیطان د عبادت کونکو تنظیمونه جوړ شویدی لکه په برطانیا کی (ONA) او په ایرلینډ کی د (OSV) په نوم او په امریکا کی د (معبد ست او کنیسة الشیطان) په نوم او دا ډیر لوی او خطرناك تنظیمونه دی او دا یو یهودی ساحر او کاهن (انطون لاوی) جوړ کړیدی په سنه (۱۹٦٦) کی او ددے تنظیم لوی ارکان (۵۰) دی او د هغے په امریکا او یورپ او افریقا کی شاخونه دی چه د هغوی بعض نخے (٦٦٦) دی۔

د شیطان عابدان څه ته دعوت ورکوی؟

نو د دوی دعوت دا دے چه قوت مضبوطول او دینونو چه کوم څیزونه حرام گرځولی دی د هغے تهولو نه مزے اخستل، او د جادوگرو او د جادو نه مددونه اخستل او دوی دا عقیده ساتی چه شیطان به خپلو تابعدارو ته پوره سرور (خوشحالی) او سعادت (نیك بختی) ورکوی او د دنیا د څیزونو مالك به ئے جوړوی سره د تهولو خوندونو نه۔ ((ملف کامل عن عباد الشیطان، انټرنیټ))

مَّرِيْدًا : د ((مَرداء)) نه دے چه هغه شگو ته وائي چه څه گیاه نۀ زرغونوی او اَمْرَد هغه ونے ته وائی چه پانړے نۀ لری، او دارنگه هغه هلك ته وائی چه ږیره ئے نۀ وی راغلی او د وینښتانو نه بربنډ وی (مفردات راغب ص: ٤٨٤) نو شیطان ته ځکه ((مَرِيْد)) وائی چه هغه د هر خیر نه خالی دے، او د الله د اطاعت او د رحمت نه جدا دے، او د الله په غضب باندے ککړ دے (طبریؒ)۔ او ځوك چه دغه شان وی نو هغه ته سرکش او نافرمان وئیلے شی چه ددے نه مراد ابلیس او د هغه تابعدار دی۔

د شیطان برخه څه شے دے؟

لَعَنَهُ اللّٰهُ : ۱- یعنی کله چه الله تعالیٰ په ابلیس باندے لعنت اُوکړو نو هغه اُووئیل چه زۀ به ستا د بندگانو د عبادت نه څه حصه ضرور اخلم، یعنی هغوی به د غیر الله عبادت کوی، یا به په عبادت کی ریاکاری کوی، یا به عبادت کولو سره په هغے باندے فخر کوی، یا خو به عبادت کوی لیکن په خلقو باندے به ظلم کولو سره هغه بربادوی، یا به د عبادت نه روستو کفر کوی۔ ۲- یا دا چه ستا د بندگانو نه به څه حصه خلك زما تابع کیږی او زه به ئے په خپلو جالونو کی گیروم۔

۳- یا هغه خلك هم مراد کیدے شی چه شیطان ئے په خپلو وسوسو سره گمراه کوی او

ځان سره ئے جهنم ته داخلوی لکه هغه په یو اوږد حدیث کی راغلی دی چه الله به آدم علیه السلام ته د قیامت په ورځ وفرمائی : [أَخْرِجْ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَمِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ] تۀ د هر زرو تنو نه نهه سوه نهه نوی تنه راوباسه۔ نو دغه (۹۹۹) کسان به د شیطان تہولگے وی۔ او پدے کی اشاره ده چه څوك د الله او د رسول مخالفت کوی مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى نو دا د شیطان د برخے نه حساب دے۔ (طبریؔ)

٤- یا د مقرر شوے حصے نه مراد هغه نذرونه او منبتنی دی چه مشرکان ئے د خپلو بتانو او په قبرونو کی د دفن شوو خلکو په نوم باندے وباسی۔

٥- ځینی وائی چه ددے نه مراد په زړه کی یوه حصه ده چه شیطان هلته راځی کینی او وسوسے اچوی لکه دا خبره د حدیث نه ثابته ده۔

وَلَأُضِلَّنَّهُمْ : أَيْ لَأَجْتَهِدَنَّ فِيْ إِضْلَالِهِمْ۔ یعنی زۀ به د دوی په گمراه کولو کی پوره کوشش کوم۔ شیطان گمراه کول نشی کولے لیکن خپل کوشش کوی وسوسے اچوی۔

اضلال نه مراد دلته د صحیح عقائدو نه اړول دی، یعنی د هغه دلائلو نه به ئے مشغوله او غافل کړم چه هغه بنده حق او هدایت ته رسوی۔ (تفسیر المنار)

د شیطان امیدونه ورکول څه دی؟

وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ : دا کلمه د تمنی نه اخستلے شویده او تمنی دیته وائی چه سړے په زړه کی د یو بد کار اټکل وکړی او په هغے کی تصور کوی نو اکثر تمنیات د هغه تصور نه عبارت دے چه حقیقت نۀ لری (مفردات راغب) دلته ئے مصداقونه دا دی :

١- طُوْلُ الْأَمَلِ۔ شیطان اوږده امیدونه ورکوی چه وخت لا ډیر دے۔

٢- تَعْوِيْقٌ عَنِ التَّوْبَةِ : د توبی نه منع کول چه فی الحال دِے ځوانی ده، آخره کی به توبه وباسے۔ (رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ)

٣- مَعَ الْمَعَاصِيْ يَظُنُّوْنَ الْخَيْرَ۔ گناهونه به پرے کوی او په ځانونو به د خیر او غوره والی گمانونه کوی لکه یهودیانو به شرك کولو او انبیاء علیهم السلام به ئے وژل او بیا به ئے د ځان دپاره د جنت دعوے هم کولے۔

٤- لَا بَعْثَ وَلَا جَنَّةَ وَلَا نَارَ۔ دا خیالونه به ور اچوم چه نۀ دوباره ژوند شته او نۀ جنت او جهنم۔ (ابن عباسؓ- زاد المسیر ۲/۱۱۰)

٥- اِيْهَامُهُمْ سَيَنَالُوْنَ مِنَ الْآخِرَةِ حَظًّا۔ (زجاجؒ- زاد المسیر) دا گمان چه دوی ته به په

آخرت کی لویه برخه ملاویږی۔
لنډه دا چه د دوی په زړونو کی به داسے تمنی ګانے پیدا کوم چه هغه به ئے ستا د طاعت او د توحید نه زما طاعت او شرك ته اړوی۔ (طبریؒ)
او شیطان هر چا ته د هغه د حال او قرائنو مطابق تمناګانی ورکوی ځکه چه شیطان په ګمراه کولو کی ډیر ماهر دے، او د انسان کمزورے نقطے ډیرے ښے پیژنی، کله د دنیا د څیزونو او سامانونو سره ورله مینه زیاتوی، کله د مشرئ او عهدے او کرسئ حاصلولو ارمانونو کی لامبو وهی، او کله په مال باندے حارص شی چه بیا زکاة ورکولو ته هم تیار نهٔ وی، او د ځان مالداره کولو ارمانونو دیته رسولے وی چه په غلا او غصب او هر قسم خیانت باندے هم صرفه نهٔ کوی۔
خلاصه دا چه دے کی هر هغه باطل امیدونه داخل دی چه د شیطان د وسوسو نه راپیدا کیږی او د انسان د ګمراهئ سبب ګرځی۔
وَلَآمُرَنَّهُمْ : اَیْ بِطَرِیْقِ الْوَسْوَسَةِ۔ او دوی ته به حکم کوم په طریقه د وسوسه سره۔
فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ : یعنی پریکوی به غوږونه د چارپیانو (دپاره د نذر د غیر الله)۔
ددے نه مراد د بحیره او سائبه حیواناتو نښے دی، مشرکانو به دا د خپلو بتانو په نوم باندے وقف کړے او د شناخت دپاره به ئے د هغوی غوږونه پریکړل۔ (قتادةؒ والسُدیؒ - ابن کثیرؒ)

د خلق الله د تغییر مطلبونه

فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللهِ : د خلق یوه معنیٰ د ابن عباس رضی الله عنهما او حسنؒ او مجاهدؒ او سعید بن المسیبؒ او ضحاكؒ نه نقل ده چه د الله دین ته وائی لکه آیت کی دی : ﴿لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللهِ﴾ (الروم : ۳۰) یعنی د الله دین اسلام به بدلوی۔ (بغویؒ)
۲- خلق کله په معنیٰ د فطرت سره وی (مجاهدؒ) لکه حدیث کی دی : [كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ وَيُمَجِّسَانِهِ] (بخاری: ۱۳۸۵ مسلم :۲۸۷۸) هر بچے په فطرت باندے پیدا کیږی بیا روستو د هغه مور او پلار هغه لره یهودی یا نصرانی یا مجوسی جوړ کړی۔ یعنی شیطان انسان د ایمان نه محرور وی۔

د خلق الله د تغییر نور صورتونه او شکلونه دا دی

۳- لکه د حیواناتو غوږونه وغیره پریکول لکه مخکی ذکر شو،

٤- بِالتَّحْلِيْلِ وَالتَّحْرِيْمِ. د شیطان په امر باندے به حلال حرام وګنړي او حرامو ته به حلال ووائي.

٥- د انس بن مالك ﷺ نه روایت دے چه ددے تغیر نه مراد د نارینه ؤ خصي کول دي.

٦- الله تعالیٰ نمر، سپوږمۍ، او کاڼړي او اُور وغیره د مختلفو مقاصدو دپاره پیدا کړیدي (چه خلك ترے فائدے واخلي) لیکن مشرکانو د هغوی د پیدائش مقصد بدل کړو او هغوی نهٔ ئے معبودان جوړ کړل.

٧- پدے تغییر کي د سرو نس بندي کول او دغه شان د زنانو د آپریشن کولو سره د هغوی د اولاد پیدا کیدو صلاحیت نه محرومول، د میك اپ په نوم باندے د وروځو وینښته پریکول، او خپل شکل مسخ کول او وشم (یعنی خالونه لګول) هم داخلیږي.

(ابن مسعودؓ- زاد)

ځینی مفسرینو نور جرمونه هم شمارلي دي لکه زنا، لواطت، زنانه ځان نه نارینه جوړ کړي او سړے او هلك ځان نه جینئ جوړه کړي، ګیره خرئیل، یو مجرم ته داسے سزا ورکول چه مُثله ئے کړي (غوږونه او پوزه او لاسونه او خپے ترے پریکړي)، یا ورله (شهواني) طاقتونه ختم کړي، عقل او دماغ ورله خراب کړي لکه ظالمان بادشاهان دا کار کوي چه دا ټول شیطاني کارونه دي، او ددے نه بچ کیدل ضروري دي. (الطبری و زاد المسیر۲/۱۳۵) ومعالم التنزیل للبغوی۲/۲۸۹) وابن کثیر والمنار ۵/۳٤۸وغیرهم).

دارنګه سپینے ګیرے او سر لره تك تور رنګ ورکول چه بل رنګ ورسره ملاؤ نۀ وي، او خپل نسب نفي کول چه د کوم نسب نه وي هغے ته نسبت نۀ کوي.

نو پدے کي هر هغه قول یا فعل شاملیږي چه شریعت د هغے اجازه نۀ وي ورکړي. نو د انسان خصي کولو اجازه شریعت نۀ ده ورکړے.

قرطبیؒ لیکلي دي : پدے باره کي د هیڅا اختلاف نشته چه د انسان خصي کول حرام دي او داسے کول د الله د خِلقت بدلول دي.

البته د څاروو خصي کول ددے دپاره چه د هغے فائده زیاته شي، یا د هغوی غوښه مزیداره شي، یا بل یو صحیح مقصد وي نو د بعض علماؤ په نیز جائز دي. لکه رسول الله ﷺ په هغه دوه ګډانو باندے قرباني کړے وه چه دواړه خصي کړے شوي وو. که دا جائز نۀ وے نو رسول الله ﷺ به پرے قرباني نۀ کولے. لیکن راجح دا ده چه دا هم جائز نۀ دي ځکه چه رسول الله ﷺ منع کړیده. (نَهٰی - عَنْ خَصَاءِ الْبَهَائِمِ) رسول الله ﷺ د حیواناتو د

خصی کولو نه منع فرمایلے دہ۔ (صحیح الجامع: ٦٩٦٠) او دغه گڼان رسول الله ﷺ نهٔ وو خصی کړی بلکه د دغه حدیث نه صرف دا معلومیږی چه په خصی گڼانو هم قربانی کیږی اگرکه په بنده به ئے په خصی کولو گناهګار وی۔

د خالونو نه مراد هغه خالونه دی چه په غوبنه کی ځای ونیسی او د بدن جزء جوړ شی لکه دا کار پخوا ډیر وو اُوس کم شویدے، او د زینت دپاره په تندی باندے عارضی ټاکے زنانه لگوی دا منع نهٔ دے۔ دارنگه د زنانه لاسونه سرهٔ کول او د سرو گیره سَرهٔ کول پکی داخل نهٔ دی۔

حافظ سیوطیؒ په «الاکلیل» کی لیکلی دی چه دا آیت د خصی کولو، د داغلو، زیاتی ویښتو لګولو، د غاښونو په مینځ کی جدائی پیدا کولو او د مخ نه د ویښتو د ویستلو په حرمت باندے دلیل دے۔

بیضاویؒ لیکلی دی چه د «خلق الله» نه مراد د انسان مخ او صورت او صفت دے۔ او د آزاد کړی اُوښ سترګه ویستل، د غلامانو خصی کول، داغل او خالونه لګول او اننګو باندے د ډول نخے لګول، لواطت، سُحاق (د دوه ښځو خپل مینځ کی جنسی خواهش پوره کول) د نمر او سپوږمئ عبادت، په اسلام کی تبدیلی راوستل، او اندامونه په غیر مفید کارونو کی استعمالول چه په هغے سره انسان ته هیڅ فائده حاصله نهٔ شی، دا ټول صورتونه ددے آیت په ضمن کی راځی۔

شوکانیؒ لیکلی چه د علماؤ یو ډلے د حیواناتو خصی کولو ته پدے غرض جائز وئیلی دی چه هغه چاق شی او د هغوی غوښه زیاته شی۔ بعض علماؤ دا مکروه گنړلی دی۔ (او همدا حقه ده ځکه چه نهی پکی راغلے ده لکه مخکی ذکر شوه) البته د انسان خصی کول د تمامو علماؤ په نیز حرام دی۔

فائده : صاحب د المنار دے ته هم اشاره کړیده چه نفس الله تعالیٰ داسے پیدا کړیدے چه نظر او استدلال او طلب د حق ته مائل کیږی او یوتن ئے د نظر او استدلال او فکر نه اړوی او په باطل باندے ورله تربیت کوی او د عقل منفعت ختموی نو دا هم د شیطان یو جال دے۔

سوال وجواب

شیطان څنګه قَسمونه وکړل چه زهٔ به خامخا انسانان گمراه کوم حال دا چه په هغه وخت کی خو لا د آدم علیه السلام اولاد پیدا نهٔ وو؟ نو دهٔ ته د گمراهئ څنګه پته ولګیده؟

ددے جواب دا دے چه شیطان د ګمراه کولو یقین نهٔ لرلو بلکه په خپل ګمان او اټکل باندے ئے دا قسمونه وکړل مګر دا ګمانی قسمونه په روستو زمانه کی په انسانانو باندے رشتینی شو لکه الله فرمائی :﴿ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ﴾ (سبا : ٢٠)

یقیناً په دوی باندے ابلیس خپل ګمان رشتینی کړو۔

او دا ګمان ئے یا پدے وجه کړے وو چه دهٔ ته چه کله الله وفرمایل : ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ (ص : ٨٥) خامخا زهٔ به ستا او ستا د تابعدارو نه جهنم ډکوم۔ نو دے پوهه شو چه زما تابعدار به پیدا کیږی۔ دویم دا چه کله دهٔ آدم عليه السلام خطا کړو نو پوهه شو چه ددهٔ بچی به ددهٔ نه زیات ضعیف وی۔ ځینی دلته معنیٰ کوی چه د ګمراه کولو نه مراد دا دے چه زهٔ به ورته په ګمراهئ باندے تیزی ورکوم، او د دوی په ګمراه کولو کی به کوشش کوم، نهٔ دا چه هغه په غیبو پوهیدو۔ (ابن الانباریؒ- زاد المسیر٢/١١٠)

وَمَن يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ : پدے جمله کی د شیطان د تابعدارئ نه یره بیانول مقصد دے۔ د ولی نه مراد رب دے (مقاتلؒ) چه د هغه مطلقاً اتباع کوی۔ یا د ولی نه مراد دوست دے (ابوسلیمان الدمشقیؒ)۔ (زاد)

فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِينًا : او ددے وجه دا ده چه د الله په اطاعت کی د دنیا او د آخرت همیشه فائدے دی، او د شیطان په اطاعت کی معمولی غوندے فائدے دی او ضررونه او غمونه پکی بی شماره دی او د آخرت عذاب دے، نو ددے دویم په سبب سره اول پریخودل ښکاره تاوان دے۔

يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ
وعده کوی شیطان د دوی سره او امیدونه اچوی دوی ته او وعده نهٔ کوی دوی سره شیطان
إِلَّا غُرُورًا﴿١٢٠﴾أُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنْهَا مَحِيصًا﴿١٢١﴾
مګر دهوکے والا، دا کسان ځای د دوی جهنم دے او نهٔ به مومی د هغے نه ځای د تیختے۔

تفسیر : يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ : یعنی دوی سره د دروغو وعدے کوی او ارمانونه او امیدونه ورته ښائسته ښکاره کوی۔

د شیطان د وعدو او ارمانونو وراچولو ډیر صورتونه دی (١) يَطُولُ عُمُرُكَ : عمر به دِ اُوږد شی۔ (٢) سَتَنَالُ لَذَّتَكَ وَمُرَادَكَ ۔ خوندونه او مزے به واخلے او مقصد به حاصل کړے۔

(زاد المسیر)

(۳) وَسَتَفُوْقُ عَلٰی اَقْرَانِكَ۔ او په خپلو ملګرو به اُوچت شې۔

(٤) مال به ډېر شي او عزت به درته حاصل شي، داسې قسم وسوسې د شیطان وي چه هر وخت ئې انسان ته اچوي دې دپاره چه هغه د آخرت د تیارئ نه مشغول کړي۔

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُوْرًا : د شیطان ټولې وعدې سراسر دهوکه او فریب دې لیکن د انسانانو معامله هم ډیره ناشنا ده، چه د رشتینو خبره کمه مني او د دروغژنو پسې زیات روانیږي لکه اُوګورئ چه شیطاني څیزونه په خلکو کې عام جاري دي او رباني کارونه اختیارونکي په هر دور او هر ځای کې کم دي او کم به وي،

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿وَقَلِيْلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ﴾ (سبا: ۱۳)

زما شکر ګزار بندګان کم دي۔ (احسن البیان)

هرکله چه شیطان په خپلو کارونو قسمونه کړي وو او لام او نون ئې د تاکید دپاره راوړي وو نو الله تعالیٰ د هغه د رد دپاره د تاکید او حصر په طریقه وفرمایل چه د شیطان ټولې وعدې غرور او دهوکه ده۔ غُرور دې ته وائي چه په ظاهره کې نفع ورکول ښکاره کړي او په حقیقت کې ضرر ورکول وي۔

إِلَّا غُرُوْرًا : دا یا مفعول لَهٗ دې یعني دپاره د دهوکې۔ یا (ذُوْ) لفظ پټ دې اَیْ ذَا غُرُوْرٍ۔ یعني دهوکې والا۔

مَحِيْصًا : اَیْ مَلْجَأً وَمَعْدِلًا ۔ یعني ځای د پناهئ او د اَوړیدو (زجاج-زاد) دا د حَاصَ يَحِيْصُ نه ظرف مکان یا مصدر میمي دې، په اصل کې په معنیٰ د بچ کیدو او په نفرت سره تختیدو ته وائي۔ (فَحَاصُوْا حَيْصَةَ حُمُرِ الْوَحْشِ اِلَی الْاَبْوَابِ- بخاري)

او مطلب دا دې چه د اُور نه به هیچرې تیختنه یا ځای د تیختې او بچ کیدو نهٔ مومي یعني همیشه به پکې پراته وي۔

وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ
او هغه کسان چه ایمان ئې راوړې او عملونه ئې کړي نیک زر دې چه داخل به کړو دوی لره
جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا وَعْدَ
جنتونو ته چه بهیږي به لاندې د هغې نه نهرونه همیشه به وي په هغې همیشه دا وعده

اللهِ حَقًّا وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾

د الله تعالیٰ ده، رشتینے ده او څوك دے ډیر رشتینی د الله تعالیٰ نه په وینا کې۔

تفسیر : پدے آیت کې ایمان والو ته د جنت زیرے او د الله د وعدے رشتینوالے بیانیږی په مقابله د وعدو د شیطان کې چه هغه دوکه ده، نو رشتینی وعده د الله تعالیٰ ده۔

وَعْدَ اللهِ : دا مصدر دے د تاکید د خپل پټ فعل دپاره چه په اصل کې وَعَدَ اللّٰهُ وَعْدًا دے، بیا فعل حذف شو او فاعل ئے د مصدر سره ملاؤ شو دپاره د اختصار۔ نو معنیٰ ئے ده : وعده کړیده الله تعالیٰ وعده۔ نو لنډه معنیٰ ئے کیږی : وعد د الله ده۔

حَقًّا : دا هم مصدر دے دپاره د پټ فعل : اَیْ حَقَّهٗ حَقًّا ۔ رشتینی کړے ئے ده په رشتینوالی سره۔ یا مضبوطه کړے او ثابته کړے ئے ده په مضبوطوالی سره ځکه چه د پیغمبرانو په ژبه ئے د هغے بیان کړے او بیا ئے د هغے بیان په کتابونو کې نازل کړے۔

قِيْلًا: دا مصدر دے په معنیٰ د قول سره۔

لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَا أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْءًا

نۀ دے کار (یا دین) په آرزوګانو ستاسو او نۀ په آرزوګانو د اهل کتابو چا چه عمل وکړو بد

يُجْزَ بِهٖ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾

بدله به ورکړے شی د هغے او نۀ به مومی ځان لره سویٰ د الله تعالیٰ نه بچ کونکے او نۀ مددګار

تفسیر : ربط : مخکې ئے ذکر کړل چه د شیطان په چالونو کې یو چال دروغژن ارمانونه او ارزوګانی دی چه پدے سره انسان خطا کوی نو دلته وائی چه په دروغژنو ارزګانو کامیابی نۀ ملاویږی بلکه ایمان او عمل صالح لره اعتبار دے۔

شان نزول

په مدینه کې د اهل کتابو او مسلمانانو بحث شو، اهل کتابو وویل : [نَحْنُ أَوْلٰى بِاللّٰهِ مِنْكُمْ وَنَحْنُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ] مونږ الله ته ستاسو نه ډیر نزدے یو او مونږ جنتیان یو، ځکه چه زمونږ نبی ستاسو د نبی نه مخکې راغلے دے، او زمونږ کتاب ستاسو د کتاب نه مخکې نازل دے، او مؤمنانو وویل چه مونږ الله ته ستاسو نه ډیر نزدے یو ځکه چه زمونږ نبی خاتم الانبیاء دے او زمونږ کتاب په ټولو کتابونو غوره دے، او مونږ ستاسو په کتاب

هم ایمان راوړے او په خپل کتاب هم نو مونږ الله تعالیٰ ته ډیر نزدے یو۔

(الطبری۹/۲۲۸ واسباب النزول للواحدی ص: ۲۱۱-۲۱۲) والبغوی (۲/۲۹۰)

نو الله تعالیٰ دا آیتونه نازل کړل او قانون ئے بیان کړو چه د الله تعالیٰ په نیز صفاتو لره اعتبار دے که په هر چا کی وی، نو په چا کی چه ایمان عمل او صالح وی هغه کامیاب دے او که چا کی گناهونه او شرکونه او د رسول الله ﷺ مخالفت وی نو هغه ناکام دے۔ددے وجه نه ئے خبره عامه پریخوده چه اهل کتاب متوجه شی ځکه که داسے ئے وئیلی وے چه [أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ خَيْرٌ] (د رسول الله ﷺ صحابه غوره دی) نو بیا به تخصیص راغلے وے نو مخاطب به نۀ متوجه کیدلے۔

اگرکه روستو ئے په ﴿وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ﴾ کی دا خبره بیان کړیده چه اسلام په ټولو دینونو کی غوره دین دے۔

نو پدے معنیٰ به دا خطاب په (لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ) کی مشرکانو او مؤمنانو ټولو ته عام وی۔

(۲) شان نزول : امام مجاهدؒ وائی : یو ځل عربو بت پرستو ووئیل چه زمونږ دین بهتر دے چه نۀ به دوباره راژوندی کیږو او نۀ به راسره حساب کتاب وکړے شی۔ او اهل کتابو (یهود او نصاراؤ) خپلو خپلو دینونو ته د بهترئ نسبت کاوه، او هرے ډلے دا خبره کوله چه جنت زمونږ دپاره جوړ دے۔

مجاهدؒ وائی چه دا خطاب صرف مشرکانو او اهل کتابو ته دے۔ او علامه طبریؒ وئیلی دی چه پدے دواړو کی غوره تاویل د امام مجاهدؒ دے ځکه چه مخکی او روستو آیتونه پرے دلیل دے ځکه چه مخکی ارزوګانی د شیطان ذکر شوے نو دلته په بحث کی مؤمنان راداخلول بهتر نۀ دی نو مطلب د آیت به دا وی :

خبره ستاسو په ارمانونو باندے نۀ ده اے د شیطان د ملګرو ډلے! کوم ارمانونه چه تاسو ته د الله دشمن درکړیدی چه تاسو به د تکلیفونو نه خلاصوی او مدد به درسره کوی، او په دشمن به مو کامیابوی، او نۀ په ارزوګانی د اهل کتابو ده کوم چه په الله او د هغه په حِلم باندے دوهوکه شویدی، او دا ئے وئیلی دی چه مونږ ته به اُور صرف یو څو ورځے رارسیږی، او جنت ته به صرف یهود یا نصاریٰ داخلیږی. (داسے نۀ ده) بلکه الله به په تاسو کی هر عمل کونکی ته د هغه د عمل بدله ورکوی، که په تاسو کی یا ستاسو نه علاوه نورو خلکو کی هر چا یو بد عمل وکړو نو هغه ته به د هغے سزا ورکولے شی۔ (طبری۲/۲۳۴)

لیکن اول شان نزول غوره دے ځکه چه په هغے کی عموم دے او بل د وجه د حدیث د

ابوبکر صدیق ﷺ نه چه روسټو راروان دي.
لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ : د لیس اسم پټ دے اَیْ لَیْسَ الْأَمْرُ وَالنَّجَاةُ وَالتَّزْكِيَةُ (تفسیر السعدی)
یعنی خبره او نجات او د ځان پاکی ستاسو او د اهل کتابو په ارزوګانو سره نۀ حاصلیږی او نۀ د هغے پورے متعلق ده.
مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ : امام احمدؒ د ابوبکر بن ابی زهیرؒ نه روایت کړیدے چه (کله دا آیت نازل شو) سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ پوښتنه اُوکړه، اے د الله رسوله ! ددے آیت نه روستو څوك د نجات او کامیابئ امید کولے شي چه هر چا ته د بدئ بدله ملاویږی ؟
(او په بل روایت کی دی : (نَزَلَتْ قَاصِمَةُ الظَّهْرِ) (اے د الله رسوله ! ملاماتونکے آیت نازل شو چه هر چا ته په بدئ باندے سزا ملاویږی (وَاَيُّنَا لَمْ يَعْمَلْ سُوْٓءًا ؟) (طبریؒ)
په مونږ کی داسے څوك دے چه هغه به بدی نۀ وی کړی یعنی که مونږ ته په هره بدئ (اګرکه وړه وی) سزا راکړے شي نو دا خو به زمونږ ملا ماته کړی).
نو نبی ﷺ وفرمایل : اے ابوبکر ! الله دِے تا ته بخنه وکړی، آیا تۀ نۀ بیماریږے، آیا په تا باندے غم نۀ راځی، آیا په تا کومه پریشانی نۀ راځی؟ ابوبکر صدیقؓ وویل : آؤ. نو نبی ﷺ وفرمایل چه دا هم بدله ده. (المحرر الوجیز ۲/۲۰۰) وتفسير القرآن العظيم للطبراني)
بخاریؒ او مسلمؒ د ابوسعید خدری او ابو هریره رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((مسلمان ته چه کله هم څه تکلیف، مصیبت، بیماری، غم یا پریشانی ورسی نو الله تعالیٰ د هغه ګناهونه معاف کوی)).
نو د ګناه ضرور اثر شته، دائے هم اثر دے چه انسان ته د جماعت توفیق ملاؤ نشی، یا ترے مونځ قضاء شی، یا ترے نور عبادات پاتی شی، د الله د ذکر او د عبادت نه محرومه کیدل هم لویه سزا ده. سفیانؒ وائی چه ما نه یو ځل ګناه شوے وه، نو زۀ شپږ میاشتے د تهجدو د توفیق نه محرومه شوم. د ګناه په وجه په زړه کی غفلت او د الله سره اُنس ختمیدل راځی.
نو کافر له الله تعالیٰ په دنیا او آخرت دواړو کی د ګناهونو سزا ورکوی او مؤمن ته په دنیا کی سزا ملاویږی او په آخرت کی ئے بیا معاف کوی خو د ګناه ضرور سزا شته. (البحر المحیط ٤/٧٥)
فائده : امام طبرانیؒ وائی که چرته سنت نۀ وے نو دا به ممکن وے چه مونږ وئیلی وے چه دا آیت د کفارو په باره کی نازل دے ځکه چه پدے آیت کی (وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا

وَلَا نَصِيرًا) راغلے دے (چه د قیامت په ورځ به د الله نه سوی هیڅ دوست او مددګار ونهٔ مومی) او څوك چه د قیامت په ورځ دوست او مددګار نهٔ مونده کوی هغه کافروی ځکه چه الله تعالیٰ د ایمان والا دپاره په دواړو جهانونو کی د مدد ذمه واری اخستے ده، فرمایلی ئے دی: ﴿اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَقُوْمُ الْأَشْهَادُ﴾ (غافر: ۹۱) لیکن دا قانون دے چه کله یو خطاب اجمالی راشی او رسول الله ﷺ د هغے بیان وکړی نو فیصله به د رسول الله ﷺ په بیان باندے کولے شی نهٔ په اجمال د آیت باندے ځکه چه رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ د قرآن کریم بیان سپارلے دے ﴿لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ﴾ (النحل: ٤٤)

تفسر القرآن العظیم للامام الطبرانی سورۃ النساء)

د امام طبرانیؒ د خبرے مطلب دا دے چه دا آیت مؤمنانو ته هم شامل دے لیکن د (مَنْ يَّعْمَلْ سُوْءً يُّجْزَ بِهٖ) نه مراد دا دے چه کله مؤمن نه یوه ګناه وشی نو الله تعالیٰ ورته په بعض ګناهونو باندے په دنیا کی مصیبتونه راولی نو دا د هغه بدله شوه۔ او هر چه کافر دے نو هغهٔ ته الله تعالیٰ په آخرت کی سزاګانے ورکوی۔

خبردارے:

پدے آیت کی د الله تعالیٰ حقیقی قانون ذکر دے چه په بد عمل باندے سزا مقرر ده او په بل آیت ﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ﴾ الشوری (۳۰) کی دا احسانی قانون ذکر دے چه ډیر ګناهونه الله معاف کوی، سزا پرے نهٔ ورکوی۔

نو دواړو کی هیڅ تعارض نشته۔ نو بنا پدے باندے په آیت کی دے توجیه ته ضرورت نهٔ راځی چه د (سُوْء) نه مراد شرك واخستے شی چه پدے باندے به خامخا سزا وی او نورِ ګناهونه کله معاف کوی او کله پرے سزا ورکوی۔

او دے ته بعض مفسرینو حاجت ځکه محسوس کړیدے چه د هغوی په ذهن کی د دواړو آیتونو ترمینځ تعارض ښکاره شویدے چه دلته وائی په هره ګناه سزا ده او هلته وائی چه ډیر معاف کوی۔ مګر حقه دا ده چه سوء هرے ګناه ته وائی شرك هم پکی داخل دے خو دا د الله تعالیٰ قانون حقیقی دے او په دغه بل آیت کی ئے قانون احسانی دے۔

د قانون قضائی او قانون احسانی مثال دا دے لکه یو مدیر ووائی چا چه غیر حاضری وکړه، د مدرسے نه به ویستل کیږی نو په یو وخت کی یو طالب غیر حاضری وکړی نو هغه معاف کړی د هغه د نورو ښه صفاتو په وجه نو احسان ئے ورسره وکړو نو دلته قانون

قضائی د دغه طالب ویستل دی لیکن احسانی قانون ورسره عملی شو چه په مدرسه کی پریخودے شو۔

وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ
او چا چه عمل وکړو د نیکو کارونو نه نارینه وی او که زنانه او دا وی مؤمن (موحد)
فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ
نو دغه کسان داخلیږی به جنت ته او ظلم به نشی کیدے په دوی باندے
نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾
په اندازه د داغ د هډوکی د کجورے۔

تفسیر : دا مقابل د (مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءً) دے، هلته یره ورکول وو دلته زیرے ورکوی۔ یعنی جنت ته د داخلیدو دپاره دوه شرطونه دی، اول دا چه صحیح ایمان چا کی راشی او بیا ورسره نیك عملونه کوی په تابعداریٔ د سنت کی۔

مِنَ الصّٰلِحٰتِ : دا مِنْ تبعیضیه دے یعنی بعض نیك اعمال ځکه چه ټول نیك اعمال د بنده د وَس او طاقت نه بهر دی لکه بعض خلکو باندے زکاة لازم نهٔ وی، په چا باندے حج او په چا باندے جهاد لازم نهٔ وی، یا ترے د عذر د وجه نه ساقط وی۔

يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ : یعنی که چا کی ایمان او ټول نیك اعمال راغلل نو هغه به بغیر د عذاب نه د اول نه جنت ته داخلیږی او که د ایمان سره ئے ګناهونه یو ځای کړل نو بیا د الله خوښه ده که معاف ئے کړو جنت ته به ئے داخل کړی او که معاف ئے نکړو نو سزا به ورکړی بیا به ئے جنت ته داخل کړی۔

وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا : یعنی دوی چه کوم نیك عملونه کړی وی د هغے نه به د هډوکی د داغ په اندازه هم کمے نهٔ کیږی، دارنګه پدے کی ضمیر (مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءً) ته هم راجع کیدل صحیح دی، یعنی که چا بد عمل وکړو نو د هغے په اندازه سزا به ورته ملاویږی او په هغوی باندے به په سزا کی ظلم او زیاتے نشی کیدے۔

وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ
او څوك دے ډیر ښائسته په اعتبار د دین سره د هغه چا نه تابع ئے کړو مخ خپل د الله دپاره

وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ
او دا نیکی کونکے وی او تابع شوے وی د دین د ابراهیم علیه السلام
حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا ﴿١٢٥﴾
چه مضبوط وو په حق او نیولے دے الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام لره دوست

تفسیر : پدے آیت کریمه کی الله تعالیٰ اُوس فیصله ذکر کوی چه صحیح دین د چا دے، اهل کتاب هم د صحیح دین دعوه کوی، او مسلمانان هم نو الله صحیح دین والا خلك بیانوی او د تعیین دپاره ئے دا آیت نازل کړو، او په تمامو دینونو باندے ئے د دین اسلام فضیلت بیان کړو چه د هغه انسان نه د چا دین غوره کیدے شی چه هغه خپل تندے د الله مخے ته خکته کړو او د هغه تابعدار شو، او د هغه نه سویٰ ئے بل هیڅوك رب ونهٔ منلو، او په خپل ژوند کی ئے نیك عمل کولو،

او د هغه ابراهیم علیه السلام د ملت اتباع ئے شروع کړه کوم چه د شرك نه پوره پوره بیزاری کړے وه، او حق پرستی ئے د خپل ژوند اول شعار جوړ کړے وو- نو پدے آیت کی ئے مؤمنان د یهود او نصاراؤ نه راجدا کړل څکه چه هغوی هم د ایمان او عمل صالح دعوه کوله-

ددے آیت داسے مثال دے لکه مخکی زمانه کی به مؤمنانو مسلمانانو ځان ته مؤمنان مسلمانان لقب نهٔ وئیلو بلکه ځانونو ته به ئے اهل السنة، اهل الحدیث وئیل، دا د معتزله او خوارجو او نورو گمراه فرقونه د ځان راجدا کولو دپاره څکه چه هغوی هم ځان ته مُسْلِمِین وائی نو که مونږه ئے هم ووایو نو بیا فرق نهٔ راځی او عوامو ته به فرق نهٔ معلومیږی لکه اُوس هم د فرق دپاره داسے نومونه کیخودلے شی- نو پدے آیت سره یهودیان او نصاریٰ د مسلمانانو نه جدا کوی-

الله تعالیٰ پدے آیت کی د اسلام فضیلت په دوه خبرو سره بیان کړیدے :

اوله خبره دا ده چه د اسلام بنیاد په عقیده او عمل دوه څیزونو دے- اسلام د بنده نه مطالبه کوی چه دا الله تعالیٰ خپل رب وګنړی او د هغه دپاره کامل عبودیت او خشوع او خضوع ښکاره کړی چه هغے ته په (اَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّٰهِ) سره اشاره ده او د ایمان سره په خپل ژوند کی نیك عمل هم کوی- پدے کی رد دے چه یهود او نصاراؤ کی دا صفت نشته-

دویمه خبره دا ده چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د الله بندګانو ته د ابراهیم علیه السلام دین طرف ته دعوت

ورکړو. او دا خبره هر چا ته معلومه وه چه ابراهیم ﷺ انسانانو لره صرف یو الله طرف ته رابلل او د هغه دین هر چا ته مقبول وو، پدې وجه د عقل تقاضا دا وه چه د محمد ﷺ دین د ټولو په نیز مقبول وې. او یهود او نصاریٰ او عربو مشرکانو ملتِ ابراهیمي پریخوستے وو نو د هغوی دین غوره نشو. (رازیؒ، قاسميؒ)

أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّٰهِ : ۱-اَیْ اِنْقَادَ نَفْسَهُ لِلّٰهِ. خپل ځان ئې د الله تابع کړو.

۲- أَخْلَصَ عَمَلَهُ لِلّٰهِ. خپل عمل د الله دپاره خالص کړي، هیڅ قسم شرکیات په هغه کې نهٔ وي. (ابن کثیرؒ)

۳- أَخْلَصَ دِیْنَهُ لِلّٰهِ وَخَضَعَ لَهُ وَتَوَجَّهَ اِلَیْهِ بِالْعِبَادَةِ. (سعید بن جبیرؒ، قرطبيؒ) یعني خپل دین الله دپاره خالص کړي او هغه ته عاجزي وکړي او په بندګئ سره هغه ته متوجه شي.

٤- [فَوَّضَ أَمْرَهُ اِلَی اللّٰهِ] (بغوی) خپل ټول کارونه الله ته وسپاري) ددې رجوع هم دې ته کیږي چه د غیر الله نه په ډډه شي او صرف د الله دپاره موحد شي.

وَهُوَ مُحْسِنٌ : ۱- [اَیْ مُتَّبِعٌ فِیْهِ الرَّسُوْلَ ﷺ] (ابن کثیر) او پدې عمل کې د رسول الله ﷺ تابعداري کوي. ۲- یا (وَهُوَ مُوَحِّدٌ) او دې توحید والا وي. (بغويؒ)

۳- احسان په عمل کې دا دې چه بنده داسې بندګي کوي ګویا که الله ته ګوري، یا الله دهٔ ته ګوري.

٤- یا اَسْلَمَ وَجْهَهُ کې اخلاص ته اشاره ده او په (مُحْسِن) کې اتباع د شریعت ده په کوم باندې چه الله تعالیٰ انبیاء او رسولان (علیهم السلام) رالیږلي دي او کتابونه ئې پرې نازل کړیدي. (السعديؒ)

یا په (اَسْلَمَ) کې صحیح اعتقاد ته اشاره ده، او په (مُحْسِن) کې نیك اعمالو ته ځکه احسان فعل د حسناتو او ترك د سیئاتو ته وئیلې شي. او پدې کې په ټولو باطلو او ګمراه ډلو باندې رد دې چه د چا عقیده خرابه ده او د چا عمل، او د چا دواړه. (اللباب)

﴿وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرَاهِیْمَ خَلِیْلًا﴾ یعني الله تعالیٰ ابراهیم ﷺ لره خپل دوست نیولې وو. پدې کې انسانانو ته یو قسم ترغیب ورکړې کیږي چه هرکله ابراهیم ﷺ د الله خلیل وو نو د هغه دین (چه دین اسلام دې) قبلول پکار دي.

امام ابن القیم رحمة الله علیه په خپل کتاب «الجواب الکافي» کې لیکلي دي چه کلمه د «خُلَّة» چه د هغې نه خلیل جوړ دې، ددې معنیٰ د کامل محبت او انتهائي محبت ده چه د هغې نه روستو په زړهٔ کې د بل هیچا دپاره هیڅ ګنجائش باقي پاتې نهٔ شي. او دا لوئی

منصب صرف د ابراهیم او محمد علیهما السلام دپاره خاص وو.

مسلمؒ او حاکمؒ د جُندب بن عبد الله بَجَلی رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه دۀ د نبی کریم ﷺ نه د وفات نه مخکی آوریدلی چه وئیل ئے :

((الله تعالیٰ زۀ خلیل جوړ کړے یم لکه څنګه ئے چه ابراهیم (علیه السلام) خپل خلیل جوړ کړے وو)). زمونږ نبی له الله تعالیٰ د حبیب مرتبه هم ورکړے وه او د خلیل هم.

خُلة کله هغه صفاء محبت ته هم وائی چه هیڅ نقصان پکی نۀ وی. (زجاجؒ) (تفسیر البغوی).

د خلیل او حبیب فرق دا دے چه خلیل هغه مُحب (دوست) ته وائی چه د هغه په محبت کی نقصان (کمے) او خلل نۀ وی. او حبیب مطلق دوست ته وائی.

وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ
او خاص د الله دپاره دی هغه څه چه په آسمانونو کی دی او هغه څه چه په زمکه کی دی
وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطًا﴿۱۲۶﴾
او دے الله په هر شی باندے راګیرونکے.

تفسیر : پدے کی بیان د تصرف او قدرت د الله تعالیٰ دے چه د آسمان او د زمکے هر شے د الله ملکیت دے، د هغه د قدرت نه هیڅ شے بهر نۀ دے، پدے وجه هغه د ټول جهان مالك به هغوی ته د هغوی د عملونو بدله ضرور ورکوی. نو که څوك پدے مخکنی قوانینو عمل کوی، نو خَانله ئے فائده ده، الله تعالیٰ ورته حاجت نۀ لری او که څوك ئے نۀ کوی، نو الله تعالیٰ ته هیڅ ضرر نشی رسولے خپل تاوان به وکړی.

بعض مفسرینو لیکلی دی چه دلته مقصد دا بیانول دی چه الله تعالیٰ چه ابراهیم علیه السلام خپل خلیل جوړ کړو نو پدے وجه نۀ چه الله تعالیٰ د ابراهیم علیه السلام د دوستئ محتاج وو بلکه دا خو د الله د طرف نه د ابراهیم علیه السلام انتهائی درجه اکرام وو.

او بعضو دا لیکلی دی چه مقصود دا بیانول وو چه د ابراهیم خلیل الله کیدل هغه د عبودیت د دائرے نه بهر نکړو او هغه ئے د عبودیت د رجے نه پورته نۀ کړو بلکه هغه د الله بنده دے چه د الله د تصرف لاندے دے. (تیسیر الرحمن)

مُّحِيطًا : حافظ ابن کثیرؒ لیکی : ددے احاطے نه علمی احاطه مراد ده یعنی د هغه د علم

نه هیڅ ذره هم بهر نهٔ ده۔

وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ
او تپوس کوی دوی ستا نه په باره د زنانو کی تهٔ اُووایه الله تعالیٰ مضبوط حکم کوی تاسو ته
فِيْهِنَّ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ
په باره د دوی کی او هغه چه لوستلے شی په تاسو باندے په دے کتاب کی (دے سورت کی)
فِيْ يَتَامَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَاتُؤْتُوْنَهُنَّ مَا
په باره د یتیمو زنانو کی هغه یتیمانے چه نهٔ ورکوئ تاسو هغوی ته هغه (مهر)
كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ أَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ وَ
چه مقرر کړے شوے دے هغوی لره او مینه کوئ تاسو چه نکاح وکړئ د هغوی سره او
الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ وَأَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتَامٰى بِالْقِسْطِ
په باره د کمزورو بچو کی او دا (حکم کوی) چه ودریږئ دپاره د یتیمانانو په انصاف سره
وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾
او هغه څه چه کوئ تاسو څه نیك کار نو یقیناً الله تعالیٰ دے په هغے باندے پو هه۔

تفسیر: **مضمون:**

پدے آیت کی نهم حکم دے د احکامو د معاشرے نه چه هغه حفاظت د حقوقو د کمزورو خلکو دے چه هغه زنانه او یتیمانان او واړه ماشومان دی، او مقصد دا دے چه بادشاه له پکار دی چه د دوی نه د ظلمونو په دفعه کولو کی کوشش وکړی۔ او عوام المسلمین له هم پکار ده۔

او په اول کی ئے هم ددے د حفاظت تلقین کړے وو او اُوس په مینځ کی هم او بیا په آخر کی هم۔

بیا د ښځے او د خاوند د اختلاف پیدا کیدو او د هغے د اصلاح په باره کی حکمونه شویدی خو فرق دا دے چه مخکی بد اخلاقی د ښځے د طرف نه وه او دلته بد اخلاقی د خاوند د طرفنه ده، نو د خاوند د بد اخلاقئ په حالت کی ئے د اصلاح او علاج صورتونه

بیان کړیدی تر (۱۳۰) پورې، او که یو سړی دوه ښځې کړی وی نو په هغې کی ئې د عدل حکم کړې او د ظلم نه ئې منع کړیده، بیا ئې پنځم علاج د زنانه په باره کی ذکر کړیدې چه هغه طلاق ورکول دی۔ نو په دې مجموعه آیتونو کی د مظلومانو او د کمزورو د حقوقو د حفاظت تاکید شویدې۔

بیا الله تعالیٰ د خپل مالکیت او بادشاهی تذکره درې ځل کړیده پدې کی بیان د احتیاج د بندګانو او استغناء د الله دې په (ولله ما فی السموات) سره، بیا ئې امر او وصیت په تقوئ سره کړیدې چه د الله په احکامو عمل وکړئ۔ بیا ئې په (اِنْ یَّشَاْ) کی تهدید او دهمکی ورکړیده نافرمانو ته چه الله کولې شی چه تاسو ختم کړی او ستاسو په ځای نور خلك راولی۔ بیا ئې یوه بله ذهن سازی کړیده په (مَنْ کَانَ یُرِیْدُ ثَوَابَ الدُّنْیَا) سره چه پدې کی د دنیا بی رغبتی او د هغه انسان بی وقوفوالې بیانول دی چه صرف دنیا د هغه نصب العین او منظور النظر ده نو ترغیب ورکوی دنیا او آخرت دواړو ته، دا خبره ئې ولې راوړیده؟ نو وجه دا ده چه کله انسان حقوق نهٔ ادا کوی نو په هغه کی دنیا پرستی راغلی وی ځکه چه د دنیا سره مینه د هرې ګناه سر دې۔

نو الله آخرت ته هم ترغیب ورکوی چه هغې ته هم فکر وکړه تر راتلونکی رکوع پورې بیا په (۱۳۵ او ۱۳۶) کی یو بل حکم ذکر دې چه د راعی او د رعیت او ټولو انسانانو سره متعلق دې۔

شان نزول

ددې آیت د نزول په باره کی مفسرینو مختلف روایات ذکر کړیدی علامه ماوردیؒ دوه قوله ذکر کړیدی:

(۱) ددې آیتِ کریمه د نازلیدو سبب دا دې چه بعض صحابه کرامؓ د نبی کریم ﷺ نه د ښځو په حقله پوښتنه اُوکړه چه په میراث او نورو کارونو کی د دوی څه حقوق دی؟ نو دا آیت نازل شو۔ (فتح القدیر للشوکانیؒ)

(۲) - د جاهلیت په زمانه کی زنانهٔ او ماشومانو ته چا په میراث کی برخه نهٔ ورکوله نو کله چه الله تعالیٰ د میراث آیتونه نازل کړل او زنانه او ماشومان ئې هم د برخو خاوندان جوړ کړل نو دا حکم په خلکو باندې درونډ تمام شو او د نبی کریم ﷺ نه ئې تپوس وکړو۔ (ګویا که د مخکنی حکم نسخ یا تبدیلی ئې غوښتله) (تفسیر الماوردی ۱/۵۳۲) وزاد المسیر

(۲/۰۰ ۲) وعزیز التفاسیر۳/۳٤۷)

وَيَسۡتَفۡتُونَكَ : دا د استفتاء نه دے طلب د فتویٰ ته وائی، او فتویٰ د فتیٰ نه دے، فتیٰ ځوان ته وائی او په ځوانئ حالت کی په انسان کی طاقت وی، نو فتویٰ هغه حکم ته وائی چه طاقتور وی، ددے وجه نه فتویٰ په شریعت کی هر هغه جواب او حکم ته وئیلے شی چه په کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ سره ثابت او مضبوط شی۔

ددے وجه نه فتویٰ دے ته نهٔ شی وئیلے چه انسان اجتهادی طریقے سره یا تقلیدی انداز کی د فقهاؤ اقوال رانقل کړی، صرف اقوال نقل کولو سره بنده مفتی نهٔ ګرځی لکه فقهاءِ احنافو هم لیکلی دی چه چه مفتی به مجتهد وی، صرف د علماؤ اقوالو نقل کونکی ته مفتی نشی وئیلے لکه دا خبره ابن همامؒ او ابن عابدین شامیؒ په کتاب القضاء کی لیکلے ده۔ [وَالْمُفْتِيْ يَنْبَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ مُجْتَهِدًا) قَالَ فِيْ فَتْحِ الْقَدِيْرِ : وَاعْلَمْ أَنَّ مَا ذُكِرَ فِي الْقَاضِيْ ذُكِرَ فِي الْمُفْتِيْ فَلَا يُفْتِيْ إِلَّا الْمُجْتَهِدُ وَقَدِ اسْتَقَرَّ رَأْيُ الْأُصُوْلِيِّيْنَ عَلَى أَنَّ الْمُفْتِيَ هُوَ الْمُجْتَهِدُ فَأَمَّا غَيْرُ الْمُجْتَهِدِ مِمَّنْ يَحْفَظُ أَقْوَالَ الْمُجْتَهِدِ فَلَيْسَ مُفْتِيًا وَالْوَاجِبُ عَلَيْهِ إِذَا سُئِلَ أَنْ يَّذْكُرَ قَوْلَ الْمُجْتَهِدِ كَأَبِيْ حَنِيْفَةَ عَلَى جِهَةِ الْحِكَايَةِ]

(البحر الرائق لابن نجیم، کتاب القضاء بحث الفاسق یکون مفتیا) وحاشیة رد المحتار علی الدر المختار ٥/ ٣٦١ مطلب یفتی بقول الامام علی الاطلاق) ومجمع الانهر فی شرح ملتقی الابحر ٣/ ٢١٥ لشیخ زاده)۔

یعنی مفتی به هغه څوك وی چه مجتهد وی، ابن همامؒ په فتح القدیر کی وائی چه پدے خبره پوهه شه چه د قاضی کوم شرطونه دی هغه به د مفتی هم وی، نو دا فتویٰ به صرف مجتهد ورکوی او د اصولینو پدے خبره اتفاق دے چه مفتی به صرف مجتهد وی هرچه غیر مجتهد دے چه د مجتهد اقوال ورته یاد وی نو هغه مفتی نشی کیدے بلکه په هغه باندے دا واجبه ده چه کله ترے تپوس وکړے شی نو د مجتهد مثلاً د امام ابو حنیفهؒ قول به په طریقه د حکایت ذکر کوی) آه۔

لیکن مونږ تپوس کوو چه ددے زمانے مفتیانو پدے اتفاقی خبرو باندے څومره حده پورے عمل کړیدے؟ چه ځان ته مفتیان وائی حال دا چه دوی خو وائی چه د اجتهاد دروازه بنده ده، نو د دوی په قول د افتاء دروازه هم بنده شوه،

دوی ته به صرف ناقلین وئیلے شی، نهٔ مفتیان، ددے دپاسه هم که یو مقلد ځان ته مفتی وائی نو دا به لوی جاهل او هټ دهرمی کونکے وی۔

فِي ٱلنِّسَآءِ : ددے نساء نه مراد یتیمانانے جینکۍ دی لکه روستو (فِيْ يَتَامَى النِّسَاءِ) د

هغې تفسیر دے۔
یا د نساء نه مراد عامې زنانه دي چه یتیمانانې جینکۍ هم پکې داخل دي یعنې د زنانو په باره کې تپوس کوی چه د دوی څه حقوق دي او د دوی سره څه معاملات پکار دي۔
قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ : الله تعالىٰ نبی کریم ﷺ ته خطاب کولو سره اُوفرمایل : ته اُووایه چه د ښځو سره متعلق چه کوم مسائل نۀ دي بیان شوی، نو د هغې په باره کې الله تاسو ته فتویٰ درکوی، او هغه مسائل چه مخکې نه په تیر شوی آیتونو کې بیان شویدی نو هغه آیتونه تاسو ته فتویٰ درکوی چه د هغې تلاوت تاسو د مخکې نه ددے سورت په ابتداء کې کوئ، یعنې د الله دا وینا : ﴿وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَآءِ﴾ او ددے نه روستو آیتونه۔
وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ : دا عطف دے په لفظ د (الله) باندے او يُفْتِيْكُمْ دلته پټ دے [أَيْ وَيُفْتِيْكُمْ مَا يُتْلٰى مِنَ الآيَاتِ فِي الْكِتَابِ] یعنې هغه آیتونه هم تاسو ته فتویٰ درکوی چه د مخکې نه په قرآن کریم کې په تاسو باندے لوستل کیږي۔ الله تعالىٰ دلته په خپل کتاب باندے حواله ورکړے ده او روستو بیا حواله ورکوی ﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ﴾ هلته ئے په سورة انعام باندے حواله ورکړیده، او دا د عظیم کتاب طریقه وی چه روستو په مخکې حواله ورکوی۔
فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ :
یعنې دغه آیتونه د هغه یتیمانو زنانو په باره کې نازل شویدی چه تاسو هغوی ته هغه څه (یعنې د میراث حق) نه ورکوئ چه الله ورته فرض کړی او مقرر کړیدی۔ او هم د هغه زنانو په باره کې نازل شویدی چه تاسو د هغوی د نکاح کولو نه اعراض کوئ۔ (یعنې بل چا ته ئے هم نۀ پریږدئ او خپله ئے هم نۀ کوئ یا دا چه تاسو د هغوی د نکاح کولو مینه لرئ لیکن مهر نۀ ورکوئ)
امام بخاریؒ په کتاب التفسیر کې د عروه بن زبیر رحمه الله نه روایت کړیدے چه هغه د عائشے رضی الله عنها نه د ﴿وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا﴾ په باره کې تپوس اُوکړو، نو هغې اُوفرمایل : چه ((دا د یتیمے جینۍ په باره کې دے، چه د خپل ولی په تربیت کې به وه، او د هغه په مال کې به شریکه وه، او ددے هغه ولی به ددے د مال او ښائست په وجه ددے سره وادۀ کول خوښول، لیکن هغې ته به ئے مناسب مهر نۀ ورکولو۔ الله تعالىٰ ددے نه منع اُوفرمائیله چه هغه دِے ددے په مهر کې د انصاف کولو نه بغیر ددے سره وادۀ نۀ کوی))۔

عروة وائي : عائشے رضي الله عنها اُووئيل چه خلقو ددے آيت نه روستو هم د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو نو دا آيت ﴿ وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ﴾نازل شو۔
عائشه رضي الله عنها وائي چه د الله تعالىٰ وينا : ﴿وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ ﴾ د هغه يتيمے جينئ په باره کي ده چه د هغے ولي به د هغے د نۀ ښائست په وجه د هغے سره وادۀ کول نۀ خوښول، او نۀ به دے ته تيار وو چه بل سړے ورسره نکاح اُوکړي ځکه چه يريدو به چه بل سړے به ددۀ په مال کي شريك شي۔ پدے وجه هغه به ئے تول عمر د واده کولو نه بنده ساتله۔
مخکي (د سورت په ابتداء کي) هم دا تير شويدي چه کله به د يو ے ماشومے جينئ پلار وفات شو نو جاهليت والو به ورسره داسے معامله کوله چه که جينئ به ښائسته وه او د کوم وارث به خوښه شوه نو پخپله به ئے په نکاح اخستله خو چه جينئ به څه مال لرلو نو هغه به ئے ترے خوړو او مهر به ئے نۀ ورکولو۔ او که پخپله به ئے د هغے نکاح نۀ وه خوښه، نو بل چا ته به ئے هم په نکاح نۀ ورکوله تردے چه وفات به شوه او د جينئ د پلار وارث ته به همدا مظلومه ميراثه شوه او هغوی به دا خپل ميراث ګنړلو او ددے نه پاتے شوے تول ميراث به ئے ځان ته کړلو۔ پدے وجه صحابه کرامؓ تپوس وکړو چه د يتيمانو جينکو سره څه معامله وکړي؟ نو دا آيتونه نازل شو۔
يَتَامَى النِّسَاءِ : يعني يتيمانانے جينکئ۔ ليکن نساء ئے ورته پدے وجه وئيلے دي چه اُوس د نکاح زمانے ته رسيدلے دي او يتيمي وے په اعتبار د مَاكَانَ (يعني مخکنئ زمانے) سره۔
لَا تُوْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ : دا يوه زجري جمله ده او مطلب ئے دا دے چه زۀ تاسو ته د هغه زنانهٔ په باره کي فتوئ درکوم چه ستاسو عادت دا دے چه تاسو هغوی ته د الله مقرر کړے حق نۀ ورکوئ۔
مَا كُتِبَ لَهُنَّ : اَىْ مِنَ الْمِيْرَاثِ وَالْمَهْرِ وَالنَّفَقَةِ۔ يعني چه تاسو ورله ميراث، مهر او نفقه نۀ ورکوئ۔ لکه په جاهليت کي به ئے زنانه د دغه درے واړو څيزونو نه محرومه وله۔
وترغبون ان تنكحوهن : ددے دوه مطلبه جوړيږي (۱) يو دا چه تاسو مينه کوئ د هغوی د نکاح کولو سره کله چه به يتيمه د مال او جمال والا وه، ليکن مهرونه ورته نۀ ورکوئ نو الله فتوئ درکوی او دغه آيتونه ئے نازل کړيدي چه تاسو دوی ته مهرونه ورکړئ او مال کي ورسره ځان مۀ شريکوئ۔ نو د ښځو نه به ئے غوا ميخه جوړه کړه هيڅ شرافت به ئے ورته نۀ ورکولو کوم چه په مهر کي دے۔ اَىْ وَتَرْغَبُوْنَ فِيْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ۔

(۲) یا دا چه دلته (عَنْ) کلمه پټه ده۔ او د رغبت معنیٰ ده اعراض۔ یعني تاسو اعراض کوئ د هغوی د نکاح کولو نه او بل ته ئے هم نهٔ پریدئ، نو ددے کار نه ځان وساتئ بلکه ددے جینکو سره احسان وکړئ، او د انصاف معامله ورسره وکړئ۔ دا څومره ظلم دے چه د یوے جینئ به واده ته زړه کیږی او مالکان به ئے د مال د خاطره نهٔ ورکوی، نو ددے نه به د هغے څومره سوچونه او فکرونه خرابیږی او معاشره کی به فسادونه پیدا کیږی، زنانه مظلوم قوم دے په هره زمانه کی پرے داسے قسم ظلمونه کیږی، بعض پلاران ساده ګان وی هغوی هم د خپلے خور لور په باره کی انتهائی د غفلت نه کار اخلی، هغوی ته ښے رشتے راځی لیکن د مال د خاطره یا د خپل عزت د خاطره، د هغوی په عزتونو باندے لوبی کوی۔ اَیْ وَتَرْغَبُوْنَ عَنْ نِكَاحِهِنَّ۔ یعني تاسو اعراض کوئ د هغوی د نکاح نه۔

وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ : دا عطف دے په (هُنَّ) ضمیر باندے د (فِيْ) د لاندے دے۔ یعني الله تاسو ته حکم کوی یا دغه آیتونه تاسو ته فتویٰ درکوی کوم چه د کمزورو ماشومانو په باره کی نازل شویدی چه هغوی سره احسان وکړئ۔

د جاهلیت په زمانه کی لکه څنګه چه ښځو ته په میراث کی حصه نهٔ ملاویده نو دغه شان ماشومانو ته به هم حصه نهٔ ملاویده، او دا به ئے ویل چه د میراث حق د هغه چا دے چه په لاس کی توره راخلی۔ پدے وجه الله تعالیٰ اُوفرمایل چه کمزورو ماشومانو ته هم د هغوی حصه ورکړئ، لکه چه الله په ابتداء د سورت کی فرمایلی دی : ﴿ يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ﴾ د اولادو په باره کی د الله دا حکم دے چه مذکر ته د مؤنث دوه حصے ورکړے شی۔

وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتَامٰى بِالْقِسْطِ : پدے جمله کی د میراث نه علاوه په نورو حقوقو کی په انصاف باندے امر کوی چه د یتیمانانو سره د انصاف معامله وکړئ لکه د سورت په ابتداء کی ئے فرمایلی دی : ﴿ وَآتُوا الْيَتَامٰى اَمْوَالَهُمْ ﴾ چه یتیمانانو ته د هغوی مالونه ورکړئ۔

وَاَنْ تَقُوْمُوْا : (۱) دا عطف دے په (يَتَامَى النِّسَاءِ) باندے نو د (فِيْ) د لاندے دے۔

(۲) یا عطف دے په (فِيْهِنَّ) باندے۔ اَیْ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ اَنْ تَقُوْمُوْا یعني الله تاسو ته حکم کوی چه د یتیمانانو په باره کی په انصاف ودریږئ۔ (۳) یا دلته يَاْمُرُكُمْ فعل پټ دے۔ او الله تاسو ته حکم کوی چه تاسو د یتیمانانو په باره کی په انصاف ودریږئ۔

د یتامیٰ نه مراد هلکان او جینکئ دواړه دی چه دوی سره به انصاف کولے شی چه میراث او مهر او نفقه به ورکولے شی۔ او دا ټولو حقوقو ته شامل دی، لکه هغه ته مال

ورکول، هغه ته ادب ورکول، او هغه سره د نرمئ نه کار اخستل، د یتیم د ادب دپاره وهل، په هغوی باندے شفقت کول، او د هغوی د مال حفاظت کول، او په سر باندے به ورته لاس راکاری وغیره چه په احادیثو کی ئے تشریحات راغلی دی۔

وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ : دا ټول حقوق الله او حقوق العباد ته شاملیږی لکه یتیم سره احسانات کول، او د شریعت په احکامو باندے عمل کول، یا عام د خیر کارونه کول۔

عنوان د آیت : په دے آیت کی څلور خبرے ذکر دی (۱) د یتیمانانو جینکو په باره کی حکم۔ (فی یتامی النساء) (۲) د عامو ماشومانو د حقوقو او د میراث خبره۔ (والمستضعفین)۔ (۳) د عامو یتیمانو سره د میراث نه په غیر نور احسانات کول۔ (وان تقوموا) (٤) او د عامو بندګانو سره عمومی احسان او د الله په دین باندے نور عمل کول۔ (وما تفعلوا من خیر)۔ نو دا آیت حقوق الله او حقوق العباد والمظلومین لره جامع دے۔

وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَاجُنَاحَ
او که چرته یوه ښځه یریږی د خاوند خپل نه د بد اخلاقئ یا د مخ اړولو نه نو ګناه نشته
عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ
په دے دواړو چه دوی جوړه وکړی په خپل مینځ کی جوړه کول او جوړه کول ډیره غوره کار دے
وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ وَإِنْ تُحْسِنُوا
او حاضر کړے شویدی نفسونه کنجوسئ ته او که تاسو احسان کوئ (یو بل سره)
وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾
او ځان بچ کوئ (د اختلافاتو نه) نو یقیناً الله تعالیٰ دے ستاسو په عملونو خبردار۔

تفسیر : پدے آیتِ کریمه کی الله تعالیٰ د ښځے او د خاوند سره متعلق یو حکم بیان کړیدے چه که ښځه د خپل خاوند د طرف نه بے تعلقی او بے توجهی معلوموی، د مثال په توګه د هغے سره په بستره اُوده کیدل پریدی، یا د هغے په اخراجاتو کی کمی وکړی، یا د هغے سره خبرے اترے او کیناستل پاڅیدل بند کړی، نو دواړو دپاره مناسب دا ده چه خپل مینځ کی صلح اُوکړی، او پدے خبره اتفاق اُوکړی چه خاوند د هغے حق ادا کړی لکه څنګه چه د اسلام تقاضا ده۔ او که داسے ممکن نۀ ښکاره کیده، او ښځه غواړی چه ازدواجی

ژوند دِے باقي پاتے شي نو مهر يا د اخراجاتو څه حصه دِے پريدي، يا خاوند ته دِے څه نور مال ورکړي، يا که هغه سره يوه بله ښځه وي چه دا هغه ډيره خوښوي نو د خپل نمبر څه ورځے دِے هغے ته ورکړي، او خاوند دِے دے ته طلاق ورنکړي،

دا هلـه چه ښـځه پدے باندے راضي وي، او که نهٔ وي راضي نو خاوند باندے لازم ده چه د هغے حق به پوره ادا کوي او که دا دواړه صورتونه هم ممکن نهٔ شو او اختلافات زيات شو نو بيا دِے خاوند طلاق ورکړي دے دپاره چه د هغے حقوق ضائع نکړي، ليکن الله فرمائي چه په صلح کي هر خير دے ځکه چه پدے سره زړونه يو ځاي کيږي او کورنو کي اختلافات ختميږي او ددے په نتيجه کي د انسان دين او عزت محفوظ کيږي۔

شان نزول

ددے د شان نزول په باره کي مفسرينو مختلف روايات ذکر کړيدي چه خلاصه ئے دا ده چه دا آيت د هغه سړي په باره کي نازل دے چه د هغه سره په نکاح کي يوه ښځه وي او هغه وغواړي چه بله ځوانه ښځه په نکاح کړي، او اوله ښځه طلاقوي پدے وجه چه دا بوډۍ ده، يا د مباشرت نه عاجزه ده، يا بد شکله ده، يا ئے اولاد نشته، نو دا اوله ښځه ورته ووائي چه ما مهٔ طلاقه وه او زما نمبر دويمے ښځے ته ورکړه نو په څه باندے چه راضي شوه نو خاوند له د هغے قبلول جائز دي لکه يوه شپه ددے سره تيره کړي او دوه يا درے شپے يا مباشت د نوے ښځے سره۔ (الطبري، والدر المنثور)

نو پدے کي الله تعالیٰ سړي ته پوره آزادي ورکړه۔ نو ښځه دا نشي کولے چه په خاوند باندے پابندي ولګوي چه بله ښځه به نهٔ کوي کله چه د خاوند ضرورت وي۔

نُشُوْزًا : نشوز په اصل کي پورته والي ته وائي يعني خاوند د ښځے د حقوقو د ادائيګۍ نه ځان پورته ګڼړي يعني د ښځے نه جدا والے او د هغے د صحبت نه لرے والے او د هغے په نفقه کي تقصير کوي۔

أَوْ إِعْرَاضًا : د اعراض نه مراد طلاق دي، يا دا چه خاوند د ښځے سره خبرے اترے او ناسته پاسته کمه کړي چه مقصد ئے دا وي چه هغه ښځه بدي ګڼړي، يا بلے ښځے ته مائل شي چه هغه ددے نه زياته ښائسته وي۔

د نشوز او اعراض فرقونه

۱- نشوز هغه بد اخلاقئ ته وائی چه په نفرت سره وی یعنی ښځه ئې خوښه نهٔ ده، او اعراض دے ته وائی چه په غیر د نفرت نه وی، هسے ئې ترے مخ اړولے دے، نورو ځیزونو ته ئې فکر وی، اخبارونه او ناولے او کهانیانے ګوری او ښځے ته ئې هیڅ فکر نهٔ وی.

۲- دے ته نزدے دا ده چه نشوز بد اخلاقئ وهل ټکولو ته وائی، او اعراض دا چه وهل نهٔ کوی لیکن هسے ئې ورسره طبع نهٔ لګی، توجه نهٔ ورکوی او د هغے حقوق نهٔ ادا کوی. او سړی کی دا دوه قسمه خویونه وی ځکه الله تعالیٰ ذکر کړل.

امام بخاری رحمة الله علیه د عائشه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه دا آیت د داسے ښځو په باره کی دے چه د هغے خاوند هغه نهٔ غواړی، هغے له طلاق ورکوی او د بلے ښځے سره وادهٔ کول غواړی، ښځه وائی چه ما له طلاق مهٔ راکوه او بل وادهٔ اُوکړه، او ما خپل خوراك او نفقه او خپل نمبر پریخودے دے.

حاکمؒ د عروهٔ په واسطه د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه هغے اُووئیل چه اے زما خورئیه ! رسول الله ﷺ به د نمبر په باره کی زمونږ نه هیچا له په هیچا باندے ترجیح نهٔ ورکوله، او تقریباً هره ورځ به زمونږ ټولو خوا ته راتلو، هرے ښځے ته به نزدے کیدو، لیکن ګوتے به ئې نهٔ وروړلے، تردے چه د چا نمبر به شو نو د هغے خوا ته به ورغلو او هلته به ئې شپه تیره کړه.

سوده بنت زمعه رضی الله عنها بوډئ شوے وه او هغه یریدله چه رسول الله ﷺ به هغه پریدی. هغے اُووئیل اے د الله رسوله ! زهٔ خپل نمبر عائشےؓ ته ورکوم، نو نبی ﷺ هغه قبول کړو. (بخاری : ۲۵۹۳ حسب ترقیم فتح الباری)

عائشه رضی الله عنها وائی : مونږ به وئیل چه دا او ددے په شان نورو حالاتو په باره کی الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿ وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا ﴾ الآیة. (ورواه الترمذی : ۳۰۴۰ واسناده صحیح- البانیؒ)

علماؤ لیکلی دی چه نبی ﷺ داسے دے دپاره اُوکړل چه د اُمت دپاره یوه نمونه جوړه شی. نو دا هم د اعراض یو صورت شو.

وَالصُّلْحُ خَيْرٌ : دا هرے صلحے ته شامل دے، د ښځے او خاوند پورے خاص نهٔ دے.

۱- او که د خاوند سره ولګی نو بیا به مطلب دا وی چه صلح د نشوز نه بهتره ده ځکه چه په نشوز سره خاوند ګناهګاریږی او د کور نه د جنګ میدان جوړیږی.

۲- صلح د طلاق نه بهتره ده چه کورنئ پرے ورانیږی او د اولادو نه جدا کیږی.

۳- صلح د ښځې او خاوند ترمینځ بهتره ده د هغه صلح نه چه دریمګړې پکې اشتراك وکړي او د جانبینو رازونه ورته ښکاره شي.

٤- صلح د قانوني فیصلې نه بهتره ده ځکه چه په هغې کې رسوائي او شرم پروت دے.

٥- صلح د زور او جبر نه بهتره ده چه وخت پرے ضائع کیږي او د نورو خطراتو احتمال پکې شته او زړه بد والے خو ورسره ملګرے دے. (عزیز)

وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ :

پدے کې الله تعالیٰ فرمائي : چه په نفسونو کې شح او بخل شته لیکن تاسو به د تقویٰ نه کار اخلئ یعني خپل څه شے چا ته نهٔ ورکول، پدے باره کې د بخل نه کار اخستل، د هر انسان په فطرت کې داخل دی. پدے وجه ښځې له پکار دی چه خاوند خپل طرف ته د مائل کولو دپاره د خپل بعض حقوقو نه لاس راکاږي، دغه شان د خاوند طبعي بخل ته دې نظر اُوکړي او د هغه د طرف نه دې په کمه راضي شي، او ډیر مال مطالبه دې نهٔ کوي چه هغه تنګ نکړي، دے دپاره چه صلح ته عملي جامه اغوستول ممکن شي.

الانفس نائب فاعل دے او (الشح) ئې مفعول دے. یعني نفسونه بخل ته حاضر شویدی یعني ګویا که بخل یو ځای کې پروت دے او نفسونه د هغې خوا ته حاضر شویدی نو د هغې اثر پرے شویدے، حاصل معنیٰ ئې دا ده (وُضِعَ الشُّحُّ فِي الْأَنفُسِ) یعني په نفسونو کې بخل کیخودلے شویدے، فطرةُ الله تعالیٰ د انسان په نفس کې بخل ایخودے دے. ﴿وَكَانَ الْإِنسَانُ قَتُورًا﴾ (اسراء: ۱۰۰) انسان بخیل دے. لیکن بنده به د خپل مزاج نه کار نهٔ اخلي بلکه تقویٰ ته به ګوري او ښځه به د خاوند بخل ته نهٔ ګوري ځکه چه دا فطري شے دے.

الشح : شح : ۱- اَلْحِرْصُ عَلَى مَنْعِ الْخَيْرِ ته وائي یعني د خیر په منع کولو باندے حرص کولو ته شح وائي. ۳- یا عَدَمُ إِرَادَةِ الْخَيْرِ لِلْغَيْرِ. یعني بل ته د خیر رسولو اراده نهٔ کول.

۳- اَلْحِرْصُ الشَّدِيْد ته هم وائي یعني سخت حرص کول، مګر دا ئې خپله معنیٰ نهٔ ده.

شح ډیر بد شے دے، رسول الله ﷺ فرمائي :

[وَلَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيْمَانُ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ أَبَدًا] (النسائی : ۳۱۱۰) باسناد صحیح- البانی)

شح او ایمان د بنده په زړه کې هیڅکله نهٔ راجمع کیږي. دا د ایمان منافي شے دے ځکه چه ایمان خیرخواهئ ته وائي (اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ) او شح بل دپاره خیر نهٔ طلب کول وي. او په یو بل حدیث کې ئې فرمایلي دي : [وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوْا دِمَائَهُمْ وَاسْتَحَلُّوْا مَحَارِمَهُمْ] تاسو د شح نه ځان بچ کړئ ځکه چه شح ستاسو نه

پخوانی خلك هلاك كړيدی، پدے خبره ئے راپورته كړل چه د انسانانو وينی ئے توی كړے او د هغوی عزتونه او مالونه لوټ كول ئے حلال وګڼړل- (صحيح مسلم : ٦٧٤١ باب تحريم الظلم)- قتلونه كول او پردی مالونه خوړل هم د شح نه پيدا كيږی-

څوك چه د شح نه خلاص شو نو دا كامياب دے-

﴿ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ (الحشر:٩)

سعيد بن جبيرؒ د ابو هياج الاسدیؒ نه نقل كوی هغه وائی : ما عبد الرحمن بن عوف ﷺ په طواف كی وليدو چه صرف دا يوه دعائے بار بار كوله : [اَللّٰهُمَّ قِنِىْ شُحَّ نَفْسِىْ] اے الله ! ما د خپل نفس د شح نه بچ وساته- نو ما ورته ووېل چه څرنګ صرف پدے يوه دعا باندے اكتفاء كوے؟- هغه ووېل : (آيا تا قرآن كی نۀ دی ويلی : چه څوك د نفس د شح نه خلاص شو نو دا كامياب خلك دی)- او په يو روايت كی دی چه وے فرمايل : كله چه زۀ د نفس د شح نه خلاص شوم نو اسراف به نۀ كوم، زنا به نۀ كوم، خيانت او غلا به نۀ كوم- او په يو روايت كی دی چه وے فرمايل : بعض د شح نه دا خبره ده چه انسان د الله په نافرمانئ شح وكړی نو ګناهونه شروع كړی- (معجم الصحابة لابی القاسم البغوی رقم الحديث : ١٨٧٧) واخبار مكة للفاكهی رقم : ٤١٥-٤١٦) الناشر : دار خضر بيروت)

د شح مصداقات

شح ديته وائی چه انسان خپل خير بل چا ته نۀ وركوئ نۀ مال وركوی او نۀ د چا خدمت كوی او نۀ د بل چا دپاره يوه خبره كوی چه هغه ته پرے فائده ورسيږی بلكه كه يو انسان ته د بل چا د طرفنه يوه فائده رسيږی او دۀ ته پكی هيڅ ضرر هم نۀ وی نو دے پرے بيا هم خفه وی چه دے انسان ته دا فائده ولے ورسيدله، او په زړه كی په هغے باندے نا راضه وی چه دا كار ولے وشو او بيا به د هغه پسے خبرے هم كوی چه دا سړے خو ددے فائدے او خير مستحق نۀ وو دۀ ته ولے وركړے شوه- او زړه ئے په هغے راتنګ شی او وركونكی ته هم په غصه شی چه دا په هيڅ نۀ پوهيږی، او دا مرض په عامو انسانانو كی دے مګر هغه څوك به بچ وی چه الله پرے رحم وكړی، ټول حسدونه او كينے د شح نه پيدا كيږی-

ددے ډير مثالونه دی : ١- لكه يو نيك سړی ته يو تن خور لور وركوی نو دے پرے خفه وی چه دا ئے ورله ولے وركړه، دا خو ددے لائق نۀ وو، دے خفه وی چه ددے شخص ولے ددے اُوچتے كورنئ سره خپلولی راغله- ٢- يو تن ته بل څوك مال وركړی او دے ئے وينی نو دۀ

لـه پریے غصه ورشي چه دا مال ئے ولے ورکړو. ۳- ډیر کرته یو تن په مال یا په علم کی ترقی وکړی نو نور خلك هغه له خیے وهی چه دا ولے دیے علم ته ورسیدو، او ولے ورته دومره مال ملاؤ شو نو د هغه د ضرر پسے لګیا شی، شیطانیانی ورله کوی حال دا چه دهٔ ته ئے هیڅ ضرر نهٔ وی.

٤- یو تن په یوه اداره او جامعه کی ماجستری او دکتوریے ته قبلیږی نو بل ورله شیطانی وکړی چه سند ئے جعلی دیے.

د شح او بخل فرقونه

۱- شح : اَلْحِرْصُ عَلٰى مَنْعِ الْخَيْرِ ته وائی یعنی خیر منع کولو باندیے حرص کولو ته. او بخل حق منع کولو ته وائی نو څوك چه د الله او د بندګانو حقوق ادا کوی هغه ته بخیل نشی وئیلے.

۲- ځینی داسے فرق کوی چه شح هغه بخل ته وائی چه حرص ورسره وی. نو دا د بخل نه سخت دیے. ۳- یو حدیث کی ئے داسے فرق راغلے دیے :

[اَلْبَخِيْلُ يَبْخَلُ بِمَا فِيْ يَدِهٖ وَالشَّحِيْحُ يَشِحُّ بِمَا فِيْ أَيْدِي النَّاسِ]

(بخیل هغه چاته وائی چه د خپل لاس نه چاته څه نهٔ ورکوی او شحیح (سخت بخیل) هغه چاته وائی چه د خلکو په لاسونو کی کوم نعمت وی په هغے بخل کوی.

٤- بخل په مال کی استعمالیږی او شح عام دیے مال، عزت او محبت ټولو باندیے بخل کولو ته وائی، يُقَالُ هُوَ شَحِيْحٌ بِمَوَدَّتِكَ وَلَا يُقَالُ بَخِيْلٌ).

(الفروق اللغوية لابی هلال العسکری ص ۲۹۵).

نو ددیے جملے (وَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ) مقصود دا دیے چه الله تعالیٰ ستاسو په نفسونو کی دا څیز ایخودیے دیے، نو ددیے علاج به کویے، او په نفس کی خبیث څیزونه شته نو په انسان باندیے د هغے تزکیه واجبه ده چه دا بد صفات د ځان نه وباسی.

د بعض عارفینو نه نقل دی چه شح فی نفسهٖ مذموم نهٔ دیے ځکه چه دا فطری شے دیے، مذموم هغه شح دیے چه په زړه باندیے تسلط وکړی او د هغے تابعداری شروع شی. (نفس المصدر السابق)

فائده : پدیے جمله ذکر کولو کی په ظاهری نظر کی څه فائده نهٔ ښکاری بلکه دا خو لا په صلح نهٔ کولو باندیے تیزی ده ځکه چه کله دا وویل شو چه شح د انسانانو سره ترلے

شویدے نو هریو تن به په خپل هدف کلك ولاړ وی؟ مګر اصل خبره دا ده چه دا ډیره جامعه او ژوره جمله ده او مقصد ئے دا دے چه اے صلح کونکیه ! لکه چه تهٔ دا غواړے چه تا ته ستا مقابل ټول اهداف او حقوق درکړی، او تهٔ د هغه ټول حقوق د خپو لاندے کړے نو دغه شان ستا مقابل هم نفس لری او په خپل هدف باندے کلك ولاړ دے، لکه چه تهٔ د هغه حقوقو ته په طمع ئے نو هغه ستا حقوقو ته په طمع دے، نو تاسو دواړو طرفونو له پکار دی چه په خپلو اهدافو حاصلولو کی لږ د نرمئ نه کار واخلئ او که نرمی نهٔ کوئ نو بیا به ستاسو د سولے (صلح) دعوه دروغژنه وی او په حقیقت کی به سولے ته تیار نهٔ یئ۔ (عزیز التفاسیر)

ابن عاشورؒ لیکی : د عربو په نیز په مال باندے شح کول او سماحت (سخا) نهٔ کول مذموم (بد) یادیدل نو پدے جمله کی نفرت ورکوی په هغه عوارضو باندے چه هغه د سخاوت او صلح نه مانع ګرځی او په همدے وجه ئے روستو په احسان باندے امر کړیدے۔

وَإِنْ تُحْسِنُوا : الله تعالیٰ خاوندانو ته خطاب اُوکړو وے فرمایل چه که تاسو د خپلو ښځو سره ښائسته سلوك کوئ او د هغوی په باره کی د الله نه یره کوئ نو الله تعالیٰ ستاسو په عملونو ښه پوهه دے، د هغے به ښائسته بدله درکوی۔ نو پدے کی ترغیب دے احسان کولو ته۔ او اشاره ده چه کوم بندګان احسان کونکی وی نو هغوی د شح نه بچ کیدونکی او کامیابئ طرفته تلونکی دی۔

وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ

او هیچرے تاسو طاقت نهٔ لرئ چه انصاف وکړئ په مینځ د زنانو کی اګرکه حرص کوئ تاسو

فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ

نو مهٔ کږیږئ په پوره کږیدلو سره پس چه پریدئ هغه بله په شان د زوړندے او که

تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿۱۲۹﴾

اصلاح کوئ تاسو او ځان ساتئ (د ظلم نه) نو یقیناً الله تعالیٰ دے بخنه کونکے رحم کونکے۔

تفسیر : دا آیت د دوه ښځو سره لګی او په بعض صورتونو کی د یو سے ښځے سره هم لګی۔ مثلاً یو سړے دے چه ډیرے ښځے ئے کړیدی نو دے به عدل کوی او ظلم به نهٔ کوی که عدل ئے ونکړو لوی مجرم به وی۔ اصحاب السنن د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه

رسول الله ﷺ اُوفرمايل: ((د چا چه دوه ښځے وی او هغه يو طرف ته پوره کوږ شی [جَاءَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَأَحَدُ شِقَّيْهِ سَاقِطٌ] نو د قيامت په ورځ به د هغه يو طرف پريوتے وی)).(واسناده صحيح) يعنی د آخرت په ورځ به فالج وهلے وی.

د ښځو ترمينځ عدل به په کومو کارونو کی وی؟

بيا دا عدل به په ظاهری کارونو کی کوی لکه شپه تيرول (چه يوے سره شپه تيره کړی نو بلے سره به ئے هم تيره وی) او په نفقه او خرچه او جامو او خوراکونو او جدا کوټه ورکولو کی به انصاف کوی. او هرچه محبت او د زړه ميلان دے نو هغه غير اختياری شے دے په هغے باندے الله تعالىٰ بنده نۀ راګيروی لکه د رسول الله ﷺ به د عائشے رضی الله عنها سره محبت زيات وو.

په مسند احمد (٦/١٤٤ طبعة الحلبی) کی د عائشه رضی الله عنها نه روايت شويدے چه نبی کريم ﷺ به د خپلو بيبيانو ترمينځ د نمبر په تقسيم کی پوره انصاف کولو، بيا به ئے وئيل چه [اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِیْ فِيْمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِیْ فِيْمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ يَعْنِی الْقَلْبَ] اے الله ! د کوم شی چه زۀ مالك يم، په هغے کی ما تقسيم اُوکړو او د کوم چه ته مالك ئے، زۀ نۀ يم، (يعنی زړۀ) د هغے په کړيدو کی ما مۀ ملامته کوه.

دارنګه په جماع کی هم مساوات ضروری نۀ دے لکه دا خبره د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل ده (قاسمیؒ) ځکه چه زنانو کی تفاوت وی، ځينی زنانه کی کمالات وی او ځينی ساده وی، خپله صفائی او د محبت اظهار پوره نشی کولے نو هغے ته د بنده توجه کمه وی، دارنګه د ځينو زنانو شهوات کم وی، دے طرفته ئے توجه ډيره نۀ وی، البته داسے به هم نۀ کوی چه د بلے ښځے هيڅ خبر نۀ اخلی او هيڅکله خواله نۀ ورځی او هغه ئے زوړنده پريښی وی. (کل الميل) لفظ پرے دليل دے. اَیْ كُلَّ الْمَيْلِ اِلٰی اِحْدَاهُنَّ اَوْ عَنْ اِحْدَاهُنَّ. (التحرير) يعنی پوره مائله کيدل يوے طرفته يا پوره مائله کيدل د يوے نه.

نو الله پدے آيت کی يو لوئی حقيقت بيان کړيدے چه اے خلقو ! تاسو د هر قسم کوشش باوجود د خپلو ښځو ترمينځ پوره طريقے سره مساوات او برابری نشئ کولے. ابن عباسؓ، مجاهدؒ او حسن بصریؒ وغيرهم همدا تفسير بيان کړيدے.

نو دا دعوه چرته ونکړئ چه مونږ پوره حق ادا کونکی يو. او د عدل طاقت نۀ لرل په محبت او جماع کی دی، کما مرّ.

پدے وجه الله تعالیٰ نصیحت کړیدے چه که کومے یوے ښځے طرف ته ستاسو میلان وی نو پدے کی د حد نه تجاوز کول نهٔ دی پکار چه دویمه د آسمان او زمکے ترمینځ زوړنده پریدئ۔ اَیْ لَا اَیِّمٌ وَلَا ذَاتُ زَوْجٍ۔ چه نهٔ کُنډه وي او نهٔ د خاوند والا وی۔

وَلَوْ حَرَصْتُمْ : دا د مخکی سره لګی یعنی اګرکه انسان په عدل کی ډیر حرص کوی خو بیا هم د محبت په باب کی دا کمزوری دے۔

ځینی وائی دا د روستو سره لګی : یعنی اګرکه ستاسو یوے زنانه سره حرص او محبت زیات وی خو هغے ته به پوره نهٔ مائله کیږئ۔ اول قول غوره دے۔

وَاِنْ تُصْلِحُوْا : یعنی که تاسو د خپلو کارونو اصلاح اُوکړئ، د نمبر په تقسیم کی د عدل نه کار واخلئ، او په هر حال کی د الله نه یره اُوکړئ نو الله تعالیٰ ډیره معافی کونکے او انتهائی رحم کونکے دے۔ د اصلاح یو صورت دا دے چه ښځه په لږ څه راضی شی او د خپلو بعض حقوقو نه تیره شی، نو خاوند له هم پکار دی چه دا اُومنی او ښځے ته طلاق ورنکړی۔

وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ
او که چرته جدا شول دا دواړه نوبے پرواه به کړی الله تعالیٰ هر یو لره د خپلے فراخئ نه
وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا﴿۱۳۰﴾
او دے الله فراخه (فضل والا) حکمتونو والا۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ وعده کړیده چه که د خاوند او ښځے په مابین کی د هر ممکن کوشش باوجود صلح اُونهٔ شی او دواړه د یو بل نه په خوشحالئ جدا شی نو الله تعالیٰ به په خپل فضل او کرم سره دواړو نه هر یو مستغنی (بے پرواه) کړی او ددے نه به د ښائسته رشتے انتظام اُوکړی، الله تعالیٰ ډیر فراخه فضل والا او لوی حکمتونو والا دے۔

نو ښځه دِے دا نهٔ وائی چه ما له خاوند طلاق راکړی زهٔ به څه کوم او زما ژوند به څنګه تیریږی؟ نو الله فرمائی چه د الله سره ځایونه ډیر او فراخیانی زیاتی دی۔ دارنګه سړے وائی چه که زهٔ دا ښځه پریږدم ما ته به بله ملاؤ شی او که نهٔ؟ نو الله فرمائی : د الله سره هرڅه دی، نو په هر صورت کی خیر دے۔ (المحرر الوجیز)

وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا : اَیْ بِالطَّلَاقِ اَوْ بِالْخُلْعِ ۔ یعنی که ښځه او خاوند د یو بل نه په طلاق یا په

خلع سره جدا شی۔

مِنْ سَعَتِهٖ : یعنی د الله د فراخئ نه۔

وَاسِعًا : اَیْ فَضْلُهٗ وَمُلْكُهٗ۔ یعنی د الله فضل او بادشاهی فراخه ده۔او حکیمائے ورپسے روستو راوړو اشاره ده چه الله تعالیٰ خپل فضل ورکوی موافق د تقاضا د خپل علم او حکمة۔ (التحریر والتنویر)

ابوحیانؒ د امام راغبؒ نه نقل کوی چه حکیم دلته ډیر مناسب صفت راوړے شویدے ځکه چه حکمة یو شے په مناسب ځای کی کیخودو ته وائی او د فراخئ سره چه حکمة نهٔ وی نو د صلاح په ځای فساد ته زیاته نزدے کیږی۔ (البحر المحیط ٤/٩٠)

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ
او خاص د الله دپاره دی هغه څه چه په آسمانونو کی دی او هغه څه چه په زمکه کی دی
وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ
او یقیناً مونږ وصیت کړے وو هغه کسانو ته چه ورکړے شویدے کتاب مخکی ستاسو نه
وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ وَإِنْ تَكْفُرُوْا فَإِنَّ لِلّٰهِ
او تاسو ته (هم) چه اُویریږئ د الله تعالیٰ نه او که تاسو کفر کوئ نو یقیناً خاص د الله دپاره دی
مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا﴿۱۳۱﴾
هغه څه په آسمانونو کی دی او هغه څه چه په زمکه کی دی او دے الله بے حاجته ستائیلے شوے۔
وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا ﴿۱۳۲﴾
او خاص د الله په اختیار کی دی هغه څه چه په آسمانونو کی دی او هغه څه
فِي الْأَرْضِ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا
چه په زمکه کی دی او کافی دے الله کار جوړونکے۔

تفسیر : پدے آیتونو کی الله تعالیٰ خپل کمال تصرف او ملکیت بیانوی او دائے درے ځل ذکر کړیدے، یا د تاکید دپاره دے لیکن ظاهر دا ده چه د راتلونکو فائدو دپاره دے :

اول ځل د دلیل په طور ذکر شویدے چه که خاوند او ښځه دواړه د یو بل نه جدا شی نو

الله بـه دواړه پـه خپلو فراخه نعمتونو کی پټ کړی ځکه چه الله د ټولے دنیا مالك او بادشاه دے۔ او دویم ځل دلیل ګرځول شویدے ددے دپاره چه د خلکو ناشکری کول الله تعالیٰ ته هیڅ ضرر نـهٔ شی رسولے او هم د دوی اطاعت ورته څه فائده نهٔ ورکوی، دواړه کارونه د هر چا د خپل ځان دپاره دی، ښه وی او که بد، لو دا ځکه چه الله د ټولے دنیا بادشاه دے چه په هر اعتبار سره پوره دے۔

او پـه دریم ځل بـانـدے دا جـمـلـه د کـمـال قـدرت دپاره دلیـل جوړ شویدے چه که تاسو نـافـرمـانی کوئ نو ولے به مو نهٔ ختموی او نور خلك به ستاسو په عوض کی ولے نهٔ راولی ځـکـه چـه الله د ټولے دنیا بادشاه دے هرڅه د هغه په اختیار سره کیږی۔ فَالْأَوَّلُ لِتَقْرِيْرِ كَوْنِهٖ وَاسِعَ الْجُوْدِ وَالثَّانِيْ: لِلتَّنْزِيْهِ عَنْ طَاعَةِ الْمُطِيْعِيْنَ، وَالثَّالِثُ لِقُدْرَتِهٖ عَلَى الْإِفْنَاءِ وَالْإِيْجَادِ۔ (رازیؒ)

اے انسـانـانـو ! سـتـاسـو د نـافـرمـانیانو باوجود چه الله تاسو کوم ژوندی ساتلی یئ نو دے دپاره نهٔ چه هغه ستاسو د فانی کولو نه عاجز دے۔ هغه په هر وخت کی په یو ځل ستاسو پـه خـتـمـولو پوره قدرت لری، هغه تاسو لره دے دپاره ژوندی ساتلی دی چه هغه ستاسو د بـنـدګـئ نـه پـه پوره توګه بے نیاز دے او ستاسو په نافرمانئ سره د هغه په عزت او شان کی هیڅ نقصان نهٔ واقع کیږی۔

دا د تکرار یوه فائده شوه۔

وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ : ددے جـمـلـے معنیٰ آسانه ده خو مقصد پکی ذهن سازی ده او درے ځل ئے ذکر کړه یا د تاکید دپاره۔ یا پدے کی ډیرو فائدو ته اشاره ده یو دا چه هر څه د الله دی نو نظام به د هغه چلیږی او د هغه د احکامو پابندی به کیږی۔

۲– دویـم دا د واسعًـا حـکـیـمًا دپاره علت دے یعنی الله ځکه فراخه فضل او بادشاهئ والا دے چه د آسمان او د زمکے د هر شی اختیار د هغه سره دے۔ دریم پدے کی اشاره ده چه اے بنده تهٔ غلام ئے، د غلام په شان ژوند به تیروے نهٔ د سیدانو او مالکانو په شان، نو په نور چا به تکبر نهٔ کوی او پردی حقوق به ادا کوی۔

وَلَقَدْ وَصَّيْنَا : الله تـعـالیٰ د تاکید په شکل په تقویٰ باندے امر کړے او پدے کی حکمت دادے چه اکثر انسـانـان کورنی حقوق نهٔ ادا کوی، نو ځکه تاکیدی حکم وشو چه د الله نه یره وکړئ او د الله او د بندګانو حقوق ادا کړئ۔

پـه بـل تـعـبـیـر سره اصلاح د نظام الاسرة (یعنی د کورنئ نظام برابر والے) په شریعت کی ډیـر لـوی مـهـم حـکـم دے پـدے وجـه ددے د بـرابـروالی دپاره په تقویٰ باندے قرآن کریم کی

تاکیدات زیات راځي. کله چه کورنۍ کې اختلاف راشي نو پدې سره جنګونه، بد اخلاقیاني او د اولادو تربیت خرابیدل او د دوه کورنو جنګونه او بغضونه پیدا کیدل راځي، او مونځونه او عبادات پدې سره ضائع کیږي مګر پدې خبره هغه څوك ښه پوهیږي چه هغه د ژوند د مقصد نه خبر وي او یو مقصد ئې لاس کې رانیولے وي نو هغه ته کورني اختلافات ډیر لوی ضرر ورکوي، د مقصد نه ئې ورانوي. دا وجه ده چه په سورة الطلاق کې هم الله تعالیٰ د تقویٰ حکم زیات کړیدے.

بیا دې آیت ته علماء کرامؒ قُطْبُ الْقُرْآن (د قرآن مِحْوَر) وائي ځکه چه د ټولو کارونو دارومدار په همدې دے.

وَلَقَدْ وَصَّيْنَا : اَیْ اَمَرْنَا وَعَهِدْنَا. یعني مونږ مضبوط حکم کړے. (البحر)

وَإِنْ تَكْفُرُوْا : د تقویٰ په مقابله کې ئې کفر راوړو ځکه چه قرآن کریم کې اکثر اعلیٰ درجې بیانیږي، بنده به یا اعلیٰ مؤمن وي یا به کافر وي او مینځ کې د فاسقانو درجه کمه بیانوي. او د تقویٰ ادنیٰ درجه دا ده چه بنده د شرك او کفر نه ځان وساتي نو پدې معنیٰ هم کفر مقابل د تقویٰ صحیح دے.

وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ : درې ځل تکرار دپاره نور نکتې ابوحیانؒ داسې ذکر کړیدي:

(۱) ابن عطیہؒ ته نقل کوي چه اول ځل کې تنبیه ده په ځای د امید چه دواړه جدا کیدونکي (ښځه او خاوند) له پکار دي چه د الله نه امید وساتي. او په دویم کې تنبیه ده په استغناء د الله تعالیٰ د خپلو بندګانو نه. او دریم ځل ذکر کول مقدمه ده دپاره د وعید.

(۲) د امام راغبؒ نه نقل کوي چه اول ځل کې تسلي ده په ما فات (فوت شوي څیزونو) باندې. دویم ځل کې دا خبره ذکر کوي چه د الله وصیت په تقویٰ سره د هغه د رحمت د وجه نه دے نۀ د هغه د حاجت د وجه نه، او که بندګان کفر وکړي نو الله ته هیڅ ضرر نشي ورکولے. او دریم ځل دې دپاره ذکر شویدے چه دلالت وکړي چه الله تعالیٰ غني ذات دے.

(۳) د مکيؒ نه نقل کوي: [نَبَّهَنَا اَوَّلًا: عَلٰى مُلْكِهٖ وَسَعَتِهٖ، وَثَانِيًا : عَلٰى حَاجَتِنَا اِلَيْهِ وَغِنَاهُ، وَثَالِثًا : عَلٰى حِفْظِهٖ لَنَا وَعِلْمِهٖ بِتَدْبِيْرِنَا]

اول ځل کې مونږ ته خبردارے راکوي چه د هغه بادشاهي او مهربانیاني فراخه دي. دویم ځل کې خبردارے ورکوي چه مونږ الله ته محتاج یو او هغه زمونږ نه بیخي بې حاجته دے. او په دریم ځل کې خبردارے ورکوي چه هغه زمونږ حفاظت کوي او زمونږ په پروګرام چلولو او کارونو برابرولو پوهه دے. (انتهى قول ابى حيان في البحر)

یعنی په اول ځل د (وَاسِعًا حَكِيمًا) او دویم ځل د (غَنِيًّا) سره او دریم ځل د (وَكِيْلًا) سره متعلق دے۔ او دا د ټولو نه غوره وجه ده۔

إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَيَأْتِ بِآخَرِينَ
كه وغواړی الله تعالىٰ ختم به كړی تاسو اے خلقو! او رابه ولی نور خلق
وَكَانَ اللهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿۱۳۳﴾
او دے الله تعالىٰ پدے كار باندے قدرت لرونكے۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالىٰ په نافرمانی کولو باندے دهمکی ورکوی او دا متعلق دے د (أَنِ اتَّقُواْ اللّهَ) او د (وَإِن تَكْفُرُواْ) سره۔

یعنی د الله نه ویریږه که کفر دے وکړو نو الله به دِے ختم کړی او ستا په ځای به نور خلك راپیدا کړی چه د الله ښه بندګی او ښه طاعت به کوی۔

بعض سلفو (ابودرداء ﷺ) ددے آیت نه دا خبره راخستے ده :

مَا أَهْوَنَ الْعِبَادَ عَلَى اللّٰهِ اِذَا عَصَوْا أَمْرَهُ۔

بندګان الله تعالىٰ ته څومره سپك ښكاره كيږی كله چه د هغه حكم ماتوی۔ او چه كله ئے امر نهٔ ماتوی نو لوی ورته ښكاره كيږی۔ كائنات الله تعالىٰ ددے دپاره ودرولی دی چه د هغه بندګی به كيږی او د هغه حكم به منلے كيږی۔ نو اشاره ده چه غير متقيان خلك ذليله او د الله د نظر نه پريوتی دی۔ (ابن كثير، قاسمی التفسير المنير للزحيلی)

(قول ابی الدرداء فی البداية والنهاية لابن كثير فتح قبرص (۷/۱۷۲) بكی ابو الدرداء لما رأى السبی وقال هذا القول الخ)

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا
څوك چه اراده لری د بدلے د دنیا (نو دا كم عقل دے) ځكه چه د الله سره بدلے د دنيا
وَالْآخِرَةِ وَكَانَ اللهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۱۳٤﴾
او د آخرت دی (نو هغه دِے طلب كړی) او دے الله آوریدونكے ليدونكے۔

تفسیر : پدے آیت کی د هغه چا سفاهت (بيوقوفی) بیانول غرض دے چه دنيا ئے په آخرت باندے غوره كړيده۔

مناسبت :

تقوىٰ خلك ولے پريدى؟ نو سبب ئے دا دے چه دنيا ئے په آخرت باندے غوره كړيده، دنيا ورته لوى شے ښكاره شويدے نو دلته الله فرمائى چه تقوىٰ وكړه الله تعالىٰ به دواړه خيرونه دركړى ځكه چه د دنيا او د آخرت خيرونه دواړه د الله په لاس كى دى۔ (التحرير)

ددے آيت بيا دوه مطلبونه دى :

(۱) څوك چه عملونه د دنيا دپاره كوى او په خپلو عملونو سره د دنيا بدله غواړى نو ددے جواب پټ دے (فَهُوَ سَفِيْهٌ) هغه انسان بيوقوف دے ځكه چه د الله سره خو د دنيا او دآخرت دواړه بدلے شته نو دواړه ولے نهٔ غواړى او دے د فانى دنيا بدلے غواړى او هميشه باقى (آخرت) ئے هير كړيدے۔ يعنى څوك چه حقوق نهٔ ادا كوى نو ددهٔ صرف دنيا غرض ده، او حال دا چه د الله سره آخرت هم شته نو په حقوقو ادا كولو سره دِے آخرت هم طلب كړى۔ امام راغب وائى چه پدے كى د انسان تبكيت (غلے كول) دى چه ته صرف يو سوال كوے سره ددے نه چه الله په دواړو سُوالونو قادر دے او انسان ته تيزى وركول دى چه د الله تعالىٰ نه كامل او افضل شے وغواړى ځكه چه څوك يو خسيس (بيكاره) شے غواړى او دے قادر وى چه غوره شے وغواړى نو دے كمزورى او بيكاره همت والا دے۔ (البحر المحيط)

(۲) ظاهر د آيت دا دے چه (يريد ثواب الدنيا) مطلب دا دے چه څوك چه د دنيا بدلے غواړى او دنيا ئے صرف نصب العين (هدف) گرځولے ده او دا غرض ئے دے چه زهٔ په دنيا كى مالداره شم او په نورو خلكو اُوچت شم او د دنيا ژوند مے ښه شى، كه عمل كوى او كه نهٔ خو اراده ئے شته۔ نو الله دعوت وركوى چه ما سره خو آخرت هم شته نو څنگه بى قيمته شے غواړے او قيمتى شے پريدے۔ نو عقلاؤ ته پدے كى ترغيب دے۔

نو ددے جواب به پټ وى فَلْيَطْلُبِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ۔ هغه دِے دنيا او آخرت دواړه طلب كړى۔

يا فَلَيْسَ لَهٗ فِي الْآخِرَةِ ثَوَابٌ۔ د هغه دپاره به په آخرت كى هيڅ بدله نهٔ وى۔

يا فَلَا يُعْرِضْ عَنْ دِيْنِ اللّٰهِ۔ دا دِے د الله تعالىٰ د دين نه اعراض نكوى۔

يا فَلَا يَقْتَصِرُ عَلٰى سُؤَالِهٖ۔ په خپل يو سوال دِے كوتاهى نكوى۔ (التحرير)

او پدے كى دا مطلب هم جوړيږى چه ايمان والو ته دا نصيحت كوى چه تاسو د دنيا خيرونه طلب كول د آخرت د خير طلب كولو نه غافله نكړى ځكه چه دواړه جمع كول افضل دى۔ يا پدے كى مؤمنانو ته دا تعليم دے چه دوى د دنيا خير او مال په حرامو طريقو طلب نكړى ځكه چه حلال مال هم د الله تعالىٰ سره شته نو په حلاله طريقه دِے د الله نه

طلب کړي او ورسره آخرت دِے هم طلب کړي یا پدے کار سره به دوی ته د آخرت فائدے هم ملاویے شي۔ (التحریر)

صاحب د تسهیل داسے مطلب هم بیان کړیدے چه پدے کی دعوت دے چه بنده له پکار دی چه د دنیا او د آخرت دواړو طلب صرف د الله نه وکړي ځکه چه دا دواړه د الله په لاس کی دی نهٔ د بل چا په لاس کی۔آه۔ نو پدے کی به رد وی په مشرکانو چه د باباګانو او مړو نه امیدونه ساتی چه دوی به ورله دنیا او آخرت بنه کوی۔

ابن الجوزیؒ په زاد المسیر (۱۲۲/۲) کی د زجاجؒ نه نقل کړیدی چه مشرکانو به الله تعالیٰ ته (په بعض بندګیانو) ځان نزدے کولو دے دپاره د دنیا خیر ورله ورکړي او شرونه ترے واړوی لیکن په آخرت به ئے ایمان نهٔ لرلو۔ نو الله تعالیٰ خبر ورکړو چه د دنیا او د آخرت دواړه خیرونه د الله تعالیٰ سره دی۔

او ماوردیؒ ذکر کړیدی چه د ثواب الدنیا نه مراد په جهاد کی غنیمت دے او د ثواب الآخرة نه مراد جنت دے۔ او وئیلی ئے دی چه په آیت کی تیزی ورکول دی مجاهد ته چه د الله د ثواب اراده وساته۔

یُرِیْدُ ثَوَابَ الدُّنْیَا : یعنی دنیا غواړی په نیکو عملونو سره یعنی نیك عملونه د دنیا د ژوند بنه کولو دپاره کوی نو پدے کی ریاکاران، منافقان او فاسقان ټول داخلیږی چه په اخلاص سره عمل نهٔ کوی۔

ثواب : دلته معنیٰ لغوی مراد ده یعنی بدله۔

یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا کُوْنُوْا قَوَّامِیْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ
اے ایمان والو! شئ کلك ولاړ په انصاف سره بیان کونکی د الله دپاره اګرکه وی دا (ګواهی)
عَلٰی أَنْفُسِکُمْ أَوِ الْوَالِدَیْنِ وَالْأَقْرَبِیْنَ إِنْ یَّکُنْ
په نفسونو ستاسو یا په مور او پلار او خپلوانو باندے، که وی هغه (یعنی د چا دپاره چه ګواهی
غَنِیًّا أَوْ فَقِیْرًا فَاللّٰهُ أَوْلٰی بِهِمَا
کیدے شی) مالدار یا غریب نو الله تعالیٰ ډیر مهربان دے په دے دواړو باندے (ستا نه)
فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰی أَنْ تَعْدِلُوْا وَإِنْ تَلْوُوْا
نو تابعداری مهٔ کوئ د خواهش چه اوړئ تاسو د حق نه او که اړوئ تاسو ژبے خپلے

أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾

یا مخ اړوئ (د حق بیان نه) نو یقیناً الله دے ستاسو په عملونو خبردار۔

تفسیر : پدے آیت کی د امور انتظامیه نه بل امر دے چه متعلقِ دے د راعی او رعیت سره او د عوام الناسو خپل مابین کی هم، او دے آیت ته هر وخت کی د هر چا ضرورت دے او مقصد په آیت کی ترغیب الی العدل دے چه د عدل نه کار واخلئ او د هیچا دپاره بی عدلی مهٔ کوئ۔ او د عدل د پریخودو دوه طریقے بیانوی او په هغے زجر ورکوی۔

مناسبت :

۱- د مخکی (وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ) سره دے چه کله د ښځے او د خاوند اختلاف راشی نو پدے کی اکثر بی عدلی کیږی، د هلاك کورنئ او د هغه سخرګنئ دواړه د خپل خپل شخص سره ودریږی اګرکه پدے کی به یو ظالم وی۔

او دا قسم انسانان په عالَم کی ډیر زیات وی چه د خپلے لور، خور دپاره دروغ وائی او بی عدلی او جنګ کوی او د انصاف نه کار نهٔ اخلی، که د انصاف نه کار واخستے شی نو ډیرے کورنئ به اصلاح شی او جګړے به ختمے شی۔

۲- زمونږ بعض مشائخ داسے ربط هم بیانوی چه دا جواب د سوال دے چه پدے سورت کی مخکی کوم احکام شرعیه انتظامیه ذکر کړے شول نو وهم پیدا شو چه آیا پدے احکامو کی به د والدینو او خپلوانو او یا د فقیر یا د غنی طرفداری او د هغه سره مصالحه جائز وی نو پدے آیت کی د هغے جواب وشو چه پدے احکامو کی ترمیم او استثناء نشته بلکه پدے احکامو به عمل د هر چا دپاره ضروری وی۔

۳- ابو سلیمان الدمشقیؒ وائی چه دا خطاب دے هغه کسانو سره چه هغوی د ابن اُبیرق منافق د طرفنه ئے جګړه او بحث کولو۔ (زاد المسیر)

كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ : پدے کی دوه خبرے دی :

(۱) یو په هر ځای کی په عدل باندے ودریدل او د عدل نه کار اخستل ضروری دی، یعنی ربط ئے په طریقه د تعمیم بعد التخصیص سره دے یعنی یواځے په تاسو باندے په ګنړو بیبیانو کی عدالت فرض نهٔ دے بلکه په تاسو باندے لازمه ده چه په ټولو معاملاتو کی د انصاف نه کار واخلئ،

(۲) او بل ګواهی د الله دپاره ورکول لازم دی۔ پکار ده چه ستاسو شهادت (ګواهی)

صرف د الله دپاره، د الله په باره کی وی، مهٔ پکی د مور او پلار لحاظ ساتئ او مهٔ د خپلوانو او رشتـه دارانو خیال ساتئ اگرکه دا گواهی ستاسو په خپل ځان باندے وی هم پکار ده چه تاسو ئے ادا کړئ. او دغه شان آیت په سورة المائده کی هم راغلے دے نو هلته یو حکم دے چه گواهی په انصاف سره ادا کړئ.

لکه دلته زجاجؒ دا معنیٰ کړیده :

[قُوْمُوْا بِالْعَدْلِ وَأَشْهِدُوْا لِلّٰهِ بِالْحَقِّ وَاِنْ كَانَ الْحَقُّ عَلَى الشَّاهِدِ]

تاسو په انصاف باندے ودریږئ (په هر ځای کی) او بله دا چه گواهی ورکړئ د الله دپاره په حق سره اگرکه دا حق په گواهی ورکونکی وی یا په مور او پلار ددهٔ وی الخ. (زاد المسیر)

علامه ابن عاشورؒ وائی: وَقَدْ جَمَعَتِ الْآيَةُ أَصْلَيِ التَّحَاكُمِ وَهُمَا الْقَضَاءُ وَالشَّهَادَةُ.

دے آیت د تحاکم (فیصلو) دوه قوانین جمع کړیدی یو په فیصله کی د انصاف نه کار اخستل او بل گواهی په صحیح طریقه ادا کول. (التحریر)

بناء په اول صورت به قوامین اول خبر د (کونوا) دپاره وی او (شهداء) به ئے دویم خبر وی.

او بناء په دویم صورت کی به شهداء حال وی د قوامین د پټ ضمیر نه.

ابـن عـطیـهؒ وائـی : د حالیت معنیٰ ضعیفه ده ځکه چه بیا به په انصاف ودریدل صرف د شهادت د حالت پورے خاص شی. (المحرر الوجیز ۲/۲۰۸)

قَوَّامِيْنَ بِالْقِسْطِ : د قیام بالقسط معنیٰ د عدل لحاظ ساتل دی او دا په درے قسمه ده :

(۱) عَدَالَةٌ بَيْنَ الْإِنْسَانِ وَنَفْسِهِ. د انسان او د هغه د نفس په باره کی انصاف.

(۲) عَدَالَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاسِ. د انسان او د نورو خلکو ترمینځ انصاف.

(۳) عَدَالَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. د بنده او د الله د ترمینځ انصاف. نو څوك چه ددے ټولو لحاظ وساتی نو دا انصافدار او د الله دپاره گواهی کونکے وگرزیدو.

(محاسن التاویل سورة البقره آیت لتکونوا شهداء علی الناس)

قـوامیـن : ئے صیـغه د مبالغے راوړه چه دلالت کوی په کثرت باندے او پدے کی اشاره ده چه په هر حال کی په انصاف ودریږئ. (التحریر)

شُهَدَاءَ لِلّٰهِ : یـعـنـی ستاسو گواهی به صرف او صرف د الله د رضا او د هغه د مخ د خاطره وی، نـهٔ د دنیاوی لالچ د وجه نه. مفسرین لیکی چه دا دلیل دے چه په گواهی کولو باندے اجـرت اخستـل ناجائز دی کله چه دا د گواهئ ځای ته راووبللے شی ځکه چه پدے صورت کی دهٔ د الله دپاره گواهی ورنکړه. (قاسمیؒ)

وَلَوْ عَلٰى أَنْفُسِكُمْ : دا متعلق دے د (شُهَدَاء) پورے۔
۱- يعنى اګركه دا ګواهى ستاسو په خپلو ځانونو راځى۔ يعنى مثلًا يو ځاى كى ستا د چا سره جګړه ده او ګواهئ ته ضرورت راغے نو حقيقتِ حال ووايه او په خپل ځان اقرار وكړه، ګواهى ادا كړه اګركه تا ته به ضرر هم وى۔ نو دلته به د شهادت نه مراد اقرار وى۔
۲- يا معنىٰ دا ده چه اګركه ددے ګواهى وبال او ضرر به ستاسو په نفسونو او پلارانو باندے راځى لكه د يو ظالم بادشاه په خلاف ګواهى كولو سره په انسان باندے ضرر راځى۔
او الوالدين : يعنى ستا د مور او پلار د چا سره جګړه ده او تا ته ګواهى معلومه ده، نو ته به د خپل مور او پلار په خلاف ګواهى وركوے اګركه ستا نه به مور او پلار خپه هم شى او ظاهراً دنياوى ضرر به هم درته ملاوېږى ليكن الله ته به نظر وكړے۔
وَالْأَقْرَبِيْنَ : يعنى نور خپلوان لكه ورونه او خويندے او بچى شو۔ بلكه حق په هر چا باندے حاكِم دے۔
إِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيْرًا : ډير خلك د مالدار نه متأثره وى نو د هغه په خلاف ګواهى نۀ وركوى، يا د هغه مال او عهدے او خدمت ته په طمع وى نو د هغه دپاره غلطه ګواهى كوى۔ يا په غريب باندے رحم كول غواړى نو د هغه په خلاف ګواهى نۀ كوى دے دپاره چه مال ورته ملاؤ شى۔ لكه مفسرينو ځينى روايات نقل كړيدى چه په جاهليت زمانه كى به بعض خلكو د غريبانو په حق كى ګواهى پټوله او دا به ئے ويل چه كله دوى مالداره شى بيا به ګواهى ادا كړو نو الله دا آيت نازل كړو۔ (الدر المنثور والطبرى)
نو الله فرمائى : چه د هغوى مصلحت او فائده په ګواهى وركولو كى ده۔ الله تعالىٰ ستا نه په هغوى باندے ډير رحم كونكے دے، تۀ د الله په باره كى د هغوى لحاظ مۀ ساته۔
ان يكن : كى ضمير (مشهود عَلَيْه) ته راجع دے يعنى د چا په خلاف چه ګواهى كيدے شى كه هغه مالداره وى يا غريب وى نو هم ګواهى مۀ پټه وه۔ يعنى كه هغه مالداره وى نو د هغه د مالدارئ لحاظ به نۀ ساتى او نۀ به ترے يرېږى او كه هغه فقير وى نو په هغه باندے به ديرے او د شفقت كولو لحاظ نۀ ساتى ځكه چه الله تعالىٰ په دواړو باندے ډير غوره دے۔ (المحرر الوجيز)
فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰى أَنْ تَعْدِلُوْا : ۱- دلته (لَا) پټ دے۔ يعنى د خواهش پسے مۀ روانيږئ چه عدل نۀ كوئ۔ يعنى د خواهش اتباع دا ده چه بنده عدل ونكړى۔
۲- يا اَنْ تَعْدِلُوْا عَنِ الْحَقِّ۔ د خواهش تابعدارى مۀ كوئ چه د حق نه واوړئ۔ يعنى د حق

نه اوړیدل د خواهش تابعداری ده۔ د دواړو معنو حاصل یو دے۔ یعنی ددۀ خواهش دا وی چه زما عزت او زما مال محفوظ پاتی شی یا زما خپلوانو ته مال ورسیږی یا خواهش ئے دا دے چه د مالدار لحاظ وساتی یا د غریب۔

حافظ ابن کثیرؒ معنیٰ کوی : [اَیْ لَایَحْمِلَنَّکُمُ الْهَوٰی وَالْعَصَبِیَّةُ وَبُغْضُ النَّاسِ اِلَیْکُمْ عَلٰی تَرْكِ الْعَدْلِ فِیْ شُؤُوْنِكُمْ بَلِ الْزَمُوا الْعَدْلَ عَلٰی اَیِّ حَالٍ کَانَ] یعنی تاسو دِے ذاتی غرض او عصبیت او خپل مینځ کی دشمنی پدے خبره راپورته نکړی چه تاسو په خپلو کارونو کی عدل نه لاس واخلئ بلکه په هر حال کی عدل مضبوط راونیسئ۔

وَإِنْ تَلْوُوْا أَوْ تُعْرِضُوْا : پدے کی د بی عدلئ شکلونه بیانوی، بی عدلی خلك په دوه طریقو سره کوی یو دا چه د یو سړی د حق دلیل ښکاره وی، نو بنده راولګی په هغه دلیل کی تحریف کوی او ژبه پرے کږوی دے دپاره چه دا دلیل د هغه په دعوه باندے ونۀ ګرځی۔ یعنی ګواهی په داسے طریقه سره وکړی چه ژبه پرے کږه وږه کړی دے دپاره چه ددے سړی حق ثابت نشی او ځان هم د ملامتیا نه وباسی۔ او که هغه دلیل پټ وی نو د هغے نه په پټولو سره اعراض وکړی یعنی مدعی ته هغه خبره معلومه نۀ ده نو دے پرے غلے شی او ګواهی ورنکړی نو الله فرمائی چه زۀ ستاسو د عملونو نه خبردار یم، بدله به درکوم۔

نو (تَلْوُوْا) کی تحریف ته او په (تُعْرِضُوْا) کی کتمان ته اشاره ده۔ یعنی که څوك دے په ګواهئ کی راوړاندے کړی نو دے تحریف کوی او که څوك ئے ګواهئ ته راونۀ غواړی او دۀ ته ښه معلومه وی نو بیا ئے پټه ساتی دے دپاره چه ورور یا پلار یا بل خپلوان ئے ملامته نشی یا یو کاغذ لیکلے شوے وی نو هغه پټ کړی۔ نو ددے کار نه به مسلمان ځان ساتی۔ او ددے په روزمره زندګئ کی بیشماره صورتونه دی چه عقلمند خلك ئے معلومولے شی، د طوالت په یره سره مونږ د هغے د لیکلو نه مخ اړه وو۔ راجع بدائع التفسیر لابن القیم)

مفسرینو د لی الشهادة دپاره دوه نور صورتونه ذکر کړیدی

(۱) د ګواهئ روستو کول چه په جلتئ سره ګواهی ورکولو ته تیار نۀ شی۔

(۲) په ګواهئ کی انحراف وکړی پدے طریقه چه ګواهی خو ورکړی لیکن اصلی مضمون پټ کړی او په نیمګړے طریقه ئے ورکړی۔ (المحرر)

په عدل او انصاف باندے آسمان او زمکه ولاړ دی۔

په مسند احمدؒ کی د عبد الله بن رواحه ﷛ نه روایت دے چه کله رسول الله ﷺ دۀ لره د

خیبر د یهودیانو د میوو او دانو د اندازې لګولو دپاره اُولیږلو نو یهودیانو هغه ته رشوت ورکول اُوغوختل دې دپاره چه د هغوی سره نرمي اُوکړی، نو دهٔ اُووئیل چه قسم په الله ! زهٔ تاسو ته خپل محبوب ترین شخص رالیږلے یم او تاسو ما ته د شادوګانو او خنزیرانو نه هم زیات مبغوض یئ لیکن د هغه ذات محبت او تاسو سره نفرت په ما باندې بې انصافي نشي کولے. نو یهودیانو اُووئیل چه د آسمان او زمکې بنیاد په همدې عدل باندې ولاړ دے. (مسند احمد ۳/۳٦۷رقم: ۱٤۹۹٦ واسناده قوی علی شرط مسلم- ارناووط).

که پدې آیت پوره عمل وشي نو معاشره به ډیره زیاته برابره شي.

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا آمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتَابِ الَّذِيْ
اې ایمان والو ! ایمان راوړئ (د زړهٔ نه) په الله او د هغه په رسول او په کتاب هغه باندې
نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتَابِ الَّذِيْ أَنْزَلَ
چه نازل کړیدې الله تعالیٰ په رسول خپل او په کتابونو هغو چه نازل کړیدی الله تعالیٰ
مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ
مخکې ددې نه او چا چه کفر وکړو په الله او په ملائکو د هغه او په کتابونو د هغه
وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيْدًا ﴿۱۳٦﴾
او په رسولانو د هغه او په ورځ روستنئ نو یقیناً دا ګمراه شو په ګمراهئ لرې د حق نه.

تفسیر : ددې نه روستو الله تعالیٰ په منافقانو باندې ردونه کوی او په اول کې مؤمنانو ته په ثَبَات عَلَى الايمان (یعنی په دین او ایمان باندې د مضبوط پاتې کیدو) حکم کوی چه د منافقانو په شان مهٔ جوړیږئ چه هغوی ایمان راوړو او بیا وتبنتیدل او دا د دعوت یوه ښه طریقه ده چه اې مؤمنه ! مضبوط شه منافقان واوړیدل چه تهٔ وانهٔ وړې.

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا : پدې خطاب کې درې اقوال دی :

(۱) زجاجؒ وئیلی دی چه دا منافقانو ته خطاب دے او په (آمَنُوْا) کې د اخلاص د ایمان حکم دے.او دوی ته دا اشکال راغلے دے چه ایمان والو ته څنګه دوبارهٔ د ایمان راوړو حکم وکړے شي دا خو تحصیل د حاصل دے.

(۲) څینی وائی چه دا اهل کتابو ته خطاب دے یعنی یهودیانو چه تاسو په مخکنو

کتابونو او پیغمبرانو ایمان لرئ نو تاسو به هله کامیابیږئ چه په ټولو کتابونو مخکنو او روستنو ایمان ولرئ او ټول رسولان ومنئ۔ (معالم التنزیل للبغوی)۔
(۳) راجح دا ده چه دا خطاب ټولو مؤمنانو ته دے او حسن بصریؒ او ابو العالیهؒ او نورو سلفوؒ نه نقل دی چه دلته مقصد اقامت او ثَبَات (مضبوطیدل) دی په ایمان باندے۔ یعنی دوی دِ دے په ایمان کی زیات قوت او ثابت والے پیدا کړی او په هر حال کی دِ دے پدے باندے مضبوط شی۔ (معالم، آلوسیؒ، اللباب)۔
علامه ناصر السعدیؒ فرمائی : کله یو حکم هغه چا ته کیږی چه په یو شی کی داخل نهٔ وی او د هغے نه په هیڅ شی باندے متصف نهٔ وی نو دهٔ ته حکم ددے دپاره کیږی چه پدے څیز کی راداخل شی لکه څوك چه مؤمن نهٔ وی نو هغه ته د ایمان حکم کیږی لکه مخکی ذکر شو (يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ آمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا) الآية۔ او کله حکم هغه چا ته کیږی چه په یو شی کی داخل وی خو مقصد پکی دا وی چه کوم شے تا ته حاصل دے د هغے تصحیح وکړه او هغه په ځان کی صحیح راوله او کوم چه نهٔ دے حاصل د هغے د حاصلولو کوشش وکړه او ددے قبیلے نه دا حکم هم دے ایمان والو ته چه تاسو خپل ایمان په اخلاص او صدق (رشتینوالی) سره صحیح کړئ او د مفسداتو نه ئے بچ کړئ او ایمان ته د نقصان رسونکو ټولو څیزونو نه الله ته توبه وباسئ۔
او دارنګه دا حکم ددے تقاضا هم کوی چه په کوم مؤمن کی د ایمان او د اعمالو علوم نهٔ وی موجود چه هغه حاصل کړی ځکه چه کله دهٔ ته یو نص راورسی او د هغے په معنیٰ باندے پوهه شی او د هغے عقیده وساتی نو دا هم مامور به ایمان دے۔
دارنګه ټول ظاهری او باطنی اعمال د ایمان نه دی لکه پدے باندے ډیر نصوص او د سلفو صالحینو اجماع دلیل دے۔
او بیا پدے حالت باندے همیشوالے کول او مضبوط پاتے کیدل تر مرګه پورے۔
او بیا ئے دلته په الله او په رسولانو او په قرآن او په پخوانو کتابونو باندے د ایمان حکم وکړو نو دا ټول هغه ایمانیات دی چه په مؤمن باندے واجب دی او بغیر ددے نه بنده مؤمن کیدے نشی انتهیٰ۔ (تفسیر السعدی ۱/۲۰۹)
دارنګه مؤمن ته د ایمان دعوت پدے وجه هم ورکړے کیږی چه په ایمان کی ډیرے مرتبے دی نو ادنیٰ درجے مؤمن ته وائی چه اعلیٰ درجه ایمان جوړ کړه۔
وَالْكِتٰبِ : په آیت کی د کتاب لفظ دوه ځل استعمال شویدے، د اول نه مراد قرآن کریم

او د دویم نه مراد تمام آسمانی کتابونه دی۔ او دویم الکتاب کی الف لام جنسی یا استغراقی دی۔

د قرآن کریم دپاره ئے (نَزَّلَ) لفظ استعمال کړو ځکه چه قرآن په درویشت کالو کی په تدریج سره نازل شویدے۔ او نورو کتابونو دپاره ئے (اَنْزَلَ) لفظ استعمال کړو ځکه چه هغه کتابونه په یو ځل ټول نازل شوی وو۔ د دواړو لفظونو په لغوی معنیٰ کی همدا فرق دے۔

(تیسیر الرحمن)۔

او علامه محمد طاهر ابن عاشورؒ وائی : د مخکنو کتابونو نزول پوره شوے وو نو (اَنْزَلَ) لفظ ورله استعمال شو او د قرآن نزول لا روان وو نو ځکه (نزل) ورله استعمال شو چه په تدریج باندے دلالت کوی۔

علامه ابن عاشورؒ فرمائی : پدے کی تنبیه ده چه مسلمانان د ټولو امتونو په نسبت کامل ایمان والا دی او د ټولو خلکو نه د الله رسولانو او کتابونو ته زیات نزدے دی، نو دوی لائق دی چه دوی سرداران جوړ شی نهٔ بل څوك ځکه چه د دوی ایمان سلامتیا والا دے او د فضیلت والو د فضائلو نه انکار نهٔ کوی۔

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ : دے کی د ایمان اهمیت او د کفر لوی ضرر بیانوی یعنی څوك چه د الله او د هغه د ملائکو او د هغه د کتابونو او د هغه د رسولانو او د ورځے د آخرت نه انکار کوی هغه به د حقے لارے نه اوړی او په ښکاره ګمراهئ کی به اخته کیږی۔ ځکه چه د الله تعالیٰ نه انکار خو کفر دے، د ملائکو، د کتابونو، د رسولانو او د ورځے د آخرت نه انکار هم کفر دے۔ ځکه په دوی باندے د ایمان راوړو نه بغیر او ددے ایمان مطابق عمل کولو نه بغیر په الله باندے د ایمان هیڅ تصور نشی کیدے۔

دے آیت کی اکثر ایمانیات ذکر دی او په تقدیر باندے ایمان په بل ځای کی ذکر دے پدے وجه ددے نه علماؤ (آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهٖ) تر آخره پورے کلمات جوړ کړیدی۔

ابن عاشورؒ لیکی : چه د آیت په اول کی ئے (ایمان بالآخرة) باندے حکم ونکړو او روستو ئے ذکر کړو پدے کی غرض تعریض دے په مشرکانو چه هغوی په آخرت ایمان نهٔ لری او اشاره ده چه مؤمنان کامل ایمان والا دی، چه پدے ټولو ایمانیاتو ایمان لری۔

إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ آمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا

یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے بیا ئے کفر وکړو بیا ئے ایمان راوړو بیا ئے کفر وکړو

ثُمَّ ازۡدَادُوۡا کُفۡرًا لَّمۡ یَکُنِ اللّٰهُ لِیَغۡفِرَ
بیا زیات شول په کفر کې (چه مړهٔ شول په کفر) نو نهٔ دے الله تعالیٰ چه بخنه وکړي
لَهُمۡ وَلَا لِیَهۡدِیَهُمۡ سَبِیۡلًا ﴿۱۳۷﴾
دوی ته او نهٔ دے چه هدایت وکړي دوی ته د سمے لارے۔

تفسیر : پدے آیت کې د منافقانو قباحتونه (بد بد صفتونه) بیانیږي چه په ایمان باندے ثابت قدم نهٔ وي ځکه چه د منافقانو دا خوئي دے چه کله ورته په دین کې څه فائده ښکاره شي نو ایمان راوړي، بیا چه کله پرے څه تکلیف راشي کفر اختیار کړي بیا چه فائده وینې ایمان راوړي بیا چه تکلیف راشي ایمان پریدي او کفر اختیار کړي۔ د منافقانو او یهودو صفات روستو راوړي ځکه چه سورة النساء کې معاشره د مسلمانانو جوړیدله نو دے قسم خلکو په کې فساد اچولو ځکه تفصیلًا د هغوی قباحتونه راوړي چه مؤمنان پرے دهوکه نشي او د هغوی اصلاح وشي یا پرے حجت قائم شي۔

ثُمَّ ازۡدَادُوۡا کُفۡرًا : ۱- د کفر د زیاتیدو یو صورت دا دے چه په کفر باندے مړهٔ شي۔

۲- دویم دا چه د حق سره عناد شروع کړي نو دوی ته الله تعالیٰ بخنه نهٔ کوي او نهٔ به حق او صدق طرف ته د دوی لارخودنه کوي ځکه دا خبره د عقل نه وړاندے معلومیږي چه دوی د الله دپاره مخلص او رشتینې مؤمنان جوړ شي ځکه کله د ایمان دعویٰ کول او بیا د هغے نه انکار کول او بار بار خپل مخکنې حالت ته واپس کیدل دے خبرے ته اشاره کوي چه دوی د خپل دین نه لوبه جوړه کړیده، د دوی نیت صحیح نهٔ دے۔ نو دا آیت د خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوۡبِهِمۡ په شان دے۔ چه مطلب دا دے چه الله تعالیٰ دوی ته په کفر کولو باندے دا عقوبت ورکوي چه هدایت ورته نکوي او الله تعالیٰ په کفر او گناهونو باندے قسماقسم سزاگانے ورکوي یوه دا ده چه انسان د هدایت نه محروم شي والعیاذ بالله۔

سَبِیۡلًا : یعنې سَبِیۡلَ الۡجَنَّةِ وَالنَّجَاةِ مِنَ النَّارِ۔ یعنې الله به ورته د جنت لاره او د اُور نه د نجات لاره ونهٔ ښائي، دا د دوی د کفر سزا ده۔

سوال دا دے چه دوی ته ولے هدایت نهٔ کیږي؟ نو بعض مفسرینو وئیلي دي چه ددے نه مراد یهودیان دي چه اول ئے په موسیٰ علیه السلام ایمان راوړو بیا ئے د سخي عبادت کولو سره شرك او کفر وکړو، بیا چه کله ورته موسیٰ علیه السلام راواپس شو نو بیا ئے په هغه باندے ایمان

راوړو، لیکن بیا د عیسیٰ علیه السلام په زمانه کې ئې کفر وکړو او کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغمبر شو نو د هغه نه انکار کولو سره ئې خپل کفر نور هم مضبوط کړو او تر مرګه پورې په همدې کفر باندې ولاړ پاتې شو. (قاسمیؒ)

په آیت کې د منافقانو یا د یهودیانو د ایمان د ګډوډ والي بیان دے، او دا ښکاره کوی چه د دوی ایمان ډیر بعید (لرې) دے ځکه چه د دوی او د دوی د مشرانو داسې ګډوډ حال راروان دے. نو پدې کې عام کافران مراد نهٔ دی ځکه چه کافر که ایمان راوړی او د الله دپاره مخلص او رشتینی ایمان والاجوړ شی نو الله تعالیٰ د هغوی د بخښنې وعده کوی او اسلام تیر شوے کفر ختموی.

یا ددې نه مراد هغه کسان دی چه د هغوی نه ارتداد بار بار صادر شوے وی او په کفر باندې همیشه پاتې شوی وی، نو د دوی د شان نه دا خبره وړاندې ده چه دوی په اخلاص سره ایمان راوړی چه د هغې په وجه د مغفرت مستحق شی او د الله مهربانی پرې وشی ځکه چه د دوی په زړونو باندې د کفر مهر وهلے شویدے او د مرتد والی سره اموخته شویدی، او ایمان د دوی په نیز ډیر معمولی شے دے، او دا مطلب نهٔ دے چه څوك مرتد شو او بیا صحیح ایمان راوړی ګنې د هغه توبه به نهٔ قبلیږی. (قاسمیؒ)

فائده : دا آیت دلیل دے چه په کفر کې زیادت او نقصان راځی نو ضرور به په ایمان کې هم زیادت او نقصان راځی ځکه چه دا دواړه ضدین متنافیین دی (په بل تعبیر : نقیضین دی) نو کله چه یو تفاوت قبلوی بل به ئې هم خامخا قبلوی. (قاسمیؒ)

راجح دا ده چه دا عقوبت د الله تعالیٰ د طرفنه دے په کفر باندې چه د هدایت توفیق به نهٔ ورکوی.

بَشِّرِ الْمُنَافِقِيْنَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿۱۳۸﴾ الَّذِيْنَ
زیرے ورکړه منافقانو ته چه یقیناً د دوی دپاره عذاب دردناك دے. هغه کسان دی
يَتَّخِذُوْنَ الْكَافِرِيْنَ أَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ط أَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ
چه نیسی کافرانو لره دوستان سوئ د مؤمنانو نه، آیا لټوی دوی د هغوی سره عزت
فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ﴿۱۳۹﴾
نو یقیناً اختیار د عزت خو د الله تعالیٰ سره دے ټول.

تفسیر : اُوس د دوی سزا بیانوی چه دوی ته به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ دردناك عذاب ورکوی۔ او بشارت په اصل کی خوشحالونکی خبر ته وائی دلته په طریقه د تهکم (سپکاوی) سره د عذاب د خبر دپاره استعمال شویدے۔

مخکی د منافقانو دا بد صفتونه ذکر شو چه دوی مرتد شویدی، او بیا ئے کفر زیات شویدے۔ او بل دا چه منافقان دی، او د منافق معنیٰ ده دوه سورو والا چه کله په یوه سوړه ننوزی او کله په بله۔ دوه مخیزه پالیسی اختیاروی۔

الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ : ددے ځای نه د منافقانو نور بد صفتونه بیانیږی چه دا هغه خلك دی چه دوی د مؤمنانو په ځای کافران خپل دوستان جوړ کړیدی۔ د منافقانو د یهودو سره دوستی وه، او پاك خلك (صحابه کرامؓ) ئے پریښی وو او گنده معاشره ئے خپله کړے وه۔

دے نه معلومه شوه چه د کفارو سره دوستی کول چه هغوی ته پوره ورواوړی پدے سره انسان کافر کیږی۔

اَيَبْتَغُوْنَ : یعنی آیا د کافرانو په دوستیٔ سره د دوی مقصد قوت او غلبه حاصلول دی؟ آیا د هغوی سره خپل عزت گوری؟ نو دا د دوی کچه خیال دے ځکه چه د عزت او قوت مالك خو صرف الله دے، هغه چه چا له غواړی عزت او کامیابی ورکوی، کافران د الله د مرضیٔ نه بغیر د دوی هیڅ مدد نشی کولے۔

ځینی خلك د کفارو په ژبه او کلچر کی عزت وینی، او د هغوی مادی ترقیٔ په هیبت کی اچولی وی، حال دا چه د عزت شے د الله په نیز باندے صرف او صرف دین او ایمان او تقویٰ او د کفارو دشمنی ده۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه پدے سره مقصود خلق پدے خبره راتیزول دی چه دوی صرف د الله عاجز بندگان جوړ شی او د هغه د دربار نه عزت تلاش کړی۔

فائده : په سورة المنافقون کی چه راغلی دی چه عزت د الله او د رسول او د ایمان والو دپاره دے نو هلته مقصد د عزت موصوف خلك بیانول دی چه دے درے قسمه ذواتو ته عزت حاصل دے، او دلته د عزت اختیار او واك بیانول دی چه دا صرف د الله په واك او اختیار کی دے، او د الله د طرفنه دے نو دواړو آیتونو کی الحمد لله هیڅ تعارض نشته۔

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ
او یقیناً نازل کړے دے الله تعالیٰ په تاسو باندے په دے کتاب کی دا چه کله واوریٔ تاسو

آيَاتِ اللهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا

آیتونه د الله تعالیٰ چه کفر کیږی په هغے باندے او توقے کیږی په هغے پورے نو مهٔ کینئ

مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ إِنَّكُمْ إِذاً مِّثْلُهُمْ

د دوی سره تردے چه ننوځی په خبره کی سوئ ددے نه یقیناً تاسو به دغه وخت د هغوی په شان شئ

إِنَّ اللهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِيْنَ وَالْكَافِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴿١٤٠﴾

یقیناً الله تعالیٰ راجمع کونکے دے منافقانو او کافرانو لره په جهنم کی یوځای۔

تفسیر: د مکے مشرکانو به په خپلو مجلسونو کی د قرآن کریم پورے توقے کولے، پدے وجه الله تعالیٰ مسلمانانو لره د هغوی سره د ناستے نه منع اُوفرمایله او د سورة الانعام آیت (٦٨) ئے نازل کړو: ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْ آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ، وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِيْنَ ﴾ (کله چه ته هغه خلق اُووینے چه زمونږ په آیتونو عیبونه لګوی نو د دوی نه جدا شه تردے چه دوی په بله خبره کی شروع شی، او که تا نه شیطان هیر کړی نو د یادیدو نه روستو بیا د داسے ظالمانو سره مهٔ کینه)۔ نو ددے آیت د نازلیدو نه روستو مسلمانانو د کافرانو سره ناسته بنده کړه۔

کله چه مسلمانانو هجرت اُوکړو او مدینے ته راغلل نو د یهودیانو او منافقانو سره ئے د هغوی په مجلسونو کی کیناستل شروع کړل چه هلته به یهودیانو د قرآن کریم پورے توقے کولے۔ نو دا آیت نازل شو چه پدے کی مسلمانانو ته دا خبره رایاده شویده چه ددے نه مخکی په قرآن کی د الله حکم راغلے دے چه په کومو مجلسونو کی کافران د قرآن کریم پورے توقے کوی، نو په هغے کی به نهٔ کینئ، ځکه چه ستاسو ناسته د هغوی سره ددے خبرے دلیل دے چه د الله د آیتونو نه په انکار کیدو او د هغے پورے په توقو کیدو باندے تاسو راضی یئ، بیا به په کفر او د جهنم د عذاب په مستحق کیدو کی تاسو د هغوی په شان شئ لکه چه الله مخکی اُوفرمایل: چه الله به منافقان او کافران په جهنم کی راجمع کوی۔ ددے نه دا قاعده معلوم شوه چه [اَلْمُسْتَمِعُ شَرِيْكُ الْقَائِلِ وَالسَّاكِتُ شَرِيْكُ الْفَاعِلِ]

(د ګناه آوریدونکے د ویونکی سره شریك وی، او غلے ناست د کونکی سره شریك وی)

او دے آیت ته تقریباً په هره موقعه کی ضرورت راځی۔

عمر بن عبد العزیزؒ څه کسان په شرابو کی ونیول نو د هغوی په وهلو ئے حکم وکړو نو

چا پکې وویل چه فلانے پکې روژه وو،
نو عمر بن عبد العزیزؒ دا آیت ولوستلو (اِنَّكُمُ اِذًا مِثْلُهُمُ) اشاره وه دے ته چه په گناه باندے راضي هم گناهګار دے او د هغوی سره په گناه کې شریك دے۔
علامه قرطبیؒ وائي : [وَلِهٰذَا يُؤَاخَذُ الْفَاعِلُ وَالرَّاضِيُ بِعُقُوْبَةِ الْمَعَاصِيُ حَتّٰى يُهْلَكُوْا بِأَجُمَعِهِمُ] ددے وجه نه د گناه کونکے او په گناه باندے راضي دواړه به د گناهونو په سزا کې راګیرولے شي تردے چه ټول به په هلاکت کې شریك وي۔
ابن جریرؒ د ضحاكؒ قول نقل کړیدے :
[دَخَلَ فِيهِ كُلُّ مُحْدِثٍ فِي الدِّيْنِ وَكُلُّ مُبْتَدِعٍ اِلَى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ]
ددے آیت په ضمن کې هر هغه سړے داخلیږي چه په دین کې یوه نوے خبره پیدا کوي او بدعت کوي تر قیامته پورے۔ (قاسمي والبغوي ۳۰۱/۲)
ځکه چه بدعتي او خواهش پرست هم په آیتونو کې د خپل باطل ثابتولو دپاره غلط تاویلات او تحریفات کوي چه دا د الله د آیتونو پورے مسخرے دي۔ (تفسیر السعدي)
دارنګه کوم بدعتیان چه د قرآن او حدیث په درس کې د قرآن او حدیث پورے ټوقے کوي او د آیت او حدیث نه جوابونه کوي او خپل مذهب ثابتوي د هغے نه پاڅیدل واجب دي او د بدعتیانو نه سبق وئیلو سره په بنده کې دیني بې غیرتي پیدا کیږي۔
د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي : فِي الآيَةِ دَلِيْلٌ عَلٰى وُجُوْبِ التَّجَنُّبِ مِنْ أَهْلِ الْمَعَاصِيُ ۔ دا آیت دلیل دے چه د گناه والا خلکو نه جدائي او بیزاري لازم ده، د هغوی خوا کې به نۀ کیني ورنه د هغوی سره به په گناه کې حساب شي۔
علامه سمرقنديؒ وائي : [فِيُ هٰذِهِ الآيَةِ دَلِيْلٌ عَلٰى اَنَّ مَنْ جَلَسَ فِيُ مَجْلِسِ مَعْصِيَةٍ وَلَمْ يُنْكِرُ عَلَيْهِمُ فَيَكُوْنُ مَعَهُمُ فِي الْوِزْرِ سَوَاءٌ، وَيَنْبَغِيُ اَنْ يُّنْكِرَ عَلَيْهِمُ اِذَا تَكَلَّمُوْا بِالْمَعْصِيَةِ اَوْ عَمِلُوْا بِهَا فَاِنْ لَمْ يَقْدِرُ يَنْبَغِيُ اَنْ يَّقُوْمَ عَنْهُمْ] (القرطبي ٤١٨/٥ والقاسمي ٥٢٠/٢)
دا آیت دلیل دے چه څوك د گناه په مجلس کې کیناستو او په هغوی باندے ئے انکار ونکړونو دے به د هغوی سره په گناه کې برابر وي، او پکار ده چه کله هغوی د گناه خبره کوي یا پرے عمل کوي نو دے به انکار وکړي او که انکار باندے قادر نۀ وي نو بیا به د هغوی نه پاڅیږي دے دپاره چه ددے آیت په وعید کې داخل نشي)۔
حاکمؒ وائي چه د اسلام کوم علماء چه د ملحدینو او د اسلام مخالفینو سره د مناظرے دپاره د هغوی مجلسونو ته ځي نو هغوی دپاره هیڅ منع نشته بلکه هغوی ته به اجر او

ثواب ملاویږي او كه په يو مجلس كې د الله او د رسول يا د دينِ اسلام پورې توقې كيږي نو ځوك چه په هغې راضي وي نو هغه كافر كيږي ځكه چه الله تعالىٰ فرمايلي دي: ﴿ اِنَّكُمۡ اِذًا مِّثۡلُهُمۡ ﴾ يعنې تاسو به د هغوی په شان شئ.

امام شوكاني رحمه الله ليكي: چونكه په قرآن كريم كې د الفاظو عموم له اعتبار وي نۀ خصوص د سبب له پدې وجه هغه ځاى چه هلته په دلائل شرعيه ؤپورې توقې كيږي د هغې نه پرهيز كول واجب دي. د مثال په توګه د تقليد شخصي قيديان چه د قرآن او سنت په بدله كې د خلقو آراء قبلوي، او كله چه يو عالِم په يوه مسئله باندې د قرآن او سنت نه دليل نيسي نو دوى ورپورې توقې كوي او خلقو ته دا يقين وركوي چه دۀ د مذهب د امام مخالفت اُوكړو كوم ته چه دوى د مُعلم شريعت ﷺ مقام وركړيدې، ډير غټ جرم ئې پورته كړيدې دداسې خلقو مجلسونو نه پرهيز كول لازم دي. (فتح البيان والقاسمي)

د منكراتو په مجالسو كې د اشتراك صورتونه

۱- يو تن د يو شرعي كار دپاره يو ځاى ته ورشي ليكن هلته د منكراتو سره مخامخ شي لكه سړې جومات ته د مانځه دپاره لاړ شي خو هلته د قرآن كريم غلط تفسير يا د بدعتي درس وي. يا د وليمې دپاره لاړ شي خو هلته ساز او سرود وي. يا د مړي د جنازې دپاره لاړ شي خو هلته د نوحه (بې صبره ژړا، اير) سره مخامخ شي. يا د امر بالمعروف او نهي عن المنكر دپاره لاړ شي خو ددۀ په خوله باندې څوك عمل ونكړي او خپل د منكراتو مجلس همدغه شان جاري وساتي نو پدې ټولو صورتونو كې په بنده ګناه نشته پدې شرط چه ذكر شوي مجالس به په زړه كې بد ګنړي او بد به ورته ګوري.

(احكام القرآن للجصاص ۲۸۹/۲)

آؤ دغه درس كې به نۀ كيني او دغه وليمه كې به شركت نۀ كوي بلكه راواپس كيږي به او جصاصؒ د حنفي مذهب تشريح ليكلې ده چه صحيح نۀ ده، ددې آيت د ظاهر او د احاديثو مخالفه ده.

۲- دويم دا چه سړې د منكراتو په مجالسو كې قصداً شركت وكړي نو ددې حكم ښكاره دې چه د مجلس والو په شان به ګنهګار وي نو مسلمان له پكار دي چه د هغوى نه اعراض وكړي او كه مجلس بدل كړي نو ښه كار به وكړي.

الَّذِيۡنَ يَتَرَبَّصُوۡنَ بِكُمۡ فَإِنۡ كَانَ لَكُمۡ فَتۡحٌ
هغه کسان دي چه انتظار کوي ستاسو په باره کي نو که وي ستاسو دپاره فتح
مِّنَ اللّٰهِ قَالُوۡا أَلَمۡ نَكُنۡ مَّعَكُمۡ وَإِنۡ كَانَ لِلۡكَافِرِيۡنَ
د الله تعالیٰ د طرف نه (نو) دوي وائي آيا نهٔ وو مونږ تاسو سره (ملګري) او که وي د کافرانو دپاره
نَصِيۡبٌ قَالُوۡا أَلَمۡ نَسۡتَحۡوِذۡ عَلَيۡكُمۡ
څه برخه (يعني فتح) نو دوي وائي آيا غلبه نهٔ شوه کولے مونږ په تاسو باندے (چه
وَنَمۡنَعۡكُمۡ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ
د مؤمنانو ملګري شوي وے) او آيا نهٔ ئے منع کړي مونږ تاسو لره د مؤمنانو نه
فَاللّٰهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ وَلَنۡ
نو الله تعالیٰ به فيصله وکړي په مينځ ستاسو کي په ورځ د قيامت او هيچرے نهٔ
يَّجۡعَلَ اللّٰهُ لِلۡكَافِرِيۡنَ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ سَبِيۡلًا ﴿١٤١﴾
ګرځوي الله تعالیٰ د کافرانو دپاره په مؤمنانو باندے لاره (د غلبے)۔

تفسير : پدے کي د منافقانو يو بل بد صفت بيان شويدے چه مسلمانانو لره د دوي نه په نفرت کولو مجبوره کوي چه دا هغه لالچيان خلك دي چه صرف دنيا او خپله ګټه ئے په نظر کي نيولے ده، فرمائي چه دا منافقان هر وخت د مسلمانانو د فتح يا شکست په انتظار کي وسيږي، او په دواړو حالتونو کي د دوي صرف خپله فائده مقصود وي.

کـه د الله د طرف نه مسلمانانو ته فتح او نصرت ملاويږي نو فوراً وائي چه آيا مونږ تاسو سره نهٔ وو، ستاسو په فتح کي زمونږ هم دخل دے۔ پدے وجه په مالِ غنيمت کي زمونږه هم حصه کيږي، او که کاميابي حاصله نهٔ شي او د کافرانو په وقتي توګه غلبه راشي لکه په جنګ اُحد کي چه اُوشوه نو همدا منافقان کافرانو خوا ته ځي وائي چه آيا مونږ په تاسو غالب نهٔ وو، آيا مونږ تاسو لره نشو قتلولے، او قيديان کولے مو نشوئ، ليکن مونږ دا ټول هر څه اُونکړل بلکه د مسلمانانو همت مو خکته کړو تردے چه تاسو په هغوي باندے غالبه شوئ ورنه تاسو به ددے حادثاتو او پيښو ښکار کيدے۔

نَصِيبٌ : د كافرانو په حق كي ئے نصيب (برخه) ذكر كړه ځكه چه د هغوى غلبه هسے ظاهري د خواهش برخه وى او حقيقي كاميابي او فتح نۀ ده۔ او د مؤمنانو والا حصے ته ئے فتح وويله ځكه چه د ايمان والو مقصود د كفر نه علاقه آزاده ول دى۔

أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ : اَىْ أَلَمْ نَغْلِبْكُمْ وَنَتَمَكَّنْ مِنْ قَتْلِكُمْ۔ يعني آيا مونږ په تاسو باندے غلبه نشوه كولے او ستاسو په وژلو قادر نۀ وو چه مونږ د مؤمنانو ملګرتيا كړے وے؟!۔

وَنَمْنَعْكُم : يعني مونږ تاسو لره د مؤمنانو نه منع كړئ او هغوى مو درنه يو طرف او بل طرفته واړول۔

فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ : يعني منافقان دِے پدے نۀ دهوكه كيږي چه په ژبه سره د شهادت كلمے وئيلو په وجه كه په دنيا كي د دوى د نفسونو حفاظت شويدے نو د قيامت په ورځ به هم د دوى نفسونه بچ شي۔ د قيامت په ورځ به د دوى دا چل ول او دوه مخيزه پاليسي هيچرے په كار رانشي، او په دنيا كي به د منافقانو دا آرزو هيڅكله هم پوره نۀ شي چه د مسلمانانو وجود بالكل ختم شي، الله تعالىٰ كافرانو له هيڅ كله په مسلمانانو داسے غلبه نۀ وركوى چه دوى بالكل ختم كړي۔

سوال وجواب

كه څوك ووائي چه ﴿ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ ﴾ كي لَنْ د تاكيد دپاره دے چه هيڅكله به الله تعالىٰ كافرانو ته په مؤمنانو باندے څه لاره جوړه نكړي چه كافران په مسلمانانو غلبه وكړي حال دا چه په ډيرو ځايونو كي كافرانو په مسلمانانو غلبه كړيده لكه د اُحد په غزا كي او اُوس هم مسلمانان د كافرانو د تسلط لاندے دى؟

جواب : ١- د علي ﷛ نه ددے په باره كي پوښتنه وشوه نو هغه وفرمايل : دا په قيامت كي مراد ده چه الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ د كافرانو دپاره په مؤمنانو باندے هيڅكله لاره جوړه نكړي بلكه كافران به خكته په جهنم كي وى او مؤمنان به پورته په جنت كي وى۔ (الطبريّ) دا هم يو ښه مصداق دے ليكن ظاهر دا ده چه آيت كي تخصيص د آخرت نشته بلكه دنيا او آخرت دواړو ته شامل دے۔

٢- جواب : د سبيل نه مراد داسے غلبه ده چه په هغے سره د مسلمانانو دولت او د هغوى آثار بيخي د دنيا نه ختم شي او د دوى وجود بيخي ختم كړي لكه رسول الله ﷺ د الله تعالىٰ نه درے دعاګانے طلب كړے وے چه دوه پكي قبولے شوے وے، يوه دا وه چه زۀ به ستا

په امت باندې دشمنان دومره نهٔ مسلط کوم چه د دوی بیخ وباسی [وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا] (الترمذی). اگرکه هغه څوك پرې ټول ورغونډ شی کوم چه د دنیا په اطرافو کې وسیږی۔ (القرطبی ۵/۴۱۹)

دا تفسیر هم ناقص ښکاری ځکه چه دلته الله تعالىٰ (الْمُؤمِنِين) لفظ استعمال کړیدے یعنی په ټولو مؤمنانو تسلط نشی موندلے۔ او داسې ئې نهٔ دی ویلی چه په هیڅ مؤمن باندې تسلط نشی موندلے۔

۳- بعض وائی دلته د سبیل نه مراد سبیل الحُجّة دے، کافران که هر څومره غلبه وکړی لیکن حجت ئې باطل دے او د مؤمنانو حجت د الله د طرف نه دے، نو هغه حق دے او غالب دے۔ او هیڅکله باطل حجت په حق حجت باندې غلبه نشی کولے۔ (زاد المسیر ۲/۲۱۰)

٤- ښه جواب دا دے چه دلته الله تعالىٰ (المؤمنین) کلمه ذکر کړیده او کله چه مؤمنین مطلق ذکر شی نو کامل ایمان مراد وی، نو مطلب دا دے چه مؤمنانو کې کله کامل ایمان وی نو د الله قانون دا دے چه کافران به پرې هیڅکله نهٔ غالبه کوی، نهٔ به ئې نیولے شی او نهٔ به ئې قتلولے شی، او نهٔ به ورته هیڅکله تکلیف رسولے شی ځکه چه مؤمن د الله دوست دے، د الله په حفاظت کې دے، نو دا ډیره مزیداره وعده ده نو د سبیل نه مراد لاره د تکلیف او د قتل او د غلبې ده۔ لیکن ددې سره دا خبره ملگرې ده چه کله په دوی باندې غلبه کیږی نو د هغې وجه به د دوی عملونه وی، دوی به په دغه وخت کې په صفت د کامل ایمان باندې باقی نهٔ وی، یعنی کله چه د کافرانو غلبه راځی نو د هغې وجه دا وی چه په ایمان والو کې ډیر لږ خلك صحیح ایمان والا وی، اکثر پکې منافقان، او بد عمله او فاسقان او ریاء کار وی، او په صفت د کامل ایمان باندې پاتې نهٔ وی لکه دا وعده الله تعالىٰ په بل آیت کې هم کړیدے ﴿إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ (الحج:۳۸) الله تعالىٰ د ایمان والو د طرفنه مدافعت کوی پدې شرط چه ایمان والا په خپل صحیح او کامل ایمان باندې باقی وی۔

ددې مثال دا دے چه په بدر کې کامل ایمان وو، نو ډیرو لږو کسانو ته غلبه ملاؤ شوه او په اُحد کې معمولی شان د کامل ایمان خلاف وشو په پنځوسو ناستو ملگرو کې څلوېښتو نه مخالفت وشو نو فتح په شکست بدله شوه۔ نو پدې آیت کې عمومی قانون ذکر شویدے چه ددې نه ځینی شاذ او نادر صورتونه وځی چه د هغې سبب د کامل ایمان مخالف کارونه کول دی، لکه ظلمونه، عصیانونه، او غفلتونه شو۔

دا تفسیر امام ابن القیمؒ په بدائع التفسیر کې غوره کړیدے صرف سوال دا راځی چه

انبیاء علیهم السلام او بعض متقیان ولے قتل شویدی ؟ جواب : یا د امت د عصیان د وجه نه یا د الله تعالیٰ د طرفنه په هغوی باندے ابتلاء (او امتحان) وو او د ابتلاء او د مصیبت ترمینځ ډیر فرق دے۔

إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ يُخَادِعُوْنَ اللهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوْا
یقیناً منافقان دهوکه کوی د الله تعالیٰ سره او هغه دهوکے ورکوی دوی ته او کله چه ودریږی
إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوْا كُسَالٰى يُرَآؤُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللهَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٤٢﴾
مانځه ته نو ودریږی ناراسته، خودنه کوی خلقو ته او نهٔ یادوی دوی الله تعالیٰ مګر لږ۔

تفسیر : پدے آیت کی هم د منافقانو بعض بد اعمال بیان شویدی۔

د منافقانو د الله تعالیٰ سره د دهوکے صورتونه په سورة البقره کی بیان شویدی۔

بعض دا دی : منافقانو په ظاهره کی (په ژبه) ایمان راوړیدے لیکن په زړه کی کافران دی، ظاهره کی په نیك عملونو کی حاضری ورکوی لیکن زړهٔ ئے د الله سره نهٔ دے، او دا قانون دے چه څوك په یو خدمت کی حاضر شی او د زړه نه نهٔ وی نو دیته دهوکه وائی۔

وَهُوَ خَادِعُهُمْ : الله به هم د دوی سره د دهوکے معامله وکړی او د الله د طرفنه دهوکه ورکول په حقیقت باندے بناء دی، او د بندګانو سره مشابه نهٔ دهٔ نو د الله تعالیٰ دهوکه دوی لره داسے ده چه دوی باندے په دنیا کی د ایمان والو احکام جاری کوی چه وینه او مالونه به ئے محفوظ وی، نو دوی به د خپلے کم عقلئ او ناپوهئ په وجه دا ګمان کوی چه مونږ مسلمانانو ته دهوکه ورکړه لکه څنګه په دنیا کی زمونږ مالونه او نفسونه محفوظ شو نو په آخرت کی به هم د عذاب نه بچ کیږو، نو الله تعالیٰ هم د دوی سره دغسے معامله کوی چه په دنیا کی دوی ته پرے سستوی او دوی په خپل حال باندے پریدی، او دغه شان د دوی نفسونه او مالونه محفوظ ساتی دے دپاره چه په دهوکه کی پریوزی او په آخرت کی به د دوی ځای جهنم کی د تولونه لاندے کنده وی۔

او په آخرت کی دهوکه دا هم ده چه د مسلمانانو سره به ئے یو ځای پورے بوځی بیا به ترے په پُل صراط کی رڼا واخلی۔ دارنګه د جنت دروازه به ورته کولاوه کړی بیرته به ئے جهنم ته راستانه کړی۔

وَإِذَا قَامُوْا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوْا كُسَالٰى : دا هم د منافقانو د دهوکے یو صورت دے چه په

ظاهره کې خو مؤنځ کوی لیکن سخت بې اخلاصه دی ګویا که بې اخلاصه عبادت په الله باندې د اخلاص په عبادت منی۔

نو د منافقانو بد صفت دا شو چه کله مانځه ته راځی نو درونډ او سست اُودرېږی لکه چه چا په دې کار مجبوره کړی وی ځکه چه د دوی نیت د مانځه نهٔ وی، او نهٔ په هغې باندې د دوی ایمان وی، او نهٔ د مانځه په ارکانو او اعمالو باندې سوچ او فکر کوی۔ د دوی مقصد خو خلقو ته ریاکاری کول وی، دې دپاره چه دوی ورته مسلمانان ښکاره شی۔ او په مانځه کې سستی ځکه کوی چه د ثواب اراده نهٔ لری او په پریخودو سره د عذاب نه نهٔ یرېږی (قرطبیؒ) نو پدې کې مؤمنانو ته یره ورکول دی چه تاسو مانځه ته راځئ نو په خوشحالئ او تازه ګئ سره راځئ۔

حافظ ابن مردویهؒ د ابن عباس رضی الله عنهما قول نقل کړیدې چه دا بده خبره ده چه بنده په مانځه کې سُست ولاړ وی، بلکه هغه له خوشحاله او تازه مخ سره مونځ کول پکار دی، ځکه چه بنده په مانځه کې د خپل رب سره جرګه کوی او الله تعالیٰ ددهٔ مخې ته وی او کله چه هغه ته آواز کوی نو د هغه آواز آوری۔

حاکمؒ وائی : دا آیت دلیل دې چه په مانځه کې سُستی کول د منافق ښښه ده۔

نو ددې نه معلومه شوه چه کله ستا د مانځه سره مینه وه او په شوق باندې مانځه ته پاځیدلې او هغې درلـه خوند درکولو نو تهٔ د منافقت نه خلاص یې، الله تعالیٰ ډیر اکرم او عزتمند دې ددې نه چه داسې زړه کې منافقت راولی چه هغه د الله ذاکر وی۔ او که مونځ سره دِې شوق او جذبه او د تکبیرِ اولیٰ رانیولو سره دِې مینه نهٔ وه، نو پوهه شه چه منافقت په تا کې ژاله اچولې ده۔

يُرَآؤُوْنَ النَّاسَ: د منافقانو بل بد صفت دا دې چه دوی په عبادتونو کې مخلوق ته ځان ښائی او د مخلوق جانب ورته د الله نه لوی ښکاره کیږی نو هغوی ته ځان ښائی۔

وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللهَ : یعنی په مانځه کې الله ډیر کم یادوی، نهٔ خشوع او خضوع اختیاروی او نهٔ ورته دا معلومه وی چه په ژبه څه وائی بلکه زر زر یو څو کلمات ووائی او رسول الله ﷺ فرمائی :

[تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتّٰى اِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَ اَرْبَعًا لَايَذْكُرُ اللّٰهَ فِيْهَا اِلَّا قَلِيْلًا] (الموطأ ٥١٤ وصحيح مسلم ١٤٤٣ عن انس بن مالك)

دا د منافق مونځ دې چه ناوخته مازیګر کې د نمر انتظار کې ناست وی چه کله نمر د

شیطان دوه ښکرونو مینځ ته راشي (یعني زیړے مازیګر شي) نو پاڅیږي څلور ټونګے ووهي چه الله په کې ډیر کم یادوي۔

په صحیحینو کې دي چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل: ((په منافقانو باندے د ټولو نه زیات دروند د ماسخوتن او سحر مونځ دے))۔ ځکه چه پدے وخت کې پوره ریا نهٔ کیږي۔

وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا : دا په عام اوقاتو کې هم مراد دے چه منافقانو کې د الله یادول ډیر کم دي۔ ۱- او کم والے پدے وجه دے چه صرف په خولې سره دے او په زړه کې ئے د الله یاد نشته۔ ۲- یا دا چه کم ځکه دے چه د خلکو د خودنے دپاره دے او په ریاء سره دے یعني اګرکه منافقان په ظاهري حالت کې ډیر ذکر کوي، زر تسبے به ورسره وي لیکن د اخلاص نه خالي وي او په ریاء سره وي نو ځکه لږ دے۔ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چه که د دوي ذکر د الله دپاره وے (یعني په اخلاص سره) نو ډیر به وے۔

او ظاهري مطلب ئے هم صحیح دے چه د منافقانو صفت دا دے چه کم ذکر کوي او د ایمان والو صفت دا دے چه ډیر ذکر به کوي۔ د منافق اکثر اوقات د دنیا په خبرو باندے آباد وي او د الله ذکر او تسبیحات او حمدونه ډیر کم وائي۔ (قاسمیؒ)

مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ لَا اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ وَلَا اِلٰى
حیران دي په مینځ ددے (دوه لارو) کې، نهٔ دوي (مؤمنانو) طرف ته دي او نهٔ دوي (کافرانو)
هٰٓؤُلَآءِ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۱۴۳﴾
طرف ته دي او هغه څوك چه الله تعالیٰ ئے ګمراه کړي نو هیچرے به نهٔ مومے ته هغه لره لاره۔

تفسیر : پدے کې د منافقانو نور بد صفات ذکر دي چه دوي د ایمان او د کفر ترمینځ حیران او پریشانه دي، د مؤمنانو سره هم ملګري نهٔ وي ځکه چه عقیده او زړه کې د دوي سره یو شان نهٔ وي او د کافرو سره هم نهٔ وي ځکه چه په ظاهره کې ئے کلمه وئیلے ده او مونځونو ته حاضریږي او داسے انسان چه په دوه ژالو ئے خپے ایښي وي ډیر پریشانه وي، دارنګه د دوي نه بعض شکیان وي نو کله اخوا مائل کیږي او کله دیخوا۔ او دا کار د خپلو دنیاوي فائدو دپاره کوي لکه:

بخاريؒ او مسلمؒ د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ اِلٰى هٰذِهٖ مَرَّةً وَاِلٰى هٰذِهٖ مَرَّةً]

د منافق مثال د هغه چیلئ دے چه وارئے راوړے وی او د دوه رمو ترمینځ حیرانه روانه وی، کله یو طرف ته ځی (د خپل شهوت پوره کولو دپاره) نو کله بل طرف ته، هغه فیصله نشی کولے چه چا پسے لاړه شی۔

مُذَبۡذَبِیۡنَ : دا حال دے د (یُرَاۤؤُوۡنَ) نه یا د (یَذۡکُرُوۡنَ) د ضمیر نه۔

ذبذبه حیرانتیا او پریشانتیا ته وائی او په اصل کی هغه آواز ته وئیلے شی چه یو زوړند شی ته د حرکت ورکولو نه پورته کیږی۔(راغب) نو منافقان هم د مسلمانانو او د کافرانو ترمینځ زوړند وی او د دواړو ډلو ترمینځ ټالئ وهی۔

او ذبذبه په معنیٰ د دفع کولو سره هم استعمالیږی۔ ګویا که هره ډله ئے دیکه کوی چه زمونږ خوا له مهٔ راځه۔

بَیۡنَ ذٰلِکَ : اشاره ده ایمان او کفر ته۔

لَاۤ اِلٰی هٰۤؤُلَآءِ : د (لَا) متعلق پټ دے اَیۡ لَا مَنۡسُوۡبِیۡنَ اِلٰی هٰؤُلَاءِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ وَلَا اِلٰی هٰؤُلَاءِ الۡکَافِرِیۡنَ] یعنی نهٔ منسوب دی دے مؤمنانو ته او نهٔ کافرانو ته۔

دا تشریح د مذبذبین شوه۔

او د دواړو جملو فرق دا هم دے چه مذبذبین کی د دوی لازمی صفت بیان شو چه دوی حیران دی، او د (لا الی هؤلاء) مطلب دا دے چه نور خلك هم د دوی په نسبت کولو کی حیران دی ځکه چه داسے متضاد کارونه کوی چه کله یو طرفته مائل وی او کله بل طرفته یعنی نهٔ د مؤمنانو په شان اخلاص پکی شته او نهٔ د کافرانو په شان ښکاره کفر کوی۔

د منافقانو نه کافران ښه دی یو غیرت خو پکی شته چه په خپل کفر باندے ښکاره ولاړ دی او منافقان بی غیرته دی۔

فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ سَبِیۡلًا : یعنی د هدایت لاره به ورله مونده نکړے چه په هغے باندے ئے روان کړے۔ یا به هغه په نیغه لاره ونهٔ وینے بلکه حیران او ګډوډ به روان وی۔

یَاۤ اَیُّهَا الَّذِیۡنَ آمَنُوۡا لَاتَتَّخِذُوا الۡکَافِرِیۡنَ اَوۡلِیَآءَ مِنۡ دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ اَتُرِیۡدُوۡنَ
اے ایمان والو! مهٔ نیسئ کافران دوستان سویٰ د مؤمنانو نه آیا تاسو اراده لرئ
اَنۡ تَجۡعَلُوۡا لِلّٰهِ عَلَیۡکُمۡ سُلۡطَانًا مُّبِیۡنًا ﴿۱۴۴﴾
چه وګرځوئ د الله دپاره په خپل ځانونو باندے دلیل ښکاره۔

تفسیر : پدے آیت کی بیرته اولے خبرے ته رجوع کوی چه منافقان د کافرانو سره دوستی ساتی، او د کافرانو سره دوستی کول د توحید او د ایمان منافی شے دے، نو الله ایمان والا منع کوی ددے نه چه دوی د کافرانو سره دوستی وساتی۔ دارنگه مخکی د منافقانو بد صفات ذکر شو نو اُوس ایمان والا د هغوی د دوستانے نه منع کوی چه اے ایمان والو! کافرانو نه خپل دوستان مهٔ جوړوئ او دوی ته د مسلمانانو رازونه مهٔ ورکوئ، که تاسو داسے کوئ نو خپل خلاف به د الله په نیز دلیل جوړ کړئ او د عذاب مستحق به شئ۔

حاکمؒ وائی : داآیت دلیل دے چه د کافر دوستی حرامه ده۔ زمخشری لیکلی دی چه صَعْصَعَه بن صُوحَان خپل وراره ته اُووئیل : د مؤمن سره مخلصانه سلوك کوه او د کافر او فاجر سره په ښائسته اخلاقو راتلل کوه، فاجر به ستا د ښائسته اخلاقو نه راضی کیږی او د مؤمن په تا باندے حق دے چه د هغه سره به مخلصانه سلوك کوے۔ (قاسمیؒ)

الْكَافِرِيْنَ : کی دوه قوله دی (۱) یا ترے ښکاره کافران مراد دی۔ (۲) یا ترے منافقان مراد دی۔ دواړه مراد کیدل هم صحیح دی۔

اُوْلِيَآءَ : د کافرانو دوستی دا ده چه د هغوی سره په زړه کی مینه وساتی، هغوی ته د مسلمانانو رازونه ښکاره کړی، هغوی له خور لور ورکړی، د مسلمانانو په خلاف د هغوی سره مدد وکړی۔ البته ظاهری لین دین (اخستل خرڅول) ورسره کول جائز دی هرے مسئلے له به خپل خپل نوعیت ورکولے شی۔

سُلْطَانًا مُّبِيْنًا : اَیْ عَلٰی عَذَابِکُمْ ۔ یعنی په خپل عذاب باندے۔ یعنی تهٔ به د قیامت په ورځ په طمع یی چه زما خو ډیر عملونه دی، زهٔ به جنت ته ځم لیکن الله به فرمائی چه تهٔ د جهنم والو نه یے ځکه چه ستا د کفارو سره مینه وه او (اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ) بنده به د هغه چا سره حساب وی چه د چا سره ئے مینه وی۔

سلطان : دلیل او برهان ته وائی۔

إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ
یقیناً منافقان به په لاندے طبقه د اُور کی وی او هیچرے تهٔ به موندهٔ نکړے د دوی دپاره
نَصِيْرًا﴿١٤٥﴾ إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَأَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا
مددګار۔ مګر هغه کسان چه توبه ئے وویستله او نیك عمل ئے وکړو او ځان ئے بچ کړو

بِاللّٰهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلّٰهِ فَأُولَٰٓئِكَ مَعَ

په دین د الله تعالیٰ او خالص ئې کړو عبادت خپل د الله دپاره نو دغه کسان به ملګري وي

الْمُؤْمِنِينَ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾

د ایمان والو او زر دے چه وربه کړي الله تعالیٰ مؤمنانو ته اجر لوئې۔

تفسیر : پدے آیت کې د منافقانو انجام بیان شویدے چه دوی به په جهنم کې د ټولونه لاندے کنده کې وي۔ او بیا ئې توبې ته ترغیب ورکړیدے او ددے بد انجام نه ئې هغه خلق مستثنیٰ کړیدي چه هغوی د منافقت نه توبه اُوویستله او خپل عمل ئې نیك کړو او د کافرانو دوستئ ئې پریخوسته او د الله سره ئې تعلق مضبوط کړو او په خپل دین کې د الله دپاره مُخلص شو، الله تعالیٰ فرمائي چه دوی به په آخرت کې د مؤمنانو سره په جنت کې اُوسیږي۔

حاکمؒ په مستدرك کې، بیهقيؒ په شعب الایمان کې او ابن ابی حاتمؒ په خپل تفسیر کې د معاذ بن جبل ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((خپل دین د الله دپاره خالص کړئ، ستاسو لږ عمل به هم کافي وي))۔

الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ : د جهنم طبقے چه ښکته کیږي نو سختیږي او د جنت درجات چه پورته کیږي نو کمال پکې پیدا کیږي۔

الدرك : طبقے ته وائي او د جهنم اُوه طبقات دي د یو بل لاندے دي۔ ١-جهنم، ٢- لظیٰ، ٣-حُطَمَه، ٤- سَعِیر، ٥- سَقَر، ٦- جَحِیم، ٧- هَاوِیَه او دے ټولو ته نار (اُور) وئیلے کیږي۔ او دا ټول د جهنم نومونه هم دي۔

مفسر قاسميؒ لیکي چه د منافقانو عذاب او طبقه ځکه سخته ده چه دوی د کفر سره استهزاء په اسلام پورے او د مسلمانانو سره خداع او نور بد صفات یو ځای کړیدي۔

امام رازيؒ لیکي : منافقان د مسلمانانو په رازونو ډیر خبردار وي نو دوی کافرانو ته خبر ورکوي چه د هغے په وجه په مسلمانانو تکلیفونه زیاتیږي، نو ددے سبب په وجه منافقانو ته هم دغه شان عذاب سخت ورکړے شو۔ دارنګه د منافقانو کفر پټ دے نو د عذاب دپاره ئې هم ډیر پټ ځای پکار دے ځکه چه جزاء د جنس د عمل نه وي۔

د منافقانو جهنم ته د بوتللو تشریح د عبد الله بن مسعود ﷺ په حدیث کې داسے راغلے ده

چه (فِیْ تَوَابِیْتَ مِنْ حَدِیْدٍ مُقَفَّلَةٍ عَلَیْهِمْ فِیْ اَسْفَلِ النَّارِ) د وسپنے په صندوقونو کی به به بند کړے شوی وی چه هغے ته به تالی لګولے شوی وی او په لاندے طبقه د جهنم کی به وی۔
(شعب الایمان، ابن ابی شیبه وصححه السیوطی فی البدور السافرة : رقم الحدیث : ٦٩)

اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا : دا د منافقانو د توبی بیان دے چه پدے کی څلور شرطونه دی۔ اول توبه یعنی منافقت پریښودل۔ دویم : اصلاح د عمل چه د منافقت نه روستو به نیك نیك اعمال شروع کوی، ځکه چه دوی مخکی فاسد او د ضرر والا اعمال کول۔
دریم : اعتصام بالله۔ دا قید ځکه لګوی چه د منافقانو په الله باندے بهروسه نهٔ وه، د مخلوق نه متأثره وو نو الله دا شرط ولګولو چه اعتماد او بهروسه به په الله کوی۔

وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ : د اعتصام معنیٰ ده په الله باندے ځان بچ کول او ددے دوه صورتونه دی یو په الله باندے توکل او بهروسه کول دی، او دویم : د الله په دین باندے منګولے لګول او هغه کلك رانیول او دین د هیچا دپاره نهٔ پریښودل دی نو پدے سره به د منافقت نه بچ کیږی چه په دین باندے په هر ځای کی عمل کوی۔
څلورم شرط : (وَاَخْلَصُوْا دِیْنَهُمْ لِلّٰهِ) دا مقابل د ریاء دے چه د توبی نه روستو به صرف د الله دپاره اعمال کوی۔

فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِیْنَ : یعنی دا کسان به د مؤمنانو سره ملګری وی یعنی په دنیا او په آخرت کی به د مؤمنانو نه حسابیږی۔ او لفظ د (مَعَ) په معنیٰ د (مِنْ) سره اَیْ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ۔ دوی به د مؤمنانو نه وی۔ او لفظ د مَعَ ئے ذکر کړو پدے کی اشاره ده لرے والی د دوی ته د نفاق نه، او اُوچتے مرتبے حاصلولو ته، یعنی دوی به پدے کارونو سره په لاندے طبقه د اُور کی نهٔ وی بلکه دوی ته به د هغه مؤمنانو په شان اُوچت درجات ملاویږی کوم چه په ایمان باندے همیشه وو او هیڅ منافقت ئے نهٔ دے کړے۔ (قاسمیؒ)

مَا یَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِکُمْ اِنْ شَکَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ وَکَانَ

څه کوی الله تعالیٰ په عذاب ستاسو که شکر کوئ تاسو او ایمان راوړئ او دے

اللّٰهُ شَاکِرًا عَلِیْمًا ﴿١٤٧﴾

الله تعالیٰ قبلونکے د عمل، په هر څه باندے پو هه۔

تفسیر: دا هغه آیت دے چه د ابن عباسؓ په قول ددے امت دپاره د دنیا او ما فیها نه غوره

دے۔

مناسبت :

مخکې د الله غضب ذکر شو اُوس د الله تعالیٰ امتنان او رحمت بیانیږي، او دا آیت جواب د سوال دے او ترغیب دے ایمان او شکر طرفته۔

سوال پیدا شو چه الله تعالیٰ یو بنده درك اسفل ته بوځي او غضب پرے کوي نو دے ته به د الله ضرورت وي لکه څنګه چه یو تن غصه شي نو ترڅو ئے چه غصه نافذه کړي نۀ وي نو بلۀ پریشر ئے نۀ کمیږي نو آیا الله به د بندګانو عذاب ته ضرورت لري؟ نو الله فرمائي هیڅکله داسے نۀ ده، الله تعالیٰ د دنیا د بادشاهانو په شان نۀ د حسد او د کینې په وجه تاسو ته عذاب درکوي، او نۀ ئے ستاسو په عذاب کې څه ګټه شته، او نۀ هغه ته ستاسو په کفر باندے څه ضرر شته چه ستاسو په عذاب ئے د ځان نه واړوي بلکه هغه خو بې نیازه دے، بلکه دا د الله تعالیٰ کمال دے چه د بندګانو سره احسان کوي او دا ئے هم کمال دے چه د مجرمانو نه بدله اخلي نو ستاسو عذاب ستاسو د کفر په وجه راځي نو الله پدے آیت کې بندګانو ته چل ښائي چه دوه کارونه همیشه وکړئ نو د الله عذاب به هیڅکله نۀ راځي چه هغه د الله شکر کول او په هغه باندے د زړۀ نه ایمان راوړل دي۔

مَا يَفۡعَلُ اللّٰهُ : ما استفهامیه ده او استفهام انکاري دے یعنې الله ستاسو په عذاب څه کوي، یعنې عذاب نۀ درکوي۔ یا ما نافیه ده۔

إِنۡ شَكَرۡتُمۡ وَآمَنۡتُمۡ :

سوال وجواب

سوال : ایمان خو د شکر نه مخکې دے نو دلته څنګه روستو ذکر شو ؟

جواب : ۱- ځینې مفسرین لیکي چه دلته شکر توحید ته وائي یعنې اول د شریکانو نفې کول او بیا په الله باندے ایمان راوړل او توحید په ایمان باندے مقدم وي۔ (زاد المسیر ۲/۱۳۵) لیکن دا نیمګړے مصداق دے۔

۲- ځینې وائي چه شکر په معنیٰ د توبې سره دے او توبه په ایمان مخکې وي او د ایمان نه مراد اخلاص او په الله باندے اعتصام کول دي۔ (روح المعاني)

۳- بعض وائي : (وَآمَنۡتُمۡ) جمله د (شَكَرۡتُمۡ) دپاره عطف تفسیر دے۔ او دا ځکه چه دلته خطاب کافرانو او منافقانو ته دے یعنې اے کافرانو ! که تاسو شکر وکړئ یعنې ایمان

راوړئ۔ (عزیز التفاسیر) دا ناقص تفسیر دے۔
٤- ظاهر دا ده چه شکر دلته په خپله معنیٰ دے نو شکرئے مقدم کړو ځکه چه انسان اول کی د الله نعمتونو ته گوری نو د هغے په نتیجه کی ئے په زړه کی د شکر جذبه پیدا شی نو د هغے نه روستو ایمان ته راشی، او صحیح لاره اختیار کړی۔ د الله په اسماء او صفاتو ئے یقین راشی۔ نو اجمالی شکر د ایمان نه مخکی وی او تفصیلی شکر چه ټول اعمال کوی دا د ایمان نه روستو وی۔ نو شکر سبب د ایمان شو او سبب په مسبب باندے مقدم وی۔
٥- بله وجه دا ده چه شکر مقصود دے او ایمان د هغے وسیله ده ځکه چه شکر په ژبه سره د الله ثناء ویل، او په زړه کی د هغه تعظیم او مینه ساتل، او په بدن باندے د هغه دپاره عبادات کول، او د هغه دپاره مال لګول، او د نعمتونو نسبت خپل خالق ته کول، او دغه نعمت د الله په نافرمانئ کی نهٔ استعمالول دی لکه ددے تشریح په سورة البقره کی تیره شویده۔
شَاكِرًا عَلِيمًا : ١- شاکر په معنیٰ د قبلونکی د اعمالو سره۔ ٢- یا قدردان۔ یعنی الله تعالیٰ سره د بندګانو د عملونو ډیر قدر دے۔ ٣- اَلَّذِیْ یَجْزِیْ بِالْعَمَلِ الْقَلِیْلِ الْاَجْرَ الْجَزِیْلَ۔ په لږ عمل باندے ډیره بدله ورکونکے۔

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَنْ
نهٔ خوښوی الله تعالیٰ په زوره وئیل د بدیے وینا مګر هغه څوك
ظُلِمَ وَ كَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿١٤٨﴾
چه ظلم کړے شوے وی په هغه باندے او دے الله تعالیٰ آوریدونکے پوهه۔

تفسیر : مناسبت : مخکی د منافقانو بد صفتونه ذکر شول نو هغوی عذر وکړو چه مونږ یهودو خوا ته ورځو او هغوی ته کفر او شرك ښکاره کوو نو پدے کی مونږ تقیه کوو یعنی د هغوی د شر نه ځان خلاصولو دپاره دا کار کوو۔ نو پدے آیت کی په هغوی باندے رد کوی چه تاسو خو هیڅ مجبوره نهٔ یئ او تقیه خو په وخت د اکراه (سختے مجبورتیا) کی وی۔ او کلمه د کفر په حالت د اکراه کی وئیل جائز دی لکه د سورة النحل (١٠٦) آیت کی الله تعالیٰ ددے تشریح کړیده۔

او په آیت کی نوږ مصداقات هم شته لکه:

الله تعالیٰ دا خبره نهٔ خوښوی چه بنده په خپله ژبه سره بدے خبرے د خلقو په مخکی بیان کړی لکه کنځل، بد رد، غیبت، چغل خوری، چا ته ښکاره ښیرے کول، بده ژبه استعمالول او د فسق او فجور کلمات په ژبه راوستل. په ښیرو کولو کی یو بی رحمی ده او بل د الله بی ادبی ده، او الله تعالیٰ ته د ظلم نسبت دے چه فلانے هلاك کړه.

ددے نه صرف هغه شخص مستثنیٰ دے چه په هغه باندے ظلم شوے وی، نو د هغه حق کیږی چه د حاکم په مخکی خپل مظلومیت بیان کړی یا ظالم ته ښیرے اُوکړی. د ابن عباس رضی الله عنهما نه همدا تفسیر منقول دے. علماؤ د ظلم ډیر صورتونه بیان کړیدی، په آیت کی هغه تمام صورتونه مراد دی.

ددے معنیٰ زیات وضاحت په هغه حدیث سره کیږی چه ابوداودؒ او حافظ ابوبکر بزارؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه یو سړے رسول الله ﷺ خوا ته راغلو او وے وئیل چه زما یو ګاونډی ما ته ضرر راکوی. نبی کریم ﷺ هغه ته اُووئیل چه ته خپل سامان راوباسه او په لاره کی کینه. نو هغه سړی دغه شان اُوکړل، کله چه به څوك په هغه ځای تیریدو نو ددهٔ نه به ئے تپوس کولو چه څه خبره ده؟ نو دهٔ به وئیل چه زما ګاونډی ما ته ضرر راکوی، نو هر سړی به وئیل چه اے الله! ته په دهٔ باندے لعنت اُوکړے، اے الله ته ئے اُوشرموے. آخر دا چه هغه سړے راغلو او وے وئیل چه کور ته لاړ شه قسم په الله نن نه روستو به زهٔ هیڅ کله تا ته ضرر نهٔ درکوم.

(مسند البزار ٨٣٤٤، والادب المفرد رقم: ١٢٤، واسناده صحیح)

مجاهدؒ وائی چه دا آیت د یو داسے سړی په باره کی نازل شوے وو چه د هغه خوا ته یو میلمه راغلو نو دهٔ د هغه خیال اُونکړو، پدے وجه هغه بل چا کره لاړو، او ددهٔ بد خصلت ئے خلقو ته بیان کړو، نو دهٔ دپاره دا کار جائز اُوګرځولے شو.

(رواه عبد الرزاق عن مجاهد- قاسمی و ابن کثیر)

په یو بل روایت کی زیات صراحت دے چه دا آیت د داسے سړی په باره کی دے چه د هغه خوا ته یو میلمه راشی او دا د هغه خیال ونهٔ ساتی، نو هغه ددهٔ ځای نه اُوځی او خلقو ته وائی چه فلانی سړی زما خیال ونهٔ ساتلو او زما سره ئے ښه سلوك اُونکړو. (قاسمیؒ)

او که هغه ګوزاره حال میلمستیا ورکړی او بیا دے غیبت کوی چه ما له ئے چرګان حلال نکړل نو دا خبرے بیانول د الله خوښ نهٔ دی.

سیدنا علی ﷺ نه ددې آیت په باره کې پوښتنه اُوشوه نو هغه اُووئیل چه د کفر کلمه یا
بله کومه بده خبره په ژبه باندې راوستل الله تعالیٰ نهٔ خوښوی، صرف د مظلوم او مجبور
دپاره جائز دی۔ او ددې مثال د اسلام په ابتداء کې د مکې هغه مسلمانان دی چه په هغوی
باندې به قریشو کافرانو د ظلم او زیاتی غر گوزارولو او دوی به ئې رسول الله ﷺ ته په
کنځلو او بد رد وئیلو مجبوره کول۔ نو عمار ﷺ داسې اُوکړل نو کافرانو پریخودو۔ او د هغه
ملګرې ئې په سولۍ باندې اُوخیژولو۔ عمار ﷺ او د هغه د ملګری په باره کې د سورة
النحل آیت (۱۰۶) نازل شوې وو چه په هغې کې د هغه د ایمان گواهی ورکړې شویده۔
معلومه شوه چه که یو شخص رشتینی ایمان والا وی او د خپل ځان بچ کولو دپاره په ژبه
سره د کفر کلمه ادا کوی نو هیڅ گناه نشته لکه څنګه چه عمار ﷺ دغسې کړی وو او قرآن
د هغه د ایمان گواهی ورکړه۔

مفسرین لیکی چه د﴿ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ﴾ په عموم کې مخکې ذکر شوی ټول صورتونه داخل
دی۔

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ : دا کلمه په اعتبار د معنیٰ سره آسانه ده لیکن مطلب ئې ژور دې چه هرکله
الله تعالیٰ د یو شی سره مینه نهٔ کوی نو هغه حرام وی او هغه مبغوض شې وی۔

اَلْجَهْرَ بِالسُّوْءِ : یعنی راښکاره کول د بدې خبرې۔او هرکله چه الله تعالیٰ ته بده خبره
راښکاره کول خوښ نهٔ دی، نو د هغې عمل ئې خامخا خوښ نهٔ دې، ځکه چه قول د عمل
نه آسان وی۔

الجهر : سوال دا دې چه د الله بده خبره راښکاره کول خوښ نهٔ دی آیا پټول ئې خوښ دی ؟
جواب دا دې چه پټه خبره کله غیر اختیاری وی نو په هغې باندې الله تعالیٰ بنده نهٔ
راګیروی، او دلته د راګیرولو خبره روانه ده (لایحب)۔ لکه یو تن لاړ شی او د کافرانو سره
ملګرې شی او د مؤمنانو او د اسلام پورې توقې شروع کړی، او کلمې د کفر ښکاره وائی نو
دا د الله خوښ نهٔ ده او که زړه کې یوه غلطه خبره غیر اختیاری راشی او ښکاره ئې نکړی نو
دا معاف ده۔

اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْءٍ فَاِنَّ
که ښکاره کوئ تاسو نیکئ لره یا پټوئ هغه یا معافی کوئ د بدئ نه نو یقیناً
اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿۱۴۹﴾

الله تعالیٰ معافي کونکے قدرت لرونکے دے۔

تفسیر : مخکي آیت کي بدله اخستل جائز وګرځولے شو چه مثلاً چا باندے زیاتے شوے وي هغه خپله فیصله حاکم ته پیش کړي لیکن پدے آیت کریمه کي ددے نه افضل او غوره خبرے ته دعوت ورکړے شویدے، چه که یو شخص تا سره بدي اُوکړي او ته هغه معاف کړے ځکه چه الله تعالیٰ معافي کونکے دے سره ددے نه چه الله تعالیٰ عفوے کولو ته محتاج نهٔ دے، بلکه په بدله اخستلو باندے قادر دے او هغه معافي کوي نو تا لره خو په طریق اولیٰ باندے معافي کول غوره دي، پدے وجه که ته هم د قدرت سره سره معافي کوے نو یقین اُوساته چه الله ښکاره او پټ ټول پیژني هغه به تا هیڅ کله نهٔ ضائع کوي او تا ته به د هغے ښه نه ښه بدله درکوي۔

امام احمدؒ او امام مسلمؒ د ابو هریره ؓ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((مال په صدقے کولو سره نهٔ کمیږي او څوك چه نور خلق معاف کوي الله به هغه ته عزت ورکوي او څوك چه الله دپاره تواضع (عاجزي) اختیاروي نو الله به هغه ته رفعت او اُوچتوالے ورکوي))۔

إِنْ تُبْدُوا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ : ددے ډیر صورتونه کیدے شي، یو دا چه تا باندے ظلم وشو نو تهٔ هغه ظلم پټ کړے او د ظالم سره په پټه یا ښکاره نیکي وکړے، ښه اخلاق ورسره استعمال کړے او د هغه په ظلم باندے صبر وکړے، یا د هغه دپاره د هدایت دعا وکړے۔ یا په حالت د اکراه کي یو انسان کلمه د توحید راښکاره کړي، یا ئے په پټه ووائي او په عزیمت باندے عمل وکړي نو اجرئے کیږي۔

أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ : **فائده** : امام رازيؒ وائي : د خیر کارونه سره د ډیر والي نه په دوه څیزونو کي راګیر دي یو د مالك حقیقي سره رشتینې چلیدل، او بل د مخلوق سره نیك اخلاق کول، بیا د مخلوق سره اخلاق کول په دوه قسمه دي یو هغوي ته نفع (فائده) رسَول او بل د هغوي نه ضرر دفع کول نو په (ان تبدوا خیرا او تخفوه) کي اشاره ده مخلوق ته فائدے رسولو ته او په (او تعفوا) کي اشاره ده د مخلوق نه ضرر دفع کولو ته نو پدے دوه کلمو کي د خیر ټول اقسام او د نیکۍ ټول اعمال داخل شو۔ (قاسميؒ)

سوال : په خیر کي خو عفوه هم شامله ده نو مستقل ذکر کولو کي ئے څه حکمت دے؟

جواب : ددے دپاره ئے پرے صراحت وکړو چه مظلوم ته ترغیب ورکړي چه عفوه کول

بهتر کار دے، یعنی په هر خیر باندے اجر ملاویږی، لیکن په عفوه باندے ډیر زیات اجر ورکوی۔ بله وجه دا ده چه موقع د عفو ده۔

أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ : یعنی که د خیر اظهار یا پټوالے نهٔ کوی بلکه صرف د ظالم د بدئ نه معافی وکړی او چُپ شی نو پدے هم اجر ملاویږی نو اوله اُوچته درجه ده چه ظالم سره احسان وکړی او صرف معافی کول دویمه درجه ده۔

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا
یقیناً هغه کسان چه کفر کوی په الله تعالیٰ او په رسولانو د هغه او اراده لری چه جدا والے وکړی
بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ
په مینځ د الله او د رسولانو د هغه کی او وائی چه مونږ ایمان لرو په بعضو باندے او کفر کوو
بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَنْ يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُولَئِكَ هُمُ
په بعضو او اراده لری چه ونیسی په مینځ ددے کی بله لاره۔ دا کسان هم دوی
الْكَافِرُونَ حَقًّا وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا ﴿١٥١﴾
کافران دی په رشتیا سره او تیار کړیدے مونږ کافرانو دپاره عذاب سپکونکے۔

تفسیر : مضمون : ددے ځای نه روستو په اهل کتابو باندے ردونه او د هغوی بد صفتونه ذکر کوی ځکه چه د منافقانو به ددے شادوګانو او خنزیرانو سره دوستانه وه نو الله د دوی حال هم په ډاګه کوی چه دوی خو دومره ګنده مخلوق دے او منافقان ورسره ځان عزتمند کوی۔

او بله دا چه د منافقانو او اهل کتابو د یو بل سره په صفاتو کی مشابهت دے۔ بله وجه مخکی بیانه شوه چه معاشره او خلافت اسلامیه دے دوه ډلو خرابوله او په سورۃ النساء کی ازالۃ رسوب الجاهلیۃ وو دوی هغه بیرته راتازه کول غوښتل۔

بیا جواب د یو سوال دے په (۱۵۳) کی بیا الزامی جواب دے په ذکر د پنځویشت قبیح صفاتو د هغوی سره او په هغے کی ئے بعض صفات دا ذکر کړیدی چه دوی باندے طیبات حرام شویدی د دوی د جرم او ظلم د وجه نه او بیا نیکانو اهل کتابو ته زیرے دے،

او بیا تحقیقی جواب دے په (۱۶۳) کی ورسره د رسولانو د رالیږلو حکمت ذکر کوی په

(۱٦٥) کې، بیا د قرآن کریم او د رسول الله ﷺ په صدق باندې د الله تعالیٰ او د ملائکو د شهادت ذکر دې په (۱٦٦) کې او په آخر د سورت کې تخویف اخروی دې۔

دلته د یهودیانو د حالاتو تذکره د ډیرو حکمتونو په بنیاد شویده یو دا چه د منافقانو په شان یهودیانو هم معاشره خرابه وله نو مؤمنانو ته دشمنان په ګوته کوی چه د دوی سره موالات او دوستی ونکړی۔ او دویم پدې کې د یهودیانو اصلاح غرض ده چه راشئ د فسادونو نه لاس واخلئ۔ دریم دا چه دلته یهودیانو اعتراض کړې وو نو الله ورله عیبونه بیانوی او دا خبرداری ورکوی چه د چا دا قسم بد صفات وی نو د دوی د اعتراض هیڅ حیثیت نهٔ پاتې کیږی نو دې دپاره چه د عوامو خلکو په زړونو کې د دوی لوی والې رانشي چه دا خو علماء او کتاب والا دی۔

إِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ : د ابن عباس رضی الله عنهما وینا ده چه دا آیت د کعب بن اشرف او د هغه د ملګرو په باره کې نازل شویدې۔

حافظ ابن کثیرؒ او شوکانیؒ وغیرهما وائی چه پدې آیت کې د کافرانو نه مراد یهود او نصاریٰ دی، چه په بعضِ انبیاؤ (علیهم السلام) ئې ایمان راوړو او بعضو نه ئې په غیر د دلیل او برهان نه انکار کولو۔

یهودیانو د عیسیٰ او محمد ﷺ نه انکار اُوکړو او نصاراؤ د خاتم النبیین محمد ﷺ نه انکار اُوکړو۔

وَرُسُلِهِ : پدې سره مقصد دا بیانول دی چه چا په بعض انبیاؤ کفر وکړو نو ګویا که هغه په تمامو انبیاؤ کفر وکړو پدې وجه د رسل لفظ ئې جمع راوړه ، ځکه چه د الله په تمامو انبیاؤ باندې ایمان راوړل ضروری دی، ځوك چه د حسد، عصبیت یا د خپل نفس د خواهش په وجه د یو نبی نه هم انکار کوی نو هغه دا ښکاره کړه چه په کومو انبیاؤ باندې دۀ ایمان ښکاره کړې وو نو دا د الله دپاره نهٔ وو بلکه د عصبیت او د نفس د خواهش او د کوم دنیاوی غرض په خاطر وو۔ الله تعالیٰ داسې خلق پدې آیتِ کریمه کې درې ځله د کفر په صفت سره یاد کړیدی۔

وَيُرِيْدُوْنَ أَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللهِ وَرُسُلِهِ : اَیْ فِی الْإِیْمَانِ۔ یعنی ځوك چه دا وائی چه مونږ په الله ایمان راوړیدې او د هغه په ټولو رسولانو ایمان نهٔ راوړی نو دا په حقیقت کې په الله باندې ایمان لرونکې نهٔ دې۔

یا دلته مضاف (اَمر) لفظ پټ دې۔ یعنی د الله او د هغه د رسولانو د امر ترمینځ فرق کوی

چه په یو د ایمان دعوه لري او بل باندے کفر کوي۔ او پدے کی دا هم داخلیږي چه څوك ووائی چه زهٔ د الله په کتاب ایمان لرم لیکن د رسول الله ﷺ احادیث نهٔ منم، نو دهٔ هم د الله او د هغه د رسولانو ترمینځ فرق راوستلو په ایمان کی۔ نو په منکرین حدیث کی هم د یهودو مرض راغلے دے۔

او ددے تفریق نه د ذواتو تفریق نهٔ دے مراد بلکه دا یقینی خبره ده چه الله خالق دے او رسولان د هغه مخلوق دے۔ نو دا جدا والے په ایمان کی دے لکه روستو (وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ) ئے تفسیر دے۔

وَيُرِيدُونَ أَنْ يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيلًا : یعنی دا دریم دین جوړول دی چه بنده صرف الله منی او د هغه رسولان نهٔ منی۔ نو ددے نه معلومه شوه چه د الله په نیز د اسلام او د کفر لارے پوره ښکاره دی چه (۱) اسلام : الله واحد او لاشریك ګنړل او په ټولو پیغمبرانو باندے ایمان راوړل دی۔ (۲) او کفر د الله سره په یوه وجه شریك جوړول، یا د پیغمبرانو نهٔ منل برابره خبره ده چه ځینی ومنی او یا ئے ونهٔ منی۔ نو ددے دواړو لارو ترمینځ دریمه لاره نشته مګر لکه څنګه چه منافقانو د خپلو ځانو نو دپاره دریمه لاره جوړه کړیده او مذبذبه لاره ئے نیولے ده، نو دغه شان اهل کتاب هم غواړي چه د مسلمانانو دپاره یوه دریمه لاره جوړه کړي چه د الله پیغمبران په خپله خوښه او د خپل انتخاب مطابق ومنی او کوم نبی ئے چه نهٔ وی خوښ په هغه ایمان رانهٔ وړي۔ د دوی په نیز دا کار عزت او وقار دے لیکن داسے نهٔ ده بلکه دا کار د دوی سپکاوے دے، الله تعالیٰ به ئے زر سپکونکی عذاب ته حواله کړي ځکه چه دوی د الله دشمنئ ته بډے وهلی دی او نوے دین جوړوي۔

او دا حکم د هغه چا هم دے چه د الله په احکامو کی هم دا کار کوي ځکه یو منکر د دین اسلام وي، او مرتد عن الاسلام وي او بل د احکام شرعیه ؤ وي نو دے د اسلام سره مینه هم لري او ډیر کرته اقرار د کلمے د توحید هم کوي، لیکن د الله په احکامو باندے عمل نهٔ کوي هغه ئے شا ته ګوزار کړي وي او د الله په بعض احکامو باندے اعتراضونه هم کوي لکه حدود نهٔ منی، او باقی د خپلو فائدو مطابق احکام منی نو دا هم د تفریق یو صورت دے۔

هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا : دلته حق په معنیٰ د ثابت او محقق سره دے او مطلب دا دے چه سو چه کفر او نیمائی کفر د الله په نیز یو برابر دی، نو اهل کتابو ته په ځینو پیغمبرانو باندے ایمان ساتل هیڅ فائده نهٔ رسوی بلکه دوی د الله په نیز یقینی کافر دی۔

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللهِ وَرُسُلِهِ وَلَمْ يُفَرِّقُوا
او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے په الله او په رسولانو د هغه او جدائی ئے نۀ ده راوستے
بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ أُولَـٰئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ
په مینځ د یو تن کی د دوی نه همدا کسان زر دے چه ورېه کړی دوی ته الله تعالیٰ
أُجُورَهُمْ وَكَانَ اللهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾
اجرونه د دوی او دے الله بخونکے رحم کونکے۔

تفسیر: قاسمیؒ لیکی: پدے آیت کی د نبی کریم ﷺ د امت صفت بیان شویدے چه دا خلق د الله تعالیٰ په هر نازل کړی کتاب او په هر مرسل نبی باندے ایمان لری۔ پدے وجه الله د دوی سره وعده کړیده چه دوی ته به د دوی پوره پوره بدله ورکوی او که د دوی نه کوم تقصیر شوےوی نو هغه به ورته معاف کوی او په خپل رحمت سره به د دوی نیکیانو کی زیادت کوی۔ دا آیت هم په هغه آیتونو کی داخل دے چه ددے امت دپاره د دنیا وما فیها نه غوره دے۔

يَسْأَلُكَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَابًا مِنَ السَّمَآءِ
تپوس کوی ستا نه اهل کتاب چه (په یو ځای) نازل کړے په دوی باندے کتاب د آسمان د طرف نه
فَقَدْ سَأَلُوا مُوسَىٰ أَكْبَرَ مِنْ ذَٰلِكَ فَقَالُوا
پس یقیناً غوښتے وو دوی د موسیٰ علیه السلام نه لوی شے ددے نه نو دوی وئیلی وو
أَرِنَا اللهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ثُمَّ اتَّخَذُوا
وښایه مونږ ته الله تعالیٰ ښکاره نو ونیول دوی لره تندر په سبب د ظلم د دوی بیا ونیو دوی
الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ
سخی لره (په اُلوهیت سره) روستو د هغے نه چه راغلی وو دوی ته ښکاره دلیلونه
فَعَفَوْنَا عَنْ ذَٰلِكَ وَآتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَانًا مُبِينًا ﴿١٥٣﴾
نو معافی وکړه مونږ ددے نه او ورکړے وو مونږ موسیٰ علیه السلام ته دلیل ښکاره۔

تفسیر: پدے کی د اهل کتابو اعتراض رانقل کوی او بیا د هغے الزامی جواب کوی او نور قبائح ئے بیانوی۔

اهل کتابو به د عوام الناس او د منافقانو او خپلو ملګرو په ذهن کی دا شك پیدا کولو چه ګوره موسیٰ علیه السلام ته الله تعالیٰ په یو ځل کتاب ورکړے وو، او دا سړے عربی دے او لړے لړے خبرے راوړی، کله یو آیت او کله دوه آیتونه، نو کیدے شی چه دا د ځان نه جوړوی، که دا حق رسول وی نو کتاب دِے په یو ځل راوړی؟

نو دا د دوی تعنت او ضد وو (چه کله سړی ته حق ښکاره شی او بیا هم بی ځایه اعتراضونه کوی چه دا وښایه او دا وښایه لکه باطل پرست مناظرین دا کار کوی چه کله ملامته شی بیا وائی قولی حدیث پکی راته وښایه او کله وائی امر پکی وښایه او کله وائی صراحةً وښایه، مطلب ئے دلیل نهٔ وی خو صرف د خپل مقابل حق پرست غلے کول وی، ستا نه مقصد پاتے کوی دا د اهل کتابو طریقه ده او باطل پرستو مبتدعینو خپله کړیده) د اهل کتابو مقصد دا وو چه د رسول الله ﷺ نه به پدے طریقه خلك واوړی او هغه به یواځے پاتی شی او د دوی کفر به په ځای پاتے شی۔

د محمد بن کعب قُرَظِیؒ، سدیؒ او قتادهؒ وینا ده چه یهودیانو د رسول الله ﷺ نه مطالبه اُوکړه چه لکه څنګه په موسیٰ (عليه السلام) باندے تورات لیکلے نازل شوے وو، دغه شان د آسمان نه زمونږ دپاره یو کتاب نازلیدل پکار دی دے دپاره چه مونږ په تا ایمان راوړو۔ دا خبره دوی د ضد او د کفر د وجه نه کړے وه، ورنه په رسول الله ﷺ باندے د ایمان راوړو دپاره په تورات کی د بیان شوی دلائلو او براهینو نه روستو د هیڅ دلیل ضرورت نهٔ وو۔

كِتَابًا مِنَ السَّمَاءِ: د کتاب نه مراد دلته په یو ځل کتاب راتلل دی۔ لکه دا اعتراض امیانو مشرکانو هم کړے وو لکه په سورة فرقان (۳۲) آیت کی ذکر دے۔ نو دلته تنزیل (لږ لږ نازلول) په معنیٰ د انزال (یو ځل نازلولو) سره دے۔ او هرکله چه د دوی دا سوال عنادی وو نو پدے وجه اول جواب الزامی ورکړے شو په ذکر د قبائحو د دوی سره۔

کتاب: دلته په معنیٰ د خط سره هم دے چه د آسمان نه راشی او په هغے کی ئے اهل کتابو ته لیکلی وی چه اے اهل کتابو! دا زما نبی دے او په دهٔ باندے ایمان راوړئ (الطبریؒ) او دا سوال بعینهٖ مشرکانو هم کړے وو لکه په سورة بنی اسرائیل (۹۰) آیت کی راغلے دے ﴿وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَّقْرَؤُهٗ﴾

او سورة المدثر آیت (۵۲) کی دی: ﴿بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً﴾ بلکه هر

یو د دوی نه اراده لري چه ورته ورکړے شی کتابچے خورے ورے)۔
نو کیدے شی چه اهل کتابو دا مختلف سوالونه کړی وی۔
فَقَدْ سَأَلُوْا مُوْسٰی : پدے کی الزامی جواب بیانوی او تفصیلی جواب په (۱٦٣) کی ورکوی چه دا خو د الله عادت دے چه کله یو شان وحی نازلوی او کله بل شان، ډیرو پیغمبرانو ته الله لږه لږه وحی رالیږله نو ولے ګنے دوی به په باطله وو نو د الله دوه عادته دی چه کله د حکمت په بناء په یو ځل کتاب ورکوی، او کله لږه لږه وحی رالیږی۔ نو دا خو د اعتراض هیڅ خبره نۀ ده۔
او د الزامی جواب حاصل دا وی چه ته دا اعتراض ولے کوے، تا کی خپله څومره عیبونه دی هغے ته نۀ ګورے، تا خو خپل په یو ځل نازل شوے کتاب هم نۀ دے منلے، نو که مونږ دغه کتاب راوړو هم تۀ ئے نۀ منے، نو ستا دلیل مطلب نۀ دے بلکه ورانے ډِے غرض دے۔
فَقَدْ : کی فاء سببیه ده، او دلته مخکی عبارت پټ دے (پرواه مکوه او د دوی دا مطالبه لویه مۀ ګنړه او مۀ حیرانیږه)
أَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ : یعنی په یو ځل کتاب غوښتل او نازلول وړه خبره ده دوی ددے نه ډیر لوی فساد کړے وو، چه د لوی الله د لیدو مطالبه ئے کړے وه په طریقه د تعنت او ضد سره نۀ په طریقه د هدایت سره۔ او دا سوال د دوی مشرانو کړے وو لیکن دوی پرے راضی وو نو ځکه دوی ته نسبت وشو۔
فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ : دوی خو د موسیٰ علیه السلام نه ددے نه هم لوئی سوال کړے، دوی وئیلی وو چه مونږ ته الله پدے ظاهری سترګو راوښایه، نو آسمان نه په دوی باندے تندر راپریوتو چه د دوی د عناد او د استکبار په وجه هغه دوی لره راونیول او ټول په ټوله هلاك شو۔ دوی چه کله هم یوه نښه لیدلے ده نو د خپلے زمانے نبی نه ئے د هغے نه د لوئی نښے مطالبه کړیده، او تر هغه وخته پورے غلی نۀ دی ناست تردے چه کومه داسے نښه ئے نۀ وی لیدلی چه دوی په ایمان راوړو باندے مجبوره کړی، او چه د هغے نه روستو د ایمان راوړو هیڅ فائده نۀ پاتے کیږی۔ دے خلقو کله هم د زړۀ نه ایمان نۀ دے راوړے، همیشه ئے کفر په خپل زړونو کی کینولے دے۔ نو کله چه الله د دوی په حال باندے رحم وکړو او دویم ځلی ئے راژوندی کړل نو د خپل فطرت ذکوړوالی او په زړۀ کی د پټه ساتلے شوی کفر په وجه ئے سخے معبود ونیولو او عبادت ئے ورله شروع کړو چه د هغے تفصیل په سورة الاعراف او سورة طه وغیره کی موجود دے۔ او کله چه موسیٰ علیه السلام د طور غر نه واپس راغلو او دویم

خلقی ئے دوی ته د توحید دعوت ورکړو او په شرك باندے ئے دوی اُورټل نو بیا دوی توبه وویستله او الله دوی بیا معاف کړل۔ (تیسیر الرحمن)

سُلْطَانًا مُبِيْنًا : (دلیل ښکاره) دا ورسره ځکه وائی چه څوك به دا سوال وکړی چه دوی ځکه شرك کړے وو چه موسیٰ علیه السلام به ورته معجزے او دلیلونه نهٔ وو پیش کړی نو الله فرمائی چه دوی ښکاره معجزے ولیدلے لیکن هغه ئے پټ کړل او شرك کی اخته شو نو که د رسول الله ﷺ معجزے په دوی باندے پټے پاتے شی نو دا د دوی د حال نه ورانده نهٔ ده۔

سلطان مبین : تورات ته هم وائی، او دارنګه هغه رعب او هیبت دے چه الله تعالیٰ په موسیٰ علیه السلام کی اچولے وو چه په فرعون باندے به ددهٔ رعب پروت وو، هغه ئے نشو قتل کولے۔ او دغه شان بنی اسرائیلو به ئے خبره منله۔ او ځینی وائی چه ددے نه مراد الٰهی شریعت دے چه هغه موسیٰ علیه السلام ته ورکړے شوے وو، او د خلکو په زړونو به ئے اثر کولو (فی ظلال القرآن ۲/۸۰۰)۔ لیکن په بنی اسرائیلو ئے هیڅ اثر ونکړو یا ئے څه وخته پورے اثر وو، همیشه نهٔ وو۔ دا ټول مصداقات صحیح دی۔

وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ
او پورته کړے وو مونږ دپاسه د دوی نه طور غر دپاره د قبلولو د وعدے د دوی
وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ
او وئیلی وو مونږ دوی ته داخل شئ دروازے ته سجده کونکی او وئیلی وو مونږ دوی ته
لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۱۵۴﴾
زیاتے مهٔ کوئ په ورځ د خالی کی او اخستے وه مونږ د دوی نه وعده مضبوطه۔

تفسیر : پدے کی هم اشاره ده چه دوی ته تورات راوړے شو نو دوی تردے په هغه وخت کی انکار وکړو چه ددے احکام ګران دی مونږه ئے منلو ته تیار نهٔ یو،

بیا پرے الله تعالیٰ طور (غر) راپورته کړو نو په زوره ئے پرے وومنلو، نو دا خو هغه خلك دی چه د غر په زور سره پرے کتاب منلے شویدے نو دوی څنګه دعوه کوی چه په یو ځل کتاب راوړه مونږه ئے منو۔

بِمِيْثَاقِهِمْ : أَيْ لِأَخْذِ مِيْثَاقِهِمْ۔ دپاره د اخستلو د وعدے د دوی نه۔

وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ : دوی ته الله تعالیٰ دا حکم کړے وو چه بیت المقدس ته د

سجدے کولو (سر ټیټولو) او د ((حِطَّةٌ)) وئیلو په حالت کی داخل شئ (یعنی اے الله! مونږ چه د جهاد په پریخودو او ستا د حکم نه سر اړولو سره کوم ګناهونه کړیدی نو هغه معاف کړه) نو دوی د دواړو خبرو مخالفت اُوکړو، نهٔ د سجدے په حالت کی داخل شو او نهٔ ئے ((حِطَّةٌ)) وویل، بلکه په کوناټو تولیدو سره داخل شو او ((حِنطَةٌ)) ئے ووئیل یعنی غنم دانے پکار دی۔

وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا : دغه شان الله تعالیٰ دوی د خالی ورځے د مهیانو د ښکار نه منع کړی وو او پدے باندے د پابند اُوسیدو دپاره ئے د دوی نه سخت لوظ اخستے وو، لیکن دوی د هغه حکم هم مخالفت اُوکړو او حیلے کولو سره ئے د خالی په ورځ مهیانو ته بندونه اُوتړل او د اتوار په ورځ ئے د هغوی ښکار اُوکړو۔ ددے تفصیل به هم په سورة الاعراف آیت (۱۶۳) کی راځی، ان شاء الله تعالیٰ۔

مِيْثَاقًا غَلِيْظًا : یعنی دا مسئله او حکم استحبابی نهٔ وو بلکه ډیر مؤکد او مضبوط وو لیکن دوی د هغے مخالفت وکړو۔

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بَآيَاتِ اللهِ وَ
پس په سبب د ماتولو د دوی وعدے خپلے لره او کفر د دوی په آیتونو د الله تعالیٰ او
قَتْلِهِمُ الْأَنْبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ
وژل د دوی پیغمبرانو لره په ناحقه او په سبب د وینا د دوی چه زړونه زمونږ ډك دی د علم نه
بَلْ طَبَعَ اللهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵۵﴾
بلکه مهر وهلے دے الله تعالیٰ په هغے باندے په سبب د کفر د دوی نو ایمان نهٔ راوړی مګر لږ۔

تفسیر: پدے کی نور قبائح د دوی بیانوی۔

فَبِمَا نَقْضِهِمْ : دا متعلق دے د (عَذَّبْنَاهُمْ) پورے۔ یعنی مونږ عذاب ورکړو دوی ته په سبب د ماتولو د دوی دغه لوظونو لره۔ ۲- یا متعلق دے د (فَعَلْنَا بِهِمْ مَا فَعَلْنَا) پورے، یعنی وکړل مونږ په دوی باندے هغه کارونه کوم چه مونږ وکړل دا په سبب د ماتولو د دوی لوظونو لره چه چا نه مے شادوګان او چا نه مے خنزیران جوړ کړل او دنیا کی مے سزاګانے ورکړے۔ ۳- یا د (لَعَنَّا) مقدر پورے۔ لکه په سورة المائده آیت (۱۳) کی ئے ددے صراحت کړیدے ﴿فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيْثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قَاسِيَةً﴾ په سبب د ماتولو د دوی

لوظونو لره مونږ لعنت وكړو په دوی باندے۔

٤- ځینې دا د روستو (حَرَّمۡنَا عَلَیۡهِمۡ) پورے متعلق کوی لیکن هغه بعید دے۔

قُلُوۡبُنَا غُلۡفٌ : ددے دوه تفسیرونه په سورة البقره آیت (۸۸) کی ذکر شویدی چه زمونږ زړونـه پـه پـردو کی دی ستا په خبره نهٔ پو هیږو، یا زمونږ زړونه د هر علم لوښی دی، زړونه مو د علم نه ډك دی۔

بَلۡ طَبَعَ اللّٰهُ : دا رد دے په دے وینا د دوی (قُلُوۡبُنَا غُلۡفٌ) یـعـنـی د دوی زړونه د علم نه ډك نهٔ دی بلکه الله تعالیٰ په هغے باندے مهر وهلے دے پدے وجه چه دوی کفر کړیدے۔

فَلَا یُؤۡمِنُوۡنَ إِلَّا قَلِیۡلًا : یـعـنـی بـعـض خبرے منی او اکثرے نهٔ منی او څوك چه د اسلام بعض خبرے منی او اکثرے نهٔ منی هغه کافر دے نو بیا ئے پرے د کفر فتویٰ ورکړه۔

٢- یا په دوی کی ډیر کم خلك ایمان راوړی او اکثرئے ضدیان دی۔

وَبِكُفۡرِهِمۡ وَقَوۡلِهِمۡ عَلٰی مَرۡیَمَ بُهۡتَانًا
او په سبب د کفر د دوی او په وئیلو د دوی په مریم علیها السلام باندے بهتان (بدنامه)
عَظِیۡمًا ﴿۱۵٦﴾ وَقَوۡلِهِمۡ إِنَّا قَتَلۡنَا الۡمَسِیۡحَ عِیۡسَی ابۡنَ مَرۡیَمَ
لوئی۔ او په سبب د وئیلو د دوی چه یقیناً وژلے دے مونږ مسیح عیسی (عليه السلام) ځوی د مریم
رَسُوۡلَ اللّٰهِ وَمَا قَتَلُوۡهُ وَمَا صَلَبُوۡهُ وَلٰـكِنۡ شُبِّهَ
رسول د الله تعالیٰ او نهٔ دے وژلے دوی هغه او نهٔ ئے په سولیٔ کړے دے لیکن مشابه کړے شوے وو
لَهُمۡ وَإِنَّ الَّذِیۡنَ اخۡتَلَفُوۡا فِیۡهِ لَفِیۡ شَكٍّ مِّنۡهُ
دوی ته او یقیناً هغه کسان چه اختلاف ئے کړے دے په هغه کی خامخا په شك کی دی ددهٔ نه
مَا لَهُمۡ بِهٖ مِنۡ عِلۡمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوۡهُ
نشته دوی له په هغے باندے څه علم مگر تابعداری کوی د گمان او نهٔ دے قتل کړے دوی هغه
یَقِیۡنًا ﴿۱۵۷﴾ بَلۡ رَّفَعَهُ اللّٰهُ إِلَیۡهِ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِیۡزًا حَكِیۡمًا ﴿۱۵۸﴾
په یقین سره ۔ بلکه پورته کړے دے هغه لره الله تعالیٰ خپل ځان ته او دے الله غالبه حکمتونو والا۔

تفسیر : پدے کی دوه قبائح نور ذکر کوی چه هغه د مهر وهلو او د لعنت اسباب هم دی

او دلته د مخکې سره درې ځل کفر ذکر شو یا خو تاکید ته اشاره ده. یا پدې کې دا خبردارے ورکوی چه د دوی نه بار بار کفر شویدے اول ئے په موسیٰ علیه السلام کفر وکړو بیا ئے په عیسیٰ علیه السلام او بیا ئے په محمد ﷺ باندے (ابوالسعودؒ- قاسمیؒ)

وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ : دا ئے بل عیب دے چه دوی په پاکه زنانه (مریم علیها السلام) چه دوی ته ئے د پاکئ نښې او کرامتونه ښکاره شوی وو بیا هم بدنامه لګوله، د زنا تهمت ئے پرے تړلو او عیسیٰ علیه السلام ته ئے ولدِ زنا وئیلو، او هغه بهتان په سورة مریم (۲۷) کې ذکر دے.

وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ : دوی دا دعویٰ اُوکړه چه مونږ عیسیٰ ابن مریم علیه السلام قتل کړے وو او په حقیقت کې ئے نهٔ دے قتل کړے، پدے وجه ئے دلته (وَقَوْلِهِمْ) لفظ راوړو او (وَقَتْلِهِمْ) ئے ونهٔ وئیلو. نو پدے کې د دوی دوه جرمونه ذکر شو یو دا چه د دوی خبره دروغژنه ده چه وژلے ئے نهٔ دے او دا دعوه کوی چه مونږ وژلے دے. او دویم دا چه د نبی د وژلو اراده ئے کړے وه او څوك چه د نبی د وژلو اراده وکړی هغه ډیر لوی مجرم وی.

رسول الله : دا یا د دوی کلام کې داخل دے یعنی دوی د استهزاء او مسخرو په طریقه ووېل چه ګوره (مونږ د الله رسول قتل کړو یعنی هغه شخص چه خلك ورته یا مسلمانان ورته د الله رسول وائی). مګر ظاهر دا دے چه دا د الله کلام دے، او د دوی د زیات د قباحت دپاره ئے ذکر کړو چه ګوره دوی د هغه مسیح د وژلو دعوه کوی چه هغه د الله رسول دے، نو آیا د الله رسول څوك وژنی؟! دا هغه لوی مجرمان دی. او دا ځکه قول د الله کې داخل دے چه یهودو به د عیسیٰ علیه السلام په باره کې بده ژبه استعمالوله او فاعل ابن الفاعلة به ئے ورته وئیلو. (العیاذ بالله) نو دوی ورله ادبی کلمات نهٔ استعمالول.

وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ : الله تعالیٰ د دوی په غلطه دعوه باندے رد کوی چه دوی عیسیٰ علیه السلام نهٔ قتل کړے او نهٔ ئے پهانسی کړیدے، لکه د قتل دغه دواړه طریقے دی.

وَلٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ : اَیْ شُبِّهَ عِیْسٰی بِرَجُلٍ آخَرَ لَهُمْ.

یعنی مشابه کړے شو عیسیٰ علیه السلام د بل سړی سره د دوی دپاره. نو دوی بل سړے قتل کړو او عیسیٰ علیه السلام ترے الله تعالیٰ بچ کړو. نو (شبه) کې ضمیر عیسیٰ علیه السلام ته راجع دے او تشبیه مشبه به غواړی نو هغه حذف دے (اَیْ بِرَجُلٍ آخَرَ).

۲- یا لٰكِنْ شُبِّهَ الْمَقْتُوْلُ عَلَيْهِمْ ـ لیکن مقتول په دوی باندے ګډوډ شو چه مونږ څوك قتل کړو؟. ۳- دا ترکیب هم جائز دے : وَلٰكِنْ قَتَلُوْا مَنْ شُبِّهَ لَهُمْ بِعِیْسٰی.

لیکن دوی قتل کړے هغه څوك چه دوی دپاره مشابه کړے شوے وو د عیسیٰ علیه السلام سره۔ او په هغه باندے د عیسیٰ علیه السلام شکل او شباهت اچولے شوے وو۔ (قاسمیؒ)

٤- یا شُبِّه د اشتباه نه اخستلے شویدے او (لَهُمْ) په معنیٰ د (عَلَیْهِمْ) دے۔

نو معنیٰ دا ده چه لیکن اشتباه (او شبهه) اچولے شویده په دوی باندے په باره د پهانسی کولو د عیسیٰ علیه السلام کی۔ چه که مونږ عیسیٰ علیه السلام وژلے وی نو بیا زمونږ ملګرے (یا د عیسیٰ علیه السلام ملګرے د حوارییونه) څه شو او که زمونږ ملګرے (یا د عیسیٰ علیه السلام ملګرے) مونږ وژلے وی نو بیا عیسیٰ (علیه السلام) څه شو؟ (بنا په دوه تفسیرونو)۔

او دا اشتباه الله تعالیٰ په دوی باندے ځکه راوستله چه دوی د الله د حکمونو رعایت نهٔ کوی نو الله ئے پریشانه کوی او د عامو انسانانو سره الله تعالیٰ دا کار کوی لکه چه شیعه ګان او اهل بدع په خپلو عقائدو کی ډیر پریشانه وی۔

د اشتباه کیفیت او د وژلی شوی شخص تذکره

په یهودو باندے څنګه اشتباه راغله؟ ددے په باره کی مفسرینو ډیر روایتونه ذکر کړیدی:

(١) کله چه الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته په معجزانه طریقے سره نجات ورکړو نو ددے دپاره چه د یهودیانو مشران په خپله ناکامئ باندے پرده واچوی، یو سړے ئے وواژه او په دارئے کړو او د هغه خواته ئے نزدے څوك نهٔ پریخودل نو هرکله چه د هغه شکل بدل شو نو دوی په عوامو کی ډنډوره وکړه چه مونږ عیسیٰ علیه السلام په دار کړیدے۔ نو په عوامو ئے اشتباه واچوله۔ (روح المعانی٦/ ١٠) وغیره)

(٢) الله تعالیٰ د یو بل سړی شکل د عیسیٰ علیه السلام په شکل وګرځولو چه قاتلینو ته عیسیٰ علیه السلام ښکاره شو او وے وژلو خو حقیقت کی داسے نهٔ وه۔

(٣) ځینی وائی چه ذکر شوے مقتول د یهودیانو د پولیسو مشر وو چه طیطایوس نوم ئے وو، هغه د عیسیٰ علیه السلام د نیولو دپاره د هغه پناه ګاه ته داخل شو خو چه بهر راووتو نورو پولیسو پرے اشتباه وکړه او مړئے کړو۔ (زاد المسیر٢/ ٢١٧)

(٤) ابن جریر وغیره د وهبؒ نه نقل کړیدی چه عیسیٰ علیه السلام د خپلو اوه ویشت (٢٧) حوارییونو سره په یوه کوټه کی داخل شو نو یهودیانو د هغے کوټے نه ګیره واچوله، نو پدے کی عیسیٰ علیه السلام خپلو ملګرو ته وویل چه څوك جنت غواړی چه زما شکل په هغه باندے واچول شی او هغه قتل شی؟ نو یو تن وویل: زهٔ جنت غواړم نو الله تعالیٰ د هغه شکل د

عیسیٰ ﷺ پـه شان جوړ کړو، او عیسیٰ ﷺ تـرے الله تـعالیٰ د چهت پـه سوری بره آسمان تـه وخیـژولـو، او یـهـودیـانـو هغه شخص چه د عیسیٰ ﷺ پـه شـکـل جوړ شوے وو پـه دار (پهانسی) باندے وخیژولو۔ دا روایت د دریمے معنیٰ د شبه مطابق دے۔

(ابن جریر الطبری والمحرر الوجیز ٣٠٣/٤) والقاسمی ٥٥٤/٢)

خلاصه : د عیسیٰ ﷺ د قتـل او پهـانسیٔ بـانـدے د خیژولـو پـه بـاره کی چه کوم تفصیلات د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کیږی، د قرآن او سنت نه د هغے ثبوت نهٔ مـلاویـږی۔ د هغے پـه باره کی مرفوع حدیث د رسول الله ﷺ نه نهٔ دے موجود، او ظاهر دا ده چه هغوی به هم د اهل کتابونه دا خبرے اخستی وی۔

حـافـظ ابـن کـثیرؒ هم د تفسیر په کتابونو کی موجود هغه واقعات خلاصه کولو سره پـه خپـل تـفسیـر کی بیان کړیدی چه په هغے کی تناقض موجود دے، ځکه چه د هغه روایاتو مطابق چه کله د عیسیٰ ﷺ مـنـونکی د هغه د گرفتارولو پـه وخت د هغه نه واوریدل چه څـوك دے چـه زمـا شبیـه (مشابه) جوړیدل خوښ کړی او هغه به په جنت کی زما ملگرے وی؟، د هغوی نه یو تن دغه مرتبه قبوله هم کړه نو بیا څنگه د یهودیانو په شان هغوی هم دا گمان کوی چه عیسیٰ ﷺ ته پهانسی ورکړے شویده ؟!۔

صـحیح خبـره خو دا ده چه الله تعالیٰ د عیسیٰ ﷺ پـه باره کی په قرآن کریم کی کوم خبر ورکـړیـدے، صـرف پـدے بـانـدے (پـه تـفـصیـل کـی ننوتو نه بغیر) ایمان لرل پکار دی۔ دا معلومول ضروری نهٔ دی چه الله یهودیانٔ څنگه په شبهه کی واچول او د عیسیٰ ﷺ شبیه څنگه جوړ شو ؟۔ (القاسمی ٥٥٦/٢ وتیسیر الرحمن)

لیـکن څوك چه د کتاب او سنت صحیح اتباع نکوی هغوی په شبهاتو کی پرے وځی او دے کی ورتـه مشکلات پیدا کیږی او تعارض ورته پکی ښکاره کیږی۔

وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا : یـعنی کـومو خلکو (یعنی یهودیانو) چه د عیسیٰ ﷺ د مرگ پـه بـاره کـی اخـتـلاف کـړیـدے نـو هغوی پـه شك کی اخته شویدی، د دوی سره پـدے باره کی هیـڅ صـحیـح عـلـم نشتـه، او دا هم لوی عذاب دے چه یو کارئے وکړو او بیا پکی پریشانه شو، او زړونه ئے یخ نشو چه مونږ عیسیٰ (ﷺ) ووژلو۔

لَهُم بِهِ : اَیْ بِمَوْتِهٖ۔ یعنی په وژلو د عیسیٰ ﷺ باندے۔

مِنْ عِلْمٍ : یعنی څه دلیل۔

إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ : دا استثناء منقطع ده۔ اَیْ لٰكِنْ يَتَّبِعُوْنَ اتِّبَاعَ الظَّنِّ۔

لیکن دوی تابعداری د گمان کوی۔ ځکه چه ظن غیر دے د علم نه۔ یا استثناء متصل ده او ظن دوی ته علم ښکاره کیږی نو معنیٰ دا ده چه دوی سره پدے باندے یقینی علم او دلیل نشته مگر تابعداری د گمان ورسره شته چه هغه د دوی په نیز علم دے۔

وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا : أَىْ قَتْلًا يَقِيْنًا ۔ یعنی دوی عیسیٰ علیه السلام نهٔ دے وژلے په وژلو یقینی سره۔ یا یقیناً د (قَتَلُوْا) د ضمیر نه حال دے أَىْ مُتَيَقِّنِيْنَ بِأَنَّهٗ عِيْسٰى ۔ چه یقین کونکی وی چه دغه وژلے شوے عیسیٰ علیه السلام دے۔

ددے آیت نه معلومه شوه چه څوك دا عقیده ساتی چه عیسیٰ علیه السلام وژلے شویدے نو دا ددے یقینی خبرو د الله نه انکار کوی چه په قرآن کی دیارلس آیتونه دی، او د نوی (۹۰) نه زیات احادیث او اجماع د مسلمانانو ده چه عیسیٰ علیه السلام ژوندے دے او د قیامت نه مخکی به د آسمان نه راکوزیږی، لهذا دوی پدے عقیده سره کافر شو۔

بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ إِلَيْهِ : دا صریح دے چه عیسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ خپل ځان ته پورته کړیدے۔ نو دا دلیل دے چه الله تعالیٰ د آسمانونو د بره په عرش باندے مُسْتَوِى دے۔

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا : ځینی مفسرین دا دوه صفتونه د دوه سوالونو جواب گرځوی (۱) چه د زمکے او د آسمان په مینځ کی خلا ده او اکسیجن نشته او ظاهری د ختل نور اسباب هم نهٔ وو نو څرنگه ئے بره وخیژولو ؟ جواب وشو چه الله عزیز دے پدے کار غالب، قادر او زورور دے۔ حکیمًا سره دا سوال هم دفع شو چه زمونږ پیغمبر (رسول الله صلی الله علیه وسلم) ئے ولے په داسے طریقے سره پورته ونهٔ خیژولو؟ نو الله فرمائی زهٔ حکیم یم، زما په هر کار کی حکمت وی۔ (احسن الکلام)

وَإِنْ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ
او نشته څوك د اهل کتابو نه مگر خامخا ایمان به راوړی په هغه باندے مخکی
مَوْتِهٖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ﴿۱۵۹﴾
د مرگ د هغه نه او په ورځ د قیامت به وی هغه په دوی باندے گواهی ورکونکے۔

تفسیر : پدے کی د عیسیٰ علیه السلام د ژوند تذکره بیا شویده او یو قسم رد دے په اهل کتابو چه تاسو خو د هغه نه انکار کوئ او د هغه بی ادبی کوئ، لیکن هغه به په تاسو باندے په قیامت کی گواهی درکوی، او اُوس خو په هغه ایمان نهٔ راوړئ لیکن په وخت د مرگ کی

به ئے مجبوراً راوړئ۔
او ددے آیت په معنیٰ کی د علماء التفسیر دوه اقوال دی :
یو قول دا دے چه استثناء مفرغه ده (أَیْ وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أَحَدٌ) او (لَيُؤْمِنَنَّ) کی ضمیر دغه کتابی ته راجع دے او (بِهِ) ضمیر عیسیٰ علیه السلام ته او د (مَوْتِهِ) ضمیر کتابی ته راجع دے۔ نو معنیٰ دا ده چه هر یو تن د یهود او نصاراؤ نه د خپل مرګ نه مخکی کله چه په حالت د نزع کی وی نو په عیسیٰ علیه السلام به ضرور ایمان راوړی لیکن د هغه وخت ایمان به فائده نهٔ ورکوی۔ د محمد بن الحنفیهؒ، عکرمهؒ، مجاهدؒ او محمد بن سیرینؒ وغیرهم همدا قول دے۔
او دا د ټولو مجرمانو په باره کی قانون دے چه په ژوند کی خو ایمان نهٔ راوړی لیکن د مرګ په وخت کی ورته هر حقیقت راښکاره شی، نو بیا ایمان راوړی لیکن څه فائده ؟!
﴿وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْفَتْحُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ، قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ﴾ (السجدة : ۲۸/۲۹)۔ فرعون هم چه مړ کیدو نو حقیقت ورته ښکاره شو چه زهٔ په باطله یم نو د ایمان اعلان ئے وکړو لیکن هیڅ فائده ونشوه، او هر باطل پرست ته په وخت د مرګ کی خپل باطلوالے معلومیږی لیکن «اُوبه د ورخه تیری» وی۔
ابن عباس رضی الله عنهما ددے آیت دا معنیٰ وکړه نو چا پرے اعتراض وکړو چه څینی خلك خو په اُور کی سوزی او څینی په اُوبو کی غرقیږی نو آیا په هغه وخت کی هم ایمان راوړی؟ نو هغه جواب وکړو چه هغه وخت کی هم د هغه په زړه کی خپل باطلوالے راشی او پښیمانه وی چه ما ولے ایمان نهٔ راوړو۔ او الله تعالیٰ دهٔ ته د افسوس دپاره دا حالت راښکاره کوی۔
او دا خبره په قرآن کریم کی الله تعالیٰ زیاته بیان کړیده چه اے بنده ! تهٔ خو اُوس خبره نهٔ منے خو یو وخت به داسے راشی چه بیا به ئے خامخا منے لیکن فائده به نهٔ درکوی۔ الله فرمائی : ﴿وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴾ (النمل:۸۲) یعنی اُوس خو دوی نهٔ منی لیکن داسے وخت به راشی چه دنیا کی به د دوی د کفر او د اسلام پته ولګی، دابة الارض به ورله فیصله کوی۔
دویم قول دا دے چه دا ضمیرونه ټول عیسیٰ علیه السلام ته راجع دی یعنی چه کله عیسیٰ علیه السلام په آخری زمانه کی د آسمان نه راکوزیږی، او دجال به قتلوی، نو په هغه وخت کی به هر یهودی او نصرانی د هغه د وفات نه مخکی پدے خبره ایمان راوړی چه عیسیٰ علیه السلام

یهودیانو نهٔ قتل کړے وو او نهٔ ئے پهانسي کړے وو۔ او په هغه وخت کې به عام اهل کتاب (یهودیان او نصارئ) یا ایمان راوړي یا به د دجال ملګري کیږي او قتلیږي به۔ نو په هغه وخت به د دین اسلام نه سوئ تمام ادیان ختمیږي، او ټول یهودیان او نصارئ به د عیسیٰ ﷺ په شان د دینِ اسلام پیروي کوي۔ ابن جریرؒ وائي چه همدا قول زیات صحیح دے او ډیر احادیث ددے تائید کوي۔ ابن کثیرؒ هم ددے قول تائید کړیدے۔

بخاري او مسلم د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

((په هغه ذات مے قسم دے چه د هغه په لاس کې زما نفس دے، نزدے ده چه ابن مریم به په تاسو کې انصاف کونکے راکوزیږي، صلیب به ماتوي، خنزیر به قتلوي، او جزیه به ساقطوي، (یعني صرف اسلام به قبلوي) او مال به دومره زیات شي چه هیڅوك به صدقه نهٔ قبلوي۔ په هغه زمانه کې به یوه سجده د دنیا او ما فیها نه بهتره وي))۔

ابو هریره ﷺ وویل چه که غواړئ نو دا آیت اُولولئ (او بیا ئے همدا آیت ولوستلو)۔

(بخاري : ٣٤٤٨) و (٢٢٢٢) ومسلم : ٤٠٦)

د ابو هریره ﷺ نه په روایت شوي یو حدیث کې دي چه ((الله تعالیٰ به هغه زمانه کې د اسلام نه سوئ نور تمام ادیان ختم کړي او عیسیٰ ﷺ به څلویښت (ورځے، یا میاشتے یا کلونه) ژوندے وي، دے نه روستو به هغه وفات شي او مسلمانان به په هغه باندے جنازه وکړي))۔ (مسند احمد : ٩٢٥٩) وابوداود رقم : ٤٣٢٦) واسناده صحیح۔

په صحیح مسلمؒ کې د نواس بن سمعان ﷺ روایت دے چه ((هغه به د دمشق د مشرقي مینارے خواته راکوزیږي))۔

حافظ ابن کثیرؒ د ډیرو صحابه کرامو نه ګڼ احادیث نقل کړیدي چه په هغے کې د عیسیٰ ﷺ د راکوزیدو صفت او ځای ذکر شویدے چه هغه به په دمشق کې د مشرقي منارے خواته د سهار مانځه په وخت راکوزیږي۔

د عیسیٰ ﷺ او د دجال تفصیلي واقعات زمونږ په کتاب ((علامات قیامت، مهدي، عیسیٰ ﷺ او دجال)) کې وګورئ۔

وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا: یعني د قیامت په ورځ به (عیسیٰ ﷺ) د اهل کتابو په باره کې د هغوي د اعمالو مطابق ګواهي ورکوي کوم چه هغه د آسمان ته د پورته کیدو نه مخکې لیدلي وو، او د کومو مشاهده به چه زمکے ته د بیرته راکوزیدو نه روستو کوي۔

قتادهٌ وائی چه عیسیٰ علیه السلام به گواهی ورکوی چه هغوی د الله پیغام رسولے وو او د الله دپاره به د خپل عبودیت اقرار کوی۔

فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ
پس په سبب د ظلم د هغه کسانو چه یهودیان دی حرام کړیدی مونږ په دوی باندے
طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ
مزیدار شیان چه حلال شوی وو دوی لره او په سبب د منع کولو د دوی د لارے د الله تعالیٰ نه
كَثِيرًا ﴿١٥٩﴾ وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ
ډیرو خلقو لره۔ او په سبب د اخستلو د دوی سود او یقیناً دوی منع کړے شویدی د هغے نه
وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦٠﴾
او خوړل د دوی مالونو د خلقو لره په ناروا او تیار کړیدے مونږ کافرانو لره د دوی نه عذاب دردناك۔

تفسیر : ځینی مفسرین وائی چه دلته اُوس د هغه یهودیانو قبائح ذکر کیږی چه د قرآن کریم د نزول په وخت کی په دوی کی پیدا شوی وو چه ددے په وجه په دوی باندے پاك او حلال ځیزونه حرام شوی وو۔ مگر ظاهر دا ده چه دا د مجموعه یهودیانو بدی بیانیږی چه هغوی کی دا مرضونه پیدا شوی وو۔

فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا : فاءئے سببیه راوړه او (بِظُلْمٍ) متعلق دے د روستو (حَرَّمْنَا) پورے۔ یعنی دا راتلونکی کارونه د دوی د ظلم په وجه وشو۔

د لته د ظلم نه مراد هغه غټ غټ گناهونه دی چه هغه یهودیانو کړی وو او کوم چه په (١٥٥/١٥٦/١٥٧) آیتونو کی ذکر شو۔ او څه اُوس ذکر کیږی چه هغه خلك د الله د لارے نه اړول، سودونه خوړل، او پردی مالونه په ناراوا خوړل دی۔ د هغه گناهونو په وجه الله تعالیٰ په هغوی باندے بعض حلال ځیزونه حرام کړل کوم چه د مخکی نه هغوی دپاره حلال وو لکه د اُوښانو غوښے، د نوکونو والا ښاروو غوښے او د گډانو (پسانو) وازدے لکه بعض په سورة الانعام (١٤٦) آیت کی ذکر دی، دارنگه د خالی په ورځ ښکار حرام کړے شو، د حائضے ښځے سره نزدے کیناستل ئے پرے حرام کړل۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه ددے تحریم نه مراد یا خو دا ده چه یهودیانو خپله په تورات

کی تحریف اُوکړو او په ځان ئے څه حلال څیزونه حرام کړل نو ګویا که په تقدیر کی الله همداسے لیکلی وو۔ یعنی دا تکوینی تحریم دے، نۀ تشریعی۔

یا ددے نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ په تورات کی څه داسے حلال څیزونه حرام کړل چه د مخکی نه د هغوی دپاره حلال وو او دا د هغوی د ګناهونو په وجه وشو، وهو الظاهر۔

دوی د الله ډیر بندګان د نیغے لارے نه بند کړی وو، سودونه ئے خوړل، حال دا چه د هغے نه منع شوی وو او د خلقو مال به ئے په ناجائزو طریقو سره خوړلو، د مثال په توګه د یهودو علماؤ یهودیانو ته د هغوی د خواهش مطابق فتوے ورکړے او د هغوی نه ئے رشوتونه واخستل۔

وَبِصَدِّهِمْ : دا د دوی لوی مرض وو چه د صحیح دین نه به ئے خلك اړول، په هغے کی به ئے شکونه پیدا کول او د الله لویه دشمنی ئے اعلان کړے وه۔ او افسوس چه دا مرض زمونږ د امت مبتدعینو هم خپل کړو چه په ناپوهئ یا په ضد او عناد سره خلك د صحیح دین او د کتاب او سنت د تابعداریٔ نه اړوی او په هغوی باندے قسماقسم بدنامے او تهمتونه لګوی او خلك د هغوی نه متنفره کوی۔ فانا لله وانا الیه راجعون والله المستعان۔

وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ : پدے کی اشاره ده د دوی ډیر قباحت ته چه په تورات او انجیل کی صراحةً د ربا (سود) نه منع کړے شوی وو مګر دوی د هغے مخالفت کړیدے۔

فائده۱ : یهودیانو دعوه کړے وه چه مونږ الله ته نزدے یو او د الله محبوبان یو، او پدے باندے به ئے فخر کولو او د خلکو په زړونو کی به ئے دا عقیده کینوله چه مونږ الله په ګناهونو باندے هم نۀ رانیسی، او دوزخ ئے د نورو خلکو دپاره جوړ کړیدے مګر همدغه یهودیان الله تعالیٰ خلکو ته رابنکاره کړل او د دوی ظلمونه ئے دلته او لږ مخکی ذکر کړل چه مونږ ددے ظلمونو په سبب په دوی باندے پاکیزه شیان حرام کړل،

نو دغه تحریم د دوی په ظلم باندے پوره دلیل دے چه پکار ده چه انکار ترے ونکړی نو که دوی د الله محبوبان وے نو آیا په دوی باندے به دغه پاك څیزونه حرامیدلے؟!۔ نو یهودیان ئے په دے آیتونو کی ډیر سخت شرمولی دی چه ددے نه روستو د دوی د جنت دعوے او د بزرګیٔ دعوے سراسر غلطے دی۔

فائده ۲ : انسان چه د لوی لوی نعمتونو نه محرومیږی ددے سبب د هغه ظلم او ګناهونه وی، د امن او سکون ختمیدل، پریشانه زندګی، ددے اسباب ګناهونه دی۔ دا تحریمِ تکوینی دے چه الله تعالیٰ ئے اُوس هم په بندګانو باندے وخت په وخت کوی، کله په

بنده داسے مرض کیږدی چه د نعمت نه فائده نشی حاصلولے، ځکه مالونه ئے په حرامو طریقو پیدا کړی وی او کله ورته بل مانع راولی۔

فائده ۳ - : په ذکر شوی اسبابو کی د تحریم بعض اسباب خو په دوی کی په روستو زمانه کی پیدا شوی وو او تحریم خو په دوی بانْدے په تورات کی شوے وو؟ نو علماؤ ددے وجه دا لیکلے ده چه دا روستو اسباب د تحریم د دوام او بقاء دپاره ذکر شویدی یعنی ددغه اسبابو په وجه دوی بانْدے تحریم باقی پاتے شو۔ (روح المعانی)

فائده : حرام خوړل د تباهی سبب دے، زمونږ زمانه کی رشتونه، ظلمونه، غصبونه، مزدورانو نه پیسے خوړل، تختول، نیول ځومره ډیر شویدی دا قسم خلك هم هلاکت طرفته روان دی والعیاذ بالله۔

لٰكِنِ الرَّاسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَا
لیکن مضبوط په علم کی د دوی نه او مؤمنان ایمان لری په هغه کتاب
أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَ
چه نازل کړے شویدے تا ته او په هغه چه نازل شوے مخکی ستا نه او (زهٔ صفت کوم)
الْمُقِيْمِيْنَ الصَّلَاةَ وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ
د هغه چا چه پابندی کونکی دی د مانځه او ورکونکی د زکاة او ایمان لرونکی
بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أُولٰٓئِكَ سَنُؤْتِيْهِمْ أَجْرًا عَظِيْمًا﴿١٦١﴾
په الله تعالیٰ او په ورځ روستنئ دغه کسان خامخا ورکوو به دوی ته اجر لوی۔

تفسیر : دا دفع د وهم او بیان د عدل دے چه آیا ټول یهود به دغه شان وی؟ نو الله دا وهم ختموی۔ او پدے کی دعوت ورکوی نورو یهودیانو ته چه ستاسو نه نیکان خلك هم شته هغوی ته به زهٔ ښائسته بدلے ورکوم نو تاسو هم ایمان راوړئ او د هغوی په شان شئ۔

سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما وائی چه دا آیت د عبد الله بن سلام، ثعلبه بن سعیه، زید بن سعیه او اسد بن عبید په باره کی نازل شوی وو، چه دوی د یهودیت نه توبه ویستلے وه او اسلام ئے قبول کړے وو او رسول الله ﷺ ئے د آخری رسول په حیثیت تسلیم کړے وو۔ (ابن کثیر)

په راسخ فی العلم باندے د سورة آل عمران آیت (۷) په ضمن کی تفصیل سره لیکل شویدی۔ او مؤمنون نه مراد یا خو د اهل کتابو مؤمنانو دی، یا مهاجرین او انصار دی، یا هغه تمام خلك چه په رسول الله ﷺ باندے ئے ایمان راوړے۔ وهو الظاهر۔

وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ : دا منصوب دے سیبویهؒ او عام بصریان وائی چه دا منصوب دے په مدح سره۔ اَیْ اَمْدَحُ الْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ ۔ یعنی زۀ مدح او صفت کوم د مانځه پابندی کونکو۔

او دا د عربیت قانون دے چه کله د یو معطوف اعراب د مخکنو نه بدلیږی پدے کی مقصد داوی چه خلك د هغه شی زیات اهمیت ته متوجه شی نو پدے طریقه به د معطوفاتو په ترجمه کی تغیر نۀ واقع کیږی صرف لفظی تفاوت او فرق به لری۔

او ددے نه معلومه شوه چه کوم یهودیان د مانځه پابند وو الله تعالیٰ ورته هدایت وکړو او په آخری رسول (محمد رسول الله ﷺ) ئے ایمان راوړو۔

فائده: اُوس هم خوك چه صحیح مونځ کوی هغوی ته الله پاك سمه لاره وربنائی، اکثر امامانو مونځ برباد کړو والله المستعان۔

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلٰى نُوحٍ
یقیناً مونږ وحی کړیده تا ته لکه څنګه چه وحی کړے وه مونږ نوح (علیه السلام) ته
وَالنَّبِيِّيْنَ مِنْ بَعْدِهٖ وَأَوْحَيْنَا إِلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَإِسْمَاعِيْلَ وَإِسْحَاقَ
او نورو پیغمبرانو ته روستو د هغه نه او وحی کړے وه مونږ ابراهیم او اسماعیل او اسحاق
وَيَعْقُوْبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيْسٰى وَأَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهَارُوْنَ
او یعقوب (علیهم السلام) ته او اولاد د هغوی ته او عیسی او ایوب او یونس او هارون
وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿۱۶۳﴾
او سلیمان (علیهم السلام) ته او ورکړے وو مونږ داؤد (علیه السلام) ته زبور۔

تفسیر: ددے نه روستو اهل کتابو ته د هغوی د اعتراض تفصیلی جواب بیانوی نو دا د (يَسْأَلُكَ اَهْلُ الْكِتَابِ) سره متعلق دے۔

د جواب حاصل (۱) یو دا دے چه عامو پیغمبرانو ته (چه دلته الله تعالیٰ دولس ذکر

کړېدی) الله تعالیٰ وحی لږه لږه رالیږلے ده (په یو ځل ورته کتاب نهٔ دے ورکړے شوے) نو لږه لږه وحی نازلول دلیل د بطلان نهٔ دے، کله الله تعالیٰ وحی په یو ځل رالیږی او کله لږه لږه د بندګانو د احوالو مطابق، نو دا سوال ستاسو سراسر غلط شو چه آخری پیغمبر ته په یو ځل وحی ولے نهٔ راځی؟۔

موسیٰ علیه السلام ته په یو ځل کتاب ځکه ورکړے شو چه بنی اسرائیلو ټولو ایمان راوړے وو او د فرعون نه راخلاص شو او په میدان تیه کی پراته وو، نو په یوځل احکامو ته ئے ضرورت وو چه ټول شریعت ورته بیان کړے شی، او هرچه د رسول الله ﷺ ملګری دی نو دا په یو ځل باندے تیار شوی نهٔ وو بلکه وخت په وخت به ملګری تیاریدل، او اسلام کی به داخلیدل نو ټولو احکامو ته په یو خت کی ضرورت نهٔ وو نو ځکه به وحی لږه لږه د حالاتو مطابق راتلله، مثلًا که د عائشے رضی الله عنها د صفائی په باره کی آیتونه د اول نه نازل شوی وے او واقعه لا راغلے نهٔ وے نو ددے به څه اثر وے؟! لږ فکر وکړه۔

(۲) دویم دا چه ددے نبی په شان نور انبیاء علیهم السلام هم مخکی تیر شویدی او دا څه اولنے او ناشنا پیغمبر نهٔ دے او ددهٔ دین د هغوی د دین په شان دے، او صفات ئے د هغوی د صفاتو په شان دی، چه هغوی الله تعالیٰ مبشرین او منذرین رالیږلی دی نو دا ئے هم مبشر او نذیر رالیږلے دے، نو څه وجه ده چه هغهٔ پیغمبران تاسو منئ او ددے نبی نه انکار کوئ؟ معلومیږی چه ستاسو انکار په ضد باندے بناء دے، او د نبوت دروازه خو لا بنده شوے نهٔ وه بلکه په رسول الله ﷺ باندے بنده شوه نو تاسو ولے د نبوت دروازه بنده ګڼړئ۔ اوله طریقه د سوال سره ډیره موافقه ده۔

أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ : ایحاء (وحی کول) رسول الله ﷺ ته دا لفظ په قرآن کریم کی (٦) کرته ذکر دے، وحی معنیٰ ده سرعت (جلتی) کول، او په شریعت کی: [كَلَامُ اللّٰهِ تَعَالىٰ يَصِلُ اِلىٰ قَلْبِ النَّبِيِّ ﷺ بِالْوَاسِطَةِ أَوْ بِغَيْرِ الْوَاسِطَةِ] د الله تعالیٰ کلام دے چه په واسطه د جبریل علیه السلام یا په غیر د واسطے نه د یو نبی زړه ته رسیږی)

قرآن کریم کی د وحی نورے معانی هم استعمال شویدی لکه الهام، او تعلیم فطری او اشاره او وسوسه وغیره چه په خپل خپل ځایونو کی به راځی ان شاء الله تعالیٰ۔ د تفصیل دپاره زمونږ کتاب ((اصول التفسیر وعلوم القرآن)) کتلے شئ۔

كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ : د نوح علیه السلام نه مخکی هم ډیر پیغمبران تیر شویدی، د آدم علیه السلام د زمانے نه شروع دی او هغوی ته وحی شویده، نو د نوح علیه السلام تخصیص ئے ولے وکړو؟۔

اهل علمو ددے ډیر وجوهات بیان کړیدی:

(۱) تشبیه پدے وجه ورکړے شوه چه نوح علیه السلام د سختې تیارے په زمانه کی راغلے وو چه سخت اختلافات وو لکه څنګه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کی سخته تیاره وه او هرچه آدم علیه السلام دے نو هغه خپلو بچو دپاره پیغمبر وو چه ټول موحدین خلك وو۔

(۲) بله تشبیه په سختو تکلیفونو برداشت کولو کی ده۔

(۳) یا نوح علیه السلام اول الرسل دے لکه څنګه چه رسول الله ﷺ آخر الرسل دے او هرچه آدم علیه السلام وو نو هغه نبی وو او رسول نهٔ وو۔ رسول ته الله نوے کتاب رالیږلے وی او نبی ته نهٔ وی ورکړے شوے، نو د رسول درجه د نبی نه لویه ده۔

(٤) یا دلته د وحی نه مراد هغه وحی ده چه په هغے کی د مشرکانو په شرك باندے رد وی او هغه صرف د نوح علیه السلام نه شروع ده نهٔ مخکی۔ نو مشابهت د رسول الله ﷺ د نوح علیه السلام سره زیات وو پدے وجه ئے د هغه تخصیص وکړو۔

وَالنَّبِيِّينَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ: د نوح علیه السلام نه روستو پیغمبران بعض الله تعالیٰ په سورة اعراف کی بیان کړیدی لکه هود، صالح، شعیب، لوط او یوسف علیهم السلام۔

سوال وجواب

سوال: الله تعالیٰ ولے د رسول الله ﷺ وحی د ډیرو پیغمبرانو سره مشابه کړه تردے چه د ځینو نومونه ئے هم پکی واخستل؟

(۱) جواب دادے چه دغه پیغمبران په اهل کتابو کی ډیر مشهور وو اګرکه په ځینو باندے به ئے ایمان هم نهٔ لرلو۔

(۲) دویم دا چه پدے کی اشاره ده چه د وحی قسمونه مختلف دی، ځینی پیغمبرانو ته په یوه طریقه او ځینو ته په بله او بله طریقه وحی شویده، نو د وحی اختلاف په اصل نبوت کی څه فرق نهٔ راولی نو اے اهل کتابو! تاسو له پکار دی چه ایمان راوړل په فرمایشي وحی پورے موقوف نهٔ کړئ۔

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ : دا تخصیص بعد التعمیم دے۔

داود زبورا: یعنی په دوی کی صرف داود علیه السلام ته زبور کتاب په یو ځل ورکړے شوے وو۔ مګر آلوسیؒ لیکی چه د داود علیه السلام کتاب هم په قسطونو سره نازل شوے وو۔ (روح ۳/۱۹۲)

علامه قرطبیؒ او آلوسیؒ لیکی چه ددے کتاب یو سل پنځوس (۱۵۰) سورتونه وو چه

صرف وعظونه او فضیلتونه او د الله تحمید او تمجید او ثناء ګانے پکی ذکر وے۔ او هیڅ احکام د حلال او حرامو وغیره پکی نۀ وو ذکر شوی۔ (روح المعانی ۱۹۲/۳)
او ددے کتاب تذکره ئے وکړه پدے کی اشاره ده چه د داود علیه السلام فضیلت په بادشاهئ سره نۀ وو بلکه په نبوت او کتاب سره وو۔
بله وجه دا ده چه بعض یهودو داود علیه السلام او سلیمان علیه السلام ساحران ګنړل لکه په تفسیر د سورة البقره کی علامه قاسمیؒ لیکلی دی۔

وَرُسُلًا قَدۡ قَصَصۡنَاهُمۡ عَلَيۡكَ
او (وحی کړیده) مونږ نورو رسولانو ته چه بیان کړیدے مونږ د هغوی په تا باندے
مِنۡ قَبۡلُ وَرُسُلًا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَ
مخکی ددے نه او نورو رسولانو ته چه بیان نۀ دے کړے مونږ د هغوی په تا باندے
وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوسٰى تَكۡلِيۡمًا ﴿۱۶۴﴾ رُسُلًا
او خبرے کړیدی الله تعالیٰ د موسیٰ (علیه السلام) سره په خبرے کولو سره۔ (لیږلی دی مونږ) رسولان
مُبَشِّرِيۡنَ وَمُنۡذِرِيۡنَ لِئَلَّا يَكُوۡنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ
زیرے ورکونکی او یره ورکونکی ددے دپاره چه نۀ شی د خلقو دپاره په الله تعالیٰ باندے
حُجَّةٌۢ بَعۡدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيۡزًا حَكِيۡمًا ﴿۱۶۵﴾
بهانه پس د لیږلو د رسولانو نه او دے الله تعالیٰ غالبه حکمتونو والا۔

تفسیر : وَرُسُلًا : اَیۡ اَرۡسَلۡنَا ۔ مونږ رالیږلی دی رسولان۔ یا د (اَوۡحَيۡنَا) دپاره مفعول دے۔ یعنی مونږ وحی کړے وه نورو رسولانو ته چه د هغے بیان مونږ تا ته مخکی کړیدے په سورة الاعراف او سورة هود او سورة الشعراء او سورة انبیاء او سورة انعام او سورة مریم وغیره کی۔
وَرُسُلًا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَ : نور قسم رسولان دی چه مونږ د هغوی نومونه، قصے او حالات تا ته نۀ دی بیان کړی چه د هغوی شمار په صحیح حدیث کی نۀ دے بیان شوے البته د یو ضعیف روایت نه (چه صحیح ابن حبانؒ نقل کړیدے) معلومیږی چه یو لاکھ څلیریشت زره پیغمبران وو پدے وجه ورسره علماء کرامؒ (کم وبیش) زیات او کم الفاظ

وائی۔ ابن الجوزیؒ دغه روایت ته موضوع وئیلی دے۔ لیکن شیخ البانیؒ وائی چه دغه روایت صحیح لغیرہٖ دے ځکه چه په ډیرو طرقو کی ئے بعض طرق صحیح دی۔ او ابن کثیرؒ په تاریخ کی ذکر کړیدے او سکوت ئے پرے کړیدے او دغه شان حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۲۵۷/۶) او عینیؒ په عمدة القاری (۳۰۷/۷) کی پرے سکوت کړیدے، آلوسیؒ په تفسیر کی وائی چه د ابن جوزیؒ خبره صحیح نهٔ ده، آؤ په سند کی ئے ضعف شته مګر د هغے جبیره په متابعت سره شویده۔ انظر التفصیل فی الصحیحة رقم (۲۶۶۸)

بیا د کومو پیغمبرانو نومونه او قصے چه ذکر شویدی (چه هغه پنځه ویشت دی) نو هغه ډیر بهتر دی د نورو نه۔ او په دغه پنځه ویشتو کی پنځه پیغمبران اولوا العزم دی، نوحؑ، ابراهیم، موسیٰ، عیسیٰ او محمد رسول الله علیهم الصلاة والتسلیمات۔

وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوسٰى تَكْلِيمًا : دا د وحی یو بله طریقه ده چه براه راست بغیر د لیدو او بغیر د واسطے نه خبرے کول یعنی الله وینی نهٔ او خبرے ئے آوری۔

د وحی اقسام او طریقے

د وحی تقریباً اُوه طریقے دی چه زمونږ کتاب ((اصول التفسیر وعلوم القرآن)) او ((سیرتِ رسول ﷺ)) (۳۶۲/۱) کی ئے تفصیلاً کتلے شئ۔ مختصر دا چه:

(۱) وحی کله پیغمبر ته په خوب کی وی۔ (۲) کله واسطه رالیږی او دغه واسطه کله په شکل د سړی وی لکه جبریل علیه السلام به د دحیة الکلبی رضی الله عنه او کله د یو بل اعرابی په شکل راتللو۔ (۳) او دوه کرته جبریل علیه السلام په خپل اصلی شکل کی راغلے دے۔

(٤) او کله به واسطه وه، جبریل علیه السلام به راغلو او رسول الله ﷺ ته به ئے په زړه کی وحی ګوزار کړه او هغه ته به جبریل علیه السلام نهٔ ښکاره کیدو۔

(۵) او کله به وحی د صَلْصَلَةُ الْجَرَس (د تلئ یا د زنځیر د آواز په شان) راتلله او دا به په نبی کریم ﷺ باندے ډیر بوج وو پدے کښ به جبریل علیه السلام رسول الله ﷺ ته کلکه غاړه ورکوله او تردے چه په سخته یخه ورځ کی به د هغه تندے مبارك د خولو نه ډك شو۔

(٦) او کله ئے بره آسمانونو ته بوتلے دے او براه راست ئے ورسره خبرے کړیدی په غیر د لیدلو نه۔ (۷) او کله به ورسره الله تعالیٰ بغیر د لیدو نه خبرے کولے لکه موسیٰ علیه السلام سره ئے هم داسے خبرے کړیدی او پدے آیت کی ذکر دی۔ (الرحیق المختوم ص : ٥٤)

د الله دپاره کلام اختیاری صفت دے۔

وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا : یعنی په غیر د واسطے د ملائك نه او په غیر د لیدو د الله نه الله تعالیٰ د موسیٰ ﷤ سره خبرے وکړے او دا د موسیٰ ﷤ ډیر لوی منقبت او فضیلت دے چه عظیم ذات ورسره بغیر د واسطے نه خبرے وکړے۔

د جمهورو سلفو او اهل سنتو دا عقیده ده چه خبرے کول د الله تعالیٰ صفت دے څنګه چه د هغه د شان مناسب وی پدے وجه ئے تکلیماً مفعول مطلق راوړو چه تاکید ته اشاره شی او په حقیقت باندے حمل شی او څوك دا ونهٔ وائی چه الله تعالیٰ به ورسره خبرے نهٔ وی کړی ملائك به کړی وی، او الله به خپل ځان ته د اضافتِ تشریفی په طریقه نسبت کړے وی نو ددے وهم د ختمولو دپاره ئے مفعول مطلق تاکیدی راوړی۔

نو دا آیت صریح رد دے په هغه متکلمینو (معتزله او بعض ګمراه ډلو) چه وائی چه د الله تعالیٰ کلام (خبرے) نشته ځکه چه خبرے خو د هغه چا وی چه جارحه (یعنی ژبه) او مرئ لری او الله خو ددے نه مستغنی دے۔ نو ددے جواب دا دے چه ډیر څیزونه شته چه ژبه او مرئ نهٔ لری او خبرے کوی، قرآن کریم کی دی : ﴿ وَاِنْ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ﴾ (اسراء : ٤٤) په دنیا کی هیڅ شے نشته مګر د الله تعالیٰ تسبیحات سره د حمدونو نه وائی لیکن تاسو د هغوی په تسبیحاتو نهٔ پو هیږئ۔

او د سیرتِ نبوی ﷺ نه ثابته ده چه ونو، کاڼو، ډوډئ خبرے کړیدی او نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو آوریدلی دی۔ او زمونږ پدے جدید دور کی د ریډیو او ټیپ، وی سی آر، کمپیوټر، موبائل او جدید آلاتو نه خبرے راوځی او حال دا چه ژبه او مرئ نهٔ لری نو د الله د کلام په رد کی دا دلیل ورکول د علم نه جدائی او د جهالت په دریاب کی ډوبیدل دی۔ دا خلك د الله لوی بی ادبه دی چه خپل ځان دپاره خبرے کمال ګڼړی او د الله نه خبرے نفی کوی او هغه ته د نقصان نسبت کوی۔ او صحیح حدیث کی دی : الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د هر یو تن سره خبرے کوی چه په مینځ د الله او د بنده کی به هیڅ ترجمانی کونکے نهٔ وی۔ (بخاری : ٦٥٣٩) ومسلم (٢٣٦٥)۔

او مونږ سره الله تعالیٰ د قرآن کریم په واسطه سره خبرے کړیدی چه خپل دا خوږ کلام ئے رالیږلے دے۔

رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ : اَیْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا ۔ مونږ رالیږلی دی رسولان د بشارت او انذار دپاره۔

منونکو ته زيرے ورکونکي او نۀ منونکو ته يره ورکونکي۔

عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ : اَیْ بَعْدَ اِرْسَالِ الرُّسُلِ۔ پس د رالیږلو د رسولانو نه۔

پدے کی د رسولانو د رالیږلو حکمت بیانوی چه قیامت کی به الله تعالیٰ ځینی انسانان اُور ته گوزاری نو هغوی به عذر کوی چه اے الله! مونږ ولے اُور ته گوزارے؟ الله به فرمائی: تاسو گناهونه کړیدی۔ نو هغوی به وائی چه مونږ ته معلومات نۀ وو چه دا گناه ده۔ نو دا لوی حجت او دلیل دے د بندگانو په الله باندے، نو که ددے سره دوی اُور ته بوتللے شی نو بیا به الله تعالیٰ ته د ظلم نسبت وشی، او الله تعالیٰ خو د هیچا عذر او دلیل په خپل ځان باقی نۀ پریدی۔

په صحیحینو کی د عبد الله بن مسعود ﷛ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: [وَمَا أَحَدٌ أَحَبَّ اِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللّٰهِ وَمِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ بَعَثَ الْمُبَشِّرِيْنَ وَالْمُنْذِرِيْنَ]

او هیچا ته د عذر زائل کول دومره محبوب نۀ دی څومره چه الله تعالیٰ ته د بندگانو عذرونه زائل کول محبوب دی، پدے وجه هغه د جنت زیری ورکولو او د جهنم نه یرے ورکولو دپاره انبیاء علیهم السلام راولیږل۔ (دے دپاره چه خلق د انبیاؤ تعلیمات خپل کړی او د خپلو گناهونو معافی اُوغواړی او د الله د رضا حقدار جوړ شی)۔

(بخاری: ٧٤١٦) ومسلم (٣٨٣٧)۔

نو کله چه الله تعالیٰ د بندگانو مکمل عذر زائل کړی نو بیائے اُور ته داخلوی۔ لکه رسولان ئے راولیږل دا په خلکو باندے د الله تعالیٰ د طرفنه حجت شو چه ددے نه روستو هم څوك جرمونه کوی، نو دا عذر به ئے زائل وی چه زۀ نۀ وم پو هه۔ کله چه انسان ته د رسول الله ﷺ بیان براهِ راست یا په واسطه د علماؤ او کتابونو سره راورسیدو نو عذر د بندگانو ختم شو۔ او دا حجت (عذر) الله تعالیٰ په سورة بنی اسرائیل (١٥) آیت کی هم ختم کړیدے: ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا﴾ مونږ تر هغه وخته پورے (بندگانو ته عذاب نۀ ورکوو تردے چه رسول راولیږو۔ او د سورة طه (١٢٤) آیت کی هم راغلی دی: ﴿فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَذِلَّ وَنَخْزٰى﴾۔

او سورة القصص (٤٧) آیت کی دی: ﴿وَلَوْلَا أَنْ تُصِيْبَهُمْ مُصِيْبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ یعنی که په گناه باندے دوی ته مصیبت رسیدلے نو بیا به دوی بهانے کولے چه اے ربه زمونږ! تا مونږ ته ولے یو رسول نۀ رالیږلو چه مونږ ستا د آیتونو تابعداری کولے او ایمان مو راوړے وے۔

عَزِيزًا حَكِيمًا : يعني الله تعالىٰ قادر دے په رسولانو راليږلو او بيا چه رسولان راوليږی او خوك ئے خبرے ونۀ منی نو سمدست عذاب نۀ ورکوی او بندگانو ته انتظار کوی پدے کی ئے حکمتونه دی۔

لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَا أَنْزَلَ إِلَيْكَ أَنْزَلَهُ

لیکن الله گواهی کوی په هغه کتاب چه نازل کړے ئے دے تا ته، نازل کړے ئے دے دا

بِعِلْمِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿١٦٦﴾

په خپل علم سره، او ملائك گواهی کوی او پوره دے الله گواهی ورکونکے۔

تفسیر: لکن کلمه د وَهم د دفع کولو دپاره استعماليږی نو معنیٰ دا ده : إِذَا لَمْ يَشْهَدُوْا فَاللّٰهُ يَشْهَدُ الخ۔ يعنی که دا خلك ستا د نبوت او کتاب گواهی نۀ ورکوی او ستا تکذيب کوی نو الله او ملائك گواهی ورکوی۔ او دا گواهی د هغوی د گواهئ نه ډيره غوره ده۔ (التحرير والتنوير لابن عاشور ٤/٣٢٥)

علامه آلوسیؒ وائی : لَمَّا شَبَّهَ إِيْحَاءَ الرَّسُوْلِ بِالْإِيْحَاءِ إِلَى الْأَنْبِيَاءِ أَوْهَمَ ذٰلِكَ التَّشْبِيْهُ مَزِيَّةَ الْإِيْحَاءِ إِلَيْهِمْ فَذَكَرَ بِأَنَّ لِلْإِيْحَاءِ إِلَيْكَ مَزِيَّةً وَهِيَ شَهَادَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ]

يعنی هرکله چه الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ وحی د نورو انبياؤ د وحی سره مشابه کړه نو ددے نه دا گمان پيدا شو چه دغه انبياء عليهم السلام به غوره وی د رسول الله ﷺ نه نو الله تعالىٰ د آخری رسول دپاره گواهی ذکر کړه دے دپاره چه ددۀ په فضيلت باندے او ددۀ د نبوت په صحيح والی باندے دلالت وکړی۔ (روح المعانی ٣/١٩٤)

شان نزول

ابن اسحاقؒ او ابن جريرؒ او بيهقیؒ په ((الدلائل)) کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړيدے چه څه يهوديان د رسول الله ﷺ خوا ته راغلل، نبی ﷺ هغوی ته اُووئيل چه قسم په الله ما ته معلومه ده چه تاسو ته زما د رسول کيدو علم دے۔ هغوی اُووئيل چه مونږ ته ددے عِلم نشته۔ (او مونږ ستا د نبوت گواهی نۀ ورکوو) نو دا آيت نازل شو چه که دا خلق ستا د رسالت گواهی نۀ ورکوی نو نۀ دے ورکوی، الله گواهی ورکوی چه دا قرآن هغه په تا باندے نازل کړيدے، ددے هغه ته علم دے او ملائك هم گواهی ورکوی او د

الله گواهي كافي ده۔ علماؤ ليكلي دي چه پدے كي نبي كريم ﷺ ته يو قسم تسلي وركړے شويده۔

أَنْزَلَهُ بِعِلْمِهِ : دے کی ډیر مطلبونه دی : (۱) أَنْزَلَهُ صَادِرًا عَنْ عِلْمِهِ۔

الله تعالىٰ دا كتاب په تا باندے نازل كړيدے پداسے حال كى چه د الله تعالىٰ نه په علم سره راوتے دے، يعنى هغه ته ددے خبرے علم وو چه زۀ دا كتاب آخرى نبى ته ليږم او غير اختيارى نۀ دے راغلے۔ او پدے كى به اشاره او تنبيه وى په وجه د شهادت باندے۔ چه الله تعالىٰ څكه گواهي وركوى چه الله تعالىٰ ته ددے وحى او كتاب حال معلوم دے۔ نو ددے نه بله لويه گواهي چرته كيدے شى ؟ او كه پدے گواهي كى څوك طعن او تنقيد كوى نو دے به د الله تعالىٰ په علم او قدرت او حكمت كى تنقيد كوى۔ (تفسير السعدى)

(۲) أَنْزَلَهُ مُشْتَمِلًا عَلَى عُلُوْمِهِ- (تفسير السعدى) أَوْ مُتَلَبِّسًا بِعِلْمِهِ (التحرير والتنوير ٤/٣٢٥)۔

الله تعالىٰ دا كتاب نازل كړيدے پداسے حال كى چه مشتمل دے په ټولو هغه علمونو باندے چه بندگان ورته ضرورت لرى۔ يعنى پدے كتاب كى د الله تعالىٰ علمونه، احكام شرعيه او غيبى اخبار دى چه هغه صرف الله تعالىٰ ته معلوم وو او بندگانو ته ئے پدے كى خبر وركړيدے۔ (تفسير السعدى)

(۳) أَنْزَلَهُ بِعِلْمِ اللّٰهِ أَنَّكَ أَهْلٌ لِمَا اصْطَفَاكَ اللّٰهُ لَهُ مِنَ النُّبُوَّةِ] (فتح القدير للشوكانى)

أَوْ هُوَ يَعْلَمُ أَنَّكَ أَهْلٌ لِإِنْزَالِهِ عَلَيْكَ۔ (القرطبى)۔

نازل كړے ئے دا كتاب پداسے حال كى چه الله تعالىٰ ته دا معلومه وه چه تۀ ددے كتاب او د نبوت اهل او لائق ئے۔

(٤) أَنْزَلَهُ وَهُوَ عَالِمٌ بِهِ، رَقِيْبٌ عَلَيْهِ] الله تعالىٰ نازل كړيدے دا كتاب په داسے حال كى چه الله تعالىٰ عالِم دے پدے كتاب، او نگهبان او حفاظت كونكے دے ددے كتاب د شيطانانو نه۔ نو دا جمله د مخكى دپاره د تفسير په شان ده۔(قاسمىؒ، آلوسىؒ)

(۵) أَنْـزَلَـهُ مَعَ عِلْمِهِ۔ (السمعانىؒ) نازل كړے ئے دے دا كتاب سره د علم د الله تعالىٰ نه۔ يعنى دا چه رسول الله ﷺ ته رارسيدلے دے نو ددے سره د الله علم موجود وو او وحى صحيح ځاى ته رسيدلے ده۔

سوال وجواب

سوال : كله چه الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ د رسالت گواهي وركړه نو د ملائكو گواهي

ذکر کولو ته حاجت څه وو؟

۱-جواب: کوم یهودیان چه د رسول الله ﷺ خوا ته راغلي وو هغوی به دا ویل چه مونږ علماء الارض (د زمکې عالمان) یو او مونږ ستا د رسالت نه انکار کوو، نو الله وفرمایل : که د زمکې علماء ترې انکار کوي نو د آسمان علماء چه ملائك دي هغوی ئې گواهي ورکوي۔ اگرکه د ملائکو گواهي ته ضرورت هم نشته، صرف د الله گواهي هم کافي ده څکه ئې ورپسې روستو وویل : ﴿وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا﴾ صرف الله تعالیٰ د گواه په حیثیت سره کافي دے۔ (تفسیر السمعانی ۱/ ۵۰٤)

۲- جواب : علامه سعدیؒ وائي : پدې کې اشاره ده د ملائکو کامل ایمان ته او د قرآن کریم اُوچت شان ته چه ملائك هم ددې گواهي ورکوي، او دغه مجرمان انسانان ترې انکار کوي۔ (تفسیر السعدی ۱/ ۲۱۵)

د الله تعالیٰ شهادت څنگه دے؟

د الله د گواهۍ مختلف شکلونه دي (۱) یو د الله گواهي په بیان سره ده چه الله تعالیٰ په خپل کتاب (قرآن کریم) کې دا بیان کړیدے او بندگانو ته ئې آوازونه کړیدي چه دا زما کتاب دے او دا مې حق رسول دے وې منئ۔ (۲) بله گواهي د الله تعالیٰ بالنصرة ده۔ یعنې الله تعالیٰ وخت په وخت په سختو موقعو کې د رسول الله ﷺ مددونه کړیدي او انجام ئې ورله ښه کړیدے۔ (۳) معجزات ئې راښکاره کوي چه امت د هغې د مقابلې نه عاجز دے او الله تعالیٰ ورته تولې لارې او طریقې برابروي، نو که دا نبي باطل پرست وے نو الله به ئې مددونه نهٔ کولې او لارې به ئې نهٔ کولاویدلې، ترقي به ئې نهٔ کیدلې او انجام به ئې خرابیدلې څکه چه د باطل والو انجام خراب وي۔ کومو خلکو چه په دروغه د نبوت دعوې وکړې نو ډیر زر د بد انجام سره ملاؤ شول۔

د ملائکو شهادت څنگه دے؟

د ملائکو شهادت دا دے چه ملائکو د رسول الله ﷺ په غزوهٔ بدر او احزاب او حُنَین کې مدد کړیدے، دارنگه ملائك راغي دهٔ ته تسلیاني ورکوي، سلامونه پرې اچوي، وحي ورته راوړي، او دهٔ ملګری ئې کله کله ویني، نو دا د هغوی شهادت دے چه دا رسول او دا قرآن کریم حق کتاب دے۔ او دا گواهي داسې نهٔ ده چه ملائك راغلي وې او خلکو ئې آواز آوریدلے وي یا د الله تعالیٰ آواز ئې آوریدلے وي بلکه دغه ذکر شوي څیزونه دلائل د گواهۍ

دی۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللهِ قَدْ

یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے او منع کوی خلق د لارے د الله تعالیٰ نه یقیناً

ضَلُّوا ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١٦٧﴾

گمراه شول په گمراهئ لرے سره۔

تفسیر: پدے کی الله تعالیٰ د آخرت تخویف بیانوی او د متعدی کفارو ضلال بیانوی او دوی ته د عدم هدایت سزا ورکوی چه حق ورته بنکاره شی او بیا ئے هم نهٔ منی او خلك ترے اړوی نو هدایت به ورته نهٔ کیږی۔ او دا آیت اول یهودو ته شامل دے او بیا مشرکانو ته او بیا ټولو کافروته۔

وَصَدُّوا: یعنی خپله هم د الله د لارے نه واوړیدل او نور خلك ئے هم د الله د لارے نه واړول۔

ضَلُّوا ضَلَالًا بَعِيدًا : شرك هم لویه گمراهی ده او کفر هم او بیا چه خلك د الله د لارے نه اړوی دا هم لویه گمراهی ده، د گمراهئ داعی ته اکثر هدایت نهٔ کیږی بلکه هدایت هغه چاته کیږی چه د هدایت خوا ته کیږی، منیب وی، خالی الذهن وی، او عناد او ضد پکی نهٔ وی او چه یو سړی ته حق بنه معلوم شو او بیا د هغے په خلاف کی دعوت کوی نو دا د حق نه نور هم جدا کیږی او لاره ترے ورکیږی۔

وَصَدُّوا : دا خلك په هغه زمانه کی مشرکان وو او یهودیان وو چه عام خلك به ئے د رسول الله ﷺ او د قرآن کریم او د اسلام نه منع کول او په رسول الله ﷺ او دین اسلام به ئے اعتراضونه کول او د خلکو په زړونو کی به ئے شکوك او شبهات اچول۔ او پدے کی په هره زمانه کی مشرکان او اهل بدع داخلیږی چه خلکو ته وائی د قرآن خوا ته مهٔ ورځئ، د توحید مسئله مهٔ زده کوئ، کتاب او سنت خوا ته مهٔ ورځئ او د پلار نیکه په باطل دین کلك شئ۔

د الله د لارے مختلف مصداقات دی۔ د دین نه اړول، د یوے مسئلے، د یو سنت طریقے نه، د یوے بندگئ نه اړول۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَظَلَمُوا لَمْ يَكُنِ اللهُ لِيَغْفِرَ

یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړیدے او ظلم ئے کړیدے نهٔ دے الله تعالیٰ چه بخنه وکړی

لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿۱۶۸﴾ إِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خَالِدِيْنَ فِيْهَا

دوی ته او نهٔ چه وښائي دوی ته لاره۔ مگر لاره د جهنم، همیشه به وی په هغې کی

أَبَدًا وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللهِ يَسِيْرًا ﴿۱۶۹﴾

همیشه دپاره او دے دا کار په الله باندے آسان۔

تفسیر : پدے کی د دغه مخکنو مجرمانو د آخرت عذاب او بد انجام بیانیږی۔

كَفَرُوْا : د الله د دین او د هغه د آیتونو نه ئے انکار وکړو۔

وَظَلَمُوْا : د دوی ظلم دا دے چه کفر او شرك ئے اختیار کړو نو پدے معنیٰ به (وَظَلَمُوْا) عطف تفسیر وی۔ او دوی متعدی ظالمان هم دی چه خلك د حقے لارے نه اړوی او مسلمانیدو ته ئے نهٔ پریدی، او مسلمانانو سره ئے په حق باندے جنگونه کړیدی او هغوی ته ئے تکلیفونه رسَولی دی، او دوی ته ئے شکونه او شبهات اچولی دی او په نبی کریم ﷺ باندے ئے ظلم کړیدے چه د هغه د نبوت نه ئے انکار کړیدے او د هغه صفات ئے د عوامو نه پټ ساتلی دی، او بیا ئے ځان په حق هم گنړلے دے نو ځکه د گمراهئ نه نهٔ جدا کیږی۔

او په ظلم کی اشاره ده چه دوی د خپل کفر او شرك او بد اعمالو نه توبه هم نهٔ ده ویستلې۔

لَمْ يَكُنِ اللهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ : کفارو ته ډیر کرته الله تعالیٰ هدایت کوی لیکن کله چه د کفر سره ظلمونه او د دین په ضد کی ودریدل شروع کړی، مسلمانان وژنی او د هغوی سره قتال کوی، نو بیا ورته غالباً هدایت نهٔ کیږی ځکه چه دوی د ضد او عناد په وجه د الله بخنه او د هدایت لاره په خپل ځان باندے بنده کړه کومه چه جنت ته رسیدلے ده چه هغه د نیك اعمالو او د حق منلو لاره ده۔

دا آیت داسے دے لکه د خَتَمَ اللهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ په شان، دے ته سزا وائی، د بدو اعمالو کله سزا دا وی چه انسان باندے د هدایت لاره او د مغفرت دروازه بنده شی۔

داسے قِسم کفارو ته چه د مسلمانانو مقابلے ته راوتلی وی، دعوت هم فائده نهٔ ورکوی چه بنده ورشی او هغوی ته ووائی چه تاسو ایمان راوړئ، هغوی له الله تعالیٰ زړونه اړولی دی۔

طَرِيْقًا : ددے لارے نه مراد د ایمان او د نیك اعمالو لاره ده چه انسان جنت ته رسوی۔

إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ : یعنی د جهنم د لارے اسباب به ورته بنائی چه هغه بد اعمال او د حق مخالفت او د گناهونو توفیق دے او دا د ﴿فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ﴾ په شان دے۔

وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا : یعنی الله تعالیٰ د دوی په سزا باندے هیڅ پرواه نکوی، انسان چه کله بل ته سزا ورکوی، نو په هغه بوج راځی او چه وژنی ئے نو هیبت پرے راځی، او یریږی چه ما ته به سبا له ددے نه خطر راپیښ شی او الله تعالیٰ نهٔ د چا نه شرمیږی، او نهٔ پرے هیبت او رعب راځی او نهٔ د انجام نه یریږی، د وجه د کمال قدرت د الله تعالیٰ نه۔

يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ
اے ایمان والو ! یقیناً راغلے دے تاسو ته رسول په حق بیانولو سره د طرفه د رب ستاسو نه
فَآمِنُوا خَيْرًا لَّكُمْ وَإِنْ تَكْفُرُوا
نو ایمان راوړئ، دا به غوره وی ستاسو دپاره، او که تاسو کفر کوئ
فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي
(نو الله بے پرواه دے ستاسو نه) ځکه یقیناً د الله په اختیار کی دی هغه څه چه په
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿۱۷۰﴾
آسمانونو او زمکه کی دی او دے الله پوهه حکمتونو والا۔

تفسیر : مضمون : ددے ځای نه تر آخر د سورت پورے بل قسم مضمون دے چه پدے کی یو څو مسائل بیانیږی، اول ترغیب الی اطاعة الله والرسول دے۔ چه اے خلکو! د الله او د رسول اطاعت وکړئ او پدے پیغمبر ایمان راوړئ، او دا چه درته کومے مسئلے بیانوی د هغے په منلو کی ستاسو سراسر خیر او فائده ده، نو پدے کی د رسول الله ﷺ شان بیانیږی ځکه چه ددے رسمونو او غلطو عقیدو رد به رسول الله ﷺ کولو۔

بیا رد کوی په غلو د اهل کتابو باندے چه د ځان نه خبرے مهٔ جوړوئ، او رد کوی په شرك باندے چه نصاراؤ د عیسیٰ علیه السلام په باره کی کړے وو چه د هغه نه ئے اِلٰه جوړ کړے وو۔ نو منع کوی د شرك نه چه د عیسیٰ علیه السلام د اُلوهیت عقیده مهٔ ساتئ او په (۱۷۲) آیت کی ئے وجه بیانوی چه عیسیٰ علیه السلام خپله په شرك باندے رضا نهٔ دے او حال دا چه تاسو ئے

د الله سره شريك جوړوئ،
بيا ئې تخويف بيان کړيدې چه څوك د الله د بندگئ نه انکار کوي، الله به سزا ورکوي او څوك چه ايمان لري او د الله بندگي کوي هغوی دپاره زيرې بيانيږي.
بيا ئې قرآن کريم ته ترغيب ورکړيدې لکه مخکې ئې رسول ته ترغيب ورکړو چه دا قرآن ښائسته رڼا ده ددې تابعداري وکړئ. بيا چه څوك د الله په کتاب ايمان لري او عمل پرې کوي هغوی دپاره ئې زيرې بيان کړيدې، او په آخر کې ئې د امور انتظاميه ؤ نه د ميراث مسئله ذکر کړيده لکه دا د قرآن کريم د موضوعاتو طريقه ده چه اول او آخرئې يو کوي.
يَا أَيُّهَا النَّاسُ : پدې کې ترغيب دې ايمان ته په رسول الله ﷺ باندې او د هغه تابعدارئ ته چه د جاهليت رسمونه پريدئ او ددې رسول تابعداري شروع کړئ. او ټولو انسانانو ته (يهود، نصارىٰ او مشرکان او نورو کفارو ته) عام اعلان دې چه خاتم النبيين ﷺ د الله رسول دې، او هغه حق دين د دنيا والو د هدايت دپاره راوړې.
بِالْحَقِّ : يعنې په رشتياؤ سره چه دروغژن نهٔ دې. يا لِإِظْهَارِ الْحَقِّ. د حق د ښکاره کولو دپاره راغلې دې.
فَآمِنُوا خَيْرًا لَّكُمْ : يعنې اې خلقو ! ستاسو خير پدې کې دې چه تاسو په هغه باندې ايمان راوړئ،
وَإِنْ تَكْفُرُوا : او که تاسو کفر کوئ نو پوهه شئ چه د آسمان او زمکې ملکيت د هغه دې، او هغه تاسو ته په عذاب درکولو قادر دې.
بعض علماؤ ددې تفسير داسې کړيدې چه که تاسو کفر کوئ نو پوهه شئ چه هغه ستاسو نه غنې او بې حاجته دې، نهٔ ستاسو په کفر سره هغه ته څه نقصان رسيږي او نهٔ ستاسو په ايمان سره څه فائده، څکه هر څه د هغه دي.
خيرا لکم : ددې نه مخکې (يَكُنْ) لفظ پټ دې. يعنې دا (ايمان) به ستاسو دپاره غوره وي. يا په اعتبار د موصوف محذوفه سره مفعول مطلق دې أَىْ إِيمَانًا خَيْرًا لَّكُمْ.
يعنې تاسو داسې ايمان راوړئ چه هغه ستاسو دپاره فائده مند وي او د منافقت او شرك والا ايمان نهٔ وي. (قاسمیؒ)
وَإِنْ تَكْفُرُوا : يعنې که ايمان رانهٔ وړئ نو چا له به ضرر ورکړئ ؟ صرف خپلو ځانونو له ځکه چه په کائناتو کې هر څه د الله دي، د الله تعالىٰ بندگانو ته څه حاجت دې ؟!.
عَلِيمًا حَكِيمًا: يعنې الله تعالىٰ ته د هغه دشمنان معلوم دي او چه عذاب ورته روستو

کوی نو دا ئے په حکمت بناء دی۔

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللهِ إِلَّا الْحَقِّ إِنَّمَا

اے کتاب والو ! زیاتے مهٔ کوئ په دین خپل کی او مهٔ وایئ په الله باندے مگر حق، یقیناً

الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللهِ وَكَلِمَتُهٗ أَلْقَاهَا

مسیح عیسیٰ (علیه السلام) ځوی د مریم رسول د الله تعالیٰ دے او کلمه د هغه ده چه گوزار کړے ده

إِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِنْهُ فَآمِنُوْا بِاللهِ وَرُسُلِهٖ وَلَاتَقُوْلُوْا

مریم ته او روح وو د طرفه د الله نه نو ایمان راوړئ په الله تعالیٰ او په رسولانو د هغه او مهٔ وایئ

ثَـلَاثَةٌ انْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ إِنَّمَا اللهُ إِلٰـهٌ

چه آلهه درے دی، منع شئ (ددے نه) دا به غوره وی ستاسو دپاره یقیناً الله حقدار د بندگئ

وَّاحِدٌ سُبْحَانَهٗ أَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ لَّهٗ مَا

یو دے، پاك دے ددے نه چه شی د هغه دپاره ځوی، د هغه په اختیار کی دی هغه څه

فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَكَفٰى بِاللهِ وَكِيْلًا ﴿۱۷۱﴾

چه په آسمانونو کی دی او هغه څه چه په زمکه کی دی او پوره دے الله تعالیٰ ذمه وار۔

تفسیر : ربط : مخکی ئے د یهودیانو د اعتراض جواب ورکړو او هغوی ئے په خپل اعتراض کی پړه کړل، نو اُوس خصوصی خطاب نصاراؤ ته کوی او هغوی ته د هغوی په کفر او ضلال باندے زجر ورکوی۔ (قاسمیؒ)

یا پدے کی د اهل کتابو (یهود او نصاراؤ) سره خطاب دے چه دوی یو په رسول الله ﷺ باندے اعتراض کولو او عقیدے ئے غلطے وے نو په حق اعتراض او د حق په خلاف غلطے عقیدے ئے لرلے۔ د الله د توحید او د عیسیٰ علیه السلام په باره کی د یهود او نصاراؤ دواړو عقیدے خرابے وے نو پدے کی د هغوی اصلاح او مونږ ته تنبیه راکړے شویده چه د هغوی په شان غلطے عقیدے اختیار نکړو۔

لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ : قرآن کریم کی دا جمله دوه کرته راغلے ده، یو دلته او بل سورة المائده کی او دا ډیره عجیبه قانون او قاعده ده۔

د غلو څه معنی ؟

لَا تَغْلُوْا : دا د غلو نه اخستے شویدے، امام راغبؒ لیکی چه غلو په هغه وخت کی هم استعمالیږی چه کله په نرخ کی زیاتوالے پیدا شی لکه عرب وائی : (غَلَا السِّعْرُ) نرخ (ریټ) زیات شو۔ او غلو دیته هم وائی چه څوك د یو شی د رتبی (مرتبے) په لوی والی کی د حد نه تجاوز وکړی او د استحقاق نه پورته مرتبه ورکړی۔

د غلو مصداقات

(۱) سیوطیؒ په الدر المنثور کی د قتادهؒ نه ددے یو مصداق دا بیان کړیدے : [لَا تَبْتَدِعُوْا فِیْ دِیْنِکُمْ] یعنی په دین کی عقیدوی او عملی بدعات (نوی کارونه) مهٔ پیدا کوئ۔ دا مصداق صحیح دے ځکه چه اهل بدعت اهل غلو دی لیکن ناقص دے او په آیت کی ددے نه هم زیات عموم دے۔

(۲) ظاهر دا ده چه غلو په دوه قسمه ده ۱ -: غلو بالافراط۔ لکه د اشخاصو په مرتبه کی زیادت پیدا کول، یا د مسائلو په حکمونو کی د حد نه تیروتل، یا څیزونه د خپل حد نه پورته کول۔ ددے مثال روستو راځی۔ ۲ - دویم غلو بالتفریط : دا ده چه یو شخص د خپلے مرتبے نه راخکته کول، او دارنګه د اقوالو او اعمالو او د اشیاؤ د خپلو مرتبو نه راخکته کول، نو دلته غلو دے دواړو ته شامل ده چه په دین کی غلو مهٔ کوئ یعنی مهٔ افراط (زیاتے پیدا) کوئ او مهٔ تفریط (کمے پیدا) کوئ۔ کما فی البغوی)

فائده ۱ : دلته یوه قاعده ده چه بنده ئے وپیژنی نو عقیده، نظریه، ذهن سازی او عدل په بنده کی پیدا کوی او هغے ته حفظ المراتب وائی۔ یعنی د هر چا او د هر عمل او د هر شی خپله خپله مرتبه پیژندل او هغه محفوظه ساتل، د چا چه کومه درجه ده هغه درجه ورکول، همدغه عدل او انصاف او همدغه حق پرستی ده، او که څوك حفظ المراتب ونکړی، یو تن د خپلے مرتبے نه واړوی یائے راښکته کړی، نو دا انسان لاړو په غلو کی واقع شو۔ نو د یو شخص، قول، عمل او مکان او مرتبه دے ونهٔ پیژندله نو دا غلو شوه۔ نو پدے آیت کی د حفظ المراتب قانون ذکر دے۔

فائده ۲ : د شیطان دوه جالونه دی یو افراط او بل تفریط۔ علماء وائی فَبِأَيِّهِمَا ظَفِرَ فَرِحَ۔ شیطان چه پدے دواړو کی په هر یو کامیاب شو نو خوشحاله وی، ځکه په دواړو طریقو

سره بنده د دین نه اوړی او د الله په مخالفت کی واقع کیږی۔ افراط مرض د اهل بدعو دے او تفریط مرض د فاسقانو دے۔ افراط والا یهودیان وو او تفریط والا نصاریٰ وو۔

او کله په یو سړی کی دواړه راجمع کیږی، تیزو مزاجونو والا کی افراط زیات راځی ځکه چه شیطان ډیر هوښیار دے چه د چا مزاج کی تیزی وی نو په هغه باندے افراط (زیاتے) کوی، په مسئلو کی افراط، په فتوو کی افراط، په اشخاصو کی افراط راولی۔

او چه د چا په مزاج کی سستوالے او نرمی وی نو په هغه باندے تفریط (کوتاهی) کوی، د الله د حدودو نه ئے رابنکته کوی۔ نو پدے وجه شریعت زمونږ نه اعتدال غواړی او زمونږ دین وسط (درمیانه دے) په مابین د یهودیت او نصرانیت کی، او د اعتدال سره د الله مدد وی نۀ د افراط او تفریط سره۔

د افراط او تفریط مثالونه

ددے په دین کی ډیر زیات مثالونه دی، ځینی مثالونه د پوهے دپاره لاندے ولولئ:

۱- د اشخاصو په مراتبو کی افراط تفریط داسے کیږی چه یو تن د یو نبی نه اِلٰه جوړ کړی لکه څنګه چه نصاراؤ دا کار کړیدے چه د عیسٰی علیه السلام سره ئے مینه دومره حد ته ورسیده چه د هغه په باره کی ئے قِسم قِسم عقیدے پیدا کړے چه هغه ته ئے اِلٰه یا ابنُ الله یا ثالث ثلثة درے عقیدے جوړ کړے۔ یعنی عین الله دے، یا د الله ولد دے یا درے آلهه دی، الله، روح القدس او عیسیٰ علیه السلام۔ نو د عیسیٰ علیه السلام مرتبه ئے د نبوت او بندګئ نه اُلوهیت ته وخیژوله نو پدے سره غلو والا وګرځیدل۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم دے خبرے ته اشاره کړے وه۔ بخاریؒ د سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل: [لَا تُطْرُوْنِیْ کَمَا أَطْرَتِ النَّصَارىٰ عِیْسَى ابْنَ مَرْیَمَ] زما په صفت کی د حد نه تیروتل مۀ کوئ لکه څنګه چه نصاراؤ د عیسیٰ بن مریم (علیه السلام) په باره کی کړی وو، زۀ د الله بنده یم، پدے وجه ما ته د الله بنده او د هغه رسول وایئ۔

پدے حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم امت مسلمه ته دا خبردارے ورکړو چه په کومه بیمارئ کی نصاریٰ اخته شویدی په هغے کی دوی اخته نشی۔ نصاراؤ عیسیٰ ابن مریم د نبوت د مقام نه پورته کړے وو او د اُلوهیت مقام ته ئے رسولے وو او هغه ته ئے د الله ځوی وئیلے وو حال دا چه الله هغه د مریم د خیټے نه په غیر د پلار نه د آدم علیه السلام په شان پیدا کړے وو او د خپل کامل قدرت دپاره ئے یوه نښه جوړه کړے وه۔ هغه د الله بنده او رسول وو۔ ددے نه

زیات د دوی حیثیت نهٔ وو۔ لیکن ددهٔ منونکو ددهٔ نه خپل معبود جوړ کړو۔

دوی په دین کی رهبانیت او د ښځو نه جدائی ایجاد کړیده او عیسیٰ علیه السلام ته ئے د الله مقام ورکړو بلکه خپل علماء او راهبان ئے خپل معبودان جوړ کړل،

لکه چه الله فرمائی : ﴿اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ چه دوی خپل علماء او راهبان معبودان جوړ کړل۔

افسوس دے چه رسول الله ﷺ د کومے خبرے نه یریدو نو همغه اُوشوه، ډیر د اسلام دعویٰ کونکو رسول الله ﷺ ته د الله مقام ورکړو او همغه ئے حاجت روا، مشکل کشا او همغه ئے هر څه اُوګڼړلو کوم چه د الله په قدرت او د همغه په صفاتو کی داخل دی او نعوذ بالله (د کفر نقل کول کفر نهٔ وی) دا آواز ئے اُوکړو ۔

وہی جو مستوی عرش تھا خدا ہو کر اُتر پڑا ہے مدینہ میں مصطفیٰ ہو کر

همغه الله چه په عرش مستوی (برابر) وو چه مدینے ته راکوز شو نو مصطفیٰ ترے جوړ شو) استغفر الله استغفر الله۔

او دا کار زمونږ په امت کی بریلیان وغیره کوی چه هغوی د محمد رسول الله ﷺ دومره صفتونه کوی چه همغه د رسالت او عبدیت نه الوهیت درجے ته ورسوی۔ کله وائی ((احمد احد سے جدا نہیں))۔ احمد د الله نه جدا نهٔ دے (وحدة الوجود عقیدے والا دی)

کله وائی : ((که الله راونیولے نو محمد (ﷺ) به دِے خلاص کړی او که محمد ونیولے نو هیڅوك خلاصونكے نشته))۔ (العیاذ بالله)۔

ځینی ملیان پکی داسے هم وائی چه د قیامت په ورځ به د رسول الله ﷺ او د الله تعالیٰ جګړه شی (العیاذ بالله) الله تعالیٰ به خلك جهنم ته ګوزاری او محمد (ﷺ) به ئے بهر راکاږی نو پدے کی به پرے محمد (ﷺ) غالبه شی او د اُور نه به ئے خلاص کړی))

داسے قسم بی هوده خبرے کوی او د خلکو په زړونو کی د الله نه نفرت اچوی او د همغه په شان کی ګستاخی کوی۔ حال دا چه د شفاعت مطلب خو دغه نهٔ دے، بلکه په شفاعت کی خو ټول کمال د الله تعالیٰ دے، د شفاعت فائده دا ده چه د الله تعالیٰ عظمت او د همغه اکرام خپلو انبیاؤ لره او په مجرمانو بندګانو باندے رحم مقصد دے او دا ټول د الله تعالیٰ صفتونه دی چه د همغه په بندګانو رحمت او شفقت دے چه د رسول الله ﷺ شفاعت ئے مقرر کړیدے او د قبلولو وعده ئے کړیده اګرکه پدے کی د رسول الله ﷺ اکرام او عزت او کمال هم شته لیکن اصل کمال د الله تعالیٰ دے۔

۲- مثال : یو تن ووائی چه که د دنیا ټول دریابونو نه سیاهی جوړه شي او د ونو نه قلمونه او د صحابه کرامو (رضوان الله علیهم اجمعین) صفتونه پرې لیکل شروع شي نو ختم به نشي. نو دا هم د غلو یو صورت دے ځکه چه دا صفت الله تعالیٰ صرف د خپل ځان دپاره ثابت کړیدے نۀ د مخلوق دپاره لکه سورة لقمان (۲۷) کي راغلی دے. ﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ ﴾

۳- اهل التقلید هم د علماؤ مجتهدینو په باره کي غلو وکړه، ائمه کرامؒ د مبلغینو او علماؤ په درجه کي دي په امت باندے ئے ډیر لوی احسان دے او ددے احسان منل لازم دي چه د خپل وس مطابق ئے په دین عمل کړے او امت ته ئے بیان کړے، لیکن اهل تقلید راولګیدل د ټول امت علماء ئے پریښودل صرف د یو عالِم پورے ونښتل، او هغه ئے په ټولو باندے بلکه په صحابه کرامو باندے داسے اُوچت کړو چه بیخي خطائي هم ورله نۀ مني، تۀ به وائے چه دا نبي دے او عالِم مجتهد نۀ دے، دا خبره هیڅکله نۀ برداشت کوي چه وویل شي چه امام ابوحنیفهؒ د امت یو مجتهد عالِم دے او خطائي هم ترے کیدے شي، یا ترے پدے فلانئ مسئله کي اجتهادي خطائي شویده. دے ته غلو وائي، په یو عالِم باندے داسے ښه ګمان جوړ شي چه د هغه غلطو خبرو ته هم ښه وائي، او د امت نور علماء ورته هیڅ نۀ ښکاره کیږي تۀ به وائے چه هغه ګنے د یهودو یا نصاراؤ علماء دي. او دغه یو عالِم دومره پورته کړي چه د هغه د قول دپاره په حدیث کي تاویل او تحریف کوي حال دا چه دا د چا تاوان دے؟! امام ابوحنیفهؒ ترے خبر هم نۀ دے او دۀ پرے ځان غرق کړو. الله تعالیٰ به درنه د قرآن او حدیث تپوس کوي نۀ د یو عالِم د تقلید په باره کي.

په الدر المختار او رد المحتار کي د امام ابوحنیفهؒ په باره کي داسے غلو شویده، وائي چه یوه ورځ کعبے ته ننوتو او په یوه خپه باندے ئے نیم قرآن او بیا په بله خپه باندے ئے نیم قرآن ولوستو او دا یوه خپه ئے راواخسته او په بله ئے کیخوده او بیا ئے وویل :

مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ وَلٰكِنْ عَرَفْنَاكَ حَقَّ مَعْرِفَتِكَ.

اے الله ! مونږ ستا لائق عبادت ونکړو لیکن ستا لائق معرفت مو وکړو. نو د بیت الله د یو ګوټ نه ورته آواز وشو.

[یَا أَبَا حَنِيفَةَ ! قَدْ عَرَفْتَنَا حَقَّ الْمَعْرِفَةِ وَخَدَمْتَنَا فَأَحْسَنْتَ الْخِدْمَةَ، قَدْ غَفَرْنَا لَكَ وَلِمَنِ اتَّبَعَكَ مِمَّنْ كَانَ عَلٰى مَذْهَبِكَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. (رد المحتار ۱/۱۲۴ مقدمة)

اے ابوحنیفهؒ ! تا مونږ په ډیر لائق پیژندلو سره وپیژندلو او زمونږ ډیر ښائسته خدمت

دِے وکړو نو مونږ تهٔ هم وبخښلے او هغه څوك هم چه ستا په مذهب باندے تر قیامته پورے وی۔ دا د (وَغَرَّهُمۡ فِيۡ دِيۡنِهِمۡ مَا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ) بعینه مصداق دے۔ نو د احنافو دِے مبارك شی چه ټول وبخلے شو۔ دا هغه د یهودو او نصاراؤ غلو ده چه ځان ته به ئے جنتیان ویل۔

٤- د اولیاؤ په باره کی خو ډیره زیاته غلو شویده، ځینی صوفیاء خپلو استاذانو ته حضرتِ اقدس وائی یعنی هغه شخص چه انتهائی پاك وی، او هیڅ ګناه ترے نهٔ وی شوی۔ او کله د اولیاؤ د قبرونو نه فیوضات حاصلول، او د هغوی د قبرونو کانړی په خپل ځان راښکل چه پدے کی برکت دے او د هغوی قبرونو باندے شالونه اچول او شمعے لګول او هغوی باندے عرسونه او چهلمونه کول دا ټول غلو ده۔ د اولیاؤ منل خو دا نهٔ دی چه انسان د هغوی بندګی شروع کړی، سجدے ورته ولګوی بلکه د اولیاؤ منل دا دی چه بندګان د هغوی په شان نیك عمل وکړی او د هغوی په شان د الله تعالیٰ نزدے بندګان جوړ شی۔

٥- غلو په اعمالو کی داسے ده چه یو شے مستحب وی او یو انسان ئے په ځان باندے فرض کړی، یو شے په شریعت کی لازم نهٔ وی او هغے ته لازم ووائی، لکه بعض خلك وائی چه سه روزه به خامخا لګوے ځکه چه په غیر ددے نه ایمان نهٔ جوړیږی۔

نو ټول بدعتونه او په عملونو کی افراطونه پدے کی داخلیږی، یو شی له دومره ډیر زور ورکول چه شریعت ورله نهٔ وی ورکړے دا هم غلو ده، لکه ځینی خلك د قرآن د درس په باره کی د الله په کتاب کی تحریف کوی وائی چه جهنمیان به په جهنم کی وائی :

﴿ لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ﴾ ارمان چه مونږ د قرآن درس آوریدلے وے۔ نو وائی چه څوك د قرآن درس ته نهٔ کینی هغه جهنمی دے، نو دا غلو ده، د قرآن درس آوریدل ډیر اَهم دی او ډیر لوی اجرونه او خیرونه پکی دی، لیکن دے ته نهٔ کیناستل د جهنم سبب نهٔ دے، بلکه پدے باندے که چا ایمان راوړو او ددے اعمال ئے خپل کړل نو دا هم مسلمان دے، اګرکه قرآن ئے وئیلے ئے هم نهٔ وی، البته د خیرونو نه محروم دے۔

د جهاد آیتونه په تبلیغ لګول یا بعض خلك د جهاد نه علاوه ټولو اعمالو ته غلط وائی، ځینی وائی چه پدے زمانه کی حجونه کول صحیح نهٔ دی ځکه چه جهاد فرض دے، دا هم غلو ده۔ ځکه چه په اسلام کی به په هره زمانه کی حج هم وی او جهاد به هم وی، او یو به د بل په وجه نهٔ پریدی۔ ځینی خلك ﴿ إِنَّ اللهَ يَـأۡمُرُكُمۡ أَنۡ تُؤَدُّوا الۡأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهۡلِهَا ﴾ آیت نه ووټونه ثابتوی او د جمهوریت تائید کوی، دا هم غلو ده۔

٦- غـلـو پـه صـورت د تفريط کې دا ده چه يو تن د انبياؤ عليهم السلام درجه د نبوت نه راخـکـتـه کـړي او عـلـمـاء او اولـيـاء پـه هغوی باندے اُوچت کړي لکه بعض صوفياء وائي:

[نَحْنُ دَخَلْنَا الْبَحْرَ الْخِضَمَّ وَالْأَنْبِيَاءُ عَلٰى سَاحِلِهٖ]

مـونـږ (د مـعـرفت) ژور درياب ته ننوتي يو چه انبياء (عليهم السلام) د هغے په غاړه کې دي۔ دارنـګـه يـو تـن د صـحـابه کرامؓ درجه راښکته کړي او دوی ته بد ګوري او ځينو ته د کـفـر نسبتـونـه کـوی لـکـه شيـعـه ګان دا کار کوی نو دا هم غلو ده۔ يا د علماؤ په باره کې ووائـي چـه دوی پـه هـيـڅ نـهٔ پـو هـيـدل او زهٔ ښـه پو هيږم، يا د دين د مشرانو بې عزتي او سپکاوے کول او د علماؤ شان نهٔ پيژندل دا غلو في التفريط ده۔

لنډه دا چه دا ډيره عجيبه موضوع ده او يو مجلد کتاب پرے ليکلے کيږي۔

الله دِے د مسلمانانو په حال رحم اُوکړي، او د خالص توحيد په لاره دِے روان کړي او د قرآن او سنت رشتيني متبعين دِے جوړ کړي۔

وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ : يعني الله تعالىٰ باندے دروغ مهٔ جوړوئ هغه دپاره داسے صـفـات مـهٔ وايئ چه په هغے سره د هغه متصف کيدل محال وی لکه دا عقيده ساتل چه الله پـه خپـلـو مـخـلـوقـاتو کې حلول (نزول) کړيدے، دارنګه الله او بنده کې في الواقع فرق نشتـه، او هـغـه د خپـلـو بـنـدګانو سره متحد دے، يا دا عقيده ساتل چه د الله ښځه يا ځوی شتـه (الـعـيـاذ بـالله)، دارنـګـه الله تعالىٰ سره شريك جوړول، په الله باندے دروغ تړل دي، د الله صفات غير لره او د غير صفات الله لره ورکول، الله يو شے حلال کړے دے او دا وائي چه حرام دے، الله يو شے حرام کړيدے دا وائي حلال دے دا ټول تقول على الله دے۔

إِنَّمَا الْمَسِيْحُ : دا يـو خـصـوصي مثال راوړی چه د عيسىٰ عليه السلام په باره کې د نصاراؤ او د يهـودو عـقـيـده خـرابـه شـوے وه نو الله فرمائي : عـيـسىٰ ابن مريم صرف د الله رسول وو، الله هـغـه پـه غير د پلار نه او بغير د نطفے نه صرف په کلمه د (کُنْ) سره پيدا کړے، چه هغه ئے مريم بنت عمران ته د جبريل عليه السلام د پوکې په ذريعه اُورسولو او عيسىٰ يو روح وو، چه الله د نـورو تـمـامو مخلوقاتو د روحونو په شان پيدا کړے وو۔ او د روح نسبت الله خپل طرف ته د عـيـسىٰ عليه السلام د عزت دپاره کړيدے۔

بـعـض مـفـسـرينو ليکلي دي چه د روح نه مراد د مريم په ګريوان کې د جبريل عليه السلام هغه پـوکـے دے چـه د هـغـے پـه وجه سره د الله په حکم سره مريم حمل واخستو او هغه پوکې ته روح پـدے وجـه اُووئـيـل شو چه هغه يوه هوا وه چه د روح نه خارجه شوه، او ددے نسبت الله

خپل طرف ته پدے وجه کړیدے چه هغه د الله په حکم سره موجود شوے وو۔

وَ كَلِمَتُهٗ : عیسیٰ علیه السلام ته کلمه ځکه وائی چه دا په کلمه د کُنْ سره پیدا شویدے چه ظاهری څه اسباب ورسره ملګری نهٔ وو او نور خلك هم د الله مخلوق دے لیکن د هغے سره ظاهری اسباب ملګری وو۔

وَرُوحٌ مِنْهُ : دا هغه لفظ دے چه نصاریٰ پرے ګمراه شوی وو او دا به ئے ویل چه په قرآن کی دی چه عیسیٰ علیه السلام روح دے د الله نه، یعنی جزء دے د الله نه لکه څنګه چه روح جزء د بدن وی۔

مفسرینو ددے تقریباً اته جوابونه لیکلی دی، لکه قرطبی (۲۲/٦) روح المعانی (۲۵/٦) او زاد المسیر (۲۲۵/۲) وغیره ذکر کړیدی۔

(۱) مشهوره معنیٰ دا ده چه دا روح دے چه د جانبه د الله نه راغلے دے۔ نور ارواح هم د الله د طرفه دی، لیکن فرق دا دے چه کله الله تعالیٰ د آدم علیه السلام د شا نه د انسانانو روحونه راویستل او په یو ځای کی ئے واچول نو نور روحونه ئے بیرته د هغه شا ته ننویستل او د عیسیٰ علیه السلام روح ئے د ځان سره جدا وساتلو،

نو کله چه د مریم نه عیسیٰ علیه السلام پیدا کیدو نو د هغے خیټے ته ئے ورواچولو۔ نو ځکه (رُوْحٌ مِنْهُ) دے چه الله خصوصی د ځان سره ساتلے وو۔

(۲) یا دا اضافت تشریفی دے یعنی د عیسیٰ علیه السلام د روح د عزت دپاره الله تعالیٰ ځان ته نسبت وکړو۔ لکه بیت الله۔ کعبة الله۔ ناقة الله۔

(۳) روح کله په معنیٰ د رحمت سره وی لکه ﴿وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ﴾ او عیسیٰ علیه السلام د خپلو تابعدارو دپاره رحمت وو۔

(٤) روح کله په معنیٰ د برهان سره دے۔

(٥) روح کله په معنیٰ د حیاة سره وی یعنی الله سبحانه و تعالیٰ ژوندے کړے وو په خپل امر تکوینی سره۔

(٦) روح کله په معنیٰ مصدری سره استعمالیږی یعنی پوکے کول او الله تعالیٰ ته ئے نسبت وشو ځکه چه د الله په امر سره جبریل علیه السلام د مریم په ګریوان کی پوکے کړے وو او د هغے نه عیسیٰ علیه السلام پیدا شوے وو۔ (طبری ۷۰٤/۷)

د عیسیٰ علیه السلام د روح خصوصیات او امتیازات

یو خصوصیت خو مخکې په اوله وجه کې بیان شو۔

۲- دویم خصوصیت دا دے چه نور روحونه په هغو بدنونو کې حلول کوي چه اصل ئې د بل ژوندي نه اخستلے شوے وي مګر د عیسیٰ علیه السلام روح مبارك په داسې بدن کې ورننوت چه اصل ئې د بل ژوندي نه نۀ وو اخستلے شوے۔

۳- د عیسیٰ علیه السلام د روح په برکت سره به د خټې مرغۍ نه ژوندۍ مرغۍ جوړیده لکه آل عمران کې تیر شوي وو او المائده (۱۱۰) کې به راشي۔

٤- د عیسیٰ علیه السلام روح د هغه د بدن سره ډیره اوږده موده پورے وخت تیروي چه دغه شان د هیچا روح د هغه د بدن سره دومره اوږده زمانه نشئ پاتے کیدے تردے چه عیسیٰ علیه السلام اُوس هم ژوندے دے او قیامت ته نزدے وخته پورے به ژوندے وي۔

٥- قیامت ته نزدے به د عیسیٰ علیه السلام روح داسې وي چه د هغه په تنفس (ساه اخستلو) سره به د ډیرو ژوندو خلکو نه روحونه وځي کافران به وژل کیږي او د هغه تنفس به هغه ځای ته رسیږي کوم ځای ته چه د هغه نظر رسیږي۔ (صحیح مسلم : ۷۵٦۰)

عجیبه قصه

یو نصراني طبیب د هارون رشید په مجلس کې د علي بن الحسین الواقدي المروزيّ سره مناظره کې وویل چه ستاسو په کتاب کې دي چه عیسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ جزء (یعني ولد) دے د (رُوحٌ مِنۡهُ) لفظ نه ئې دلیل ونیولو۔ نو هغه سلفي عالم ددۀ په جواب کې وفرمایل : چه که خبره داسې وي نو بیا به ددے آیت سره څه کوے ﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَا فِي السَّمٰوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِنْهُ﴾ (الجاثیه : ۱۳)

یعني الله تعالیٰ ستاسو دپاره تابع ګرزولي هغه څیزونه چه په آسمانونو او زمکه کې دي دا ټول د الله د طرفنه دي۔ نو دلته هم (مِنۡهُ) لفظ راغلے دے نو آیا د آسمان او زمکے ټول څیزونه د الله نه جزء دے ؟! نو پدے سره هغه نصراني پړ شو او مسلمان شو او هارون رشید دغه عالِم ته لوی انعام ورکړو۔ (روح المعاني)

فَآمِنُوا بِاللهِ وَرُسُلِهِ : یعني کله چه د عیسیٰ علیه السلام د پیدائش حقیقت معلوم شو او دا هم معلومه شوه چه هغه د الله رسول وو، نو بیا ایمان وساتئ چه الله یواځے دے، د هغه ښځه یا ځوی نشته، او عیسیٰ علیه السلام د الله بنده او د هغه رسول وو، پدے وجه دا مۀ وایئ چه الله د (الله، مسیح او مریم) درے واړو د مجموعے نوم دے۔

وَلَاتَقُولُوا ثَلَاثَةٌ : اَیْ لَاتَقُوْلُوا الآلِهَةُ ثَلٰثَةٌ۔ یعنی داسې مهٔ وایئ چه آلِهَه درې کسان دی۔ پدې کی د عیسیٰ علیه السلام په باره کی د نصاراؤ درې قسمه ډلو او عقیدو ته اشاره کوی۔

انتَهُوا خَيْرًا : اَیْ اِنْتَهُوا عَنِ التَّثْلِيْثِ وَاْتُوْا خَيْرًا لَّكُمْ۔ تاسو د درې والی د عقیدې نه منع شئ او هغه شی ته راتلل وکړئ چه ستاسو دپاره غوره وی چه هغه خالص توحید دې۔ یا (خیرا) نه مخکی (یَكُنْ) پټ دې اَیْ يَكُنْ خَيْرًا لَّكُمْ۔ یعنی دا به ستاسو دپاره غوره وی۔

فائده : حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه د نصاراؤ د کفر هیڅ حد نشته او نهٔ د هغوی د ګمراهیانو څه انتهاء شته، د هغوی نه څه خلق عیسیٰ علیه السلام ته د الله ځوی وائی۔ د عیسایانو ډیرې ډلې دی چه د هغوی مختلفې رائې او متناقض اقوال دی۔

د هغوی ددې فکری تناقض او تباین د وجه نه بعض متکلمینو وئیلی دی چه که لس نصرانیان په یو ځای راجمع شی نو د دوی به خپل مینځ کی د اختلاف په وجه یولس مختلف اقوال پیدا شی۔

د اسلام علماؤ د عیسایانو د تثلیث عقیدې پوره رد کړیدې او ثابته کړې ئې ده چه دا عقیده د عقل او منطق خلاف ده۔ پدې وخت کی په امریکه او برطانیه وغیره کی داسې ډیر عیسایان موجود دی چه عیسیٰ علیه السلام حقیقی معبود نهٔ ګڼړی بلکه د هغوی عقیده ده چه حقیقی معبود صرف یو الله دې۔

پدې وجه الله تعالیٰ عیسایان مخاطب کړل ورته ئې اُووئیل چه تاسو د تثلیث عقیدې نه منع شئ، پدې کی ستاسو دپاره خیر دې، ځکه چه معبود صرف یو الله دې، هغه ددې عقیدې نه اُوچت او پاك دې چه د هغه څوك ځوی شی، ځکه چه د آسمان او زمکې هر شې د هغه ملکیت دې نو دا څنګه کیدې شی چه د هغه مملوك او مخلوق د هغه یو جزء جوړ شی؟! د ټولو مخلوقاتو معاملات الله تعالیٰ ته حواله دی، او هغه د ټولو نه غنی او بې حاجته دې نو دا څنګه کیدې شی چه هغه چا لره خپل ځوی جوړ کړی، ځوی خو د هغه چا وی چه عاجز او کمزورې او محتاج وی، او په تدبیر او حفاظت د مخلوق کی یواځې پوره نهٔ وی، دې دپاره چه د هغه قائمقام جوړ شی او د هغه په شان تدبیر او حفاظت وکړی۔

نصاراؤ ته د تثلیث عقیده څنګه رانقل شوه؟

د عیسویت دین په اصل کی د نورو آسمانی دینونو په شان په توحید باندې روان وو او د

عیسیٰ علیه السلام آسمان ته د پورته کیدو نه روستو هم تر یو اتیا (۸۱) کالو پورے نصاریٰ په توحید باندے روان وو (القرطبی) او تردے چه نن ورځ هم دوی خپل ځانونه موحدین گنړی او د مشرکانو نوم ورته بد ښکاری۔ د تثلیث عقیده دوی ته ځینو مشرکانو (بت پرستانو) ورنقل کړه کله چه هغوی د نصرانیت دین قبول کړو او خپل ځانونه ئے نصاریٰ معرفی کړل۔ (تفسیر المنار)

د نصاراؤ چه په عقیده کی څومره اختلافات دی، دا په ټوله دنیا کی په بله هیڅ یوه عقیدوی ډله کی نهٔ موندل کیږی پدے وجه څوك چه پدے عقیدو کی اخته وی، نو ډیر پریشانه وی ځکه چه توحید یو فطری دین دے، ددے نه اوړیدو سره بنده په ډیرو گندونو او مشکلاتو کی اخته کیږی، پدے وجه الله تعالیٰ نصاراؤ ته دعوت ورکړو چه تاسو د تثلیث د عقیدے نه منع شئ دے کی به ستاسو دپاره فائده وی، د فطرت په دین به روان شئ او د ډیرو مشکلاتو او وهمونو نه به خلاص شئ۔

تثلیث والا عقیده کی ډیرے ډلے وے۔ O ځینی وائی چه معبودان درے دی (۱) الله، (۲) روح القدس (۳) عیسیٰ علیه السلام۔ O او ځینی وائی (۱) الله، (۲) بی بی مریم (علیها السلام) (۳) او دریم معبود عیسیٰ علیه السلام دے۔ O او ځینی وائی چه د اقانیم ثلاثه ؤ نه اله مرکب دے او د عیسایانو په کتابونو کی ښکاره عبارتونه موجود دی چه هغوی به وئیل (۱) عیسیٰ ابن الله دے۔ او هغه بعینه الله (معبود) هم دے۔ (۲) او مریم ام الله ده (عیاذا بالله د الله مور ده یائے بی بی ده) O او ځینی د اقانیم ثلاثه نه داسے تعبیر کوی چه دا اب، ابن او روح القدس دے، اب الله دے او ابن هم الله دے او روح القدس هم الله دے۔

او دوی وائی چه دا درے واړه په قوت، عظمت، ازلیت او په هر شی کی سره یو برابر دی۔

او دا هم وائی چه موتږ پدے حقائقو باندے په ښه شان نهٔ پوهیږو ځکه چه دا داسے رازونه دی چه د عقل او د ادراك بشری (انسانی علم) نه پورته دی۔ (محاسن التاویل ۲/۶۱۱)

شیخ رحمة الله الهندی الکیرانویؒ په (اظهار الحق) کتاب کی د عیسیانو د عقائدو تفصیل او د هغے ردونه په ډیر جامع ترتیب سره کړیدی که څوك شوق لری هغے ته دِے رجوع وکړی۔ دارنګه «الجواب الصحیح لمن بدل دین المسیح» د شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ او «هدایة الحیاریٰ» د ابن القیمؒ۔ «مناظرة بین السلام والنصرانیة» لنخبة من العلماء۔ دارنګه «مع زمیلی المسیح» کتاب وګوره۔

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ أَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا
هیچرے بد نۀ گنڑی (نفرت نۀ کوی) مسیح (علیه السلام) ددے نه چه شي بنده د الله دپاره او نۀ
الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ
ملائك نزدے (الله ته) او څوك چه نفرت کوی د عبادت د الله تعالیٰ نه او ځان لوئی گنڑی
فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿۱۷۲﴾
(نو عذاب به ورکړی) نو زر دے چه جمع به کړی دوی لره الله تعالیٰ خپل ځان ته ټول۔

تفسیر : پدے آیتِ کریمه کی د الله تعالیٰ د طرف نه د عیسیٰ علیه السلام دپاره د عیسایانو د باطلے عقیدے په خلاف لویه گواهی ده چه هغه د الله د بنده کیدو نه کله منکر کیدے شی، د الله دپاره عبودیت خو هغه عزت او شرافت دے چه په هغے باندے هغه نازکوی۔ همدا گواهی الله تعالیٰ د مقرب ملائکو دپاره هم ورکړیده چه دوی هم د الله په عبودیت باندے ناز کوی، او پدے کی په مشرکین بالملائکه باندے رد مقصود دے۔

او بل رد دے په نصاراؤ باندے چه لکه څنګه چه عیسیٰ علیه السلام بی پلاره پیدا شویدے نو ملائك هم بغیر د مور او پلار نه پیدا شویدی، نو هغوی په پیدائش کی د عیسیٰ علیه السلام نه ډیر ناشنا دی نو که عیسیٰ علیه السلام پدغه صفت سره اله گرځی نو بیا خو پکار ده چه ملائك هم آلهه وګرځی۔ (ابن عادلؒ والآلوسیؒ)

پدے سره دا اشکال ختم شو چه دلته ترقی د اعلیٰ نه ادنیٰ ته شویده ځکه چه په نیز د اهل السنة والجماعة ملائك خو د انبیاء علیهم السلام نه افضل نۀ دی۔

نو جواب وشو چه پدے کی رد دے په مشرکانو چه هغوی به د ملائکو عبادت کولو او هغه به ئے د الله لونړه گنړلے او د انبیاء علیهم السلام نه به ئے هم افضل گنړل نو د هغوی د عقیدے مطابق وویل شو چه تاسو کوم خلك افضل گنړئ هغه هم د الله د بندگئ نه انکار نکوی۔ دارنگه دا د ملائکو جزئی فضیلت دے چه بی پلاره او بی موره پیدا شویدی او عیسیٰ علیه السلام صرف بی پلاره پیدا دے۔

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ : کله چه د عیسیٰ علیه السلام په باره کی صحیح حقیقت ښکاره شو نو نصاراؤ وویل چه تاسو عیسیٰ علیه السلام ته بنده او رسول وویلو دا خو د هغه بی عزتی ده نو الله تعالیٰ په هغوی باندے رد وکړو چه عیسیٰ علیه السلام خو د الله په بنده کیدو باندے فخر کوی۔

لکه دا کار په هره زمانه کی د باطل پرستو دے چه کله د یو عالِم اصلی حقیقی حالت بیان کرے شی او د هغه لائق صفت وکرے شی، نو دوی وائی چه دا خو د دغه عالِم بی عزتی ده مثلًا داسے وویل شی چه قبرونو والا اولیاء څه نشی کولے، یا علماء مجتهدینؒ علماء کرام دی، د دین خادمان دی، دوی نه به پیغمبران نهٔ جوړوئ، نو دوی وائی چه دا خو د اولیاؤ او علماؤ بی عزتی ده۔

استنکاف: د نکف نه دے او نکف په معنیٰ د لرے کول او نفرت کولو سره، او استنکاف په عرف کی انکار کول دی په طریقه د نفرت سره۔ یعنی که عیسیٰ علیه السلام او ملائك مقربون ته دا وویل شی چه دوی د الله بندګان دی، نو دوی ددے خبرے نه انکار او نفرت نهٔ کوی ځکه چه دا د دوی په شان کی حقیقت دے او د حقیقت نه هغوی انکار نکوی بلکه عیسیٰ علیه السلام به خپله ځان ته (عبد الله) ویلو۔ البته په مشرکانو باندے دا خبرے بدے لګی۔

او مخلوق ته عبد (بنده) ویل د هغوی په شان کی ښائسته نوم او صفت دے۔ او پدے کی اشاره ده چه هر کله عیسیٰ علیه السلام د الله د بنده کیدو نه نفرت او انکار نکوی نو دا لازمه ده چه هغه به د الله تعالیٰ همیشه بندګی کوی۔

وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ: اُوس خبره عامه کوی چه بندګی د هر بنده د شرافت او عزت صفت دے پدے وجه که څوك ددے عزت والا صفت نه انکار کوی او ځان لوی ګڼړی نو الله به سزا ورکړی۔

فائده: د عبادت پریخودل په دوه قسمه دی (۱) علی سبیل النفرة والاستکبار۔ چه د الله د عبادت نه نفرت وکړی، یا ترے ځان لوی وګڼړی۔ لکه مونځ پورے استهزاء کول، او ددے نه نفرت کول، نو دا کفر دے (۲) عَلٰى وَجْهِ الْكَسَل۔ د سستوالی د وجه نه د بنده نه عبادات پاتی شی نو دا معصیت او ګناه ده مګر کفر نهٔ دے۔ پدے وجه الله تعالیٰ د يَسْتَنْكِفُ نه روستو (يَسْتَكْبِرُ) لفظ ذکر کړو۔

د استنکاف او استکبار فرق

۱- د لغت په اعتبار سره دواړه په معنیٰ کی تفاوت لری، لیکن دلته يَسْتَكْبِرُ عطف تفسیر دے دپاره د (يَسْتَنْكِفُ) لکه دا معنیٰ د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت شویده۔ (ابن کثیرؒ)

(۲) استنکاف دے ته وائی چه د یو کار نه د نفرت کولو سره هغه پریدی، یعنی هغه ورته

ناکاره او بد بنکاره کیږی، او استکبار دے ته وائی چه یو کار پریدی، پدے وجه چه ځان ترے لوی ګنړی اګرکه هغه کار فی نفسه بد نهٔ ګنړی لیکن صرف ځان ترینه لوی ګنړی، نو استنکاف کی د استکبار نه معنیٰ زیاته ده۔ او هرکله چه د توحید او د الله د طاعت او بندګئ نه انکار کونکی دغه دوه قسمه خلك وی پدے وجه ئے دا دواړه الفاظ راوړل۔

وَمَنۡ یَّسۡتَنۡکِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهٖ وَیَسۡتَکۡبِرۡ : یعنی څوك چه د الله د عبادت نه مخ واړوی او د کبر او غرورنه کار واخلی نو الله به دوی د قیامت په ورځ د وعدے مطابق راجمع کوی او د دوی په باره کی به خپله عادلانه فیصله کوی۔ (وَمَنۡ یَّسۡتَنۡکِفۡ) شرط دے او (فَسَیُعَاقِبُهُمۡ) (زردے چه سزا به ورکړی) ئے جزا ده۔ او فَسَیَحۡشُرُهُمۡ ئے بیان دے۔

فَأَمَّا الَّذِیۡنَ آمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَیُوَفِّیۡهِمۡ
پس هر چه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے او نیك عملونه ئے کړیدی نو پوره به ورکړی دوی ته
أُجُوۡرَهُمۡ وَیَزِیۡدُهُم مِنۡ فَضۡلِهٖ وَأَمَّا الَّذِیۡنَ
اجرونه د دوی او زیاتی به ورکړی دوی ته د خپلے مهربانئ نه او هرچه هغه کسان دی
اسۡتَنۡکَفُوۡا وَاسۡتَکۡبَرُوۡا فَیُعَذِّبُهُمۡ
چه نفرت ئے کړے (د عبادت د الله نه) او ځان ئے لوئی ګنړلے دے نو عذاب به ورکړی دوی ته
عَذَابًا أَلِیۡمًا وَلَا یَجِدُوۡنَ لَهُمۡ مِنۡ دُوۡنِ اللهِ وَلِیًّا وَلَا نَصِیۡرًا ﴿۱۷۳﴾
عذاب دردناك او نهٔ به مومی دوی د خپل ځان دپاره سویٰ د الله نه دوست او نهٔ مددګار۔

تفسیر : په تیر شوی آیت کی د الله د عبادت نه مخ اړونکو ته یو قسم دهمکی ورکړے شویده، نو پدے آیت کی ایمان او عمل صالح کونکو ته دا زیرے ورکړے شویدے چه الله به دوی ته د دوی د نیکیانو پوره پوره بدله ورکوی۔

وَیَزِیۡدُهُم مِنۡ فَضۡلِهٖ : ۱- یو نیکی یو په لسه او یو په اُووه سوه چنده به ورکړی۔

۲- رُؤۡیَةُ اللّٰهِ فِی الۡجَنَّةِ ۔ یعنی زیاتی مهربانی د الله دا ده چه په آخرت کی به الله تعالیٰ ورته خپل ملاقات نصیب کړی۔

او د مؤمنانو حال ئے مخکی بیان کړودے دپاره چه د کافرانو د هغوی په لیدو سره حسرت او افسوس نور هم زیات شی۔

وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ کی اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام او ملائك تاسو نشي خلاصولے او نۀ ستاسو مدد کولے شي ځکه هغوی ستاسو دوستان نۀ دی اے مشرکانو!۔

يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَ كُمْ بُرْهَانٌ مِنْ رَّبِّكُمْ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ

اے خلقو! یقیناً راغلے دے تاسو ته یقیني دلیل د طرفه د رب ستاسو نه او رالیږلے دے مونږ تاسو ته

نُوْرًا مُبِيْنًا ﴿١٧٤﴾ فَأَمَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ

رڼا ښکاره ۔ پس هرچه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړے په الله او مضبوط ئے ونیولو دا قرآن

فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ وَ

نو زر دے چه داخل به کړی دوی لره په رحمت کی د خپل طرف نه او په مهربانئ کی او

يَهْدِيْهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُسْتَقِيْمًا ﴿١٧٦﴾

روان به کړی دوی لره خپل ځان طرف ته په لاره نیغه (یا وبه ښائی دوی ته خپل طرف ته لاره برابره)

تفسیر: په آخر کی الله تعالیٰ قرآن کریم ته ترغیب ورکوی او ایمان والو ته زیرے ورکوی یعنی د کافرانو د ټولو ډلو د عقیدو د رد کولو نه روستو الله تعالیٰ ټولو انسانانو ته د رسول الله ﷺ په رسالت باندے د ایمان راوړو دعوت ورکړو، او وے وئیل چه ددۀ د نبوت په رشتین والی دلیل تمام شو او حق ښکاره کونکے نور (قرآن کریم) راغلو۔ نو اُوس چه کوم خلق په الله ایمان راوړی او په خپلو ټولو کارونو کی په الله بهروسه کوی، نو الله به د هغوی په حال رحم کوی او هغوی به جنت ته داخلوی او د هغوی درجات به پورته کوی او نیغے لارے طرف ته به د هغوی لارخودنه کوی۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه د مؤمنانو په دنیا او آخرت کی دا امتیازی شان وی چه دوی په دنیا کی په عقیده او عمل کی په نیغه لاره روان وی، او په آخرت کی به الله تعالیٰ دوی په نیغه لاره روانوی کومه چه جنت طرف ته تلے ده۔

بُرْهَانٌ : ددے نه معلومه شوه چه قرآن کریم اَدِله قطعیه دی دے، ته ظني ویل تیك نۀ دی لکه چه ځینی متکلمینو دا جرأت کړیدے، او قرآني سُمعي ادله ؤ ته ئے ظني او ادله اقناعیه وئیلی دی۔ (شرح العقائد) سفیان ثوریؒ او ابن عباس رضی الله عنهما ته منسوب دی چه د برهان نه مراد رسول الله ﷺ دے ځکه چه د هغه بعثت او رسالت په منکرینو

باندے قطعي حجت دے۔
نُوْرًا مُبِیْنًا : ددے نه بعینه هم دا قرآن مراد دے، او د قرآن ډير نومونه دي۔ قرآن کريم د نور کتاب دے، ددے په وجه په زړونو او بدنونو کی رڼا اچوی او د قيامت په ورځ به هم د بنده مخے ته رڼا کوی۔
مُبِیْنًا : دا صفت ئے د زيات تاکيد دپاره راوړو چه د نورانيت د وجه نه هيڅ شکوك او شبهات د خلکو نهٔ پريدی۔
وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ : ۱- يعنی د الله دين ئے مضبوط راونيولو، (التحرير)
۲- يائے په الله بهروسه او توکل وکړو او د منافقانو په شان کارئے اختيار نکړو۔
۳- يا عَصَمُوْا بِهٖ اَنْفُسَهُمْ مِمَّا يُرْدِيْهَا مِنْ زَيْغِ الشَّيْطَانِ. (قاسمیؒ)
يعنی بچ ئے کړو ځانونه خپل په الله تعالیٰ سره د هغه څه نه چه دوی لره هلاکوی چه هغه د شيطان وسوسے او فريبونه دی۔ او دا معنیٰ د توکل او ځان سپارلو ده۔
٤- يا به ضمير قرآن ته راجع دے۔ يعنی ايمان ئے په الله راوړو او عمل ئے د الله په کتاب وکړو۔ مګر دويم قول ظاهر دے۔ ځکه چه مخکی سورت کی (واعتصموا بالله واخلصوا دينهم لله) تير شو۔ (البحر المحيط)

فِیْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ : د رحمت او فضل فرق

۱-رحمة اصل نعمت دے چه د حاجت مطابق وی، او فضل زياتی نعمت چه د حاجت نه زيات وی۔ ۲- يا رحمة د اُور نه بچ کول دی او فضل دا چه جنت ته به ئے داخل کړی۔
۳- يا رحمة په اسلام باندے باقی پريخودل دی او فضل جنت ته داخلول۔
٤- يا رحمت جنت ته داخلول دی، او فضل په جنت کی د الله تعالیٰ ملاقات او د هغه مخ ته کتل دی۔ (قاسمیؒ)
۵- يا رحمة د نيك اعمالو توفيق دے او فضل د هغے قبلول دی۔ (البحر المحيط)
ابن عاشورؒ وائی: په رحمة او فضل کی داخلول عبارت دے د رضا نه۔ يعنی دوی نه به الله راضی شی او الله تعالیٰ به دوی لره راضی کړی۔ (التحرير والتنوير)
وَيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا : ۱-اليه ضمير الله ته راجع دے۔ أَیْ وَيَهْدِيْهِمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا اِلَيْهِ ۔ په هغه لاره به ئے روان کړی چه هغه نيغه الله ته رسيدلے ده چه هغه جنت دے۔ يا په دنيا کی به ئے د هدايت په لاره روان کړی۔

یا (الیه) متعلق د (يَهْدِيهِمْ) پورے یعنی روان به کړی دوی لره په لاره نیغه دے دپاره چه ورسیږی الله تعالیٰ ته۔ چه دا د دوی ارمان او مقصد دے۔ (ابن عاشورؒ)

بیا هدایت ئے روستو کړو د رحمت او فضل نه سره ددے نه چه رحمت او فضل د هدایت په وجه ملاویږی نو دے کی څه حکمة دے؟

نو وجه دا ده چه دے دپاره چه د مؤمن زړه په جلتئ سره ډیر خوشحاله شي په اصلی مقصد باندے چه هغه رحمة او فضل دے۔ (قاسمیؒ)

۲- یا الیه ضمیر مخکی (فضل) ته راجع دے او د هدایت نه مراد د زړه رهنمائی ده او معنیٰ دا ده: روان به کړی دوی لره دغه فضل ته په لاره برابره۔ یعنی زړه به ئے نیك اعمالو طرفته راواړوی۔ لکه بل آیت کی دی: ﴿سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ﴾ (محمد: ٦)

ابوحیانؒ وائی دا ځکه چه هدایت مخکی دوی ته حاصل شویدے کله چه دوی په الله ایمان راوړو او په هغه باندے ئے منګولے ولګولے نو بناء پدے باندے به د صراط مستقیم نه مراد لاره د جنت وی۔ (البحر المحیط)

يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِي
تپوس کوی دوی ستا نه ته ورته ووایه! الله تعالیٰ حکم درکوی تاسو ته په باره
الْكَلَالَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ
د میراث د کلاله (میرات) کی که یو سړے مړ شي چه نۀ وی د هغه دپاره بچی او د هغه دپاره
أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ يَرِثُهَا
خور وی نو د هغے دپاره نیمائی دهغه مال دے چه هغه پریخے وی او دا ورور میراث به وړی
إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ فَإِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ
د ښځے (د ټول مال) که چرته نۀ وی د هغے دپاره بچے پس که چرته وی دا دواړه دوه خویندے
فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ وَإِنْ كَانُوا إِخْوَةً
نو وی به دے دواړو لره دوه دریمے د هغه مال نه چه پریخے وی دۀ او که وی وارثان ورونه او خویندے
رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ يُبَيِّنُ
نارینه او ښځے نو د نارینه دپاره په شان د حصے د دوه ښځو دے، بیانوی

اللهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا وَاللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾

الله تعالیٰ تاسو ته (احکام خپل) هسے نۀ چه ګمراه شئ او الله تعالیٰ په هر شی پو هه دے۔

تفسیر : پدے آیت کی میراث دے د اِخْوَه اَعْيَانِی (مور او پلار شریك) او علاتی (صرف پلار شریکی) ورونو۔ اخیافی (چه صرف په مور کی شریك وی) نو د هغوی حکم په ابتداء ددے سورت کی ذکر شویدے۔ یعنی پدے آیتِ کریمه کی د کلاله د میراث تفصیل بیان شویدے۔ د جمهورو علماؤ په نیز کلاله هغه مړی ته وائی چه د هغه نۀ اولاد وی او نۀ ئے والد (پلار) یعنی اصول او فروع نۀ لری او ورونه یا خویندے ئے وی لکه ددے آیت د الفاظو نه معلومیږی او ددے تشریح ددے سورت د آیت (۱۲) د تفسیر په ضمن کی تیره شویده۔

ربط : پدے کی د قرآن کریم د نورانیة بیان دے او رد دے په یهود او نصاراؤ باندے چه هغوی به ورونه او خویندے د میراث نه محرومولے۔

شان نزول

د سیدنا عمر فاروق ﷜ د کلاله په باره کی ډیر شك وو نو د رسول الله ﷺ نه ئے ددے د میراث په باره کی تپوس وکړو هغه جواب ورکړو لیکن ذهن ئے پرے کولاؤ نشو بیا ئے په سینه یا په اړخ کی په ګوته سره ووهلو او ورته ئے وفرمایل : تَكْفِيْكَ آيَةُ الصَّيْفِ۔ ستا دپاره هغه آیت کافی دے چه په اوړی کی نازل شویدے او دا آیت ﴿ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ ﴾ ئے ورته ولوستلو۔ (صحیح مسلم: ۱۶۱۷)

بخاریؒ او مسلمؒ ددے آیت د نازلیدو سبب دا ذکر کړیدے چه دا فتویٰ جابر بن عبد الله ﷜ د رسول الله ﷺ نه تپوسلے وه هغه فرمائی : زۀ مریض اُوم نو رسول الله ﷺ سره د ابوبکر صدیق﷜ نه زما پوښتنے ته راغلل، زۀ بی هوشه وم نو رسول الله ﷺ د اوداسه اُوبه په ما باندے راواچولے، نو زۀ په هوش کی راغلم۔ ګورم چه رسول الله ﷺ زما په کور کی دے، نو ما تپوس وکړو : [يَا رَسُوْلَ اللهِ ! كَيْفَ أَصْنَعُ فِيْ مَالِيْ كَيْفَ أَقْضِيْ فِيْ مَالِيْ فَلَمْ يُجِبْنِيْ بِشَيْءٍ حَتّٰى نَزَلَتْ آيَةُ الْمِيْرَاثِ] اے د الله رسوله ! زۀ په خپل مال کی څه وکړم؟ په خپل مال کی څه فیصله وکړم؟ خو نبی کریم ﷺ هیڅ جواب ورنکړو تردے چه د میراث آیت نازل شو۔ او په یو روایت کی دی : ما اُووئیل چه نۀ زما اولاد شته او نۀ زما پلار ژوندے دے، زما

د میراث به څه حکم وي ؟ نو دا آیت نازل شو۔ (صحیح بخاري: ٥٦٥١ ومسلم: ٤٢٣٠)
د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما لس خویندے پاتے وے۔
ځینی روایاتو نه معلومیږی چه دا آیت د سعد بن الربیع ﷺ په باره کی نازل شویدے چه هغه د رسول الله ﷺ سره په اُحُد کی شهید شو نو د هغه بی بی رسول الله ﷺ ته د سعد دواړه لونړه راوستے او وے فرمایل چه سعد ستا سره په اُحد کی شهید شو او د هغه تره د هغه ټول مال واخستو، او ښځه خو د مال د وجه نه په نکاح کولے شی نو رسول الله ﷺ غلے شو تردے چه د میراث آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ د سعد بن الربیع ورور راوغوښتو او وے فرمایل : [أَعْطِ ابْنَتَيْ سَعْدٍ ثُلُثَيْ مَالِهِ وَأَعْطِ امْرَأَتَهُ الثُّمُنَ وَخُذْ أَنْتَ مَا بَقِيَ]
(سنن ابن ماجه : ٢٧٢٠ بسند حسن- البانی)
د سعد دواړو لونړو ته د مال دوه حصے ورکړه او ښځے ته د مال اتمه حصه ورکړه او څه چه پاتی شو هغه تهٔ واخله۔
لیکن ظاهر دا ده چه دا واقعه د (یوصیکم الله) آیت سبب د نزول ګرځی، نهٔ ددے آیت او د جابرؓ د الفاظو نه هم معلومیږی چه دا آیت زما په باره کی نازل شویدے۔
فِي الْكَلَالَةِ : کلاله په مذکر او مؤنث دواړو باندے اطلاق کیږی۔
هَلَكَ : په عربی ژبه کی هلاکت په معنیٰ د وفات سره وی۔ او کله نا کله په معنیٰ د هلاکت عرفي سره وی۔ (فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ)
لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ : او ددے سره دا هم مراد ده چه والد ئے هم نهٔ وی لکه روستو (وَلَهُ أُخْتٌ) تعیین پرے دلیل دے ځکه چه که والد ئے وے نو بیا خو عصبه پلار دے هغه ته ټول مال پاتی کیږی نهٔ خور ته لکه ابتداء ددے سورت کی وئیل شویدی۔
وَلَهُ أُخْتٌ : یعنی د هغه مړی دپاره اعیانی یا علاتی خور وی۔
صورت دا دے چه ورور مړ شو او پلار او بچی ئے نشته صرف یوه خور ترے پاتے شوه، نو د خور به نیم مال ورسیږی او باقی به نور عصبات اخلی لکه تره وغیره۔
وَهُوَ يَرِثُهَا : هُوَ ضمیر (امرؤ) ته راجع دے او په عربی ژبه کی دا عامه قاعده ده چه یو سړے کله مړ فرض کوی او کله ژوندے نو دلته برعکس دویم صورت بیانیږی۔
صورت دا دے چه خور مړه شوه پلار او بچی ئے نشته او د هغه نه ورور اعیانی یا علاتی پاتے شو نو دا ورور به ټول مال ددے خور وړی ځکه چه ورور پدے وخت کی عصبه دے۔
یرثها أَيْ جَمِيعَ الْمَالِ۔ یعنی دا ورور به ټول مال د خور وړی۔

فَإِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ : **صورت** : ورور مړ شو او د هغه نه دوه عینی یا علاتی خویندے یا زیات د دوو نه پاتے شوے، نو دوه حصے مال به دغه خویندے واخلی او باقی یوه حصه به نور عصباتو ته واپس شي۔

وَإِنْ كَانُوا إِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً : **صورت** : سړے مړ دے او یو ورور او دوه خویندے یا زیاتے ترے پاتے شوے نو مال به دوه حصے کړے شي، نیم به یو ورور او نیم به دوه یا زیاتے خویندے واخلی۔

فوائد او علوم

۱- په مسند احمدؒ کی دی چه د زید بن ثابت ﷺ نه د خاوند او خور په باره کی تپوس اُوشو نو هغه خاوند ته نیمه او خور ته نیمه حصه ورکړه او وے وئیل چه رسول الله ﷺ همدا فیصله کړے وه۔

۲- که یو شخص یوه لور او یوه خور پریخوستو سره مړ شی، نو د جمهورو په نیز به لور نیمه (د فرض په حیثیت سره) او نیمه به خور (د عاصب کیدو په حیثیت سره) اخلی۔

د ابن عباس او ابن زبیر رضی الله عنهم په نیز خور ته به هیڅ نۀ ملاویږی ځکه چه پدے آیت کی د خور د وارث کیدو دپاره دا شرط دے چه د مړی اولاد به نۀ وی۔

لیکن د جمهورو مذهب صحیح دے ځکه چه رسول الله ﷺ خور د لور سره عصبه ګرځولے ده۔ او همدا مذهب د زید بن ثابت او عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما هم دے۔ سنن الدارمی (۲/ ٤٠٨) ح (۲۸۸۱) (تحقیق التحقیق للذهبی رقم المسألة : (٥٨٠) لکه روستو مسئله کی راځی۔

۳- که یو شخص یوه لور، یوه نمسۍ او یوه خور پریخوستو سره مړ شی نو لور ته به نیمه، نمسۍ ته به شپږمه حصه او باقی دریمه حصه به خور ته ملاویږی۔ عبد الله بن مسعود ﷺ همدا فیصله وکړه، او وے ویل چه رسول الله ﷺ همدا فیصله کړیده۔ ولابنة الابن السدس تکملة الثلثین۔ (بخاریؒ: ٦٧٣٦)۔

٤- که د یوے ښځے اولاد یا پلار نۀ وی، او د هغے ورور وی نو ورور به ئے د تمام جائیداد وارث وی۔ او همدا خبره په نفس آیت کی ذکر شوه۔

٥- که د ښځے خاوند یا د هغے د مور د طرف نه کوم ورور وی، نو هغه به خپله حصه اخلی او باقی مال به سکه ورور ته ملاویږی۔

٦- که د مړی دوه یا زیاتے خویندے وے، نو هغوی ته به ثلثان یعنی دوه دریمے حصے مال ملاویږی. جمهور د دوه لونړو د میراث حکم ددے آیت نه اخستے دے.
٧- که د مړی ورور او خور دواړه وی نو سړی ته به د ښځو دوچنده ملاویږی. وتقدم فی نفس الآیة.

د اعیانی خویندو حالات

اعیانی (سکه) خویندے پنځه حالات لری:
١- یوه خور نیمائی مال اخلی.
٢- دوه یا زیاتی دوه دریمے (دوه ثلثه) اخلی.
٣- د اعیانـی ورور سره عصبه گرځی چه دوه خویندے د یو ورور سره په برخه کی برابری دی.
٤- د مړی په لور او همدارنگه د مړی په لمسیٔ (بنت الابن) سره عصبه گرځی.
٥- د مړی په ځوی او پلار سره ساقطیږی.

د علاتی خویندو حالات

عـلاتـی (نـاسـکه) خویندے تول اُوه حالتونه لری چه پنځه حالته ئے د اعیانی خویندو په شان دی، او دوه نور حالته ئے دا دی:
١- یوه علاتی خور، که یوه اعیانی خور ورسره ملگرے وه، شپږمه برخه اخلی، دے دپاره چه دوه ثلثه پوره شی، پدے باندے د علماؤ اجماع ده.
٢- په دوه اعیانی خویندو باندے دوی تولے ساقطیږی.
يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوْا : الله تـعـالـیٰ ددے خپـل احکامو بیانولو حکمت بیانوی چه مـونږ تـاسو ته دا احکام پدے وجه بیان کړیدی چه چرته تاسو حقه خبره پرینږدئ او د خپل طرف نه کومه غلطی ونکړئ او په خپل گمان سره د حق نه وانهٔ وړئ. معلومه شوه چه د الله په حکم باندے عمل کول بعینهٖ حق او عدل دے او په همدے کی د ظلم نه بچاؤ دے.

د عربیت قانون

پـداسے مـقـام کی مفسرین داسے کلام کوی چه د (اَنْ تَضِلُّوْا) نـه مـخکی (لام) مقدر دے

یعنی (لِئَلَّا تَضِلُّوا) الله تعالیٰ تاسو ته دا احکام دے دپاره بیانوی چه تاسو گمراه نشئ۔
(۲) ځینی علماء ورته (کَرَاهِيَةَ) لفظ پټ راوباسی۔ یعنی الله تاسو ته دا احکام ځکه بیانوی چه ستاسو بی لارے کیدل نهٔ خوښوی۔ (روح المعانی ۴۵/۶)
او مفعول د یبین به پټ وی: (ای يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ أُمُوْرَ دِيْنِكُمْ وَمِنْ أَهَمِّهَا تَفْصِيْلُ هٰذِهِ الْفَرَائِضِ) (المنار) الله تاسو ته ستاسو د دین کارونه (احکام) بیانوی چه د هغے نه بعض اهم احکام د میراث ددے احکامو تفصیل دے، نو (ان تضلوا) به مفعول له وی۔
(۳) مګر که کلام په خپل ظاهر باندے پریخودے شی غوره ده نو (اَنْ تَضِلُّوْا) به مفعول به وی دپاره د يُبَيِّنُ او معنیٰ به دا وی: (يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ ضَلَالَكُمْ مِنْ هِدَايَتِكُمْ) الله تعالیٰ تاسو ته ستاسو ګمراهی ستاسو د هدایت نه جدا بیانوی۔ یا الله تعالیٰ تاسو ته ګمراهی بیانوی چه ځان ترے وساتئ۔
(٤) بل متبادره معنیٰ دا هم کیږی چه الله تعالیٰ تاسو ته خپل احکام ددے دپاره بیانوی چه تاسو به ګمراه شئ که دا احکام درته بیان نکړی۔ (البحر المحیط ۱۵۳/٤ طبع دار الفکر بیروت وعزیز التفاسیر)
ددے نه دا فائده معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د احکامو نه غیر په بله طریقه باندے عمل کول ګمراهی ده۔
فَسُبْحَانَ مَنْ جَلَّتْ عَظَمَتُهٗ وَأُحْكِمَتْ آيَتُهٗ۔

امتیازات او خصوصیات د سورة النساء

۱ - كَثْرَةُ الْأَحْكَامِ الْاِنْتِظَامِيَّةِ۔ د معاشرے د جوړیدو دپاره ډیر انتظامی احکام بیان شو، چه غټ غټ احکام پکی اتلس یو دی، او پنځه ویشت نور دی، اتلس پکی د تدبیر منزل سره متعلق وو او پنځه ویشت عام احکام وو، او واړه احکام پکی ډیر زیات دی۔
۲ - اِزَالَةُ رُسُوْبِ الْجَاهِلِيَّةِ۔ د جاهلیت (پریوتی) ګندونه او رواجونه پکی زائل شویدی لکه د زنا ډیر والے او مسئله د ایراث النساء۔
۳ - بَيَانُ الْمُحَرَّمَاتِ تَفْصِيْلًا ۔ د محرماتو بیان پکی زیات شویدے چه داسے په نورو سورتونو کی نهٔ دے شوے۔
٤ - بَيَانُ نِكَاحِ الْإِمَاءِ۔ د وینځو د نکاح بیان پدے سورت کی شویدے۔

٥- كَثْرَةُ صِفَاتِ الْمُنَافِقِيْنَ وَالْيَهُوْدِ۔ د منافقانو او یهودیانو ډیر بد صفات ئے بیان کړل۔

٦- احکام المیراث ددے سورت خصوصیت دے۔



الحمد لله د سورة النساء تفسیر ختم شو،

د شعبان په ۱٤۳٥/۲۰ هـ چه د هاړ د میاشتے خلورمه ورځ ده، سخته گرمی ده۔

والشیخ ابو محمد یدرس القرآن فی ایبت آباد فی هذا الوقت۔



بسم الله الرحمن الرحيم

آیاتها (١٢٠)	(٥) سورة المائدة مدنية (١١٢)	رکوعاتها (١٦)

سورة المائده مدني ده، پدے کې یو سل شل آیتونه او شپاړس رکوع دي۔

تفسیر سورة المائده

نوم : ددے سورت نوم (المائده) دے، په آیت (١١٤) کې دا لفظ ذکر شویدے۔ چونکه د مائدے متعلق قصه پدے سورت کې په ذکر شوی اُمورو کې د ټولو نه زیاته عجیبه او ناشنا ده چه الله تعالیٰ د آسمان نه ډك دسترخوان نازل کړیدے او بني اسرائیل ئے پرے ماړه کړیدي، او بیا پرے هغوی کافر شویدي او الله ترے خنزیران او شادوګان جوړ کړیدي نو دا ډیره د هیبت خبره وه پدے وجه د سورت نوم همدا کیخودے شو۔ او پدے سورت کې الله تعالیٰ مؤمنانو ته تنبیه ورکوی چه تاسو بی ځایه سوالونه مهٔ کوئ لکه څنګه چه بني اسرائیلو سوال کړے وو بیا پرے کافر شو نو الله ورله عذاب ورکړو۔

٢- بل نوم دے : سُوْرَةُ الْعُقُوْد۔ (د لوظونو سورت)۔

٣- سورةُ الْمُنْقِذَه۔ هغه سورت چه د حرامو نه بچ کونکے دے۔

د نزول زمانه: پدے کې یو سل شل (١٢٠) آیتونه دي او په اجماع سره مدني سورت دے۔ د سورة التوبه نه مخکې او د سورة الفتح نه روستو نازل شویدے۔ یعني تقریباً د اوم کال نه روستو۔ او ددے نه روستو سورة التوبه او بل اِذَا جَاءَ نَصْرُ الله نازل شویدي نو دا یو سل دولسم سورت دے چه نازل شویدے۔

ترمذيؒ د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه سورة المائده او سورة الفتح د نزول د زمانے په اعتبار سره آخري سورتونه دي۔ او حاکمؒ د جُبَیر بن نُفَیر نه روایت کړیدے چه ما حج وکړو نو د عائشے رضی الله عنها خوا ته ورغلم، هغوی ووئیل چه اے جبیر ! آیا ته سورة المائده لولے ؟ ما اُووئیل : آؤ ! نو هغے اُووئیل چه دا آخري سورت دے چه نازل شوے وو۔ پدے کې چه کوم څیزونه حلال خودلے شویدي هغه حلال اُوګنړه او چه کوم حرام خودلے شویدي هغه حرام اُوګنړه، حاکمؒ وائی چه دا حدیث د شیخینو د شرط مطابق صحیح دے۔

امام احمدؒ، عبد بن حُمَیدؒ، ابن جریرؒ، طبرانیؒ او بیهقیؒ وغیرهم د اسماء بنت یزید رضی الله عنها نه او ابو عبیدؒ د محمد بن کعب قُرَظیؒ نه روایت کړیدے چه سورة المائده په حجةُ الوداع کی د مکے او مدینے ترمینځ نازله شویده۔ (د اسماء بنت یزیدؒ د روایت سند ته علامه شاکرؒ صحیح وئیلے دے)۔

د سورة المائده فضائل

دا په هغه سَبع طِوَال کی داخل دے چه د هغے په یادولو سره بنده په علماؤ کی شاملیږی۔ لکه حدیث داسے دے: [مَنْ أَخَذَ السَّبْعَ الْأُوَلَ مِنَ الْقُرْآنِ فَهُوَ حِبْرٌ] (احمد ٦/٧٣ وقیام اللیل لابن نصر ص (٦٩) والحاکم (١/٥٦٤)الصحیحة (٥/٣٨٥) بسند صحیح)

٢- پدے سورت کی الله تعالیٰ اتلس فرضی احکام نازل کړیدی چه بل سورت کی نشته۔

٣- عائشه رضی الله عنها فرمائی: [عَلِّمُوا رِجَالَكُمْ سُوْرَةَ الْمَائِدَةِ وَعَلِّمُوا نِسَاءَ كُمْ سُوْرَةَ النُّوْرِ]۔ خپلو سړو ته سورة المائده ورزده کړئ او خپلو زنانو ته سورة النور۔ ځکه چه په سورة المائده کی د حلال او حرامو (بیوع، خوراکی موادو، د قَسَمونو، شرابو، ښکارونو، نذرونه وغیره) احکام دی او په سورة النور کی د عِفت (حیاء او پاکدامنئ) مسائل دی۔

(الدر المنثور وسنن سعید بن منصور والبیهقی)۔

ربط او مناسبت

١- سورة النساء کی الله تعالیٰ رد وکړو په یهودیانو باندے تفصیلًا او دارنګه په منافقانو نو دلته الله تعالیٰ د اهل کتابو د دوستئ (موالات) نه منع کوی۔

٢- هلته عام خطاب وو په (یَا ایها الناس) سره نو دلته خاص خطاب راوړی (یَا اَیها الذین آمَنُوا) یعنی چه عام خلك خبره نهٔ منی نو اے مؤمنانو! تاسو ئے ومنئ۔ دے ته تخصیص بعد التعمیم وائی۔

٣- مخکی د جاهلیت رسمونه رد شو نو اُوس قوانین شرعیه بیانیږی چه دغه کارونه پریدئ او دا کارونه وکړئ۔ لکه یو تن چه رد د بدعاتو وکړی نو بیا سنت بیانوی۔

٤- سورة النساء کی رد د شرك اعتقادی وو چه د عیسیٰ علیه السلام په باره کی مشرکان مهٔ جوړیږئ، نو دلته رد د شرك فی التحلیل والتحریم کوی چه د ځان نه حلال حرام مهٔ جوړوئ بلکه شریعت ته پدے کی نظر وکړئ۔ نو ګویا که هلته توحید الوهیت وو او دلته

توحید حاکمیة او توحید التشریع دے۔

۵- مخکی امور انتظامیه بیان شو چه په هغے نظام برابریږی، نو دلته بیان د محرماتو دے چه ددے نه ځان وساتئ پدے سره په تاسو کی فساد راځی لکه حرام خوریانی۔

٦- مخکی امور انتظامیه ذکر شو نو دلته په هغے باندے د وفادارئ امر کوی۔

موضوع او مقصد د سورت

۱- زمونږ ځینی مشائخ وائی چه پدے کی رد د شرك فی التحلیل والتحریم موضوع ده چه دے ته شرك فعلی وائی۔ ۲- او د بعض اهل علمو په نیز پدے کی د حاکمیة او د دین تشریح ده چه د الله په قانون او دین او کتاب باندے به فیصله کولے شی لکه ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ﴾ کی ذکر کیږی۔ او دے ته تَحْكِيمُ الْقَوَانِيْنِ الشَّرْعِيَّةِ وَرَدُّ الْقَوَانِيْنِ الْوَضْعِيَّةِ وائی۔ یعنی په قوانین شرعیه ؤ به فیصلے کولے شی او وضعی قوانینو باندے به فیصلے نشی کولے۔ او دے ته اسلام وائی لکه الله به د اسلام فضائل هم بیانوی۔ (اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ)

۳- ظاهره دا ده چه دلته دوه مقاصد بیانیږی یو [اَلْاَمْرُ بِالْوَفَاءِ بِالْعُقُوْدِ] الله تعالیٰ د لوظونو په وفادارئ باندے امر کوی۔ او ددے مثالونه به راوړی چه چرته د الله لوظ مات نکړئ ورنه ذلیله به شئ، نو کوم خلك چه د عهدونو پابندی نکوی د هغوی قباحتونه او بد حال او عذابونه بیانوی۔ او ددے نه داسے تعبیر هم کولے شی،

[بَيَانُ الْعُقُوْدِ وَالْوَفَاءِ عَلَيْهَا] یعنی عقود (اتلس لوی حکمونه) ئے بیان کړیدی او د هغے په وفادارئ ئے حکم فرمایلے دے۔ ددے مثال داسے دے لکه چه یو تن چا ته ووائی چه یو څو خبرے درته کوم په هغے پابندی وکړه۔

دویمه موضوع - [بَيَانُ أَنَّ التَّحْلِيْلَ وَالتَّحْرِيْمَ مِنَ اللهِ]

ددے خبرے بیان دے چه حلالول او حرامول به د الله د طرف نه وی او د ځان نه به د یو شی حلالول او حرامول غلط وی۔ لکه مشرکانو بحیره، سائبه او وصیله او حام د ځان نه حرام کړی وو، نو د آیت په اول کی به ووائی ﴿أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْأَنْعَامِ﴾ دا وجه ده چه پدے سورت کی ئے مسئله د تحکیم راوړیده ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ﴾ او دا مرض د یهودو وو، پدے وجه الله تعالیٰ به په هغوی باندے هم ردونه کوی۔ او ددے د متعلقاتو نه مسئله د موالات ذکر کوی چه څوك ددے احکامو پابندی کوی د هغوی سره دوستی وکړئ او چه څوك ددے مخالفت کوی نو د هغوی سره به دشمنی کوئ۔

دا سورت گویا که په داسې طرز روان دے چه الله فرمائی : ما تاسو ته لوی اسلام راولیږلو پدے کی ما تاسو ته احکام نازل کړل چه هغه لوظونه دی نو یو به اسلام نعمت گنړئ، پدے وجه پدے سورت کی به د نعمت لفظ زیات ذکر کیږی۔ اشاره ده چه دا پابندیانی د الله نعمت دے او عذاب نهٔ دے۔ نو الله یو دین راولیږو په هغے کی احکام او پابندیانی دی او هغے ته اسلام وائی او دا د الله لوی نعمت دے۔ او د ځان نه به په دین کی خبرے نهٔ ننباسئ او د ځان نه به ترے څه نهٔ وباسئ، او ددے مثال به په بنی اسرائیلو ورکوی چه بنی اسرائیلو ته الله تعالیٰ لوظونه راولیږل لیکن هغوی مات کړل، الله تعالیٰ پرے څومره پریشانیانی راوستے، د قابیل او هابیل واقعه هم ددے دپاره راوړی، او دغه شان غلهٔ او ډاکوان ئے ذلیله کړل او یهود او نصاریٰ ئے ذلیله کړل، نو د یهودو او نصاراؤ قباحتونه به هم ددے غرض دپاره راوړی چه هغوی په حلال او حرامو کی ورانے کوی۔

حاصل د یوے رکوع

الله تعالیٰ پدے آیت کی څلور خبرے کړیدی (۱) [اَلْاَمْرُ بِالْوَفَاءِ بِالْعُقُوْدِ]۔

په لوظونو باندے د وفادارئ حکم۔ (۲) وَالرَّدُّ عَلَى النَّكْثِ۔ د لوظونو په ماتولو باندے رد۔

(۳) بیا التحلیل العام۔ د عامو څیزونو د حلالوالی ذکر۔

(٤) بیا استثناء د بعض څیزونو۔ بیا الله تعالیٰ د خپل قانون مطابق حکمت بیان کړیدے ﴿اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ﴾ بیا اولنے عقد دے چه د شعائر الله بی عزتی به نهٔ کوئ، په تعاون علی البر والتقویٰ باندے ئے امر کړیدے، بیا بیان د محرماتِ الهیه ؤ دے چه بعض څیزونه الله تعالیٰ حرام کړیدی نو د هغے نه ځان وساتئ ځکه چه په هغے کی د بندګانو ضرر دے۔ ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾ او په مینځ کی الله تعالیٰ د اسلام کمال بیانوی او اسلام ته ترغیب ورکوی۔

﴿فَمَنِ اضْطُرَّ﴾ کی استثناء د حرامو ده۔ بیا بیان د محللاتِ الهیه ؤ دے یعنی کوم څیزونه چه الله حلال کړیدی د هغے بیان دے په (يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا اُحِلَّ لَهُمْ) کی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ
اے ایمان والو! پوره کړئ لوظونه، حلال کړے شویدی ستاسو دپاره چارپیان د حیواناتو نه

إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ

مګر هغه چه لوستلے شی په تاسو باندے، (شئ) نهٔ حلال ګنړونکی د ښکار چه تاسو

حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ﴿١﴾

په حالت د احرام کی یئ، بیشکه الله تعالیٰ حکم (فیصله) کوی د هغه څه چه وغواړی۔

تفسیر : الله تعالی پدے آیتِ کریمه کی مؤمنانو ته خطاب کولو سره پنځه اَهم احکام بیان کړیدی :

١- د عقود او عهودو (لوظونو) خیال او لحاظ ساتل۔

٢- د چارپیانو د غوښے حلالوالے۔

٣- د څه حیواناتو حراموالے چه د هغے بیان به روستو راځی۔

٤- د مُحرم دپاره او په حدودو د حرم کی د ښکار حراموالے۔

٥- غیر مُحرم دپاره او د حرم نه بهر د ښکار حلالوالے۔ (قرطبی، واللباب)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا : الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته ددے تولو لوظونوپوره کولو حکم کړیدے، ځکه چه د ایمان همدا تقاضا ده چه مؤمن د الله نافرمانه نهٔ وی او نهٔ په خپل اجتماعی ژوند کی خائن، بد لوظه یا دهوکه ورکونکے جوړ شی۔

دا کلمه پدے سورت کی شپاړس کرته ذکر شویده او په هر یو کی الله تعالیٰ مؤمنانو ته احکام بیان کړیدی چه داسے وکړه او داسے مهٔ کوئ۔

أَوْفُوا : دا د وفاء نه اخستے شویدے او وفاء د غدر (خیانت) په مقابل کی استعمالیږی نو معنیٰ دا جوړیږی : چه اے مؤمنانو ! په تولو عقدونو باندے وفاء (ساتنه) وکړئ او خیانت پکی مهٔ کوئ۔ معلومه شوه چه څوك ددے احکامو پابندی نکوی هغه به خیانتګر وی۔

أَوْفُوا بِالْعُقُودِ :

عقود جمع د عَقْدْ ده او عقد غوټے ته وائی، دلته ترے لوظونه مراد دی۔

لفظ د عقود عام دے، ددے نه مراد تول هغه احکام دی چه الله په بندګانو فرض کړیدی۔

لکه دا عقائدو ته هم شاملیږی چه الله کوم عقائد په بندګانو فرض کړیدی د هغے وفاداری به کوی، توحید به اختیاروی، شرك به نکوی لکه نصاراؤ عیسیٰ علیه السلام د الله سره شریك ګنړلے دے چا نور پیغمبران شریکان کړیدی۔ دارنګه اعمال لکه مونځونه وغیره شو۔ او د

حلال او حرامو په باره کی لوظونه لکه دا شے حلال دے حلال ئے وګنړئ، او دا حرام دے حرام ئے وګنړئ او ځان ترے وساتئ، او دارنګه دغه لوظونه په باب د مشروباتو او ماکولاتو او منکوحاتو کی هم شویدی نو دا عقود تولو ته شامل دی، دارنګه هغه تمام لوظونه چه د انسانانو ترمینځ د دنیوی معاملاتو په باره کی مقرریږی۔

د عهود او عقود فرق

په شریعت کی عقد دوه طرفه لوظ ته وائی لکه بائع او مشتری یا د ښځے او د خاوند ترمینځ۔ او عهد کله هغه لوظ ته وائی چه د یو طرف نه وی لکه یو سړے په خپل ځان باندے یو شے نذر کړی۔ (روح المعانی)

د عقودو نه څه مراد دی ؟

دلته مفسرینو مختلف مصداقات نقل کړیدی :

(۱) ځینی مفسرین وائی چه دلته عقود الجاهلیة مراد دی۔ (قتادهؒ- زاد المسیر)
یعنی تاسو چه د جاهلیت په زمانه کی کوم لوظونه کړی وی هغه په اسلام کی هم مضبوط وساتئ۔ لیکن دا یو نیمګړے مصداق دے اګرکه د آیت الفاظ دے ته هم شاملیږی۔

(۲) ځینی وائی چه عقود الیمین والبیع والشراء والنکاح مراد دی۔ یعنی کوم جائز قَسَم دِے وکړو نو د هغے پوره والے وکړه، کومه بیع چه وشوه نو د هغے وفاداری لازمه ده، لکه مال او سودا سپارل وغیره، او د نکاح په باره کی چه خاوند په ځان کوم مهر وغیره ومنلو نو هغه پوره کړئ۔ یا دِے خور لور چا ته ورکړه نو بیرته ئے ترے مهٔ واپس کوه بلکه دا عقد ورسره پوره کړه۔ (ابن کثیر)

(۳) ظاهر هغه تفسیر دے چه کوم ابن عباس رضی الله عنهما ذکر کړیدے چه [اَلْعُقُوْدُ الَّتِیْ اَوْجَبَهَا اللّٰهُ تَعَالٰی مِنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ وَالْحُدُوْدِ وَالْفَرَائِضِ] چه دلته هغه عقدونه مراد دی چه الله تعالیٰ په بندګانو لازم کړیدی چه هغه حلال او حرام او حدود او فرائضو سره تعلق لری۔ لکه روستو (اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ) تعقیب پرے دلالت کوی۔ یعنی عقود الْحِلِّ وَالْحُرْمَةِ ۔ او ددے پوره والے دا دے چه حلال حلال وګنړئ او حرام حرام وګنړئ او د حدود خوا ته مهٔ ورځئ او په فرائضو باندے عمل وکړئ۔ لکه ښکار حلال وګنړئ او د

مردارو نه ځان وساتئ. (او دا وجه د ربط هم شوه د دواړو جملو - اَوُفُوا بِالْعُقُودِ - او اُحِلَّتُ لَكُمُ - ترمینځ) یعنی پوره کړئ لوظونه هغه لوظونه کوم دی هغه لوظونه د حل او د حرمت دی.

ظاهر دا ده چه دا هر قسم عقد ته شاملیږی لکه مخکی ئے بیان وشو.

اُحِلَّتُ لَكُمُ : اول نه الله تعالیٰ د حلال او حرامو مسئلے شروع کړے ځکه چه د عربو جاهلیت والو به د ځان نه حلال حرام جوړول لکه بحیره، سائبه، وصیله او حام چارپیان به ئے د باطلو معبودانو په نومونو پریښی وو او د هغے غوښے به ئے نهٔ استعمالولے.

بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ : أَيِ الَّتِیُ حَرَّمُوُهَا عَلٰى أَنفُسِهِمُ . یعنی هغه چارپیان حلال کړے شویدی چه د عربو مشرکانو په خپلو ځانونو باندے بتانو ته د ځان نزدے کولو دپاره حرام ګرځولی دی نو الله فرمائی چه دغه درله حلال دی او د ځان نه ئے مهٔ حراموئ. دویم پدے کی دے ته اشاره ده چه د الله تعالیٰ تاسو سره څومره لوی احسانات دی چه ټول حیوانات ئے درله حلال کړل نو د هغه شکر وکړئ، او د ځان نه ئے د بتانو په نومونو مهٔ حراموئ.

عربو به نور هم ډیر څیزونه د خپلو بتانو دپاره حرام ګنړل لکه غوږی، وازدے وغیره لیکن د چارپیانو په باره کی شرك ډیر وو او واضحه وو نو ځکه ئے هغه بیان کړو.

د بهیمه څه معنی؟

بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ : بهیمة د بُهۡمَةٌ نه اخستے شویدے، بُهمة سختے ګټے (کانړی) ته وائی او پدے وجه د کوم شی چه په محسوساتو کی په حواسو باندے پوهیدل سخت وی او په معقولاتو کی په عقل باندے تمیز دروند وی هغے ته مُبهم وائی. او پدے وجه څاروی ته بهیمة وائی چه په آواز کی ئے ابهام (پټوالے) دے، سړے نهٔ پوهیږی چه د څه دپاره رمباړے وهی، مګر په عام عرف کی د ((بهیمة)) کلمه هغه څاروو پورے مختصه ګرځولے شویده چه د مرغانو او د څیرونکو ځناورو نه په غیر وی. (مفرداتِ راغب ص:١٤٩)

ورنه بهیمة په اصل لغت کی هر څلورو خپو والا حیوان ته وائی. (کشاف، قرطبی)

او بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ هغه چارپیان دی چه خوراك کولو نه روستو هغه دوباره راګرځوی، یعنی هغه حیوانات چه لرے لری. نو پدے سره خر او قچر او سپی ترے ووتل. او میخه او غواګانی او اُوښان او چیلئ او ګډان پکی داخل شول.

لکه ډیر باطل پرست چه قرآن او سنت ناقص ګنړی هغوی په اهل حقو باندے دا

اعتراض کوی چه تاسو مونږ ته په قرآن او حدیث کی میخه وښایئ، مطلب ئے دا دے چه دین نیمګړے دے، دا ډیر خطرناك سوال دے چه انسان پرے شعوری یا غیر شعوری طریقے سره د ایمان نه ووځی؟!!۔

او انعام جمع د نَعم ده، نعم اُوښ، غوا، چیلو ته وائی۔ د ابن عباس رضی الله عنهما او حسن بصریؒ همدا قول دے۔

یعنی ستاسو دپاره ددے حیواناتو غوښه خوړل حلال کړے شویدی۔ خطرناك او ښکار کونکی حیوانات مثلاً شیر او زمرے او پړانګ او نوکونو والا حیوان په اَنْعَام کی داخل نهٔ دی۔

د کومو نورو حیواناتو حلت چه د قرآن او سنت په صریح نصوصو سره ثابت دے د هغے خوراك هم حلال دے، مثلاً اُوسیٔ او ځنګلی خر وغیره۔

الله د سورة الانعام په آیت (۱٤۵) کی فرمایلی دی:

﴿قُلْ لَا اَجِدُ فِيْمَا اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً﴾

ته اُووایه! چه کوم کتاب چه ما ته د وحی په ذریعه راکړے شویدے په هغے کی د هیڅ خوړونکی دپاره هیڅ شے حرام نهٔ مونده کوم سویٰ د هغے نه چه مردار حیوان وی الخ۔

او نبی کریم ﷺ فرمایلی دی: [يُحَرَّمُ كُلُّ ذِىْ نَابٍ مِنَ السَّبُعِ وَمِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ]

[مسلم، احمد، ترمذی]۔ هر داړے والا درنده او هرے پنجے والا مارغه حرام دے۔

دے نه معلومه شوه چه ددے نه سِویٰ حیواناتو خوړل حلال دی۔ بعض صحابه کرامؓ ددے نه دلیل نیولو سره د ذبح شوی حیوان د خیټے بچے هم خوړل حلال ګرځولی دی۔ (ابن عمرؓ وابن عباسؓ – زاد)

سوال وجواب

(بهیمة الانعام) کی بهیمه هم چارپیانو ته وائی او انعام هم نو بیا دا اضافت ولے شویدے؟

(۱) جواب: دا اضافت بیانی دے د تاکید دپاره ذکر شویدے۔

(۲) جواب: بهیمه نه مراد هر څلورو خپو والا ښاروی دی او د انعام نه مراد ګډه، بزه، غوا او اُوښه ده نو دا اضافت د عام دے خاص ته لکه د شجر الاراك په شان۔ (التحریر والتنویر)

او بهیمه ئے ورسره زیات کړو اګرکه په انعام باندے اکتفاء سره خبره پوره کیده؟، وجه دا ده چه پدے کی زیات تعمیم ته اشاره ده، دے دپاره چه صحرائی حیوانات هم پکی داخل شی

لکه أُوسئ، صحرائي خرۀ، او غواګاني او ميخې۔ (زاد المسير)
علامه ابن عاشورؒ وائي پدې کې دفع ددې توهم ده چه د انعام نه مراد به خاص أُوښان وي ځکه چه انعام غالباً أُوښانو دپاره استعماليږي نو بهيمه ئې ورسره زيات کړه چه ټولو واړو چارپيانو ته شامل شي، اوښان، غواګانې، ګډې او بزې۔ (التحرير والتنوير ۱۲/۵)
او ځينې علماء وائي چه د بهيمه کلمې زيادت کې دې ته اشاره ده چه ځاروي خو ستاسو دپاره پيدا کړې شويدي، دوی خو بهائم دي، خطاب ورته متوجه نۀ دې، ستاسو غوندې نطق (خبرې) نشي کولې نو تاسو له پکار دي چه د الله د هدايت مطابق ترې فائده واخلئ او په ځانونو باندې ئې حرام ونه ګرځوئ۔ (عزيز التفاسير)
فائده : (أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ) کې څه تعيين نۀ دې شوې، نو معلومه شوه چه د حيوان ټول اندامونه او د هغې هډوکي او څرمنې پاکې دي او هر قسمه جائز فائده اخستل ترې جائز دي۔ (ابن عادل الدمشقيؒ)
نو حيوان کې صرف وينه حرامه ده باقي حلال دي، کوم روايت کې چه د اوه څيزونو حرمت ذکر دې هغه مرسل دې لکه فتاوی الدين الخالص (٦) کې ئې ګورئ۔
اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ : أَيْ تَحْرِيمُهُ فَهُوَ حَرَامٌ) مګر هغه چه لوستلې شي په تاسو باندې حراموالې د هغې نو هغه حرام دې) (اللباب)
پدې کې ئې د مخکنې حلالوالي نه هغه حيوانات مستثنىٰ کړيدي چه د هغې د خوړلو حرمت په قرآن يا په سنت کې بيان شويدې۔ لکه د سورة المائده په آيت (۳) ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾ الآية کې چه څه بيان شويدي، يا د نبی کريم ﷺ هغه قول چه مخکې تير شو چه هر نوك والا حيوان او هر پنجې والا مارغه خوړل حرام دي۔
د آيت نه دا هم معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ هر سنت په کتاب الله کې داخل دې، ځکه چه رسول الله ﷺ د کومو حيواناتو او مارغانو خوړل حرام ګرځولي دي هغه ټول په اتفاق د علماؤ په ﴿اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ﴾ کې داخل دي۔ ددې يو دليل د هغه مزدور والا حديث هم دې چه د هغه پلار راغلو رسول الله ﷺ ته ئې أُووئيل چه اې د الله رسوله! زما دې ځوی د فلانې سره مزدوري کوله او د هغه د ښځې سره ئې زنا کړيده، پدې باره کې فيصله أُوکړه، نو نبی ﷺ أُوفرمايل : [لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللّٰهِ]
چه زۀ به ستاسو د دواړو ترمينځ د کتاب الله مطابق فيصله کوم) حالانکه رجم په قرآن کريم کې منصوص نۀ دې۔

فائده : مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ (هغه محرمات چه روستو لوستلے كيږی هغه) په دوه قسمه دی (۱) يو هغه دی چه د هغے حرمت عارضی او موقت دے لکه په حالت د احرام يا حرم کی ښکار کول دی نو هغه په (غير محلی الصيد) سره ذکر کوی (۲) او دويم هغه دی چه د هغے حرمت هميشه (دائمی) ابدی وی نو هغه روستو (حرمت عليکم) کی بيانيږی۔

﴿غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ﴾

غَيْرَ منصوب دے، (كُوْنُوْا) فعل پټ دے۔ يعنی شئ تاسو نهٔ حلال ګڼرونکی د ښکار۔ يعنی په حالت د احرام کی ښکار کول حرام دی۔ او د ښکار نه سوئ حيوانات په احرام او غير احرام دواړو حالتونو کی حلال دی۔

يا غَيْرَ منصوب دے حال دے د (أُحِلَّتْ لَكُمْ) ضمير نه يعنی تاسو لره چارپيان پداسے حال کی حلال کړے شويدی چه تاسو نهٔ يئ حلال کونکی د ښکار۔

په حالت د احرام کی ښکار ولے حرام شو؟ پدے کی د الله تعالىٰ ډير حکمتونه دی يو د هغے نه روستو ذکر کيږی چه په بندګانو باندے امتحان غرض دے۔ ﴿لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ﴾ چه الله راښکاره کړی چه څوك د هغه نه په حالت د غائبوالی کی يره کوی۔ او بل پدے وجه چه مُحرم سرے د الله ملنګ دے، دهٔ خپل ځان الله ته فارغ کړيدے نو دے به د خواهشاتو نه بند وی۔

وَأَنْتُمْ حُرُمٌ : حُرم جمع د مُحرم ده أَیْ وَأَنْتُمْ فِیْ حَالَةِ الْإِحْرَامِ۔

کله چه تاسو په حالت د احرام کی يئ۔ دا حال دے د ضمير د (مُحلی الصيد) نه۔

او بل مطلب : (وَأَنْتُمْ حُرُمٌ) اَیْ وَأَنْتُمْ دَاخِلُوْنَ فِی الْحَرَمِ ۔ کله چه تاسو په حرم کی دننه يئ نو ښکار به نهٔ کوئ دا د حرم بی عزتی ده۔ (قرطبیؒ)

إِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ : پدے کی الله تعالىٰ د خپلو حکمونو حکمت بيانوی چه دا احکام الله تعالىٰ پدے وجه په تاسو باندے کيخودل چه هغه حکيم او عليم دے، د جاهليت د ګندونو نه ستاسو صفا کول غواړی۔ او دا علت دے د (اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ) دپاره۔ يعنی په عقدونو وفاداری ځکه وکړئ چه الله تعالىٰ ستاسو په فائدو باندے خبردار دے، نو هغه درته د هغه شی حکم کوی چه ستاسو پکی سراسر فائدے وی۔

ابن عاشورؒ ليکی چه دا جواب د يو سوال دے چه الله تعالىٰ ولے په حالت د احرام کی ښکار حرام کړو او په حالت د غير احرام کی ئے حلال کړو؟ نو جواب وشو چه (ان الله يحكم ما يريد) چه الله تعالىٰ د کوم شی اراده وکړی د هغے حکم کوی هغه د بندګانو مالك دے او

او په مالك بانديے هيڅ اعتراض نۀ وي، او كوم څيزونه چه الله بند كړيدي نو په هغے كي بندګانو دپاره ضرر دے۔

بلاغة او ناشنا قصه

فيلسوف الكندي په نوم بانديے يو تن ته چا وويل چه مونږ دپاره څه وليكه چه د قرآن كريم مقابله پريے وكړو نو هغه وويل چه ټول ليكل ګران دي ليكن لږ څه به درله وليكم، نو څه وخت د خلكو نه غائب شو او ځان ته ئے پوره فرصت وركړو، ليكن ډير كوشش ئے وكړو په هيڅ بانديے قادر نشو، په لاره تيريدو سره ئے د يو تن نه دا آيت واوريدو نو ويے فرمايل: [وَاللّٰهِ لَا يُطِيْقُ هٰذَا أَحَدٌ] قسم په الله كه ددے د مقابلے طاقت څوك لرلے شي، ځكه چه پدے يو آيت كي الله تعالىٰ څومره بلاغت كړيدے، أَمَرَ بِالْوَفَاءِ بِالْعُقُوْدِ وَنَهٰى عَنِ النَّكْثِ ثُمَّ بَيَّنَ تَحْلِيْلًا عَامًّا – اول ئے د عقدونو په وفاداري حكم وكړو او د لوظ ماتولو نه ئے منع وكړه بيا ئے داسے عام لفظ وويلو چه د هر شي په حلال والي بانديے ښكاره دليل دے، او بيا ئے دوه استثناء ګانے كړيدي او په آخر كي ئے د خپلے ارادے او حكمت بيان كړيدے۔ او بيا ئے وويل: دومره مطالب په ډيرونو جلدونو كي راغونډولے شي۔ (المحرر الوجيز)

فائده: أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ الفاظ دليل دے چه اصل په اشياؤ كي اباحت دے نو ټول حيوانات حلال دي مګر هغه چه الله او رسول په هغے پابندي لګولي وي او هغه ډير لږ دي۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْىَ وَلَا
اے ايمان والو! بيعزتي مۀ كوي د نخو د الله تعالىٰ او نۀ د مياشتے عزتمنے او نۀ د قربانئ او نۀ
الْقَلَآئِدَ وَلَا آمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِنْ رَّبِّهِمْ
د اميل والا څاروي او نۀ د قصد كونكو د كور عزت والا چه طلب كوي فضل د رب خپل
وَرِضْوَانًا وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ
او رضا مندي او كله چه ووځئ تاسو د احرام نه نو ښكار كوئ (درله حلال دے) او تيز دِے نۀ كړي
شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوْكُمْ
(جرم كي دِے وانچوي) تاسو لره بغض (دشمني) د يو قوم پدے وجه چه دوي منع كړي وئ تاسو

عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا

د مسجد حرام نه چه د حد نه تیر شئ او مدد کوئ د یو بل سره په نیکئ او په تقویٰ کی او

تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲﴾

مدد مهٔ کوئ د یو بل سره په گناه او په ظلم باندے او یره وکړئ د الله نه یقیناً الله سخت عذاب والا دے

تفسیر: پدے آیت کی د مخکی عقودو تفصیل بیانیږی۔

ربط ومناسبت: مخکی آیت کی د حج ځینی شعائر بیان شو چه د هغے احترام وکړئ نو دلته د ځینو شعائرو نومونه اخستل شویدی چه د سپکاوی احتمال ئے زیات وو۔

۲- مخکی مُحرم د ښکار نه منع شو نو دلته د دغه تحریم انتهاء بیانه شویده چه د احرام د پرانستلو پورے به وی۔

لَا تُحِلُّوْا : د اِحلال نه مراد بی عزتی کول دی، په اصل کی د حل نه اخستلے شویدے او حل د غوټی پرانستلو ته وائی لکه ﴿ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي ﴾(طه :۲۷)

دلته تربے مراد بیعزتی او سپکاوے دے ځکه چه یو شے الله حرام کړے وی او بنده هغے ته راتلل کوی نو دا د هغه بی عزتی شوه۔ او مفسرینو ئے په (لَا تَعْتَدُوْا) سره معنیٰ کړیده یعنی تجاوز مهٔ کوئ۔

شَعَآئِرَ اللّٰهِ : ۱- قرطبیؒ معنی کوی : [لَا تَعْتَدُوْا حُدُوْدَ اللّٰهِ فِيْ أَمْرٍ مِنَ الْأُمُوْرِ]

د الله د حدودو نه په هیڅ کار کی تجاوز مهٔ کوئ۔ (قرطبی۶/۳۷)

(۲) د ابن عباس رضی الله عنهما په نیز د شعائر نه مراد د حج مناسك (کارونه) دی۔

لکه انصارو به د صفا او مروه ترمینځ سعی نکوله، او مکے والا به عرفات ته نهٔ تلل نو الله ورته وفرمایل چه ددے کارونو نه هیڅ شے مهٔ پریدئ۔ او ددے بیعزتی دا هم ده چه څوك ددے کارونو نه حاجیان منع کړی، یا ددے د احترام خیال ونهٔ ساتی۔ (قاسمیؒ)

د ابن عباسؓ نه دا هم نقل دی چه مشرکانو به حجونه کول نو هدی به ئے ځای سره راروانے کړے دلته به مسلمانانو اراده وکړه چه په دوی باندے حمله وکړی نو الله تعالیٰ دوی لره ددے کار نه منع کړل۔ (اللباب والبغوی)

(۳) اَیْ مُحَرَّمَاتُهُ الَّتِیْ أَمَرَکُمْ بِتَعْظِیْمِهَا وَعَدَمِ فِعْلِهَا] (تفسیر السعدی)

د الله حرام کړی څیزونه چه الله تاسو ته د هغے په تعظیم باندے حکم کړے او د هغے د نهٔ

کولو حکم ئے کړیدے۔ یعنی الله تعالیٰ مؤمنانو ته حکم اُوکړو چه ددے محرماتو لحاظ اُوساتی او دا د خپل ځان دپاره حلال نکړی۔نو دا نهی عامه ده د محرماتو کولو او د هغے د حلالوالی عقیده ساتلو ته۔ دغه شان پدے حکم کی په حالت د احرام کی محرمات او په حدودو د حرم کی محرمات ټول داخل دی۔(سعدیؒ)

(٤) جَمِيعُ مَا أَمَرَ اللّٰهُ بِهٖ وَنَهٰى عَنْهُ فَهُوَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ۔ (عطاء بن ابی رباحؒ- قرطبیؒ)

ټول هغه څیزونه چه الله تعالیٰ د هغے په کولو حکم کړے او د هغے نه ئے منع کړے نو هغه د شعائر الله نه دی۔

عطیہؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړی چه شعائر الله بیعزتی دا ده چه ته ښکار وکړے پداسے حالت کی چه ته مُحرم ئے۔ (بغوی)

(٥) (مَعَالِمُ دِيْنِهٖ- أَوْ مَا يُعْرَفُ بِهٖ دِيْنُ اللّٰهِ) (قاسمیؒ) شعائر الله هر هغه شے دے چه الله ورته عزت ورکړیدے او د دین نخه ئے ګرځولے ده لکه شعیره هغه شی ته وائی چه په هغے باندے د الله دین پیژندلے شی لکه الله تعالیٰ مسجد حرام، کعبه، قرآن، علماء کرام، عزتمنے میاشتے، هدی او قلائد ته عزت ورکړیدے نو حاصل معنیٰ ئے دا ده چه د الله د حدودو نه مهٔ اوړئ۔ او حسن بصریؒ وائی چه شعائر الله د الله تعالیٰ ټول دین ته وائی۔ (الماوردیؒ)

وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ : دا تخصیص بعد التعمیم دے، دا څیزونه په شعائر الله کی داخل وو لیکن چونکه ددے څیزونو د هغه وخت سره تعلق وو او د بی عزتئ احتمال ئے زیات وو، نو ځکه ئے دا د شعائر الله نه جدا هم ذکر کړل۔

د ((شهر حرام)) نه ١- مراد یا هغه څلور میاشتے دی چه په هغے کی قتال کول حرام وو یعنی ذی القعده، ذی الحجه، محرم او رجب میاشتے، او ددے بی عزتی دا ده چه پدے کی ګناهونه وکړے شی۔ ٢- زمخشری وائی چه شهر حرام د حج میاشتے ته وائی چه په هغے کی روستو والے او مخکی والے وکړے شی، دا ئے بی عزتی ده۔

وَلَا الْهَدْيَ : د ((هدی)) نه مراد هغه حیوان دے چه د الله کور ته به هدیه لیږلے کیدله۔ هدایا عام دی، کله د اُوښانو نه وی او کله د غواګانو او کله د ګډو بزو نه هم وی۔ بیا د هغے په غاړه کی کله پړے اچولے کیدو او کله نهٔ۔ ددے بیعزتی دا ده چه دا ووژلے شی یا وتښتولے شی۔

او د ((قلائد)) نه مراد هغه حیوانات دی چه هغے ته به ئے چپړه وغیره واغوستله او بیت الله طرف ته به ئے لیږل، نو قلائد خاص شو د هدایا نه۔

د جاهلیت په زمانه کې ددې څیزونو عادت راروان وو چه هغوی به کله حرم ته یو حیوان لیږلو نو په غاړه کې به ئې ورته چپړه یا بل شے ورواچولو دے دپاره چه معلومه شي چه دا حیوان حرم ته روان دے، نو خلك به ئې بیعزتي نکوی او ورسره اشعار به ئې وکړو یعنی مثلًا د اُوښ قوب به ئې زخمي کړو او وینه به ئې پرې راښکله، نو غلو او ډاکوانو به دے ته څه نهٔ ویل لیکن کله چه اسلام راغیلو نو ډاکے ختمے شوے، لیکن دا حکم الله باقي پریخودو، اګرکه سبب ئې ختم شویدے، رسول الله ﷺ به هم چه کله حج ته تللو نو هدی (قرباني) به ئې زخمي کړه، او وینه به ئې ورله په قوب باندې راښکله او په غاړه کې به ئې ورله پرې یا امیل واچولو۔ اشعار صرف د اُوښ یا د غواګانو دپاره کیږی نهٔ د ګډو بزو دپاره۔ (تفسیر المنار)

دا امیل به کله د مزو نه وو او کله به د بل شي نه جوړ شوے وو، او چپړه زوړندول به د نظرماتي دپاره نهٔ وو، هغه خو شرکي کار دے بلکه د عربو د دستور مطابق د معلومات دپاره وو چه دا د حرم قافله ده۔

وَلَا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ : آمین جمع آمّ ده، د اَمّ نه اخستے شویدے، په معنیٰ د قصد او ارادے سره دے یعنی د هغه کسانو بیعزتي هم مهٔ کوئ چه قصد کونکی د کعبے وی یعنی کعبے ته روان وی۔ یعني کوم خلق چه د حج یا عمرے دپاره مکے ته ځی نو هغه ډے منع نکړے شي لکه روستو یبتغون فضلا من الله ورضوانا پرے دلیل دے۔

په ابتداء کې دا حکم مسلمانانو او مشرکانو ټولو دپاره عام وو لیکن کله چه د سورة التوبه آیت (۲۸) ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا﴾ نازل شو نو د مشرکانو په باره کې دا حکم منسوخ شو۔ پدے وجه په سنه (۹ ھ) کې چه کله رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق د حاجیانو امیر اُولیږلو نو علی ﷺ ئې هم ورپسے اُولیږلو، هغه د رسول الله ﷺ په نیابت کولو سره د مشرکانو نه د براءت اعلان اُوکړو او دا چه ددے کال نه روستو به هیڅ مشرك حج نهٔ کوی او هیڅوك به په بربنډه د بیت الله نه طواف نهٔ کوی۔ ځینو مفسرینو وئیلی دی چه دا آیت صرف د مسلمانانو په باره کې نازل شوے وو، پدے وجه دا مخکې هم مُحکم وو او اُوس هم محکم دے۔

(فتح القدیر للشوکاني ومحاسن التاویل للقاسمي)

ددے آیت په معنیٰ کې دا هم داخل دی چه که یو شخص مسجد حرام ته د ګناهونو کولو او شر خورولو په نیت سره داخلیدل غواړی، نو د حرم د احترام تقاضا دا ده چه هغه

ډېـ منـع کړېـ شي لکه چه الله د سورة الحج په آيت (۲۵) کې فرمايلي دي : ﴿ وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ چه ((څوك هم دلته د ظلم سره د الحاد اراده لري نو مونږ به هغه ته دردناك عذاب وراوڅکوو)). (تيسير الرحمن)

يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنْ رَبِّهِمْ : دا قيـد د ترغيب دپاره لـګـوي چه پکار ده چه حاجي د الله د فـضـل او د هـغـه د رضـا کـولـو په نيت حج ته لاړ شي، رياء او شهرت ډېـ د هغه مقصد نهٔ وي. دارنـګه پدې کې ترغيب دې چه هرکله يو تن د الله د فضل او رضا پسې روان دې، نو د هغه بې عزتي کول خو ډېر ناروا کار دې نو ځان ترې وساتئ. دريم پدې کې دې ته اشاره ده چه بيت الحرام ته تلونکي دوه قسمه دي يو په صحيح نيت او بل د جرم او فساد دپاره نو که د جرم او فساد دپاره تللو نو د هغوی منع کول جائز دي.

وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا : دا حـکـم د اباحت دپاره دې يعنې کله چه تاسو احرام کوز کړو نـو ښکار کول درله جائز دي، کولې ئې شئ. دليل پرې د رسول الله ﷺ عمل دې چه هغه د حج او عمرې نه روستو ښکار نهٔ دې کړې.

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ : پـدې جـمـلـه کې دوه مـعـانـي دي (۱) يوه منسوخـه (۲) او بلـه غير منـسـوخـه. مـنسـوخه معنیٰ دا ده چه په سنه (٦ هـ) کې چه کله رسول الله ﷺ او صحابه کـرامؓ حُـدَيبيه مقام ته راورسيدل نو د مکې مشرکانو هغوی د عمرې ادا کولو نه منع کړل. د بـعـض مسـلـمانانو په زړونو کې مدينې ته د رسيدو نه روستو د هغوی ددې بد سلوك په وجـه د عـامـو مشـرکـانـو نـه د بـدلې اخستو جذبه پيدا شوه چه ولې ډېـ هغه مشرکان حرم طرف ته د تللو نه منع نشي چه مدينې خو اته تيرېږي او مکې ته روان وي.

او مفسرينو ددې په شان نزول کې د شُريح بن ضبيعة قصه هم ليکلې ده چه دا يو کافر وو نبي کـريـم ﷺ ته راغې او څه بحث مباحثه ئې وکړه او بيا ئې وويل چه زهٔ به په ايمان راوړو کـې د مـلـګرو سره مشوره وکړم او د مدينې نه روان شو نو په لاره کې ئې د صحابه کرامؓ نه څـه مـالـونه لوټ کړل او د ځان سره ئې بوتلل، صحابه کرامؓ ورپسې وګرځيدل ليکن لاس ته ورنـغـلـو، بل کال چه نبي کريم ﷺ د عمرې قضائي راوړه نو شُريح هم د کعبې د زيارت په نيت روان شوې وو چه ډېر تـجـارتـي مـالـونه او ډېر ملګري ورسره وو، کله چه د صحابه کرامؓ په نظر راغې نو قصد ئې وکړو چه د دوی مخه ونيسي او هغه خپل مالونه ترې بيرته واخلي ليکن نبي کريم ﷺ اجازه ورنکړه او دا ذکر شوې آيت نازل شو.

(تفسير البغوی ٦/٢ والقرطبی ٤٣/٦)

الله تعالیٰ مسلمانان ددیے ارادیے نه منع کړل- نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چه امانت، امانت والو ته اُورسوه او د خیانتګر سره خیانت مهٔ کوه- (ابوداوٗد بسند صحیح)-

دا هغه زمانه وه چه د مشرکانو مسجد حرام ته راتلل لا منع شوی نهٔ وو- مګر ددیے منسوخے معنیٰ فائده به بیا هم باقی پاتی وی هغه دا چه تا ته چا ضرر درکړیے، ته ئے د نیکئ نه منع کړیے ئے نو ته ئے مهٔ منع کوه اګرکه کافر دیے- بلکه د هغه سره په نیکئ کی تعاون وکړه ځکه وریسیے روستو ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى﴾ قانون بیانوی-

(۲) غیر منسوخه معنیٰ دا ده چه یو سړی ته په حالت د کفر کی د نیکئ نه منع کړیے وے بیا هغه ایمان راوړو نو مسلمان به اُوس د هغه نه بدله نهٔ اخلی ځکه چه هغه مخکی ستا دشمن وو اُوس ستا ورور دیے، که تا ته ئے مخکی هر څومره ضرر درکړیے وی هغه ټول به ورته معاف وی، ځکه چه اسلام ټول مخکنی ګناهونه معاف کوی- نو پدیے آیت کی الله تعالیٰ ډیر عجیب قانون بیان کړو چه د چا سره به په کینه کی دومره نهٔ راځے چه تاسو د الله د حدودو نه تجاوز وکړئ، ډیر خلك د ذاتی دشمنئ او کینے په وجه د خلکو نیکی او خیر ټول ضائع کوی او د هغه بدی بیانوی-

أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ : اَیْ فِیْ حَالَةِ الْكُفْرِ- یعنی د کفر په حالت کی-

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى : دا دوه لفظونه ډیر خواره دی، او ډیرو احکامو ته شامل دی، او دا یو عجیب قانون دیے چه مفتیانو او متقیانو دپاره ډیر فائده مند دیے، په زرګونو احکام پدیے کی داخلیږی- یعنی هر چا چه د نیکئ او د تقویٰ کار کولو نو د هغوی سره مدد وکړئ، او د مسلمان طریقه به زیاتے کول نهٔ وی، بلکه د نیکئ او د تقویٰ په کارونو کی د یو بل سره مرسته کول وی، او مسلمانان به په خپل مینځ کی د ګناه او د ظلم او زیاتی په کارونو کی مرسته نکوی-

تعاون دریے قسمه خلکو ته شاملیږی (۱) علماء، (۲) اغنیاء (مالدارو) (۳) شجعانو (بهادرانو) ته، علماءٓ به خلکو ته د نیکئ او د تقویٰ لاره ښائی او د ګناهونو نه به ئے منع کوی- او په بدعت او شرك او ظلم او زیاتی خودلو سره به معاونت نکوی، او نهٔ دا چه د صحیح دین نه ئے واړوی- او مالداره به په خپل مال سره د خلکو مدد کوی، مدرسے او مساجد به جوړوی، د علماء او طلباؤ کفالت به کوی، او عام رفاهی کارونه به کوی (پُلونه، لارے، هسپتالونه به جوړوی) او د کمزورو مرسته به کوی- او مالدار به بی ځایه مال نهٔ لګوی، او د مال په وجه به خلك د دین نه نهٔ اړوی- او بهادران به خلکو سره منډه تړه

وهي، بدني خدمت به ئے کوی، او ظالمان به ترے اړوی او جهادونو کی به شرکت کوی۔

فائده : تقویٰ يو داسے شے دے چه يوائے په يو تن باندے پوره نۀ ادا کيږی، ترڅو پورے چه نور خلك ورسره يو ځای شوی نۀ وی او د هغه سره ئے د تقویٰ په کارونو کی مدد نۀ وی کړے لکه د يو تن د تقویٰ اراده ده ليکن معاشره او کورئے خراب دے، نو دا پوره تقویٰ نشی اختيارولے ترڅو پورے چه هغوی ورسره د تقویٰ په کارونو کی مدد ونکړی، نو ځکه الله تعالیٰ د يو بل سره په تقویٰ او نيکئ کی د مرستے کولو حکم وکړو۔

د برّ او تقویٰ فرقونه

بر نيکئ ته او تقویٰ د الله يرے ته وائی ليکن مصداقات ئے دا دی :

١- بر : اسلام او تقویٰ : سنة نبوی ته وائی۔ يعنی د يو بل سره په اسلام او د رسول الله ﷺ په سنتو مرسته کوئ۔

٢- بر : مُتَابَعَةُ الْأَمْرِ او تقویٰ : اِجْتِنَابُ النَّهْيِ ته وائی، يعنی د الله په حکمونو کی او د حرامو ځيزونو نه په ځان ساتلو کی د يو بل مرسته کوئ۔

٣- البر : مَا يَشْمُلُ الْوَاجِبَ وَالْمَنْدُوبَ وَالتَّقْوٰى مَا يَشْمُلُ الْوَاجِبَ ۔ (ابن عطيّة) برّ هغه ځيز ته وائی چه واجب او مستحب دواړو ته شامل وی، او تقویٰ صرف واجباتو ته شامليږی۔ نو په ضروری او غير ضروری ټولو کی د يو بل سره مدد وکړئ۔

٤- بر حق الله دے او تقویٰ حق الناس دے۔ (فتح البيان) يعنی يو بل سره د الله په حقوقو او د بندګانو په حقوقو کی مرسته کوئ۔

وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ : پدے هم ډير احکام حل کيږی۔ مثلًا ټی وی، وی سی آر خرڅول اخستل ناروا دی، ځکه چه دا د يو بل سره په ګناه باندے مدد دے۔ د نائی دپاره ګيره خريول او په هغے باندے پيسے اخستل حرام دی، ځکه چه دا په ګناه باندے مدد دے۔ د شرابو ، نسوار او سيګرټ خرڅول حرام دی، هغه بليډ، پاکی خرڅول چه صرف ګيره پرے خرئيلے شی حرام دی، لنډه دا چه يو شی باندے صرف ګناه کيدله د هغے خرڅول صحيح نۀ دی، البته که ګناه او نيکی دواړه پرے کيدله يا پرے نيکی غالبه وی او ګناه مغلوبه نو د هغے خرڅول جائز دی۔ لکه انګور خرڅول د شرابو دپاره يا انډے خرڅول چه صرف د جوارئ دپاره وی هم صحيح نۀ دی۔

يا يو تن ناجائز قتل کوی، يا ګناه له روان دے، هغه ته به پناهی نۀ ورکوی، د بی حيائی

اسباب به چا ته نهٔ فراهم کوی، د مسلمانانو په خلاف به د کافر سره تعاون نهٔ کوی، جاسوسی به نکوی، لارے به ورته نهٔ ښائی۔

د اثم او عدوان فرقونه

۱- اثم کفر او عدوان بدعت دے۔ ۲- اثم گناه ته وائی چه د الله د حقوقو سره متعلق وی او عدوان هغه گناه او زیاتے دے چه د بندگانو سره متعلق وی۔

۳- بنه فرق دا هم دے چه اثم مَا كَانَ مُحَرَّمَ الْجِنس ۔ اثم هغه دے چه جنس ئے حرام وی لړ وی که ډیر لکه شراب شو۔ او عدوان هغه دے چه جنس ئے حرام نهٔ وی لیکن زیادت او اسراف پکښې حرام وی لکه اُوبه او خوراك، دعا، د بدعت په طریقه خیراتونه کول ناروا دی۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ : یعنی په هر حال کی د الله نه یره کوئ، الله چه کوم څیزونه حرام گرځولی دی د هغے نه بچ شئ، ځکه چه څوك د الله نافرمانی کوی او د محرماتو په کولو کی جرأت کوی نو الله د داسے خلقو دپاره ډیر سخت عذاب تیار کړیدے۔

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ
حرام کړے شویده په تاسو باندے مرداره او وینه او غوښه د خنزیر او هغه چه آواز پورته شی
لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ
د غیر الله د نزدیکت دپاره په هغے باندے او هغه حیوان مرئ خفه کړے شوے او ټکولے شوے
وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا
او رارغښتے او په ښکر وهلے شوے او هغه چه خوړلے وی درنده (ځناور) مگر هغه
ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ
چه حلال ئے کړئ تاسو او هغه چه ذبح کړے شوی وی په بتانو (او د غیر الله په درگا هونو)
وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ
او (حرام شوی دی دا) چه تاسو تقسیم معلوموئ په غشو سره دا (کارونه) نافرمانی ده لویه
اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ؕ
نن ورځ نا اُمیده شول کافران د دین ستاسو نه پس مهٔ یریږئ د دوی نه او یریږئ ځما نه

اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ وَاَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِيۡ وَ
نن ورځ پوره کړو ما تاسو لره دين ستاسو او پوره کړو ما په تاسو باندې نعمت خپل او
رَضِيۡتُ لَكُمُ الۡاِسۡلَامَ دِيۡنًا ؕ فَمَنِ اضۡطُرَّ فِيۡ مَخۡمَصَةٍ
غوره کړيدې ما تاسو لره اسلام دين پس څوك چه مجبوره شو په سخته لوږه کې
غَيۡرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثۡمٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۳﴾
نه وو دې کړيدونکې گناه ته نو يقيناً الله بخونکې رحم کونکې دې.

تفسير : د عقودو نه دا بل عقد دې پدې کې محرماتِ الٰهيه بيانيږي يعنې هغه څيزونه چه الله حرام کړيدي، چه بعض د ماکولاتو (خوراکي څيزونو) سره تعلق لري او بعض عقيدوي دي، او بعض ذاتي حرام دي، او بعض د غير د وجه نه لکه مثلًا مرداره، وينه، او خنزير کې ذاتي فساد دې پدې وجه حرام کړې شويدي، او بعض په اعتبار د ذات سره حرام نۀ وي ليکن د غلط نيت د وجه نه په هغې کې فساد راغلې وي لکه گډه خپله حلاله ده ليکن کله چه د غير الله په نوم نذر شي نو د نذر کونکي غلط نيت په گډه کې فساد پيدا کړو. نو دلته دواړه قسمه بيانيږي.

ربط

مخکې (اِلَّا مَا يُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ) استثناء وه نو دلته ددغه استثناء تفصيل بيانيږي، چه دا راتلونکې څيزونه په تاسو حرام کړې شويدي.

د مردارې، او وينې او د خنزير د غوښې او هغه حيوان چه د غير الله په نوم ذبح کړې شوی وي ددې د حرمت بيان د سورة البقرې آيت (۱۷۳) کې تير شويدې.

د ((الميتة)) نه مراد هر هغه حيوان دې چه په غير د ذبح کولو نه يا په غير د ښکار کولو نه خپله مړ شوې وي، ځکه چه پدې کې بهيدونکې (مرداره وينه) بنده پاتې شوه نو هغه په ټول بدن کې تاثير کوي. دارنگه د حديث په بنياد کوم حيوان باندې چه قصداً بسم الله ونۀ وئيلې شي هغه هم مرداره کې داخله ده. البته که هيره شوه نو حيوان نۀ مرداريږي ځکه چه د هر مؤمن په زړه کې د الله نوم پروت دې. او دا رأی د امام شافعيؒ ده، مگر حقه دا ده چه بسم الله پريخودو سره حيوان حراميږي برابره ده قصدا ئې پريخې وي يا ترې هيره شوې وي لکه ددې تفصيل په فتاوی الدين الخالص (٦) کې وگوره.

او د ((الـدم)) نه مراد هغه وينه ده چه د حيوان نه د ذبح كولو په وخت په تيزئ سره د هغه د بـدن نـه خارجيږي چه هغې ته د فقه اسلامي په اصطلاح كې (دَمِ مَسْفُوْح) وائي- د وينې په خوړلو سره د بنده نه قاتل جوړيږي-

الله تـعالىٰ په سورة الانعام كې فرمايلي دي : ﴿ اَوْ دَمًا مَسْفُوْحًا ﴾ يعني الله تعالىٰ چه كوم خوراكي څيزونه حرام كړيدي په هغې كې بهيدونكې وينه هم ده-

او د ((الـخـنـزير)) نه كورني او ځنګلي دواړه قسمه خنزيران مراد دي- او د هغه د غوښې نه مراد د هغه د جسم تمام اجزاء دي، په هغې كې وازدهٔ او هډوكي هم داخل دي-

پـه خنزير كې بې غيرتي او بې حيائي ده، او د كومو څيزونو نه چه منع شويدې په هغې كې ډير حرص لري نو د هغې د غوښې په وجه په بنده كې دغه بد صفتونه پيدا كيږي-

((منخنقة)) نه مراد هر هغه حيوان دې چه د مرئ په خفه كولو سره مړ شي، برابره ده چه څوك د هغه مرئ خفه كړي، ساه ورله بنده كړي يا خپله په پړي كې ئې ساه بنده شي-

((مـوقـوذة)) هغه حيوان ته وائي چه په لرګي يا ډنډې سره اُووهلې شي او مړ كړې شي- د جـاهـليـت په زمانه كې به خلقو چيلئ په لرګو سره وهلې وهلې، مړې به ئې كړې بيا به ئې د هغې غوښه خوړله-

امام بخاري رحمه الله د عدي بن حاتم ﷛ نه روايت كړيدې چه ما اُووئيل اې د الله رسوله ! زهٔ ښكار په پلن غشي سره اُولم او هغې سره اُولګي (نو ددې څه حكم دې؟)

نبي كريم ﷺ وفرمايل :

[اِذَا أَصَابَ بِحَدِّهٖ فَكُلْ وَاِذَا أَصَابَ بِعَرْضِهٖ فَقَتَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَاِنَّهٗ وَقِيْذٌ]

كـه هـغـه په تيرو په ښكار اُولګي نو هغه خوره او كه په پلن طرف اُولګي او قتل شي نو مـه ئې خـوره ځـكـه چـه دا وقيـذ دې يـعني په لرګي سره وهلې شوې وژلې شويدې نو دا مهٔ خوره-

امام شـوكانيؒ ددې حديث نه دليل نيولې دې او ويلي ئې دي چه په توپك سره ښكار كړې شوي حيـوان غـوښـه حلاله ده ځكه چه د هغې ګولئ د حيوان جسم څيري او بل طرف ته ترې اُوځي او نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چه ((كـه ښكار په يو پلن غشي سره اُوولې او هغه د هغه جسم څيري كړي نو هغه خوره))-

د ((متـردية)) نه مراد هغه حيوان دې چه د غر نه خكته راپريوتې وي، يا كوهي ته پريوتې وي او مړ شوې وي-

((نطیحة)) هغه حیوان دے چه یو بل حیوان په جنګ کې په ښکرو وژلے وي۔
وما اکل السبع : دغه شان د هغه حیوان غوښه هم حرامه ده چه د هغه بعض حصه یو بل حیوان خوړلې وي، او هغه حیوان مړ شوے وي۔ جاهلیت والو به د داسے حیواناتو غوښه خوړله۔
اِلَّا مَاذَكَّيْتُمْ : أَیْ فَهُوَ حَلَالٌ ـ یعنی که تاسو ئے ذبح کړئ نو هغه به حلال وي۔ دا د (وَالْمُنْخَنِقَةُ) نه روستو څیزونو سره متعلق دے نه د (مَا اُهِلَّ) سره۔ یعنی ذکر شوی حیوانات که د مرګ نه مخکې د الله په نوم اخستو سره ذبح کړے شي نو د هغے خوړل به جائز وي۔ د ابن عباس رضي الله عنهما قول دے چه که په ذکر شوو حیواناتو کې روح باقي وي او هغه ذبح کړے شي نو د هغے خوړل به جائز وي۔
علی بن ابی طالب ﷺ وائي چه که موقوذه او متردیه او نطیحه حیوان لاس یا خپه خوزوي او هغه ذبح کړے شي نو د هغے خوړل به جائز وي۔ د طاؤس، حسن، قتاده او ضحاك رحمهم الله وغیرهم همدا قول دے او د جمهورو فقهاؤ هم دا مذهب دے۔
ذکیتم : د ذکاة نه اخستلے شویدے او د ذکاة معنیٰ ده ذبح کول۔ او ددے حد دا دے چه په مرئ کې صرف شق (څیریدل) وشي او وینه تر ے وبهیږي نو دا د حلالوالي دپاره کافي ده او که د مرئ درے رګونه پریکړے شو نو دا ئے اعلیٰ درجه ده۔او د رګونو د تعیین په باره کې صحیح روایتونه نشته۔
وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ : عَلٰی په معنیٰ د لام سره دے أَیْ لِأَجْلِ النُّصُبِ ـ یعنی د وجه د نصبو نه۔ یا مضاف پټ دے أَیْ عَلَی اسْمِ النُّصُبِ ـ یعنی هغه چه ذبح کړے شي په نوم د نُصُبو۔ نُصُب کلمه مفرد ده او جمع ئے اَنْصَاب ده، او ځینې وائي چه نصب جمع ده او نِصَاب ئے مفرد دے لکه کتب او کتاب۔ (کشاف)
د مکے مشرکانو د بیت الله نه ګیر چاپیره ډیر کاڼي نصب کړي وو چه په هغے به ئے حیوانات ذبح کول او د هغے غوښے به ئے ټکړے کولے، او بیا به ئے د همدغه ځاروو غوښے وربانده ایښودے چه فقیران ئے ترے واخلي، دوی دغه کار د الله په نیز د تقرب او نزدیکت ذریعه ګڼړله او د خپلو بتانو دپاره ئے تعظیم ګڼړلو۔ او دوی به ددے کاڼو تعظیم کولو او ددے نه به ئے یره کوله، او د ذبح په ذریعه به ئے ددے کاڼو د تقرب نیت کولو، دے کاڼو ته به ئے ((انصاب)) وئیل۔
حافظ ابن کثیر رحمه الله وائي چه مسلمانانو لره ئے د داسے کار نه منع کړل او دغه ذبائح

ئے حرام اُوګرځول اګرکه د ذبح په وخت په هغې باندے د الله نوم اخستے شوے وی ځکه چه د داسے کانړو خوا کی ذبح کول د الله سره شرك دے چه الله او د هغه رسول حرام کړیدے۔

سوال وجواب

په (اَلْمَيْتَةُ) کی دا لاندے حرام شوی ځاروی داخل وو نو جدا ذکر کولو کی ئے څه حکمة دے؟ جواب : د جاهلیت په زمانه کی اَلْمَيْتَة صرف هغې مردارے ته ویل کیده چه هغه به په کوم مرض باندے مړ شوے وو او ذکر شوی حرام ځاروی تول حلال ګنړل کیدل۔ پدے وجه الله پرے صراحت وکړو چه د جاهلیت رواج ختم کړی۔ (القرطبی، المحرر الوجیز، البحر المحیط)۔

د وثن، نصب او صنم فرقونه

اوثان او انصاب دواړه خپل مینځ کی فرق نهٔ لری دواړه هغه شی ته ویل کیږی چه د عبادت دپاره نیغ ودرولے شوی وی، خو دا پکی شرط ده چه په خپل اصلی خلقت باندے پاتی وی لکه کانړی او یا نور ځیزونه چه په مصنوعی توګه پرے نقش او سنګار نهٔ وی کړے شوے او صنم یا اصنام هغه مجسمو ته وائی چه انسانانو په نقش او ډول او سنګار باندے جوړ کړی وی، برابره خبره ده چه د هر جنس نه وی لکه سره زر، سپین زر، ګټے، ختے او داسے نور۔ (احکام القرآن للجصاص)

د ما اهل او ما ذبح علی النصب ترمینځ فرق

((وما اهل لغير الله)) کی تقریباً همدا حکم بیان شویدے، لیکن په دواړو کی فرق دا دے چه ((وما ذبح علی النصب)) کی د هغه حیواناتو حکم بیان شویدے چه هغه د بتانو دپاره ذبح کړے شوی وی او ((وما اهل لغير الله)) کی د هغه حیواناتو چه هغه د انبیاؤ علیهم السلام او اولیاؤ دپاره ذبح شوی وی۔

یا دا چه (ما اهل لغير الله) هغه دے چه د غیر الله د تقرب دپاره ذبح شوی وی، او ما ذبح علی النصب هغه ځاروی دی چه د الله نوم پرے اخستے شوے وی مګر په داسے مقام کی ذبح کړے شی چه هلته دبتانو تعظیم رواج وی۔

په اسلام کی د الله دپاره هم په دغسے ځای کی ذبح کول جائز نهٔ دی چرته چه د غیر الله دپاره ذبح کولے شی۔ ابوداؤد د ثابت بن ضحاك ﷺ نه روایت کړیدے چه یو شخص په

((بُوانـه)) مـقام کی د اُوښ ذبح کولو نذر اُوکړو، نو هغه د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اُوکړه نو نبی ﷺ پوښتنه اُوکړه چه [هَلۡ کَانَ فِیۡهَا وَثَنٌ مِنۡ أَوۡثَانِ الۡجَاهِلِیَّةِ یُعۡبَدُ] آیا د جاهلیت په زمانـه کـی هلته د یو بت عبادت کیدو؟ خلقو اُووئیل : نهٔ، نبی ﷺ اُوفرمایل : [هَلۡ کَانَ فِیۡهَا عِیۡدٌ مِنۡ أَعۡیَادِهِمۡ ؟) آیا هـلتـه د جاهلیت کوم عـید (اختر) مناویدو؟ خلقو اُووئیل : نهٔ، نـو نبـی ﷺ هـغـه سـړی ته اُووئیل چه خپل نذر پوره کړه۔ ځکه چه د داسے نذر پوره والے نشته چه د الله په نافرمانئ سره وی، او نهٔ داسے نذر چه د هغے بنده مالك نهٔ وی۔

بیا انصاب او نصب : کُلُّ مَا نُصِبَ وَعُبِدَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ شَجَرٍ وَحَجَرٍ وَقَبۡرٍ]

هـر هـغـه شے چـه ودرولے شـی او د الله نه سوئ د هغه بندګی کیدے شی که ونه وی، که کانړے او که قبر۔ (مجالس الابرار)

حـافـظ ابن تیمیهؒ په ((اقتـضاء الصراط المستقیم)) کی لیکی : [أَلنُّصُبُ کُلُّ مَا یُنۡصَبُ وَیُعۡبَدُ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ] هـر هـغـه شے چـه ودرولے شی او د الله نه سوئ د هغه بندګی کیږی که هغه قبر دے که کانړے او که دیوال وغیره۔ نور مصداقات به ئے په آیت (۹۰) کی راشی۔

او ډیر خلك د بعض دیوالونو او غارونو تعظیم کوی چه هلته یو شخص ناسته کړی وی او هلته ذبح کوی، او شمعے بلوی او د هغے نه یره کوی دا هم انصابو کی داخل دی۔

وان تستـقسـمـوا بـالازلام : ازلام جـمـع د زَلَم ده لکه جَمَل، یا د زُلَم لکه د صُرَد جمعه ده (لسان العرب لابن منظور۱۲/۲۶۹) ازلام پـه اصـل کی هغه غشو ته وائی چه تیره ځوکه نهٔ لری او د هدف د ویشتو یا د ښکار کولو دپاره نهٔ وی مقرر شوی بلکه د لرګی نه به جوړ وو۔

د جاهـلیـت پـه زمـانـه کـی د عربو دستور وو چه هغوی به د غشو په ذریعه د خیر او شر فیـصلے معلومولے، په بیت الله کی به درے قسمه غشی پراته وو، یو باندے به لیکلے شوی وو چه ((وکړه)) بل باندے به لیکلے شوی وو چه ((مهٔ کوه)) او دریم به خالی وو۔

بـعض خلقو لیکلی دی چه په یو باندے به لیکلے شوی وو چه (أَمَرَنِیۡ رَبِّیۡ) زما رب ما ته حکم کړیدے) په بل به لیکلے شوی وو چه (نَهَانِیۡ رَبِّیۡ) (زهٔ خپل رب منع کړے یم) او دریم به خالی وو۔ کله چه به یو سړی د سفر یا وادهٔ وغیره اراده اُوکړه نو د بیت الله منجورانو خوا تـه بـه راغـلـو او وئیـل بـه ئے چه زما دپاره یو غشے راوباسه، دغه غشی به په یو کڅوړه کی پراتـه وو، نو د کعبے منجور به د غشو ښه خوزولو نه روستو یو غشے راویستو، که د حکم او اجازت والا غشے به وو نو هغه کار به ئے کولو، او که د منع والا به وو نو د خپلے ارادے نه بـه واپس کیدو، او که خالی غشے به وو نو د غشو ړقولو او یو بل غشی راویستلو عمل به

دویم ځلی کیدو۔ الله تعالیٰ دے کار ته فسق اُووئیلو او حرام ئے اُوګرځولو۔ ځکه چه دا په علم غیب کی مداخلت دے چه هغه د الله نه علاوه هیچا ته معلوم نهٔ دے۔ دے نه سویٰ پدے کی د بتانونو نه یو قسم مشوره او استعانت (مدد طلب کول) دی، چه په هر حال کی شرك دے۔ چونکه دا رسم خالص په جهل، شرك، اوهام پرستیٔ او افتراء علی الله باندے بناء وو پدے وجه قرآن کریم په مختلفو ځایونو کی په ډیره سختیٔ سره ددے حرمت ښکاره بیان کړیدے او دلته ئے ازلام د نصب سره ذکر کړو او د مردارے، وینے، او د خنزیر وغیره نهایت خبیث او ګنده څیزونو د تحریم په سلسله کی ئے یو ځای کړل نو ددے نه دا ښکاره شوه چه ددے معنوی او اعتقادی نجاست او خباثت د دغه څیزونو نه کم نهٔ دے لکه په بل آیت کی ئے دے ته ﴿ رِجُسٌ مِنُ عَمَلِ الشَّیُطَان ﴾ وئیلی دی۔

ددے په بدله کی رسول الله ﷺ مسلمانانو ته د استخارے تعلیم ورکړو، دے دپاره چه د یو کار کولو نه مخکی د الله نه د خیر دعا اُوکړی۔ امام احمدؒ، بخاریؒ او اصحاب السنن د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ به مونږ ته په ټولو کارونو کی د الله نه د استخارے (خیر طلب کولو) داسے تعلیم راکولو لکه څنګه چه به ئے مونږ ته د قرآن د یو سورة تعلیم راکولو۔

دارنګه د مکے د مشرکانو د غشو بله مجموعه اُوه غشی وو چه په هر یو باندے به یوه یوه خبره لیکلے شوے وه چه دوی به په هغے باندے خپلے فیصلے معلومولے، دا به د هُبَل بت په خوا کی پراته وو کوم چه په کعبه کی دننه پروت وو، او د مکے والو مرکز او لوی مرتبے والا بت وو، دوی به څه شرینی ورکولو نه روستو کاهن یا منجور ته د هغے نه د یو غشی راویستو حکم کولو او په هغے به ئے خپلے فیصلے حل کولے۔ لکه عبد المطلب د عبد الله په باره کی دا استقسام بالازلام کړے وو چه تر سلو اُوښانو به هغه تش راختل آخر دا راوختلو چه دا کار مهٔ کوه۔

دریم قسم د غشو مجموعه ددے دپاره منتخب شوے وه چه دوی به د هغے نه د قمار بازیٔ (جواریٔ) کار اخستلو او د اُوښانو غوښے به ئے پرے تقسیمولے مثلاً ډیرو کسانو به یوه اُوښه په شریکه واخسته نو یو شان به ئے نهٔ تقسیموله بلکه په غشو به ئے حصے مقرر کړے په یو غشی به ئے درے برخے او په بل به ئے دوه برخے او په بل به ئے کم یا زیات، او بل به ئے خالی پریخودو او بیا به ئے دغه غشی یو بوجیٔ کی واچول او هر یو تن ته به ئے ویل چه ددے نه یو غشے راویاسه، نو د چا به زیاته برخه راختله او د چا کمه، او د چا به هیڅ نهٔ

راختـل، بیـا چـه بـه د چا برخه راوختله نو هغه به د فخر په طریقه دغه برخه بل ته ورکوله خپـل ځان بـه ئـې پـرې لـوی ښـکاره کولو، دغسې موقعو ته به فقیران هم حاضریدل نو د هغـوی بـه هـم پکی فائده وشوه، پدې وجه په سورتِ بقره کی الله تعالیٰ ددې قسم جوارئ پـه بـاره کی وئیلی وو چه پدې کی لږ منافع شته هغه دا چه ددې سرې ریاء او فخر به پکی وشو او د فقیـرانـو حاجت به پوره شو، او دا قسم جواری بعینهٖ د لاټری بعض صورتونو ته شـامـل ده، بـانډونه هم ددې په حکم کی دی۔ او بیمه زندگی چه انشورنس او تأمین ورته ویـل کیـږی دا ټول جواری ده او حرام کار دې اګرکه ډیر په کی واقع دی او د خلکو پرې هیڅ پرواه نشته والله المستعان۔

نـو دلتـه الله تـعالیٰ ایمان والو ته وائی چه تاسو د یو کار په کولو یا نۀ کولو کی د غشو نه کـار مـۀ اخلئ بلکه شرعی استخاره وکړئ۔ او دارنګه د مسلمانیدو نه روستو په کفری او شرکی لاره بـاندې لاړ نۀ شئ بلکه خپلې فیصلې د شریعت په رڼا کی حل کړئ او د فالګرو پسـې مـۀ ځئ، ستاسو شریعت په هر اعتبار سره کامل دې، او ددې ګندونو هیڅ ځای پکی نشتـه، ډیر خلك فالګرو لوټ کړل، د مال دپاره ورته نصیبونه ښائی، او ډیر مسلمانان پدې ګندونو اخته شو۔ او دارنګه قمار بازی (جواری) مۀ کوئ او مۀ د جاهلیت د رسم او د رواج په شان د جوارئ په غشو باندې خپلې برخې معلوموئ۔ دلته دا درې واړه قسمه غشی مراد کول صحیح دی او د ټولو ترمینځ هیڅ منافات نۀ شته۔

نـو کومه اُوښه چه په دغه طریقه تقسیم شوه هغه هم حرامه شوه، ځکه چه جواری پرې وکړې شوه، او د جوارئ مال حرام وی، اوکه خپل قسمت معلوموی، نو هم دا کار غلط دې ځـکه چه دغه پیر یا بابا او منجور په غیبو نۀ پو هیږی چه دا ووائی چه دې کار ته لاړ شه دا کیـږی او دې تـه مۀ ځه دا نۀ کیږی، دا علم خو صرف الله تعالیٰ سره دې او دا د ځان نه هسې وهـم او خیـال جوړ شویدې چه منجور او بابا به ستا نصیب او قسمت معلوموی او ستا په خیر او شر به پو هه وی، هسې ځان ته دهوکه ورکول دی۔

ذٰلِكُمْ فِسْقٌ : اشاره ده مـخـکـنی حرامو څیزونو ته۔ یعنی دغه څیزونه استعمالولو سره بنده فاسق ګرځی۔ د فسق دلته دوه مصداقه دی (۱) خُرُوُجٌ مِنَ الدِّیۡن۔

(د دین نه وتل) ۔ او (۲) بل خُرُوُجٌ مِنَ الطَّاعَةِ ۔ (د طاعـت نه وتل) په بعض اوقاتو کی به انسـان د هـغې په استعمال سره ګناهګار ګرځی او کله چه هغه جائز وګڼړی یا شرکی عمل وکړی لـکـه پـه نصب باندې ذبح بیا به کافر کیږی۔ نو کله به فاسق فی الاسلام وی او کله

به فاسق في الكفر وي۔
اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : دا او (اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ) دا نازل شوے وو په عرفات كې چه د عرفې او د جمعې په ورځ د مازيګر په وخت چه رسول الله ﷺ د العضباء نومې اُوښه باندے سور وو، دعائے كوله او ددے نه روستو رسول الله ﷺ يو اتيا (۸۱) ورځے پس وفات شو۔
يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : أَيْ مِنْ اِبْطَالِهٖ۔ يعنى د دين د ختمولو نه۔
دويم دا چه د كافرانو دا طمع وه چه مسلمانان به په جنګونو سره تنګ كړو او بيرته به ئے خپل دين ته راستانه كړو۔
اليوم : ددے نه كومه ورځ مراد ده؟ نو ددے نه مراد هغه ورځ ده چه په هغې كې لاندے مهم كارونه پوره شوى وو، يو دين پكى كامل او پوره شويدے، دويم نعمتونه پكى تمام شويدى، دريم د اسلام دين مونږ دپاره غوره كړے شويدے، او څلورم دا چه كافران پكى ددے نه نا اميده شويدى چه دين اسلام ختم كړى او بيرته شرك راواپس كړى، او بت پرستى عامه شروع كړى۔ تر اُوسه پورے به كافرانو دا طمع لرله او يهود او نصارىٰ او منافقانو بلكه د ټولے دنيا كافرانو دا كوشش كولو چه مدينه كې اسلامى خلافت ختم كړى، او دين اسلام وران كړى او مسلمانان بيرته ګمراه كړى، ليكن كله چه د الله تعالىٰ قوانين نازليدل او مسلمانانو په هغې باندے عمل كولو او يوه ښائسته فضاء او معاشره برابره شوه، نو اُوس كافران نا اميده شو چه دين اسلام ختم كړى او شرك بيرته راواپس كړى۔ ځكه چه مسلمانانو ته حدود مقرر شو او قانون ورته ملاؤ شو او د څيزونو فائدے او ضررونه ورته ښكاره شو نو اُوس د حق نه اړول څه آسان كار نۀ دے، اُوسه پورے كافرانو خپلو بتانو ته خلك رابللے شو ځكه چه د مسلمان دپاره نظام نۀ وو۔
ددے معنىٰ وضاحت په هغه حديث سره هم كيږى چه هغه امام مسلم په خپل صحيح رقم (۷۲۸۱) كې د جابر رضی اللہ عنہ نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل :
[اِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَّعْبُدَهُ الْمُصَلُّوْنَ فِيْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ وَلٰكِنْ فِي التَّحْرِيْشِ بَيْنَهُمْ]
شيطان ددے خبرے نه نا اُميده شويدے چه په جزيرة العرب كې مونځ كونكى د هغه عبادت اُوكړى، ليكن هغه به د مسلمانانو په مابين كې اختلاف پيدا كوى)۔
فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ : يعنى ددے احكامو په عملى كولو كې د كافرانو نه مۀ يريږئ چه د هغوى عظمت په زړه كې راولئ او زما حكمونه د هغوى د وجه نه مات كړئ او حرام وكړئ د هغوى د وجه نه، لكه ډير انسانان د خلكو ډيرے د وجه نه حرامه كوى، او د حلالو

نـه ځان ساتي د خلکو د رسم او د رواج د يريے نه۔ نو الله فرمائي چه پدے کې صرف زما نه يره وکړئ۔

اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ : الله تعالیٰ په امتِ اسلامیه باندے خپل عظیم نعمت او لوئی احسـان ذکـر کـړيدے چه الله دوی ته یو مکمل دین ورکړو چه دوی ته اُوس نهٔ د بل کوم دین ضرورت شته، او نهٔ د بل کوم نبي۔ ځکه چه دا قانون دے چه کله حلال او حرام بیان شي نو پدے سره دین پوره کیږي۔

دارنګـه الله تـعـالیٰ امتِ اسـلامیـه تـه د اطـاعـت او استـقـامت توفيق ورکړو، د روحاني غذاګانو او د دنياوی نعمتونو دسترخوان ئے ستاسو دپاره خور کړو، د قرآن کریم د حفاظت، د اسلام غلبه، او د عالم د اصلاح سامان ئے تیار کړو۔ او د الله د نعمتونو نه یو لوی نعمت دا هم دے چه د اسلام د تکمیل اعلان ئے وکړو۔

امام احمدؒ او بخاریؒ او مسلمؒ د طارق بن شهاب ﷺ نه روایت کړيدے چه یو یهودی د عمر بن خطاب ﷺ خـوا تـه راغـلو او وے وئيل چه اے امیر المؤمنین ! تاسو په خپل کتاب کې يـو داسے آيت لـولـئ چه که هغه په مونږ نازل شوے وے نو هغه ورځ به مونږ د اختر ورځ جـوړه کـړے وے۔ هغوی تپوس وکړو هغه کوم آيت دے ؟ نو یهودی وويل : ﴿ اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ ﴾الآية نو عمر ﷺ وويل چه قسم په الله ! زهٔ هغه ورځ او هغه وخت ښه پيژنم چه کـلـه دا آيت په رسول الله ﷺ نازل شوے وو۔ دا آيت د جُمعے په ورځ د عرفے په مابنام نازل شوے وو۔ (صحیح بخاری : ٤٥، مسلم : ٧٧١٠)

(مطلب دا چه دا دواړه زمونږ د خوشحالئ ورځے دی، نورے د خوشحالئ ورځو پيدا کولو ته ضرورت نشته، دے یهودی په عمر ﷺ باندے بدعت پیدا کولو او یا د یهودو غلط عادت بیانول غرض وو ځکه چه دا یهودی مسلمان شویدے، ددے نه کعب الاحبارؒ مراد دے۔

حکمة

دلته دوه لفظونه استعمال دی، اَكۡمَلۡتُ او اَتۡمَمۡتُ۔ اکمال په کمیاتو (مقادیرو) کی او اتمام په کـيـفـيـاتـو (طريقو) کې استـعـماليږي، نو دین په اعتبار د کمیت او کیفیت دواړو سره کـامل شو، نو په دین کې مقدار د عملونو هم بیان شویدے مثلًا پنځه مونځونه فرض دی کـه څـوك شپږم فرض ګنړي دا به غلو في الدين وي، تحية المسجد او وتر مونځ چه څوك فـرض ګـنـړي غـلط وائي، او کیفیت د هر عمل مقرر شویدے چه مونځ به په کومه طريقه

کوي، روژه، زکاة او حج وغیره. مګر بعض داسې عبادات دي چه الله تعالیٰ بندګانو ته سپارلي دي لکه د عام غیر موقت ذکر مقدار ئې نۀ دې مقرر کړې اګرکه د ذکر کیفیت ئې بیان کړیدې. سبحان الله به وائي او غیر شرعي اذکار به نۀ وائي لکه هُو هُو وغیره.
دارنګه اکمال په کلیاتو کې استعمالیږي او اتمام په جزئیاتو کې نو دین په اعتبار د کلیاتو او جزئیاتو تولو سره کامل مکمل دې.

د دین د کمال څه معنیٰ ؟

مفسرینو د ﴿أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ ډیر مصداقات بیان کړیدي چه ځینې لاندې ولوله :
۱- د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت شویدې چه د دین فرائض او حدود او سنن (طریقې) او احکام او جهاد او حلال او حرام پوره شو چه ددې آیت نه روستو هیڅ تحلیل او تحریم نۀ دې نازل شوې. (بغویؒ)
۲- سعید بن جبیرؒ او قتاده وائي : [أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ فَلَمْ يَحُجَّ مَعَكُمْ مُشْرِكٌ]
تاسو له مې دین پوره کړو چه هیڅ مشرك تاسو سره په حج کې شریك نشو.
۳- أَظْهَرْتُ دِينَكُمْ وَأَمَّنْتُكُمْ مِنَ الْعَدُوِّ.
یعنې ما ستاسو دین ته غلبه ورکړه او هغه مې په خلکو کې ښکاره کړو او ستاسو دشمنان مې د ذلت سره مخامخ کړل او تاسو مې ترې په امن کې کړئ.
٤- أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ : بِتَمَامِ النَّصْرِ، وَتَكْمِيلِ الشَّرَائِعِ الظَّاهِرَةِ وَالْبَاطِنَةِ، الْأُصُولِ وَالْفُرُوْعِ وَلِهٰذَا كَانَ الْكِتَابُ وَالسُّنَّةُ كَافِيَيْنِ كُلَّ الْكِفَايَةِ فِيْ أَحْكَامِ الدِّيْنِ أُصُوْلِهٖ وَفُرُوْعِهٖ].
ما ستاسو دین پوره کړو چه پوره مدد مې درسره وکړو او ښکاره او باطني احکام مې پوره کړل اصول وي که فروع، پدې وجه کتاب او سنت د دین په اصولو او فروعو تولو احکامو کې کافي دي، ددې وجه نه کوم شخص چه دا ګمان کوي چه خلکو دپاره د عقائدو او احکامو په پیژندلو کې د کتاب او سنت د علومو نه علاوه نورو علمونو ته ضرورت دې لکه علم کلام او فلسفه وغیره نو دې جاهل دې او په خپله دعوه کې باطل پرست دې او دې ګمان لري چه دین به صرف په هغه څه پوره کیږي چه دې ئې وائي یا دې ورته دعوت ورکوي، او دا ډیر لوی ظلم دې او د الله او د رسول نه لویه ناخبري ده. (تفسیر السعدی۱/۲۱۹)

نکته

ځینـی روایاتو کی راغلی دی چه کله دا آیت نازل شو نو ابوبکر صدیق ﷛ په ژړا شو او پدے خبره پو هـه شـو چه د رسول الله ﷺ د مرګ نیټه رانزدے شوه، او د رسول الله ﷺ وظیفه پوره شوه چه هغه د دین پوره والے دے۔ او بیا ئے وفرمایل: [مَا کَمُلَ شَیْءٌ اِلَّا نَقَصَ] هیڅ شے کمال ته نهٔ رسیږی مګر په هغے کی به نقصان پیدا کیږی۔

(التحریر والتنویر۳/۲٤۰)

٥- د کمال معنیٰ دا هم ده چه دغه شریعت به په بل شریعت باندے نهٔ منسوخ کیږی۔

٦- زجاج رحمـه الله وائی : د دین کمال ددے نه عبارت دے چه د مسلمانانو نه د دشمنانو یره ختمه شوه نو ځکه الله وفرمایل : (فَلَا تَخْشَوْهُم) یعنی ددوی نه مهٔ یریږئ۔

(القرطبی، وزاد المسیر)

دا ټول مصداقات صحیح دی او خپل مینځ کی ئے هیڅ منافات نشته۔

فائده : دلتـه الله وفـرمایـل : ما تاسو ته دین پوره کړو او دا خبره ښکاره معلومه ده چه د مـونـځ، زکـاة، روژے او حج او د جهاد او نورو حدودو وغیره تفصیلات په قرآن کریم کی نهٔ دی نازل شـوی بـلـکـه هـغـه سنتِ رسول الله ﷺ بیان کړیدی نو معلومه شوه چه دین په قـرآن او سنت دواړو کی دے، او قرآن او سنت دواړه کامل دین دے۔ نو دلیل شو چه د رسول الله ﷺ احادیث هم پـه امت باندے حجت دے، او صحیح احادیث داسے یقینی دی لکه د قرآن په شان۔

فائده ۲ : ددے آیت نـه مـعـلـومه شوه چه دین کامل دے سره د عقائدو او فروعو او ټولو ضـروری احـکـامـو نـه نـو ددے نه روستو چه څوك دین ناقص (نیمګړے) ګنړی نو دا پدے آیت سره کافر دے۔ او بل په حدیث د رسول الله ﷺ سره چه هغه فرمائی :

[مَا مِنْ شَیْءٍ یُقَرِّبُکُمْ مِنَ الْجَنَّةِ وَیُبَاعِدُکُمْ مِنَ النَّارِ اِلَّا وَقَدْ أَمَرْتُکُمْ بِهِ] نشته یو شے چه تاسو جنت ته نزدے کوی او د اُور نه مو وړاندے کوی مګر ما تاسو ته په هغے حکم کړے۔

السنن الکبری : ١٣٨٢٥) والحاکم (٢١٣٦) وسنده صحیح)

نـو ځینـی مـقلدین چه شعوری یا غیر شعوری طور سره دین ناقص ګنړی او دا وائی چه پـه قـرآن او حـدیـث کـی لـسـمـه حصه د دین هم نشته بلکه دا علماؤ په قیاسونو سره پوره کـړیـدے، نـو دوی ځـان د ډیـرے خـطـرے سـره مـخـامـخ کړو چه الله به ورسره سخت حساب کـوی۔ کـلـه دوی دا سوال کوی چه په قرآن او حدیث کی نیا وښایئ او کله وائی چه میخه

پکې راته وښايه. کله به وائي فرض، واجب سنت وښايه مطلب ئې دا دے چه دين ناقص دے، صرف امام ابوحنيفةؒ پوره کړيدے. جواب دا دے چه اول خو د امام ابوحنيفةؒ خپل کتاب نشته نو کوم ځای کې هغه ويلي دي بيا د هغه خبره حجت نهٔ دے په امت باندے ځکه چه هغه يو عالِم دے د علماؤ د امت نه. د هغه خبره خپله دليل د قرآن او حديث ته محتاجه ده.

فائده ۳: لَكُمْ دِيْنَكُمْ کې ئې نسبت بندګانو ته وکړو او (نِعْمَتِيْ) کې ئې د نعمت نسبت ځان ته وکړو دے کې څه حکمت دے؟ نو حکمت دا دے چه بندګان په دين ولاړ دي، په دين به بندګان عمل کوي او د نعمت ورکونکے الله تعالىٰ دے نو ځکه ئې ځان ته نسبت کړيدے.

فائده ٤ : دين ته ئې نعمت ووېلو ځکه چه د دين هر حکم نعمت نعمت دے، دا د کاميابئ لاره ده، او جنت ته رسيدلے ده، پدے وجه دا به تکليف نشي ګڼړلے بلکه دے ته به په ډير محبت او شوق سره منړه وهي لکه يو تن چه نعمت طرفته منړه وهي. نو د دين احکامو ته تکاليف ويل صحيح نهٔ دي.

فائده ٥ : په کتاب او سنت کې تر قيامته پورے هره مسئله چه واقع کيږي د هغے حل شته لکه حافظ ابن القيمؒ ددے تفصيل په اعلام الموقعين کې ليکلے دے.

سوال وجواب

آيا د دغه وخت نه مخکې دين ناقص وو؟ که داسے وي نو ډير صحابه کرامؓ به په ناقص دين باندے وفات شوي وي؟ ددے جواب دا دے چه دين په هر وخت کې کامل وو، د مسلمانانو چه کومو احکامو ته ضرورت وو هغه پوره وو، مګر په ابتداء کې د مسلمانانو د جماعت احوال کم وو، بيا وخت په وخت فراخه کيدل نو احکام به هم ورته نازليدل، نو د دوی د فراخي په اندازه به دوی ته د دوی د حاجاتو مطابق کافي دين نازليدو، ځکه چه د دين تعليم په طريقه د تدريج سره شويدے، دے دپاره چه په خلکو کې ښه مضبوطوالے ونيسي، تردے چه ټول احکام د دين د امت د فراخئ په اندازه پوره شو. او ددے دا معنىٰ نهٔ ده چه دين مخکې نه ناقص وو ليکن د امت احوال پوره نهٔ وو راښکاره شوي مګر کله چه احوال پوره شو نو دين هم ورته کامل شو. (التحرير والتنوير)

او ددے نظير داسے دے چه د يوے مدرسے د يو ټولګي دپاره بيل بيل نصاب ټاکلے شوے وي هر يو په خپل ذات کې کامل دے مګر په نظر سره پورته ټولګي ته ناقص دے تردے چه

آخري تولګې ته ورسيږي او نصاب کامل شي۔
وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا : اُوس ددے دین نوم ښائی چه دغه دین ته اسلام وائی چه دا ما ستاسو دپاره د دین او د عمل په طور پسند کړو۔
اسلام د ټولو انبیاؤ علیهم السلام دین وو او خصوصی طور سره ددے امت دین دے او مخکنو امتونو اکثرو اسلام پريښے وو او نور دينونه ئے غوره کړی وو۔
فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ : مخمصه : د غذاء نه د خيټې خالي والي ته وائي۔ يعني لوږه۔
او دا جمله متعلق ده د مخکې (حرمت عليکم الميتة) سره اَیْ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ اِلٰی آخِرِهَا كُلَّ وَقْتٍ اِلَّا فِیْ وَقْتِ الْاِضْطِرَارِ۔ په تاسو دغه څيزونه حرام کړے شويدی په هر وخت کې مګر که مجبوره شوئ د خپل ځان د بچ کولو دپاره نو ددے حرامو څيزونو نه د يو شي په استعمال سره نهٔ ګناهګاريږئ۔
يعنی د حلال او حرام قانون خو مکمل شو، پدے کی به هيڅ تغير او تبدل نشی کيدے مګر که مضطر يو حرام شے وخوری وڅکی دے دپاره چه ځان ئے بچ شی نو الله تعالیٰ به ئے نهٔ راګيروی، او دا هم د اتمامِ نعمت يوه حصه ده۔
غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ : يعنی نهٔ وی مائل ګناه طرفته۔ يعنی زياتے او تجاوز کونکے نهٔ وی۔
متجانف د جَنَف نه دے په معنیٰ د ميلان سره۔
بيا دلته ئے صرف د لوږے مجبورتيا ذکر کړه، وجه دا ده چه ددے آيت د نزول زمانه د پخوانه جدا ده، دا هغه دور دے چه اسلام پکی غالبه شويدے ځوك نشته چه په مسلمان باندے د مردارے وغيره په خوړلو زور وکړی، نو که داسے ووېل شی چه که په تاسو کافرانو زور وکړو نو دا به ډير ناشنا ولګی، ځکه ئے صرف لوږه ذکر کړه نهٔ اِکراه۔

يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ
تپوس کوی ستا نه چه څه حلال شوی دی دوی لره ووايه حلال کړے شويدی تاسو لره
الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ
پاك څيزونه او هغه چه تعليم ورکړے وی تاسو د ښکار کونکو حيواناتو نه
مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ
چه زغلونکے يئ تاسو، خودنه کوئ تاسو دوی ته د هغه څه نه چه خودنه کړيده تاسو ته

اللّٰهُ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ
الله تعالیٰ نوخورئ د هغے نه چه بند ساتلی وی دوی تاسو لره او یادوئ نوم د الله تعالیٰ
عَلَيْهِ وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤﴾
په هغے باندے او ویریږئ د الله نه یقیناً الله زرد حساب کونکے دے۔

تفسیر: اُوس نور مُحللاتِ الٰهیه بیانیږی۔
پـه ذکـر شـوی آیـت کـی هغـه خبائـث بیـان شو د کومو خوراك چـه انسان تـه نقصان ورکونکے وی، اُوس دلتـه طیب او حلال څیزونه بیانیږی چه فائده ورکوی۔

شان نزول

طبـرانیؒ، حاکمؒ، بیـهقیؒ او ابن جریرؒ وغیرهُم د ابورافع ﷜ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ دوی تـه د سپـو د وژلـو حـکم اُوکړو نو خلقو تپوس اُوکړو چه اے د الله رسوله ! زمونږ دپاره د کـومـو څیزونو خوراك حلال دے ؟ نو نبی کریم ﷺ غلے شو تردے چه دا آیت نازل شو۔
ابـن ابـی حاتمؒ د سعید بن جبیرؒ نه روایت کړیدے چه د طئ قبیلے عدی بن حاتم او زید بن مُهلهل رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو
[إِنَّـا قَـوْمٌ نَصِيدُ بِالْكِلَابِ وَالْبُزَاةِ فَمَا ذَا يَحِلُّ لَنَا مِنْهَا؟] چـه مـونږ د سپو او بازونو په ذریعه ښکار کوو نو زمونږ دپاره ددے نه څه حلال دی؟ نو دا آیت نازل شو۔ (بغویؒ)
الطیبات : د «طیبات» نـه مراد هر هغه شے دے چه خبیث نهٔ دے، او هر هغه شے خبیث نهٔ دے چـه د هغـے حـرمت په قرآن او سنت کی نهٔ دے راغلے۔ نو ددے نه هم معلومه شوه چه اصـل پـه اشیـاؤ کـی اباحت او طهارت دے۔ نو ټول خوراکونه، څکاکونه، جامے، لباسونه، حیـوانـات، میوه جات، تجارتونه، معاملات او کاروبارونه حلال دی مګر هغه چه شریعت پرے پابـنـدی ولـګـوی، نـو دا د مُفتـی دپاره ډیره لویه قاعده ده او ډیر مسائل ددے لاندے راځی۔ او د شریعت فراخی او آسانی پکی پرته ده۔
فائده : طیبات : كُـلُّ مَـا لَـمْ يَـأْتِ تَحْرِيمُهُ فِي الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ ۔ هر هـغـه شے چه د هغے حراموالے په کتاب او سنت کی نهٔ وی راغلے۔ دا پوره تعریف دے۔ او تفسیر ابوالسعود کی دی : (وقیـاس مجتهد) نو دا غلط قید دے ځکه چه د مجتهد په قیاس سره په امت باندے

يو شے نهٔ حراميږي۔
او دا هم معلومه شوه چه د مردارو او خبائثو نه په غير تهول پاکيزه څيزونه حلال کړے شويدي نو دے ته ضرورت نشته چه تاسو ته د هغے فهرست نازل شي ځکه چه پاك څيزونه دنيا کي زيات دي، د هريو بيان ته ضرورت نشته۔
وما علمتم من الجوارح : دا په (طيبات) باندے عطف دے او دلته مضاف پټ دے أَيْ صَيْدُ مَا عَلَّمْتُم۔ يعني ښکار د هغه حيواناتو چه تاسو ورته تعليم ورکړے وي۔
د ((جوارح)) نه مراد هغه حيوانات دي چه هغه انسان د ښکار کولو دپاره ساتي، او ليږي لکه سپے، پړانگ، باخه، باز شاهين وغيره۔
جوارح جمع د جَارِحَةٌ ده د جَرْحٌ نه اخستے شويدے، جرح په معنىٰ د کسب سره هم دے، او په معنىٰ د زخم سره هم، او دلته دغه حيوانات هم په خپلو پنجو او اندامونو سره کسب کوي او حيوانات زخمي کوي لکه د انسان اندامونو ته هم جوارح وائي ځکه چه دا د کسب آلات دي۔ او دے ته ئے جوارح ځکه وويل چه د ښکاري حيوان زخمي کول په ذبح او حلالوالي کي د چاړه او د چاقو په شان دي۔
په آيت کي کلمه د ((مُكَلِّبِين)) په لام حرف باندے زير او زور دواړه لوستلے شويدي چه په لام زير وي نو معنىٰ به دا وي : چه هغه حيواناتو ته ددے فن ماهرينو تربيت ورکړے وي، او د زوَر په صورت کي به معنىٰ دا وي چه د هغه اموخته شوي حيواناتو د ښکار کړي حيوان د حلاليدو شرط دا دے چه هغوي ته به ښه تربيت ورکړے شوي وي او داسے خلقو به تربيت ورکړے وي چه ددے فن ماهرين وي۔
نو مكلبين په اول صورت کي حال دے د (عَلَّمْتُم) ضمير نه يعني په داسے حال کي چه تاسو زغلونکي او ليږونکے يئ دغه ښکاري سپي وغيره لره۔
نو جمهور اهل علم وائي چه که يو ښکاري سپي د مالك د ليږلو نه په غير يو ښکار ونيولو او مالك د هغے ذبح لاندے نکړه بلکه ښکاري سپي وژلے وو، نو ددے خوراك به حلال نهٔ وي ځکه چه سپي پدے وخت کي د خپل ځان دپاره نيولے دے نهٔ د مالك دپاره، ځکه چه د مالك څه عمل پکي رانغے، نو پدے باندے دا قول د نبي عليه السلام نهٔ صادقيږي چه [إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ] کله چه تهٔ خپل تعليم يافته سپے وليږے، او دا مذهب د امام مالك او شافعيؒ او ابو ثورؒ او اصحاب الرأيؒ دے۔ (القرطبي٦/٦٨)
تكليب : په معنىٰ د زغلولو او ليږلو سره دے۔ او مُكَلِّب مُعَلِّمُ الْكِلَابِ وَمُضْرِيهَا ته وائي

یعنی سپو ته تعلیم ورکونکے او هغه په ښکار باندے تیزه ونکے او زغلونکے۔ ځینی وائی : مکلب : صائد (یعنی ښکاری) ته وائی۔ (القرطبی)

تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللهُ أَیْ بِالْأَحَادِیْثِ النَّبَوِیَّةِ وَبِالْفِطْرَةِ۔ یعنی تاسو ته الله تعالیٰ تعلیم درکړیدے په نبوی احادیثو سره او په فطرت سره او د تعلیم صورت دا دے چه سپے او مارغه وغیره ستا په خبره ځی، ښکار نیسی او ستا په خبره راواپس کیږی۔

تعلمونهن ددے جملے مضمون په (وما علمتم من الجوارح) کی ذکر شو خو دویم ځل ددے دپاره ذکر شو (والله اعلم) چه د ښکاری حیواناتو ښودنے او تعلیم ته پکار ده چه دوام ورکړے شی ورنه ښودل شوی آداب ترے هیریږی او بیرته عادی حالت ته واپس کیږی، ددے وجه نه ئے (تُعَلِّمُوْنَهُنَّ) د مضارع په صیغه سره استعمال کړه چه په تجدد باندے دلالت وکړی او دا ځکه چه د علم اصلی مستعد انسان دے۔

فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ : یعنی هغه اموخته تربیت ورکړی شوی حیوانات چه کوم حیوانات ښکار کړی او د هغے څه حصه ئے نۀ وی خوړلی نو د هغے خوړل جائز دی اګرکه هغه ئے وژلے هم وی۔

مسئله

که یو تن ښکاری سپے وغیره د ښکار پسے ولیږی او هغه ئے د مرئ په خفه کولو، یا زمکے ته په راویشتلو مړ کړی او هیڅ زخم پرے نۀ وی، وینه ترے نۀ وی بهیدلی، نو آیا ددے خوراك حلال دے ؟ حافظ ابن کثیر رحمه الله پدے کی ډیر اُوږد اختلاف نقل کړیدے او آخر کی ئے دے ته ترجیح ورکړیده چه داسے قسم حیوان خوړل حلال نۀ دی، دلیل دا دے چه عدی بن حاتم ﷺ د رسول الله ﷺ نه په غشی باندے د ښکار کولو متعلق تپوس وکړو نو هغه وفرمایل : که د غشی په پلن طرف باندے ولګی او حیوان مړ کړی نو مه خوره)) (صحیحین) نو د غشی په زور سره یا د حیوان په زور سره مړ شوے ښکار به حلال نۀ وی ځکه د دواړو علت مشترکه یو دے۔ او دا قسم حیوان به د (مما امسکن علیکم) د عموم نه مستثنیٰ وی ځکه چه دغه عموم محفوظ نۀ دے ځکه چه (مما امسکن) کی هر مردار حیوان هم داخلیږی کوم چه په بندګانو حرام وی مګر هغه ترے په نورو نصوصو سره مستثنیٰ دے۔ دارنګه دا قسم ښکار د میته په حکم کی دے ځکه چه ددے وینه او ددے ردی رطوبات په همدے کی باقی پاتی شویدی، نو په کومه وجه چه مرداره حرامه ده همغه وجه دلته هم شته۔ دارنګه کوم حیوان چه د غشی په پلن طرف ولګی نو هغه به

نـهٔ خـوړلے کیږی ځکه چه هغه وقیذ (ټکولے شوے) دے، او د وقیذ تحریم د آیت یو فرد دے نـو دغـه شان که ښکاری سپے حیوان لره په خپل زور او بوج او سخت نیولو سره قتل کړی نـو دا د نـطیح (ټکولے شوی، په ډغره وهلے شوی) په حکم کی ذے او حلال نهٔ دے، البته که هغه زخمی کړی نو دا د تحلیل د آیت په حکم کی دے او یقیناً حلال دے۔

مګر راجح دا ده چه په حدیث د بخاری او مسلمؒ کی ددے اجازه راغلے ده، د عدیؓ په روایت کی دی: [إِذَا أَرْسَلْتَ كِلَابَكَ الْمُعَلَّمَةَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللّٰهِ فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ وَإِنْ قَتَلْنَ]

کـلـه چه تـه تربیت یافته سپی ښکار پسے ولیږے او د الله نوم پرے یاد کړے نو خوره هغه ښکار چه تال له ئے نیولے وی اګرکه هغه ئے وژلے وی۔ (صحیح بخاری: ٥٤٨٣)

وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ: یـعـنـی د دغـه امـوخته حیواناتو ښکار ته د پریخودو نه مخکی بسم الله اُووایئ او دا بسم الله د هغه بسم الله قائمقام ده چه په وخت د ذبح کی وئیلے کیږی۔

امـام بـخاریؒ په کتاب الذبائح والصید کی د عدی بن حاتم ﷺ نـه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل: ((کـه تـه خپل تعلیم یافته سپے پریدے او بسم الله اُووائے نو کوم ښکار چه هغه ستا دپاره اُونیسی هغه خوره اګرکه هغه مړ کړی))۔

مـعـلـومـه شـوه چـه د داسے ښـکـار د حـلالـیـدو دپاره دوه شرطونه دی: یو دا چه په دغه ښکاری حیوان ئے د پریخودو نه مخکی بسم الله وئیلی وی، او دویم شرط دا دے چه د ښکار شـوی حیـوان ځـه حـصـه بـه دے ښـکاری حیوان نهٔ وی خوړلی۔ البته که د رانیولو دپاره ئے پرے هسے چـکـونه لګولی وی او خوراك ئے نهٔ وی کړے نو جائز ده۔ او نور شرطونه دا دی چه تا به لیږلے وی، بل دا چه سپے به ښکاری وی۔

امـام احمدؒ او ابوداوُدؒ د عدی بن حاتم ﷺ نـه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل: ((کـه تـه یـو سپے یا باز اموخته کولو سره ښکار پسے پریدے او بسم الله اُووائے نو کوم ښکار چه هغه ستا دپاره ساتلے اُونیسی نو هغه خوره۔

عـدیؓ وائـی: اګـرکـه هـغـه ئے وژلے وی؟ نبی ﷺ اُوفرمایل: اګرکه هغه ئے وژلے وی، او د هغے ځه حصه ئے نهٔ وی خوړلی، نو ګویا که هغه دا ستا دپاره رانیولے وو))۔

امام بخاریؒ د عدی بن حاتم ﷺ نه روایت کړیدے چه ما د نبی کریم ﷺ نه تپوس اُوکړو، نـو هغه وفرمایل چه ((کـه تـه خـپـل تعلیم ورکړے شوے سپے ښکار پسے پریدے او هغه ئے قتـل کـړی نو هغه خورهٔ او که د هغے نه ئے ځه اُوخوړله نو مهٔ خوره، ځکه چه هغه د خپل ځان دپاره نیـولے وو۔ مـا اُووئیل چه زهٔ خپل سپے پریدم نو د هغه سره یو بل سپے ملګرے

شي ؟ نو نبي کريم ﷺ اُوفرمايل چه مهٔ خوره ځکه چه تا د خپل سپي دپاره بسم الله وئيلے وه نهٔ د نورو دپاره۔

امام بخاريؒ د عدی بن حاتم ﷛ نه په کتاب الذبائح والصيد کی روايت کړيدے چه ما اُووئيل چه اے د الله رسوله ! مونږ تعليم يافته سپی د ښکار پسے پريدو ؟

نو نبي ﷺ اُوفرمايل : ((کوم ښکار چه هغه ستا دپاره اُونيسي، هغه خوره ، ما تپوس اُوکړو چه اګرکه هغه ئے وژلے وی؟ نبي ﷺ اُوفرمايل : اګرکه هغه ئے وژلے وی۔ ما تپوس اُوکړو چه مونږ په پلن غشي سره ښکار کوو ؟ نو وے فرمايل چه که د هغے تيرهٔ طرف د هغه په بدن کی داخل شی نو هغه خوره او که په پلن طرف سره په ښکار اُولګی نو مهٔ خوره))۔ (بخاری : ٥٤٧٧)

فائده : هرکله چه په سپی باندے ښکار او هغه ته تعليم ورکول جائز شو نو د بعض سپو ساتل هم جائز دی چه په احاديثو کی د هغے نه دريے قسمه ذکر شويدی، ابو هريره ﷛ فرمائي رسول الله ﷺ وفرمايل : [مَنْ أَمْسَكَ كَلْبًا يُنْقَصُ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ اِلَّا كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ كَلْبَ مَاشِيَةٍ وَفِي رِوَايَةٍ : اِلَّا كَلْبَ غَنَمٍ، أَوْ حَرْثٍ أَوْ صَيْدٍ]

چا چه سپے وساتلو د هغه د عمل نه به هره ورځ يو قيراط کميږی سوىٰ د فصل يا د ګډو بزو يا د ښکار سپی نه۔ (بخاری : ٣٣٢٤و٢٣٢٢)

وَاتَّقُوا اللهَ: دے تقوىٰ کی د دغه شرطونو رعايت ته اشاره ده، او د سعيد بن جبير نه نقل دی چه پدے کی دا حکم دے چه په کوم حيوان باندے بسم الله نهٔ وی ذکر شوی نو هغه حلال مهٔ ګڼړئ۔ (احسن الکلام)

اَلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ أُوْتُوا
نن ورځ حلال کړے شويدی تاسو لره پاك څيزونه او خوراك د هغه کسانو چه ورکړے شويدے
الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ وَالْمُحْصَنَاتُ
کتاب حلال دے ستاسو دپاره او خوراك ستاسو حلال دے د هغوی دپاره او پاکدامنے ښځے
مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ
د مؤمنو ښځو نه او پاکدامنے د هغه کسانو نه چه ورکړے شويدے کتاب مخکی ستاسو نه

إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ
کله چه ورکوئ تاسو هغوی ته مهرونه د هغوی، نکاح کونکی به یئ نهٔ به یئ
مُسَافِحِيْنَ وَلَامُتَّخِذِيْ أَخْدَانٍ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْإِيْمَانِ
بد کاری کونکی او نهٔ به یئ نیونکی د پټو یارانو او څوك چه کافر شو په ایمان باندے
فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ ﴿۵﴾
پس یقیناً برباد شو عمل ددهٔ او دا به په آخرت کی د تاوانیانو نه وی۔

تفسیر: نور مُحللات (حلال شوی څیزونه) بیانیږی۔

اَلْيَوْمَ : دا جمله ئے دوباره راواپس کړه پدے کی په امتِ مسلمه باندے بیا امتنان (احسان) غرض دے، او بل تاکید غرض دے۔او د روستو (وَطَعَامُ الَّذِيْنَ) دپاره د مقدمے په طور دے۔

الیوم نه مراد حاضر وخت دے۔

الطَّيِّبٰتُ : ددے طیبات نه مراد په مخکنی آیت کی ذکر شوی طیبات دی، یا دا چه مخکی د ذبائحو د انواعو متعلق طیبات مراد وو او دلته نور پاك خوراکونه مراد دی۔

وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا : دلته په اتفاق د مفسرینو د طعام نه مراد ذبائح (ذبح شوی حیوانات) دی او دا د ابن عباسؓ، مجاهدؒ او سعید بن جبیرؒ وغیره نه روایت شویدی۔وجه دا ده چه بغیر د ذبائحو نه د ټولو کافرانو طعام حلال دے لکه مثلاً چینیان، بدھ مت وغیره باطل دین والا یو مسلمان ته خوراکی مواد ورکړی مسلمان له د هغے استعمالول جائز دی ترڅو چه په هغے کی بل څه شرعی مانع نهٔ وی موجود۔ (القاسمی)

آیا د اهل کتابو ذبائح حلال دی؟

بیا د اهل کتابو ذبائح ولے حلال کړے شو؟ وجه دا ده چه اهل کتاب د مسلمانانو سره په اصل دین توحید کی شریك دی، د یهود او نصاراؤ دین هم توحید وو، او بله دا چه دوی هم د مسلمانانو په شان د غیر الله دپاره ذبح حرامه ګنړی۔ او اګرکه دوی د الله سره نور شریکان کوی او د هغه دپاره اولاد ګنړی لیکن د ذبح په وخت د الله نوم اخلی۔

مګر هغوی خپل اصلی دین بدل کړے او اکثر پکی دهریان شویدی چه د هیڅ دین قائل نهٔ دی، او ډیر پکی بت پرست ګرځیدلی دی، نو که هغوی په مشین باندے ذبحه وکړی

هغه به حلاله نهٔ وی۔ یا داسے ذبحه وکړی چه قصداً د الله نوم یاد نکړی یا د بل چا د نوم آواز پرے پورته کړی، یا د حیوان په مرئ زور وکړی او مرئے کړی نو د هغے خوراك به جائز نهٔ وی۔ او که په یقین سره دا معلومه نهٔ وی چه هغوی بسم الله وئیلے ده یا نهٔ نو د هغے خوراك نهٔ حرامیږی۔ (الفقه الاسلامی وادلته)

دلیل پرے دا دے چه رسول الله ﷺ د هغه وریتے شوے چیلئ غوښنه اُوخوړه چه یهودئ (زنانه) د هغه دپاره د خیبر د فتح په ورځ د تحفے په شکل رالیږلے وه او په هغے کی ئے زهر اچولی وو ۔ (صحیح البخاری :۲۶۱۷) او الکیا الطبریؒ او ابن کثیرؒ ددے روایت نه دلیل نیولو سره د داسے ذبیحے د خوړلو په حلالوالی باندے د اسلام د علماؤ اجماع نقل کړیده۔

استدلال داسے دے چه دلته رسول الله ﷺ دا تپوس ونکړو چه تاسو پدے باندے بسم الله وئیلے ده او که نهٔ ؟۔

اوبل دلیل : د عبد الله بن مغفل ؓ هغه حدیث دے چه بخاریؒ او مسلمؒ روایت کړیدے چه د خیبر په ورځ هغوی ته د وازدے یوه کسوړه (خلته) ملاؤ شوه چه هغه هغوی ځان دپاره اُوساتله او وے وئیل چه زهٔ به ددے نه هیچا له څه نهٔ ورکوم، رسول الله ﷺ چه دا واوریدل نو وے خندل۔ (ابن کثیر)

دارنگه رسول الله ﷺ ته یو یهودی دعوت وکړو نو هغه ته ئے د غنمو روټئ او وچه وازده (چربی) پیش کړه۔ (احمد۳/ ۲۱۰،۲۱۱ صحیح بخاری کتاب البیوع : ۲۰۶۹)

دلته هم رسول الله ﷺ تپوس ونکړو چه تاسو چه د کوم حیوان وازده پیش کړه ددے د ذبح په وخت کی تاسو بسم الله وئیلے ده او که نهٔ او آیا دا ستاسو په دین کی حرامه وازده ده او که حلاله؟۔

علامه شوکانیؒ د هغه ذبائحو په باره کی چه هغه په بسم الله وئیلو سره نهٔ وی ذبح کړے شوی، یا د بل په نوم اخستو سره ذبح کړے شوی وی د اسلام د علماؤ اختلاف بیان کړیدے او د سیدنا علی، عائشه او ابن عمر رضی الله عنهم وغیرهم قول ئے نقل کړیدے چه که کتابی د ذبح په وخت د غیر الله نوم واخستو نو هغه مهٔ خورئ۔

محمد الدلیمی السوسی المالکیؒ په خپله فتاوی کی د ابوبکر ابن العربیؒ دا قول نقل کړیدے چه که یو نصرانی د چرګ سر پریکړی نو مسلمان دپاره د هغے خوراك حلالیږی څکه چه الله تعالیٰ د هغوی خوراك زمونږ دپاره حلال کړیدے۔ او که هغوی د خپل دین مطابق یو حیوان ذبح کوی نو زمونږ دپاره د هغے خوراك حلالیږی، دا څه ضروری نهٔ ده

چه هغوی زمونږ په شان ذبح اُوکړی، ځکه چه دا د الله د طرف نه رخصت او آسانی راکړے شویده. ددے نه به هغه شے مستثنیٰ وی چه هغه الله په ښکاره توګه حرام ګرځولے دے.
(تيسير الرحمن)

علامه بغویؒ وائی : که یو نصرانی یا یهودی د غیر الله په نوم ذبح وکړی لکه نصرانی د عیسیٰ علیه السلام نوم واخلی نو پدے کی اختلاف دے، سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه وائی حلال نهٔ دے او دا قول د ربیعهؒ دے او اکثر اهل علم وائی چه حلال دے او دا قول د شعبیؒ، عطاءؒ، زهریؒ، او مکحولؒ دے،

د شعبیؒ او مکحولؒ نه ددے په باره کی تپوس وشو نو هغوی وویل : حلاله ده ځکه چه الله تعالیٰ د دوی ذبائح مونږ دپاره حلال کړیدی او هغه پوهه دے په هغه خبرو چه اهل کتاب ئے وائی.

او حسن بصریؒ وائی چه کله یهودی یا نصرانی ذبح کوی او د غیر الله نوم واخلی او ته ئے واورے نو مه ئے خوره او کله چه ستا نه غائب وی نو خوره ئے ځکه چه الله تعالیٰ تا دپاره حلال کړیدے.(معالم التنزيل للبغوی۳/۱۸)

لیکن راجح دا ده چه یو مسلمان چه بسم الله پریدی یا مشینی ذبح وکړی یا د غیر الله نوم واخلی هغه مرداره ده نو د اهل کتابو هم مرداره ده، او د هغوی ذبح هغه وخت جائز ده چه ښکاره د دین خلاف نهٔ وی، دلیل پرے دا قول د الله تعالیٰ دے :

﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ او د بعض سلفو دغه قول کمزورے دے.

وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ : أَيْ فِي أَنْ تُطْعِمُوهُمْ.(زجاجؒ- بغویؒ)

یعنی د مسلمانانو ذبائح د اهل کتابو دپاره حلال دی، یعنی د مسلمانانو دپاره دا حلال دی چه هغوی په اهل کتابو باندے خپله ذبیحه اُوخوروی کله چه حربی کافر نهٔ وی.

دا دفع د وهم ده چه زمونږ ددے سره څه تعلق دے چه زما طعام د اهل کتابو دپاره حلال دے، هغوی دپاره حلال وی او که حرام زمونږ ورسره څهٔ ؟ په بل عبارت : پدے احکامو مونږ مکلف یو نهٔ اهل کتاب، او ددے نه خو معلومیږی چه اهل کتاب که ستاسو ذبائح خوری نو هغوی پرے نهٔ ګناهګاریږی؟ نو دا وهم په دغه قید سره ختم شو.

ددے نه معلومه شوه چه د کافرو سره دنیاوی تعلقات ساتل او اخلاق کول جائز دی.

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه دا د باب د مکافات او بدلے نه دے ځکه چه هرکله تاسو ته اهل کتاب څه تحفه راولیږی، نو د هغوی بدله ورکول جائز شو لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد

الله بن ابی ابن سلول ته قمیص واغوستو کله چه هغه وفات شو ځکه چه هغه عباس رضی الله عنه ته قمیص ورکړے وو کله چه هغه مدینے ته راغلے وو۔ نو نبی ﷺ ورله بدله خلاصه کړه، او په کوم حدیث کی چه راغلی دی [وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِيٌّ] ستا طعام دِے متقی وخوری۔ نو هغه په استحباب باندے حمل دے آه۔ (ابن کثیر۴۱/۳) .
او بل مطلب ئے دا دے چه د متقیانو سره ملګرتوب کوه۔
امام بغویؒ په تفسیر معالم کی لیکی: روستو ئے د زنانو حکم ذکر کړیدے او دا ئے نهٔ دی ذکر کړی چه مسلمانانے ښځے د هغوی دپاره حلالے دی نو ګویا که داسے ئے وفرمایل: حَلَالٌ لَّكُمْ أَنْ تُطْعِمُوْهُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ أَنْ تُزَوِّجُوْهُمْ] ستاسو دپاره هغوی ته طعام ورکول حلال دی مګر هغوی ته خور لور په نکاح ورکول حرام دی۔
وَالْمُحْصَنٰتُ : ((محصنات)) نه مراد پاکدامنے مسلمانے ښځے دی چه هغوی زنا نهٔ وی کړی۔ اګرکه نوره بزرګه مؤمنه وی خو چه زناکاره وی نو نکاح ورسره نهٔ ده جائز۔

د اهل کتابو د ښځو سره نکاح کول

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ : دلته د محصنات نه مراد د اهل کتابو پاکدامنے ښځے دی، چه هغوی زنا نهٔ وی کړی۔ امام شعبیؒ وائی: د کتابیه احصان دا دے چه د زنا نه ځان ساتی او د جنابت نه غسل کوی۔
ابن جریرؒ د سلفو علماؤ د یو جماعت قول نقل کړیدے چه ددے نه مراد هره پاکدامنه کتابیه ده، که آزاده وی او که وینځه۔ ځینو خلقو د محصنات نه مراد آزادے کتابی ښځے اخستی دی، د هغوی په نیز د کتابیه وینځے سره نکاح کول جائز نهٔ دی۔او دا قول امام مجاهدؒ طرفته منسوب دے۔ (ابن کثیر) او همدا ظاهر دے، دلیل پرے دا قول د الله تعالیٰ دے : ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا أَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنَاتِ فَمِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ﴾ (النساء:٢٥) نو دلته ئے د وینځے د نکاح سره قید د ایمان ولګولو ۔
بیهقیؒ، عبد الرزاقؒ او ابن جریرؒ وغیرهم د سیدنا عمر رضی الله عنه قول نقل کړیدے چه مسلمان د نصرانیه ښځے سره واده کولے شی لیکن نصرانی سړے د یوے مسلمانے ښځے سره نکاح نشی کولے۔
ډیرو صحابه کرامو د نصرانی ښځو سره نکاح کړے وه او په هغوی باندے هیچا انکار نهٔ دے کړے۔ عثمان رضی الله عنه د نائله بنت الفرافصه سره واده کړے وو چه نصرانیه وه۔ طلحه بن

عبيد الله ﷺ د يو يهودۍ ښځې سره واده کړې وو چه د شام نه وه. القاسميؒ)
ابن عمر رضى الله عنهما به نصرانيه زنانو سره نکاح ناجائز ګنړله او فرمايل به ئې چه ددې نه لوئې شرك بل کوم کيدې شي چه عيسىٰ عليه السلام خپل رب ګنړي. (صحيح بخاري كتاب الطلاق: ٥٢٨٥)
او هرکله چه دوی مشرکان شو او د مشرکانو ښځو سره نکاح قرآن منع کړيده.
او ابن ابى حاتمؒ د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت کړيدې چه هرکله د مشرکو ښځو سره د نکاح نهٔ کولو حکم نازل شو نو صحابه کرامؓ ددې نه منع شو تردې چه ددې نه روستو آيت د اهل کتابو د پاکدامنو ښځو سره د نکاح کولو په رخصت کې نازل شو نو صحابه کرامؓ د اهل کتابو ښځو سره نکاح وکړه.
(المعجم الكبير للطبراني (١٢٦٠٧ وابن ابى حاتم وسنده حسن) (ابن كثير)
سيدنا حذيفه ﷺ د يوې کافرې يهودۍ ښځې سره نکاح وکړه، سيدنا عمر فاروق ﷺ ورته وليکل چه دا پريږده، هغه ووېل: آيا دا حرامه ده؟ دهٔ ووېل: نهٔ! حرامه نهٔ ده خو زهٔ يريږم چه چرته يې عفته ښځه په نکاح وانه خلې يعنى کافران خو د عفت چندان خيال نهٔ ساتى. (القاسمي)
اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ : د کتابيه ښځو سره د نکاح د جواز دپاره شرط لګولې شويدې چه د هغوی مهر به ادا کړې شوی وی او مقصد به نکاح کول او عفت حاصلول وی، په ښکاره يا پټه سره به د زنا کولو نيت نهٔ وی.
حافظ ابن كثير رحمه الله ليکلی دی چه پاکدامنى لکه څنګه چه په ښځه کې شرط ده نو دغه شان په سړی کې هم شرط ده. پدې وجه الله تعالىٰ ﴿ غَيْرَ مُسَافِحِيْنَ ﴾ اُووئيل يعنى واده کونکې سړی دپاره دا شرط دې چه هغه به زانی نهٔ وی.
فائده : د اهل کتابو د زنانو سره نکاح ولې جائز شوه؟ پدې کې حکمت دا دې (والله اعلم) چه د اسلام دعوت عام شی ځکه چه ښځه د خاوند نه متأثره وی، مسلمان خاوند به هغې ته د اسلام خوبيانى بيان کړی او دعوت به ورکړی، نو اسلام به قبول کړی، دارنګه که انکار کوی نو تورات يا انجيل به پسې راواخلى چه پدې کې نې د دين اسلام صفت بيان کړيدې نو اسلام به قبول کړی، دارنګه دا خاوند به خپلې سخرانې کره ځې راځى نو هغوی ته به د اسلام دعوت ورکړی، کيدې شی چه ددهٔ په وجه اسلام ته راشى.
ليکن پدې زمانه کې اهل کتابو خواهشات ډير فراخه کړيدی نو ډير مسلمانان چه د

هغوی سره نکاح وکړی نو دوی ځان سره خراب کړی، اسلام ورته په وحشیانه انداز سره بد ښکاره کړی، او خپل ځان ورته بشر دوست او تربیت یافته ښکاره کړی، او بل فساد دا چه ددهٔ بچی بیا د حکومتونو په قبضه کی وی، خپل صحیح تربیت ته ئے نهٔ پریدی بلکه هغوی ئے گمراه کړی، نو پدے کی ډیر لوی ضررونه دی، ددے نه حتی الوسع ځان ساتل پکار دی لکه تجربه پدے خبره شاهده ده، البته که یو انسان بیخی مجبوره شی، د زنا خطره زیاته شی نو بیا جائز ده۔

مُسٰفِحِيۡنَ : سفاح ښکاره زنا کول دی۔

اَخۡدَانٍ : جمع د خِدۡنٌ ده پټ دوست چه د عشق په طور د هغه سره پټه بدکاری کوی۔ خِدۡن لفظ په مذکر او مؤنث دواړو کی شریك دے۔

وَمَنۡ يَّكۡفُرۡ بِالۡاِيۡمَانِ : دا جواب د سوال دے، که څوك ووائی چه د یهود او نصاراؤ ښځو نه استعمالول او د هغوی د زنانو سره نکاح کول جائز شو نو د هغوی دین به ښه وی؟ نو الله وفرمایل چه دغه ښځونه د اهل کتابو جائز دی لیکن دین ئے برباد دے، ځکه چه دوی کفر د ایمان سره گډوډ کړیدے، نو که څوك د هغوی دین قبول کړی نو لوی تاوانی شو۔

یعنی فقط دا دنیاوی احکام دی او په آخرت کی هر کافر تباه دے، که نیك عمل هم کوی نو نهٔ قبلیږی۔ (القرطبی)

دارنگه دا سوال ذهن ته راځی چه د اهل کتابو ښځے به څنگه په نکاح کی جائز شی حال دا چه هغوی خو زمونږ د دین مخالف دی؟ نو جواب وشو چه الله تعالیٰ ښه معلومه ده چه کفر ډیر بد شے دے انسان پرے تاوانی کیږی مگر په دنیا کی ئے مسلمانانو ته د هغوی د زنانو سره نکاح جائز کړه د مسلمانانو د فائدے دپاره۔ (المنار)

دارنگه ددے مناسبت په وجه هم دا وویل شو چه د کتابی ښځو سره نکاح کولو اجازه وشوه نو ددے فائده دا کیدل پکار دی چه د ښځے په زړه کی د مؤمن حقانیت کینی او اسلام قبول کړی نهٔ دا چه یو تن په کتابیاتو باندے فتنه کی واقع شی او التـه خپل ایمانی سامان پریدی او دنیا په آخرت غوره کړی او خسر الدنيا والآخره وگرځی، او چونکه د کافرے ښځے سره په نکاح کولو کی ددے فتنے قوی احتمال کیدے شی پدے وجه ئے (ومن یکفر بالایمان) تهدید ډیر په محل کی ذکر کړو۔

د من یکفر بالایمان څه مطلب؟ ۱- نو یو مطلب دا دے چه [مَنۡ يَّخۡتَلِطِ الۡكُفۡرَ بِالۡاِيۡمَانِ] چا چه د ایمان سره کفر یو ځای کړو چه الله هم منی او خپل معبودان هم، خپل رسولان

منی او د آخری رسول نه انکار کوی۔
۲- یا د ایمان نه مراد د اسلام احکام دی۔ او مقصود د الله د حلال کړی او حرام کړی ځیزونو عظمتِ شان بیانول او هغه خلقو ته تنبیه ورکول دی چه ددے الٰهی احکامو مخالفت کوی۔ یعنی چا چه انکار وکړو د اسلام ددے احکامو نه نو عمل ئے برباد او دے تاونی شو۔(ابوسلیمان الدمشقیؒ) (البحر المحیط)
۳- ابن عباسؓ او مجاهدؒ وائی : [وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ الَّذِىْ يَجِبُ الْإِيْمَانُ بِهٖ]
چا چه کفر وکړو په هغه الله باندے چه په هغه باندے ایمان لرل واجب دی۔ یعنی د ایمان نه مراد مؤمن به دے۔ ٤- کلبیؒ وائی : بِكَلِمَةِ التَّوْحِيْدِ وَهِىَ شَهَادَةُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔
د ایمان نه مراد کلمه د توحید ده۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ

اے ایمان والو ! کله چه تاسو پاځیږئ مانځه ته نو ووینځئ مخونه خپل او لاسونه خپل

إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُؤُوْسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِنْ

تر څنګلو پورے او مسه کوئ په ټولو سرونو خپلو او په خپو خپلو تر ګیټو پورے او که چرته

كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى أَوْ عَلٰى سَفَرٍ

یئ تاسو ناپاکه (جنب) نو ځان پاک کړئ (په غسل سره)او که یئ تاسو بیماران یا په سفر باندے

أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا

یا راشی یو تن ستاسو نه د اودس ماتی نه یا مسه کړی وی تاسو ښځو لره او نۀ مونده کوئ

مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَأَيْدِيْكُمْ مِنْهُ

اُوبه نو تیمم وکړئ په خاوره پاکه پس مسه وکړئ په مخونو او په لاسونو خپلو ددے خاورے نه

مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ

نۀ غواړی الله چه مقرر کړی په تاسو باندے تنګسیا لیکن غواړی چه پاک کړی تاسو

وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٦﴾

او دے دپاره چه پوره کړی نعمت خپل په تاسو باندے دے دپاره چه شکر اُوکړئ۔

تفسیر : ددے ځای نه بل عقد بیانیږی چه هغه د طهارت په باره کی دے چه اے ایمان والو ! ځانونه پاك کړئ۔

مناسبت : ۱- مخکی هم عقود بیان شو اُوس بل عقد بیانیږی۔

۲- مخکی طهارت باطنی وو یعنی د حلال او حرام تمییز کول۔ نو اُوس ظاهری طهارت بیانوی او پدے سره باطنی طهارت هم راځی چه گناهونه پرے زائل کیږی۔ په بل تعبیر هلته دنیاوی نظافت وو دلته اخروی نظافت بیانیږی۔

۳- دارنگه پدے آیت کی رخصتونه ذکر کیږی چه دا د اتمام نعمت یوه حصه ده۔

د نیشاپوریؒ د قول مطابق پدے آیت کی (۶۸) احکام دی او علامه قرطبیؒ (۳۲) احکام لیکلی دی، مگر تفصیلات ئے ددے نه هم زیات دی۔

شان نزول

په یو اُوږد حدیث کی دی چه عائشه رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ سره بنی المصطلق غزا ته تلے وه، دوی په البیداء مقام کی وو چه د هغے نه د غاړے هار ورك شو، ملگری د هغے د پیدا کولو دپاره گرځیدل چه پدے سره توله قافله ایساره شوه چه په دغه ځای کی نۀ اُوبه وے او نۀ د قافلے والو سره وے، پدے وجه ابوبکر صدیق ﷛ خپلے لور (عائشےؓ) ته غصه شو چه د یو هار دپاره دِے توله قافله پدے شاړ میدان کی ایساره کړیده !! نو الله تعالیٰ په دغه وخت کی دا آیت کریمه نازل کړو او تیمم جائز وگرځولے شو۔ (صحیح بخاری)

د اودس حکم اگر که د مخکی نه وو لیکن دلته ئے تلاوت نازل شو او د تیمم حکم نوے راغلو۔ او ځینی مفسرینو دا شان نزول د سورة النساء د آیت په باره کی لیکلے دے، لیکن د سلف صالحینو دا طریقه وه چه هغوی به په مصداقاتو باندے هم د شان نزول اطلاق کولو کما فی القاسمی ۲۷/۱ والمنار ۶۴۲/۹) نو په دواړو آیتونو کی د تیمم تشریع شویده او ذکر شوے واقعه د دواړو آیتونو دپاره ډیر مزیدار مصداق جوړیدلے شی۔

فوائد الآیات

إِذَا قُمْتُمْ : دلته ذکر د قیام دے او مراد ترے نه اراده د قیام ده ، ځکه چه کله سړے مانځه ته ودریږی نو بیا خو مخ لاسونه وینځل نۀ کیږی۔ او دا مراد ځکه اخلو چه قیام فعل د بنده دے او د هر بنده فعل مسبوق بالاراده وی، (مخکی اراده غواړی)۔

فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ : دا امر د وجوب دپاره هم دے او د استحباب دپاره هم، په طریقه د عموم مشترك سره پدے طریقه چه که د یو شخص اودس وی نو امر استحبابی دے، او که اودس د مخکی نه نهٔ وی نو امر وجوبی دے، او دلیل پدے باندے قول او عمل د رسول الله ﷺ دے چه کله به د هغه اودس وو نو دوباره اودس کول ئے لازم نهٔ دی گنړلی۔ مسند احمدؒ وغیره کی دی چه رسول الله ﷺ به هر مانځه ته تازه اودس کولو، د مکے د فتح په ورځ ئے اودس وکړو او په موزو باندے ئے مسح وکړه او په همدے یو اودس باندے ئے ډیر مونځونه وکړل، نو عمر فاروق ؓ ورته وویل : اے د الله رسوله !

[صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهُ]

نن تا داسے کار وکړو چه مخکی به دے نهٔ کولو۔ رسول الله ﷺ وفرمایل :

[عَمْدًا صَنَعْتُهُ يَا عُمَرُ] اے عمره ! (ما په هیره سره داسے نهٔ دی کړی بلکه) ما قصداً داسے وکړل۔ (صحیح مسلم کتاب الطهارة باب جواز الصلوات کلها بوضوء واحد رقم : ۲۷۷، ابو داود : ۱۷۲، ترمذی : ٦١، احمد : ٥/٣٥٠)

لهذا دے قید ته ضرورت پاتے نشو چه بعض علماء ئے لگوی [إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ وَأَنْتُمْ مُحْدِثُوْنَ] کله چه تاسو مانځه ته ودریږئ او بی اودسه یئ نو مخونه وینځئ ځکه چه (فَاغْسِلُوا) امر استحبابی دے کله چه اودس د مخکی نه موجود وی۔

ددے په باره کی د علماؤ مختلف اقوال حافظ ابن کثیر دلته ذکر کړیدی : (١) چا د مانځه دپاره اودس ضروری گنړلے دے، برابره ده چه د انسان اودس باقی وی او که مات شوے وی۔ (٢) ځینو نورو وئیلی دی چه په آیت کی هر مونځ نه مخکی د اودس حکم د استحباب دپاره دے۔

(٣) یوے دریمے ډلے وئیلی دی چه ددے آیت مطابق د هر مانځه نه مخکی اودس کول ضروری وو لیکن د مکے د فتح په وخت دا حکم منسوخ شو۔

مگر دے اقوالو ته هیڅ ضرورت نشته۔

د جمهورو اهل علمو رائے ده چه اودس صرف په هغه شخص باندے واجب دے چه د هغه اودس مات شوے وی۔ امام شوکانیؒ همدے رائے ته ترجیح ورکړیده۔

فائده : بعض علماء کرامو ددے آیت نه دلیل نیولو سره په اودس کی نیت واجب گنړلے دے ځکه چه د آیت معنیٰ دا ده چه کله د مانځه دپاره د اُودریدو اراده اُوکړئ نو خپل مخونه اُووینځئ۔

د اودس شروع کولو نه مخکې بسم الله وئيل ضروري دي۔ احمدؒ، ابوداودؒ او ابن ماجهؒ وغيرهم د ابو هريرهؓ نه روايت کړيدے [لَا وُضُوءَ لِمَنْ لَّمْ يُسَمِّ] چه چا د اوداسه په ابتداء کې بسم الله ونه وئيله نو د هغه اودس نهٔ کيږي۔ (ابوداود : ۱۰۱، ابن ماجه : ۳۹۹)

شيخ الباني رحمه الله دا په ارواء الغليل : ۸۱) کې حسن گرځولے دے۔

لوښي ته د لاس ننويستلو نه مخکې دواړه لاسونه وينځل مستحب دي، او د خوب نه رابيداريدو نه روستو داسے کول ضروري دي، ځکه چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : ((کله چه ستاسو نه يو تن د خوب نه راپاڅيږي نو لاس دِے د درے ځلو وينځلو نه مخکې اُوبو ته نهٔ داخلوی ځکه چه دا نهٔ پوهيږي چه ددهٔ لاس چرته شپه تيره کړيده))۔ (متفق عليه)۔

په اوداسه کې مخ وينځل واجب دي او هغه د سر د ويښتو راختلو ځاى نه تر لاندے د زنے پورے او د غوږ نه تر غوږ پورے ځاى دے۔ که ګيره ګڼړه وي نو په هغے کې ګوتے داخلولو سره خلال کول مستحب دي۔ امام احمدؒ د شقيقؒ نه روايت کړيدے چه عثمان ؓ درے ځله په ګيره کې خلال اُوکړو او وے وئيل چه ما رسول الله ﷺ پداسے کولو سره ليدلے وو۔
(الدارقطني رقم : ٣٢/٣٤) ورقم (٢٨٦) والبزار) بسند حسن- صحيح ابى داود :٩٨)

د دواړو لاسونو وينځل هم واجب دي او د زياتو عالمانو په نيز په لاس کې څنګلے هم داخل دي۔ امام مسلمؒ د ابو هريره ؓ نه روايت کړيدے چه هغوی ښے او ګس لاس د څنګلو نه بره مټ پورے اُووينځلو۔ او د اوداسه نه فارغ کيدو نه روستو ئے اُووئيل چه په داسے اودس کولو ما رسول الله ﷺ ليدلے دے۔ د جمهورو رائے ده چه ښے لاس په ګس لاس مقدم کول سنت دي۔ که يو شخص ددے خلاف اُوکړي نو دهٔ ته به د سنت فضيلت نهٔ حاصليږي، ليکن اودس به ئے صحيح وي۔ د جمهور اهل علمؒ مسلك دے چه په زخم يا مات شوی هډوکی باندے تړلے شوے پټئ باندے مسح کول صحيح دي۔

ابوداودؒ او دارقطنيؒ د جابر بن عبد الله ؓ نه روايت کړيدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : ((د هغه دپاره دا کافي وه چه تيمم ئے کړے وے او په زخم ئے پټئ تړلو سره په هغے باندے مسح کړے وے او باقي بدن ئے وينځلے وے))۔

په ټول سر باندے مسح کول واجب دي، او دا راجح قول دے، او دا قول د امام مالكؒ، او امام بخاريؒ وغيره دے او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او حافظ ابن قيمؒ او ابن کثيرؒ وغيره محققينو راجح ګرځولے دے، د رسول الله ﷺ نه هيڅکله د سر په بعض حصه باندے مسح ثابت نهٔ ده، او په کوم ځاى کې چه راغلي ده نو هلته ئے اتمام په پټکي باندے کړيدے او صرف په

بعض حصه باندے مسح چه په غیر د تکمیل نه په پټکی وی هیڅکله ثابته نهٔ ده۔
لکه امام مسلمؒ د مغیره بن شعبه ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ په خپل تندی او پټکی باندے مسح اُوکړه او په دواړو موزوئے مسح اُوکړه۔
حافظ ابن القیم رحمه الله په ((زاد المعاد)) کی لیکلی دی چه په هیڅ یو حدیث سره هم دا ثابت نهٔ دی چه رسول الله ﷺ صرف د سر په بعض حصه باندے مسح کړے ده بلکه که نبی ﷺ به په تندی مسح کوله نو په پټکی به ئے مسح پوره کوله، آؤ، د هر ویښته راګیرول ضروری نهٔ دی لیکن په مجموعه سر باندے مسح ضروری ده او په همدے قول باندے عمل کولو کی احتیاط دے۔
امام ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کی د ټول سر د مسح په فرضیت باندے ډیر احادیث ذکر کړیدی او بیائے دے ته ترجیح ورکړیده۔
او دلته برؤوسکم : کی باء د تکمیل او د الصاق دپاره ده۔ لکه عَيۡنًا يَشۡرَبُ بِهَا اَیۡ یُرۡوٰی مِنۡهَا۔ که باء نهٔ وی نو نفس څکل مراد دی او د باء سره کامل څکل چه د هغے په وجه مړښ راشی۔ او باء د تبیعض دپاره اخستل په محل د نظر کی دی۔
وَاَرۡجُلَكُمۡ اِلَی الۡكَعۡبَيۡنِ : پدے کی دوه قراء ته دی (۱) د لام نصب (زور) دے۔ (۲) او یو قرائت کی د اَرۡجُل په لام زیر دے۔ که په زور سره شی نو دا به عطف وی په (وُجُوۡهَكُمۡ) باندے نو د خپو وینځل به هم فرض وی، د ټول اهل اسلام مذهب همدا دے چه د سر د مسح نه روستو د دواړو خپو وینځل واجب دی۔ او ددے قرأت په بناء جمهورو په اوداسه کی ترتیب واجب ګرځولے دے۔ د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز ترتیب شرط نهٔ دے۔ یعنی که یو شخص اول دواړه قدمونه اُووینځی بیا د سر مسح اُوکړی بیا دواړه لاسونه اُووینځی بیا مخ اُووینځی نو اودس به صحیح وی۔
لیکن راجح مسلك د جمهورو دے۔ او ترتیب د اوداسه د صحت دپاره شرط دے۔ ځکه چه رسول الله ﷺ په هیڅ وخت کی بی ترتیبه اودس نهٔ دے کړے۔
د صحیحین او د احادیثو په نورو کتابونو کی چه کوم صحیح احادیث راغلی دی، د هغے نه همدا ثابته ده چه دواړه خپے تر ګیټو پورے وینځل د اوداسه د صحت دپاره شرط دی۔
دویم قراءت ((وَاَرۡجُلِكُمۡ)) کی د لام په زیر سره دے او دا هم جائز قراءت دے، دا به عطف وی په (بِرُؤُوۡسِكُمۡ) باندے نو شیعه ګان ددے نه دلیل نیسی چه د دواړو خپو مسح کول لازم دی نهٔ وینځل۔ اهل سنت ددے نه جواب ورکوی چه په تفسیر د قرآن کی د ټولو نه

اعـلـیٰ شے عـمـل د رسـول الله ﷺ او د هـغـه د اصحابوؓ دے او دا د الله د کتاب تشریح ده او هغوی په تول ژوند کی هیڅکله په بربنډو خپو باندے مسح نهٔ ده کړے، مګر که موزے او جورابے بـه ئے اچـولے وے نو بیا به ئے پرے مسح کوله لکه مخکی حدیثونه تیر شو۔ نو د حدیث په بناء به ددے تشریح داسے شی چه (تاسو په خپو باندے مسح وکړئ کله چه تاسو موزے یا جورابے اغوستی وی)۔

ابـن الـعـربیؒ وائـی چه په اوداسه کی د دواړو خپو وینځلو په وجوب باندے د امت اتفاق شویدے۔

پـه جـورابو باندے مسح په اجماع د اهل علمو ثابته ده، صرف پدے کی اختلاف دے چه جورابے به کوم قسم وی؟ نو چا د تجلد او تنعل قید لګولے دے او چا د ثخانة وغیره، هغه د هـغـوی اجتـهـادات دی چـه ظاهری نصوص ورسره نشتـه بلکه مطلقاً کوم شے چه خپے ته اغوستولے شی دپاره د یخنئ یا ګرمئ دفع کولو وغیره، نو هغه به د موزو په حکم کی وی او مسح بــه پـرے جـائـز وی۔ او ددے زیـات تفصیل دپاره ((الـحـق الـصـریـح شرح مشکاة المصابیح)) ته رجوع پکار ده۔

ځینـی اهـل عـلـمؒ وائـی چـه په (وَاَرْجُلِكُمْ) کی جر (زیر) د جوار (نزدے والی) په وجه سره راغلے دے، لکه عربئ کی دا کار ډیر کیږی۔ عرب وائی (جُحْرُ ضَبٍّ خَرِبٍ) نو خَرِبٍ باندے زیر د ضَبٍّ سره د نزدی راتللو په وجه دے، ورنه خرب باندے رفع (پیشونه) دی۔

او بـعـض اهـل عـلـم د جر لـلجوار دپاره دا نکتـه بیانوی چه (وَاَرْجُلِكُمْ) مجرور وویل شو پدے کی دے خبرے ته اشاره ده چه د خپو د وینځو حالت داسے جوړ کړه لکه د مسح په شان چه اُوبـه پـکـی کـمے ولـګـوه ځـکـه چـه اکثـر خـلـك د خپو په وینځو کی د اسراف حد ته رسیـږی، رسـول الله ﷺ بـه پـه خپـه بـانـدے اُوبـه نـهٔ راړولے بلکه هغه به په لاس کی اُوبه راخستے او چنړکاؤ به ئے پرے کولو۔ (بخاری عن ابن عباسؓ)

نو دا وینځل مشابه دی د مسح سره پدے وجه ئے مجرور راوړیدے۔

وان کـنـتم جنبا : مخکی طهارتِ صغریٰ (اودس) بیان شو اُوس طهارتِ کبریٰ بیانوی چه (غُسْـلُ الْجَنَابَةِ) دے او د دواړو دپاره ئے علتونه هم ذکر کړیدی، د طهارتِ صغری علت بول او بـراز دی او د طهـارتِ کـبـریٰ عـلـت جـنـابـت دے چه هغه د زنانه سره ملاویدل دی۔ بیا د طهـارتِ صـغـریٰ او کبـریٰ دواړو دپـاره بـدل (او خـلـیـفـه) تیمم خودلے شویدے، او یو تیمم د دواړو د طـرفـنـه کـافـی کـیـږی۔ دا د قـرآن کریم بلاغت دے ددے وجه نه کوم علماء کرام چه

وائی د (لٰمَسْتُمُ) نه مراد لمس بالید (لاس وروړل) اخلی نو دا قول مرجوح دے۔
او د احادیثو نه علاوه د قرآنی بلاغت خلاف دے ځکه چه بیا به د اوداسه دپاره دوه سببونه راشی او د غسل دپاره به هیڅ سبب ذکر نشی۔ لکه تفصیل ئے مخکی په سورة النساء کی ذکر شوید ے۔
وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا : جنابت د منی په وتلو سره راځی کله چه په توپ او شهوت طریقے سره وی، یا د خاوند او ښځے دواړه عورتونه یو بل سره ملاؤیدو په وجه راځی نو ددے دپاره مخ لاسونه او دغه اندامونه وینځل نهٔ کافی کیږی بلکه د هغے دپاره به (فَاطَّهَّرُوْا) زیاته صفائی کولے شی هغه دا چه ټول بدن به په اُوبو باندے وینځی سره د خولے او پوزے نه او نیت نه۔
فَاطَّهَّرُوْا : په شد سره دلالت کوی په کامل طهارت باندے چه ټول بدن وینځی یعنی غسل کول۔
وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى : که سرے جنب یا مریض وی یا په حال د سفر کی وی یا د قضاء حاجت نه فراغت حاصل کړی، یا یو تن د خپلے ښځے سره جماع اُوکړی او د طهارت حاصلولو دپاره دهٔ ته اُوبه ملاؤ نشی نو پاکے خاورے سره به تیمم وکړی او خپل مخ او دواړو لاسونو باندے به مسح وکړی۔ (په سورة النساء کی ددے آیت تفسیر تیر شویدے)
اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ : امام بخاریؒ ددے الفاظو نه باریك استدلال کړیدے پدے خبره چه د مَا خَرَجَ مِنَ السَّبِيْلَيْن نه علاوه څیزونو باندے اودس نهٔ ماتیږی هغه داسے چه دلته الله تعالیٰ د اودس دپاره دا سبب وخودلو چه یو تن ستاسو د کندے نه راشی او په کنده کی د انسان د دواړو لارو نه بول او براز او هوا خارجیږی۔ نو په وینه او قیء باندے اودس نهٔ ماتیږی، ولے که پدے ماتیدلے نو الله به داسے وئیلی وے چه یا اوځی د یو تن ستاسو نه نجاست۔
فَلَمْ تَجِدُوْا : دلته الله تعالیٰ د ټولو ذکر شوو څیزونو دپاره (فَلَمْ تَجِدُوْا) نهٔ موندل ذکر کړل حال دا چه مریض خو ډیر کرته اُوبه مونده کوی، او الله وفرمایل چه که تاسو اُوبه نهٔ مونده کوئ نو تیمم ووهئ۔ ددے وجه دا ده چه عَدَمُ الْقُدْرَةِ عَلَى الشَّيْءِ بِمِثْلِ عَدَمِ الْوِجْدَانِ۔
په یو شی باندے نهٔ قادریدل داسے دی لکه نهٔ موندل، لکه په حج یا جهاد باندے قادر نهٔ وی نو په هغه باندے حج او جهاد نشته۔
صَعِيْدًا : صعید وَجْهُ الارض ته وائی نو په هر هغه شی باندے تیمم جائز دے چه د جنس

د زمکے نه وی، خاورے، لوټی، شړے، کاڼړی وغیره باندے هم جائز دے۔
او په حدیث کی هم دی [عَلَيْكَ بِالصَّعِيْدِ] (بخاری : ٣٤٨)
په تا باندے لازم دی چه په مخ د زمکه کوم څیز وی په هغے تیمم ووهه،
او بل رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ چه کله تبوك ته تلل نو په لاره کی به صحراوونه راتلل، خاورے به نهٔ ملاویدے او دیرش زرره فوج ورسره وو، او په هیڅا باندے ئے دا پابندی نهٔ وه لګولے چه ځان سره خاورے یا لوټی راواخلئ چه تیمم پرے ووهئ، او په کومو روایتونو کی چه د خاورو ذکر راغی نو هغه د تخصیص دپاره نهٔ دے بلکه هغے ته تنصیص علی بعض افراد العام وائی۔ یعنی د عام شی په بعض افرادو باندے تصریح کول دی، او دا تخصیص نهٔ راولی، صرف افضلیت ثابتوی چه په خاوره باندے تیمم بهتر دے۔
وَاَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ : امام ترمذیؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړیدی چه اَيْدِیُ په قرآن کریم کی د ورغوو په معنیٰ استعمال دی لکه ﴿ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا ﴾ (مائده:٣٨)
دلته اَيْدِیُ لفظ راغلے دے او رسول الله ﷺ د غلا په حد کی لاسونه تر مړوندونو پورے پریکړی دی۔ دارنګه (فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ) کی ورسره الی المرافق راغلے دے۔
نو دلته به هم د اَيْدِیُ نه مراد لاسونه تر مړوندونو پورے وی۔ او د بخاریؒ او د مسلمؒ په روایاتو کی د رسول الله ﷺ نه د تیمم په طریقه کی تر مړوندونو پورے راغلی دی۔
مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ : أَیْ فِی الدِّیْنِ مِنْ حَرَجٍ وَلِذٰلِكَ أَبَاحَ لَكُمُ التَّيَمُّمَ]
پدے وجه ئے درله تیمم مباح کړو۔
پدے کی الله تعالیٰ په بندګانو باندے د احسان زیادنه کوی چه د طهارت او د تیمم په وجه ئے بندګان په تکلیف او تنګئ کی وانچول، که دا حکم ئے کړے وے چه په هر حالت کی به اَودس او غسل کوئ اګر که اُوبه نهٔ وی، نو دا به ډیره سخته وه، که چا پرے عمل نشوے کولے نو اُور ته به تللے نو بس د هغه شکر پکار دے۔
او پدے کی اشاره ده چه په دغه کارونو باندے عمل کول حرج نهٔ دے بلکه دا د بندګانو د وس مطابق دی۔
دارنګه کوم اَحْدَاث (بی اودسیانی) چه ډیرے واقع کیږی په هغے کی ئے د ټول جسم وینځل ضروری نکړل صرف هغه اندامونه چه عام انسانان ئے کولاو پریدی لکه (مخ، لاسونه او خپے او سر) نو د هغے وینځل او مسحه کول ئے ضروری کړل، دے دپاره چه تنګی او مشکلات رانشی، آؤ، حدث اکبر یعنی جنابت چه کله کله راپیښیږی او په بدن کی د

هغے په وجه ډیره تبدیلي پیدا کیږي، د هغے د زائله کولو دپاره ئے د ټول بدن وینځل فرض کړل- بیا د مرض او د سفر وغیره حالاتو کی ئے څومره آساني راولیږله، اول خو ئے د اُوبو په ځای خاوره پاکونکے وګرځوله، بیا ئے د اَوداسه په اندامونو کی نیمائی تخفیف پدے طریقه وکړو چه کوم شی کی د مخکی نه تخفیف وو یعنی د سر مسح نو هغه ئے بیخی ختمه کړه او د خپو وینځل ئے پدے وجه ساقط کړل چه هغه عموماً په خاورو کی یا خاورو ته نزدے وی، او د ټول بدن اندامونه په خاورو ککړولو کی ډیر مشکلات دی چه د هغے دپاره به دوباره غسل کولو ته ضرورت راپیښیږی نو په هغے باندے د خاورو لاس راښکل بیکاره وو نو صرف دوه اندامونه ئے پریخودل چه هغه مخ او لاسونه دی دا زمونږ د دین آسانی شوه-

وَّلٰكِنۡ يُّرِيۡدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ : بلکه الله خپل بندګان صفاکوی- ددے طهارت نه ظاهری طهارت هم مراد دے چه هغه په اوداسه او غسل کی دے- او طهارت باطنی هم مراد دے چه ګناهونه پدے سره ورژیږی- او یو دریم قسم طهارت هم دے چه هغه طهارت عَنِ التَّمَرُّد دے چه کله انسان بی اودسه او د جنابت په حالت کی وی نو دهٔ کی یو قسم تمرد (سرکشی) وی او د شیطان تسلط پرے زیات وی، نو په اودس او غسل سره هغه تمرد ختم شی-

رسول الله ﷺ د اوداسه نه روستو یوه دعا ښودلے ده ګویا که هغه ددے آیت نه لاندے ده په مسند احمدؒ او صحیح مسلمؒ کی د عقبه بن عامر ﷺ نه روایت دے چه مونږ به نمبر په نمبر اُوښان څرول، زهٔ د خپل نمبر په شپه د ماسخوتن په وخت لاړم ومے لیدل چه رسول الله ﷺ په ولاړه خلکو ته څه وائی، کله چه ورسیدم نو په هغه وخت ما د هغه نه واوریدل چه ((کوم مسلمان په ښه شان سره اودس وکړی او د زړه په توجه سره دوه رکعاته مونځ وکړی، د هغه دپاره جنت واجب دے))- ما وویل واه واه! دا خو ډیره مزیداره خبره ده- نو زما دا خبره زما یو ملګری واوریده چه زما نه مخکی ناست وو هغه وویل : ددے نه مخکی چه کومه خبره رسول الله ﷺ وکړه هغه ددے نه زیاته بهتره ده- ما چه په غور سره وکتل نو هغه عمر فاروق (ﷺ) وو- هغه ما ته وویل : ته اُوس راغلے، ستا د راتللو نه مخکی نبی ﷺ وفرمایل : ((څوك چه په ښه شان سره اودس وکړی بیا ووائی :

" أَشۡهَدُ أَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَأَشۡهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ"

د هغه دپاره د جنت اته واړه دروازے کولاوی شی چه د کوم نه غواړی داخل دِے شی-

(صحیح مسلم باب الذکر المستحب عقب الوضوء، ٢٣٤، ابوداود : ١٦٩)

او په روایت د ترمذیؒ کی ورسره دا الفاظ هم زیات دی :
[اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ) (ترمذی : ٥٥)۔
او په یو روایت کی دی چه کله مسلمان اودس کوی نو د هغه د مخ وینځلو په وخت د هغه د سترګو نه ټول ګناهونه د اوبو سره یا د آخری ځاڅکی سره پریوزی او کله چه لاسونه وینځی نو د هغه د لاسونو نه تمام ګناهونه او د خپو د وینځلو په وخت د هغه د خپو نه تمام ګناهونه پریوزی تردے چه د ټولو ګناهونه صفا وځی۔
(صحیح مسلم : ٢٤٤، ترمذی : ٢)
او په یو روایت کی ورسره د سر د مسح سره د ګناهونو رژیدل هم ذکر دی۔
(احمد ٤/٢٣٤،٢٣٥ وسنده صحیح لغیره)
وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ : د نعمت د پوره کیدو مصداقات
١- بِتِبْيَانِ الشَّرَائِعِ۔ یعنی احکام بیانول۔
٢- بِالتَّرْخِيْصِ فِي التَّيَمُّمِ فِي الْمَرَضِ وَالسَّفَرِ ۔ د مرض او سفر په وخت کی په تیمم کی رخصت ورکول لوی نعمت دے۔
٤- بِغُفْرَانِ الذُّنُوْبِ۔ (نعمت دربانده پوره کوی چه ګناهونه درته معاف کوی۔
٥- [تَمَامُ النِّعْمَةِ دُخُوْلُ الْجَنَّةِ وَالنَّجَاةُ مِنَ النَّارِ] ۔ د نعمت پوره والے دا دے چه بنده جنت ته داخل شی او د اور نه خلاص شی۔ نو الله تعالیٰ پدے احکامو سره تاسو جنت ته رسوی او د اور نه مو خلاصوی (نقله القرطبی٦/١٠٨)۔
٥- تفسیر مُهایمیؒ کی لیکی : تَمَكُّنُكُمْ مِنْ عِبَادَتِهٖ فِيْ كُلِّ حَالٍ ۔ ستاسو قادریدل په بندګئ د الله بانده په هر حال کی، دا لوی نعمت دے، وجه دا ده چه کچرته انسان په بعض اوقاتو کی عبادت کولے شوے او په بعضو کی نشوے، نو دا پوره مصیبت وو نو هرکله ئے چه مونږ لره داسے پروګرامونه راکړل چه هر وخت عبادت کولے شو نو دا داسے ده لکه زمونږ تجارت او ګټه چه روانه وی، په سفر کی هم د الله بندګی کولے شو، او په حضر کی هم، که اُوبه موجودی وی او که نهٔ وی۔
مؤمن بنده که دے ته سوچ وکړی نو د الله ډیر محبت به ئے په زړه کی پیدا شی چه زمونږ رب په هر وخت ملاویږی، شپه وی که ورځ، سفر وی که حضر، د هغه دروازه کولاوه ده، که یوه بندګی په یوه موقعه کی نشے کولے په بله بانده ورته ځان نزدے کړه۔ یو سړے حج او جهاد ته نشی تلے نورے بندګیانی کمے نهٔ دی۔ یو تن د جنابت یا زنانه د حیض

د وجه نه یوه بندګی نشی کولے لکه مونځ نو ذکر دِے کوی، د بندګانو سره دِے احسان کوی۔ که د اُوبو د نهٔ موندلو په صورت کی عبادت نشوے کیدے نو ځینو کسانو ته به یوه میاشت پورے اُوبه نهٔ ملاویدے نو هغه به الله تعالیٰ ته یوه میاشت سجده نشوه لګولے نو د څومره خیر نه به محرومه وے!۔

٦- د الله نعمت پوره والے دا دے چه بنده ته ئے د خپلے بندګئ طریقے وخودلے او بیا په ظاهری بدن بانددے اُوبه اچولو یا په اندامونو بانددے خاوره رابنکلو سره دننه پاکی راویستل دا هم لوی نعمت دے۔

او پدے کی اشاره ده چه تیمم پدے امت بانددے خصوصی نعمت دے، پخوانو امتونو دپاره نهٔ وو۔

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ: دے دپاره چه تاسو پدے نعمتونو او آسانیانو بانددے د الله شکر ادا کړئ۔ په قرآن کریم کی الله تعالیٰ دا جمله ډیره استعماله کړیده چه بندګانو نه الله تعالیٰ د شکر مطالبه کوی ځکه چه شکر یو مقصودی شے دے۔ د شکر په داسے مقام کی دوه مصداقات وی (١) یو دا چه پدے نعمت بانددے بهرنے شکر کول وی یعنی شاید چه پدے ذکر شوی نعمتونو سره تاسو نور طاعتونه وکړئ، الحمد لله به ووایئ چه ښه دے چه اودس شته، او ښه دے چه غسل شته ځکه چه مؤمن بنده په جنابت او بی اودسئ کی ډیر تنګ وی، او چه غسل او اودس وکړی نو خوشحاله شی لکه ګویا که چه د قید نه آزاد شو نو د الله نه رضا شی۔ نو یو شکر کول دی ددے نعمتونو په وجه په طاعاتو کولو سره۔ امام قرطبیؒ ددے نه داسے تعبیر کړیدے [لِتَشْكُرُوا نِعْمَتَهٗ فَتَقْبِلُوا عَلٰى طَاعَتِهٖ] -دے دپاره چه تاسو د هغه د نعمت شکر وکړئ چه د هغه طاعتونو او بندګیانو ته متوجه شئ۔ (القرطبی١٠٨/٦)

(٢) دویم دا چه په دغه نعمتونو بانددے عمل کول بعینهٖ د الله شکر ګزاری ده مثلًا بنده چه د جنابت نه غسل وکړی، او د ناپاکئ نه اودس وکړی، نو دهٔ د الله شکر ادا کړو په دغه نعمت سره ، د الله امرئے ومنلو، که دائے نهٔ کولے نو د الله شکر ګزار به نهٔ جوړیدلے۔

او کیدے شی چه بلال رضی الله عنه تحیة الوضوء ددے (لعلکم تشکرون) نه معلوم کړے وی چه هغه به هرکله اودس وکړو شپه به وه که ورځ، نو خامخا به ئے په هغے بانددے مونځ کولو۔ دے دپاره چه د الله شکر ګزار بنده جوړ شی۔

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ : ددے بله معنیٰ دا هم ده چه دے دپاره چه تاسو عمل وکړئ په طریقه د تعلیم د الله تعالیٰ بانددے۔

وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِىْ وَاثَقَكُمْ
او یاد کړئ نعمت د الله په تاسو باندے او وعده د الله هغه چه مضبوطه کړے ئے ده تاسو سره
بِهٖٓ اِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاتَّقُوا اللّٰهَ
هغه، کله چه ووئیل تاسو، مونږ واوریدل، او تابعداری کوو او ویریږئ د الله نه
اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۷﴾
یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو کی دی۔

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ دغه مخکنی نعمتونه چه د ابتداء د سورت نه شروع دی بیا اجمالًا رایادوی او د شکر تلقین ورکوی۔ او د (اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ) تاکید ئے بیا راوړیدے چه په دغه لوظونو باندے پابندی وکړئ کوم باندے چه تاسو لوظ کړیدے۔

وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ : دلته تول نعمتونه د الله یادول هم مراد دی۔ (بغویؒ وزاد) او خصوصاً نعمت د اسلام هم مراد دے۔ یعنی د ایمان په نعمت باندے د هغه شکر ادا کړئ څکه چه تاسو مخکی د یو بل دشمنان وئ نو په اسلام سره ئے په تاسو کی الفت پیدا کړو، دارنګه په ګمراهئ روان وئ نو الله تاسو ته په اسلام او ددے احکامو په نازلولو سره د جنت لاره وخودله۔(المنار)

وَمِيْثَاقَهُ الَّذِىْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ : او هغه لوظ رایاد کړئ چه الله تعالیٰ تاسو سره مضبوط کړیدے په قرآن کریم کی او په ژبه د رسول الله ﷺ سره۔ او د لوظ په وخت کی مو دا اقرار کړے چه مونږ به په هر حالت کی خبره منو او تابعداری به کوو۔

د میثاق نه څه مراد دے؟

ددے میثاق (لوظ) نه مراد دا دے چه هر مؤمن چه ایمان راوړی نو په هغه وخت کی د الله سره دا لوظ کوی او په ژبه دا اقرار کوی چه د خپل رب بندګی به کوی او د هغه د رسول اطاعت به کوی۔ نو الله فرمائی : د دغه لوظ تقاضا دا ده چه تاسو اُوس د الله په دغه عقودو باندے عمل وکړئ کوم چه پدے سورت کی بیان شو او بیانیږی۔ او پدے کی هغه عهد ته هم اشاره ده چه د سورتِ بقرے په آخر کی الله تعالیٰ د مؤمنانو ژبے نه نقل کړے وو ﴿وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ﴾۔

صحابه کرامؓ چه به کله د رسول الله ﷺ په لاس باندے بیعت کولو نو په هغه وخت کی به ئے دا اقرار کولو چه مونږ به په هر حال کی د خپل استطاعت موافق ستا هره خبره آورو او منو به ئے، برابره ده چه زمونږ د منشاء او طبیعت موافق وی یا خلاف وی۔ دا یو عام عهد وو، ۲- دے نه روستو به د اسلام په بعض ارکانو یا د حال مناسب د اَهمو څیزونو متعلق خصوصی طور سره عهد هم اخستلو۔ نو الله فرمائی: دغه لوظونه رایاد کړئ او عمل پرے وکړئ۔ نو صحابه کرامؓ چه کوم لوظونه کړی وو نو هغه ئے پوره پوره ادا کړل جَزَاهُمُ اللهُ عَنْ نَبِیِّهِمْ وَعَنِ الْاِسْلَامِ خَیْرَ الْجَزَاءِ وَرَضِیَ عَنْهُمْ وَاَرْضَاهُمْ۔

۳- مجاهدؒ وغیره نه نقل دی چه ددے نه د عالم الارواح (اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ؟) لوظ مراد دے چه الله تعالیٰ د ټولو بندګانو نه اخستے وو نو هغه اګرکه مونږ ته یاد نهٔ دے لیکن صادق پیغمبر مونږ ته د هغے خبر راکړیدے نو جائز ده چه مونږ ته د هغے په وفادارئ باندے حکم وکړے شی۔ (القرطبیؒ وابن کثیرؒ)

٤- څینی وائی چه دا خطاب یهودیانو ته وو چه د الله نعمت رایاد کړئ او هغه وعده چه تاسو نه الله اخستے ده په تورات کی چه په آخری رسول به ایمان راوړئ۔ نو اُوس ددے وفاداری وکړئ۔ اول قول اظهر دے ځکه په هغے کی عموم دے او دویم ظاهر دے۔

وَاتَّقُوا اللهَ: یعنی د الله د حکمونو د مخالفت نه ځان وساتئ او د الله د بی انتهاء نعمتونو په وجه تاسو چرته په غرور کی واقع نشئ او چرته ددے نعمتونو بی قدری او د خپل اقرار هیڅ پرواه ونکړئ۔ نو همیشه دا الله نه یره کوئ هغه په یوه لمحه کی تاسو نه ټول نعمتونه اخستے شی، او د ناشکرئ او د لوظ ماتولو په سزا کی تاسو سخت رانیولے شی، نو د الله تعالیٰ دیرے تقاضا دا ده چه مونږ د هغه مخلصانه اطاعت او وفاداری وکړو ځکه چه هغه د زړونو په خبرو پوهه دے، صرف په ژبه سره (سَمِعْنَا او اَطَعْنَا) ویل، یا د شکر ګزارئ رسمی او ظاهری نمائش سره مونږ هغه ته دوکه نشو ورکولے۔

یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا کُوْنُوْا قَوَّامِیْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ وَ
اے ایمان والو! شئ تاسو مضبوط ولاړ د الله دپاره ګواهی کونکی په انصاف سره او
لَا یَجْرِمَنَّکُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰی اَلَّا تَعْدِلُوْا اعْدِلُوْا
په جرم کی دِے وانچوی تاسو لره بغض (دشمنی) د قوم پدے چه انصاف ونکړئ، انصاف کوئ

هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوٰی وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا
دا ډیر نزدے کونکے دے تقویٰ ته او ویریږئ د الله نه یقیناً الله خبردار دے په هغه عملونو
تَعْمَلُوْنَ ﴿۸﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَ
چه تاسو ئے کوئ۔ وعده کړیده الله تعالیٰ د هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړیدے او
عَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۹﴾ وَالَّذِيْنَ
عملونه ئے کړیدی نیك، د دوی دپاره بخنه ده او اجر لوئی دے۔ او هغه کسان
كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِآيَاتِنَا أُولٰٓئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۰﴾
چه کفر ئے کړیدے او دروغجن ئے ګڼرلی دی آیتونه زمونږ دا کسان اُور والا دی۔

تفسیر : ربط : مخکی الله تعالیٰ مؤمنانو ته د احساناتو او د خپل عهد او لوظ یادولو حکم وکړونو دلته وائی چه صرف په ژبه سره یادول نۀ بلکه دے ته عملی جامه ورکول مقصود دی۔

پدے آیت کی بل عقد ذکر دے هغه دا چه دلته الله تعالیٰ مؤمنانو ته حکم کوی چه دوی د الله تمام حقوق ادا کړی، د حق ګواهی ورکړی، او د یو قوم دشمنی دوی په بے انصافئ باندے راپورته نکړی۔ او دا تنبیه ورکړے شویده چه که تاسو خپل اقرار او لوظ نۀ وی هیر کړے نو لازم ده چه د الله تعالیٰ حقوق ادا کړئ او د الله چه کوم حکم راځی هغے ته فوراً راپورته شئ، او د الله د حقوقو سره د مخلوق په حقوقو کی هم پوره جدوجهد او اهتمام وکړئ۔

(قوامین لله) کی حقوق الله او په (شهداء بالقسط) کی حقوق العباد طرفته اشاره ده۔

قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ : یعنی په اخلاص سره ودریږئ چه د مخلوق رعایت پکی نۀ وی۔

یا لِاَجْلِ ثَوَابِ اللّٰهِ، فَقُوْمُوْا بِحَقِّهٖ)

یعنی د الله نه د ثواب طلب کولو دپاره د هغه حقوق ادا کونکی شئ۔ (القرطبی)

قوامین : مبالغه ده په قائمین کی۔ یعنی د الله دپاره د هغه په حقوقو باندے مضبوط او کلك ودریږئ چه د الله هیڅ حکم درنه مات نشی او هغه پوره پوره ادا کړئ۔

او شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ ؛ ګواهی کونکی په انصاف سره۔ یعنی ګواهی چه کوئ نو د الله

دپاره ئے کوئ او په حق سره ئے کوئ او بل په انصاف سره ئے کوئ، خپلوانو ته پکی مهٔ مائله کیږئ او په دشمنانو باندے پکی ظلم مهٔ کوئ۔ (قرطبیؒ)

حافظ ابن کثیرؒ داسے معنیٰ کوی : كُونُوا قَوَّامِيْنَ بِالْحَقِّ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ لَا لِأَجْلِ النَّاسِ وَالسُّمْعَةِ وَكُونُوا شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ اَیْ بِالْعَدْلِ لَا بِالْجَوْرِ۔ یعنی په دوه خبرو حکم شویدے یو دا چه په حق باندے مضبوط ودریږئ صرف د الله دپاره نهٔ د خلکو د وجه نه او نهٔ د سُمعت د وجه نه، او دویم دا چه شئ گواهی کونکی په انصاف سره، نهٔ په ظلم سره۔

دا گواهی دینی او دنیاوی دواړه مراد ده، دنیاوی دا ده چه تهٔ په یو ځای کی په یوه معامله کی گواه جوړ شوے ئے، حالت دے لیدلے دے، نو بیا د انصاف گواهی ورکړه د هیچا رعایت پکی مهٔ کوه۔

او دینی گواهی دا ده چه د زجاجؒ نه نقل دی : شهداء بیان کونکی او قسط معنیٰ دین دے یعنی بَيِّنُوا دِيْنَ اللّٰهِ۔ د الله د دین بیانونکی جوړ شئ۔ دا معنیٰ هم صحیح ده۔

حکمة

دا قسم آیت په سورة النساء کی هم تیر شو هلته بالقسط لفظ مخکی او دلته (لله) لفظ مخکی شویدے ددے حکمة (والله اعلم) دا دے چه هلته د مخکی نه د حقوق العباد تذکره راروانه وه او دلته د اول نه په حقوق الله باندے زور ورکړے شویدے نو ځکه هلته بالقسط مقدم شو او دلته د (لله) لفظ مقدم شو۔

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ : اجرام په جرم باندے راپورته کولو ته وائی۔

شنآن : دشمنی او باطنی بُغض ته وئیلے شی۔

انسان چه د عدل نه وځی او بی انصافی کوی نو د هغے یو سبب د یو قوم سره دشمنی وی، نو الله فرمائی چه تاسو دِے د یو قوم دشمنی په بی انصافئ باندے راپورته نکړی۔

د عدل او انصاف مطلب دا دے چه د یو شخص سره په غیر د افراط او تفریط نه هغه معامله کول، د کوم چه هغه واقعی مستحق دے، د عدل او انصاف تله داسے صحیح او برابر یدل پکار دی چه لوی نه لوی محبت او سخت نه سخت عداوت هم د هغے د دواړو چابړو نه یو هم کوږ نکړی۔

د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامؓ د عدل مثالونه وګورئ هغوی به د یهودو سره هم عدل کولو اگر که کافر وو۔

نبي كريم ﷺ منافق له چه په ظاهره كي مسلمان وو هغه له ئے فيصله ونكړه او يهودي له ئے وكړه ځكه چه هغه حق بجانب وو۔

سيدنا عمر فاروق رضي الله عنه په خپل دَور خلافت كي د خيبر والا يهوديان د خيبر نه شړل نو د هغوي سره ئے عدل وكړو نو يهودو وويل چه تا بالكل عدل وكړو او پدے عدل باندے آسمانونه او زمكه ولاړ دي۔

رسول الله ﷺ عبد الله بن رواحه رضي الله عنه لره د خيبر والو د ميوه جاتو د اټكل اندازے دپاره وليږلو نو يهوديانو لالچ وركړو دے دپاره چه اټكل اندازه كي د هغوي طرفداري وكړي، نو هغه وويل چه ما ته تاسو د خنزيرانو او شادوګانو نه بد تريئ ليكن زما دا دشمني ستاسو سره به ما دے ته راپورته نكړي چه زۀ بي انصافي وكړم۔ نو هغوي وويل: چه په همدے عدل باندے آسمان او زمكه ولاړ دي۔

عدل په اقوالو كي وي، په اعمالو كي، په تقسيماتو كي، د دوه ښځو ترمينځ، د اولادو ترمينځ۔ لكه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

(اِعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ) تاسو د خپلو اولادو ترمينځ انصاف كوئ۔ (بخاري ومسلم)

نبي كريم ﷺ به ددے دومره اهتمام كولو چه د هغه په مجلس كي د يو صحابيؓ ځوي راغلو نو هغه ښكل كړو او په غيږه كي ئے كينولو بيا ئے لور راغله نو هغه ئے خوا كي كينوله نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: [هَلَّا سَوَّيْتَ بَيْنَهُمْ] تا د دوي ترمينځ مساوات ولے ونكړو۔ (مسند البزار: ٦٣٦١) ومجمع الزوائد ١٥٦/٨ وسنده ضعيف)۔

نعمان بن بشير ﷺ ته پلار غلام وركړو او نورو بچو ته ئے نۀ وو وركړے، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د اولادو ترمينځ انصاف كوئ چه يو ته تحفه وركوے نو بل ته به ئے هم وركوے۔
(صحيح بخاري: ٢٥٨٦)

ډير انسانان په خبرو كي بي عدلي كوي، د خپلولئ، د خپلے رائے، د خپل مذهب او پارټئ طرفداري كوي، دا انصاف په هغه چا كي راتلے شي چه هغه د اسلام نه علاوه بل مذهب او پارټئ نۀ لري لكه اهل الحديث والسنة شو چه د هر عالِم سره آيت او حديث وي، بس د هغوي ملګرتيا كوي ګائِنًا مَنْ ګانَ (هر څوك چه وي)۔

او د تقليد والو طريقه دا ده چه هر څنګه وي خپل مذهب به مضبوطوي اګركه آيت او حديث ئے خلاف وي، او دا بي عدلي ده، خپل مذهب خلكو ته قوي ښكاره كوي حال دا چه هغه د ټولو نه ضعيف وي، دا هم بي عدلي ده۔

اِعۡدِلُوۡا هُوَ اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰی : پـه شریعت کی د تقویٰ د پیدا کیدو ډیر اسباب دی، په تمامو نیك اعمالـو او بهتـریـن خـصلتونو سره تقویٰ پیدا کیږی، دلته یو دا خودلے شویدے چه عـدل او قسط یـعنـی د دوست او دشمن سره یو شان انصاف کول او د حق په معامله کی د مـحبت او د عـداوت د جـذبـاتـو نـه قطعاً نهٔ مغلوب کیدل، دا خصلت د تقویٰ د حاصلیدو دپاره ډیر مؤثـر او نـزدے سبب دے۔ همیشـه دپاره پـه هـره مـعـامله کی د انصاف نه کار اخستلو نه روستو د تقویٰ کیفیت انسان ته زر حاصلیږی۔

او تـقـویٰ دیته وائی چه کوم څیزونه شرعاً مُهلك (هلاکونکی) یا په یوه درجه کی مُضر (ضـرر ورکـونکی) وی، د هغے نه همیشه بچ وسیدو نه چه کوم خاص نورانی کیفیت بنده ته په زړه کی راسخ (مضبوط) شی د هغے نوم تقویٰ دے۔

هُوَ اَقۡرَبُ : یعنی دا نزدے کونکے دے تقویٰ ته، یعنی د تقویٰ اَهم سبب دے یا دا نزدے دے تقویٰ ته ځکه د تقویٰ اعلیٰ برخه ده۔

لِلتَّقۡوٰی : تـقـویٰ شرعی هم مراد ده او لغوی هم مراد کیدے شی یعنی عدل نزدے کونکے دے بچاؤ لره د اُور د جهنم نه۔

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيۡرٌ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ : پـه انـصـاف کولو سره بنده ته تقویٰ په آسانئ حاصلیږی او د هـغے د حصول دپاره واحده ذریعه د الله نه یره او د هغه د انتقام نه خوف دے او دا خوف ددے نـه پـیـدا کیږی چه انسان د (ان الله خبیر بما تعملون) مضمون بار بار مراقبه کړی، کله چه د مؤمـن پـه زړه کـی دا یـقـین حاضر شی چه زمونږ هیڅ پټ یا ښکاره حرکت د الله نه پټ نهٔ دے، نـو د هـغـه زړه کـی بـه یـره پـیـدا شی نـو ددے نـتـیـجـه بـه دا شی چه هغه به په تمامو مـعـامـلاتـو کـی د عـدل او انصاف لاره اختیاروی او د الله تعالیٰ احکامو باندے عمل کولو دپاره بـه تـیـار وسیـږی نو ددے په نتیجه کی به ورته دغه ثمره ملاویږی کوم چه په روستو آیت کی ذکر شویده چه الله به د دوی گناهونه معاف کوی او جنت ته به ئے داخلوی۔

وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَاۤ : یعنی قرآنی آیتونه او د رسول الله ﷺ معجزات ئے دروغجن کړیدی۔

يَا اَيُّهَا الَّذِيۡنَ آمَنُوا اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ اِذۡ هَمَّ قَوۡمٌ
اے ایمان والو! یاد کړئ د الله احسان په تاسو کله چه اراده کړے وه څه خلقو
اَنۡ يَّبۡسُطُوۡا اِلَيۡكُمۡ اَيۡدِيَهُمۡ فَكَفَّ اَيۡدِيَهُمۡ عَنۡكُمۡ
چه را اُوږده کړی تاسو ته لاسونه خپل نو بند ئے کړل لاسونه د هغوی ستاسو نه

وَاتَّقُوا اللهَ وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾

او ویریږئ د الله نه او خاص په الله دِے ځان وسپاری مؤمنان۔

تفسیر : اُوس بیا امتنان (زبادنه) بیانول دی او مقصد پکی شکر کول دی پدے نعمتونو۔ مخکی عمومی احسانات بیان شول اُوس خصوصی نعمت بیانوی۔

د آیت مطلب دا دے چه الله تعالیٰ اسلام راولیږلو چه دا ډیر لوی نعمت دے نو ددے دشمنان زیات دی، او ددے د ختمولو کوشش د پخوانه شروع دے او شروع به وی او الله تعالیٰ تاسو ته دا دین سره د ډیر کوشش د کافرانو نه باقی روغ جوړ پریخودو، اهل ایمان ئے ختم نکړل او دین ئے درله باقی پریخودو نو پدے باندے شکر وکړئ۔ یعنی کافران به تاسو ته لاسونه را اُوږدوی لیکن الله تعالیٰ به ئے دفع کوی نو دین درله نشی ختمولے، لهذا پدے دین باندے عمل وکړئ۔ یهودیانو او د عربو مشرکانو او منافقانو دا کوشش کولو چه رسول الله ﷺ ختم کړی، او ټول کفار اسلام ته یو شویدی لیکن هسے به ځان ستړے کړی او مقصد ته به ونهٔ رسیږی، آخر دا د چا نظام دے؟!

اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ : د نعمت رایادولو کی مقصد د هغے شکر کول دی نو د نعمتونو د شکر کولو یوه حصه دا ده چه هغه رایاد کړے شی او د نعمت ناشکری دا ده چه انسان د هغے نه غافل شی۔

اِذْهَمَّ قَوْمٌ : د یو قوم د ارادے څه مصداقات دی؟

١ – ددے قوم نه مراد بنو نضیر دی چه رسول الله ﷺ یوه ورځ د دیت د طلب کولو دپاره د هغوی خوا ته ورغلو چه مونږ سره قرض وکړئ، زمونږ یو مسلمان په خطاء سره قتل کړیدے، دوه عامریین ئے وژلی دی نو هغوی ورته وویل چه راشه درکوی ئے۔ رسول الله ﷺ سره د خپلو ملګرو نه هلته لاړو او د یو دیوال سوری لاندے کیناستو نو دوی خپل مینځ کی سلا مشوره وکړه چه سرے دلته راغلے دے راځئ چه د جرندے د پل په اندازه ګټه پرے د بره نه راګوزار کړو چه ترے خلاص شو،

نو یو روایت کی دی چه جبریل علیه السلام خبر ورکړو، رسول الله ﷺ هیچا ته څه ونهٔ ویل او په آرام سره د هغه ځای نه پاڅیدو او مدینے ته راغے، ملګری د انتظار نه روستو مدینے ته راغلل نو رسول الله ﷺ حکم وکړو چه ځانونه تیار کړئ په بنو نضیرو باندے حمله ده، نو

حـملـه پرے وشـوه او هغوی محاصره شو لکه تفصيل به ئے په سورة الحشر کی راځی ان شاء الله تعالیٰ۔ نو الله دلته دے واقعے ته اشاره کوی۔

۲- بـخاري کی راځی چه په غزوه د ذات الرقاع کی یو اعرابی د رسول الله ﷺ پسے توره راویستله کله چه هغه د ونے لاندے اُوده وو نو ورته ئے وویل : [مَنُ یَّمُنَعُكَ مِنِّیُ؟] ما نه به دے څـوك بـچ کړی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ۔ د هغه لاس نه توره پریوته، رسول الله ﷺ راپورته کړه او هغه ته ئے وویل : تا به ما نه څوك بچ کړی؟ نو هغه وویل :

[کُنُ خَیُرَ آخِذٍ] مـا سره احسان وکړه۔ زهٔ تا سره عهد کوم چه زهٔ به تا سره جنګ نکوم او نـهٔ بـه د هـغـه چا مـلـګرتیا کوم چه تا سره جنګ کوی۔ رسول الله ﷺ هغه پریخودو نو خپل قوم ته ورغے وے ویل :

[جِئتُکُم مِنُ عِنُدِ خَیُرِ النَّاسِ] زهٔ د ډیر غوره انسان د خوا نه راغلم۔

۳- دریـم دا په عُسفان علاقه کی نازل شوے وو چه کله خالد بن الولید په صحابه کرامؓ حمله کوله نو الله تعالیٰ صلاة الخوف نازل کړو او د هغوی پروګرام ئے شنډ کړو۔

لیـکـن ظـاهـر دا ده چـه دا آیت عـام دے پـه دفع کولو د کافرانو کی چه په هر دور کی الله تـعـالیٰ د ایـمـان والـو نـه کـافران اړوی۔ هر کافر د مسلمان د ختمولو دپاره لاسونه اُوږدوی خـاصـکـر کـوم چـه پـه کی سرکرده او د اسلام داعیان وی د هغوی د قتلونو کوشش کوی لیکن الله مدافعت کوی۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ : اشاره ده چه داسے نعمت په تقویٰ او توکل علی الله سره حاصلیږی۔

وَعَلَی اللّٰهِ فَلُیَتَوَکَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ : یـعـنـی هرکله چه کافران په مؤمنانو پسے کوشش کوی چه ختم ئے کړی، نو دوی نه خو یریدل پکار دی نو الله فرمائی : مؤمنانو له پکار دی چه الله ته ځان وسپاری، ټول پروګرامونه هغه برابرونکے دے۔

وَلَقَدُ أَخَذَ اللّٰهُ مِیُثَاقَ بَنِیُ إِسُرَائِیُلَ وَبَعَثُنَا مِنُهُمُ

او یقیناً اخستے وه الله تعالیٰ مضبوطه وعده د بنی اسرائیلونه او مقرر کړی وو مونږ د دوی نه

اثُنَیُ عَشَرَ نَقِیُبًا وَقَالَ اللّٰهُ إِنِّیُ مَعَکُمُ لَئِنُ أَقَمُتُمُ الصَّلَاةَ وَ

دولس مشران او ووئیلی وو الله تعالیٰ یقیناً زهٔ ستاسو سره یم که تاسو قائموئ مونځ او

آتَیُتُمُ الزَّکَاةَ وَآمَنتُم بِرُسُلِیُ وَعَزَّرُتُمُوهُمُ وَأَقُرَضُتُمُ

ورکوئ زکاة او ایمان مو راوړو په رسولانو زما او مدد مو وکړو د دوی او قرض مو ورکړو
اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَ
الله تعالیٰ ته قرض ښائسته خامخا لرے به کړم ستاسو نه ګناهونه ستاسو او
لَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ فَمَنْ
خامخا داخل به کړم تاسو جنتونو ته چه بهیږی به لاندے د هغے نه نهرونه پس چا
كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ﴿۱۲﴾
چه کفر وکړو روستو ددے نه ستاسو نه نو یقیناً دا ګمراه شو د نیغے لارے نه۔

تفسیر : ددے نه روستو الله تعالیٰ زمونږ د عبرت دپاره د بنی اسرائیلو لوظونه او عهدونه اوبیا د هغوی خیانتونه او بی لوظی بیانوی چه هغوی د الله تعالیٰ د لوظونو هیڅ پرواه ونکړه او غداری ئے وکړه، نو هغوی څنګه خوار او ذلیله شو نو الله د لوظ ماتونکو پریشانی او بد حالی او پښیمانتیا بیانوی، نو ایمان والو له پکار دی چه دٔ هغوی په شان کار ونکړی، او د الله په لوظونو باندے مضبوط اوه وسیږی. لکه مثلًا یهودیانو د الله دا لوظ مات کړو چه د جهاد حکم ورته وشو لیکن د هغے نه ئے بزدلی وکړه او دا حکم ئے مات کړو نو په زمکه کی څنګه حیران شو (يَتِيْهُوْنَ فِي الْأَرْضِ شو)۔ قابیل د هابیل سره جنګ وکړو او هغه ئے قتل کړو نو څنګه پښیمانه شو (فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِيْنَ)۔

مُحاربین (یعنی د الله او د رسول مخالفت کونکی) د الله لوظ ماتوی نو دنیا کی به پرے پریشانی راځی۔ او په آخرت کی عذابونه د هغوی په انتظار کی دی۔ دارنګه د قسوة قلب لعنت پرے وشو لکه په روستو آیت کی راروان دے۔

نو زمونږ په مسلمانانو کی چه څوك د الله د لوظونو او حکمونو مخالفت کوی او دا ماتوی نو الله به ئے د دغه یهودو په شان پریشانه کوی، کله به په یوغم کی اخته وی، او کله په بل، د الله په حکمونو باندے عمل کولو کی امن او سکون او مزیداره زندګی ده، الله به په فتنو او پریشانیو کی دننه د سکون او آرام او جنتی ژوند ورکوی او چه څوك د الله حکمونه ماتوی نو په باغونو او مزیدارو محلونو کی وسیدو او د مالداریٔ سره سره به پریشانه زندګیٔ او مصیبتونو کی اخته وی، او د الله د طرفه پریشانیانی په انسانانو قسماقسم طریقو سره راځی۔

نـو دلتـه الله تـعـالیٰ فـرمائی چه ما د بنی اسرائیلو نه د پنځه کارونو لوظ اخستے وو۔ د مـانځه پابندی، د زکاة ورکول، په رسولانو باندے ایمان راوړل، د هغوی اکرام کول او الله لره قـرض ورکول۔ نو د الله د طرفنه ورسره دا وعده وه چه ګناهونه به مو معاف کوم او جنت ته بـه مو داخلوم۔ او کله چه هغوی وعده ماته کړه نو الله تعالیٰ په هغوی باندے پنځه قسمه عـذابـونـه راولیـږل۔ الله تـعـالیٰ پرے لعنت وکړو، د زړه سختئ ئے پرے راوسته، د کلماتو په تحریف کی ئے واچول او نسیان ئے پرے راوستو او خائنان ئے ترے جوړ کړل۔

دارنـګـه نـصـاراؤ دا وعـدے مـاتے کړے نو الله د دوی ترمینځ عداوت (دشمنی) او بغضونه پیدا کـړل نـو د الله د لـوظـونـو پـه ماتولو کی دغه قسمه عذابونه دی، ددے وجه نه روستو (۱۵) آیت کی د الله او د رسول اطاعت ته ترغیب ورکوی، او قرآن ته ئے ترغیب ورکړیدے بیـا ئے د نـصـاراؤ پـه عقیده باندے رد کړیدے او دا د لوظ د ماتولو مثالونه وو چه یهودیانو څـنـګه لوظ مات کړو هغه دا چه اول ئے د توحید عقیده پریخوده مشرکان ترے جوړ شول، او بیـا بـل مـرض ئے دا وو چـه د شرك سره به ئے خپل ځان د الله محبوبان ګنړل بیا ئے په (۱۹) آیت کی د الله او د رسول اطاعت ته ترغیب ورکړیدے۔

بیـا ئے د مثـال دپاره د مـوسیٰ علیه السلام واقعه راوړیده چه هغه بنی اسرائیلو ته د الله نعـمتـونـه رایـاد کړل او بیا ئے ورته د شکر امر وکړو او بیا ئے ورته یوه مسئله رایاده کړه چه هـغـه جهـاد دے لیـکن هغوی مخالفت وکړو نو الله په میدان تیه کی څلویښت کاله حیران پریخودل، بیا ئے د قابیل او هابیل واقعه د حیرانتیا بیانولو دپاره راوړیده۔

ربط : مـخـکـی آیتـونو کی د الله لوی نعمتونه بیان شو چه الله تعالیٰ ستاسو دین کامل کړو او ستاسو قوت ئے مضبوط کړو، د کافرانو نه یره مهٔ کوئ،

او پـه آینده کی هم الله تعالیٰ اراده لری چه تاسو پاك کړی او په حرج کی مو نهٔ اچوی، نو ددے خطره وه چه پدے امت کی هم څوك د احساناتو او نعمتونو نه التہ نتیجه واخلی او د اهـل کـتـابـو پـه شان کـار (ناشکری) شروع کړی نو ځکه پدے آیتونو کی د اهل کتابو څه حالات د عبرت دپاره بیان شو۔

اَخَذَاللّٰهُ مِیْثَاقَ بَنِیٓ اِسۡرَآءِیۡلَ : دا لـوظ الله تـعـالیٰ پـه ژبه د موسیٰ علیه السلام او بل په تورات کی اخستے وو۔

بَنِیٓ اِسۡرَآءِیۡل : یعنی لوظونه اخستل صرف د امتِ محمدیه خصوصیت نهٔ دے بلکه د مخکنو امتونو نه هم لوظونه اخستے شویدی۔

چه هغه ټول په کتاب الله کی ذکر دی، مسلمانانو ته ئے وویل (أَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ، او وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ بِهٖ) نو دغه شان بنی اسرائیلو نه ئے لوظونه اخستی وو۔ امت محمدیه ته ئے وئیلی وو ﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُوْنَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾ (آلعمران: ۱۰٤) نو دغه شان ئے د بنی اسرائیلو نه دولس نقیبان مقرر کړی وو۔

مسلمانانو ته ئے وئیلی وو ﴿وَاللّٰهُ مَعَكُمْ﴾ (محمد: ۳۵) نو بنی اسرائیلو ته ئے هم وئیلی وو ﴿إِنِّيْ مَعَكُمْ﴾۔ دارنګه مسلمانانو ته ئے وئیلی وو ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيْمٌ﴾ او بنی اسرائیلو ته ئے هم وویل:

﴿لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ﴾۔ هغوی ته ئے ویلی وو:

﴿وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيْلِ﴾ نو مسلمانانو ته ئے هم وویل:

﴿وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖ أَعْمٰى فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمٰى وَأَضَلُّ سَبِيْلًا﴾ (الاسراء: ۷۲) (عزیز التفاسیر)

وَبَعَثْنَا: بعث په معنیٰ د مقررولو سره۔

نَقِيْبًا: نقیب د قوم مشر ته وائی، د نقب نه اخستے شویدے په اصل کی په دیوال یا په لرګی یا پوستکی کی سوری کولو ته وائی۔ (مفرداتِ راغب) او په معنیٰ د تفتیش او تالاش سره هم استعمال شویدے او دلته هم دا معنیٰ مراد ده۔ (روح المعانی)

ځکه چه د قوم مشر هم د خپل قوم او رعیت د احوالو تحقیق کوی نو نقیب معنیٰ ده اَلْخَبِيْرُ بِأَحْوَالِ الْقَوْمِ ۔ د خلکو د حالاتو خبر اخستونکے۔ او ((مَنْقَبَةٌ)) هم ددے نه اخستے شویدے چه جمع ئے مناقب راځی په معنیٰ د فضائلو سره او ترڅو چه یو تن د چا په باره کی تالاش ونکړی د هغه فضائل نشی معلومولے۔

او ددے نقیب مقررولو فائده دا وی چه د ټولو مشر د قوم د حالاتو نه ډیر نۀ خبریږی نو هغه واړه واړه مشران مقرر کړی دے دپاره چه هر مشر د خپل قوم حالات معلوم کړی او بیا ئے مشر ته پیش کړی چه هغه ئے تپوس او پوښتنه وکړی، د فسادیانو مخنیوے وکړی او د ضرورتمندو ضرورت پوره کړی۔ او دے نقباؤ ته عُرَفَاء هم وائی یعنی نګرانان۔

د الله تعالیٰ په حکم سره موسیٰ علیه السلام د بنی اسرائیلو د دولسو قبیلو دولس نمائنده ګان چانړ کړل او هغوی ته ئے حکم اُوکړو چه هغوی د خپلو خپلو قبیلو خلقو نه د الله او د هغه د رسول او د هغه د کتاب بیعت واخلی، او د خپلو قبیلو د احوالو نګرانی وکړی۔

ځینی وائی کله چه موسیٰ علیه السلام بنی اسرائیلو لره د جبارین (سرکشانو) قوم د حال او د هغوی د قوت او شوکت اندازه کولو دپاره لیږل، نو د هغوی د هرے قبیلے نه ئے دولس

سرداران چانړ کړل، او مفسرینو د هغوی نومونه هم ذکر کړیدی: د رویبل قبیلے سردار شامون بن رکون وو او د شمعونینو سردار شافاط بن حری او د یهوذا سردار ''کالب بن یوفنا'' او د اتین سردار میخائیل بن یوسف او د افرایم سردار یوشع بن نون او د بنیامین قبیلے سردار فلطم بن دفون او د زبولون سردار جدی بن شوری او د منشا سردار جدی بن موسی او د دان سردار خملائیل بن حمل او د اشار سردار ساطور او د نفثالی سردار بحر او د یساخر سردار لایل مقرر کړل، ابن کثیر وائی چه د تورات په څلورم جزء کی د بنو اسرائیلو د قبیلو د سردارانو نومونه ددے نه لږ څه مختلف ذکر شویدی والله اعلم۔ (ابن کثیرؒ)

کله چه هلته اُورسیدل نو وے لیدل چه هغوی د ډیر لوی قوت مالکان دی او د هغوی مقابله نشی کیدے۔ نو دوی خپل مینځ کی دا خبره فیصله کړه چه بنی اسرائیلو ته دا خبره نۀ وایو، صرف موسیٰ ؑ ته به ئے اُووایو، لیکن د واپس راتلو نه روستو ددوی نه لسو کسانو خیانت اُوکړو او خپلو خپلو رشته دارو ته ئے اُووئیل او خبره خوره شوه او د دوی نه د جنګ معامله مشکله شوه او بنی اسرائیلو موسیٰ ؑ ته اُووئیل چه ((ته او ستا رب دِے لاړ شی جنګ دِے اُوکړی))۔

او حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه (عجیب اتفاق دا دے چه) په ابتداء د اسلام کی په مکه مکرمه کی د عقبے په شپه کی کله چه رسول الله ﷺ د انصارو نه بیعت اخستو نو د هغوی شمار هم دولس وو۔ درے (۳) د اَوس قبیلے، اُسَیْد بن حُضَیر، سَعد بن خَیْثَمَه او رِفَاعَه بن عَبد المُنْذِر رضی الله عنهم او په بعض روایاتو کی ددۀ په ځای اَبُو الْهَیْثَم بن التَّیِّهَان رضی الله عنه ذکر دے او نهه (۹) سرداران د خزرج وو۔ ابو اُمَامه اَسْعَد بن زُرَارَه، سعد بن رَبِیْع، عبد الله بن رَوَاحه، رافع بن مالك بن عجلان، براء بن معرور، عباده بن صامت، سعد بن عُبَاده، عبد الله بن عَمْرو بن حَرَام، منذر بن عمرو بن خُنَیس رضی الله عنهم۔ دا خلق مدینے ته راغلی وو او د رسول الله ﷺ دپاره ئے د خلقو نه بیعت اخستے وو۔ (د دوی تفصیلی دلکش واقعه زمونږ په کتاب ((سیرت رسول)) کی ضرور وګورئ)۔

او امام بخاریؒ او مسلمؒ د جابر بن سمره رضی الله عنه نه یو حدیث روایت کړیدے چه د هغے نه معلومیږی چه د اسلام د خلفاؤ شمار به هم دولس (۱۲) وی او هغه ټول به قریشیان وی۔

(بخاری کتاب الاحکام باب: ۷۲۲۲) صحیح مسلم: ۱۸۲۱)

لیکن دا به هغه دولس (۱۲) امامان نۀ وی د کومو چه شیعه ګان روافض باطله عقیده لری چه د هغے هیڅ دلیل په قرآن او سنت کی موجود نۀ دے۔

دارنګه حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه ددے والیانو (خلفاؤ) نه مراد دا دے چه دوی به نیك بخت وی چه په حق بانده به قائم وی او په خلکو کی به انصاف کوی، ددے نه دا نۀ ثابتیږی چه دوی به پرله پسے د یو بل نه روستو وی نو څلور خو پرله پسے وو او پنځم عمر بن عبد العزیز رحمه الله دے۔ د بنو عباسو نه هم بعض دغه شان خلفاء وو او د قیامت د قائمیدو نه مخکی مخکی به د هغه دولسو شمار پوره کیدل ضروری وی او ددے نه به یو امام مهدی رحمه لله وی چه د هغه زیرے په احادیثو کی راغلے دے۔ (ابن کثیرؒ)

او مفسرینو د تورات نه نقل کړیدی چه اسماعیل علیه السلام ته الله وفرمایل :

((زۀ به ستا د اولادو نه دولس سرداران پیدا کوم))۔

غالباً دا هغه دولس خلفاء دی چه د جابر بن سمره رضی الله عنه په حدیث کی ذکر دی۔ (ابن کثیرؒ)

إِنِّي مَعَكُمْ : یعنی زۀ به ستاسو مدد کوم او په هیڅ وخت کی ما د خپل ځان نه جدا مۀ ګڼرئ، تاسو چه هره معامله ښکاره یا پټه کوئ هغه په هر ځای او هر وخت کی زۀ وینم او آورم زۀ به د هغے بدله درکوم نو ښه په سوچ سمجھ سره عمل کوئ۔

لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ : الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته اُووئیل چه که تاسو مونځ کوئ، زکوٰة ورکوئ، زما په رسولانو بانده ایمان راوړئ، د هغوی سره مدد کوئ او د فرض زکوٰة نه سوئ د خپل مال نه د الله په لاره کی خرچه کوئ نو زما نصرت او حمایت به تاسو سره وی، دارنګه زۀ به ستاسو ګناهونه معاف کوم او تاسو به جنتونو ته داخلوم۔

وَآمَنتُم بِرُسُلِي : ایمان خو په الله او په ملائکو او کتابونو بانده هم ضروری دے خو دلته ئے د بنی اسرائیلو د حال مطابق په رسولانو بانده د ایمان دعوت ورکړو ځکه چه دوی کی دا مرض وو چه دوی به د انبیاؤ علیهم السلام ترمینځ تفریق راوستو، د خپل کلی به ئے منلو او د نورو کلو به ئے نۀ منل، حسد پکی زیات وو۔

وَعَزَّرْتُمُوهُمْ : په هغوی کی بل مرض دا وو چه ایمان به ئے راوړو نو بیا به ئے بی ادبی د پیغمبرانو کوله لکه د موسیٰ علیه السلام سره ئے څه کارونه کړی وو ؟

مخکی سورتِ بقره کی تیر شویدی چه څانونه ئے پرے نازولی کړی وو چه دا نۀ خورو او دا خورو او ناجائز مطالبے به ئے کولے۔ او روستو آیتونو کی راځی چه مونږ جنګ نشو کولے تۀ او ستا رب دِے لاړ شی جنګونه دِے کوی، دا څومره بی ادبی وه۔ نو الله ورته وفرمایل : چه تاسو به د رسولانو تعظیم کوئ۔

د تعزیر معنیٰ ده : اَلْمَعُوْنَةُ وَالنَّصْرُ وَالتَّعْظِيْمُ وَالتَّوْقِيْرُ ۔ یعنی د رسولانو سره به تعاون او مدد

کـوئ او د هـغـوی تـعـظیم او اکرام به کوئ۔ د هغوی د حکم خلاف به نکوئ او د هغوی د دین نه به دخلکو شبهات دفع کوئ او پدے کی دعوت او جهاد ته اشاره ده۔

(زاد المسیر۲/۲۵۱)

د تـعـزیر بله معنیٰ ده : رد کول او وهل چه د حد نه کم وی۔ عرب وائی : عَزَّرْتُ فُلَانًا : اَیْ اَدَّبْتُهٗ وَرَدَدْتُّهٗ عَنِ الْقَبِیْحِ ۔ مـا د فـلانی تعزیر وکړو یعنی هغه ته مے ادب ورکړو او د بد کار نه مے راواپس کړو۔ نو معنیٰ دا شوه چه تاسو به د انبیاؤ نه د هغوی دشمنان اړوئ، او مدد به ئے کوئ۔ (القرطبی۶/۱۱۱)

وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ : یعنی د زکاة نه علاوه نور نفلی صدقات به کوئ۔

فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ : یـعـنـی ددے مخکنی څیزونو نه که چا انکار وکړو نو هغه کافر دے او پدے پـنـځـه واړو خبرو کی یوه خبره هم د هغوی پورے خاص نهٔ ده بلکه امتِ اسلامیه دپاره هم دغه وعدے دی۔

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ وَ
پس په سبب د ماتولو د دوی لوظ خپل لره لعنت وکړو مونږ په دوی باندے او
جَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَنَسُوْا
وګرځول مونږ زړونه د دوی سخت، بدلوی کلمے د الله تعالیٰ د خپلو ځایونو نه او هیره کړه دوی
حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ
یوه حصه د هغے نه چه نصیحت ورکړے شوے وو دوی ته په هغے سره او همیشه به تهٔ خبریږے
عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ
په خیانت د دوی باندے، مګر لږ د دوی نه، نو معافی کوه د دوی نه او مخ اړوه (د ملامته
اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳﴾
کولو د دوی نه) یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی د احسان کونکو سره ۔

تفسیر: د تعهداتو نتیجه

اُوس د دوی دپاره سزاګانے بیانوی په سبب د ماتولو د دوی لوظونو لره، دوی پیغمبران وژل شروع کړل، سپکے سپورے خبرے ئے ورته شروع کړے او مالونه به ئے د خلکو نه

راجمع کول، او خپله به ئے نۀ ورکول، لنډه دا چه عقیدةً او عملاً ئے خپل لوظونه مات کړل۔

لَعَنّٰهُمْ : د خپل رحمت نه مے لرے کړل او خپل حمایت او مدد مے ترے بیرته واخستو او د هدایت نه جدا شو۔ د ابن عباسؓ نه نقل دی : [عَذَّبْنَاهُمْ بِالْجِزْيَةِ]

مونږ دوی ته په جزیه سره عذاب ورکړو۔

حسنؒ او مقاتلؒ وائی : [بِالْمَسْخِ] مونږ په مسخ (شکلونو) بدلولو سره عذاب ورکړو۔ (القرطبی)

وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قٰسِيَةً : زړونه مے ورلـه سخت کړل چه د وعظ او نصیحت نه به ئے فائده نشوه اخستے او پوهه ئے خرابه شوه۔ او د زړونو سختی ډیره لویه سزا ده، د زړه سختی د یهودو مشهور مرض دے چه د الله د عذابونه نۀ یریدل، د هغه د آیتونو نه پند نۀ اخستل او پیغمبران وژل او هر قسم فساد ته په جرأت او بهادرئ سره ورتلل د هغوی ذاتی صفت وو۔

قسوة القلب دے ته وائی چه انسان د الله د آیتونو نه هیڅ اثر نۀ اخلی۔

او هغه شخص سخت زړے دے چه د الله حکم راشی او دے پرے هیڅ پرواه نۀ لری، که یو تن ته ژړا نۀ ورځی لیکن د الله چه کوم حکم راځی د هغے نه اثر اخلی او عمل پرے کوی، او یریږی چه که عمل ونکړم نو هلاکیږم نو دا انسان سخت زړے نۀ بلکه نرم زړے دے۔ اګرکه دا اُوچته مرتبه ده چه انسان آیت یا حدیث واوری او زړه ئے راډك شی او د الله د یرے نه ژړا وکړی او بیا په دغه حکم باندے عمل هم وکړی۔

قرطبیؒ د قاسیةً معنیٰ کوی : [أَیْ لَيْسَتْ بِخَالِصَةِ الْإِيْمَان اَیْ فِيْهَا نِفَاقٌ]

یعنی زړونه ئے خالص ایمان والا پاتے نشو بلکه منافقت پکی راغلو۔

نحاسؒ وائی : دا غوره قول دے ځکه چه په عربئ کی (دِرْهَمٌ قَسِيٌّ) هغه روپئ ته وائی چه په هغے کی د تانبے غش (ګډون) شوے وی، کوټه وی۔

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ : د الله تعالیٰ په کلام کی به ئے باطل تاویلونه کول، کوم چه به حقیقی مراد وو د هغے نه به ئے د الله کلام اړولو او نور مطلبونه به ئے بیانول، او هغه مسائل به ئے بیانول چه هغه به الله نۀ وو ویلی او دوی به د هغے نسبت الله تعالیٰ ته کولو۔ او آیة د رجم او د رسول الله ﷺ صفات ئے په تورات کی بدل کړی وو۔

وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا : یعنی په تورات کی او د موسیٰ علیه السلام په ژبه چه دوی ته کوم نصیحت شوے وو، او د توحید خبرے او هغه لوظونه چه الله تعالیٰ د دوی نه په رسول الله

ﷺ باندے د ایمان راوړلو په باره کې اخستې وو هغه ئے هیر کړل۔ (قرطبیؒ)
دلته نسیان په معنیٰ د ترك (پریخودو) سره دے، نهٔ غیر اختیاری هیریدل ځکه چه په هغے باندے بنده گناهګار نهٔ دے، او د اسبابو د نسیان نه نقض العهود والمعاصی دی (یعنی لوظونه ماتول او گناهونه کول) ددے په وجه بنده نه ډیرے قیمتی د کامیابئ خبرے هیرے شی۔ د امام شافعیؒ نه نقل دی :

شَکَوْتُ اِلٰی وَکِیْعِ سُوْءَ حِفْظِیْ	فَاَرْشَدَنِیْ اِلٰی تَرْكِ الْمَعَاصِیْ
فَاِنَّ الْعِلْمَ نُوْرٌ مِنْ اِلٰـــــه	وَنُوْرُ اللّٰهِ لَا یُعْطٰی لِعَاصِیْ

ما وکیع بن الجراح رحمه الله ته (چه د امام شافعیؒ استاذ دے) د حافظے د خرابوالی شکایت وکړو نو هغه ما ته رهنمائی وکړه چه گناهونه مهٔ کوه ځکه چه علم د الله د طرفنه نور دے او د الله نور گناهګار بنده ته نهٔ ورکړے کیږی۔
دا شعر هم ددے آیت نه اخستلے شویدے۔
فائده : دا عذابونه په یو بل باندے مرتب دی کله چه انسان باندے لعنت وشی نو زړه ئے سخت شی او چه زړه ئے سخت شی نو هر بد عمل ورته آسان شی، د الله په آیتونو په زړه ورتیا سره ورخیژی او تحریف پکې کوی، پدے وجه د صحابه کرامؓ زړونه نرم وو نو هغوی به په قرآن کې یوه خبره هم د ځان نه نهٔ کوله [أَیُّ سَمَاءٍ تُظِلُّنِیْ وَأَیُّ أَرْضٍ تُقِلُّنِیْ اِذَا قُلْتُ فِیْ کِتَابِ اللّٰهِ مَا لَا أَعْلَمُ] ډیر احتیاط به ئے کولو۔ نو کله چه بنده د الله کتاب بدل کړی نو نصیحت به د کوم ځای نه واخلی نو ټولے خبرے به پریدی، نو دوی نه د نصیحت خبرے هیرے شوے۔
وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰی خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ :
دا بل مرض دے چه اے نبی ! او اے مخاطبه ! تهٔ به هر وخت د دوی په خیانت باندے خبریږے چه یهودی نن دا فساد کړے، غلا، قتل او چغلی ئے کړیده۔
تطلع : أَیْ تَقِفُ ۔ تهٔ به خبریږے۔ خائنة : په لغت کې په معنیٰ د خیانت سره استعمال دے۔ ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: د خائنة نه مراد معصیت (گناه) ده،
عینی وائی : کذب (دروغ) او فجور (بدکاری) مراد ده۔ او د دوی خیانت دا وو چه د رسول الله ﷺ سره ئے لوظ مات کړو او مشرکان ئے د رسول الله ﷺ په جنګ راپورته کړل او د هغوی سره ئے مددونه وکړل لکه په غزوه خندق کې دغسے وشول۔

او دارنګه د رسول الله ﷺ د قتل او کنځلو قصدونه ئے کړي وو۔ (القرطبي)
خائنة کله ډیرخیانتګر شخص ته وائي لکه د نَسَابَةٌ او عَلَّامَةٌ په شان یعنی ډیر خیانتګر۔ یا موصوف پټ دے۔ أَیْ طَائِفَةٍ خَائِنَةٍ : ډله خیانتګره۔ او مطلب دا دے چه غدر او خیانت د دوی او د دوی د مشرانو همیشه عادت راروان دے چه هیڅکله ئے نهٔ پریدی او نهٔ ئے پټوی نو تهٔ به ئے همیشه دغسے وینے۔ (القاسمی)
اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْهُمْ : أَیْ لَمْ یَخُوْنُوْا : مګر لږو خلکو د دوی نه خیانت نهٔ دے کړے۔ (قرطبی)
فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ : پدے کی ځینی علماؤ وئیلی دی چه دا په آیت السیف سره منسوخ دے۔ (۲) لیکن ظاهر دا ده چه دا اخلاق دی او اخلاقو کی نسخ نهٔ جاری کیږی نو معنیٰ داده چه د خپلو حقوقو په باره کی دوی ته معافی کوه او مخ ترے اړوه، سزا مهٔ ورکوه که چرته ستا کوم حق ضائع کړی، او کله چه د الله امر ماتوی او الله حکم وکړی چه قتل ئے کړئ نو بیا به ئے قتل لازم وی۔
(۳) ځینی وائی : فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ مَا دَامَ بَیْنَکَ وَبَیْنَهُمْ عَهْدٌ وَهُمْ أَهْلُ الذِّمَّةِ]
یعنی دوی ته معافی کوه کله چه ستا او د دوی ترمینځ وعده او لوظ وی یعنی د اهل ذمه ؤ سره د عفو او صفحے معامله وکړه۔ (القرطبیؒ)
او یو بنکاره مطلب دا هم دے چه دوی ته تر هغه وخته پورے معافی وکړه چه تر څو پورے تاسو سره په لوظ باندے ولاړ وی او یا جزیه درکوی او که لوظ ئے مات کړو ، یا جزیه نهٔ درکوی نو بیا ورسره جنګ وکړئ، لکه د سورة التوبه آیت (۲۹) کی د سوچ کولو نه دغه مطلب بنکاره کیږی، الله فرمائی :
﴿ قَاتِلُوا الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْیَوْمِ الْآخِرِ وَلَا یُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا یَدِیْنُوْنَ دِیْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِیْنَ أُوْتُوا الْکِتٰبَ حَتّٰی یُعْطُوا الْجِزْیَةَ عَنْ یَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ﴾ ۔
فَاعْفُ عَنْهُمْ : یعنی سزا مهٔ ورکوه حافظ ابن کثیرؒ وائی : دا عین کامیابی او مدد دے۔ او پدے کار سره به د هغوی زړونه حق ته مائل شی او کیدے شی چه الله ورته هدایت وکړی۔ (قاسمی وابن کثیر)
اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ : پدے کی د عفو او صفح نه روستو دریم خوئی ذکر دے یعنی احسان کول یعنی څه انعام ورکړه او احسان ورسره وکړه دے دپاره چه زړونه ئے اسلام ته مائل شی۔

وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارٰى أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ
او د هغه کسانو نه چه وائي مونږ نصارىٰ يو اخستے وو مونږ مضبوط لوظ د دوی نه
فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ
نو هير کړو دوی يوه برخه د هغې نه چه نصيحت ورکړے شوے وو دوی ته په هغې
فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ
نو تيز کړو مونږ د دوی په مينځ کې دشمني او کينه تر ورځے د قيامته پورے
وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾
او زر دے چه خبر به ورکړي دوی ته الله تعالىٰ په هغه څه چه دوی ئے کوی۔

تفسير : پدے کی اُوس د نصاراؤ د وعدو تذکره او بيا د هغے د ماتولو بيان او بيا د هغے سزا بيانوی۔

يعنی لکه د يهودو په شان مونږ د هغه کسانو نه هم مضبوط لوظونه اخستی وو چه ځان ته به ئے نصارىٰ وئيل او د عيسىٰ عليه السلام د مددگاریٔ دعوه به ئے کوله ليکن دوی هم پکې ناکام شو، او خائنان ترے جوړ شو۔

قَالُوا إِنَّا نَصَارٰى : ځينی علماء وائی چه داسے ئے ونهٔ وئيل (مِنَ النَّصَارٰى) پدے کی اشاره ده چه دوی نصرانيت د ځان نه جوړ کړے وو او ځانونو ته ئے دا نوم ايښے وو۔ (القرطبی)

دارنګه پدے کی اشاره ده چه دوی چه د (نَحْنُ اَنْصَارُ الله) کومے دعوے کړے وے نو هغه ئے رشتينی نکړے، د الله د دين هيڅ مدد ئے ونکړو۔ او د دوی اقوال او افعال يو تر بله متناقض او مخالف شول۔ (ابو السعود، القاسمی)

أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ : دا لوظونه په توحيد او په محمد صلی الله علیه وسلم باندے د ايمان راوړلو وو، او دا په انجيل کی ليکلے شوی وو۔ دارنګه د دين په احکامو باندے د عمل کولو لوظونه ترے اخستے شوی وو۔ او قاسمیؒ وائی چه د شرك نه د ځان ساتلو او د عيسىٰ عليه السلام د شريعت د حفاظت لوظ ترے اخستے شوے وو۔ (محاسن التاويل)

فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ : دوی هم دغه لوظونه پريخودل او عمل ئے پرے ونکړو او خواهشاتو پسے روان شو۔

فَأَغْرَيْنَا : دا اُوس سزا بیانوی۔

اغرینا : د اغراء نه دے او اغراء د "غَراء" نه دے، غراء انښلولو او سریش کولو ته وائی (مفرداتِ راغب والقرطبی) او اغراء راتیزولو ته وائی۔ نو معنیٰ دا ده چه مونږ د دوی په مینځ کی دشمنی او بد بینی او بغض او کینه داسے کلکه اونښلوله او سریش مو کړه چه د قیامت د ورځے پورے به ونهٔ شکیږی او تر څو چه ژوندی وی د دشمنیٔ او کینے په اُور کی به سوزی۔ او د بغض او حسد د وجه نه ونختل۔

او اغراء کله په معنیٰ د ایلاع (اموخته کول، محبوبولو) سره راځی لکه عرب وائی : أَغْرَيْتُ الْكَلْبَ أَیْ أَوْلَعْتُهٗ بِالصَّيْدِ] سپی له مے اغراء ورکړه یعنی په ښکار مے اموخته او عادت کړو۔ نو معنیٰ به دا جوړه شی چه مونږ د دوی تر مینځ دشمنی او کینه اموخته او عادت کړه او یو بل ته مو محبوبه وګرځوله چه هیڅکله به تر ے نهٔ جدا کیږی۔ (القرطبی۶/۱۱۸)

بَيْنَهُمْ : ددے نه مراد یهود او نصاریٰ دواړه دی۔ ځینی وائی : صرف نصاریٰ مراد دی چه د دوی خپل مینځ کی اختلافات راپیدا شول، یعقوبیه،نسطوریه او ملکانیه او اریوسیه ډلے پکی پیدا شوے او یو بل ته ئے کافران وویل۔ (ربیع بن انسؒ -قرطبی وابن کثیر)

فائده : آسمانی سبق او وحی ضائع کول او هغه هیرول دا نتیجه ورکوی چه انسان به په اختلافاتو کی واقع کیږی، د دوی سره چه کومه آسمانی اصلی رڼا وه هغه ئے ضائع کړه نو د اوهامو او د خواهشاتو په تیارو کی د یو بل سره ونښتل، اصلی مذهب ئے ختم شو صرف جګړے ورته پاتے شوے، او په شلګونو فرقے پیدا کیدو سره د یو بل سره وجنګیدل او دغه فرقه واریت آخر په سختو دشمنیانو او بغضونو او حسدونو باندے ختم شو، پدے کی هیڅ شك نشته چه زمونږ په مسلمانانو کی هم بیحده تفرقے او مذهبی اختلافات او جګړے موجودی دی، لیکن چونکه زمونږ سره وحی الٰهی او آسمانی قانون الحمد لله بالکل روغ او محفوظ موجود دے، پدے وجه اګرکه اختلافات موجود دی لیکن د مسلمانانو یو لوی جماعت په حق او صدق باندے کلك ولاړ دے او ولاړ به وی، لکه د الله رسول دا پیشنګوئی ورکړیده [لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِی ظَاهِرِيْنَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ أَوْخَالَفَهُمْ حَتّٰى يَأْتِیَ أَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ ظَاهِرُوْنَ عَلَى النَّاسِ] (مسلم:٥٠٦٤)

زما د امت نه به یوه ډله همیشه په حق باندے ښکاره ولاړه وی، دوی ته به هغه څوك ضرر نشی ورکولے چه د دوی مدد پریدی یا تر ے مخالفت کوی تردے چه د الله امر به راشی

او دوی به په خلکو باندے غالب وی۔
او نن سبا چه "پروټسټنټ" او "رومن کیتهولك" وغیره په خپل مینځی اختلاف کی اخته دی د هغوی نه یوه ډله هم د حق په لاره روان نهٔ دی، او نهٔ د قیامت پورے روانیدے شی ځکه چه دوی د وحی رڼا د خپلو بی اعتدالیانو او غلط کاریانو په وجه ضائع کړیده د کوم نه چه بغیر انسان نهٔ الله تعالیٰ او نهٔ د هغه قوانین صحیح پیژندلے شی۔ د کوم محرف بائبل پسے چه نن سبا دوی روان دی نو د قیامته پورے محاله ده چه دوی ددے بی اصوله اختلافاتو او د فرقه واریت د بغض او حسد د تیارے نه رابهر شی او د حق لاره وینی او د نجات په ابدی لاره روان شی۔
إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ : یعنی د عیسیٰ علیه السلام د راکوزیدو زمانے پورے او هغه زمانه قیامت ته نزدے ده۔
وَسَوْفَ : یعنی په آخرت کی پوره طریقے سره او په دنیا کی د بعض واقعاتو په ذریعه به دوی ته د خپلو کړو نتیجه معلومه شی۔
يَصْنَعُونَ : صنع په هغه عمل کی استعمالیږی چه همیشه کیږی نو نصاریٰ هم په باطل دین اختلافات او جګړے همیشه کوی ځکه چه دا دین ګڼړی۔

د نصاراوو د اختلافاتو منشاء

مفسرینو لیکلی دی چه د نصاراو د شدید اختلاف اصلی منشاء دا وه چه یو یهودی چه د هغه نوم بُولس وو خپل ځان په ظاهره کی نصرانی جوړ کړو دے دپاره چه نصرانیت دین خراب کړی نو دهٔ په نصاراؤ کی ډیر مقبولیت حاصل کړو او د پاپ درجے ته ورسیدو او ډیر خاص خاص شاګردان ئے پیدا کړل او هر شاګرد ته ئے په خصوصی طور سره بیله بیله عقیده ورزده کړه او دا پابندی به ئے پرے لګوله چه بل چا ته به حال نهٔ وائی، صرف حقه عقیده همدغه ده۔ کله چه ددهٔ یقین راغے چه هریو شاګرد بیله بیله عقیده په کلکه یاده کړه، نو هریو ته ئے جدا جدا وویل چه زما د مرګ نه روستو همدغه عقیده په خلکو کی خوروه او دا ستا وظیفه شوه۔ بیا دغه یهودی خپل ځان قتل کړو نو ددهٔ نه روستو هریو شاګرد خپلے زده کړے عقیدے ته خلك راوبلل چه همدغه عقیده حقه ده او هریو خپل ځان ته ډله جوړه کړه چه په نتیجه کی په نصاراو کی اختلافات او عداوتونه او حسدونه راپورته شو او دیو بل مخالف عقائد رابنکاره شو چه د نن ورځے پورے په همدغه

اختلافاتو باندے اخته دی۔ (القرطبی ۲٤/٦)

دا واقعه ځینی مفسرینو لیکلے ده لیکن ددے په ثبوت باندے پوره یقین نشی کیدے۔ او یواځے د اختلافاتو د راپیدا کیدو همدا قصه سبب جوړ شی، ددے ډیر وجوه دی

(۱) یوه وجه دا ده چه د یهود او نصارا او اختلاف ډیر زوړ او د پخوا نه راروان دے دوی یو بل ته هیڅ قناعت نۀ کوی لکه بقره (۱۳۳) کی تیر شوی وو چه دوی به یو بل په هیڅ معتبر دین باندے نۀ ګنړل۔

(۲) دارنګه په (فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ) کی بعض مفسرینو ضمیر یهود او نصاراؤ دواړو ته راجع کړیدے لکه مخکی تیر شو د هغے نه معلومیږی چه د یهود او نصاراؤ دشمنی دائمی او د پخوا نه راروانه ده۔

(۳) دارنګه قرآن وائی چه یهودیان په ژوند ډیر حرص کونکی دی نو دا یقین نشی کیدے چه بولس یهودی به خپل ځان وژلے وی۔

نو ددے اختلافاتو اصلی سبب مخکی ذکر شو هغه دا چه (فَأَغْرَيْنَا) یعنی هرکله چه دوی د الله لوظونه مات کړل نو الله د سزا په طور سره په دوی کی تر قیامته پورے ډیر اختلافات او بغضونه واچول چه د جنګونو او جګړو په اُور کی به سوزی۔

او بل سبب ئے ځینی مفسرینو دا لیکلے دے (چه هغه مونږ مخکی سورة النساء کی بیان کړیدے) چه دوی د تثلیث عقیده اختیار کړے وه۔ (وَلَا تَقُولُوا ثَلٰثَةٌ اِنْتَهُوا خَيْرًا لَّكُمْ) او هغے پریشانئ او اختلافاتو ته رسولی وو،

علامه سید قطبؒ وائی : دوی ددے اختلاف د ختمولو دپاره ډیرے غونډے او جرګے کړیدی لیکن په نتیجه کی اختلاف لا زیات شویدے او کم شوے نۀ دے۔ بیا هغه وائی : دوی په ذکر شوے عقیده کی په دومره جګړو او دنګلو کی واقع دی چه په (۳۲۵) میلادی کال کی ددے مشکل د حل کولو دپاره اته څلویښت (٤٨٠٠٠) زره پایان او دینی مشران په قسطنطینیه کی راغونډ شوی وو خو نتیجه دا شوه چه دغه لویه اجتماع په دومره وړو وړو ډلو تقسیم شوه چه د تولو نه د غټے ډلے افراد ایله درے سوه اتلس (۳۱۸) کسان پاتی شو چه د وخت بادشاه د همدے ډلے نظر غوره کړو۔ (او امانتِ کبریٰ نوم ئے ورله کیخودو چه په حقیقت کی خیانتِ کبریٰ دے، ابن کثیرؒ سورة بنی اسرائیل۔ ابو محمد)

او نظر ئے دا وو چه مسیح بعینه اِله دے۔ (لکه الله به پرے روستو آیت کی رد وکړی) او نور خلك ئے پدے مکلف کړل چه د همدوی نظر ومنی نو څکه دغه اجتماع د ډیرو جګړو

او اختلافاتو سبب جوړه شوه۔

(فی ظلال القرآن۲/۸٦٤)

يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيۡرًا
اے کتاب والو! یقیناً راغلے دے تاسو ته رسول زمونږ ښکاره بیانوی تاسو ته ډیرے (مسئلے)
مِّمَّا كُنۡتُمۡ تُخۡفُوۡنَ مِنَ الۡكِتٰبِ وَيَعۡفُوۡا عَنۡ كَثِيۡرٍ ؕ قَدۡ
د هغے نه چه تاسو پټولے د کتاب د الله تعالیٰ نه، او معافی کوی د ډیرو نه، یقیناً
جَآءَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ نُوۡرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۵﴾ يَّهۡدِىۡ بِهِ اللّٰهُ
راغلے دے تاسو ته د الله د طرف نه رڼا او کتاب روښانه. هدایت کوی په دے سره الله تعالیٰ
مَنِ اتَّبَعَ رِضۡوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخۡرِجُهُمۡ
هغه چا ته چه تابعداری کوی د رضا د الله تعالیٰ لارو د سلامتیا ته او راوباسی دوی لره
مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ بِاِذۡنِهٖ وَيَهۡدِيۡهِمۡ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۱٦﴾
د تیارو نه رڼا ته په حکم خپل سره او هدایت کوی دوی ته لارے نیغے ته۔

تفسیر: ربط : مخکی آیتونو کی ئے د اهل کتابو لوظ ماتول او بیا په لعنت او عداوت باندے اخته کیدل بیان کړل، نو پدے آیت کی د دوی د لعنت او د عداوت نه د بچ کیدو لاره خودلے شویده چه هغه په آخری رسول باندے ایمان راوړل دی۔

نو پدے کی الله تعالیٰ اهل کتابو ته په اسلام کی د داخلیدو دعوت ورکوی او د دوی په حال باندے رحم کوی چه تاسو ته زما رشتینی رسول راغے په دهٔ ایمان راوړئ، ددهٔ د رشتینوالی نښه دا ده چه دا نبی د وحی په ذریعه هغه ډیرے خبرے راښکاره کوی چه تاسو ئے پټوئ چه څوك پرے خبر نهٔ شی، د مثال په توګه د محمد ﷺ بعثت، په تورات کی د رجم والا آیت او د نبی کریم ﷺ په باره کی د عیسیٰ علیه السلام بشارت (زیرے)۔ او دا نبی ډیرے خبرے نهٔ بیانوی دے دپاره چه د حد نه زیات ونهٔ شرمیږئ او خجالته نشئ۔

اهل کتاب اګرکه ددے سورت د نازلیدو په وخت د مدینے نه شړلے شوی وو مګر په خیبر او خواوشا علاقو کی موجود وو، او بل قرآن کریم عالمی کتاب دے نو ټولو باندے ئے دا حجت قائم کړیدے او د هغوی عذر او بهانه ئے زائله کړیده چه د رشتینی رسول د راتللو نه

روستو که تاسو ایمان رانهٔ ورړو نو بهانه مو قبوله نهٔ ده۔

يُبَيِّنُ لَكُمْ : فائده : پدے کی اشاره ده چه د حق والو نښه دا ده چه هغه مسائل به ښکاره کوی کوم چه باطل پرستو ملیانو پټ کړیدی۔

مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ : اهل کتابو د توحید خبرے، د رسول الله ﷺ د رسالت او داسے نورے خبرے پټے ساتلے کوم چه په تورات او انجیل کی موجودے وے دے دپاره چه عام خلك حق ونهٔ پیژنی هسے نهٔ چه په نبی کریم ﷺ باندے ایمان راوړی او زمونږ قلنګونه د مینځه لاړ شی، ځینی احکام به ئے د رشوتونو دپاره، او ځینی ئے د نورو اغراضو دپاره خلکو ته نهٔ ښکاره کول لکه د نبی کریم ﷺ صفات، د زانی دپاره رجم، او د اصحاب السبت قصه (چه دوی پکی شادوګان شوی وو)۔

نو که رسول الله ﷺ په حقه رسول نهٔ وے نو ستاسو پټ حالات به ئے نهٔ وے بیان کړی کوم چه تاسو د خپلو تابعدارو نه هم پټ ساتلی دی۔

وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ : پدے کی اشاره ده چه نبی کریم ﷺ حق پیغمبر دے هغه څه بیانوی چه الله ورته اجازه ورکړی وی، ورنه هغه ته خو ستاسو ډیر پټ پټ قبائح معلوم دی که بالفرض غیر نبی ته دا معلومات وے نو تاسو به ئے ډیر زیات رسوا کړی وے۔

عن کثیر: ددے نه مراد هغه مسائل دی چه ددے آخری رسول د دین سره ئے تعلق نشته بلکه پدے دین کی منسوخ شویدی۔

قصه

علامه قرطبیؒ وغیره یوه قصه لیکلے ده چه یوه ورځ د نبی کریم ﷺ خوا ته د یهودیانو یو دینی مشر راغلو تپوس ئے وکړو چه څه شے دے چه تا مونږ ته د هغے د بیان عفوه کړیده؟ (د یهودی مقصد دا وو چه د نبی ﷺ خبرو کی تناقض پیدا کړی) نبی کریم ﷺ غلے پاتے شو او بیان ئے ونکړو نو هغه شخص خپلو ملګرو ته ورغے، وے ویل چه ګومان کوم چه دا په حقه پیغمبر دے، د الله د اجازے نه په غیر څه شے نهٔ بیانوی۔ یعنی که عفوه شوی خیزونه ئے راته بیان کړی وے نو دا جمله (وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ) به دروغ شوے وے۔ (القرطبی ٦/١٨٨)

يَعْفُوا : ددے یو معنیٰ ده پریخودل د بیان، او بله معنیٰ ده تجاوز کول۔

حکمة : رسول الله ﷺ د یهودیانو تولے بدے خبرے ولے نهٔ راښکاره کولے ؟ دے کی حکمة (والله اعلم) دا دے چه ○ یو خو پدے سره داعی ته خبره سختیږی،

O او بله دا چه د اُوچتو اخلاقو تقاضا دا ده چه د خپل مخالف سره پوره نکته چینی ونکړی، یو تن لس نقصانات کړی وی نو ټول به ورته نهٔ ذکر کوی پدے باندے انسان بد اخلاقه ښکاره کیږی، بلکه دوه درے چه بیان شی مقصد پوره کیږی او رسول الله ﷺ ډیرو اُوچتو اخلاقو والا وو. O بل ددے دپاره دا خلك كيدے شی حق ته مائل شی.

قَدْ جَآءَ كُم مِنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتَابٌ مُّبِيْنٌ : یعنی یو ځل بیا په غور سره دا خبره واوریٔ چه تاسو ته ډیره رڼا او کتاب راغلے دے چه د هغے په وجه الله تعالیٰ هغه چا ته چه د الله د رضا طلبګار وی د آخرت د عذاب نه سلامتیا طرف ته لارخودنه کوی او د کفر د تیارو نه ئے اُوباسی او د ایمان د نُور توفیق ورکوی، او حق دین طرف ته ئے لارخودنه کوی. نو اُوس د تیارو وخت تیر شو او لویه رڼا راغله نو راشیٔ ددۂ نه فائده واخلیٔ او دشمنی ورسره مهٔ کویٔ که غواړیٔ چه د هر قسمه تیارو نه راوځیٔ او د سلامتیا په لاره روان شیٔ نو ددے نبی تابعداری شروع کړیٔ ورنه د قیامته پورے ستاسو د تیارو نه راوتل ممکن نهٔ دی.

نُور څه شے دے؟

د نور نه مراد پدے مقام کی قرآن کریم دے او (وَكِتَابٌ مُّبِيْن) ئے عطف تفسیر دے. او مطلب دا دے چه قرآن داسے رڼا ده چه ددے په وجه بندهٔ د تیارو د جهالت او د ګمراهیٔ نه راوځی او دا هغه کتاب ډے چه هر هغه څه ئے راښکاره کړیدی چه بندګان هغے ته په دینی او دنیاوی امورو کی محتاج وی چه هغه په الله او د هغه په اسماء او صفاتو او افعالو علم دے او د هغه په احکام شرعیه او جزائیه ؤ علم دے. (تفسیر السعدی)

او دلیل پدے باندے دا دے چه مخکی سورة النساء آیت (۱۷۵) کی تیر شو ﴿وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا﴾ مونږ تاسو ته ښکاره رڼا نازله کړیده چه هغه قرآن دے. او سورة التغابن (۸) آیت کی دی : ﴿فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِیْٓ اَنْزَلْنَا﴾

پس ایمان راوړیٔ په الله او د هغه په رسول او په هغه رڼا چه مونږ نازله کړیده یعنی قرآن.

او سورة الشوری (۵۲) آیت دی : ﴿وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِیْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِیْمَانُ وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِیْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ﴾.

او بل دلیل دا دے چه دلته روستو (يَهْدِیْ بِهِ اللّٰهُ) کی ضمیر مفرد راغلے دے که دوه څیزونه مراد وے نو (بِهِمَا) به ئے وئیلی وے. (المنار۶/۲۵۲)

بریلیانؒ ددے نه استدلال کوی چه د نور نه مراد رسول الله ﷺ او کتاب مبین نه قرآن

دے۔ جواب دا دے چه اول خو راجح دا ده چه دلته د نور نه کتاب واخستے شي لکه چه مخکې بیان شو، او که ومنو نو بیا وایو چه رسول الله ﷺ نور هم دے او بشر هم۔ په اعتبار د ذات سره بشر دے ځکه چه انساني عوارض پرے راغلي وو، د نطفے نه پیدا وو، خوراك، څکاك، او واده ئے کړے وو، خوب، سترړي والے، تکلیف به پرے راتلو او مرګ پرے راغلے دے۔ او د هغه په بدن کي الله تعالیٰ د نبوت رڼا اچولے وه، او د هغه په سبب الله تعالیٰ حق ښکاره کړیدے، او شرك ئے محو کړیدے او د اهل کتابو پټے خبرے ئے راښکاره کړیدی نو دا نورانیت د بشریت منافي نهٔ دے۔ او که څوك رسول الله ﷺ بشر نهٔ ګڼړي او د ملائکو په شان ئے نور ګڼړي نو دا د مسلمانانو عقیده نهٔ ده۔ د ﴿ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ﴾ خلاف ده۔

د نُور دلته معنیٰ اسلام هم کیدے شي او قرآن او اسلام او نبي ته نُور پدے وجه وائي چه دا د بصیرت دپاره داسے دے لکه د سترګے دپاره رڼا، که رڼا نهٔ وي نو سترګو به هیڅ نهٔ لیدلے نو که دغه درے څیزونه نهٔ وے، نو خلك به په تیارو او ګمراهیو کي پراته وے او د الله د دین حقیقت به ئے نهٔ پیژندلے او د تورات او انجیل تحریفات به نهٔ معلومیدلے او د جهل او کفر په تیارو کي به په پټو سترګو روان وے۔ (المنار) او څه وجے مخکې بیان شوے۔

يَهْدِىْ بِهِ اللّٰهُ : یعني د قرآن نه به هغه څوك فائده اخلي چه د الله د رضا پسے روانیږي او مقصد ئے خپل رب راضي کول وي، نو قرآن به ورته فائده ورکړي۔ او که قرآن د پیسو اخستو دپاره یا د بل غرض دپاره لولي نو هغه ته پرے هدایت نهٔ کیږي۔

سُبُلَ السَّلٰمِ : ۱- لارے د الله تعالیٰ ته، سلام د الله د نومونو نه یو نوم دے۔

۲- یا سلام مصدر دے یعني لارے د سلامتیا ته۔ قرآن کریم کي د سلامتیا لارے دي، څوك چه پدے پسے روان شو نو د هغه نفس، عزت او مال او دین به محفوظ وي۔

حکمة : سوال : په قرآن کریم کي سبیل لفظ مفرد ذکر کیږي، دلته ولے جمع شو، سبل وویل شو؟ جواب : کوم ځای چه مفرد استعمال شي هلته ایمان او عقیده مراد وي، او هغه یو شے دے، او دلته د سبل نه احکام او قرآني اعمال مراد دي او هغه ډیر دي، نو ځکه جمع راوړے شوه۔

مِنَ الظُّلُمٰتِ : د تیارو د شرك، بدعت، رواج او شك او ګناهونو نه۔

بِإِذْنِهٖ : یعني د الله په توفیق سره چه پدے کي به د بنده خپل واك نهٔ وي۔

وَيَهْدِيْهِمْ إِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ : مخکې هم هدایت وو او دلته هم هدایت دے؟

۱- نو دا تاکید دے ځکه چه هدایت سبل السلام ته دا بعینهٖ هدایت دے صراط

مستقیم ته، لیکن عطف ئې د تغایر وصفي د وجه نه کړیدے ځکه چه کله یوه نیغه لاره وي لیکن سلامتیا پکې نۀ وي او کله د سلامتیا لاره وي لیکن نیغه نۀ وي نو ځکه ئې ورله دواړه صفتونه جمع کړل۔

۲- دویم دا چه مخکې د سبل السلام نه په دنیا کې د دین او هدایت لارے مراد دي، او دلته د جنت لاره مراد ده۔(روح المعاني)

۳- یا اول هدایت د احکامو او اعمالو وو او دلته هدایت د عقیدے مراد دے۔

٤- یا هلته هدایت د مقاصدو او دلته د دلیلونو سره هدایت مراد دے۔ (احسن الکلام)

فائده: علامه محمد رشید رضاؒ فرمائي : ددے نور الله تعالیٰ درے فائدے بیان کړے :

(۱) يَهۡدِي بِهِ اللّٰهُ: څوك چه د الله د رضا پسے روانیږي او پدے نُور باندے ایمان راوړي، نو هغه ته هغه لارے ښائي چه د هغې په وجه به په دنیا او په آخرت کې د ټولو هلاکونکو او بد بختنه کونکو څیزونو نه وساتي، نو په دنیا کې به د الله حقوق او د خپل نفس روحي او جسدي حقوق او د خلکو حقوق به ادا کړي۔ یعني داسے دین پسے به روان شي چه په هغې کې به ټولے هغه طریقے مونده کړي چه په هغې سره نفس د دنیا او د آخرت د شقاوتونو نه بچ کیږي ځکه چه دا د سلامتیا دین او د الله دپاره د اخلاص دین دے او د هغه د بندګانو دپاره د مساوات او عدل او احسان او مهربانۍ دین دے۔

(۲) دویمه فائده : وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ : د وثنیت او خرافاتو او هغه اوهامو نه راویستل - چه په هغې سره مشرانو ټول دینونه خراب کړي وو او د هغې اهل ئې غلامان جوړ کړي وو - د خالص توحید رڼا ته چه هغه توحید بنده لره د دنیا او د دین د مشرانو د غلامۍ نه آزادوي، نو د خلکو ترمینځ به آزاد عزتمند وي، او د خالق مخے ته به یواځے غلام عاجزي کونکے وي۔ او د باذنهٖ معنیٰ ده په خپل مشیئت او توفیق سره۔ او اذن علم ته هم وائي یعني په خپل هغه علم سره به ئې د تیارو نه راوباسي چه په هغې سره ئې دا قرآن د تیارو د ختمیدو سبب ګرځولے دے۔ نو دا داسے راویستل دي چه په نفسونو کې تاثیر کوي په صحیح عقیدو او اخلاقو او اعمال صالحهؤ سره او د هغې اصلاح کوي۔

(۳) فائده : اَلۡهِدَايَةُ اِلَى الصِّرَاطِ الۡمُسۡتَقِيۡمِ ۔ یعني داسے لاره ښائي چه دیني مقصد او هدف ته په لنډ وخت کې رَسول کوي ځکه چه پدے کې کوږوالے نشته چه تلونکے پرے سُست شي یا په مزل کې ورك شي، او هغه دا چه په قرآن باندے په هغه صحیح طریقه سره منګولے ولګوي د کوم دپاره چه الله تعالیٰ دا نازل کړیدے -لکه د سلفو په شان مخکې د ښکاره

کیدو د اختلافاتو او تاویلاتو نه۔ - پدے طریقه چه ددۀ عقائد، آداب او احکام په تزکیه د نفس او د زړه په اصلاح او د اعمالو په بنائسته کولو کې تاثیر وکړي، نو ددے ثمره به دا شي چه بنده به په دنیا او په آخرت کې سعادت ته ورسیږي۔ (تفسیر المنار ٦/٢٥٢)

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ قُلْ

یقیناً کافران دي هغه کسان چه وائي یقیناً الله همدا مسیح ځوی د مریم دے، ته ووایه!

فَمَنْ يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ

نو څوك اختیار لري د الله نه د څه شي که اراده وکړي الله ددے چه مړ کړي مسیح ځوی

مَرْيَمَ وَأُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَ لِلّٰهِ مُلْكُ

د مریم او مور د هغه او هغه څوك چه په زمکه کې دي ټول او خاص د الله دپاره بادشاهي

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا

د آسمانونو او زمکے ده او هغه څه چه په مینځ د دواړو کې دي، پیدا کوي څه چه وغواړي

يَشَآءُ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾

او الله په هر شي باندے قادر دے۔

تفسیر : ربط : دا د (فَنَسُوا حَظًّا) سره متعلق دے، یعني تورات او انجیل کې د الله توحید وو لیکن نصاریٰ راولګیدل، د الله توحید ئے هیر کړو او په شرك کې واقع شو چه عیسیٰ ﷺ ئے د الله سره شریك کړو۔ او هغه ته ئے عین اِله وویلو، نو پدے کې الله تعالیٰ مونږ ته یره راکوي چه تاسو توحید هیر نکړئ کوم چه د الله په قرآن کې موجود دے لیکن عامه دنیا د شرك نه ډکه شوه، د قبرونو، د اولیاؤ عبادتونه شروع شو، نیکانو بندګانو ته ئے غوث الثقلین نومونه ورکړل، او اکثر شرك د صوفیاؤ د وجه نه په مسلمانانو کې خور شو۔

پدے آیت کې الله تعالیٰ د هغه نصاراؤ کفر بیانوي چه هغوی عیسیٰ ﷺ د الله تعالیٰ سره شریك کړے وو، او دا هم د نقض عهد یو صورت دے۔ او پدے کې د دوی غلو او د الله تعالیٰ په حق کې د هغوی انتهاء درجه زیاتے بیان شویدے، الله تعالیٰ قسم خوړلو سره اُوفرمایل چه کوم خلقو اُووئیل چه الله د مسیح ابن مریم نوم دے نو دا کافران شو، ځکه

چه دوی د الله د يو بنده نه (اِلٰـه) جوړ کړو کوم چه الله پيدا کړے وو۔
دلته په راتلونکو آيتونو کې د نصاراؤ د درے فِرقو يعقوبيه، نسطوريه او ملكانيه درے قسمه عقيدے رد کړيدی او هر يو ته ئے کفر وئيلے دے، په نصاراؤ کې تقريباً دوه اويا ډلے وے چه دغه درے پکې غټې غټې وے۔ دلته د يعقوبيه ډلے عقيده بيانوی چه دوی به وئيل چه الله او عيسیٰ عليه السلام (العياذ بالله) يو شے دے، په عرش باندے چه کوم رب دے هغه راکوز شويدے او د عيسیٰ عليه السلام شکل ئے جوړ کړيدے، او بيرته واپس ختلے دے۔
د نسطوريه عقيده دا وه چه عيسیٰ عليه السلام ابن الله دے، ملكانيه ډلے به وئيل چه آلهه درے دی او عيسیٰ عليه السلام پکې (ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ) د دريو نه يو دے، او بل الله او دريم روح القدس يا مريم عليها السلام ده (بناء په اختلاف د اقوالو د دوی) او دوی وائی چه د کائناتو نظام دوی روان کړيدے لکه د نمر مثال به ئے ورکولو او دے ته به ئے اقانيم (اصول) ثلاثه وئيل۔ ګويا که دا به ئے وئيل چه پدے درے اقطابو باندے عالَم آباد دے، او دا خبره بيا زمونږ د امت صوفياؤ راواخسته او دا عقيده ئے اختيار کړه چه په دنيا کې اقطاب، اغواث او ابدال دی چه هغوی د دنيا نظام چلوی او دنيا په هغوی باندے ټينګه ده دا ټول کفری عقيدے دی۔
هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ : د نصاراؤ عقيده د حلول هم وه، دا به ئے وئيل چه الله تعالیٰ د مسيح په قالب کې حلول کړيدے۔ (معاذ الله)۔ څينی وائی چه کله نصاریٰ د عيسیٰ عليه السلام د الوهيت قائل دی او بل طرفته دوی په ژبه سره د توحيد اقرار هم کولو چه الله يو دے، نو ددے نه لازمی نتيجه دا راوځی چه د دوی په نيز د مسيح نه سویٰ بل اِلٰـه نشته۔
قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ : أَیْ يَقْدِرُ أَوْيَسْتَطِيعُ أَوْ يَمْنَعُ) څوك به قادر شی، طاقت به ولری او منع به کړی) دے نه روستو الله تعالیٰ خپل رسول ته په نصاراؤ باندے د حجت قائمولو طريقه اُوخودله چه فرض کړه که الله تعالیٰ مسيح ابن مريم، د هغه مور او د ټول جهان والا هلاکولو فيصله اُوکړی نو هغه به څوك منع کړی ؟
ددے جواب به په قطعی توګه سره دا وی چه هيڅوك نشته، نو بيا د الله يو بنده څنګه ((الله)) کيدے شی، يا په معبود کيدو کې د هغه شريك څنګه جوړيدے شی؟۔ نو دا د غصے الفاظ دی چه اے مشرکانو! تاسو دا خبرے کوئ نو د الله کائنات ورانول غواړئ، بيا دِے تاسو عيسیٰ عليه السلام او د هغه مور بچ کړی۔
لکه دا خبره الله تعالیٰ د مشرکانو په رد کې په سورة مريم (۹۰) کې هم کړيده :
﴿لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا، تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا﴾۔

نـزدیے ده چـه آسمـانـونـه او زمکه او غرونه درهم برهم شي۔ او دلته وائي چه انسانان به ټول ختم کړم نو څـوك بـه ئے خلاص کړي؟، عیسیٰ علیه السلام خپـل ځـان د مـرګ نـه نشي خلاصولے نو ستاسو به څه مدد وکړي؟!۔

إِنْ أَرَادَ أَنْ يُهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ : دلته هلاکت په معنیٰ د مرګ نهٔ دے بلکه په معنیٰ د نیست او نابود کولو او فناء کولو سره دے۔

فائده : الله تـعـالیٰ پـه بـعـض مقاماتو کي د انبیاء علیهم السلام په حق کي داسے خبره کـوي دے دپاره چـه د هـغـوی امتونه هغوی لره د بندګئ د حد نه زیات پورته نکړي، ورنه الله تعالیٰ سره د خپلو انبیاؤ ډیره اوچته مرتبه او شان دے۔ (شاه ولی الله الدهلویؒ)

وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا : سوال : دا ئے ورسره ولے ذکر کړو ؟

۱- **جواب** : پـدے کـي اشاره ده چـه د الله پـه نیـز پـه فـنا کولو کي عیسیٰ علیه السلام او نور مخلوق برابر دي، په الله باندے هیڅوك زورور نشته اګرکه یو نبي وي یا د هغه مور وي۔

۲- جواب : اګرکه د هغه مور او ټول زمکے والا د عیسیٰ علیه السلام سره مدد وکړي هم د الله نه خپل ځانونه نشي بچ کولے کله چه الله تعالیٰ د هغوی د فنا کولو اراده وکړي۔

ولله مـلك الـسـمـوات : یـعـني د آسمان او زمکے او د دواړو ترمینځ د هر شي ملکیت د الله دپاره دے، هغه چه څه غواړي پیدا کوي، هغه په هر شي قادر دے۔ هغه آدم علیه السلام د خاورے نه او حواء د آدم علیه السلام نه پیدا کړیده۔ دغه شان که هغه عیسیٰ علیه السلام د مریم نه بغیر د پلار نه پیدا کړو نو پـه عـقلي یا شرعي توګه باندے څنګه ضروري شوه چه هغه ((الله)) جوړ شيَ ؟!۔ په یو بـنـده کي د الله قدرت لیدلو سره د هغه نه معبود څنګه جوړ شي؟ الله خو په هر شي قـدرت لـرونـکے دے بـنـده بغیر د پلار او مور نه هم پیدا کولے شي، او د هواء نه ئے هم پیدا کولے شي، لکه ټول کائنات ئے د اُوبو نه پیدا کړیدي، هغه ته هیڅ مشکلات نشته۔

فائده ۲ : د (فَـمَـنْ يَـمْـلِكُ) نـه پـه څلورو طریقو سره په نصاراؤ رد دے (۱) دا عالَم سره د عیسیٰ علیه السلام نـه فـنـا کیـدونکے دے او د فنا کیدو نه څوك بچ کونکے نشته، او عیسیٰ علیه السلام هـم فـنـا کیـدونـکے دے، ځان او نور مخلوق د فنا نه نشي بچ کولے نو څنګه به الٰه او مُدبر وګرځي۔ (۲) وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ : یـعـنـي نظام چلونکے د عالَم الله تعالیٰ دے او عیسیٰ علیه السلام خـو پـه مـابـیـنـهـمـا کي داخل دے نو هغه رعیت او مملوك دے او د آسمان او د زمکے ترمینځ محدود او راښند دے نو اِلٰـه نهٔ دے۔

(۳) یخلق : الله تعالیٰ خلق یعني پیدائش کولے شي او عیسیٰ علیه السلام خلق په معنیٰ د ایجاد

سره نشي کولے هغه صرف د مرغۍ شکل جوړولو او هر شے نشي پیدا کولے۔
(٤) وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ : الله تعالیٰ قدرتِ مطلقه لري چه بغیر د اصل نه پیدائش کولے شي لکه آسمانونه او زمکه ئے بغیر د اصل نه ابتداءً پیدا کړیدی او په عیسیٰ علیه السلام کي دا صفتونه نشته۔ (احسن الکلام لشیخنا القمقام)

وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارٰى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللّٰهِ وَأَحِبَّاؤُهٗ
او وائي يهوديان او نصاریٰ مونږ ځامن (نازولي) د الله تعالیٰ یو او دوستان د هغه یو
قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوبِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ بَشَرٌ
ته ووايه ! نو ولے عذاب درکوی تاسو ته په ګناهونو ستاسو بلکه تاسو بندګان يئ
مِمَّنْ خَلَقَ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ
د هغه چا نه پیدا کړیدی الله تعالیٰ، بخنه کوی چا ته چه وغواړي او عذاب ورکوی
مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا
چا ته چه وغواړي او خاص د الله دپاره بادشاهي د آسمانونو او د زمکے ده او د هغه څه
بَيْنَهُمَا وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٨﴾
چه په مینځ د دواړو کي دي اوخاص هغه ته ورګرځیدل دي۔

تفسیر : پدے آیت کي په یهود او نصاراؤ باندے یو بل قسم رد او د هغوی تناقض بیانوی چه دوی سره د خیانتونو او ګمراهیو نه ځانونه د الله ابناء او محبوبان ګنړي۔ دا ډیره ناشنا خبره ده، ځکه چه بنده چه د الله محبوب کیږي نو هغه په نیك اعمالو سره، نۀ په خیانت سره او دوی ځانونه په خیانت سره د الله دوستان جوړوی۔
نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ : أَيْ مَعَ خِيَانَتِهِمْ ۔ یعني سره د خیانتونو د دوی نه دوی ځانونه د الله محبوبان ګنړي۔

اهل کتاب ځانونه ولے د الله تعالیٰ ځامن او محبوبان ګنړي؟

د یهود او نصاراؤ مقصد پدے کي څه وو چه مونږ د الله ځامن او محبوبان یو؟ نو یو خو د خپلو ځانونو شرافت بیانول وو چه مونږ اشرف المخلوقات یو۔ دویم مقصد دا وو چه

مونږ د مسلمانانو نه غوره یو، زمونږ ضرورت نشته چه په اسلام کې داخل شو، نو پدے سره ئے ځانونه د اسلام نه مُسْتَغْنِي کول غرض وو او ځان ته به ئے ویل :
(نَحْنُ شِعَبُ اللّٰهِ الْمُخْتَارَة) مونږ د الله غوره کړے شوی ډله یو۔ (قُلُوْبُنَا غُلُفٌ) تا ته زمونږ ضرورت نشته۔ یو سړے د الله محبوب شو نو هغه ته څه ضرورت دے چه د بل په دین کې داخلیږی!۔ او دا ډیره غلطه خبره وه، ذهن ئے وران وو، نو الله ورله ذهن سازی کوی او د مؤمنانو تربیت کوی۔
أَبْنَاءُ اللّٰهِ : د دوی مطلب دا نهٔ وو چه مونږ د الله تعالیٰ حقیقی اولاد یو، ځکه چه دوی دا خبره خو د عزیر او عیسیٰ علیهما السلام په باره کې کوله نو مطلب ئے دا وو چه [نَحْنُ مُقَرَّبُوْنَ اِلَيْهِ مِثْلَ الْأَبْنَاءِ] مونږ الله ته داسے نزدے یو لکه بچی چه پلار ته نزدے وی۔ لکه (وَأَحِبَّاؤُهُ) د هغے عطف تفسیر دے۔ پدے کې چه کومو مفسرینو تقدیرات راویستلی دی چه (نَحْنُ اَبْنَاءُ رُسُلِ اللّٰهِ) مونږ د الله د رسولانو ځامن یو یا (نَحْنُ أَشْيَاعُ أَبْنَاءِ اللّٰهِ) مونږ د الله د ځامنو (عیسیٰ او عزیر علیهما السلام) ډله او تابعدار یو۔ (تفسیر الکشاف ۱/۶۱۷)
نو دے ته ضرورت نشته۔
ځینې مفسرینو وئیلی دی چه یهودو په تورات کې موندلی وو: [یَا أَبْنَاءَ أَحْبَارِیْ] (اے زما د علماؤ ځامنو) نو دوی په کې تحریف وکړو او داسے ئے ولوستلو [یَا أَبْنَاءَ أَبْكَارِیْ] (اے زما د جینکو ځامنو) او دغه شان نصاراؤ د عیسیٰ علیه السلام نه نقل کړی وو چه هغه یو ځل وویل : [اِنِّیْ ذَاهِبٌ اِلٰی أَبِیْ وَأَبِيْكُمْ] زه خپل پلار او ستاسو پلار طرفته تلونکے یم۔ نو دوی وویل چه ددے نه معلومه شوه چه مونږ د الله ځامن یو۔ حال دا چه د دوی په کتابونو کې اب (پلار) لفظ د عزت او وقعت دپاره وو، نهٔ حقیقی پلار۔ (ابن کثیر، واحسن الکلام)
قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ : الله تعالیٰ په دوی باندے رد کوی چه تاسو زما دوستان نهٔ یئ، ځکه چه بیا زهٔ تاسو ته په ګناهونو باندے ولے عذاب درکوم؟ آیا پلار چرته ځوی ته او دوست چرته دوست ته عذاب ورکوی؟ ځکه چه دا قانون دے [اَلْحَبِيْبُ لَا يُعَذِّبُ الْحَبِيْبَ] یو دوست بل دوست ته عذاب نهٔ ورکوی۔ نو لازمی نتیجه دا راووتله چه یهود او نصاریٰ د الله دوستان نهٔ بلکه د الله دشمنان دی۔
حال دا چه تاسو په خپله ژبه سره اقرار کوئ چه مونږ به صرف څلویښت ورځے اُور ته غورزولے شو، او تاسو ته الله تعالیٰ څومره عذابونه درکړیدی، شادوګانو او خنزیران ئے درنه جوړ کړیدی، غرونه ئے درباندے راپورته کړیدی، او په پریشانو کې ئے اچولی یئ۔ حقیقت

دا دے چه دا گمان چه تاسو پرے اعتماد کوئ سراسر باطل دے۔
بَلۡ اَنۡتُمۡ بَشَرٌ مِّمَّنۡ خَلَقَ : دا بل رد دے یعنی تاسو خو انسانان یئ د عامو انسانانو په شان، د الله تعالیٰ تعلق ستاسو سره د خالق د مخلوق سره او د مالك د بنده سره دے۔ او د عامو انسانانو په باره کی قانون دا دے چه څوك ایمان راوړی او نیك عمل کوی الله به ورته بخنه کوی او څوك چه کفر کوی او بد عملونه کوی، هغه له به عذاب ورکوی، په هغه باندے هیڅ اعتراض نشته، ځکه چه د هر شی ملکیت د هغه دپاره دے۔
د یو عالِم نه چا ددے مقولے په باره کی تپوس وکړو چه آیا په قرآن کی دا چرته شته چه دوست دوست ته عذاب نهٔ ورکوی نو هغه ورته دا آیت ولوستلو، (ابن کثیر)
او دا مقوله په یو مرفوع حدیث کی هم راغلے ده [وَاللّٰهِ لَا یُلۡقِی اللّٰهُ حَبِیۡبَهٗ فِی النَّارِ] (صحیح الجامع : ۷۰۰۹ و الصحیحة : ۲٤۰۷) قسم په الله، الله تعالیٰ خپل دوست اُور ته نهٔ گوزاری۔
او د الله تعالیٰ ددے امت سره مینه زیاته ده، نو پدے وجه رسول الله ﷺ فرمائی :
[اُمَّتِیۡ اُمَّةٌ مَرۡحُوۡمَةٌ لَیۡسَ عَلَیۡهَا عَذَابٌ فِی الۡآخِرَةِ] (ابو داود: ٤۲۷۸، صحیح الجامع : ۱۳۹۶)
زما امت مرحوم دے په دے باندے به په آخرت کی عذاب نهٔ وی، د دوی عذاب په دنیا کی فتنے او زلزلے او قتلونه دی۔ نو مونږ چه د جنت دعوه کوو نو په نص سره ئے کوو او د یهود او نصاراؤ دعوے د خپلے خیتے نه دی۔
یَغۡفِرُ لِمَنۡ یَّشَآءُ : اَیۡ اِذَا کَانَ اَهۡلًا لَهٗ بِحِکۡمَتِهٖ۔ یعنی چا ته چه وغواړی بخنه کوی کله چه د بخنے اهل وی او دا کار د الله په حکمت سره کیږی۔
وَلِلّٰهِ مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ : دا دریم رد دے یعنی تاسو د الله تعالیٰ مملوك یئ او د هغه د آسمانونو او زمکے ترمینځ راگیر یئ۔
وَاِلَیۡهِ الۡمَصِیۡرُ : دا بل رد دے یعنی په آخرت کی د هغه نه نشئ خلاصیدلے بلکه د جزاء او سزا دپاره به هغه ته ورگرځئ۔

یَا اَهۡلَ الۡکِتَابِ قَدۡ جَآءَ کُمۡ رَسُوۡلُنَا یُبَیِّنُ
اے کتاب والو ! یقیناً راغلے دے تاسو ته رسول زمونږ چه ښکاره بیانوی
لَکُمۡ عَلٰی فَتۡرَةٍ مِنَ الرُّسُلِ اَنۡ تَقُوۡلُوۡا
تاسو ته (دین ستاسو) په وخت د بندیدلو د رسولانو کی چه ونهٔ وایئ

مَا جَآءَ نَا مِنۡ بَشِيۡرٍ وَّلَا نَذِيۡرٍ فَقَدۡ جَآءَ كُمۡ
نۀ دے راغلے مونږ ته زیرے ورکونکے او نۀ یره راکونکے نو یقیناً راغے تاسو ته
بَشِيۡرٌ وَّنَذِيۡرٌ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۱۹﴾
زیرے درکونکے او یره ورکونکے او الله په هر شي باندے قدرت لرونکے دے۔

تفسیر: پدے کی بیا ترغیب دے اتباع د رسول الله ﷺ ته، اهل کتابو ته وائی چه ددے رسول تابعداری شروع کړئ او پدے کی مونږ ته هم ترغیب دے۔

ځینې مفسرین لیکی چه د هدایت رڼا طرفته تلل په دوه څیزونو باندے موقوف دی، یو دا چه د الله صحیح معرفت حاصل کړئ، او د خالق او د مخلوق د تعلق په باره کی غلطه عقیده مۀ ساتئ تردے ځای پورے دا خبره بیان شوه، دویم شے دا دے چه په نبی ﷺ باندے ایمان راوړئ چه دا د پخوانو انبیاؤ د کمالاتو راجمع کونکے او د الٰهی شریعتونو د ټولو نه لوی او آخری شارح دے دلته دا خبره بیانیږی۔

يُبَيِّنُ لَكُمۡ : أَیۡ دِيۡنَكُمۡ ۔ یعنی تاسو ته ستاسو دین بیانوی، او ښکاره خبرے کوی چه ستاسو هیڅ شبهات باقی نۀ پاتی کیږی۔

عَلٰى فَتۡرَةٍ : د فتور نه دے، سستوالی او هغه کمزورئ ته وائی چه د تیز حرکت نه روستو راشی۔ دلته ترے انقطاع مراد ده یعنی په وخت د انقطاع او ختمیدو د رسولانو کی چه د مخکنو انبیاؤ په شریعتونو باندے عمل سست شوے وو او د هغوی آثار منقطع او ختم شوی وو۔ ځکه چه د عیسیٰ ؑ نه تر محمد رسول الله ﷺ پورے هیڅ نبی نۀ دے راغلے لکه د بخاریؒ په روایت کی دی [لَيۡسَ بَيۡنِيۡ وَبَيۡنَهٗ نَبِيٌّ] (صحیح بخاری : ۳۴۴۲)

زما او د عیسیٰ ؑ ترمینځ هیڅ نبی نۀ وو، نو کوم مفسرین چه دا وائی چه د دوی ترمینځ څلور یا درے رسولان راغلی وو نو هغه ددے صحیح روایت خلاف دی۔

او دلته د فَتۡرَة زمانه ذکر کولو فائده دا ده چه دے زمانه کی تیاره زیاته شوے وه، سخت ضرورت وو چه یو رسول راشی او رڼا راوړی نو د سخت حاجت په وخت کی الله راولیږلو لهذا ددۀ منل پکار دی۔ لکه یو ځای کی تیاره وی او ناڅاپه رڼا راپیدا شی نو د دغه رڼا ډیر قدر پکار وی، او که نور رسولان موجود وے او بیا رسول الله ﷺ راغلے وے نو بیا به رڼا لګیدلے وے خو دومره ډیر ضرورت به ورته نۀ وے۔

د فترت په موده کې د علماؤ اختلاف دے (۱) راجح قول چه د بخاريّ نه معلومیږی سلمان الفارسی ﷛ وائی چه شپږ سوه کاله وو (صحیح بخاری: ۳۹۴۸)
بعض وائی: (۵٦۰) کاله او بعض وائی چه (۵٤۰) کاله وو۔
اَنْ تَقُوْلُوْا : پدے کې د رسول الله ﷺ د رالیږلو حکمت بیانوی چه هغه عذرونه د بندګانو زائل کول دی۔ دلته (کَرَاهِيَةَ) یا (لِئَلَّا) کلمه مخکې پټه ده لکه تفصیل ئے د سورة النساء په آخری آیت کې ذکر شویدے۔
بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ : یعنی د دغه تیارو او جهالت او غفلتونو په وخت کې الله تعالیٰ ستاسو او د ټول جهان د اصلاح دپاره لوی هدایت کونکے بشیر او نذیر راولیږلو چه جاهلانو ته د کامیابۍ لارے ښائی، غافلانو ته یره ورکوی او هغوی بیداروی، او ښکته همتونو والا پ زیری بیانولو سره راپورته کوی، نو په دۀ سره په ټول مخلوق باندے د الله حجت پوره شو اُوس ستاسو خوښه ده چه منئ او که نۀ۔

وَإِذْ قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللهِ
او کله چه وویل موسیٰ (ﷺ) قوم خپل ته اے قومه زما یاد کړئ نعمت د الله تعالیٰ
عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ أَنْبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوْكًا
په تاسو کله ئے چه پیدا کړیدی په تاسو کې پیغمبران او وے ګرځولئ بادشاهان
وَآتَاكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِيْنَ ﴿۲۰﴾
او درکړے ئے دی تاسو ته هغه څه چه نۀ ئے دی ورکړی هیڅ یو تن ته د مخلوقاتو نه۔

تفسیر : پدے کې د بنی اسرائیلو نقضِ عهد (لوظ ماتول) او بیا د هغوی تَحَ (حیرانتیا) بیانول مقصود دے۔
او پدے راتلونکی قصه ذکر کولو کې ډیر اشارات دی (۱) یو دا چه دا ښکاره شی چ لوظ ماتول یواځے د دوی د عوامو خاصه نۀ وه بلکه د دوی خواص مشران هم پدے مرض اخته وو چه د دولسو نقیبانو نه صرف دوه کسان د جهاد دپاره تیار شو، او لوظ ئے پوره ک باقی لوظ ماتونکی وګرځیدل۔
(۲) نبی کریم ﷺ ته تسلی ده چه ستا د وخت یهودیان د هغه پلارانو اولاد او د هغ استاذانو شاګردان دی چه د موسیٰ ﷺ سره په کړو وعدو باندے ئے وفاداری نۀ وه کړے،

لکه څنګه چه هغه صبر کړے وو نو ته هم ورسره د صبر معامله وکړه۔

(۳) پدے کی یهودیانو ته د رسول الله ﷺ لویه معجزه ښکاره کول مقصد دے چه تاسو خو دا خپله بی لوظی پټوئ چه جهاد مو پریښے وو نو دے نبی تاسو ته پوره پوره بیان کړه سره ددے نه چه دا په هغه وخت حاضر نهٔ وو نو دا رشتینی نبی دے او دا به متعلق وی د (يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ) سره۔

(٤) او امتِ مسلمه ته دا سبق ورکوی چه که تاسو لوظونه مات کړل نو الله به دربانده عذابونه نازل کړیدی، پریشانه به مو کړی او ښے ښے زمکے او نعمتونه به دربانده بند کړی، لکه زمونږ د مسلمانانو نه خلافتونه واخستے شو او کفار غالبه شو او قسماقسم پریشانیانی پرے راغلے۔

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ : د جهاد د حکم نه مخکی ئے ورته د نعمتونو د رایادولو حکم وکړو دے دپاره چه د الله حکم ته تیار شی، او د نعمت د یادولو نه مقصد د هغے شکر کول دی۔

او درے قسمه نعمتونه ئے ورته بیان کړل۔

اِذْ جَعَلَ فِيكُمْ اَنْبِيَآءَ : روحانی نعمتونه ئے د دنیاوی نعمتونو نه مخکی ذکر کړل ځکه چه روحانی او دینی نعمتونه غوره وی، دا د یو قوم لوی فضیلت دے چه الله په هغوی کی پیغمبران راولیږی او مخکی مونږ د ابن کثیرؒ په حواله لیکلی دی چه د لسو پیغمبرانو نه سوئ ټول پیغمبران په بنی اسرائیلو کی راغلی دی، او علامه آلوسیؒ لیکی چه څلور زره یا اویا زره پیغمبران پکی راغلی وو۔ (روح المعانی ۱/۳۱٦)

او پدے کی صحابه کرامؓ او ټول امت مسلمه ته اشاره ده چه تاسو سره الله تعالیٰ څومره احسان وکړو چه آخری رسول ئے راولیږلو، ددهٔ شکر وکړئ۔

وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا : **سوال** دا دے چه دوی خو ټول بادشاهان نهٔ وو او دلته وائی چه تاسو ئے بادشاهان وګرځولئ؟ **جواب** دا دے چه په کوم قوم کی چه بادشاهان وی نو هغه بادشاهی د ټول قوم حسابیږی لکه خلك وائی د عربو حکومت دے یا د عجمو۔

۲-جواب : د مَلِك (بادشاه) اطلاق په هغه چا کیږی چه د غلامئ نه آزاد وی، (لکه دوی د فرعون د غلامئ نه آزاد وو) او حدیث کی دی (مُلُوْكًا عَلَى الْاَسِرَّةِ) یعنی مجاهدین ټول بادشاهان دی ځکه چه د غلامئ نه آزاد دی)۔

دارنګه څوك چه ښځه او خادم او کور لری لکه دا د یو حدیث نه معلومیږی۔ د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما نه یو سړی تپوس وکړو چه آیا مونږ ګنے د فقراء

مهاجرینو نه نهٔ یو؟ عبد الله ورته وفرمایل : آیا ستا ښځه شته؟ هغه وویل آؤ، آیا ستا کور شته ؟، آؤ، ورته ئے وفرمایل : [فَأَنْتَ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ] ته خو د مالدارو نه ئے، بیا هغه وویل : زما خادم هم شته۔ ورته ئے وفرمایل : [فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوكِ] تـه خـو د بادشاهانو نه ئے۔ (صحیح مسلم، کتاب الزهد، : ۲۹۷۹) وهو المنقول عن ابن عباس رضی الله عنهما ایضاً – ابن کثیرؒ)

او دا په ټولو بنی اسرائیلو کې موجود وو پدے وجه ئے (فِيكُمْ) لفظ ورسره ونهٔ وئیلو۔

او په حدیث کې دی : [مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ مُعَافًى فِيْ جَسَدِهٖ، آمِنًا فِيْ سِرْبِهٖ، عِنْدَهٗ قُوْتُ يَوْمِهٖ، فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا بِحَذَافِيرِهَا] (ترمذی کتاب الزهد : ۲۳۴۶ بسند حسن)

څوك چه پـه داسے حال کې صبا کړی چه د هغه جسم صحیح سالِم وی، د هغه نفس په امن او امان کـې وی او د ورځـے کـافـی خـوراك ورسره وی نو ګویا که د هغه دپاره ټوله دنیا راجمع کیدو سره راغله۔

وَّ اٰتٰكُمْ مَّالَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ : أَيْ مِنْ خَوَارِقِ الْعَادَاتِ وَالْمُعْجِزَاتِ ۔ یعنی تاسو ته ئے نـاشـنـا ناشنا کارونه او معجزات د انبیاؤ درکړیدی، بنی اسرائیلو کې ډیر ناشنا واقعات راغـلـی دی چه مـړی ورتـه راژونـدی شـویـدی، مـلائك ئے لیدلی دی، تقریباً هر څه ئے په سترګـو لیـدلـی دی۔ او ددے نعمتونو نه دنیاوی نعمتونه هم مراد دی چه هغه سورة بقره کـې تیـر شویدی چه د دشمن هلاکول، د دریاب کولاویدل، د من او سلویٰ نازلول، او د اُوچ کاڼړی نه اُوبه راویستل او وریځه سورے کول۔

او چـونـکه دوی په هغه زمانه کې د موسیٰ علیه السلام تابعدار وو او د توحید منونکی وو نو الله تعالیٰ دوی ته ناشنا کرامتونه ورکړی وو۔ (شربینیؒ)

الْعَالَمِيْنَ : ددے نه د هغه زمانے او د هغوی نه مخکنی خلك مراد دی۔

يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰى
اے قومه زما ! داخل شئ زمکے پاکے ته هغه چه لیکلے ده الله ستاسو دپاره او مهٔ اوړئ په
أَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خَاسِرِيْنَ﴿۲۱﴾ قَالُوْا يَا مُوْسٰى إِنَّ فِيْهَا قَوْمًا
شاګانو خپلو نو واپس به شئ تاوانیان۔ دوی وویل اے موسیٰ ! یقیناً په دے کې قوم
جَبَّارِيْنَ وَإِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا
زورَور دے او یقیناً هیچرے مونږ نهٔ داخلیږو دے ته تردے چه ووځی دوی د هغے نه

فَإِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُوْنَ ﴿۲۲﴾ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ
نو كه چرته ووځي دوی د هغې نه نو يقيناً مونږ به داخليدونكي يو۔ وويلې دوه سړو د
الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا
هغه كسانو نه چه يريدل (د الله نه) انعام كړے وو الله تعالىٰ په هغے دواړو باندے، داخل شئ
عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُوْنَ
په دوی باندے دروازے ته نو كله چه داخل شوئ تاسو هغے ته نو يقيناً تاسو به غالبه يئ
وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوْا إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۳﴾
او خاص په الله باندے پس توكل وكړئ كه چرته يئ تاسو ايمان لرونكي۔

تفسیر : يٰقَوْمِ : پدے كې اُوس د نعمت د شكر كولو طريقه بيانوی چه هغه د نبی خبره منل دی په جهاد كولو سره۔

ادْخُلُوا : په تورات باندے الله تعالىٰ په بنی اسرائيلو جهاد فرض كړو، د دوی نه مخكې امتونو باندے جهادونه نهٔ وو نو دوی ته ووبل شو چه تاسو مقدسے (پاكې) زمكے ته ننوځئ د جهاد دپاره، چه دلته عَمَالِقَه قوم وسيدو (د عِمْلِيْق بن لَاوُزْ بن سام بن نوح عليه السلام اولاد وو) دوی مشركان، بت پرست وو، او ددے عَمَالقه ؤ نه عَمْرو بن لُحَی الخزاعی د بحيره، سائبه وغيره شركونه اخستی وو)

دوی ډير مضبوط لاسونو او خپو والا وو، غټ غټ بدنونه ئے لرل، دلته ځينی مفسرينو د دوی د حد نه زيات قدونه او طاقتونه بيان كړيدی چه دوی كې عُوْجُ بن عُنُق يو تن وو چه د هغه قد درے زره درے سوه درے ديرش گزه وو او هغه به په وريځه كې اُوبه څكلے او د درياب د مينځ نه به ئے ماهی رانيولو او په نمر به ئے پخولو بيا به ئے خوړلو، او د نوح عليه السلام د طوفان په وخت حاضر وو نو طوفان د هغه زنګنونو ته ورسيدو، او دغه شان نور ډير فضائل ئے بيان كړيدی لكه قرطبیؒ وكوره، نو دا ټول د بنی اسرائيلو خبرے دی چه د خپلو مشرانو په حال باندے پرده اچوی چه د دومره لوی او قوی قوم سره كه بنی اسرائيل نهٔ دی جنګيدلی نو معذوره دی۔ او د آدم عليه السلام د قد نه لوړ انسانان په دنيا كې نهٔ دی پيدا شوی، حديث كې دی چه هغه درے شپيته شرعی گزه وو او د هغه نه روستو

انسانان وخت په وخت په قد کې کميږي۔ او حافظ عماد الدين ابن کثيرؒ وائي چه ددے خبرو د بيانولو نه يو مسلمان له حياء پکار ده، دا ټول منګرت واقعات دي۔

نو بني اسرائيلو ته حکم وشو چه د دوی سره به جهاد کوئ او دا علاقے به ترے نيسئ او دا علاقے به تاسو ته الله تعالیٰ په جهاد سره درکوی، نو هغوی اول چون وچرا وکړه دے ته نۀ تياريدل ليکن په دوی کې دولسو مشرانو ووئيل چه مونږ به معلومات وکړو چه مونږ د دوی سره جنګ کولے شو او که نۀ، نو دوی جاسوسئ دپاره لاړل او کلې کې ئے معلومات وکړو نو هغوی ورته لوی او قوی ښکاره شو (ځکه چه د ايمان کمزوری په کې زياته وه) نو په لسو کسانو باندے رعب راغے او دوه کسان (يوشع بن نون او کالب بن يوفنا) مضبوط پاتې شو او په الله ئے يقين وکړو چه مونږ سره الله مددګار دے او لسو کسانو خپلو قومونو ته ووئيل چه جنګ له به نۀ ځئ که لاړئ نو ختم به مو کړی۔ نو خلکو د خپلو مشرانو تقليد وکړو او د حق نبی موسیٰ علیه السلام د خبرے په خلاف ئے د هغوی خبره ومنله۔ دا هغه شرکی تقليد دے۔

نو دوی موسیٰ علیه السلام ته ووئيل چه تۀ او ستا رب دواړه لاړ شئ جنګ وکړئ، مونږ به دلته ناست يو، نو موسیٰ علیه السلام هغوی ته ښيرے وکړے چه اے الله! مونږ (ما او هارون عليه السلام) د بني اسرائيلو نه خلاص کړه، نو روايا‌تو کې راغلي دي چه دوی دواړه الله وفات کړل، اول هارون علیه السلام وفات شو، (نو اسرائيلي روايا‌تو کې ذي چه دوی په هغه باندے تهمت ولګولو چه دا موسیٰ علیه السلام وژلے دے)

بيا نزدے وخت کې موسیٰ علیه السلام د بيت المقدس په خوا کې (چه ايله د کانړي ګوزار ورسيدو) وفات شو۔ او الله تعالیٰ ددے بني اسرائيلو په باره کې دا حکم وکړو چه دوی به په دے ميدان کې حيران ناست وی، او دغه ارض مقدسه ته به نشي تلے، هلته ډيرے مزے دي ليکن دوی له ئے الله تعالیٰ د سزا په طور نۀ ورکوی، نو دوی په دغه ميدان کې پراته وو چه د هغے نه نشو وتلے، څلويښت کاله روستو الله تعالیٰ يوشع علیه السلام نبی وګرځولو او مشران وفات شو نو کشرانو يو بل ته دعوت ورکړو چه راځئ چه د الله دا حکم ومنو او د عمالقهؤ سره جهاد وکړو نو دوی د هغه په تابعدارئ کې روان شو مګر په دوی کې بعض مفسدان هم وو، دوی ته ووئيل شو چه کله دغه زمکے ته ورځئ نو الله ته به سجده لګوئ (يعنیٰ سر به ټيټوئ) او حِطَّةٌ به وايئ نو دوی هغه بدله کړه او په کناټو ښکيدو سره او د حِنطَة په وئيلو سره داخل شو، خو الله تعالیٰ دغه نيکانو له پکې فتح ورکړه،

جنګ د جُمعې د مازیګر په وخت وو نو یوشع علیه السلام د الله نـه دعا وکړه چه نمر ورته ودروی ځکه چه سهار له د خالي ورځ وه چه جنګ پکې حرام وو، نو الله ورته نمر ودرولو تردې چه فتح وشوه، او یوشع علیه السلام خپـل قوم ته وئیلی وو چه ما سره به درې قسمه خلك جهاد ته نهٔ ځي یو هغه چه کورئې جوړ کړیدې، او لا چهت ئې پرې نهٔ دې اچولې،

دویم هغه چه ګډې بزې ئې اخستې دي او د هغې د اولادو راوړو په انتظار کې دې،

او دریم هغه چه کوېژدن ئې کړیده او لا واده ئې نهٔ دې کړې. (ځکه چه دا درې واړه کسان د جنګ نـه راتښتـي، د خپلـو کـارونو ډیر فکر ورسره وي) او دا دواړه صحیح حدیثونه دي، امام بـخاريؒ راوړیدي، بعض منکرین حدیث ئې نهٔ مني چه نمر څنګه ودریدې شي او دې ته نهٔ ګوري چه دا معجزه ده ؟!.

بیا غنیمت ونیولې شو او هغه اُور نهٔ خوړلو نو یوشع علیه السلام وفرمایل چه تاسو کې خیـانت دې د هـرې قبیلې نه دې ما سره هر یو مشر بیعت وکړي نو د یو مشر لاس د هغه د لاس سره ونښتـو نـو وې فـرمـایـل چـه ستا په قوم کې غلا ده نو یو تن دومره سرۀ زر غلا کـړي وو لـکـه د غـوائې د سر په مقدار کله چه هغه راوړل نو اُور راغلو او دغه غنیمت ئې وخوړلو، غنیمتونه پخوانو امتونو له حرام او دې امت له جائز شو.

(صحیح بخاری: ٣١٢٤) ومسلم (٤٦٥٣)

پدې واقعه کې ډیرعبرتونه دي، هرمسلمان له پرې سوچ پکار دې.

اَلْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ : ددې مـقـدسـې زمـکـې نـه مـراد یـا اریحا یا بیت المقدس دې، او قتادهؒ وئیـلـي دي چه دا د شام زمکه ده چه په هغې کې بیت المقدس، دمشق، فلسطین او د اُردن بعض حصه داخله ده. (القرطبيؒ) او حـافظ ابن کثیرؒ لیکي چه دا زمکه د یعقوب علیه السلام او د هغه د اولادو مَسکن وو او کله چه هغوی سره د اهل وعیال نه د یوسف علیه السلام په حکم مِصر ته نقل شو نو دې باندې عمالقهؤ قبضه واچوله.

الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ : ١- تـقـدیـر کـې الله لیـکـلې ده چه بني اسرائیلو ته به دا زمکه په جـهـاد سـره مـلاویږي، نو اولنو بني اسرائیلو جهاد ونکړو نو ملاؤ ورته نشوه او روستنو ته په جهاد ملاؤ شوه. ٢- یا فرض کړیدې الله تعالیٰ په تاسو باندې جهاد د هغې.

وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ : د جهـاد نـه انکار ته ئې ارتداد ووئیلو او دارنګه څوك چه جهاد پـریـدی هـغـه هـم کبیـره ګـنـاه والا دې. او اشاره ده چـه جهاد پریخودل اکثر د ارتداد سبب ګرځي. یا د (وَلَا تَرْتَدُّوْا) معنیٰ ده مهٔ واپس کیږئ د جهاد نه د وجه د بزدلۍ نه.

قَالُوۡا یٰمُوۡسٰی : اُوس د دوی بزدلی او بی لوظی بیانیږی۔
جَبَّارِیۡنَ : د جَبَّار جمع ده، د جَبُر نه اخستے شویدے، او جبر زور کولو ته وائی، چه څوك په بل چا باندے په زوره سره خپله خوښه او رایه نافذ کولے شی، یا د جَبَّارَةٌ نه دے د کجورے هغه لوړے ونے ته وائی چه د چا لاس نهٔ ورسیږی (لسان العرب) او جبار سرکش ته هم وائی (زجاج) دلته ترے مراد هغه خلك دی چه د هغوی مقابله گرانه وی۔
یَخَافُوۡنَ : ۱- یَخَافُوۡنَ اللّٰهَ ۔ یعنی د الله نه یریدل۔ ځکه ئے داسے غوره او د یقین خبره وکړه۔ ۲- یعنی د هغه بنی اسرائیلو نه وو چه د عمالقهٔ نه یریدل نو په دغه دولسو کسانو کی دوی ونهٔ یریدل، او دا معنیٰ زیاته ظاهره ده۔
اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمَا : اَیۡ بِالۡاِیۡمَانِ وَالنُّبُوَّةِ ۔ یو ورته قوی ایمان نصیب شوے وو، او دویم دا چه په حدیث سره ثابته ده چه یوشع علیه السلام نبی گرځیدلے وو، او مفسرین وائی چه کالب هم نبی وو۔ یا انعام دا وو چه الله ورته توفیق او صبر او بهادری او یقین ورکړو، دواړه مراد کول صحیح دی۔
اَلۡبَابَ : یعنی د ښار او کلی دروازے ته په یو ځل ورننوځئ نو په دوی به رعب راشی او الله به تاسو ته غلبه درکړی، او دا خبره دوی کرامةً وکړه چه د الله عادت دا دے چه ایمان والو ته غلبه ورکوی او همدغسے وشوه۔
وَعَلَی اللّٰهِ فَتَوَکَّلُوۡا : یعنی اگرکه مونږ سره اسباب کم دی لیکن الله مو شته په هغه ځان وسپارئ کارونه به مو هغه سنبالوی۔ پدے وجه اهل علم فرمائی : [اَلتَّوَکُّلُ مِنۡ لَوَازِمِ الۡاِیۡمَانِ] توکل د ایمان سره لازم شے دے، او د ایمان شعبه ده، څوك چه مؤمن وی په الله به ځان سپاری۔ او توکل سره انسان د هر قسم پریشانئ نه بچ کیږی، او دا حیاتِ طیبه دے لکه په سورة النحل کی ورته اشاره شویده۔

قَالُوۡا یٰمُوۡسٰۤی اِنَّا لَنۡ نَّدۡخُلَهَاۤ اَبَدًا
دوی ووویل : اے موسیٰ ! یقیناً مونږ هیچرے نهٔ داخلیږو دے (زمکے) ته هیڅکله
مَّا دَامُوۡا فِیۡهَا فَاذۡهَبۡ اَنۡتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَاۤ
ترڅو چه همیشه وی دوی په هغے کی نو لاړ شه تهٔ او رب ستا نو جنگ وکړئ دواړه
اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوۡنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّیۡ لَاۤ اَمۡلِكُ اِلَّا

یقیناً مونږ به دلته ناست یو- ووېل موسیٰ اے ربه زما! یقیناً زۀ اختیار نۀ لرم مګر
نَفۡسِي وَأَخِيۖ فَافۡرُقۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾
د خپل ځان او د ورور خپل نو جدائی راوله په مینځ زمونږ او په مینځ د قوم نافرمانو کی-
قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيۡهِمۡۛ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗۛ
ووېل الله پس یقیناً دا زمکه بنده کړے شوه په دوی باندے خلویښت کاله
يَتِيهُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾
چه حیران به ګرځی په دے زمکه کی پس مۀ خفه کیږه په قوم نافرمانو-

تفسیر : قَالُوۡا يَٰمُوسَىٰٓ : پدے کی د دوی بل خباثت ذکر دے چه دوی د الله تعالیٰ او د موسیٰ ؑ سخته بی عزتی وکړه او د هغوی د خبرے نه ئے انکار وکړو، او د صالحینو ناصحینو خبره ئے هم رد کړه-

مَادَامُوۡا فِيهَا : د بنی اسرائیلو د ایمانی کمزورئ دا حال وو چه دغه جبارین ورته دومره لوی ښکاره شوی وو چه د دوی نه ئے زړونه ویستلی وو چه ګیدړان ورته زمری ښکاره کیدل، نو دوی ووېل چه ترڅو پورے چه دوی په دغه کلی کی وسیږی مونږ دو رتللو طاقت نۀ لرو، آؤ که چرته الله پرے عذاب نازل کړو او کلے ئے پریښودو نو بیا به ورداخل شو یا دا چه مونږ کی طاقت نشته او که تۀ خامخا زور کوے نو بیا تۀ لاړ شه او ستا رب دِے لاړ شی تاسو جنګ وکړئ او بیا مونږ ته آواز وکړئ نو مونږ به درشو او په ښار کی به واړه وو، ددے نه په غیر په مونږ باندے خپل ځان ته تکلیف مۀ ورکوه- دے تیار خورو ته وګوره! دغه د بنی اسرائیلو حال دے!-

اشکال او د هغے جواب

فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ : دلته مفسرینو سوال اوجواب لیکلے دے چه د الله دپاره ذهاب ځنګه ثابتیږی سره ددے نه چه ذهاب (تلل) خو صفت د اجسامو دے؟ او موسیٰ ؑ دوی ته بیا هم څه نۀ دی وئیلی چه تاسو د الله دپاره ځنګه ذهاب ثابتوئ؟

نو ځینو خو وئیلی دی چه پدے خبره دوی کافر شویدی چه د الله بی ادبی ئے کړیده (احکام القرآن للجصاص ۲/۴۰۰)

او چا وئيلي دي چه كافران شوي نهٔ دي بلكه فاسقان دي نو بيا ئے د دوي په خبرو كي تاويل كړيدے او وئيلي دي چه دلته تقديرات دي [فَاذْهَبْ أَنتَ وَيُعِينُكَ رَبُّكَ] تهٔ لاړ شه او ستا رب دِے تا سره مدد وكړي) يا (وَرَبُّكَ مَعَكَ) اوستا سره دِے رب ملګرتيا وكړي۔

ليكن پدے كي بغير د څه د ضرورت نه د قرآن ظاهر پريخودل دي، او ددے نه زيات شنيع تفسير دا دے چه د رب نه مراد دلته مشر ورور (هارون عليه السلام) دے۔ دا ډير بعيد او غريب دے چه د رب اطلاق په هارون عليه السلام باندے وشي۔

دے كي صحيح خبره دا ده چه بني اسرائيل بي ادبه خلك وو او په بي ادبئ باندے اموخته وو نو د هغوي نه دفاع نهٔ ده پكار، مګر دلته ذهاب رب العالمين لره ثابت دے او دا د متشابهاتو نه دے، او پدے كي هيڅ بي ادبي نشته البته پدے كي بي ادبي پدے جهت ده چه د موسیٰ ﷵ خبره ئے نهٔ ده منلے، نو كه داسے لفظ بل څوك استعمال كړي نو دا به جائز وي۔ دليل پرے حديث د بخاريؒ دے چه نبي كريم ﷺ د بدر په غزا كي كله بدر ته نزدے ورسيدو نو ملګرو سره ئے مشوره كوله چه دشمن راغلے دے څه وكړو؟ اول ابوبكر صديق ﷺ بيا عمر فاروق ﷺ خبرے وكړے، بيا نورو مهاجرينو ليكن رسول الله ﷺ د هغوي خبرو ته دومره توجه ورنكړه ځكه چه هغوي خو تيار مهاجرين دي، نو انصارو ته ئے تعريض كولو چه د دوي څه رايه ده۔ نو په هغوي كي مقداد بن الاسود رضي الله عنه پاڅيدو او وے فرمايل: [يَارَسُولَ اللهِ! لَانَقُولُ كَمَا قَالَتْ بَنُو اِسْرَائِيلَ : اِذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُونَ] مونږ داسے نهٔ وايو لكه چه بني اسرائيلو موسیٰ ﷵ ته وئيلي وو تهٔ لاړ شه او ستا رب دِے لاړ شي مونږ به دلته ناست يو۔ بلكه مونږ وايو :

[اِذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا مَعَكُمَا مُقَاتِلُونَ] ته او ستا رب دِے لاړ شي او جنګ كوئ يقيناً مونږ به هم تاسو سره يو ځاي جنګ كوو۔ نو رسول الله ﷺ پدے خبره ډير سخت خوشحاله شو۔ (مسند احمد ١٨٣/٤) وابن كثير ٧٨/٣)

نو وګوره كه دا د بي ادبئ خبره وے نو رسول الله ﷺ به منع كړے وے او خوشحالي به ئے پرے نهٔ وے كړے، نو ددے نه معلومه شوه چه ځيني مفسرين د خپلے كمزورے رائے يا د غلطے نظريي دپاره په آيتونو او احاديثو كي د خپل ځان نه تاويلونه كوي۔

فَقَاتِلَا : دا ډيره لويه بي ادبي وه ځكه چه الله تعالیٰ خو دا كولے شوه چه ټول جبارين هلاك كړي او بني اسرائيلو ته د هغوي علاقه حواله كړي ليكن دا د الله قانون نهٔ وو ځكه چه الله تعالیٰ په هغوي جهاد فرض كړے وو او په هغوي باندے امتحان وو، او الله فرمائي :

﴿ وَلٰكِنْ لِيَبْلُوَا بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ﴾ الله تعالىٰ په انسانانو کی په یو بل باندے امتحان کوی، چه مسلمانان د کافرانو دپاره امتحان او کافران د مسلمانانو دپاره امتحان دے۔

اِنِّىْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِىْ وَاَخِىْ : اختیار نهٔ لرم مگر د خپل ځان او د خپل ورور۔ او دلته مالك کیدو نه مراد دا نهٔ دے چه هغه زما غلام دے، بلکه د ملکیت نه مراد اطاعت دے۔

[اَىْ لَا يُطِيْعُنِىْ اِلَّا نَفْسِىْ وَاَخِىْ] زما طاعت نهٔ کوی مگر زما نفس او زما ورور۔ او تابعدار خلك داسے وی لکه د مملوك په شان۔

امام بغویؒ وائی : [لَا اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِىْ وَاَخِىْ لَا يَمْلِكُ اِلَّا نَفْسَهٗ]

زهٔ د خپل ځان واکدار یم او زما ورور د خپل ځان واکدار دے۔

سوال وجواب

په بنی اسرائیلو کی خو یوشع او کالب هم د موسیٰ علیه السلام خبره منلے وه نو بیا ئے هغه ولے ذکر نکړل چه صرف اکتفاء ئے د هارون علیه السلام په ذکر کولو وکړه؟

۱- جواب دا دے چه ددهٔ د هارون علیه السلام نه علاوه په نورو چا پوره اعتماد نهٔ وو، یعنی زما یقین نشته چه هغوی به ما سره په دے طاعت باندے باقی پاتی شی، که بالفرض هغوی زما د اطاعت نه واوړی نو زما هیڅ وس نشته۔

۲- خطیب شربینیؒ وئیلی دی چه دلته د اَخِىْ نه یوه عامه معنیٰ مراد ده چه اخ فی الدین دے۔ اَىْ مَنْ يُوَاخِيْنِىْ فِى الدِّيْنِ ۔ زهٔ اختیار نهٔ لرم مگر د هغه چا چه زما سره په دین کی ورورولی او ملگرتیا کوی)۔

۳- ښه جواب دا دے چه د موسیٰ علیه السلام مطلب دا نه وو چه د منونکو او نهٔ منونکی لیست وړاندے کړی بلکه خپله بیچاره گی ښکاره کول ئے مقصد وو چه د سوال کولو سره ښه مناسب وه۔

د موسیٰ علیه السلام سره ملگری ډیر سردردیٔ والا وو پدے وجه ئے د هغه ژوند تنگ کړے وو او ډیرے سختے تنگے ئے ورسره تیرے کړے آخر د دوی نه ئے جدائی د الله نه وغوښته۔

فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ : فرق جدائی ته وائی یعنی ما ددوی نه جدا کړه او ما ترے واخله، لکه همدغسے وشوه۔ او فرق په معنیٰ د فیصلے کولو سره هم دے یعنی هر چا ته مطابق جزا ورکړه۔ (ابن عباسؓ)

قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ : نو الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام دعا قبوله کړه او په دغه خلکو ئے

دنیوی عذاب حیرانتیا راوستله.
مُحَرَّمَةٌ : یعنی بنده کړے شوی به وی د الله د طرفنه.
اَرْبَعِیْنَ سَنَةً : یعنی څلویښت کاله به دوی دغه ارض مقدسه ته داخل نشی.
یَتِیْهُوْنَ فِی الْاَرْضِ : دا د تَاهَ یَتِیْهُ، تَیْه نه دے حیرانتیا او پریشانتیا ته وائی او د دوی پریشانتیا دا وه چه ددے میدان نه نشو وتلے، او الله تعالیٰ پرے رزقونه هم بند کړل کوم چه د آسمان نه به راتلل نو ژوند ئے ګران شو. او دا کار په سبب د جهاد پریخودو سره وو، معلومه شوه چه د جهاد پریخودل د پریشانئ سبب دے.
فَلَا تَاْسَ عَلَی الْقَوْمِ الْفٰسِقِیْنَ : یعنی د دوی په هلاکولو او په مصیبتونو باندے به غم نهٔ کوے، اسیٰ غم او افسوس ته وائی نو د فاسقانو او د کافرانو په عذابونو او مصیبتونو باندے د هغوی سره غم خوری او همدردی کول حرام دی لکه په سورة الاعراف (۹۳)کی هم داسے راغلی دی.

حکمة

بیا ددے څه حکمت دے چه الله وفرمایل چه د کافرانو په هلاکولو غم مهٔ کوه؟ نو وجه دا ده چه د انبیاء علیهم السلام کله نا کله زړه تنګ شی نو ښیرے وکړی خو بیا ډیر رحمدل وی، په امت ئے رحم راځی نو الله وفرمایل : داسے ونشی چه زهٔ ئے هلاك کړم او تهٔ بیا د رحم دلئ د وجه نه سوال کوے چه معاف ئے کړه. بیا دا خبره زده کړه چه د الله رحم د انبیاؤ نه زیات دے مګر پیغمبران د رحم سره کمزوری هم وی، ښیرته ئے په مجرم باندے څه موده پس رحم راځی لکه دا د عامو انسانانو هم طریقه ده،
او الله تعالیٰ د رحم سره د طاقت والا دے، نو چه مجرم یو ځل راونیسی بیا ئے پرے رحم نهٔ راځی [حَتّٰی اِذَا اَخَذَهٗ لَمْ یُفْلِتْهُ] (بخاری : ٤٦٨٦ ومسلم : ٦٧٤٦)
دا د الله او د بنده د رحم فرق شو. د الله رحم هم ډیر دے او سزا ئے هم سخته ده او د بنده رحم او سزا دواړه آسان دی، بنده چه کله غصه وی حمله وکړی نو لږ وخت روسته ئے غصه سړه شی نو دغه مجرم پریدی، او الله تعالیٰ په بنده رحم کوی تردے چه کله ئے راونیسی نو بیا ئے نهٔ پریدی.

وَاتْلُ عَلَیْهِمْ نَبَاَ ابْنَیْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ اِذْ

او بیان کړه په دوی باندے خبر د د دوه ځامنو د آدم (علیه السلام) په رشتیا سره کله چه

قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا
قرباني وکړه دواړو قرباني جدا جدا نو قبوله شوه د یو د دواړو نه (چه هابیل وو)
وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ
او قبوله نشوه د بل (یعني قابیل) نه، وویل (قابیل) خامخا به وژنم زهٔ تا لره۔
قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴿٢٧﴾
وویل هغه یقیناً قبلوی الله تعالیٰ د تقویٰ والو نه۔

تفسیر : پدے کی د تحیر بله واقعه بیانوی چه څوك د الله لوظ مات کړی داسے به پریشانه او حیران شی لکه د قابیل په شان۔

دلته د آدم علیه السلام د حقیقی دوه زامنو واقعه بیانیږی، د حسن بصریؒ نه نقل دی چه دا په بنی اسرائیلو کی دوه کسان وو۔ مگر دا خبره ضعیفه ده، دلیل دا دے چه دلته الله تعالیٰ (اِبْنَيْ آدَمَ) وئیلی دی چه دا صریح دلیل دے چه دا د آدم علیه السلام صلبی اولاد وو (د هغه د شا نه پیدا وو) او بل حدیث کی راغلی دی :

[لَاتُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا اِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الْأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا]

هر نفس چه په ظلم سره قتل کړے شی نو د آدم علیه السلام په اولنی څوی باندے د هغے د وینے برخه وی۔ نو ددے نه معلومه شوه چه ددے نه قابیل مراد دے نو حدیث همیشه د قرآن شرح وی۔ (بخاری : ٣٣٣٥) مسلم : (٤٤٧٣)

دا واقعه په دوه طریقو بیانیږی، یو ظاهر القرآن دے او بله تاریخی قصه ده ۔

(١) قصه دا ده چه د آدم او حواء علیهما السلام نه به په یو بطن (خیټه) کی دوه بچی یو هلك او بله جینئ پیدا کیدله او په بل بطن کی به هم دغه شان کیده نو د یو بطن هلك به د بل بطن جینئ ردو بدل اخستله، نو د قابیل سره په یوه خیټه کی د هغه خور (عُقَيلمه یا اقلیما) پیدا شوه او دا ښائسته وه او د هابیل سره خور (لبورا یا لبودا) وه چه د رنګ نه بدرنګه وه نو آدم علیه السلام قابیل ته حکم وکړو چه خپله خور هابیل ته ورکړی لیکن هغه دے ته تیار نشو او وے ویل چه زهٔ دا خپله اخلم ځکه چه دا ښائسته ده، نو آدم علیه السلام ورته د الله امر یاد کړو لیکن هغه منلو ته تیار نشو نو آدم علیه السلام ورته وویل چه قربانی پیش کړئ چه پته ولګی چه څوك په حقه دے؟ نو دا به ستاسو فیصله وی، دواړو قربانی پیش کړه،

قابیل لږ شان غنم بی اخلاصه راواخستل او یو ځای کی ئے کیخودل نو اُور ورپسے رانغلو او هابیل مزیدار ګډ وکتلو او هغه ئے په اخلاص سره پیش کړو نو اُور راغلو او هغه ئے پورته کړو لکه د اُور ورل به په هغه زمانه کی د قبولیت نښه وه۔

نو ورته وویل شو چه د هابیل حقانیت ښکاره شو او ته په باطله ئے، خور ورکړه لیکن هغه انکار وکړو او حسد کی راغلو چه څنګه ددهٔ قربانی قبوله شوه او زما نهٔ او زما نه خور اخلی نو د هغه د قتل اراده ئے وکړه او هغه ته ئے وویل چه زهٔ دِے وژنم، هغه ورته وویل چه زهٔ دِے نهٔ وژنم۔

قابیل خپل حسد سرته ورسولو او هغه ئے شهید کړو نو آدم علیه السلام ترے سخت خفه شو تردے چه هغه یمن ته وتښتیدو او ځینی وائی چه بیا ئے د اُور عبادت هم شروع کړو۔ مګر دا هسے تاریخی خبره ده، صحیح دا ده چه شرك د نوح علیه السلام د زمانے نه شروع شویدے۔

نو قابیل اول قاتل دے چه بیا د مړی په خخولو هم نهٔ پوهیدو حیران شو، نو په شا باندے ئے ګرځاوه۔ ځینی روایاتو کی دی چه یوه میاشت پورے ئے ګرځولو، نو د مړی د حفاظت دپاره الله تعالیٰ هغه ته د خخولو طریقه د کارغه په واسطه وخودله چه کارغه ددهٔ مخامخ کیناستو او په مکوخه سره ئے زمکه وکنستله، څوك وائی چه دوه کارغان وو یو ئے مړ کړو بیا ئے د هغه دپاره کنده وکنستله لیکن ظاهر د قرآن اول دے۔ نو ددهٔ فکر شو چه دا کارغه ما ته اشاره راکوی چه دا مړے داسے خخ کړه، نو کارغه ئے استاذ شو او دهٔ دغه شان کار وکړو او خپل ورور ئے په کنده کی خخ کړو او د هابیل پدے طریقه الله تعالیٰ حفاظت وکړو۔ (د مړی اکرام دا دے چه هغه دفن کړے شی تردے چه کافر به هم خخولے شی اګرکه په سنت طریقه نهٔ بلکه هسے یوه کنده به ورله وکنی او پکی خخ به ئے کړی)۔

نو ددے نه مونږ ته الله تعالیٰ دا عقد پیش کوی چه قتل به نهٔ کوئ پدے وجه روستو الله تعالیٰ فرمائی چه ما په بنی اسرائیلو باندے هم د قتل حراموالے لیکلے وو او بیا ئے د قطاع الطریق چه قاتلان دی د هغوی حکم ئے بیان کړیدے۔

(۲) ظاهر د قرآن داسے دے چه دواړو ورونو یوه صدقه پیش کړه هر شے چه وی خو یوه الله قبوله کړه او بله ئے رد کړه ځکه اخلاص پکی نهٔ وو، نو قابیل حسد او شح وکړو او د ورور قتل ته تیار شو۔ اګرکه دا خبره یقینی ثابته ده چه د آدم علیه السلام لونړه به د ورورنو ترمینځ یو تر بله واده کیدے او دا قانون تر د ابراهیم علیه السلام زمانے پورے جاری وو، بیا د هغه په دین کی حرامه کړے شوه او علماء کرامو دا واقعه د نسخ دپاره هم دلیل ګرځولے دے۔

ربط

مخکی دیهودیانو حسد بیان شو چه په نبی کریم ﷺ د حسد د وجه نه ایمان نهٔ راوړی نو اُوس ئے وجه بیانوی چه دوی دا حسد د خپل مشر (قابیل) نه اخستے دے چه هغه هم هابیل ته نهٔ تسلیمیدو- یهودیانو پیغمبران وژلی دی او دا طریقه ئے هم د خپل مشر نه زده کړیده-

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ : دا ضمیر بنی اسرائیلو ته یا دے امت ته راجع دے او همدا ظاهر دے ځکه بنی اسرائیل په دوی کی داخل دی-

بِالْحَقِّ : یعنی لِإِظْهَارِ الْحَقِّ چه خلکو ته حق راښکاره شی او وپیژنی چه حقه لاره کومه یوه ده- یا په رشتیا سره ځکه چه نور خلك دا واقعه سره د کمی او زیاتی نه بیانوی او قرآن ئے رشتینی بیانوی-

اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا : یعنی دواړو نزدے کړه قربانی- قربان، كُلُّ مَا يُتَقَرَّبُ بِهِ إِلَى اللّٰهِ ته وائی، هر هغه شے چه بنده په هغے سره ځان الله ته نزدے کوی- اکثر اطلاق ئے په اُضحیه او ذبح باندے کیږی دلته ترے مطلق قربانی او صدقه مراد ده-

اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ : پدے کی ترغیب وو قابیل ته چه ته ځان نه متقی او اخلاص کونکے جوړ کړه نو ستا قربانی به هم الله قبوله کړی، او د ځان صفت کول ئے مطلب نهٔ دے او که په داسے ځای کی د خپل ځان صفت وشی هم صحیح ده-

فائده : د تقوی د فوائدو نه یوه فائده دا ده چه په تقوی سره د بنده اعمال قبلیږی او که تقوی نهٔ وی نو اعمال به نهٔ قبلیږی، نو پدے کی مونږ ته یره پرته ده-

۲- **فائده** : خوارج استدلال کوی چه د هرے گناه نه بچ کیدل د عمل قبلیدو دپاره شرط دے، که گناه ئے کړی وی نو عمل به نهٔ قبلیږی معلومه شوه چه په گناه سره بنده کافر کیږی، اهل سنت جواب کوی چه دلته ادنیٰ تقوی مراد ده چه هغه د شرك نه ځان ساتل دی نو د گناهگار نیك عمل هم قبلیږی-

۲- جواب : اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ذٰلِكَ الْعَمَلِ - الله تعالیٰ د متقیانو نه عمل قبلوی چه په دغه عمل کی تقوی وکړی لکه مثلًا اخلاص، اتباع السنة او په عمل کی توجه وی نو عمل به قبلیږی اگر که په نورو ځایونو کی دے متقی نهٔ وی لکه مثلًا زنا، یا غیبت یا نورو گناهونو کی اخته وی، او مانځه له راشی په توجه سره ئے وکړی نو الله ورله دا عمل نهٔ بربادوی- (بدائع الفوائد لابن القیّم)

خطيب بغداديؒ نقل كړيدي چه عامر بن عبد الله (تابعي) د مرګ په وخت په ژړا شو چا ورته وويل: تهٔ ولے ژاړے حال دا چه ته خو ډير عابد انسان وے؟ هغه وويل: لِأَنِّيْ أَسْمَعُ اللّٰهَ يَقُوْلُ: اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ] زهٔ د الله نه آورم چه وائي الله تعالیٰ د متقي عملونه قبلوي، نو كيدے شي چه زهٔ متقي نهٔ وم او زما ټول عمل ضائع شوے وي. دا ددهٔ ډيره يره وه او د آيت نه فائده اخستل وو. (القاسميؒ عن الكشاف والسراج المنير ۱/ ۳۲۵)

بل طرف ته ابن عمر او ابو الدرداء رضي الله عنهما به وئيل چه كه زهٔ چرته پوهه شم چه الله تعالیٰ زما يو عمل (مونځ) قبول كړيدے نو ما ته د دنيا او مافيها نه غوره دے ځكه چه الله فرمائي: الله تعالیٰ د متقيانو عمل قبلوي نو زهٔ به د متقيانو نه يم.

(ابن كثيرؒ عن ابی الدرداءؓ)

او دغه شان قول د فَضَاله بن عُبيد انصاري ﷺ نه هم سير اعلام النبلاء (۳/ ۱۶۱) كي نقل دے. لَأَنْ أَعْلَمَ اَنَّ اللّٰهَ تَقَبَّلَ مِنِّيْ مِثْقَالَ حَبَّةٍ، أَحَبُّ اِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا لِأَنَّهٗ تَعَالٰى يَقُوْلُ: اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ.

لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَا أَنَاْ بِبَاسِطٍ يَدِيَ

كه چرته را اُوږد كړو تا ما ته لاس خپل دے دپاره چه وژنے ما نو نهٔ يم زهٔ اُوږدونكے د لاس خپل

إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ إِنِّيْ أَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعَالَمِيْنَ ﴿۲۸﴾

تا ته دے دپاره چه قتل كړم تا يقيناً زهٔ يريږم د الله نه چه پالونكے د مخلوقاتو دے.

تفسير: مَا أَنَاْ بِبَاسِطٍ: سوال دا دے چه يو تن تا وژني نو ته به ئے هم وژنے نو هابيل ولے وائي چه زهٔ دِے نهٔ وژنم؟ جواب دادے چه په بعض اوقاتو كي به يو تن ستا د قتل اراده لري ليكن ته به ئے نهٔ وژنے. سيدنا علي بن ابی طالب ﷺ ته چا وويل چه عبد الرحمن بن مُلْجِم ستا د قتل اراده لري او تا ته معلومه ده نو تهٔ ئے ولے نهٔ وژنے؟ نو هغه ډير مزيدار جواب وكړو وے فرمايل: [كَيْفَ أَقْتُلُ قَاتِلِيْ وَلَمْ يَقْتُلْنِيْ] زهٔ به خپل قاتل څنګه ووژنم حال دا چه زهٔ ئے لا وژلے نهٔ يم، يعني كه زهٔ ئے قتل كړم نو زهٔ ئے بيا هم نشم وژلے (زما وارثان به ترے قصاص اخلي) او كه زهٔ ئے لا قتل كړے نهٔ يم نو په اراده سره هغه څنګه قتل كړم.

دويم حكم دا دے چه يو تن راشي ټوپك يا طمانچه ورسره ده او تا ته ئے برابره كړي او حمله درباندے وكړي نو بيا به په دفاع كي هغه ويشتلے شي او ځان به ترے خلاصوے كه

هغه مړ شو نو مردار دے او که تهٔ ئے مړ کړے شهید ئے۔

نو په بعض اوقاتو کی به د حدیث مطابق [كُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ] (ابوداود) جوړیږے یعنی د آدم د دواړو ځامنو نه د غوره څوی په شان شه چه هغه هابیل دے، او د هغے صورت دا دے چه د مسلمانانو ترمینځ د فتنے جنګ وی، تا ته وائی چه توره راواخله او ما سره ملګرے شه دا بل مسلمان ووله که نهٔ وی زه دِے وژنم، نو حدیثونو نه معلومیږی چه ته به پدے وخت کی په مخ باندے څادر راواچوے او که ته چا مړ کړے شهید به ئے او که توره راخلے نو په فتنو کی به واقع کیږے، مسلمان به ستا د لاسه قتل کیږی۔

نو زمونږ په اسلام کی هم د فتنو د یرے نه، او دارنګه قاتل په اراده باندے نشی وژلے کیدے۔

ابن کثیرؒ د ایوب سختیانیؒ نه نقل کړیدی چه په امت محمدیه کی اولنے شخص چه هغه پدے آیت باندے عمل کړیدے هغه سیدنا عثمان بن عفان ﷺ دے چه هغه خپل ځان قتل ته تیار کړو لیکن په خپله خوښه سره ئے د مسلمان ګوته هم پرے نکړه۔

إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوْءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ
یقیناً زهٔ اراده لرم ددے چه تهٔ به اخته شے په ګناه (د قتل) زما او په ګناه ستا نو شے به تهٔ
مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الظَّالِمِينَ﴿۲۹﴾ فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ
د اُور والو نه او دا بدله د ظالمانو ده۔ نو خائسته کړو دهٔ ته نفس ددهٔ وژل د ورور خپل
فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴿۳۰﴾
نو قتل ئے کړو هغه پس وګرځیدو د تاوانیانو نه۔

تفسیر: إِنِّي أُرِيدُ : دا تفصیل دے د (إِنِّي أَخَافُ اللهَ)

سوال وجواب

دلته چا دا سوال لیکلے دے چه د بل چا د ګناه اراده کول هم ګناه ده نو دلته هابیل څنګه وائی چه زما اراده ده چه ته به زما او په خپله ګناه اخته کیږے ؟ جواب ئے دا کړیدے چه دلته (لَا) مقدر دے [إِنِّي أُرِيدُ أَلَّا تَبُوْءَ] یعنی زهٔ چه تا ته نصیحت کوم پدے کی زما اراده دا ده چه تهٔ اخته نهٔ شے زما په ګناه او په خپله ګناه ورنه اُور ته به لاړ شے۔

مگر ظاهر دا ده چه دلته عبارت په ظاهر باندے بناء دے چه زما اراده ده چه ته به اخته شے زما په گناه او په خپله گناه او دا اراده په هغه وخت کی جائز ده چه کله یو څای کی د دوه کسانو نه د یو تن په گناه کی واقع کیدل راځی یا ته یا هغه نو پدے وخت کی به ته دا اراده کوے چه تهٔ گناه کی واقع نشے او هغه دِے واقع شی۔ یعنی ته خو وائے چه قتل به خامخا کیږی نو زما اراده ده چه په تا دِے واقع شی په ما دِے دغه گناه رانشی۔ نو دا اراده ده د خپل ځان د گناه نه د بچ کولو۔ او دے کی دا مطلب نهٔ دے چه زهٔ پدے راضی یم او خوښه مے ده چه ته دا گناه وکړه، بلکه دا د منع کولو یو شکل دے۔

بِإِثۡمِی : أَیۡ بِإِثۡمِ قَتۡلِیۡ۔ یعنی زما د قتل گناه۔ ۲- یُحۡمَلُ عَلَیۡكَ اِثۡمِیۡ لِأَنَّكَ قَاتِلِیۡ۔

زما گناهونه به په تا اچولے کیږی ځکه چه ته زما قاتل ئے او څوك چه قتل وکړی نو په قیامت کی د مقتول گناهونه په قاتل وراچولے کیږی۔

وَإِثۡمِكَ : الَّتِیۡ عَمِلۡتَهَا مِنۡ قَبۡلُ۔ او خپل هغه گناهونه هم چه تا مخکی کړیدی۔

دا معنیٰ مو ځکه وکړه چه دا سوال دفع شی چه په آیت کی دی ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزۡرَ أُخۡرٰی﴾ (انعام: ۱٦٤) د قیامت په ورځ به د یو چا بوج په بل چا نهٔ اچولے کیږی، نو جواب وشو چه دلته د قتل گناه مراد ده او قتل د قاتل خپله گناه ده۔

فَطَوَّعَتۡ : یعنی پدے نصیحتونو کار ونشو بلکه هغه ته نفس دا خبره ښائسته کړه چه ورور قتل کړه۔

فَطَوَّعَتۡ : د طوعت معنیٰ ده : خائسته کړو یا : د خوشحالئ او رضا کیدو معنیٰ ده۔

لَهٗ نَفۡسُهٗ : وسوسه شیطان هم اچوی او نفس هم، لیکن دهٔ په نفس کی دومره خباثت وو چه شیطان ته ضرورت نهٔ وو۔ ځینی خلکو له قتلونه خوند ورکوی او دا د نفس لوی خرابوالے دے۔

مِنَ الۡخَاسِرِیۡنَ : ۱- یو خسران په قتل د ورور شو چه ورور ترے لاړو۔ ۲ : دویم : د الله په نافرمانئ کی اخته شو۔ ۳: دریم دا چه د ټول امت گناهونه به په دهٔ باندے اچولے کیږی ځکه چه دهٔ د قتل بنیاد کیښودو لکه مخکی حدیث تیر شو۔ ٤: او ځینی وائی چه خسران ئے دا وو چه روستو ورپسے کافر هم شو۔ لیکن قرطبیؒ د هغے رد کړیدے۔

۵- دنیا کی د خلکو په نظر کی مبغوض ښکاره شو۔

(٦) د پلار او د نبی نافرمان هم شو۔

فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهٗ
نو راولیږلو الله تعالیٰ یو کارغۀ چه کنستل ئے کول په زمکه کی دے دپاره چه وښائی دۀ ته
كَيْفَ يُوَارِىْ سَوْءَةَ أَخِيْهِ قَالَ يَا وَيْلَتَا أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُوْنَ
چه څه رنګه پټ کړی جُثه د ورور خپل، وویل دۀ اے افسوس دے ما لره آیا عاجز شوم زۀ چه شم
مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِىَ سَوْءَةَ أَخِيْ فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِيْنَ ﴿۳۱﴾
په شان ددے کارغۀ چه پټ کړم جثه د ورور خپل پس وګرزیدو د پښیمانونه (په وژلو د ورور)

تفسیر : فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا : ځینی وائی غراب جنس دے دوه کارغان وو، او ځینی وائی چه دا ملائك وو چه الله تعالیٰ د دوه کارغانو په شکل راولیږل۔ (روح المعانی ۱۱۶/۶)

لیکن دا ظاهر د قرآن نۀ دے۔

يَّبْحَثُ : بحث د زمکے کنستو ته وائی دپاره د تالاش کولو د یو شی۔

سَوْءَةَ : جُثے ته وائی، او په اصل کی عورت ته وائی چه بنده د هغے په ښکاره کولو خفه کیږی او د مړی ټول بدن سوئ د مخ نه عورت دے، د هغه بدن ښکاره کول حرام دی نو د مړی د لمبولو په وخت به هغه ته ډیر کسان نۀ ودریږی او بدن به ورله حتی الوسع پټ ساتی۔ او رسول الله ﷺ د سیدنا حمزه او مصعب بن عمیر رضی الله عنهما په باره کی فرمایلی وو چه د دوی په خپو باندے اذخر (سرګړے) واچوئ، دے دپاره چه مړے پټ شی۔

لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِىْ : اشاره شوه چه ددۀ مشر کارغه شو،

اِذَا كَـــانَ الْـــغُـــرَابُ دَلِيْـــلَ قَـــوْمٍ	O	سَيَهْـــدِيْهِـــمْ سَبِيْـــلَ الْهَـــالِـــكِيْـــنَ

سَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى أَرْضِ الْجِيَافِ

کله چه کارغه د یو قوم لاربنودونکے شی نو زر دے چه لاره د هلاك کیدونکو به ورته وښائی۔

یا زر دے چه د مردارو زمکه به ورته وښائی۔

پدے کی ناشنا اشاره ده چه څوك د الله حکمونه ماتوی د هغه سره به دا کار کیږی، قرآن او حدیث چه څوك پریدی نو د داسے چا پسے به روانیږی چه مور او پلار به ئے هم ورته نۀ وی معلوم او دا پته به ورته نۀ وی چه په ایمان کی وفات دے او که نه، او جنت ته تلے دے او که بل ځای ته۔ ځینی خلك په هغه چا مئین دی چه نۀ الله ښودلے او نۀ رسول او نۀ ئے

خپل ځان ښودلے چه ما پسے روان شئ نو دا د قرآن او سنت د نۀ محبت په وجه دا سزا بنده ته ملاویږی۔

لکه د یهودو مشران هم داسے د کارغانو په شان وو، چه کشرانو ته به ئے د ګمراهئ لارے خودلے، ځکه چه یو قوم غلط وی نو الله پرے مشران هم دغه شان ناکاره راولی، قوم ناکاره وی نو امامان د مساجدو ئے هم دغه شان وی۔

يَا وَيْلَتَا : دا په اصل کی يَاوَيْلَتِيْ په زیر د تاء سره دے (هائے ارمان دے زما) لیکن په وخت د نِداء کی په تاء باندے زور راځی او دا کلمه عرب د هلاکت او د افسوس دپاره استعمالوی۔

أَعَجَزْتُ : عجز په عربئ ژبه کی بیوقوفتیا او کم عقلتیا ته وائی۔ یعنی د عقل کمزورتیا۔ لکه [وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنّٰى عَلَى اللّٰهِ]۔

نو معنیٰ دا ده : (آیا زۀ کمزورے شوم عقلًا)۔

فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِيْنَ : سوال : ندامت خو توبه ده لکه دا په حدیث کی صراحةً راغلی دی۔ (اَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ) (مسند احمد : ٤٠١٢ بسند صحیح) آیا دۀ توبه ویستله ؟

جواب : ندامت توبه ده پدے شرط چه روستو به ورسره عمل صالح کوی۔ لکه قرآن کریم کی هغه شرط راغلے دے ﴿ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوْبُ إِلَى اللّٰهِ مَتَابًا﴾ (الفرقان)

٢- جواب : مِنَ النَّادِمِيْنَ عَلٰى حَمْلِ أَخِيْهِ ـ یعنی پښیمانه وو په ګرځولو د لاش د هابیل باندے۔ ٣- جواب : نادم کله متحیر ته وائی یعنی حیران وګرځیدو چه دا مے څه وکړل خو زړه کی ئے توبه واقع نشوه۔

مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ
د وجه ددے قتل نه فرض کړل مونږ په بنی اسرائیلو چه بیشکه څوك چه قتل کړی
نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ
یو نفس په غیر د بدل د بل نفس نه یا بغیر د فساد نه په زمکه کی نو ګویا که قتل کړل دۀ
النَّاسَ جَمِيْعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا
خلق ټول او چا چه ژوندے پریخودو یو نفس لره نو ګویا که دۀ ژوندی پریخودل خلق ټول
وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيْرًا مِنْهُمْ
او یقیناً راغلی وو دوی ته رسولان زمونږ په ښکاره دلائلو سره، بیا یقیناً ډیر د دوی نه

بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ﴿٣٢﴾

روستو ددے (راتلو) نه په زمکه کې خامخا زیاتے کونکي وو۔

تفسیر : ذلك اشاره ده قتل ته۔ یعنی هرکله چه قابیل قتل وکړو چه ددے په وجه د شر او فساد یوه لویه دروازه کولاوه شوه او دا د الله په نظر کې ډیر لوی جرم وو، نو پدے وجه الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته دا حکم وکړو چه تاسو به قتلونه نهٔ کوئ۔ او که چا قصداً قتل وکړو نو قصاص به ترے اخستلے کیږی۔

یعنی څوك چه چا له ناحقه قتل کړی یا په زمکه کې د فساد حوررولو دپاره داسے اُوکړی نو ګویا کهٔ چه هغه ټول انسانان قتل کړل او څوك چه په معافی او یا په بلے طریقے سره د چا د ژوند د بقا سبب شو نو هغه ګویاکه د ټولو خلقو د ژوند سبب جوړ شو۔

مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ : ابوعبیدهٔ وائی چه اجل په معنیٰ د جرم او جنایت سره دے او (ذلك) اشاره ده قابیل ته یعنی د جرم او جنایت د قابیل د وجه نه۔ او اجل په اصل لغت کې معنیٰ ئے ده کشول او راښکل۔ اول تفسیر غوره دے۔

سوال

دا قتلونه خو په مونږ باندے هم حرام کړے شویدی نو د بنی اسرائیلو تخصیص ئے ولے وکړو؟

جواب : ۱- وجه دا ده : [لِأَنَّهُمْ أَوَّلُ مَنْ تُعُبِّدُوْا بِذٰلِكَ]

دوی اول مکلف وو پدے حکم باندے۔ (قاسمیؒ)

۲- وَلِكَثْرَةِ الْقَتْلِ فِيْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ ظُلْمًا۔

بل په بنی اسرائیلو کې ظلماً قتلونه زیات وو، تردے چه انبیاء علیهم السلام به ئے وژل او اُوس هم بمونه راخوشی کړی چه ماشومان او زنانه او بوډاګان او مسافر شهیدان کړی تردے چه په جنازو او ودونو باندے هم بمباری کوی، دا د یهود او نصاراؤ مرض دے او بیا ځان ته بشر دوست وائی، دروغ وائی، دوی غټ قاتلان دی۔

۳- قرطبیؒ لیکی : دا حکم په ټولو ادیانو کې وو لیکن د اول ځل دپاره په مکتوبی (لیکلے شوی) شکل کې په بنی اسرائیلو باندے نازل شوے وو، د دوی نه مخکې فرض وو خو مطلق وو لیکلے شوے نهٔ وو۔ (تفسیر القرطبی ۱۴۶/۶)

بِغَيْرِ نَفْسٍ : أَيْ بِغَيْرِ قَتْلِ نَفْسٍ۔

یعنی یو نفس ئې وژلے نۀ دے او ځوك هغه ظلماً قتل کړی۔
أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ : د فساد درے مصداقات دی (١) زنا بعد الاحصان۔ (د واده نه روستو زنا) (٢) الارتداد۔ مرتد شو نو دا فساد دے، [مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ]۔ (بخاری: ٣٠١٧)
(٣) قَطْعُ الطَّرِيْقِ۔ لاری شوکول لکه روستو راځی۔ (القرطبی والبغوی)
فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا : سوال:
د یو کس او د ډیرو په وژلو کی خو فرق دے نو دلته څنګه وائی چه چا یو نفس قتل کړو ګویا که دۀ ټول خلك قتل کړل؟ ١- ددے یو جواب ابن جریر الطبریؒ او بغویؒ ورکړیدے چه دلته د نفس نه مراد نفس د نبی او د امام عادل او عالِم دے، ځکه چه «مَوْتُ الْعَالِمِ مَوْتُ الْعَالَمِ» د عالِم مرګ د ټول عالَم مرګ دے۔ او دا د ابن عباسؓ ته منسوب دہ۔
دا تفسیر دلته ظاهر نۀ دے ځکه چه دلته (نفس) کلمه نکره ده، د عموم معنیٰ ورکوی۔
٢- جواب: دلته ئې (فکانما) یعنی د ګویا لفظ استعمال کړیدے یعنی دواړه قتلونه یو شان برابر نۀ دی، یو کی به ګناه زیاته وی او بل کی به د هغې په نسبت کمه وی مګر تشبیه پدے کی ورکړے شویده چه د یو مؤمن په قتل کی هم د الله د یو دوست روح ویستل دی او د ډیرو مؤمنانو په قتل کی هم روحونه ویستل دی نو په اخراج الروح کی سره یو شان دی اګرکه په ګناه کی به فرق وی۔
٣- دے کی بنه وجه دا ده چه دلته تشبیه پدے کی ده چه د یو مؤمن او د ډیرو مؤمنانو په وژلو کی یو شان اُور ته تلل دی او په هغې کی همیشوالے دے ترڅو چه مانع موجود نۀ وی۔ او دا وجه ابن جریر راجح کړیده او د احیاء په طرف کی ئې ویلی دی چه خلك به ددۀ نه بچ شی کله چه دے ناحقه قتل حرام ګڼړی۔
٤- دارنګه د یو کس قاتل او د ټولو خلکو قاتل په لاندے شیانو کی سره شریك دی اګرکه په کم او کیف کی به ئې فرق وی ١- دواړه دوزخیان دی۔ ٢- دواړه د الله د لعنت او غضب مستحق دی۔ ٣- دواړه به قصاص کیدلے شی۔ ٤-دواړه د نورو قاتلانو دپاره مشران ګڼړلے کیږی۔ دغه شان که یو تن ته ځوك نجات ورکړی یا ټولو خلکو ته نجات ورکړی نو د الله د رضا په حاصلولو کی سره شریك دی۔ (عزیز التفاسیر)
(٥) صاحب المنارؒ ډیره بنه وجه ذکر کړیده: چه پدے آیت کی دلیل دے پدے خبره چه کله د یو تن طاقت وی چه ټول انسانان د هلاکت نه بچ کړی کله ئې چه په هلاکت کی وینی نو

پـدے کی به تاخير نهٔ کوی او خپله وسعه به استعمالوی او ځوك چه دغه شان وی نو هغه بـه د بندګانو په هيڅ حق کی کوتاهی نهٔ کوی کوم چه په دهٔ باندے لازم دی. نو ددے نه دا خبره لازمی طـور سـره راوځی چه که ټول خلك يا اکثر خلك د هغه سړی په شان شی چه يو نفس په غير د حق نه وژنی نو دا ټول به د قتل په وجه هلاکت ته پيش کيږی په هر وخت کی او کـه دوی د هغه سړی په شان شی چه يو نفس ئے ژوندے کړو د وجه د احترام د هغه نه او د هغه د حقوقو د ادا کولو نه نو ناحقه مرګونه به د زمکے نه ختم شی او خلك به د يـو بـل سـره پـه تـعـاون کی ژوند تير کړی او ټول به ورونه ورونه شی نو دا آيت مونږ ته دا تـعـليـم راکـوی چـه بشـريـت کی وحدت او اتحاد ضروری دے او هر يو تن لره د بل په ژوند بانـدے حـرص پـکـار دے، او د هـر چـا د ضـرر نـه ئے ساتل پکار دی ځکـه چـه د يو تن بی احتـرامی دا د ټولو بی احترامی ده او د يو تن د حقوقو احترام کول پدے اعتبار چه دا د نوع انسـانـی نـه يـو انـدام او جـزء دے دا د ټولـو د حقوقو احترام دے ځکه چه ټولو دپاره حقوق شـرعيه يو برابر دی. نو په آيت کی يوه اُوچته بهترينه معنیٰ پرته ده چه دغه ټولو معانيو لره راګيرونکے ده. (المنار ٦/٢٨٩)

وَمَنْ أَحْيَاهَا : أَيْ نَجَّاهَا مِنْ هَلَكَةٍ وَحُرْقٍ وَخَرْقٍ وَغَرَقٍ. يعنی نجات ورکړی يا ئے ژوندے وساتی د هلاکت، يا سوزيدو يا شليدو يا غرق کيدو نه. (المحرر الوجيز)

۲- د عبـد الله بـن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه د عادل بادشاه سره کومك وکړی چه مفسدان ختم کړی.

۳- امام مجاهدؒ وائی چه په وژلو ئے قادر شی خو قتل ئے نهٔ کړی.

٤- حسـن بـصـری رحـمـه الله وائـی : د مـقـتـول اولياء د قصاص نه قاتل ته معافی وکړی. (بغویؒ)

٥- پـدے کی دا هم داخل دی چه خلك د قتل نه منع کوی او ددے بدی د خلکو په زړونو کی کينوی او په معروف باندے ورته حکم کوی.

٦- امام بـخـاریؒ د ابـن عبـاسؓ نـه تـعـليـقـاً دا هم ذکر کړيدی چه چا د يو نفس قتل حرام وګڼړلو مګر په حق سره نو خلك به ددهٔ نه ژوندی پاتے شی. (بخاری کتاب الديات باب ١)

ددے نـه معلومه شوه چه د الله په نيز باندے د انسان د نفس ډير قدر او قيمت دے خاصکر د مؤمنانو نفس. او بعض خلك په معمولی څيزونو هم انسانان وژنی.

ابـن جـريرؒ روايت کړيدے چه د حسن بصریؒ نه سليمان بن علیؒ تپوس وکړو چه آيا پدے

آیت کې موجود حکم د بنی اسرائیلو په شان زمونږ دپاره هم دے؟ نو هغه وویل،
[أیْ وَالَّذِیْ لَا اِلٰهَ غَیْرُهٗ مَا کَانَتْ دِمَاءُ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ اُکْرَمَ عَلَی اللّٰهِ مِنْ دِمَائِنَا]
آؤ، قسم په هغه ذات چه د هغه نه سوئ بل څوك معبود نشته، د هغوی وینه کوم شی زمونږ د وینے نه زیاته قیمتی جوړه کړه؟۔ (وانظر البغوی ۴۷/۳)

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَیِّنَاتِ : یعنی د ذکر شوی احکامو سره سره بنی اسرائیلو ته زمونږ پیغمبران راغلی وو او ښکاره دلیلونه او معجزات ئے دوی ته بیان کړی وو دے دپاره چه دوی خلك قتل نکړی او هغوی به ورته وخت په وخت دا حکم رایادولو، او د دوی د تورات په نسخو کی اُوس هم د قتل په باره کی انتهائی سختی ذکر ده لیکن دوی کی بیا هم ډیر خلك مسرفان جوړ شو او د الله د حدودو نه واوړیدل ځکه چه دوی کی د حسد بیماری وه او په حسد گرباندے معجزات او دلیلونه اثر نکوی۔

او پدے کی رسول الله ﷺ ته یو قسم تسلی ده چه که دا یهودیان ستا په خلاف سازشونه کوی او ستا قتلول غواړی نو پدے سره خفګان مۀ کوه ځکه چه شر او فساد ددوی فطرت جوړ شویدے، دوی هر شر او فساد او جنګ جګړے د ښه پو هیدو نه روستو کریدی۔

لَمُسْرِفُوْنَ : اسراف هر زیاتی ته وائی لکه ددے مصداق، شرك، قتل او د الله د حدودو نه تیروتل دی۔ صاحب المنار وائی : اسراف په عمل کی د حد نه تیریدلو ته وائی یعنی د حق او د مصلحت د حدودو نه تیروتل، او دا په امور شرعیه ؤ کی په شریعت سره او په غیر شرعیو کی په عرف او عقل سره پیژندلے شی۔ او هرکله چه اسراف په یو نیك کار هغه شر گرځوی نو ستا څه گمان دے چه شر کار کی اسراف به څومره ضرر پیدا کوی۔ (المنار)

إِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِیْنَ یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَیَسْعَوْنَ فِی
یقیناً بدله د هغه کسانو چه جنګ کوی د الله او د رسول د هغه سره او کوشش کوی په
الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ یُّقَتَّلُوْٓا أَوْ یُصَلَّبُوْٓا أَوْ
زمکه کی د فساد کولو دا ده چه قتل دِے کړے شی دوی یا دِے په سولئ (دار) کړے شی یا
تُقَطَّعَ أَیْدِیْهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ أَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذٰلِكَ
دِے پریکړے شی لاسونه د دوی او خپے د دوی ردویدل یا دِے وشړلے شی د زمکے نه دا (سزا)

لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا

د دوی دپاره شرمندگی ده په دنیا کی او د دوی دپاره په آخرت کی عذاب لوئی دے۔ مگر

الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ

هغه کسان چه توبه ئے وویستله مخکی ددے نه چه قادر شئ تاسو په هغوی باندے

فَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾

نو پوهه شئ چه بیشکه الله تعالیٰ بخنه کونکے رحم کونکے۔

تفسیر: ربط: ١-مخکی د قتل مسئله وه، دلته د قطاع الطریق سزا بیانیږی۔
٢- مخکی د قتل حراموالے ذکر شو اُوس وائی چه د هغه چا قتل جائز دے چه خوك په زمکه کی فسادونه او تخریب کاری کوی۔دا تفسیر د (او فساد فی الارض) دے۔

شان نزول

١- اکثر اهل علم وائی چه دا آیتونه د عرنیین په باره کی نازل وو۔
بخاریؒ او مسلمؒ او نورو محدثینو د انس بن مالك ﷛ نه روایت کړیدے چه د عُرینه او عُکل څه کسان د رسول الله ﷺ خوا ته مدینے ته راغلل اسلام ئے قبول کړو لیکن د مدینے آب و هوا ورسره موافق نشوه پدے وجه رسول الله ﷺ هغوی ته اُووئیل چه دوی دِے د زکاة د اُوښانو خای ته لاړ شی او د هغے متیازے او پئ دِے اُوڅکی، هغوی هلته لاړل او دغسے ئے اُوکړل او کله چه صحتمند شو نو څه ورځے روستو ئے د اُوښانو څرونکے قتل کړو او اُوښان ئے اُوتختول (او یمن طرفته روان شو، مرتد شو) نبی کریم ﷺ د دوی د رانیولو دپاره څه کسان دوی پسے اُولیږل، (او یو روایت نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ دوی پسے ښیرے وکړے چه اے الله! دوی باندے زمکه د څرمنے نه هم زیاته تنگه کړے چه منزل ونکړے شی)
کله چه راونیولے شو او راوستے شو نو د دوی لاسونه او خپے پریکړے شوے، او د دوی سترگے اُوداغلے شوے، او د دوی زخمونه همداسے بغیر د داغلو نه پریخودے شو تردے چه مړۀ شول۔ امام مسلمؒ د انس ﷛ په یو بل روایت کی دی چه دے خلقو د شپونکی سترگے داغلے وے پدے وجه رسول الله ﷺ د هغوی هم سترگے اُوداغلے۔

نو دا آیتونه د دغسې مرتدانو په باره کې نازل شویدي ـ

۲-ځینې وائي چه دا د اهل کتابو په باره کې نازل شوې وو لکه د (مُسْرِفُوْن) سره ئې تعلق دې اُوس د هغوی اسراف ذکر کوي، دوئ د رسول الله ﷺ سره معاهده کړې وه خو معاهده ئې ماته کړه او لارې ئې وشوکولې او په زمکه کې ئې فسادونه وکړل، دا قول ابن جریرؒ او قرطبيؒ د ابن عباسؓ او ضحاكؒ نه نقل کړیدې۔

(تفسیر الطبری٤/٢٠٥ والقرطبی٦/١٤٩)

۳- ابوداودؒ او نسائيؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدې چه دا آیتونه د مشرکانو په باره کې نازل شوي وو۔ نو څوك چه د دوی نه توبه وباسي مخکې ددې نه چه مسلمانان په هغوی قادر شي نو په هغه به هیڅ سزا نهٔ وي۔

(زاد المسیر٢/٢٧٠) النسائی باسناد صحیح رقم: ٤٠٤٦)

٤- ځینې وائي : ذکر شوي آیتونه د مسلمانانو حکم بیانوي کله چه دوی د الله او د رسول سره محاربه شروع کړي او په زمکه کې فسادونه راپورته کړي او د اسلامي حکومت نه باغیان شي۔ (اختاره ابن حزم فی المحلی)۔

لیکن صحیح دا ده چه حافظ ابن کثیرؒ وائي چه دا آیت عام دې مشرکین او غیر مشرکینو ټولو ته شامل دې چه په چا کې دغه صفتونه پیدا شي اگرکه مسلمان وي۔ نو کوم خلك چه ټوپکیان او پاټکیان وي چه مسلمان یره وي او د هغوی نه مالونه اخلي نو د دغسې خلکو هم دغه حکم دې۔

بیا دلته څلور سزاګانې دي پدې کې چه د وخت امام (حاکم) د چا دپاره کومه مناسبه ګڼړي هغه ورکولې شي لکه دا ظاهر د آیت دې۔ بعض وائي چه څلور سزاګانې په څلورو کارونو مرتب دي که چرته صرف قتل ئې کړې وي نو قتل به کړې شي او که د قتل سره ئې مالونه هم اخستي وي نو بیا به په سولئ کړې شي او که صرف غلا ئې کړیده نو لاس او خپې به ترې ردوبدل پریکړې شي او که صرف خلك ئې یرولي وي او مال ئې نهٔ وي اخستې نو بیا به جیل ته بوتللې شي او د ملك نه به وشړلې شي۔

پدې وجه بعض خلقو وئیلي دي چه عکل او عرینه والو ته کومه سزا ورکړې شوې وه هغه ددې آیت په ذریعه منسوخ شویده او اُوس محاربه کونکو ته به هغه سزا ورکولې شي کومه چه پدې آیت کې بیان شویده۔ لیکن صحیح دا ده چه نسخ نشته هغه قصاص بالمثل دې او دا محاربه ده او د دواړو ترمینځ ډیر فرق دې۔

فائده : که دغسې جرمونه کونکې د ګرفتار کیدو نه مخکې توبه وباسي نو هم په هغه به حد قائم کیږي او دا قول د ابن عباسؓ دے۔ (القرطبي ١٤٩/٦)

لیکن روستو راځي چه راجح دا ده چه هغه معاف دي بنص القرآن۔

اِنَّمَا جَزٰٓؤُا : دے آیتونو ته آیاتِ محاربه وائي۔ د محاربے لغوي معنیٰ مخالفت دے او په اصطلاح د شریعت کې ددے اطلاق په کفر، ډاکه، لوټ مار او د هشت ګردئ باندے کیږي۔

یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ : أَیْ یُخَالِفُوْنَ أَحْکَامَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۔ د الله او د رسول د احکامو مخالفت کوي، که په طریقه د ارتداد او کفر سره وي یا نۀ وي۔

وَیَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا : فساد : قتل او مالونه اخستل او د خلکو یره ولو ته وائي۔

ددے نه معلومه شوه چه زمکه د مفسدانو نه پاکول او لارے د قتلونو او د مالونو اخستلو او د خلکو یرولو نه په امن کې کول ډیره لویه نیکي او عظیم طاعت دے او دا اصلاح في الارض ده۔ (السعدي)

اَوْ یُصَلَّبُوْٓا : (اَوْ) کلمه د تخییر (اختیار ورکولو) دپاره ده چه حاکِم وقت پدے سزاګانو کې هره یوه منتخب کړي نو صحیح ده۔ یا دا چه په مخکې طریقه به پرے عمل وکړے شي۔

اَوْ یُنْفَوْا : احناف وائي چه د نفي (شړلو) نه مراد جیل ته اچول دي او جمهور اهل علم وائي چه د ملك نه به شړلے شي۔ مګر نفي په معنیٰ د جیل ته اچول خطاء دی، لغت کې دا نشته او امام ابن حزمؒ په «محلی ١١/ ٨١» کې په احنافو باندے رد کړیدے او بیا ئے ډیر مثالونه ذکر کړیدي چه نفي په معنیٰ د سجن سره نۀ راځي۔

سوال دا دے چه شړلو سره خو د هغوي فساد لا عام کیږي نو دا څنګه د حل او اصلاح لره وګرځول شوه ؟

جواب دا دے چه کله ډاره ماران، ډاکه مار خلك تس نس کړے شي نو د هغوي طاقت ختم شي که بل ملك ته لاړ شي، نو هلته ورته لارے ګودرے معلومے نۀ وي، هلته ئے ځای د قوت موجود نۀ وي نو فسادونه نشي کولے، او د کلي نه په مسافر کولو سره د هغه ډیره اصلاح کیږي او پدے کې ډیرے فائدے او حکمتونه دي چه علم ئے د الله سره دے او په اسلامي خلافتونو کې مفسدان سر نشي وچتولے۔

د سیدنا عمر فاروق ﷛ په دورِ خلافت کې یو غلام او وینځے ام ورقه رضی الله عنها شهیده کړه او بیا وتښتیدل امیر المؤمنین فرمان صادر کړو چه دوي هر ځای وي حاضر ئے کړئ، آخر ئے راپیدا کړل او په سولئ (پهانسئ) باندے ئے وخیژول، اوله سولئ (پهانسي)

په خلفاءِ راشدینو کی امیر المؤمنین عمر فاروق ﷺ وکړله۔
(ابو داود رقم : ۵۹۱ باسناد حسن- البانی)
﴿ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾
دا دلیل دے چه محاربینو ته به په دنیا او آخرت دواړو ځایونو کی سزا ملاویږی۔ په دنیا کی د حد په قائمولو سره دوی نهٔ پاك کیږی، اګرکه هغوی مسلمانان وی۔ د حافظ سیوطیؒ او شعرانیؒ وغیرهم همدا رائے ده۔

آیا د توبی نه روستو قطاع الطریق معاف کیږی؟

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا :
پدے کی اهل علم داسے تشریح کوی چه که یو کافر دے او محارب ګرځیدلے دے او په خپله طبع سره راشی او توبه وباسی، اسلام قبول کړی نو هغه ته ټول ګناهونه معاف دی اګرکه غلا او قطاع الطریقی او قتلونه او نور فسادونه ئے کړی وی۔
[اَلْاِسْلَامُ يَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهٗ] (اسلام ټول مخکنی ګناهونه ختموی)۔
او که مسلمان دے او قتلونه او غلاګانے او قطاع الطریقی کوی نو که په خپله طبع ئے توبه ویستله نو د الله حق به ورته معاف شی لیکن د بندګانو حقوق ورته نهٔ معاف کیږی، که مال ئے اخستلے وی هغه به واپس کړی او که قتل ئے کړے وی نو وژلے به شی قصاصاً او حد به پرے قائمولے شی۔ (السعدی)
پدے کی د امام احمدؒ مذهب دا دے چه دا شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ غوره کړیدے او حافظ ابن قیمؒ د ابو موسیٰ اشعری، علی بن ابی طالب، او ابو هریره رضی الله عنهم واقعات ذکر کړیدی چه که یو سړے مسلمان دے او قطاع الطریق ګرځیدلے دے، نو دا د کفارو په حکم کی دے که په خپله خوښه توبه وباسی، نو هر څه ورته معاف دی،
او دا آیت عام دے، کافر او مسلمان دواړو ته شامل دے۔
د مُراد قبیلے یو شخص ابو موسیٰ اشعری ﷺ خواته د کوفے په مسجد کی چرته چه هغه ګورنر وو د فرض مانځه نه روستو راغلو او وے ویل چه اے د کوفے امیره ! زهٔ فلان بن فلان د مراد قبیلے یم، ما د الله او د هغه د رسول سره جنګ کړے، په زمکه کی مے فساد کړے لیکن ستاسو په ما باندے د قدرت موندلو نه مخکی ما توبه ویستلے ده، اُوس زهٔ ستاسو نه د پناه حاصلولو نکی په ځای ولاړ یم (آیا زما توبه به قبوله شی؟) ابو موسیٰ

اشعری ﷺ ودریدو او وے فرمایل: اے خلکو! دے سړی ته به د توبی ویستلو نه روستو هیڅوك تکلیف نهٔ ورکوی که دے رشتینی وی نو ښه ده او که دروغژن وی نو دے به خپل گناهونه هلاك کړی، نو دے څه موده پورے صحیح وسیدو لیکن بیا راووتو نو الله په خپلو گناهونو کی راونیولو او قتل ئے کړو۔ (ابن کثیرؒ)

نادره مسئله

د کفارو باره کی دا قانون دے چه کافر دوه قسمه دی، یو اصلی او بل مرتد، اصلی کافر که په هر ځای او هره موقعه کی ایمان راوړی اگرکه د تورے لاندے راشی او کلمه ووائی نو هغه به معاف کولے شی او د هغه وژل به حرام وی او دویم مرتد کافر دے چه اول مسلمان وی بیا کافر شی نو د هغوی په باره کی په نیز د عام اهل علمو قانون دا دے چه که هغه په خپله خوښه ایمان راوړی نو قبول به وی، او که د تورے لاندے راتلو سره ایمان راوړی نو د هغه ایمان به نهٔ قبلیږی، او د هغه وژل به په هر حال کی جائز وی ځکه چه هغه چل ولی او منافق وی، تیك ده که الله ته ئے د زړه اخلاص معلوم وی نو هغه به ورله په آخرت کی توبه قبوله کړی لیکن د دنیا په احکامو کی به وژلے شی۔

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ : پدے کی الله تعالیٰ توبی ته ترغیب ورکوی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَابْتَغُوْا إِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ
اے ایمان والو! ویریږئ د الله نه او طلب کړئ هغه ته نزدیکت (په بندگئ)
وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۵﴾
او جهاد کوئ په لاره د هغه کی دے دپاره چه تاسو کامیاب شئ۔

تفسیر : د عقودو نه دا بل عقد دے چه پدے کی الله تعالیٰ د درے خبرو حکم کړیدے، تقویٰ، وسیله او جهاد۔

مناسبت

۱- دے سورت کی عقود بیانیږی او دا هم د عقودو نه یو عقد دے۔

۲- ددے مناسبت د (۱۸) آیت سره دے (نَحْنُ أَبْنَاءُ اللهِ وَأَحِبَّاؤُهُ) یعنی په دعوه د محبوبیت د الله باندے کار نهٔ کیږی او نهٔ پدے نجات شته بلکه عمل لره اعتبار دے، نو تاسو کی

ایمان، تقویٰ او جهاد نشته نو څنګه د الله دوستان ګرځیدلئ شئ۔ (نیشاپوریؒ)

٣- محاربینو ته وائی چه تاسو ځان ته مؤمنان وایئ او حال دا چه د هغه بندګی او صحیح ایمان درکی نشته د هغه نه مو مخ چرته اړولے دے۔ الله ته ځان نزدے کړئ په بندګیانو سره۔

٤- مخکی دیهودیانو خباثتونه ذکر شو نو اُوس الله فرمائی : اے ایمان والو! هغوی خو دغه فسادونه کوی خو تاسو چرته د هغوی په نقش قدم روان نشئ بلکه الله ته ځان په طاعاتو نزدے کړئ او د هغه د مخالفتونو نه ځان بچ کړئ۔

اتَّقُوا اللهَ : د بعض علماؤ په نیز دلته د تقویٰ نه مراد ترك المنهیات (ګناهونه او حرام کارونه پریخودل) دی ځکه چه روستو (وَابْتَغُوْا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ) کی امتثال الاوامر (په اوامرو باندے عمل کول) ذکر دی۔ او په (وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِه) کی بل ته دعوت او بیا جهاد کول ذکر دی۔ یا (اتقوا الله) کی عموم دے او (وابتغوا او جاهدوا) تخصیص بعد التعمیم دے۔

فائده : توسل الله الی په ایمان سره او په اعمال صالحه ؤ سره فرض دے او ډیر خلك ددے نه غفلت کوی حال دا چه الله تعالیٰ پدے باندے امر کړیدے۔

د وسیلے بحث

وسیله په معنیٰ د قربت (نزدے والی) سره دے، لکه دا په صاد سره هم استعمالیږی۔ (وَصِيْلَةٌ) یو ځائے والے۔ جوهریؒ په صحاح کی لیکی : وسیله : مَا يُتَقَرَّبُ بِهٖ اِلَى الْغَيْر ۔ هغه شے دے چه په هغے سره بل شی ته نزدیکت کیږی۔

او حافظ ابن کثیرؒ لیکی : مَا يُتَوَصَّلُ بِهٖ اِلَى تَحْصِيْلِ الْمَقْصُوْدِ۔

وسیله هغه شے دے چه په هغے سره مقصود ته رسیدل کیږی۔

٢- د ابن زیدؒ نه نقل دی چه وسیله په معنیٰ د محبت سره دے۔ یعنی خپل رب سره مینه وکړئ۔ او هغه د محبت لائق دے ځکه چه هغه کمال، جمال، علم، قدرت، احسان والا دے او دغه څیزونه اسباب د محبت دی۔ او د بنده په عبادت کی چه اثر پیدا کیږی نو هغه دا چه دَ محبت په بنیاد باندے وشی، نهٔ د عادت په بناء۔

٣- وسیله په یوه بله معنیٰ هم ده : مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَاتَنْبَغِيْ اِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ وَاَرْجُوْا اَنْ اَكُوْنَ اَنَا] دا یوه مرتبه ده په جنت کی چه هغه به صرف رسول الله ﷺ ته حاصلیږی۔

دلته دا معنیٰ نهٔ ده مراد.

امام مسلمؒ د عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((کله چه مؤذن اذان اُووائی نو څنګه چه هغه وائی، هغه شان تاسو وایئ بیا په ما باندے درود اُووایئ ځکه چه څوك په ما باندے یو ځل درود وائی نو الله به په هغه باندے لس کرته درود وائی. بیا زما دپاره د الله نه وسیله اُوغواړئ، چه دا په جنت کی یو داسے مقام دے چه د هغے حقدار به د الله صرف یو بنده وی، او زما امید دے چه هغه به زهٔ یم نو څوك چه ما دپاره د الله نه د وسیلے سوال کوی نو د هغه دپاره به زما شفاعت حلالیږی)).

د وسیلے اقسام

وسیله په دوه قسمه ده.(۱) وسیله شرعی، (۲) وسیله غیر شرعی.

وسیله شرعی بعض د فرض په درجه کی ده او بعض د مستحب په درجه کی.

۱- نو الله تعالیٰ ته توسل په ایمان سره فرض دے یعنی کافر الله ته نشی نزدے کیدے ځکه چه ایمان ورسره نشته.

۲- تَوَسُّلُ بِالْاَعْمَالِ الصَّالِحَة. په نیك اعمالو لکه فرائضو باندے الله تعالیٰ ته ځان نزدے کول دا هم فرض دی اګرکه په اعمالو کی مستحبات هم شته لیکن مجموعی لحاظ سره په اعمالو باندے الله ته ځان نزدے کول فرض دی. حدیث قدسی کی دی :

[وَمَا تَقَرَّبَ اِلَيَّ عَبْدِىْ بِشَىْءٍ أَحَبَّ اِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ] (صحیح البخاری)

ما ته زما بنده په یو شی باندے ځان نهٔ رانزدے کوی چه هغه ما ته زیات محبوب وی د فرائضو نه. ﴿وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ﴾. او دا توسل یو په دعاء کی دے، یو په عمل کولو سره دے، بنده چه نیك عمل وکړی خپله الله ته نزدے کیږی، او کله به الله ته وائی چه اے الله ! که تا زما فلانے نیك عمل قبول کړے وی، نو د هغے په وجه ما نه دا مصیبت لرے کړه لکه د اصحاب الغار واقعه مشهوره ده.

دا دلیل دے چه نزدیکت په پلارانو نیکونو او اشخاصو سره نهٔ حاصلیږی.

ددے وجه نه د حافظ ابن جریر طبریؒ نه راپدیخوا تول اهل سنت مفسرین دا معنیٰ کوی [وَابْتَغُوْا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ بِالْاَعْمَالِ الصَّالِحَةِ]. الله ته په نیك اعمالو ځان نزدے کړئ.

[أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهٖ وَهُوَ سَاجِدٌ].

٣- تَوَسُّل اِلَى اللّٰهِ بِأَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ۔
الله تـه تـوسل كول په نومونو او صفتونو د الله سره چه هغه اكثر دعاگانے دى۔ چه اے الله تـه رحمان، رحيم، مالك، قادر، غفور او رحيم ئے، زما دا حاجت پوره كړه۔ انبياء عليهم السلام په قرآن كريم كى اكثر په (رَبَّنَا) كلمے سره توسل كوى۔
٤- تَوَسُّل اِلَى اللّٰهِ بِالتَّضَرُّعِ۔
الله ته خپله عاجزى او كمزورى پيش كول، لكه زكريا عليه السلام دا عاجزى الله ته پيش كړيده۔ ﴿اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَاءً خَفِيًّا، قَالَ رَبِّ اِنِّىْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّىْ وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ اَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا﴾ (مريم:٢)
او دا هم الله تعالىٰ ته د نزدے كيدو ډيره ښه طريقه ده چه بنده خپل فقر او كمزورى د الله مخے ته وړاندے كړى، نۀ دعوے او فخر۔
٥- توسل بِدُعَاءِ الْحَيِّ۔
ژوندى سړى نـه سوال وكړى چـه ما دپاره د الله نه دعا وغواړه لكه رسول الله ﷺ ته يو ړوند سړے راغے چه ما دپاره د عافيت سوال وكړه (چه سترگے مے بينا كړى) نو نبى كريم ﷺ ورته وفرمايل :
[اِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ وَاِنْ شِئْتَ صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ] (ترمذى : ٣٥٧٨ بسند صحيح)
كـه خوښـه دِے وى الله تـه به سوال وكړم او كه خوښه دِے وى نو صبر وكړه دا به ستا دپاره غوره وى۔ (يعنى ددے په بدله كى به الله جنت دركړى لكه بل روايت كى دا خبره راغلے ده)
او قرآن كريم كـى هم دى بنى اسرائيلو موسىٰ عليه السلام تـه وويل : ﴿قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ﴾۔ زمونږ دپاره د خپل رب نه دعا وغواړه۔
٦- اَلتَّوَسُّلُ بِمَحَبَّةِ الرَّسُوْلِ وَطَاعَتِهٖ ۔ يعنى الله ته ځان د رسول الله ﷺ په محبت او د هغه په طاعت سره نزدے كول، دا هم په عبادت كى داخل دے، ليكن نوم ئے بدل دے۔
دا وسيلے په شريعت كى ثابتى دى۔

غير شرعى وسيلے

دا توسل په دوه قسمه دے (١) شركى (٢) او بدعى۔
د تـوسـل شركى دوه صورتونه دى (١) يو دا چه د غير الله نه مددونه غوښتل چه اے بابا، يا علـى مـدد، يـا رسول الله ﷺ مدد، نو دا شرك دے، (٢) الله ته توسل كول په دعاء د مړو،

لکه یو بنده یو مړی یا قبر ته آواز وکړی چه زۀ ئے تا ته وایم او ته ئے الله ته ووایه، نو دا طریقه شرك ده وجه دا ده چه پدے کی مخلوق ته عاجزی او د اُلوهیت محبت راځی او مخلوق ته عاجزی او د هغه سره د اُلوهیت محبت عبادت دے او عبادت د غیر الله شرك دے۔

او وګوره چه دوی بابا ته څنګه عاجزی کوی او لاس په نامه ورته ولاړ وی چه اے بابا! زۀ تا لره راغلے یم ته الله تعالیٰ ته ووایه، نو دا صورت د شرك بالله تعالیٰ دے په عبادت او تعظیم کی۔

۲- توسل بِدَعِی دا دے چه ذوات فاضله الله ته وړاندے کول چه زۀ تا نه د پیغمبرانو او د اولیاؤ او باباګانو په وسیله او د فلانی په حق، جاه، طفیل، حرمت او برکت باندے سوال کوم یا ووائی چه اے الله ستا دِے په فلانی فاضل (ولی یا نبی) باندے قسم وی چه زما حاجت پوره کړه نو دا بدَعِی توسل دے، او په دعاء کی اعتداء (د حد نه تیروتل) دی۔

دا نۀ نبی کریم ﷺ خپله کړیدے چه ابراهیم او موسیٰ علیهما السلام ئے الله ته وسیله کړی وی او نۀ د هغه صحابه کرامو کړیدے او نۀ د هغه د وفات نه روستو کوم صحابی نه په صحیح روایتو کی نقل شویدی۔ (تفسیر القاسمی ۱۸۷/٦)

او دے باره کی ډیرو مفسدینو د ځان نه حدیثونه ایجاد کړیدی۔ او دا توسل کله بنده د غیر الله دالُوهیت محبت، او د هغه عبادت ته رسوی چه هغه ته عاجزی شروع کړی۔

او ددے د تردید بنه وجه دا هم ده چه په قرآن کریم او احادیثو کی چه د انبیاء علیهم السلام او صالحینو کومے دعاګانے نقل دی په هغے کی هیچرے داسے نشته چه مخلوق ئے الله ته وسیله کړے وی بلکه ټول د الله په نومونو او صفتونو سره شویدی۔

په بعض ضعیفو احادیثو کی ددے ذکر راغلے دے او د بعض داسے خلقو رائے ده چه د هغوی رائے په اسلام کی حجت نۀ دے۔

امام ابوحنیفهٌ او د هغه اصحابو د توسل ددے قسم نه انکار کړیدے، او وئیلے ئے دی چه د مخلوق توسل سره سوال کول جائز نۀ دی او نۀ دا وئیل جائز دی چه اے الله! زۀ تا نه ستا د انبیاؤ د حق په طفیل سره سوال کوم۔

شامی، هدایه وغیره کتاب الکراهیة کی لیکلی دی:

[وَيُكْرَهُ أَنْ يَّقُوْلَ الرَّجُلُ فِيْ دُعَائِهٖ: أَسْئَلُكَ بِحَقِّ فُلَانٍ أَوْ بِحَقِّ أَنْبِيَائِكَ وَرُسُلِكَ، لِأَنَّهٗ لَا حَقَّ لِلْمَخْلُوْقِ عَلَى الْخَالِقِ] (هدایه، کتاب الکراهیة ٤٧٤/٤)

دا مکروه دی چه سړے په دعاء کی ووائی: زۀ تا نه د فلانی په حق سره یا د انبیاء او

رسولانو (علیهم السلام) په حق سره سوال کوم ځکه چه د مخلوق په خالق باندے هیڅ واجب حق نشته۔ (مګر هغه چه الله تعالیٰ په خپل ځان باندے ذکر کړیدے۔ (وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ)۔

بعض خلقو د صحیح بخاری د عمر ﷺ والا حدیث نه غلط فهم کړیدے چه د هغے تفصیل داسے دے چه کله به په مدینه کی قحط سالی شوه نو عمر ﷺ به وئیل اے الله! مخکی چه به کله قحط سالی کیده نو مونږ به ستا د نبی په وسیله دعا کوله نو باران به کیدو، اُوس مونږ ستا د نبی د ترهٔ په وسیله دعا کوو۔

پدے حدیث کی د نبی کریم ﷺ په ذریعه د توسل مطلب هغه باندے دعا کول دی نهٔ دا چه د هغه د ذات په ذریعه وسیله حاصلول۔ همدا وجه ده چه عمر بن خطاب ﷺ به د نبی کریم ﷺ د وفات نه روستو د هغه په ترهٔ عباس بن عبد المطلب ﷺ باندے دعا کوله۔ (چه هغه به دعا کوله او صحابه کرامو به پرے آمین وئیلو) که مقصود د هغه په ذات سره توسل وے نو د عباسؓ د ذات په ذریعه توسل ته هیڅ ضرورت نهٔ وو۔

معلومه شوه چه د عمر ﷺ په نیز د توسل مطلب دعا کول وو په هغه باندے چه هغه د نبی ﷺ د وفات نه روستو ناممکن شوه، پدے وجه هغوی د عباس رضی الله عنه نه د دعا غوښتنه اُوکړه چه ته دعا وکړه۔

د توسل په باره کی تفصیلی کتابونه لیکلے شویدی لکه د شیخ الاسلام ابن تیمیه (التوسل والوسیلة) او د (التوصل الی حقیقة التوسل) او التوسل) د شیخ البانی رحمه الله او زمونږ د مشفق استاذ محترم شیخ القرآن عبد السلام الرستمی شفاه الله تفسیر ((احسن الکلام)) ته رجوع وکړه۔ دارنګه التوصل للرفاعی، دارنګه نیل الفضیلة کتاب، دارنګه فتاوی الدین الخالص جلد (۱) کی تفصیلًا دا مسئله سره د جواب د دلائلو د مخالفینو نه لیکلے شویده۔

وجاهدوا فی سبیله: دا د (وَابْتَغُوْا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ) تشریح ده۔ پدے کی اشاره ده چه په هر عمل کی مجاهده (کړاؤ) وکړے شی نو پدے سره بنده الله تعالیٰ ته نزدے کیږی، نهٔ دا چه په عادت او سستوالی او غفلت سره وشی۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا

یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړے کچرته شی د دوی دپاره هغه څه چه په زمکه کی دی ټول

وَّمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ

او په مثل ددے ورسره نور هم شي دے دپاره چه فديه (بدله) كي ئے وركړي د عذاب د ورځے

الْقِيَامَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيدُونَ

د قيامت نه نو قبول به نهٔ شي د دوی نه او د دوی دپاره عذاب دردناك دے۔ اراده به لري دوی

أَنْ يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنْهَا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ ﴿٣٧﴾

چه راوځي د اُور نه خو نهٔ به وي دوی راوتونكي د هغے نه او د دوی دپاره عذاب دے هميشه۔

تفسير :

مناسبت : ١- (لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ) سره متعلق دے أَيْ فَلَا فَلَاحَ بِالْمَالِ يعني د آخرت په ورځ فلاح او كاميابي په ايمان، تقوىٰ، او نيك اعمالو او مجاهدے سره ده نهٔ په مال سره، كه كافرانو سره هرڅومره مالونه راشي او الله تعالىٰ ته ئے وركوي خو نهٔ به قبليږي ځكه چه ايمان پكي نشته۔

٢- او پدے كي هغه كسانو ته هم تخويف اخروي دے چه هغوی د مخكني عهودو پابندي نهٔ كوي او په مال باندے نازيږي۔

او پدے آيتونو كي د قيامت په ورځ د كافر حال بيان شويدے، او پدے سره مقصد مسلمانانو ته د الله په اطاعت او بندګئ ترغيب وركول دي، دے دپاره چه د دوی انجام هم د كافرانو په شان نشي۔

كَفَرُوْا : دے كي مشركان، اهل كتاب او منافقان داخل دي۔

مَاتُقُبِّلَ مِنْهُمْ : په حديث كي دي : د قيامت په ورځ به كافر ته ووئيلے شي چه كه تا له ډكه زمكه سرهٔ زر دركړے شي آيا ته به ئے د عذاب نه د بچ كيدو دپاره په فديه كي وركړے هغه به ووائي چه آؤ اے ربه ! الله به وفرمائي : ما ستا نه په دنيا كي ددے نه آسان څيز غوښتے وو چه شرك مهٔ كوه۔ (بخاري ومسلم)

يُرِيْدُوْنَ : يعني دوی به عملي طور سره راوځي ليكن ملائك به ئے د وسپنو په ګورزونو سره وهي او بيرته به ئے اُور ته واپس كوي۔ يا دا چه په زړونو سره به دا تمني كوي چه د اُور نه اُوځي لكه مؤمنون (١٠٧) آيت كي دي : ﴿رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا﴾

اے الله! مونږ ددے اُور نه اُوباسه۔ (بغويؒ)

ربط : مخکې ئې ووېل چه په فدیه سره نهٔ بچ کېږی اُوس وائی چه په تختېدو سره هم نشي بچ کېدے۔
مُقِيمٌ : أَیْ دَائِمٌ ثَابِتٌ۔ همیشه به دوی پورے انښتے وی چه نهٔ به ترے جدا کېږی۔

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءً بِمَا
او غل سړے او غلا کره ښځه نو پرېکړئ لاسونه د دواړو دا سزا ده په سبب د هغے
كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾
چه کړې دی دواړو، عبرتناکه سزا ده د الله د طرف نه او الله غالبه حکمتونو والا دے۔

تفسیر : ربط :

۱- مخکې د لوئی غلا تذکره وه یعنی ډاکه ماری، لوټ ماری، او دلته وړه غلا ذکر کوی۔ په بل عبارت سره : پردی مال اخستونکی یو هغه دی چه ښکاره ئې په زوره سره اخلی لکه محاربین او بل هغه دی چه په پټه سره ئې اخلی لکه سارق (غل)۔

۲- مخکې ئې ووېل چه په آخرت کې د مال احترام نشته البته په دنیا کې د مال احترام شته چه ددے د غلا په وجه د بنده نه لاس پرېکړے کېږی۔

دا بل عهد د الله د عهودو نه هغه دا چه د پردی مال نه ځان وساتئ په طریقه د محاربے او په طریقه د غلا سره۔ نو پدے کې حد د سرقه (غلا) بیانوی یعنی که چا غلا وکړه لاس به ترے پرېکولے شی۔

وَالسَّارِقُ : سرقه (غلا) څه ته وائی؟

سارق د سرقه نه دے، سرقه په عربئ ژبه کې مطلق غلا ته وائی او د کومے غلا دپاره چه حد مقرر شویدے یعنی شرعی غلا نو هغه دے ته وائی [أَخْذُ مَالِ الْغَيْرِ بِغَيْرِ رِضَاهُ خُفْيَةً مِنْ حِرْزٍ] پردے مال په غیر د رضا د مالك نه په پټه باندے اخستل چه دغه مال محفوظ وی۔
نو پدے سره خپل مال اخستل ووتل او "پټه سره" پدے سره غصب ووتو چه که ښکاره د چا نه په زوره مال واخلی نو په هغے کې به لاسونه او خپے دواړه پرېکولے شی لکه مخکې بیان شو۔ او "محفوظ مال وی" یعنی په صندوق، دکان، کور او خیمه کې ساتلے شویدے برابره ده چه څوك ئې څوکیداری کوی یا نه، دروازه لری یا نه، دروازه ئې بنده وی یا کولاوه، نو جومات، مسافر خانه او داسے نور ځایونه چه هلته د داخلیدو عامه اجازه وی لکه

صحراء او ډاګه نو دا به حرز نۀ وی.

نو که د مسجد یا د لارے یا مسافر خانے نه څوك غلا وکړی نو دا به د غلا ګناه وی لیکن لاس به پرے نۀ پریکړے کیږی. پدے وجه حدیث کی دی چه که چا د باغ نه غلا وکړه نو لاس به ئے نۀ پریکړے کیږی او که د درمند نه ئے وکړه نو لاس به ئے پریکړے کیږی، ځکه چه دا مال محفوظ او هغه غیر محفوظ دے.

البته که د باغ نه غلا وکړی نو تاوان به ترے اخستلے کیږی.

مسئله: په څومره مال غلا کولو سره به لاس قطع (پریکولے شی)؟

مخکښی شرط نه معلومه شوه چه مال به داسے وی چه خلك ئے ساتنه کوی نو کوم مال چه دومره قیمت نۀ لری لکه یوه کجوره دوه یا د پیازو یوه غوټه دوه، نو خلك د هغے ډیر حفاظت نۀ کوی نو په اتفاق سره به د هغے په غلا کولو کی لاس نۀ پریکړے کیږی.

بعض فقهاءِ ظاهریه وئیلی دی چه غل که لږه غلا اُوکړی او که زیاته خو د آیت د عموم په وجه به د هغه نه لاس پریکولے شی، دوی د مسروق مال نصاب ته د رسیدو یا محفوظ ځای نه د غلا کولو اعتبار نۀ دے کړے مګر دا د صحیح احادیثو خلاف معلومیږی چه په هغے کی نصاب مقرر شویدے لکه جمهورو علماؤ نصاب لره اعتبار ورکړیدے.

نو ددے په نصاب کی اختلاف دے، ډیر زیات اقوال دی، د صحیح احادیثو په رڼا کی چه کومه خبره راجح معلومیږی، هغه دا ده چه که د غلا مال څلورمه حصه د دینار یا د درے درهمو برابر وی یا ثَمَنُ الْمِجَنّ. یعنی د ډهال د قیمت برابر، چه دے په هغه زمانه کی د درے روپو قیمت لرلو نو لاس به ئے پریکړے کیږی. او که ددے نه کم وی نو لاس به ئے نۀ پریکړے کیږی. صحیح البخاری: ٦٧٩٢/٦٧٩٣/ ٦٧٩٤/ ٦٧٩٦/ ٦٧٩٨)

او ددے روپو نه پخوانۍ روپۍ مراد دی چه د دوو سوو نه به دوه پنځوس تولے جوړیدلے.

او کوم روایت کی چه دا راغلی دی چه [لَا قَطْعَ فِيمَا دُوْنَ عَشْرَةِ دَرَاهِمَ] (مسند احمد: ٦٩٠٠) یعنی د لسو درهمو نه په کم مقدار کی لاس قطع کول نشته، نو هغه ضعیف دے، د عمل قابل نۀ دے. (شعیب الارناووطؒ) په سند کښی ئے نصر بن باب راوی متروك دے.

سوال

په سورة النور کی ئے ﴿اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ﴾ زنا کاره ښځه مخکښی ذکر کړه او دلته ئے غل

سړے مخکې ذکر کړو، پدے کې څه حکمت دے ؟
جواب : په غلا کې بهادري او زړه ورتیا وي او دا په سړو کې زیاته وي، او سړي غتې غتې غلاګانې کوي او ښځې دومره غتې غلاګانې نشي کولے۔ او زنا اکثر د ښځې د طرفنه واقع کیږي ځکه چه یوه ښځه سړو ته توجه ورنکړي نو هیڅکله به ترے زنا ونشي۔
بله وجه زنا اکثر د ضعیف الهمة انسان نه کیږي او هغه زنانه ذي او غلاء د مال وي، د مال سره د سړي محبت زیات وي۔
أَيْدِيَهُمَا : د أَيْدِيَ اطلاق د ګوتو د سرونو نه تر ترخونو پورے کیږي لیکن په حدیث کې ئے تفسیر راغلے دے چه هغه ښے لاس پریکول دي، او د مړوند نه به پریکولے شي۔ لکه په یو قراءت د عبد الله بن مسعود ﷺ ذکر دي چه ﴿فَاقْطَعُوْا أَيْمَانَهُمَا﴾ د دوی ښي لاسونه پریکړئ۔
په اول ځل کې ښي لاس پریکول دي او که دوباره غلا وکړي نو بیا به ترے ګسه (چپه) خپه پریکړے شي۔ و التفصیل فی الحدیث۔
ددے نه دا هم معلومه شوه چه زیادت او تقیید د کتاب الله په خبر واحد سره جائز دے۔
سوال :
ایدی خو د جمعے کلمه ده نو آیا د غل او غلاګرے نه به ټول لاسونه پریکړے کیږي ؟
جواب دا دے چه دا د عربئ قانون دے، زجاجؒ او فراءؒ وئیلي دي چه د انسان هر اندام چه د هغے نه دوه ذکر کیږي نو په لفظ د جمع سره وي لکه (صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا) دلته زړونه د دوه کسانو مراد دي نو یمین (ښے لاس) د هر انسان یو یو دے نو چه د دوه کسانو (مذکر او مؤنث) لاسونه ذکر کیږي نو جمع به تثنیه ته مضاف کیږي۔ آسان تعبیر دا دے چه کله تثنیه تثنیه ته مضاف کیږي بیا د فصاحت تقاضا دا ده چه اوله تثنیه په صیغه د جمعي سره راوړل شي۔
جَزَآءً بِمَا كَسَبَا : یعنی دا سزا ده په سبب د کسب د دوی او مناسب ده د دوی د عمل سره چه غلا ده ځکه غلا ئے په لاس کړیده نو لاس پریکول ترے پکار دي۔
د مسائلو تفصیل دپاره تفسیر قرطبیؒ وغیره ته رجوع وکړه۔
نَكَالًا مِنَ اللهِ : نکال عبرتناکے سزا ته وائي چه آینده کې د داسے قبیح عمل نه منع شي ځکه چه خپل لاس ته به ګوري او نور خلك به هم ورته ګوري نو د غلا نه به منع کیږي۔

معجزانه قصه

وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ : اصمعیؒ (یو لغوی عالِم دے) وائی چه یوه ورځ ما دا آیت ولوستو نو په آخر کی مے (والله غفور رحیم) ولوستو نو یو اعرابی واوریدو او وے ویل چه دا د الله کلام نهٔ دے؟ اصمعیؒ وائی چه ما ورته وویل چه د څه نه دے معلومه کړه؟ هغه وویل: که دا د الله کلام وے نو الله چه غفور رحیم دے هغه په لاس پریکولو حکم نهٔ کوی اصمعیؒ وائی چه ما قرآن ته رجوع وکړه نو په خپله خطائی پوهه شوم، بیا مے (والله عزیز حکیم) ولوستو نو اعرابی وویل چه آؤ اُوس دا د الله کلام دے ځکه چه الله عزیز حکیم دے پدے وجه په لاس پریکولو حکم کوی۔ (زاد المسیر ۲/۲٤۷)

فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ
پس څوك چه توبه وباسی روستو د ظلم خپل نه او عمل خپل نیك کړی نو یقیناً
اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۹﴾
الله تعالیٰ به مهربانی وکړی په هغه باندے یقیناً الله بخونکے مهربان دے۔

تفسیر : اُوس غل ته د توبے ترغیب ورکوی، لکه مخکی ئے محاربینو ته د توبی ترغیب ورکړے وو۔

غل چه کله توبه وباسی نو یو به د الله نه معافی غواړی، او په خپل دغه بد عمل به پښیمانه وی، او بل که مال ورسره وی نو هغه مال به خپل مالك ته واپس کوی او که ورسره نهٔ وو نو اراده به کوی چه که ما سره کله مال پیدا شو نو هغه به واپس کوم، او که مالك ورته معلوم نهٔ وی، نو د هغه د طرف نه د صدقے اراده به وکړی او که مال ورسره پیدا نشو نو الله بخنه کونکے دے۔

مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهٖ : د ظلم نه مراد غلا ده، او مطلب دا دے چه د توبی ویستلو نه روستو الله تعالیٰ د هغه توبه قبلوی او هغه ته به په آخرت کی ددے غلا په بدله کی سزا نهٔ ورکوی، لیکن په دنیا کی د غلا حد ددهٔ نه نهٔ ساقطیږی لکه چه په صحیح احادیثو کی ثابت دی چه نبی کریم ﷺ ته به داسے خلق توبه ویستلو سره راغلی وو چه په هغوی به حد واجب شوے وو نو نبی ﷺ به په هغوی باندے حد جاری کولو۔

دارقطنیؒ، حاکمؒ او عبد الرزاقؒ وغیرهم د ابو هریره ؓ نه روایت کړیدے چه یو غل رسول الله ﷺ ته راوستے شو نو د هغه په حکم سره د هغه لاس پریکړے شو، دے نه روستو نبی ﷺ هغه ته اُووئیل چه توبه اُوباسه، نو هغه اُووئیل چه زهٔ د الله په حضور کی توبه اُوباسم۔ نو نبی ﷺ اُوفرمایل: الله ستا توبه قبوله کړه۔ معلومه شوه چه د توبے ویستلو نه روستو حد نهٔ ساقطیږی لیکن د قیامت په ورځ به ددے په وجه هغه ته سزا نهٔ ورکړے کیږی۔ البته د صحیح احادیثو نه دا ثابته ده چه که د غل معامله حاکم ته رسیدو نه مخکی هغه معاف کړے شی نو د هغه نه به حد ساقطیږی۔

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُعَذِّبُ
آیا نهٔ پو هیږے تهٔ چه یقیناً الله تعالیٰ د هغه دپاره بادشاهی د آسمانونو او زمکے ده عذاب ورکوی
مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَاللهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤٠﴾
چا ته چه وغواړی او بخنه کوی چا ته چه وغواړی او الله په هر شی باندے قدرت لرونکے دے۔

تفسیر: پدے کی بیان د تصرف د الله تعالیٰ دے چه د غلو نه لاسونه ولے پریکولے کیږی؟ نو الله خپل تصرف بیانوی چه هغه دپاره د آسمانونو او د زمکے ملکیت دے نو هغه چه څه فیصله کوی، بعض مجرمانو دپاره یو شان سزا مقرروی او چا له بل شان، په هغے به هیڅ اعتراض نهٔ وی او هغه د اصلاح د عالَم دپاره داسے حدود مقرر کړیدی پدے کی د انسانانو فائده ده چه د هغوی مالونه او نفسونه محفوظ شی۔

او پدے کی اشاره ده چه الله تعالیٰ مطلق بادشاه دے چه د هیچا محبت او یره هغه نشی مجبوره کولے نو د هغه قانون به په هر چا باندے جاری وی۔

یُعَذِّبُ : دلته ئے عذاب مخکی راوړو دپاره د یره ولو ځکه چه مخکی د محاربینو، غلاګرو او فساد ګرو ذکر وشو نو د دوی سره د رحم مخکی ذکر کول مناسب نهٔ وو۔

يَا أَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَايَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ مِنَ
اے رسوله غمجن دِے نهٔ کړی تا لره هغه کسان چه جلتی کوی په (کارونو د) کفر کی د
الَّذِيْنَ قَالُوْا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ
هغه کسانو نه چه وائی ایمان راوړے مونږه، په خُلو خپلو سره او ایمان نهٔ دے راوړے

قُلُوبُهُمْ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ

زړونو د هغوی او د هغه کسانو نه چه یهودیان دی غوږ ږدی دپاره د دروغو (جوړولو په تاباندے)

سَمَّاعُونَ لِقَوْمٍ آخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهِ

غوږ ږدی دپاره د خلکو نورو چه نهٔ دی راغلی تا ته، بدلوی کلمے روستو د ځایونو خپلو نه

يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَـٰذَا فَخُذُوهُ وَإِنْ لَمْ تُؤْتَوْهُ

وائی دوی که چرته درکړے شی تاسو ته دا (حکم) نو واخلئ دا او که درنکړے شی تاسو ته دا

فَاحْذَرُوا وَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ فَلَنْ

نو بچ وساتئ ځان خپل او هغه څوك چه وغواړی الله تعالیٰ گمراه کول د هغه نو هیچرے

تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ

اختیار نهٔ لرے تهٔ د هغه دپاره د الله نه د هیڅ شی، دا هغه کسان دی چه اراده نهٔ ده کړے

اللَّهُ أَنْ يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ

الله تعالیٰ چه پاك کړی زړونه د دوی، د دوی دپاره په دنیا کی شرمندگی ده،

وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٤١﴾

او د دوی دپاره په آخرت کی عذاب لوئی دے۔

تفسیر : مضمون : عنوان د آیت : رسول الله ﷺ ته تسلی ورکول بیا د منافقانو او د یهودیانو لس بد صفات بیانوی دپاره د زجر په حال د دوی، بیا رسول الله ﷺ ته تسلی ولے ورکوی؟ نو وجه دا ده چه رسول الله ﷺ به د الله دین او احکام بیانول نو بعض مجرمانو پکی ورانے کولو او چون وچرا به ئے کوله چه دا صحیح نهٔ دی نو داعی ته پدے باندے ډیره پریشانی او تکلیف ملاویږی۔

بیا د (٤٤) آیت نه د درے کتابونو تذکره ده او د هغے تحکیم بیانوی چه فیصلے ورل په خپلو خپلو زمانو کی دے درے کتابونو ته واجب دی، ځکه چه حلالونکے او حرامونکے صرف الله دے او هغه د الله په کتابونو کی ذکر شویدی نو فیصله به هم په هغوی باندے کولے شی۔ نو په دغه درے کتابونو کی د الله عقود بیان شویدی او د هغے پریخودل سبب د

کفر، ظلم او فسق دے، لکه دے یهودیانو ظالمانو پدے کتابونو فیصلے ونکړے.
بیا په (افحکم الجاهلیة) کی زجر او رټنه ده په لټولو د نورو قوانینو په خلاف د قانون د الله سره. چه دا ډیر لوی بیوقوفان دی چه د خالق قانون پریدی او د جاهلیت قانون غوره کوی.

مناسبت

۱- مخکی حکم د غلاګرو بیان شو اُوس د زنا کارو حکم او په هغوی باندے حد قائمول بیانیږی.
۲- چونکه څلور ګناهونه افحش الذنوب (ډیر ناکاره) دی غلا، زنا، قتل او شرك او دا په قرآن کریم کی اکثر شریك ذکر کیږی.
او دلته هم پدے آیتونو کی دغه راجمع شویدی او د هر یو دپاره ئے حدود مقرر کړیدی، د کفارو حد ئے بیان کړو چه اُور ته به داخلیږی، او دلته د زنا متعلق خبره کیږی.
۳- مخکی د مالونو د لوټ کونکی او غلا کونکی احکام بیان شو اُوس د هغه لوټمارانو حال بیانوی چه د الله کتاب لوټ کوی (تحریف کوی)

شان نزول

ددے د شان نزول په باره کی زاد المسیر (۲/۲۷۵) پنځه واقعات ذکر کړیدی:
ډیره نزدے واقعه چه تفصیل ئے امام مالكؒ په موطأ کی د ابن عمر رضی الله عنهما نه او امام احمدؒ او مسلمؒ وغیره د براء بن عازب ﷺ نه روایت کړیدے:
چه په تورات کی الله تعالیٰ د زنا کارو دپاره د رجم حکم کړے وو لیکن یهودیانو هغه ضائع کړے وو، بیا په یهودیانو کی زنا زیاته شوه،
په هغوی کی دنیاوی شرفاؤ (عزتمندو) به هم دا کار کولو نو دوی به په هغوی باندے حد د شرم د وجه نه نشو قائمولے او په غریبانو به ئے قائمولو، نو یوه ورځ د دوی علماء راجمع شول چه پدے کار کښ زمونږ شرم دے چه مونږ په بعضو کسانو خو رجم قائمه وو او په بعضو ئے نهٔ قائموو، نو راځئ چه یو بل قانون مقرر کړو چه په ټولو باندے ئے یو شان تطبیق کړو، نو دوی دا قانون کیخودو چه څوك زنا وکړی نو د هغه مخ به تورولے شی او په خرۀ باندے به سورولے شی. نو په خیبر کی دوه

کسانو (ښځه او سړی) - چه د دوی په نیز شریفان وو او شادی شده وو- زنا وکړه چه خپل مینځ کی ئے یارانه وه نو دوی د هغوی د عزت د وجه نه هغوی ته رجم نشو ورکولے، نو دوی وویل چه دلته محمد ﷺ راغلے دے هغه ته به دا حادثه د بنو قریظه په واسطه وړاندے کړو (ځکه چه بنو قریظه په مدینه کی وسیدل) که دده په دین کی رجم نۀ وو نو مونږ به دده په قانون باندے عمل وکړو (نو پدے مسئله کی به دده تابع شو، لکه دا د مبتدعینو طریقه ده چه کله راګیر شی نو بیا اهل حدیثو ته رجوع کوی خاصکر د طلاقو په مسئله کی)

او که رجم وو نو ځان به ترے وساتو ځکه چه د رجم قانون خو مونږ سره هم شته، او که الله مونږ نه تپوس وکړو نو مونږ به ورته وایو چه دا (محمد) هم ستا رسول وو، د هغه په قانون مو عمل کړے نو الله تعالىٰ د مخکی نه رسول الله ﷺ ته دا آیتونه نازل کړل او د دوی ددے قبیحے خبرے خبر ئے ورکړو او ډیر تفصیلی ردونه ئے پرے وکړل او نبی کریم ﷺ ته ئے اختیار ورکړو چه ستا خوښه ده، فیصله ورله کوے او که نۀ، او دوی ستا فیصله نۀ خوښوی او دا ئے هم بیان کړل چه ما دوی ته کتاب رالیږلے دے دوی په هغے باندے عمل نکوی او د هغے تحکیم ولے نۀ کوی۔

کله چه واقعه رسول الله ﷺ ته وړاندے کړے شوه نو نبی کریم ﷺ د یهودو نه تپوس وکړو چه په تورات کی د زناکارئ سزا څه ده ؟ نو دوی وویل چه مونږه ئے په خرۀ سوره وو او مخ ورله توره وو او په کوڅو کی ئے ګرځوو راګرځوو چه شرمنده او خجالته شی۔ او د رجم نه بیخی منکر شو، نبی کریم ﷺ دوی ته په سخته لهجه قسم ورکړو چه ستاسو ډِیے قسم وی چه په تورات کی د رجم حکم نشته ؟ دوی ټولو انکار وکړو چه نشته،

بیا رسول الله ﷺ د تورات راغوښتو حکم وکړو نو هغه راوړے شو دوی په زمکه کی کیخودو نو رسول الله ﷺ خپله تکیه هغے ته واچوله او په هغے باندے ئے کیخودو، بیا د دوی یو مشر (ابن صوریا) د رجم په آیت باندے لاس کیخودو او مخکی روستو عبارت ئے وویلو نو عبد الله بن سلام ﷺ ورته وویل : لاس پورته کړه،

[فَإِذَا آيَةُ الرَّجْمِ تَلُوحُ] نو دغه وخت د رجم آیت ښکاره ځلیدو۔ نو دوی خړ شو نو ابن صوریا اقرار وکړو چه آؤ د رجم آیت شته۔

بیا ترے رسول الله ﷺ تپوس وکړو چه تاسو د رجم دا حکم ولے پریښے دے ؟ نو هغه وویل چه په مونږ کی به په شریفانو او سردارانو باندے رجم نۀ قائمیدو او په غریبانو به

قـائـميـدو نو د عـوامو نه يو تن په دغه جنايت اخته شو نو د هغه خپلوان كلك ودريدل چه كـه پـدې شـخـص باندې د رجم حكم جاري كيږي نو پكار ده چه د سردارانو په سرې باندې هم جاري شي، نو پدې وجه مونږ د رجم حكم د تولو خلكو دپاره پريخودو او ددې په عوض كې مو دغه مخكښې قانون كيخودو دې دپاره چه په بادشاه او گدا دواړو باندې تطبيق شي.

نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: [فَإِنِّيْ أَحْكُمُ بِمَا فِي التَّوْرَاةِ فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا]

(ابوداود: ٤٤٥٢)

زهٔ بـه هغـه فيـصـلـه كـوم چه په تورات كي ده نو د دواړو په باره كي ئې د رجم حكم جاري كړو نو دواړه رجم شو. په روايت د بخاريؒ وغيره كي راځي عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائي : [رَأَيْتُ الرَّجُلَ يَحْنِيْ عَلَى الْمَرْأَةِ يَقِيْهَا الْحِجَارَةَ]

مـا دغـه سـړې وليـدو چـه ښځه باندې به راكوږ شو د كاڼړو نه ئې ساتله. (د يو بل سره ئې ډيره مينه وه). (صحيح البخاري: ٣٦٣٥).

يَـٰٓأَيُّهَا الرَّسُوْلُ : الله تعالىٰ د خپل رسول ډير ادب كوي چه د رسول په صفت ئې يادوي، او پدې صفت ذكر كولو كي فائده دا ده چه هر كله ته رسول ئې او ستا په سر لويه ذمه واري ده نو د كافرانو په خبرو او كارونو مهٔ پريشانه كيږه چه كار پريدې.

يُسَـارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ : پدې كـې نبي كريم ﷺ ته تسلي وركړې شويده او هغه ته دا نـصيحت شويدې چه كافران كه په خپل كفر كي تيزئ سره مخكې روان وي، كوم كار چه د كـفـر وي بـس هـغـې ته منډه وهي نو تهٔ پرې مهٔ خفه كيږه، الله تعالىٰ به تا يواځې نهٔ پريدي بلكه هغه به ضرور ستا مدد كوي.

قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ : (بِاَفْوَاهِهِمْ) د قَـالُـوْا سره متعلق دې، يعني دوي په خولو باندې د ايـمـان اقـرار كـوي او زړونـو كي ئې ايمان نشته يعني منافقان دي. نو منافقان هم دغه شان ورانئي كوي چه په دين اعتراضونه كوي چه دا كار ولې حرام شو؟ او تا ته ضررونه دركوي.

مفسرينؒ وائي : هر قول چه خولې ته منسوب شي او زړه ته نهٔ نو هغه دروغ وي. دا قرآن كريم كي قانون دې.

وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا : دا پـه مخكې (مِنَ الَّذِيْنَ) بـانـدې عطف دې يعني دويم قسم خلك هغه كسان دي چه يهوديان دي. نو په (من الذين هادوا) باندې وقف دې. او روستو كلام د دواړو ډلو سره لگي.

سَمّٰعُوْنَ : دا صفتـونـه پـه يهـودو او دارنگـه پـه منافقانو دواړو كي شته. يا دا چه دا د

یهودیانو سره صرف لګی۔
سماعون: ۱- جاسوسی کونکی دی۔ ۲- ډیر آوریدونکی او خبره منونکی او قبلونکی دی دروغو لره، دروغو سره ئے ډیره مینه ده په نسبت د رشتیاؤ۔
لِلْكَذِبِ: د دروغو نه مراد هغه خبرے دی چه د دوی علماؤ د ځان نه جوړے کړے وے او دوی بی دلیله قبلولے او ړوند تقلید ئے ورله کولو۔
سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ : ۱- یعنی دوی باندے د خپلو ملیانو خبرے ډیر اثر کوی او هغه ډیرے ښے قبلوی او ستا خبره پرے اثر نکوی، دا مرض زمونږ د امت د ډیرو مبتدعینو دے چه وائی که پدے مسئله کی که زما امام فتویٰ ورکوی نو صحیح ده که نهٔ وی، زهٔ ئے نهٔ منم اګرکه حقه وی دا بعینه د یهودو صفت دے۔
مطلب دا چه د حق پرستو خبره نهٔ آوری او په غوږونو کی ګوتے ورکوی او دا هم وائی چه که د دوی په خبره جنت ته ځو هم ئے نهٔ آورو۔
۲- یا دا چه منافقان جاسوسی کوی دپاره د یهودو او د یهودو کشران جاسوسی کوی دپاره مشرانو۔
لَمْ يَاْتُوْكَ : ۱- یعنی دوی لا د خیبر نه ستا خوا ته نهٔ دی راغلی، د مخکی نه الله تعالیٰ دا خبر رسول الله ﷺ ته ورکړو، دے نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ په غیبو نهٔ پو هیدو۔ او دا اخبار بالغیب ورکول د قرآن کریم معجزه ده۔
۲- یا دا جمله صفت د (قوم) دے یعنی دداسے قوم خبره منی چه هغه ستا خوا ته نهٔ دی راغلی د وجه د تکبر د هغوی نه لکه د خیبر یهودیان شو یعنی دوی د خپلو مشرانو خبره آوری۔
يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ : دا د قوم صفت دے ځکه چه تحریف د لوی ملایانو کار وو۔
بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ : دلته ئے ورسره (بعد) لفظ زیات کړو وجه دا ده چه دوی تحریف لفظی او معنوی دواړه کړے وو۔ او ددے سورت آیت (۱۳) او د سورة نساء آیت (٤٦) کی بعد لفظ نهٔ وو زیات ځکه چه هلته صرف تحریف معنوی مراد وو۔ یعنی د الله کلمات به ئے د خپلو ځایونو نه بیخی لرے ویستل او انکار به ئے ترے کولو۔
يَقُوْلُوْنَ : یعنی دوی خپلو کشرانو ته وصیت کړے وو چه که تاسو ته دا مُحَرَّف حکم چه مخ تورول او په خرهٔ سوره ول دی، درکړے شی نو قبول ئے کړئ۔
اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا : یعنی که دا آسان حکم درته ملاؤ شو نو قبول ئے کړئ او که ګران وو مهٔ

ئے قبلوئ، دے تہ تلفیق وائی او دا حرامه ده چه مثلاً یو تن په دین کی په آسانیو پسے گرځی چه په غیر د دلیل نه کله د یو چا دین باندے عمل کوی او کله د بل چا، او تلفیق دے تـه نهٔ وائی چـه پـه مذاهبو کی انسان د دلیل په بنیاد کله په یو عمل کوی او کله په بل، بلکه دا واجبه ده چه د چا سره دلیل وی د هغه خبره به اخستلے شی، نو کله د یو عالِم خبره منل او کله د بل د دلیل د وجه نه دا صحیح کار او حق پرستی ده او که د خواهش د وجه نه وریسے روان وی چه دا هم صحیح وائی نو دا د یهودو صفت دے۔

وَمَنۡ يُرِدِ اللَّهُ فِتۡنَتَهُۥ : ۱- د فتنے نه مراد گمراه کول دی۔ فتنه په اصل کی د الله نه اوریدو ته وئیلے شی او د الله نه اوریدل لویه گمراهی ده۔ یعنی دے خلکو د هدایت استعداد ورک کړیدے نو الله اراده کړیده چه دوی په گمراهئ کی پریدی او کله چه الله په گمراهئ کی پریخودل نو بیا څوك دے چه هغوی به ئے هدایت ته راکاړی نو پدے کی دوی ته سخته یره پرته ده چه تاسو په فتنو کی اختهشوی یئ۔

۲- یا فتنه په معنیٰ د عذاب سره دے لکه ﴿ذُوقُوا فِتۡنَتَكُمۡ﴾ (الذاریات:١٤)۔ یعنی چا لره چه الله تعالیٰ د عذاب ورکولو اراده وکړی نو بل هیڅوك نشته چه هغه ته نجات ورکړی۔

اَنۡ يُّطَهِّرَ قُلُوۡبَهُم : په کومو خلکو کی چه همیشه دروغ وئیل او باطل طرفته مائل کیدل، د اهل حقو په خلاف جاسوسی کول، د باطلو جماعتونو او شریانو خلکو مدد کول، د هدایت په خبرو کی تحریف کول او هغه بدلول، د خپل خواهش په خلاف د چا حقه خبره نهٔ قبلول دا بد صفتونه چه په کوم قوم کی راشی،

نو ددے مثال د داسے مریض دے چه نهٔ دوائی استعمالوی او نهٔ د مُهلك او مُضر څیزونو نه پرهیز کوی، که ډاکټر او طبیب ورله علاج کوی هغه پورے توقے کوی او که هغه ورله نسخه ورکړی نو گوزار ئے کړی، یا په خپله رایه سره د هغے اجزاء بدل کړی او دا عزم هم وکړی چه کومه دوائی که زما د خواهش خلاف وی نو هغه به هیڅکله نهٔ استعمالوم نوکه په داسے حالت کی طبیب اگرکه پلار وی دا اراده وکړی چه دهٔ ته هیڅ نسخه ورنکړی او دهٔ د علاج نه لاس واخلی او مریض په هلاکت کی پریوځی نوگناه او نقصان به د چا وی؟ هیڅکله به طبیب ته نسبت نهٔ کیږی بلکه دے شخص خپله صحت او تندرستی نهٔ ده غوښتے بلکه بیمار به خپله مُلزم وی چه ځان ئے تباه کړو۔

نو یهود او منافقانو ته الله تعالیٰ د هدایت او کامیابئ ښائسته نسخے ورکړے لیکن دوی هغه ټولے رد کړے، د پیغمبرانو دشمنی ئے وکړه، د هدایت اراده ئے خپله نهٔ لرله نو د سزا په

طور الله د دوی د هدایت استعداد ختم کړو او زړونه ئے ورله ګنده پریخودل او دا د الله عدل دے چه دوی سره ئے وکړو۔

سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ فَإِن جَآءُوكَ
ډیر آوریدونکی دی دروغو لره، ډیر خوړونکی دی حرامو لره نو که راشي دوی تاته
فَاحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ
نو فیصله وکړه په مینځ د دوی کی یا مخ واړه د دوی نه او که مخ واړوے د دوی نه
فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم
نو هیچرے به ضرر درنهٔ کړی دوی تا ته هیڅ شے او که تهٔ فیصله کوے نو فیصله کوه
بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾
په مینځ د دوی کی په انصاف سره یقیناً الله مینه کوی د انصاف کونکو سره۔

تفسیر: سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ : دائے بیا راوړو د تاکید دپاره۔

أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ : دائے بل بد صفت دے، أَكَّال ډیر خوړونکی ته وائی۔

علماء لیکی: دروغ ویل او حرام خوړل انسان پوره فاسدوی، د انسان خوله او خیټه فاسده شی نو انسان پوره خراب شو۔

سحت په اصل کی د یو شی بیخ ویستلو یا هلاکولو ته وائی لکه ﴿فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ﴾ (طه: ٦١) (البحر المحیط ٢٥٨/٤ والبغوی ٥٨/٣) دلته ترے مراد حرام مالونه او خاصکر رشوت مالونه خوړل دی ځکه چه د حرام مال خوړل د برکت بیخ وباسی او د نیکیو توفیق ختموی چه په نتیجه کی حرام خور د معنوی هلاکت سر مخامخ کیږی۔

بیا امام قرطبیؒ د سحت ډیر افراد لیکلی دی چه که یو تن ستا حاجت پوره کړی او په هغے باندے د هغه هدیه قبوله کړے لکه دا خبره د عبد الله بن مسعود ﷺ نه نقل ده (بغویؒ) یا سړے د خپلے مرتبے (زور) په وجه سره د خلکو نه څه اخلی۔

نیشاپوریؒ او صاحب اللبابؒ لیکی: چه سحت هغه حرام ته وائی چه د هغے په اخستلو کی شرم محسوس کیږی لکه رشوت، د زنا مزدوری، د ښاروی د بلاربولو دپاره نر حیوان په کرایه راوستل، د حجام (ښکر) لګونکی کسب، د سپی، د شرابو، د مردارے قیمت او د

کاهن اجرت اخستل، دا ټول هغه حرام دي چه خلك ئے د شرم د وجه نه په پټه سره اخلي۔
او آلوسیؒ پکی دا هم لیکلی دي چه سحت هغه مال ته هم وائی چه سړے ئے د دین په وجه سره گټي يعني د دين د بربادولو دپاره۔ نو يهودو دا ټولے حرامے کولے۔
فَإِنْ جَآؤُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ : پدے کی نبی ﷺ ته اختیار ورکوی چه دوی له فیصله کول او نۀ کول تا ته سپارلے شویدی؟ نو بیا پدے کی د اهل علمو اختلاف دے چه آیا دا اختیار منسوخ شویدے او که اُوس هم باقي دے؟ ځینی مفسرین کرامؒ لیکی چه دا حکم د اختیار په روستو ﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ﴾ سره منسوخ شویدے۔
مگر راجح دا ده چه دا نۀ دے منسوخ، نو که چرته مونږ مسلمانانو (اسلامی خلافت) ته اهل ذمه راشي نو که د ظلم خبره وه او په يو چا باندے ظلم شوے وو لکه قتل، غصب وغيره نو مسلمانان به د ظلم دفعيه کوی او فيصله به کوی او که عام مسائل وو لکه معاملات، طلاق وغیره نو په هغے کی د حاکم اختیار دے چه فیصله ورله په اسلامی شریعت کوی او که هغوی ته ئے سپاری چه په خپل مینځ کی فیصله وکړئ۔ لکه دا تفصیل ابن عاشورؒ په خپل تفسیر (التحرير والتنوير) کی ذکر کړیدے۔
حکمت: علامه ابن عاشورؒ لیکی: رسول الله ﷺ ته ئے ولے اختیار ورکړو؟
وجه دا ده چه دلته د دوه سببونو تعارض دے، نو د عدل د قائمولو سبب تقاضا کوی چه د دوی ترمینځ فیصله وکړی او دوی چه د امتحان دپاره دے فیصلے ته راتلل یا د خپل خواهش مطابق حکم ئے لټولو نو دا سبب تقاضا کوی چه د دوی نه اعراض وکړی، دے دپاره چه نبوی حکم استخفاف (سپکاوی) ته وړاندے نشي۔ او د اختیار ابتداء ئے د فیصلے کولو نه وکړه پدے کی اشاره ده چه د دوی ترمینځ فیصله کول اولیٰ او غوره دی پدے وجه رسول الله ﷺ ورله فیصله وکړله۔ (التحرير والتنوير ۵/۱۰۹)
فَلَنْ يَضُرُّوكَ شَيْئًا : پدے کی نبی کریم ﷺ مضبوطول دی دے دپاره چه هغه په زړه کی د دوی نه دا خطره محسوس نکړی چه دوی به په مونږ باندے دلیل نیسی چه مونږ تاسو ته فیصلے له درغلی وو او تاسو مونږ نه مخ واړولو نو آینده کی به مونږ ستاسو دعوت نۀ آورو نو الله خپل نبی ته اطمینان ورکړو چه ددے نه څه ضرر او شر نۀ پیدا کیږی۔
او کیدے شی چه پدے اطمینان ورکولو کی به دے ته اشاره وی چه په هیڅ حال کی د دوی د ایمان طمع مه کوه۔ او دلته د شر او ضرر نه دا مطلب نۀ دے چه گنے نبی علیه

السلام د دوی د دشمنئ او تکلیفونو نه یریدو لکه چه بعض مفسرینو دغه مطلب اخستې دې۔ (التحریر والتنویر)۔

فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ: د قسط نه مراد قرآن او سنت دې چه پدې به فیصله کولې شي۔

دا د اسلام انصاف دې چه اګرکه د الله دشمنان دي لیکن الله فرمائي چه د دوی ترمینځ هم د انصاف نه کار واخله، مسلمان به هیڅکله خپل انصاف د چا د دشمنئ په وجه هم د لاسه نهٔ ورکوی، دا هغه صفت دې چه پدې سره د آسمان او زمکې تول نظام قائم پاتې کیدې شي۔

وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرَاةُ
او څرنګه به فیصله کونکې جوړ کړي دوی تا لره حال دا چه د دوی سره تورات دې،
فِيْهَا حُكْمُ اللهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَمَا أُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۳﴾
په هغې کې حکم د الله تعالیٰ دې بیا اوړي دوی روستو ددې نه او نهٔ دي دا کسان مؤمنان۔

تفسیر: یعنې د تعجب خبره ده چه تا فیصله کونکې ګرځوي او حال دا چه د دوی سره آسمانی کتاب تورات موجود دې او د هغې په فیصله باندې راضي نهٔ دي، نو په حقیقت کې دوی په هیڅ کتاب باندې ایمان نهٔ لري بلکه د خپلې آسانئ طلب کولو دپاره دا کار کوی۔

فِيْهَا حُكْمُ اللهِ: یعنې په هغې کې د رَجم په باره کې حکم موجود دې۔

ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ: یعنې دوی اوړي روستو د هغې نه چه دا حکم د رجم موجود دې او دوی په هغې باندې د ایمان دعوه هم کوی۔

وَمَآ أُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ: یعنې دوی په خپل کتاب ایمان نهٔ لري نو په تا به څه ایمان ولري؟! مطلب ئې دا دې چه ستا په فیصله راضي نهٔ دي لیکن خپل مقصد راخستی دی۔

قرطبیؒ لیکي چه ددې نه معلومه شوه چه څوك په شرعي حکم باندې راضي نهٔ وي او بل قانون ته خپله فیصله وړي نو هغه کافر دې او دا د یهودو حالت هم وو۔

إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ يَحْكُمُ بِهَا
یقیناً مونږ نازل کړې تورات په هغې کې هدایت او رڼا ده، فیصلې کولې په هغې سره

النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ أَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَ
پیغمبرانو هغه کسان چه تابع وو (د الله تعالیٰ) دپاره د هغه کسانو چه یهودیان وو او
الرَّبَّانِيُّوْنَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوْا
(فیصله به کوله) الله والا خلقو او علماؤ په سبب ددے چه طلب د حفاظت شوے وو د هغوی نه
مِنْ كِتَابِ اللهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ
د کتاب د الله تعالیٰ او وو دوی په هغے باندے ګواهان (یاخبردار) (دوی ته وئیلے شوی وو چه)
فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِآيَاتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا وَمَنْ
پس مهٔ یریږئ د خلقو نه او یره وکړئ ځما نه او مهٔ اخلئ په آیتونو ځما بدله لږه او چا
لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَافِرُوْنَ﴿٤٤﴾
چه فیصله ونکړه په هغه کتاب چه نازل کړے دے الله تعالیٰ نو دا کسان هم دوی کافران دی۔

تفسیر : اُوس تحکیم الکتب الثلاثة (درے کتابونو باندے فیصله کول) بیانوی، یعنی د الله کتابونه ددے دپاره راغلی وو چه پدے باندے به د خپلے خپلے زمانے والا خلك فیصله کوی۔ تورات والو ته حکم وو چه په خپله زمانه کی به په تورات فیصله کوئ او انجیل والو ته د هغوی په زمانه کی حکم وو چه په انجیل به فیصله کوئ او اُوس قرآن والو ته حکم دے چه په قرآن به فیصله کوئ یعنی د الله کتابونه ددے دپاره راغلی دی چه پدے باندے به بندګان فیصله کوی، دا واقعی خبره ده چه الله زمونږ رب دے، آسمانونه او زمکه د هغه دی او د بندګانو خالق دے نو پکار ده چه قانون هم د هغه وی،

او پدے باندے هیڅ بنده نهٔ راضی کیږی چه ښځه د هغه وی او واك ئے د بل چا وی۔ پدے وجه دغه خلك د الله ډیر لوی دشمنان دی چه د الله په شرع فیصله نکوی۔

نو پدے آیتونو کی توحید الحاکمیة او توحید التشریع او تحکیم الکتُبِ الثلاثه بیانیږی، یهودیانو پدے کی دوه فسادونه کړی وو، یو ئے مسئله د رجم ختمه کړے وه، او بل ئے د قصاص او دیت لکه هغه روستو آیت کی راځی۔

فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ : د الله په ټولو کتابونو کی هدایت او نور (رڼا) وی۔ یعنی کوم خلك چه الله ته د رسیدو طلبګاروی نو هغوی لره د شبهات او مشکلاتو د تیاره نه راویاسی او

رڼا ورته ورکوي۔

په هدايت سره لاره خودل کيږي او په نور سره په هغه لاره کې ښه او بد معلوميږي۔

د هدايت او د نور فرق

١- هدى کې د حقې عقيدې او د اعمالو بيان دے او د نور نه مراد په دليلونو سره د شبهاتو دفع کول دي۔ ٢- يا د هدى نه مراد احکام او شرائع دي او د نور نه مراد د توحيد او صحيح عقيدے بيان دے۔

يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ : دا مضارع ده په معنىٰ د ماضي سره، دا د علمِ بلاغت قانون دے چه کله کله يو تير شوے کار داسے کنټرول کيږي لکه چه تير شوے نهٔ وي، نو ددے جملے مطلب دا دے چه ته به وائے چه دا دے اُوس پيغمبران او نور حاکمان د تورات په مقتضىٰ لګيا دي فيصلے کوي۔

النبيون نه مراد موسىٰ عليه السلام او د هغه نه روستو تر عيسىٰ عليه السلام پورے پيغمبران دي۔

الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْآ : دا قيد ځکه لګوي چه څوك د الله په کتاب فيصلے کوي هغه د الله منقاد او تابعدار بنده دے۔ د اسلام معنىٰ ده تابعداري، او اخلاص۔

او دے نه معلومه شوه چه اسلام د ټولو انبياؤ عليهم السلام دين وو او يهود او نصاراؤ چه کوم د تفرقے او اختلاف اسباب په دين کې پيدا کړي وو هغه ټول باطل او ښکاره ګمراهي وه۔ (المنار)

لِلَّذِيْنَ هَادُوْا : يعنى دا فيصلے به ئے د يهوديانو دپاره کولے۔ او دے نه دا معلومه شوه چه تورات په هغه زمانه پورے د يهوديانو دپاره خاص وو او زمونږ د امت دپاره عام نهٔ دے۔ (المنار)

وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ : احبار او ربانيون دواړه علماء دي ليکن په ربانيون باندے عبادت غالب وي او په احبارو باندے علم۔

استحفاظ څه معنىٰ؟

بِمَا اسْتُحْفِظُوْا : اُسْتُحْفِظُوْا د استحفاظ نه دے او استحفاظ طلب د حفاظت ته وائي أَىْ طُلِبَ مِنْهُمْ حِفْظُ كِتَابِ اللّٰهِ ۔ د دوى نه طلب د حفاظت او ساتنے کړے شوے وو د کتاب د الله تعالىٰ۔ د بني اسرائيلو نه د دوه خبرو طلب شوے وو، يو دا چه د الله کتاب به د تحريف نه

ساتئ او خپله به پکې تحریف نهٔ کوئ او خلکو ته به ئے بیانوئ،

او بل دا چه ددے کتاب څارنه به کوئ چه نور څوك پکې گوتے ونهٔ وهي او دا ضائع نهٔ شي، او زمونږ د کتاب قرآن حفاظت الله تعالیٰ پخپله ذمه واری اخستے ده ﴿اِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا الذِّكۡرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوۡنَ﴾ (حجر :۹)۔

نو د بني اسرائیلو ربانینو او علماؤ هر چا په خپله خپله زمانه کې سپارلے شوے کار ترسره کړو او ښه په کلکه پرے ودریدل مگر دا کارئے په همیشه توگه ونکړے شو چه د دنیا پرستو د تحریفونو نه ئے بچ وساتی۔

وَكَانُوۡا عَلَيۡهِ شُهَدَآءَ : یعنی دوی په دے کتاب (تورات) باندے علماء (پوهه، خبردار) وو ځکه چه فیصله په یو کتاب باندے هله کیږی چه بنده په هغے پوهه وی۔

فائده : د الله په کتاب (او شرع) باندے خلك عمل او فیصله ولے نهٔ کوی ؟ نو ددے دوه سببه ښکاره کیږی (۱) یو خَشۡيَةُ النَّاس، د خلکو نه یره وی، لکه نن صبا اسلامی خلافت او حدود نشته ځکه چه مسلمانان ملکونه د کافرو نه یره کوی۔ او دویم حُبُّ الدُّنۡيَا، د دنیا د محبت د وجه نه، ځکه که حدودِ شرعیه او اسلامی خلافت راشی نو د ډیرو خلکو خواهشات او دنیا د هغوی په نیز خرابیږی نو ځکه دے ته نهٔ تیاریږی۔

نو ځکه الله بنی اسرائیلو ته وئیلی وو (فَلَا تَخۡشَوُا النَّاسَ وَاخۡشَوۡنِ)

فَلَا تَخۡشَوُا النَّاسَ : اَیۡ بِاِجۡرَاءِ اَحۡكَامِ اللّٰهِ۔

یعنی د الله د احکامو په جاری کولو کی به د هیچا نه یره نهٔ کوئ۔

وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِاٰيٰتِيۡ ثَمَنًا : یعنی زما د آیتونو په تحریف کولو او په هغے باندے د عمل نهٔ کولو په بدله کی به دنیا نهٔ غوره کوئ۔ لکه دوی به د مالدارو نه رشوتونه اخستل او د الله په کتاب کی به ئے تحریف کولو۔ دلته تلاوت د آیتونو نهٔ دے مراد۔

نو الله پدے آیت کی په یهودو رد کوی چه ستاسو پیغمبرانو او ستاسو احبارو او نیکانو تولو پدے خبره عمل کړے وو او تاسو د خپلو مشرانو لاره پریخوده او حکم بغیر ما انزل الله مو شروع کړو نو ځانونه مو کافران کړل ولے داسے غلطه لاره اختیاروئ۔ او دا کار مو د یرے د خلکو نه وکړو او د دنیا د محبت د وجه نه۔

بیا دا آیتونه د یهودو په باره کی نازل وو لیکن د مفسرینو اجماعی قاعده ده چه اعتبار عموم د الفاظو لره وی نهٔ خاص سبب لره۔

دویم دلیل : د حذیفه بن الیمان ﷺ نه نقل دی :

نِعْمَ الْإِخْوَةُ لَكُمْ بَنُو إِسْرَائِيلَ أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْمُرُّ وَلَكُمُ الْحُلْوُ]

يعنى بنى اسرائيل خو ستاسو دپاره ډير ښه ورونه دى چه ترخه آيتونه به د هغوى دپاره وى او خواږه به ستاسو دپاره وى!!۔

مطلب دا چه هغوى چه په كوم شى باندے گناهگار شوى او كافر شويدى نو هغے باندے به تاسو هم گناهگاريږئ او كافر كيږئ، داسے نۀ ده چه هغوى دِے په اشتراء بالآيات باندے گناهگاريږى، او د الله د شرعى نه په انكار دِے كافر كيږى او تاسو دے نۀ۔

مسئله د تحكيم

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ : حكم بغير ما انزل الله (يعنى د الله د قانون نه علاوه په بل قانون وضعى باندے فيصله كول) ددے په باره كى يو څو قوانين واوره:

١- اول دا چه دا كفر دے په اجماع د مسلمانانو باندے، وجه دا ده چه الله ورته كفر وئيلے دے نو كه څوك دے ته كفر نۀ وائى نو د قرآن خلاف راځى۔

پدے آيتونو كى الله تعالىٰ په يهودو باندے رد كوى چه ستاسو نه د تورات د حفاظت وعده اخستے شوے وه مگر تاسو د هغے پابندى ونكړه۔

٢- دويم پدے كى اختلاف دے چه دلته د كفر نه كوم كفر مراد دے آيا كفر دون كفر دے چه دے ته گناه كبيره وائى او كه دا كفر مخرج عن الملة دے۔

اكثر علماء د تفسير ليكى (لكه ابن جريرؒ، آلوسىؒ، ابن كثيرؒ، ابن القيمؒ وغيره) او ددے زمانے اكثر علماء لكه شيخ البانىؒ وغيره د هغوى رايه داده چه دا كفر حقيقى نۀ دے بلكه كبيره گناه ده، بنده پرے د اسلام نه نۀ وځى او د كفر اطلاق كله په گناه كبيره كيږى لكه حديث كى دى (وَقِتَالُهُ كُفْرٌ) د مسلمان سره قتال كول كفر دے۔

[مَنْ قَالَ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا] (بخارى : ٦١٠٣)

دارنگه چا چه په حالت د حيض كى جماع وكړه نو هغے ته هم كفر وئيل شويدے۔

بيا ددے علماؤ په نيز باندے څه قرينه او دليل دے چه دوى د كفر نه كبيره گناه اخلى؟ نو دوى دوه قرينے پيش كوى :

(١) يو د عبد الله بن عباسؓ اثر دے چه حاكمؒ په مستدرك كى ذكر كړيدے

[إِنَّهُ لَيْسَ بِالْكُفْرِ الَّذِى يَذْهَبُونَ إِلَيْهِ إِنَّهُ لَيْسَ كُفْرًا يُخْرِجُ عَنِ الْمِلَّةِ، كُفْرٌ دُونَ كُفْرٍ]

(مستدرك ٣٢١٩ وصححه ووافقه الذهبى، وابن كثير ١٦٣/٦ وابن جرير ١٠/٣٥٥/١٢٠٥٣)

السلسلة الصحيحة (٢٥٥٢)
دا هغه كفر نهٔ دے چه عام خلك ئے مراد كوى چه د دين نه بنده وباسى بلكه دا كفر دون كفر دے نو ابن عباسؓ يو فقيه صحابى او ترجمان القرآن دے نو د هغه تفسير لره به اعتبار وى،
دويمه قرينه : حكم بما انزل الله پريخودل معصيت (گناه) ده، او په معصيت سره بنده نهٔ كافر كيږى كله چه په زړه كى د هغے اقرار كوى نو دا عملى كفر دے نهٔ اعتقادى. (الصحيحه)
قول ثانى : دا مسئله پخوا د سلفو په دور كى نهٔ وه بلكه دا د تتاريانو نه روستو پيدا شويده ځكه چه هغوى كله راغلل نو يو وضعى قانون ئے جوړ كړو د اَلْيَاسِق په نوم، د دوى نه مخكى به خلكو په قرآن او سنت فيصلے كولے، كله كله به ئے په هغے باندے حكم پريخودو (گناه به ئے كوله) ليكن بل قانون ئے د هغے په خلاف نهٔ وو ايخودے لكه دا خبره روستو راځى.
په الياسق قانون كى د يهودو، د نصاراؤ او د اسلام نه مشترك څه قوانين وو، او جنگيزخان د خپلو بچو دپاره ليكلے وو، او دائے وئيلى وو چه د چا خوښه وى پدے دِے فيصلے كوى او كه د چا خوښه وى په اسلام دِے ئے كوى،
نو د هغه زمانے علماؤ په اجماع سره په دوى باندے د كفر فتوىٰ وركړه لكه شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، ابن قيمؒ، ابن كثيرؒ وغيره لكه حافظ ابن كثيرؒ په روستو (اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ) آيت لاندے ليكلى دى چه تتاريان مرتد عن الاسلام دى سره ددے نه چه دوى الله، رسول او قيامت منلو، مونځونه ئے هم څه ناڅه درجه كى كول، ليكن ددے قانون د كيخودو او د اسلام بعض د قوانينو نه د انكار په وجه كافر شو.
نو پدے باره كښى تفصيل د مسئلے دا دے چه حكم بغير ما انزل الله كښى ډير اقسام دى،
يو دا چه حكم بغير ما انزل الله حلال گنړى يعنى ځان له د كفارو قانون خوښ كړى او په هغے باندے راضى وى، او اسلام ئے بيخى شاته غورزولے وى،
يا د الله د قانون په خلاف بل قانون جوړوى او هغے باندے فيصلے كوى او هغه د الله د قانون نه ښه گنړى لكه يهودو چه رجم پريخودو ليكن د هغے په ځاى ئے جَلد او تَحْمِيم (دُرے وهل او مخ تورول) كيخودل، او دا ورته ښه ښكاره شو نو الله ورته پدے باندے كافر ووئيل نو كه زمونږ په امت كى څوك د الله د قانون په ځاى بل قانون حلال گنړى او د الله قانون او شريعت هميشه په تږ كرئ كى پروت وى، او خپل قانون ته نظامِ عدل وائى او د

هغے خلاف خلك جرم ګڼړي، نو دا هم كفر دے، ځکه چه پدے باندے د ټولو امت مسلمه اتفاق دے چه حرامو ته حلال وئيل كفر دے، ځكه چه د اسلام مخالف وضعي قانون حرام شے دے، او هركله چه بنده په هغے باندے فيصله جائز ګڼړي نو پدے طريقه به دا كافر ګڼړلے كيږي۔

بل دا چه د الله د قانون په خلاف يو بل قانون جوړول خپله يو لوی نقصان دے ځکه چه قانون تشريعي جوړول صرف د الله د صفاتو نه دی، او د الله صفت بنده ته وركول شرك دے،

دويم دا چه حكم په غير ما انزل الله باندے حلال نۀ ګڼړي، ليكن دا عقيده ئے وی چه حكم په غير قوانين شرعيه ؤ باندے احسن او افضل دے، او اسلامی قوانين هغه په پخوا زمانه كښ ښه وو، د هغه زمانے سره موافق وو ليكن اُوس نۀ چليږي، اُوس چه مونږ كوم احكام او قوانين ايجاد كړيدی دا د الله تعالىٰ د شريعت نه ډير ښه موزون دی، او د وخت مناسب دی، نو دا هم كفر دے،

دريم دا چه يو تن دا عقيده ساتی چه د انسانانو ايجاد كرده قوانين د الله تعالىٰ د شرعي قوانينو سره مساوی دی، او دا ټول يو شان دی، خو مقصد عدل او انصاف قائمول دی، كه هغه په هر قانون سره وی، برابره ده چه په شريعت سره وی او كه په نورو قوانينو سره وی۔ نو دا هم كفر دے،

څلورم دا چه د غير الله په قانون باندے فيصله وكړی د شهوت د وجه نه يا د دنيا د لالچ د وجه نه، ليكن دا عقيده ئے هيڅكله نۀ وی چه دا احكام او قوانين د الله د شريعت سره برابر دی، يا د شريعت نه بهتر دی، نو دا كفر دون كفر دے، او كفر اكبر كښ نۀ دے داخل، مګر دا هم د كبيره ګناهونو نه لويه كبيره ده، او په دے شخص باندے لويه خطره ده۔

او د سلفو علماؤ د كلام نه داسے تفصيل فهميږی، اګركه د بعضو د كلام نه اطلاق فهميږی ليكن غرض د هغۀ د كلام نه دغسے تفصيل دے، او دا هم فهم شوه چه هر حكم په غير ما انزل الله باندے كفر نۀ دے، ځکه چه قوانين وضعيه دوه قسمه دی، يو تشريعي دی، نو پدے باندے فيصلے كول او جوړول حرام دی، دويم غير تشريعي يعنی چه په هغے سره حلال او حرام نۀ ورانيږی بلكه امور اداريه وی لكه دفتری كارونه، ټريفك نظام، دا كفر نۀ دے ځکه چه اسلام ددے ممانعت نكوی۔

او ددے مثال اهل علمو داسے وركړيدے چه يو تن به زنا وكړه قاضی له به ګواهان راغلل مګر زناكار به رشوت وركړو يا به ئے خپلوان وو نو قاضی به غوښتل چه ددۀ نه حكم

شرعی واړوی نو ګواهان به ئے راګیر کړل او هغه به ئے په څه طریقه خطا راخطا کړل او د هغوی ګواهی به ئے رد کړه نو په زانی به ئے حد قائم نکړو۔ نو دلته قانون شته لیکن قاضی به په هغے عمل ونکړو د چا د مخ یا د رشوت د وجه نه نو پدے باندے کافر نهٔ وو بلکه ګناهګار وو۔

لهذا د تکفیر مسئله ډیره مشکله ده، هر چا ته دا حق نهٔ دے حاصل چه په تو هماتو او مسلسلاتو او احتمالاتو سره مسلمانانو ته کافر ووائی، ددے نه ډیر نقصانات پیدا کیږی، په مسلمانانو کی اختلاف او د علماؤ هتك او بی عزتی او د الله په دین کی د ځان نه خبرے کول راځی، یو اُمی سړے به وی، د مانځه او د اوداسه د مسائلو نه به خبر نهٔ وی، او د کفر ټاپی به لګوی، دا لوی جرم دے،

بلکه د هر چا دپاره اجمالًا دا خبره کافی ده چه هر څوك حکم بغیر ما انزل الله کوی نو هغه ګمراه دے، د الله د دین نه اوړیدلے دے، او تفصیلاتو لټولو سره ډیر نقصانات پیدا کیږی، کله یوه مسئله په علمی انداز کی یو شان وی لیکن د هغے تطبیق ډیر ګران وی، د انسان نه خُوَلے اُوباسی، په هر هر فرد باندے د هغے تطبیق انتهائی مشکل کار دے، پدے وجه دغه انسان چه د هغه په باره کی پوره معلومات د کفر نهٔ وی الله ته به ئے سپارے۔

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَا اَنَّ النَّفْسَ
او فرض کړے وو مونږ په دوی باندے په دے (تورات) کی دا خبره چه بیشکه وژلے به شی نفس
بِالنَّفْسِ لا وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ
په بدله د نفس کی او سترګه په بدله د سترګه کی او پوزه په بدله د پوزه کی او غوږ
بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ لا وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ط فَمَنْ
په بدله د غوږ کی او غاښ په بدله د غاښ کی او زخمونه بدلے والا دی، نو چا
تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ط وَمَنْ
چه معافی وکړه په دے سره (یعنی قصاص) نو دا به کفاره وی (ددهٔ د ګناهونو) او چا چه

لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٥﴾

فیصله ونکړه په هغه حکم چه نازل کړے دے الله تعالیٰ نو دغه کسان دوی ظالمان دی۔

تفسیر : دلته الله تعالیٰ د قصاص او د دیت مسئله د تورات نه رانقل کړیده، وجه دا ده چه یهودیانو دا حکمونه هم ضائع کړی وو، نو الله پدے آیتِ کریمه کی یهودیانو ته زورنه ورکړیده ځکه چه په تورات کی دا نص موجود دے چه د نفس په بدله کی به نفس اخستے کیږی، لیکن دوی قصداً ددے مخالفت وکړو او هغه دا چه په مدینه کی بنو نضیر او بنو قریظه وسیدل او بنو نضیر قوی وو، نو کله چه به یو قرظی راولګیدو او یو نضری به ئے مړ کړو نو قصاص به ئے ترے اخستو او که نضری به قرظی قتل کړو نو قصاص به ئے ترے نهٔ اخستو بلکه دیت به ئے ورکولو او دا به ئے ویل چه زمونږ وینے برابرے نهٔ دی، نو دارنګه دیت کی به ئے هم دغسے کول که قُرَظِي به نضری لره قتل کړو نو د دوه کسانو دیت به ئے ترے اخستو او که نضری به قرظی لره قتل کړو نو یو دیت به ئے ورکولو نو هرکله چه رسول الله ﷺ مدینے ته راغلو، بنو قریظهٔ بنو نضیرو ته وویل چه اُوسه پورے تاسو په مونږ ظلم کړیدے نو مونږ پدے نهٔ راضی کیږو نو پدے وخت کی ئے رسول الله ﷺ ته فیصله راوړه نو هغه ورله ددے آیت مطابق فیصله وکړه چه په تورات کی داسے حکم دے چه نفس په بدله د نفس کی دے، پدے کی غنی او فقیر، بادشاه او ګدا ټول یو برابر دی او دیت معاف کولے هم شیٔ۔ نو الله دلته د تورات دغه حکم رانقل کړو او بنو قریظه او بنو نضیرو چه کوم ظلمی قوانین ایخودی وو نو هغه ئے رد کړل۔ نو دوی یو د رجم او بل د قصاص او دیت په باره کی د تورات مخالفت کی واقع شوی وو۔

فقهاء او د اصولو علماؤ ددے آیت نه دلیل نیولو سره وئیلی دی چه د تیر شوی شریعتونو کوم احکام چه په قرآن کی بیان شویدی او دا منسوخ نهٔ وی ګرځولے شوی نو هغه زمونږ دپاره هم واجب العمل دی۔ د اسلام د ټولو علماؤ پدے اتفاق دے۔

اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ :

ټولو ائمه کرامو ددے آیت نه دلیل نیولو سره وئیلی دی چه سړے به د ښځے په بدل کی قتل کیږی۔ او رسول الله ﷺ چه عمرو بن حزمؓ ته کوم خط لیږلے وو په هغے کی هم نبی ﷺ فرمایلی وو چه سړے به د ښځے په بدل کی قتل کیږی۔ (نسائی)۔

او رسول الله ﷺ دا هم وفرمایل : [اَلْمُسْلِمُوْنَ تَتَكَافَؤُ دِمَائُهُمْ] د ټولو مسلمانانو وینے یو

برابر دی، (باشاه، گدا، مالدار او غریب، ښځه او سړے تول یو شان قدر والا دی) (ابـــوداود: ۳۷۵۳) صحیح) امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ددے آیت د عموم نه دلیل نیولو سره وئیلی دی چه د کافر ذمی په بدل کی به مسلمان او د غلام په بدل کی به آزاد قتل کیږی- لیکن جمهور علماؤ پدے دواړو مسائلو کی د هغوی مخالفت کړیدے، ځکه چه په صحیحینو کی د علی بن ابی طالب ﷺ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل:

((مسلمان به د کافر په بدل کی نهٔ قتلیږی))

دغه شان د سلفو امامانو ډیر آثار شته چه د غلام په بدله کی به آزاد نهٔ قتلیږی-

امام شافعی رحمة الله علیه د اسلام د امامانو نه پدے باره کی اجماع نقل کړیده- (تیسیر الرحمن)- د امام ابوحنیفهؒ قول مرجوح دے ځکه چه حدیث نهٔ دے ور رسیدلے-

وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ : دلته مراد داسے زخمونه دی چه د هغے قصاص اخستل ممکن وی لکه ژبه، شونډے، مخ او د جسم د باقی حصے زخم، د کومو زخمونو د قصاص اخستو نه چه د اندام د ضائع کیدو خطره وی یا هغه چه د هغے مقدار ژور والے، پلنوالے او اوږد والے معلومول ممکن نهٔ وی په هغے کی به قصاص نهٔ نافذ کیږی- لکه هډوکے ماتول، او د غوښے زخم، نو پدے کی به قصاص نهٔ بلکه حُكُوْمَةُ عَدْلٍ وی یعنی یو عادل سړے به فیصله وکړی د هغے مطابق به دیت ورکړے شی- (محاسن التاویل)

او دا هم هله چه په قصدی توګه وشی او که په خطاء سره وشی نو بیا په زخمونو کی قصاص نشته لکه ځنګه چه په قتل خطاء کی قصاص نشته-

فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ : یعنی چا چه په قصاص سره صدقه وکړه او قاتل او جارح (زخمی کونکے) ئے معاف کړو نو دا به ددهٔ ګناهونه ورژوی ځکه چه د مال د صدقے نه د نفس او د اندامونو صدقه ډیره لویه ده- ځکه چه د نفس دیت سل اوښان او د یوے سترګے دیت پنځوس اوښان دی، داسے شوه لکه چه تا سل یا پنځوس اوښان صدقه کړی وی-

او دا معافی ئے په لفظ د صدقه سره ذکر کړو پدے کی معافی کولو ته ترغیب ورکول مقصود دے-

۲- دویم مطلب دا هم کیدے شی چه که د حق والا معافی اوکړی نو د زیاتی کونکی نه قصاص او نور حقوق په دنیا کی ساقطیږی-

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ : **حکمة** : د رجم په باره کی چونکه دوی په تورات کی تحریف اوکړو او د الله قانون ئے بدل کړے وو او د انکار شان صورت ئے اختیار کړے وو نو ځکه ئے

وفرمایل شوك چه دالله په قانون فیصله ونكړي هغه به كافر وي او دلته دوی ته ظالمان وویل شو ځكه چه دوی د مظلوم سره انصاف نهٔ وو كړے او په مظلومانو به ئے ظلم كولو.
او دا هم معلومه شوه چه چا د قصاص د قانون نه اعراض وكړو یا ئے په هغے كې څه تغییر او تبدیلي وكړه لكه د یهودیانو په شان نو دا سبب د ډیرو ظلمونو دے.

وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا
او راولیږهٔ مونږ روستو د پیغمبرانو پسے عیسیٰ ځوی د مریم تصدیق كونكے د هغے
بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ فِيهِ هُدًى
چه مخكې ددهٔ نه دے د تورات نه او وركړے وو مونږ دهٔ ته انجیل په هغے كې هدایت
وَّنُوْرٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ
او رڼا وه او تصدیق كونكے د هغه څه چه مخكې د هغه نه وو د تورات نه
وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ﴿٤٦﴾
او هدایت او نصیحت وو دپاره د پرهیزګارانو.

تفسیر : د تورات سره متعلق حكم بیانولو نه روستو اُوس د انجیل متعلق حكم بیانیږي. الله تعالیٰ د موسیٰ عليه السلام نه روستو د بني اسرائیلو د لارخودنے دپاره ډیر انبیاء علیهم السلام راولیږل، ددے ټولو نه روستو عیسیٰ عليه السلام راولیږلے شو چه هغه ته الله انجیل وركړو، او چه هغه د تورات تصدیق اُوكړو او د هغے بعض احكام ئے په انجیل كې د نازل شوي آیتونو په ذریعه منسوخ اُوګرځول.
مګر دوی د پیغمبرانو بې احترامي وكړه او د هغوی د وژلو اقدام ئے وكړو، او نهٔ ئے د هغوی دكوم كتاب احترام وساته چه تحریف ئے پكې نهٔ وے كړے حال دا چه د دوی هر پیغمبر د بل پیغمبر او د هغه د كتاب تصدیق كولو.
وَقَفَّيْنَا : په لفظ د (قَفَّيْنَا) كې اشاره ده چه د عیسیٰ عليه السلام دین او د مخكنو انبیاؤ دین بیخي یو شان وو.
عَلَىٰٓ آثَارِهِمْ : دا ضمیر مخكې (النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ أَسْلَمُوْا) ته راجع دے.
مُصَدِّقًا : یعني عیسیٰ عليه السلام د انجیل د نازلیدو نه مخكې د تورات تابع وو، د هغے بیان

به ئے کولو او بیا ورته روستو انجیل په خصوصی طور سره ورکړے شو۔
د تورات او د انجیل په احکامو کی ډیر لږ فرق وو لیکن دا فرق منافی نۀ دے د تصدیق سره۔
او ددے نه معلومه شوه چه په پیغمبرانو کی څه اختلاف نۀ وو او نۀ په تورات او انجیل کی د یو بل مخالفت موجود وو چه دا د دوی د انکار او د غصے سبب جوړ شوے وے۔
وَهُدًى : دائے ذوباره وویلو یا خو تاکید مقصد دے چه د الله په کتاب کی کامل هدایت دے۔ یا دا چه اول هدایت نه مراد د احکامو هدایت دے او دویم هدایت نه مراد دا چه بشارت د محمد ﷺ هم پکی وو چه دا لوی هدایت دے۔ او په اُوسنو انجیلونو کی هم دا بشارات موجود دی، یا دا هدایت د عقیدو دے۔
وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِيْنَ : پدے کی اشاره ده چه په بنی اسرائیلو کی د تقوىٰ استعداد نۀ وو ورنه دوی بلا هدایته او بی رڼا او بی نصیحته نۀ وو پریښودل شوی۔
فائده : دلته ئے د عیسیٰ علیه السلام سره هم مصدقا ذکر کړو او د تورات سره هم، اګرکه تورات دپاره د انجیل تصدیق هو بهو د عیسیٰ علیه السلام تصدیق دے مګر دواړو ځایونو کی ئے جدا جدا ذکر کړو دے دپاره چه د بنی اسرائیلو اعتراض کونکو دپاره د اعتراض هیڅ ځای پاتی نشی۔

وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ط
او فیصله دِے وکړی انجیل والا په هغه څۀ چه نازل کړیدی الله تعالیٰ په هغے کی
وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾
او چا چه فیصله ونکړه په هغه حکم چه نازل کړیدے الله نو دا کسان هم دوی نافرمان دی۔

تفسیر : انجیل والو ته د تورات والو په شان دا حکم د نبی کریم ﷺ د بعثت نه مخکی ورکړے شوے وو چه پدے کتاب به فیصله کوئ، د رسول الله ﷺ د بعثت نه روستو دا حکم منسوخ شو او ټولو انسانانو ته صرف په رسول الله ﷺ باندے د ایمان راوړلو او د قرآن کریم فیصله کونکے ګرځولو حکم اُوشو۔
وَلْيَحْكُمْ : أَيْ قُلْنَا لَهُمْ فِيْ زَمَانِهِمْ وَلْيَحْكُمْ۔ یعنی هغوی ته ما په خپله زمانه کی وئیلی وو، لکه دا خبره اجماعی ده۔ ۲- او که دا مراد وانخستے شی او خبره په ظاهر پریښودے شی نو بیا به مطلب دا وی چه اُوس انجیل والو ته حکم دے چه په مَا أَنْزَلَ الله یعنی انجیل

به فیصله کوی، او په انجیل فیصله بعینهٖ په قرآن فیصله ده ځکه چه په انجیل کې ئے لیکلی دی چه روستو به یو نبی او یو کتاب راځی په هغې به ایمان لرئ او په هغې به فیصلے کوئ۔

۳- دریم قول دا هم دے چه دا په اعتقادیاتو کې مراد دے، یعنی په انجیل کې صحیح عقیدے ټولے د قرآن مطابق دی، د توحید، رسالت، او د قیامت تذکرے پکې دی۔

هُمُ الْفٰسِقُوْنَ : دلته د الله د حکم مطابق فیصله نهٔ کونکو ته فاسقان وئیلے شویدی یعنی داسے خلق د خپل رب د اطاعت او حق لاره پریخودو سره باطل طرف ته مائله کیدونکی دی۔

فائده ۱ : دلته درے قسمه فتوے وشوے ځکه چه معصیت درے قسمه دے، اول په طریقه د انکار سره دے نو هغه کفر دے، او دویم په طریقه د اعتداء کولو سره دے د حدِ شرعی نه نو هغه ظلم دے او دریم په طریقه د نقصان کولو سره دے د حد شرعی نه نو هغه فسق دے۔

۲- **فائده** : کفر په یهود او نصاراؤ دواړو کې موجود وو نو اول ئے هغه ذکر کړو بیا په یهودیانو کې ظلم زیات وو تردے چه په مخالف دین والو باندے هر قسم ظلم جائز ګنړی نو پدے وجه ئے د تورات والو سره د ظلم صفت ذکر کړو او په نصاراؤ کې د ظلم د جائز والی عقیده نهٔ وه او د الله په احکامو کې به ئے تفریط کولو نو پدے وجه د دوی سره فاسق لفظ ذکر شو۔ (احسن الکلام)

وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ
او نازل کړے مونږ تا ته کتاب (قرآن) د حق دپاره تصدیق کونکے دے د هغې چه مخکې ددهٔ نه دی
مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ
د کتابونو نه او امانتګر دے په هغې باندے نو فیصله وکړه په مینځ د دوی کې په هغه حکم
اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ هُمْ عَمَّا
چه نازل کړیدے الله تعالیٰ او تابعداری مهٔ کوه د خواهشاتو د دوی (چه اوړیدونکے ئے) د هغې نه
جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؕ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً
چه راغلے دے تا ته د حق نه، د هر چا دپاره مقرر کړیدے مونږ ستاسو نه (دا قرآن) شریعت

وَّمِنۡهَا جًا ؕ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمۡ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰـكِنۡ
او لویه لاره، او که اراده شوی وی د الله تعالیٰ نو خامخا گرځولی به ئے وی تاسو ډله یوه لیکن
لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِىۡ مَاۤ اٰتٰـكُمۡ
(اختیارئے درکړیدی) دی دپاره چه امتحان اُوکړی په تاسو په هغه څه کی چه درکړی ئے دی تاسوته
فَاسۡتَبِقُوا الۡخَيۡرٰتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرۡجِعُكُمۡ
پس مخکی والی کوئ د یو بل نه نیکیو ته خاص الله ته واپس کیدل دی ستاسو
جَمِيۡعًا فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ فِيۡهِ تَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۴۸﴾
د ټولو نو خبر به درکړی تاسو ته په هغه څه چه تاسو په هغی کی اختلاف کولو۔

تفسیر : د تورات او انجیل د فضیلت او اهمیت بیانولو نه روستو اُوس د قرآن کریم عظمت او اهمیت او په مخکنو کتابونو باندی ددهٔ فوقیت بیانیږی۔ قرآن کریم د نورو آسمانی کتابونو تصدیق کونکے، او په هغوی باندی غالب او د هغوی ټولو نگران او نگهبان گرځولے شویدے۔

ددے مطلب دا دے چه قرآن کریم د تمام آسمانی کتابونو د منزل من الله کیدو تائید کوی (چه دا ټول د الله د طرف نه نازل شوی وو) او د هغوی د اخباراتو تصدیق کوی او د هغوی د غیر منسوخ احکامو توثیق کوی، او د منسوخ احکامو وضاحت کوی، په هغے کی د موجود اصولو او مبادیو حفاظت کوی، او په هغه ټولو کتابونو باندے غالب دے، ځکه چه د محکم او منسوخ احکامو مرجع اُوس صرف قرآن دے۔ او د هغه ټولو امین او نگران دے، ځکه چه اُوس صرف قرآن بنائی چه د هغه مخکنو آسمانی کتابونو کوم احکام قابل د عمل دی او کوم پریخودلے شویدی؟۔

پدے وجه (اے زما رسوله !) ته د دوی ترمینځ صرف په قرآن سره فیصله کوه، او د حق نه اوړیدو سره د تیر شوی دینونو والو د خواهشاتو تابعداری مهٔ کوه۔

مِنَ الۡكِتٰبِ : کتاب دلته جنس دے ټولو کتابونو ته شاملیږی۔

وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِ : اَیْ حَافِظًا عَلَیْهِ ۔ د هغے حفاظت کونکے دے۔ امام بخاریؒ معنیٰ کوی : أَمِيۡنًا عَلَيۡهِ۔ یعنی امانتگر او نگهبان دے په هغوی باندے، او حاکم او شاهد او عالی دے

(قاسمیؒ، زاد المسیر) یعنی په هغوی کی چه چا زیادت او کمے کړیدے نو قرآن د هغے نښانده هی کوی او د هغے تردید کوی لکه د رجم، او قصاص او دیت او قتل او د اشتراء بالآیات مسئلے شوے۔ او کومه چه صحیح خبره ده هغه ئے ورله برقرار پریخوستے ده۔
علماء فرمائی: هرکله چه قرآن کریم په ټولو آسمانی کتابونو مهیمن دے نو دا به په ټول تصنیف شده کتابونو مهیمن وی نو په هر کتاب کی چه د قرآن موافق خبره وه هغه به صحیح وی او که د قرآن خلاف وه نو هغه به غلطه وی۔
او په مُهَيْمِنًا کی یهودو او نصاراو ته دعوت ورکولو ته اشاره ده چه دے کتاب باندے ضرور ایمان راوړئ ځکه چه انکار د مُصدِّق مستلزم وی انکار د مُصَدَّق لره۔
علامه محمد رشید رضاؒ وائی :
[وَالظَّاهِرُ مِنْ مَجْمُوعِ الْأَقْوَالِ أَنَّ الْمُهَيْمِنَ عَلَى الشَّيْءِ هُوَ مَنْ يَقُوْمُ بِشُئُوْنِهٖ وَيَكُوْنُ لَهٗ حَقُّ مُرَاقَبَتِهٖ وَالْحُكْمُ فِيْ أَمْرِهٖ بِحَقٍّ وَالْقِيَامُ بِالْأَمْرِ يَسْتَلْزِمُ الْمُرَاقَبَةَ وَالشَّهَادَةَ عَلَيْهِ]۔
د ټولو اقوالو نه دا خبره ښکاره کیږی چه په یو شی باندے مهیمن هغه چا ته وائی چه د هغے د کارونو پروګرام کوی او هغه دپاره د مراقبے (لحاظ ساتنے) حق وی او د هغے په کارونو کی په حق سره فیصله کوی او د هغے ګواهی کوی، او دلته چه کومو مفسرینو د مهیمن نه دا معنیٰ اخستے ده چه قرآن د مخکنو کتابونو دپاره ګواهی کوی چه هغه د تحریف او تبدیل نه محفوظ دی نو دا ډیره غریبه او د لفظ نه جدا خبره ده۔ (المنار ٦/٣٤٠)
بَيْنَهُمْ : کی اشاره ده یهود او نصاریٰ او دے امت ته۔
اَهْوَآءَ هُمْ : په اهواء کی هغه مسائل او احکام داخل دی چه اهل کتابو د ځان نه جوړ کړیدی او په تورات او انجیل کی ئے داخل کړیدی۔
عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ : دا متضمن دے اعراض لره أَيْ مُعْرِضًا عَمَّا جَاءَكَ چه ته اعراض وکړے د حق نه ځکه چه د خواهشاتو تابعداریٔ سره د حق نه اعراض خامخا راځی۔
لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَا جًا : ١- دے کی د مجاهدؒ تفسیر دا دے چه د جَعَلْنَا دپاره مفعول (الْقُرْآنَ) پټ دے۔ أَيْ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمُ الْقُرْآنَ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا۔
یعنی په تاسو کی د هر چا دپاره (یهود او نصاریٰ او مسلمانانو دپاره) مونږ قرآن کریم شرعة او منهاج ګرځولے دے۔ اُوس به ټول فیصلے صرف په قرآن کوئ۔
دا تفسیر د شریعت د اصولو مطابق دے او دلته مراد دے لیکن
٢- ډیر ظاهر تفسیر دا دے چه په هره زمانه کی الله تعالیٰ د هر قوم دپاره شریعت او دین

مقرر کړې وو نو تاسو له الله تعالیٰ اسلام در کړيدې نو ددې تابعداری په تاسو لازمه ده۔ او دا تفسير د علي بن ابي طالب ؓ او د قتادهٓ نه نقل دې۔ (المحرر الوجيز ۲/ ۲۰۰)

وَلَوْشَآءَ اللّٰهُ : يعني كه الله غوختلې نو تهولو انسانانو دپاره به ئې يو دين او يو كتاب او يو رسول راليږلې وې، حلال او حرام، عقائد او نظريات به د تهولو دپاره يو شان وې ليكن پدې كې د الله تعالىٰ مقصد په هغوى باندې امتحان كول وو چه څوك تعصب كوى او څوك نهٔ، پدې وجه په مختلفو زمانو كې مختلف انبياء او رسولان او ګنړ دينونه ئې نازل كړل دې دپاره چه الله اُوګورى چه څوك د هغه د مشيت مطابق د خپلې زمانې په شريعت باندې عمل كوى او څوك د خپلو خواهشاتو تابعدارى كوى۔ او آيا يهود د نصاراؤ د دين پسې ورځى او كه نهٔ ؟ او بيا دواړه (يهود او نصارىٰ) د اسلام پسې ورځى او كه نهٔ؟

او كه د تهولو خلكو يو دين وې او مثلاً تورات كتاب وې نو بيا به ئې اختلاف نهٔ راتلې نو امتحان به نهٔ وو۔

د شرعة او منهاج فرقونه

شرعة او شريعة په اصل كى ګودر ته ورغلې لارې ته وائى، او دا د شروع نه اخستې شويدې په يو كار شروع كيدو ته وائى نو ددې وجه نه شريعت د لارې ابتداء ته وائى چه خلك د هغې نه شروع كوى پدې وجه شرائع الاسلام ته شرائع ځكه وائى چه پدې كى مسلمانان شروع كوى او منهاج په اصل كى (اَلطَّرِيْقُ الْبَيِّنُ الْوَاضِحُ) ښكاره لارې ته وائى۔ (المنار)

۱- شرعة وړه لاره چه فروعى احكامو يعنى احكام عمليهؤ ته اشاره ده، او منهاج لويه لاره چه اصولو او معتقداتو ته اشاره ده۔ (المحرر الوجيز ۲/ ۲۰۰)

بيا په تهولو دينونو كې اصول تقريباً يو شان دى او احكام عمليهؤ كې فرق دې۔

۲- ابن عباسؓ او مجاهدؒ او ابوعبيدهؒ وائى چه أَيْ سَبِيْلًا وَسُنَّةً شرعة سنت ته وائى او منهاج ښكاره لارې ته وائى دا تفسير په طريقه د لف نشر غير مرتب سره دې۔ (بخاريؒ)

۳- شرعة ابتداء د لارې ته وائى او منهاج مستمرې (هميشه تللو والا) لارې ته وائى۔

٤- اَىْ شَرِيْعَةً مُوْصِلَةً اِلَى اللّٰهِ۔ وَمِنْهَاجًا : اَىْ طَرِيْقًا وَاضِحًا فِي الدِّيْنِ تَجْرُوْنَ عَلَيْهِ۔

يعنى شرعة داسې لاره ده چه الله ته رسونكې ده، او منهاج يعنى په دين كى ښكاره لاره چه تاسو په هغې باندې روانيږئ۔ (محاسن التاويل للقاسمي)۔

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ : يعنى هركله چه په تاسو امتحان دے نو تاسو ټول نيكيو ته مخكې والے وكړئ۔ خيرات هر عمل صالح ته وائي چه د رسول الله ﷺ په تابعدارئ سره وي، او په شريعت كې ثابت وي۔ او دلته ابن كثيرؒ ليكلي دي چه مراد ددے نه د الله طاعت او د رسول الله ﷺ اتباع او د قرآن كريم تصديق دے۔ او مطلب دا دے چه په وخت د اختلاف د خلكو كې په قرآن او سنت پسے روان شئ۔

مَرْجِعُكُمْ : دا يا مصدر دے په معنىٰ د رجوع سره يعنى واپس كيدل۔ يا ظرف دے يعنى ځاى د واپسئ۔

فَيُنَبِّئُكُمْ : يعنى هلته به حق او باطل جدا جدا معلوم شي، او دارنګه جزاء او سزا به دركړي۔

وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ
او دا (حكم دے تا ته) چه فيصله كوه په مينځ د دوى كې په هغه كتاب چه نازل كړيدے
وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ هُمْ وَاحْذَرْهُمْ
الله تعالىٰ او تابعدارى مۀ كوه د خواهشاتو د دوى او ځان ساته د دوى نه
اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ؕ فَاِنْ
(هسے نۀ) چه واړوى تا لره د بعض هغه نه چه نازل كړيدے الله تعالىٰ تا ته نو كه
تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّصِيْبَهُمْ
واوړيدل دوى نو پوهه شه چه بيشكه اراده لرى الله تعالىٰ چه عذاب ورسوى دوى ته
بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿٤٩﴾
په سبب د بعض ګناهونو د دوى، او يقيناً ډير د خلقو نه خامخا نافرمان دي۔

تفسير : دا د مخكنى رجم متعلق تپوس سره تعلق لرى اَىْ وَآمُرُكَ اَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ۔ يعنى زۀ تا ته دا حكم كوم چه د دوى ترمينځ په ما انزل الله فيصله وكړه۔

ددے آيت په باره كې ځينى مفسرينو لكه ابن عباسؓ، مجاهدؒ، عكرمةؒ، سدىؒ، عطاء الخراسانىؒ وئيلى دى چه دا ناسخ دے د مخكنى اختيار د فيصلے د اهل كتابو ترمينځ (فاحكم بينهم او اعرض) نو بس اُوس دا اهل كتابو ترمينځ په قرآن باندے فيصله واجب

ده، (ابـن کثیـرؒ) او ائمـه ثـلاثه (مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ) او نخعیؒ او شعبیؒ وائی چه دا حکم ناسخ نهٔ دے د مخکنی حکم بلکه اختیار اُوس هم باقی دے، او دلته (ان احکم) د مقدمے په طور وئیل شویدے د روستو (وَلَا تَتَّبِعۡ او وَاحۡذَرۡهُمۡ) دپاره، یعنی د الله په قانون ورله فیصله کـوه او پـه خـواهـش سره ئے ورله مهٔ کوه، او دا خبره ورسره ملگرے ده چه که ستا خوښه وه فیـصلـه ورله وکړه یا نهٔ خو که فیصله کوے نو بیا به د خواهش په وجه نهٔ وی۔ نو د دواړو خبرو منافات نشته۔ او همدا قول راجح دے۔ (قرطبیؒ، محاسن التاویل)

ځینـو عـلـماؤ وئیلـی دی چـه مخکی (فاحکم بینهم بما انزل الله) والا حکم د هغه اهل کتـابـو پـه بـاره کی رسول الله ﷺ ته شوے وو چه هغوی په حقیقت کی د فیصلے اخستو دپاره نـهٔ وو ورغلی بلکه ددے دپاره ورغلی وو چه په خپل تحریفی حکم باندے د رسول الله ﷺ ژبـه واړوی او بهـانـه جوړه کړی چه مونږ د یو نبی په خبره عمل کړے وو، او دلته هغه اهـل کتـاب (کافران) مراد دی چه نبی کریم ﷺ ته د فیصلے دپاره ورغلی وو لیکن هغوی غـوښتـل چـه فیصله د هغوی د خواهش او غرض مطابق وکړے شی لکه ددے په باره کی مفسرینو د ابن عباس رضی الله عنهما نه یو شان نزول نقل کړیدے :

یـوه ورځ د اهـل کتابو یوه ډله نبی کریم ﷺ ته ورغله چه په هغوی کی (کعب بن اسد، عبـد الله بن صوریا، شاس بن قیس) وو، ورته ئے ووئیل : اے محمده (ﷺ) ! ته پوهیږے چه مـونږ پـه یهودو کی اشراف او احبار (علماء) یو، که مونږ ستا اطاعت وکړو نو ټول یهودیان بـه ستـا اطاعـت وکړی، او زمونږ او د یو بل قوم ترمینځ څه لانجه ده او مونږ دواړه جانبین غـواړو چـه تـه راته لانجه حل کړے، نو که ته زمونږ د غرض مطابق فیصله وکړے نو مونږ دربـانـدے ایمان راوړو، او په نتیجه کی به ټول یهودیان ایمان راوړی نو الله تعالیٰ ذکر شوے آیـت نـازل کړو او رسول الله ﷺ ته ئے وفرمایل چه ته په هغه شی فیصله کوه چه الله نازل کړیدے او ښه متوجه شه چه هسے نه چه اهل کتاب تا د حق نه وانهٔړوی۔

(رواه ابن جریر وابن ابی حاتم – القرطبی، واسباب النزول للواحدی وابن کثیر۳/۱۳۱)

وَلَا تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ : دا رسول الله ﷺ تـه امـر دے پـه هـغـه خاص مسئله کی بیا ټولو حـاکـمـانو او قاضیانو ته خطاب دے چه تاسو ته هرڅوك راشی نو د هغوی خواهش ته به نهٔ گورئ، یو سړے ووائی چه زهٔ ډیر مجبوره یم او زما دپاره فیصله وکړه، دارنگه عالِم له یو مستفتی راشی نو د هغه خواهش ته به نهٔ گوری بلکه د الله حکم ته به گوری، ډیر خلك د مـجرم ملگرتیا وکړی، او د الله د حکم لحاظ ونهٔ ساتی، په مجرم باندے آسانی راولی کومه

چه الله نهٔ وي ورکړي، او الله يو شے نهٔ وي جائز کړے او دے ئے ورله جائز کوي، لکه د حلالے نکاح شریعت حرامه کړیده او دے ته ئے زنا وئيلے ده او ډير مليان د طلاقيانو دپاره حلالے کوي، او ښځے ورله بيرته راواپس کوي د هغه د خواهش پوره کولو دپاره، دا سراسر ظلم دے، يو تن به تا ته ووائي چه ما له د خپل مذهب مطابق فتوىٰ راکړه نو تهٔ به د شريعت مطابق جواب ورکوے، نهٔ د مذهب مطابق، کله چه د مذهب خبره د قرآن او حديث مخالفه ښکاره شي۔

وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ : يعني ځان بچ کړه ددے خبرے نه چه چرته تا واړوي د بعضو خبرو د ما انزل الله نه۔ پدے کی اشاره ده چه د ټولو خبرو نه خو دے نشي اړولے ليکن په بعض مسئلو کی به وسوسے دراچوي چه که تا زمونږ د مزاج مطابق فيصله وکړه نو الله به اجر درکړي او کله به پکی تا ته مصلحت هم ښکاره کيږي لکه د هغوي د زړونو تاليف (رامائله کول) او هغوي اسلام طرفته راجذب کول وي مگر حق داسے شے دے چه دے ته به باطل نشي وسيله کولے۔ (تفسير المنار٦/٣٤٨)۔

يفتنوك: د فتنے نه دے په معنىٰ د اړولو سره۔

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ :

پدے کی تصريح ده چه د ما انزل الله د حکم نه مخ اړول په دنيا کی د عذاب سبب دے۔

سوال

دلته ئے ووئيل چه دوي ته په بعض گناهونو سزا ورکوي نو آيا په ټولو گناهونو سزا نهٔ ورکوي؟ جواب دا دے چه په دنيا کی مصيبت صرف په بعض گناهونو راځي ځکه که په ټولو گناهونو راشي نو بيا بنده هلاکيږي۔ ﴿ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ﴾ (فاطر: ٤٥)۔ نو په ډيرو گناهونو د بندگانو باندے الله صبر کوي، عذاب پرے نهٔ ورکوي او په آخرت کی په ټولو گناهونو سزا ده ځکه چه هغه د حساب ورځ ده۔

نو دے ته ضرورت پاتے نشو چه دلته مونږ (بعض) په معنىٰ د (کُل) سره واخلو، ځکه چه دا آيت د دغه مخکنی آيت مطابق شو۔

يُصِيْبَهُمُ اللّٰهُ: ددے مصيبت نه مراد بدني تکاليف، اقتصادي او مالي بحرانونه، قتل وقتال، اختلافات، د دشمن غلبه وغيره دي۔

او حافظ ابن کثيرؒ وئيلي دي چه ددے معنىٰ دا ده چه هرکله دوي د خپل حق او د الله د

شریعت نه مخالفت وکړو نو د الله د حکمت تقاضا دا شوه چه دوی ئے د هدایت نه په سبب د مخکنو گناهونو سره واړول۔ (ابن کثیر۳/۱۳۰)

وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ : پدے کی الله د انسانانو عیب او زجر بیانوی چه دوی اکثر نافرمان دی۔

اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ط وَمَنْ اَحْسَنُ
آیا پس فیصلے د جاهلیت (ناپوهئ) لټوی دوی او څوك دے ډیر ښائسته
مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۵۰﴾
د الله نه په فیصله کی دپاره د هغه قوم چه یقین لری۔

تفسیر : پدے کی د هغه خلقو رد دے چه د الله شریعت پریدی کوم کی چه هر خیر دے او د انسانانو وضع کړے شوی افکارو، نظریاتو، او قوانینو او احکامو تابعداری کوی، د انسان قانون خو د هغه د جهل او د خواهش نه مرکب دے، ځکه چه انسان ظالم او جاهل دے نو ددهٔ په قانون کی به هم ظلم او جهل وی لکه اُوسنو قوانینو کی فِکر وکړه چه د جگړه مارو جگړے پرے نهٔ خلاصیږی، تاریخونه به وی، دیوانی فیصلے وی، په کلونو کلونو فیصله نهٔ کیږی، بنده په تاریخونو ته حاضریدو باندے ستړے ستومانه شی او نا امیدئ ته ورسیږی۔

اَفَحُكْمَ : فاء د عطف دپاره ده نو دا په پټه مخکنئ جمله باندے عطف دے [أَيَتَوَلَّوْنَ عَنْ حُكْمِ اللّٰهِ وَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ] آیا دوی د الله د حکم نه اوړی او د جاهلیت والو فیصله لټوی ؟ چه هغوی به د شریف او مالدار حکم د غریب نه جدا کړے وو۔

لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ : یعنی څوك چه په الله یقین لری نو هغه ته به د الله په فیصله کی ضرور حُسن او ښائست او کمال ښکاره کیږی او څوك چه بی یقینه وی نو د الله فیصلے او د هغه قانون ورته د ظلم ښکاری، نو دا خبرے د ایمان او یقین سره تعلق لری۔

جاهلیة چا ته وائی؟

اَلْجَاهِلِيَّةِ : دا لفظ په قرآن کریم کی اته کرته ذکر دے، ددے دوه معانی وی :

(۱) اَلزَّمَانُ الَّذِیْ کَانَ قَبْلَ زَمَانِ النَّبِیِّ ﷺ ۔ هغه زمانه چه د رسول الله ﷺ د زمانے نه

مخکې وه۔ لکه امام بخاريؒ باب قائموي : بُابٌ مَا کَانَ فِیُ زَمَانِ الُجَاهِلِیَّةِ۔ (جاهلیت زمانه کې کوم کارونه وو) هغه دور ته ځکه جاهلیت وائي چه په هغه دور کې به شركّ، کفر او بد اخلاق موجود وو۔

(۲) کُلُّ مَا خَالَفَ الِاِسُلَامَ ۔ هر هغه شے او قانون او طریقه چه د اسلام خلاف وي لکه دا شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په اقتضاء الصراط المستقیم کې لیکلې دي او د سورة الجاثیه په (۱۸) آیت ﴿عَلٰی شَرِیُعَةٍ مِنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعُهَا وَلَا تَتَّبِعُ اَهُوَاءَ الَّذِیُنَ لَایَعُلَمُوُنَ﴾ کې به هم راشي۔ او دے ته جاهلیت ځکه وائي چه د جاهل شخص په ذهن باندے جوړ شوے کار دے نو په هغے کې به ظلم او زیاتے وي۔

او مفسرین لیکي چه پدے کې ټول بشري وضعي قوانین داخلیږي، لکه حافظ ابن کثیرؒ پدے مقام کې لیکلي دي چه پدے کې "الیاسق" یا (اَلیَساق) قانون هم داخل دے او دا قانون د کفر دے۔ او هغه دا هم وئیلي دي :

چه کوم خلق د دستور او قانون یو کتاب د خپل طرف نه وضع کړي او په هغے عمل کوي او د الله کتاب او د رسول الله ﷺ سنت شا ته ګوزار کړي هغه کافر دي۔

امام بخاري رحمة الله علیه د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((درے قسمه خلق د الله په نیز ډیر مبغوض دي : د حرم په حدودو کې الحاد کونکے، د اسلام نه روستو د جاهلیت د دور طریقے خپلونکے، او هغه انسان چه په ناحقه سره د بل چا د وینے تویه کول غواړي))۔

او قرطبيؒ د طاووسؒ نه نقل کړیدي چه دا هم د جاهلیت فیصله ده چه یو تن په اولاد کې فرق کوي بعضو ته څه مال وغیره ورکوي او بعضي محروموي لکه دے ته په حدیث د نسائي کې ظلم وئیل شویدے۔ (تفسیر القرطبی٦/٢١٤)

زمونږ په زمانه کې ددے آیت لاندے بشري قوانین، نرخي او قومي فیصلے چه د شریعت مطهره خلاف وي هغه داخل دي۔ دارنګه پدے کې (۱) زنانو ته میراث نهٔ ورکول۔ (۲) د بدل نکاحونه کول۔ (۳) مهرونه نهٔ ادا کول۔ (٤) سوره ورکول۔ (٥) کوشنده ورکول۔ (٦) د مړي پسے د اولے ورځے خیراتونه کول۔ (۷) محمد بن عبد الوهاب په کتاب مسائل الجاهلیة کې سلو (۱۰۰) پورے جمع کړیدي هغه ټولے پدے آیت کې داخلیږي نو دا ډیر جامع آیت دے۔ فتدبر۔

يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ م بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ط وَمَنْ
اے ايمان والو! مهٔ نيسئ يهوديان او نصارىٰ دوستان بعض د دوی دوستان د بعضو دی او څوك
يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ ط اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾
چه واوړيدو هغوی ته ستاسو نه نو يقيناً دا د هغوی نه دے يقيناً الله هدايت نهٔ كوی قوم ظالمانو ته.

تفسير: اُوس پدے رکوع کی د دوستئ او دشمنئ بیان دے او په دویمه رکوع کی د اهل کتابو (او ضمناً د منافقانو) قبائح او د ترك د موالات دپاره علتونه بيانوی تر اومے سيپارے پورے. بيا ئے په آخر کی د نيکانو اهل کتابو تذکره کړيده لکه دا د قرآن کريم د عدل طريقه ده چه په مجرم رد وکړی نو بيا په هغوی کی چه کوم نيکان وی د هغوی صفت کوی او پدے کی دعوت دے نورو اهل کتابو ته. دا اجمالی خلاصه شوه.

مناسبت

۱-دا د (أَنْ يَّفْتِنُوْكَ) سره متعلق دے. يعنی اے مؤمنانو ! د يهودو او نصاراؤ سره دوستی مهٔ کوئ څکه چه دوی غواړی چه رسول الله ﷺ په فتنه کی واچوی نو پاتے لا تاسو، نو ستاسو ذاتی دشمنان دی، لهذا دشمنی ورسره وکړئ نو پدے کی الله مونږ ته غيرت راکوی چه دوی دشمنان وګڼړئ.

۲- دارنګه دا د (أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ) سره متعلق دے يعنی يَبْغُوْنَ قَوَانِيْنَ الْجَاهِلِيَّةِ] دوی د جاهليت قوانين طلب کوی نو تاسو لره د جاهليت والو سره دوستی نهٔ ده جائز. او دلته به په منافقانو رد راځی چه دوی د اسلامی تازه خلافت جوړيدو د ورانولو دپاره ډير کوشش کولو او د يهوديانو سره به ئے پټے رابطے ساتلے د مسلمانانو د کمزوری کولو او د يهوديانو د مضبوطولو دپاره نو څکه دلته ورته الله تعالىٰ مرتد وئيلی دی. او بيا الله روستو آيتونو کی د ارتداد نه د بچاؤ طريقه خودلے ده.

لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ : د ولايت درے صورتونه دی :

(۱) د هغوی سره په عقيده کی يا په کارونو د کفر او شرك کی موافقت وکړی او د هغوی دين ښه وګڼړی، نو دا عينِ کفر دے.

(۲) د هغوی سره د مسلمان په خلاف مالی يا جانی تعاون وکړی نو دا هم په اجماع د

مسلمانانو سره کفر کې داخلیږي. لکه فتاوی الدين الخالص (۹) جلد تفصیلاً وګوره.
(۳) د هغوی اکرام او اعزاز وکړي، او د عزت يوه عهده ورته وسپاري لکه ابو موسیٰ اشعري ﷛ يو نصراني کاتب نيولے وو نو سيدنا عمر فاروق ﷛ منع کړو او دائے ورته وويل: چه دا خو اکرام دے، ددهٔ په ځای يو بل مسلمان ځان له کاتب ونيسه. (سمعانيؒ وابن کثيرؒ) لکه ددے تفصيل د سورة آل عمران (۲۸) آيت لاندے ذکر شويدے.
او د غير مسلمو سره دنياوي معاملات جائز دي.
بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ : دا علت دے دپاره د نهٔ موالات د هغوی سره. يعني يهود او نصاریٰ خپل مينځ کې دوستان دي، په يو باطل دين راجمع دي، نو تاسو له د هغوی سره موالات جائز نهٔ دے. سوال دا دے چه مخکې تير شو چه دوی د يو بل دشمنان دي، او دلته وائي چه بعض د بعضو دوستان دي؟ ۱- جواب دا دے چه د مؤمنانو په مقابله کې د يو بل دوستان دي او نورئے خپل مينځ کې اختلافات دي.
۲- يا دا چه دلته د ولايت نه مراد په باطله عقيده کې دوستي ده. يعني د رسول الله ﷺ په دشمنئ کې دواړه دوستان دي، يعني يهود د نصاراؤ خلاف دي ليکن کله چه نصاراؤ د رسول الله ﷺ سره دشمني وکړه نو يهودو ښه وګڼړل چه دا ښه کار کوی لکه اُوس هم اسرائيل د امريکې په لاس کې دی حال دا چه خپل مينځ کې د يو بل مخالف دي. او ددے آيت نه دا خبره اخستے شويده: [اَلْكُفْرُ مِلَّةٌ وَّاحِدَةٌ] کفر يو دين دے ځکه چه ټول د اسلام خلاف دے. او دا طريقه د اهل بدعت ده چه د حق پرستو په مقابل کې د روافضو کفارو سره ملګري وي.
وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ : د تولي او موالات ترمينځ فرق دا دے چه موالات (دوستي ساتل) ګناه کبيره ده او کله به کفر وي او تولي عين کفر دے.
دلته د تولي نه مراد اِخْتِيَارُ دِيْنِهِمْ وَنُصْرَتُهُمْ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ يعني د هغوی دين اختيارول او د مسلمانانو په خلاف د هغوی سره مدد کول. او ددے نه دا حديث اخستے شويدے [مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ] چا چه د يو قوم سره مشابهت وکړو نو دے به د هغوی نه حساب وي.
او پدے تولي کې دا هم داخل دي چه د هغوی د ديني کارونو سره مشابهت وکړي لکه د هغوی په عيد (اخترونو) کې شرکت وکړي او د هغوی په غاړه کې د صليب شکل واچوي، يا د هغوی په شان د اولياؤ په قبرونو باندے مساجد جوړ کړي. (احسن الکلام)
الظّٰلِمِيْنَ : د ظالمانو نه مراد هغه خلك دي چه د مؤمنانو په ځای د کافرانو سره دوستي

کوی۔

فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ

نو وینې به ته هغه کسان چه په زړونو د هغوی کې مرض (د منافقت) دے جلتي به کوي

فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰٓى اَنْ تُصِيْبَنَا

د دوی په محبت کې، وائي دوی مونږ یریږو ددے نه چه ویه رسیږي مونږ ته

دَآئِرَةٌ ؕ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ

څه حادثه (مصیبت) نو نزدے ده چه الله تعالیٰ به راولي فتح یا یوه فیصله د خپل طرف نه

فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

نو ویه ګرځي دوی په هغه څه چه دوی پټ ساتلے وو په زړونو خپلو کې (دوستانه د کافرانو)

نٰدِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا أَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ

پښیمانه۔او وائي به هغه کسان چه ایمان ئے راوړے آیا دا هغه کسان دي

اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ

چه قسمونه ئے کړیدي په الله تعالیٰ مضبوط قسمونه د دوی یقیناً دوی

لَمَعَكُمْ ؕ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۵۳﴾

خامخا ستاسو ملګري دي، برباد دي عملونه د دوی نو وګرځیدل دوی تاوانیان۔

تفسير : اُوس د منافقانو پریشانه حال بیانوي۔نبي کریم ﷺ ته مخاطب کولو سره وئیلے کیږي چه د کومو خلقو په زړونو کې د نفاق بیماري وی نو همدغه خلق د یهود او نصاراؤ سره دوستي کوي۔ او ددے علت دا بیانوي چه مونږ یریږو چه حالات به بدل شي او مونږ به د دوی محتاج شو۔ پدے وجه مونږ د دوی د شر نه د بچ کیدو دپاره د مخکې نه احتیاط کوو۔ حال دا چه دوی له خو دا سوچ کول پکار وو چه نزدے ده چه الله تعالیٰ به مسلمانانو ته فتح او نصرت ورکړي او په یهود او نصاراؤ به جزیه واجب کړے شي نو په هغه وخت کې به دا (منافقان) په خپلو کړو پښیمانه وي، او په هغه وخت کې به د دوی د باطن خرابوالے ښکاره مخے ته په ډاګه راشي او مسلمانان به تعجب کوي چه دے خلقو

ځنګه د ایمان دعویٰ کوله او قسمونه به ئې خوړل او وئیل به ئې چه مونږ خو د مسلمانانو سره یو۔ دے نه روستو الله تعالیٰ اُوفرمایل : حقیقت دا دے چه ددے (منافقانو) ټول اعمال برباد شو، خپله دنیا ئې هم برباده کړه او آخرت هم۔

قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ : د مرض نه مراد د نفاق او د کفارو د محبت مرض دے۔

يُسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ : أَيْ فِيْ مَحَبَّتِهِمْ۔ یعنی د دوی په دوستیٔ کی تیزی کوی۔ دلته ئې (فِيْهِمْ) لفظ استعمال کړو او داسے ئې ونۀ ویل چه تیزی کوی د هغوی سره په یو ځای کیدو کی، پدے کی اشاره ده چه د دوی د یهودو سره یو ځای کیدو سره انتهائی مینه ده ګویا که هغوی کی دننه ننوتل غواړی۔

يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰى اَنْ تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ : ددے آیت د نزول په باره کی مفسرینو د عباده بن الصامت ؓ او عبد الله بن ابی ابن سلول (رئیس المنافقین) د جګړے یوه واقعه لیکلے ده چه عباده بن صامت وویل : زما په یهودیانو کی ډیر دوستان دی چه د هغوی سره ډیر قوت دے لیکن زۀ الله او رسول طرفته د هغوی او د نورو یهودیانو د دوستانے نه براء ت کوم او زما مولیٰ (دوست) صرف الله او د هغه رسول دی نو عبد الله وویل : لیکن زۀ خو د یهودو د دوستانے نه براء ت نۀ کوم ځکه چه زۀ د دوائر (حوادثو) نه یریږم او ما دپاره د یهودو نه خلاصے نشته، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : اے ابو الحباب (عبد الله) ! تا چه د عُباده په خلاف د یهودو په کوم ولایت (دوستانه) باندے بخل وکړو نو هغه ستا شوه نۀ د عباده، نو هغه وویل : زما قبوله ده۔ نو الله دا آیت نازل کړو۔ (بغویؒ، المنار، ابن کثیرؒ)

دائرة : دا هغه حادثے ته وائی چه په سړی باندے ګرځی راګرځی چه انسان غوبل کړی۔

دلته د حادثے نه مراد قحطونه، آفتونه، زلزلے او کورونه نړیدل دی چه که مونږ د دوی سره دوستی ونکړو نو بیا به پدے مصیبتونو کی دوی زمونږ مددونه نکوی۔ لکه پدے وخت کی هم ډیر خلك اسلام په وسلو ولی او بیا وائی چه مونږ خو څه کافر نۀ یو، انګریزان کفار مونږ هم بد ګنړو خو صرف مال ترے وهو او پیسے پیدا کوو۔

۲- دویمه حادثه دا ده چه دوی ویل چه کیدے شی چه محمد (ﷺ) غالبه نشی نو بیا به دا یهودیان مونږ ته څه نۀ راکوی او وائی به چه تاسو خو د محمد ملګری وئ۔ یا دا چه هغوی به مونږ ته سزا راکوی چه تاسو ولے د محمد (ﷺ) ملګرتیا کړے وه۔

فَعَسَى اللّٰهُ : پدے کی مؤمنانو ته تسلی او خوشخبری بیانول او منافقانو ته دهمکی ورکول دی۔ یعنی داسے مۀ وایئ چه د محمد (ﷺ) دین به ختم شی بلکه تاسو به الله

تعالىٰ هلاك كړي.
فَعَسَى : يعني د الله نه اُميد وساتئ اے ايمان والو! چه الله به فتح راولي (غلبه د اسلام به راشي).
اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ : ددے دوه مصداقه دي (۱) يو دا چه په منافقانو به عذاب نازل شي او هغه دا چه غلبه د اسلام راشي. (۲) يا اظهار النفاق. يعني داسے حالات به راپيدا كړي چه د دوي منافقت به پكې راښكاره شي لكه داسے امتحانات ډير راځي.
۳- يا دا چه مؤمنانو ته به الله د رزقونو او غنيمتونو فراخي راولي نو دوي به بيا لاسونه مروړي.
عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ : يعني د كافرانو محبت او د مؤمنانو شكست ئے په زړونو كې پټ كړيدے.
نٰدِمِيْنَ : ليكن دا ندامت (پښيمانتيا) به فائده نۀ وركوي ځكه چه وخت به ئے تير وي.
وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ : يعني په هغه وخت كې به مؤمنان هم د دوي په منافقت پوهه شي نو ردونه به پرے كوي او دوي به شرموي. (بغويؒ)
جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ : مضبوط قسمونه. او د دوي په نيز به مضبوط قسم هغه وو چه صرف په الله به وو، او باللات والعزى به دومره مضبوط نۀ وو. او جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ دا هم دے چه ډير كوشش په قسم كې وكړي او د الله نور نومونه او صفتونه ورسره ذكر كړي.
اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ : يعني بيا به تاكيدات استعمالوي چه خامخا مونږ خو ستاسو ملګري وو، يعني مؤمنان به وائي چه دے خلكو به مونږ سره د خپلے ملګرتيا اعلان كولو او اُوس ښكاره شوه چه دوي دروغجن وو. نو مؤمنان به ددوي د روغو او قسمونو نه تعجب كوي.
حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ : دا كلام د الله تعالىٰ دے يا كلام د مؤمنانو دے ليكن الله تعالىٰ رانقل كړيدے نو بس دا هم كلام د الله شو.
فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ : مخكې ئے ندامت (پښيمانتيا) ذكر كړه چه هغه صرف د دنياوي فائدو ختميدل وو، او دلته د دنيا او د آخرت نقصان او تاوان دے يعني د شرم سره عملونه ئے هم تباه شو نو دا ترقي ده د ادنىٰ نه اعلىٰ ته.
كه يو مؤمن بنده دا آيتونه ځان ته متوجه كړي، نو د كافرانو د دوستانے نه به ئے ځومره نفرت پيدا شي چه پدے سره عملونه بربادېږي او د دنيا او د آخرت تاوان سره مخامخ

کیږي۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِي
اے ایمان والو! څوك چه واوړیدو ستاسو نه د خپل دین نه نو زر دے چه راېه ولی
اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗۤ ۙ
الله تعالیٰ داسے خلق چه مینه به کوی الله د هغوی سره او هغوی به مینه کوی د الله سره
اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ز يُجَاهِدُوْنَ
نرمی کونکی به وی د ایمان والو سره سختی کونکی به وی په کافرانو، جهاد به کوی
فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ۭ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ
په لاره د الله کی او نهٔ به یریږی د ملامتیا د ملامت گر نه دا فضل د الله دے ورکوی دا
مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾
چا ته چه وغواړی او الله فراخه (فضل والا) دے پوهه دے۔

تفسیر: پدے کی یو په منافقانو باندے رد کوی چه که تاسو لاړئ مرتد شوئ او د یهودو سره مو دوستانه شروع کړه، نو د الله سره نور ډیر مؤمنان شته تاسو دِیے پکی نهٔ یئ د الله تعالیٰ تاسو ته هیڅ حاجت نشته، د هغه د بندګیٔ دپاره نور ډیر بندګان شته۔

دویم پدے آیت کی الله تعالیٰ د ارتداد نه د بچ کیدو چل خودلے دے ځکه چه دا یو قبیح شے دے، هر مؤمن به دا غواړی چه ددے نه ځان بچ کړی۔

نو الله پنځه طریقے (او صفات) خودلی دی چه دا په ځان کی راولیٔ نو د ارتداد نه به بچ شیٔ۔ او دا صفات په منافقانو کی نشته نو پدے وجه هغوی مرتد شولو۔

نو د آیتونو حاصل به راوځی چه که څوك مرتد شو نو الله به داسے خلك راولی چه په هغوی کی به دا پنځه صفات وی او هغوی به نهٔ مرتد کیږی نو پدے کی ترغیب دے چه که تهٔ غواړے چه خاتمه دِیے ښه شی او د دنیا نه په ایمان کی لاړ شے نو دا پنځه صفات ځان کی پیدا کړه، او ددے پنځه صفاتو والا انسان خاتمه به ښائسته کیږی او په ایمان کی به مری۔ نو پدے آیت کی په منافقانو رد او مؤمنانو ته په اسلام باندے د قائم او کلك پاتے کیدو طریقه خودل دی۔

او پدې کې اشاره ده چه کـه يـو انسان ښکاره مرتد شي نو هم دين او اهل دين ته هيڅ نـقـصـان نـهٔ رسيـږي بـلـکـه الله تـعـالیٰ د دين د حفاظت دپاره نور خلك پيدا کوی۔ (احسن الکلام)

مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ : نو ددې جزاء پټه ده۔ [فَلَا يَضُرُّ اللّٰهَ شَيْئًا] .هغه الله تعالیٰ ته هيڅ ضرر نشي ورکولے۔ ځکه چه الله سره د انسانانو خزانې ډکې دی۔

من يرتد : دا آيت په رد د منافقانو کې دے، ليکن پدې کې دا اشاره هم پرته وه چه رسول الله ﷺ کـلـه وفات شي نـو ډير خلك به مرتد شي لکه د عربو ډير قبائل د اسلام نه مرتد شو سِوئ د مـکـې او مـدينې او د بحرين عبد القيس قبيلې نه بيا د ابوبکر صديق رضی الله عـنـه پـه جـد وجهـد بـانـدې ډيـر کسان بيرته اسلام ته راغلل۔ نو ددې قوم نه مراد ابوبکر صديق رضی الله عنه او د هـغـه مـلـګـری صحابه کرامؓ او تابعينؒ وو۔ لکه دا د علی بن ابی طالب رضی الله عنه، حسنؒ او قتادهؒ نه نقل دی۔ (بغویؒ والشوکانیؒ)

نبـی کريم ﷺ چه کله وفات شو نو بعض خود غرضه خلك وو، خپله مشری ئې مطلب وه نـو هـغـوی د کفر اعلان وکړو، بعضو ته دا شك راپيدا شو که دا رسول په حقه وے نو نهٔ به مړ کيدے، نو په قرآن کريم کې الله ځای په ځای ددې شك ازاله کړيده۔

بـعـضو پکی وويل چه دا څنګه کيدے شي چه خلافت به صرف قريش اخلی او مونږ ته بـه ئې نـهٔ راکوی نو واوړيدل، چا پکی وويل چه مونږ اسلام منو خو زکاة پکی نهٔ منو، چا وويـل چه زکـاة هم منو ليکن خپله ئې ورکوو او خليفه ته ئې نهٔ ورکوو، نو ابوبکر صديق رضی الله عنه د مـسـلـمـانـانو په مشوره دے ټولو سره قتال شروع کړو اګرکه بعض پکی مسلمانان وو خـو د زکـاة د مـنع کولو په وجه باغيان شو نو د جهاد لائق شو۔ د دوی سره قتال شروع شو تردے چه څه مرتدين اسلام ته راواپس شول او څه مردار شول۔

او بيـا تـرقيـامتـه پـورې دا حـالت جاری دے چه څه خلك به د اسلام نه اوړی نو الله بـه نور خلك راپيدا کوی چه هغه به په دين کلك ولاړ وی۔

مـحـقـقيـن علماء ليکی چه الله تعالیٰ پدې آيت کې د غيبو يو داسې خبر ورکړيدے چه د روستـو ښـکـاره کيدونکو حقائقو مطابق پوره شو او دا ددې خبرې دليل دے چه قرآن د الله کـلام دے۔ نـو د رسـول الله ﷺ د وفـات نه مخکې او روستو يولس قسمه خلق د اسلام نه مرتد شو چه د هغوی په خلاف ابوبکر صديق رضی الله عنه او صحابه کرامؓ جنګ اُوکړو او هغوی ئې بيـرتـه اسلام ته په راګرځيدو مجبوره کړل او پدې آيت کې د ذکر شوی عزتمندو صفاتو

مستحق شو.

مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ : (مِنْكُمْ) كى دا تنبيه پرته ده چه مؤمن به په خپل ايمان باندے ډير يريږى هسے نه چه مرتد شى، په مؤمن باندے هم د ارتداد خطره شته.

مناسبت

مناسبت ددے آيت د مخكى سره دا دے چه څوك د كفارو سره دوستى كوى نو دا سبب دے د ارتداد نو ګويا كه پدے آيت كى مسبب ذكر دے او مخكى آيت كى سبب د ارتداد ذكر دے، منافقان ولے مرتد شو؟ ځكه چه د كفارو سره دوستى، رازدارى او جاسوسى كوى. لكه رسول الله ﷺ هم فرمايلى دى چه زما امت به په خير او فطرت باندے روان وى ترڅو چه ماښام مونځ نۀ ناوخته كوى)) ځكه چه پدے كى د يهودو سره مشابهت دے.

او دا امكان وو چه كيدے شى چه ډير خلك د كفارو ددوستىٔ په وجه د اسلام نه واوړى.

يُّحِبُّهُمْ : ددے ځاى نه پنځه صفتونه شروع كوى اول صفت : مَحَبَّةُ اللّٰهِ حُبًّا قَلْبِيًّا شَدِيْدًا : د الله سره د زړه نه بيحده مينه كول. دويم رحمة على المؤمنين. دريم : شدة على الكافرين. څلورم : جهاد فى سبيل الله. پنځم : لَايَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَائِمٍ. د چا د ملامتيا نه نۀ يريدل.

يحبهم : كى الله تعالىٰ خپل محبت مخكى ذكر كړو، وجه دا ده چه مؤمن بنده چه د الله سره مينه لرى نو ددے نه به د الله محبت مخكى او روستو وى، الله به اول د مؤمن سره مينه وكړى نو په زړه كى به ئے د خپل محبت اهليت پيدا كړى بيا چه كله تا د الله سره مينه وكړه نو هغه به درسره دوباره محبت وكړى.

علماء وائى : [حُبُّ الْمُؤْمِنِ لِلّٰهِ مَحْفُوْفٌ بِحُبَّيْنِ مِنَ اللّٰهِ] د مؤمن محبت د الله سره د الله د دوه محبتونو ترمينځ راګير دے، ددے وجه نه د الله نه څوك په محبت كى غالبه كيدے نشى چه ته دِے د الله سره ډيره مينه وكړے او هغه دِے درسره كمه وكړى.

او محبت د الله تعالىٰ صفت دے لكه د اهل سنت والجماعة (سلف صالحينو) مسلك دے او اشاعره او ماتريديه پكى تاويل كوى چه د محبت نه مراد ثواب وركول دى. لكه مدارك ليكى : (يُثِيْبُهُمْ) ثواب وركوى.

دا تاويل خطاء دے، ځكه چه محبت جدا شے دے، ثواب وركول د هغے نخه ده.

د الله سره محبت اُوچت شے دے، د الله په محبت سره لږ عمل هم د بنده د نجات دپاره

کافي خبره ده۔

اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ : د ذُلٌ نـه ماخوذ دے جمع د ذليل ده، په معنىٰ د نرمئ او شفقت او رحم سره دے۔ او دلته هغه ذلت نهٔ دے مراد کوم چه د عزت مقابل دے۔

په (على) لفظ راوړو کې دوه فائدے دي (۱) يودا چه اذلة متضمن دے معنىٰ د شفقت او رحمت او عاجزئ لره يعني مائله كيدونكي دي مؤمنانو ته په طريقه د عاجزئ او تذلل سره۔ (۲) دويم دا چه دوی سره د شرافت او اُوچتے مرتبے نه او سره د فضيلت نه په مؤمنانو باندے هغوی ته عاجزی کونکی دی۔ (المنار)

اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ : اَعِزَّة جمع د عَزِيز ده، د عزت نه دے په معنىٰ د شدت او سختئ سره۔ لکه د أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ په شان آيت دے۔ او دا د صحابه كرامو صفت وو چه د مؤمنانو سره اِنتهائی ايثار او قربانئ والا تردے چه هغوی خپلو مسلمانانو ورونو ته خپل كورونه پريخوستی وو، چا پكی خپلے ښځے هغوی ته طلاقے كړے، په غزا د يرموك كی شهداؤ اُوبه ونهٔ څكلے او نورو له ئے وركړے، او په كفارو دومره سخت وو چه هغوی له به ئے لاس هم نهٔ وركولو، عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به فرمايل:

[مَنْ صَافَحَ مُشْرِكًا فَلْيَتَوَضَّأْ] چا چه مشرك سره مصافحه وكړه نو هغه دِے اَودس وكړی۔ عاصم ﷺ دا التزام كړے وو چه كافر به ددهٔ د بدن سره نهٔ لګيږی، كله چه شهيد شو نو كفارو د هغه نه د سر پريكولو اراده وكړه نو الله مچئ راوليږلے او د هغه حفاظت ئے وكړو او د شپے بيا په بارانی سيلاب باندے د هغه جُثه په يو ځای كی غائبه شوه۔

صحابه كرامو كی داسے خلك هم وو چه خپل پلار خپل ورور ئے وژلے دے، پكار ده چه مؤمن هم دغسے وی او زمونږ پدے زمانه كی خبره برعكس شوه چه كفارو سره خلك ډيره مينه لری، ها ها ورته كوی، هغوی ته هر قسم فراخی وركوی، او مؤمنان جيلونو ته اچوی او جګړے ورسره كوی۔

يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ : يعنی قولی او عملی جهاد به كوی، دا قتال ته هم شامل دے او د الله د دين هر قسمه جد وجهد ته هم۔

وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ : دا ډير اهم صفت دے چه د حق په باره كی د هيچا د ملامتيا نه نهٔ يريږی، استاد وی كه شاګرد، مشر وی كه كشر، بادشاه وی كه ګدا، مالدار وی كه فقير، نر وی كه ښځه، او پدے باندے نكره والے د (لَآئِمٍ) دلالت كوی۔ يعنی دوی په ايمان كی دومره مضبوط دی چه د هيڅ قسمه او د هيچا د ملامتيا نه نهٔ يريږی، او پدے كی تعريض دے په

منافقانو باندے چه هغوی د خپلو دوستانو یهودیانو د ملامتیا نه یریدل که چرته دوی د مؤمنانو په ملګرتیا کی قتال وکړی۔ (المنار)

ډیر کافران اسلام ته نهٔ راځی د ملامتیا نه یریږی، ډیر مبتدعین او باطل پرست حق طرفته نهٔ راځی، ولے که حق ته راشو خلك به وائی چه اُوسه پورے دا په دے مسئله نهٔ پو هیدو او اُوسه پورے په باطل باندے وو۔ ډیر خلك غلط خیراتونه کوی، د مړو پسے غوا میخه حلالوی او بیا وائی که دا کار ونکړو نو د خلکو نه مو خوړلے ده بیا به خلك وائی چه مور او پلار پسے ئے خیرات ونکړو۔ ډیرے کونډے زنانه نکاح ته ضرورت لری لیکن نهٔ ئے کوی د خلکو د ملامتیا نه یریږی او بیا بی حیاء کارونه هم کوی۔ ډیر خلك په سنت طریقو عمل نکوی ځکه چه بیا به خلك وائی چه په علاقه کی ئے انتشار خور کړو۔

د مخلوق عظمت چه کله په زړه کی راشی او د خالق عظمت ترے وځی نو بیا د ملامتیا نه ډیر یریږی۔

رسول الله ﷺ به پدے صفت باندے د بعض صحابه کرامؓ نه بیعت اخستو لکه عباده بن صامت رضی الله عنه فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره پدے خبره بیعت وکړو چه

[وَعَلٰى أَنْ نَقُوْلَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا لَا نَخَافُ فِي اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ]

مونږ به د الله په باره کی د هیڅ ملامتیا د ملامتګر نه نهٔ یریږو۔ (مسلم : ٤٨٧٤)

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ : یعنی دا شپږ صفتونه په یو بنده کی راتلل د الله په مهربانئ سره کیږی هغه بنده ته توفیق ورکړی او اسباب ورته برابر کړی۔

دارنګه د فتنے په وخت کی د حق په لاره باندے کلك پاتے کیدل، او نور خلك د هلاکت نه بچ کولو فکر کول د الله لویه مهربانی ده۔

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ : دا ورسره ځکه وائی چه الله چه بعض بندګانو ته فضل ورکوی او بعضو ته نهٔ نو ددے وجه به دا وی چه د الله فضل به کم وی نو الله دغه وهم دفع کړو چه د الله فضل فراخه دے لیکن د هغه په حکمت سره دا کار کیږی چه بعضو ته ئے ورکوی او بعضِ د هغوی د بد عملونو په وجه محرومو ی۔

اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ
یقیناً دوست ستاسو الله تعالیٰ دے او رسول د هغه دے او هغه کسان دی

اٰمَنُوا الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَهُمۡ رٰكِعُوۡنَ ﴿٥٥﴾
چه ايمان ئے راوړيدے هغه كسان چه قائموي مونځ او وركوي زكاة او دوى ركوع كونكى دى-
وَمَنۡ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ وَالَّذِيۡنَ
او څوك چه دوستي كوى د الله او د رسول د هغه سره او د هغه كسانو سره
اٰمَنُوۡا فَاِنَّ حِزۡبَ اللّٰهِ هُمُ الۡغٰلِبُوۡنَ ﴿٥٦﴾
چه ايمان ئے راوړيدے نو يقيناً ډله د الله هم دوى غالب دى-

تفسير : اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ : سوال پيدا شو چه يهود او نصارىٰ سره دوستى نۀ كوو نو چا سره ئے وكړو ؟ نو الله جواب وركړو چه د دوستانے لائق شته چه هغه الله تعالىٰ دے او د هغه رسول ﷺ او مؤمنان دى-

مناسبت : مخكى د يهود او نصاراؤ د موالات نه منع وشوه نو اُوس اهل د ولايت بيانوى-

اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ : سوال : دلته پكار وه چه جمع ئے (اولياء) ذكر كړے وے ؟ جواب : اشاره ده چه ولايت په اصل كى د الله تعالىٰ دے او د نبى او مؤمنانو دپاره تبعاً دے- (قاسمیؒ)

ولى په معنىٰ د دوست او ناصر سره هم دے-

فائده : ديو انسان سره د دوستى كولو څلور شرطونه ضرورى دى (١) ايمان، (٢) مونځ- (٣) زكاة- (٤) د هغه تواضع- نو دا قسم انسان سره دوستى واجبه ده او كه دا صفات كلًا يا بعضاً پكى نۀ وى بيا د دوستئ لائق نۀ دے- دا ډيره مهمه فائده ده، ډير كم خلك دے ته متوجه كيږى-

اَلَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ : دا ورسره ځكه وائى چه منافقان هم د ايمان دعوه كوى، نو الله وفرمايل چه په چا كى دا راتلونكى صفات وى نو د هغوى سره دوستى كوئ- ددے نه معلومه شوه چه كه يو تن د ايمان دعوه كوى او مونځ نۀ كوى نو هغه د دوستئ لائق نۀ دے بلكه هغه ته به اسلامى خلافت سزا وركوى او جيل ته به ئے اچوى او وهل به وركوى-

وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ : او كه زكاة څوك نۀ وركوى نو هغوى سره به قتال كولے شى نۀ دوستى-

وَهُمۡ رٰكِعُوۡنَ : أَىۡ خَاضِعُوۡنَ لِاَمۡرِ اللّٰهِ، طَيِّبَةً نُفُوۡسُهُمۡ بِأَمۡرِهٖ-

یعني دوی چه زکاة ورکوی نو د الله د حکم د عاجزئ د وجه نه ئے کوی، د دوی زړونه د الله په حکم باندے خوشحاله وی- (المنار)

یا د دواړو نه حال دے نو راکعون ورسره ځکه وائی چه بعض کسان مونځ کوی او زکاة هم ورکوی لیکن زړونه ئے د تکبر نه ډك وی او ریاء کار وی، نو د داسے کسانو سره هم محبت نشته لکه بعض کسانو سره د هغه د تکبر د وجه نه بنده تنګیږی-

یا دا تخصیص بعد التعمیم دے یعني د مانځه پابندی کوی او په مانځه کی د رکوع ډیر اهتمام کوی ځکه چه ډیر خلك په مانځه کی رکوع بربادوی-

او دا معنیٰ صحیح نهٔ ده چه دوی زکاة ورکوی پداسے حال کی چه په رکوع کی وی او بیا ددے دپاره یو اثر د سیدنا علی ﷛ پیش کوی چه هغه یو سائل ته په حالت د رکوع کی صدقه (ګوتمه) ورکړه نو دا آیت د هغه په باره کی نازل شو-

حافظ ابن کثیرؒ وئیلی دی چه دا معنیٰ صحیح نهٔ ده ځکه چه بیا خو به په حال د رکوع کی صدقه او زکاة ورکول افضل وی د بهر د مانځه نه، ځکه چه دا مقام د مدح دے، او پدے باندے هیڅ عالِم قول نهٔ دے کړے بلکه دا چه ددے روایت سندونه ضعیف او راویان پکی مجهول دی- بلکه دا چه مونږ نه پداسے حالت کی د زکاة او صدقے ورکولو مطالبه نهٔ ده شوے، نو د قرآن به داسے تفسیر نشی کولے چه د اصولو د اسلام خلاف وی-

وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ : أَیْ مَنْ يَّكْتَفِ بِوِلَايَتِهِمْ-

دا زیرے دے مخکنو صفاتو والا خلکو ته او معنیٰ دا ده چه چا اکتفاء وکړه په محبت د الله او د رسول او د مؤمنانو نو دا د الله د ډلے نه دے- یا چا چه مینه وکړه د الله او د رسول او د مؤمنانو سره چه د هغوی مدد او نصرت کوی نو دا به د الله د ډلے نه وی- (قاسمیؒ)

حِزْبَ اللهِ : حزب په اصل کی هغه ډلے ته وائی چه د حادثے راپیښ کیدو په وخت کی راجمع کیږی نو دا د جماعت او قوم نه خاص دے-

هُمُ الْغٰلِبُوْنَ : یعني دا مهٔ وایه چه یهود به غالبه شی او مونږ ته به مالونه راکوی بلکه مؤمنان به غالبه کیږی- او دا وعده الله تعالیٰ پوره کړه چه مؤمنانو ته ئے په ټولو کفارو غلبه ورکړه- او داسے په سورة المجادله (۲۲) آیت کی راغلی دی هلته ئے ﴿فَاِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ وویل نو د الله ډله به په دنیا کی غالبه وی او په آخرت کی به کامیابه وی-

یا دا چه دلته د یهود او نصاراؤ سره مقابله مقصد ده او په وخت د مقابلې کی غلبه مقصد

وی او غلبه په دنیا کې راځي، او هلته ئې د شیطان د ډلې په باره کې خاسرون وئیلي وو نو د هغې په مقابله کې مفلحون لفظ مناسب دے۔

يَآيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا

اے ایمان والو ! مهٔ نیسئ هغه کسان چه نیولے ئې دے دین ستاسو توقے او لوبے

مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ

د هغه کسانو نه چه ورکړے شویدے ورته کتاب مخکې ستاسو نه او (نورو) کافرانو لره

اَوْلِيَآءَ ج وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾

دوستان او ویریږئ د الله نه که تاسو یئ مؤمنان۔

تفسیر : مضمون : ددے نه روستو خبائث الیهود واهل الکتاب، او علتونه د ترك الموالات بیانیږی چه دوی ستاسو دین پورے توقے کوی، د اذان پورے توقے کوی، د ایمان والو پورے توقے کوی، او دا وائی چه [لَا نَعْلَمُ شَرًّا مِنْ دِيْنِكُمْ]

مونږ ته ستاسو د دین نه بل لوی شر نهٔ دے معلوم۔

او د دوی د شر د علاماتو نه دا ده چه کله د مؤمنانو مجلس ته راشی نو د ایمان دعوه کوی او چه بهر وځي بیا د اسلام پورے توقے کوی، دوی د ګناه پسے منډے وهی (يُسَارِعُوْنَ فِي الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ)، اَكْلِهِمُ السُّحْتَ (حرام خوارهٔ دی)، په دوی کې ملیان هم دومره ورانکاری دی چه خلك د ګناه نه نهٔ منع کوی، دوی د الله بی عزتی کوی او هغه ته د بخل نسبت کوی۔ (وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللهِ مَغْلُوْلَةٌ) ۔ نو داسے ملعون خلکو سره تاسو څنګه مینه کوئ، یهودی د الله لوی دشمن دے، آیا هغه د مینے لائق دے، او دا هغه خلك دی (كُلَّمَا اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ) هسے جنګونه او فسادونه پیدا کوی، بیا الله ترغیب ایمان ته ورکوی لکه دا د قرآن کریم طریقه ده چه د چا فساد ذکر کړی نو بیا توبې ته ترغیب ورکوی تر (٦٦) آیت پورے، د هغې نه روستو بیا دا خبره بیانوی په بل طرز سره۔

هُزُوًا : هزو دے ته وائی چه د یو شی پورے توقے وکړی او هغه سپك وګنړی،

وَّلَعِبًا : لعب دے ته وائی چه یو شے ورته بے فائدے مشغله ښکاره شی لکه د لوبو په شان۔ نو دوی د دین سره دوه کارونه کوی یو د دین تحقیر او سپکاوے کوی، او بل ورته عبث ښکاره کیږی۔ نو اے مؤمنه ! ته په خپل دین باندے غیرت کوے او که نهٔ؟۔ لکه

اُوس هم ډیر کافران مونځونو او حجونو وغیره عباداتو ته ورزشونه او لوبې وائي۔
مِّنَ الَّذِيْنَ : دا بیان دے د مخکې "الذین" او پدے کې دوه ډلے د کافرانو ذکر کوي۔
وَالْكُفَّارَ : یعنی نور کافران چه هغه مشرکان دي۔
وَاتَّقُوا اللّٰهَ : دلته تقویٰ کې ترك الموالات ته اشاره ده۔
اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ : یعنی د ایمان تقاضا دا ده چه د کفارو سره موالات ونکړے شي۔

وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ؕ
او کله چه آواز (اذان) وکړئ مانځه ته نو نیسي دوی هغے لره ټوقے او لوبے
ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۵۸﴾
دا پدے وجه چه بیشکه دوی داسے قوم دے چه عقل نۀ لري۔

تفسیر : دا مثال دے د مخکې (هُزُوًا وَّلَعِبًا) دپاره یعنی دوی کوم ځای کې زمونږ دین پورے ټوقے کړیدي؟ نو وویل شو چه ستاسو د اذان پورے ټوقے کوي۔
نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ : دلته د نداء نه مراد اذان دے او په قرآن کریم کې د پنځه مونځونو دپاره اذان صرف پدے آیت کې ذکر دے، او په سورة الجمعه کې د جُمعے اذان مراد دے۔
او نداء په اصل کې د راغوښتلو دپاره آواز پورته کولو ته وائي۔ (قرطبیؒ)
بیا دلته نداء (اذان) مجمل دے او ددے د کلماتو تشریح په احادیثو سره ثابته ده۔

د اذان د شروع تاریخ

په مکه کې مونځ فرض وو لیکن اذان نۀ وو کله چه مدینے ته هجرت وشو نو د اذان ترتیب دپاره مشوره وشوه، پنځه مشورے ورکړے شوے، یوه دا وه چه اُور به بل کړو او د هغے په لیدو سره به خلك مانځه ته حاضریږي لیکن دا د مجوسو سره مشابهت وو او د اُور فائده کمه ده، هر چا ته به نۀ ښکاري۔ چا وویل چه تهلئ به وهو نو وویل شو چه پدے کې د نصاراؤ سره مشابهت راځي، (خو دے ته لږ میلان پیدا شو) چا وویل چه بوق (ښکر) کې به آواز کوو، نو وے ویل چه دا خو د یهودو سره مشابهت دے، چا وویل : جنډه به وچتوو لیکن دا هم د شپے کار نۀ ورکوي او د کوټے نه جنډه څه ښکاري۔
نو عمر فاروق رضی اللہ عنہ د «اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ» آواز کولو مشوره ورکړه نو نبی علیه السلام پدے د

عـمـل حـکـم وکړو نو بلال ته ئے وویل چه پاخیږه آواز وکړه، نو یوه ورځ پدے باندے عمل وشو نو د شپے یو انصاری صحابی (عبد الله بن زید بن عبد ربه رضی الله عنه) خوب ولیدو چه یو سړے روان دے تلیٔ ورسره ده، دهٔ ورته وویل : دا خرڅوے ؟
هغه وویل : پدے څه کوے ؟ دهٔ وویل چه د مانځه د اطلاع دپاره دا وهو۔ هغه ورته وویل : زهٔ درته کلمات د اذان نهٔ ښایم؟ نو اذان او اقامت ئے ورته وخودو، سهار ئے رسول الله ﷺ ته دا خوب بیان کړو نو هغه ئے تائید وکړو او وے فرمایل : [اِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٍّ]
دا یقینی رشتینی خوب دے۔ پاخیږه بلال ته ئے وایه او هغه به اذان وکړی ځکه چه هغه ستا نه په آواز کی اُوچت دے۔
د پنځلسو کلماتو والا اذان وو او د اُولس کلمو والا اقامت وو او پدے کی یولسو کلمو والا اقامت هم په ډیرو احادیثو کی راغلے دے، نو هغه ډیر قوی دے لکه صحیحینو کی دی :
[أُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَّشْفَعَ الْأَذَانَ وَيُوْتِرَ الْإِقَامَةَ]
پدے روایت کی احناف شارحین تاویلات شروع کړی چه دا خو صحیح روایت دے او پدے کی اقامت فرادیٰ (یولس) کلمے راغلے دے او زمونږ د مذهب خلاف دے نو د تاویلاتو انبار ولګوی او حدیث رد کړی، ځان او نور خلك دهوکه کړی او د خیر نه ئے محروم کړی۔
هُزُوًا وَّلَعِبًا : د دوی تهوقے داسے وے چه کله به مؤذن اذان وکړو او مسلمانان به دے ته راپاڅیدل نو دوی به ویل چه [قَامُوْا لَا قَامُوْا] - راپاڅیدل دوی ته دِے د راپاڅیدو توفیق ورنکړے شی، او خندا به ئے شروع کړه (بغویؒ)
او کله به ئے دے ته د خر رمبارے وئیلے، په مدینه کی یو نصرانی وو کله به ئے چه په اذان کی (اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ الله) واوریدو نو داسے به ئے وئیل (حُرِّقَ الْكَاذِبُ) (دروغجن دِے په اُور وسوزی) نو یوه شپه ددهٔ خادم کور ته اُور راوړو او دے او ددهٔ اهل اُوده وو نو د هغے نه سپرغے پورته شوے نو ټول کور سره ددهٔ او ددهٔ اهل نه وسوزیدل۔
(ابن جریرؒ وابن ابی حاتمؒ- بغویؒ وزاد المسیر وروح المعانی)
او یهودو به د اذان سره ډیر حسد کولو نو یوه ورځ ئے رسول الله ﷺ ته ویل چه تا داسے یو شے ایجاد کړو چه مونږ دا په پخوانو امتونو کی نهٔ دے آوریدلے، نو که ته د نبوت دعوه کوے نو تا خو د مخکنو ټولو انبیاؤ نه خلاف وکړو او که دا خیر وے نو پدے باندے پخوانی انبیاء ډیر لائق وو نو تا دا چغے د کوم ځای نه ایجاد کړے لکه د چیلو د چغو په شان، ډیر بد آواز او بد کار دے۔ نو الله دا آیت او (وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا اِلَى الله) نازل کړو۔

(بغویؒ، والقرطبیؒ)

او کله چه به دوی اذان واوریدو نو یو بل ته به ئے اشارے کولے او خپل مینځ کی به ئے خندا شروع کړه نو د مؤذن دا کارئے سپك ګنړلو او خلك ئے ترے متنفر کول غوښتل، او اذان کونکے ورته داسے ښکاره کیدو لکه یو تن چه د خپل ځان سره لوبے کوی ځکه چه ددے د مرتبے نه جاهلان وو۔ (قرطبیؒ)

او علماء لیکی چه څوك اذان واوری او مانځه ته نهٔ حاضریږی نو هغه هم اذان نه توقه جوړه کړه۔

فائده : ددے ځای نه معلومه شوه چه کله اذان شروع شی نو خبرے بندول پکار دی او الله تعالیٰ ته توجه پکار ده او خشوع اختیارول۔ الزواجر کی لیکی : اذان کی خبرے کول ګناه ده بلکه په دهٔ باندے د کفر یره ده۔ بعض سلف به د اذان په وخت بیت الخلاء ته نهٔ داخلیدل د الله تعالیٰ د نوم تعظیم به ئے کولو، اُوس زمونږ زمانه کی څو مره بی ادبی شروع ده۔ والله المستعان۔

د بخاریؒ او مسلمؒ روایت دے چه شیطان کله اذان واوری نو په تیزونو اچولو سره تختی دے دپاره چه اذان وانهٔ وری، او د اذان د ختمیدو نه روستو بیا راواپس کیږی۔ الحدیث۔

لَّا يَعْقِلُونَ : یعنی د الله دکبریاء او عظمت آواز ته دوی لوبی وائی نو دوی غټ بی عقله قوم دے۔

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّاۤ اِلَّاۤ اَنْ اٰمَنَّا
ووایه ! اے کتاب والو! عیب نهٔ لګوئ تاسو په مونږ مګر پدے چه ایمان راوړے دے مونږ
بِاللّٰهِ وَمَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَاۤ اُنْزِلَ
په الله او په هغه کتاب چه نازل شویدے مونږ ته او په هغه چه نازل شویدے
مِنْ قَبْلُ ۙ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۵۹﴾
مخکی ددے نه او (عیب نهٔ وایئ مګر) پدے وجه چه زیات ستاسو نه نافرمان دی۔

تفسیر : دے کی د دوی بله استهزاء ذکر ده چه د ایمان والو ایمان ورته ګپ شپ ښکاری، او دوی سره په ایمان باندے دشمنی کوی نو دا خلك د موالات لائق نهٔ دی۔

او پدے کی د مخکی استهزاء جواب دے چه اذان خو د ایمان او د توحید اعلان دے نو

تاسو چه اذان پورې ټوقې کوئ نو اصل کې تاسو د توحید دشمنان یئ نو د توحید دشمنانو سره څنګه موالات وکړے شي؟!

هَلْ تَنْقِمُوْنَ : دا مدح مشابه د ذم ده یعنی مونږ کې هیڅ عیب نشته مګر یو عیب شته (ستاسو په ګمان) چه هغه ایمان بالله او ایمان بالکتب المنزله دے او دا خو عیب نۀ دے بلکه کمال دے، معلومه شوه چه په مونږ کې هیڅ عیب نشته او دا ستاسو بې وقوفي ده چه کمال ته عیب وایئ. او ددے نه معلومه شوه چه د کافرانو مشرکانو او یهود او نصاراؤ دشمنی د مؤمنانو سره صرف د توحید په مسئله ده لکه دا خبره په سورة الاعراف (۱۲٦) او سورة الحج (٤٠) او سورة البروج (۸) کې هم راغلے ده.

تنقمون: نقم خفګان کول، بد ګنړل، نفرت کول، عیب ګنړل دی.

او دا خبره بعینه اهل سنت اهل حدیث ټولو مبتدعینو ته کولے شي چه مونږ خو الله تعالیٰ او ټول کتابونه او د نبی کریم ﷺ ټول احادیث منو که د هر امام سره وي او تۀ صرف په څلورو زرو کې زر حدیث منے او نور نۀ منے نو مونږ غوره شو او که تۀ، مونږ د څلورو واړو امامانو ټول صحیح روایتونه منو او ته صرف د یو سره چه کوم روایتونه دي هغه منے نو څوك غوره شو؟! او څوك په حق دی؟ لږ سوچ وکړه.

وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ : دا د (وَاعْلَمُوْا) پټ سره متعلق دے یعنی پدے خبره پوهه شئ چه په تاسو کې اکثر نافرمان دی. یا دا په مخکې (اَنْ) باندے عطف دے [اَیْ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّا اِلَّا اَنَّ اَكْثَرَكُمْ فَاسِقُوْنَ] تاسو په مونږ باندے عیب نۀ وایئ مګر پدے وجه چه تاسو کې اکثر نافرمان دی یعنی زمونږ ایمان او ستاسو فسق (بې ایمانی) سبب د دشمنئ دے.

یا هَلْ تَكْرَهُوْنَ مِنَّا اِلَّا اِيْمَانَنَا وَفِسْقَكُمْ] (بغویؒ)

یعنی تاسو مونږ نه بد نۀ ګڼړئ مګر زمونږ ایمان او ستاسو فسق. یعنی تاسو دا وایئ چه دا خلك ولے مؤمنان او مونږ ولے فاسقان یو څکه چه دوی ته دا معلومه وه چه مؤمنان په حق دي او مونږ په خپل باطل دین باندے د ریاست او مالونو د محبت په وجه کلك ولاړ یو.

یا دا په (بِاللهِ) کې په لفظ د (الله) باندے عطف دے یعنی اِلَّا اَنْ آمَنَّا بِاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فَاسِقُوْنَ.

یعنی تاسو په مونږ باندے عیب نۀ لګوئ مګر ددے خبرے چه مونږ ایمان راوړے په الله او پدے خبره چه تاسو نافرمان یئ. مونږ ته تاسو مشرکان او کافران ښکاره کیږئ.

(ابن کثیرؒ)

او دا آیت اول کې اهل کتابو ته شامل دے او بیا په هر هغه چا باندے رد کوي چه په

مسلمانانو باندے د ایمان او د اسلام د وجه نه عیب لګوی۔ (المنار)
لکه اُوس د انټرنیټ او اخبارونو او ټی وی او ریډیو په ذریعه د اسلام او مسلمانانو بدنامی عام کولے شی۔
وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ : کی د قرآن انصاف دے چه دوی کی چه کوم ښه خلك دی او ایمان ئے راوړیدے هغه ترے وباسی۔

قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً
تهٔ ورتهووایه چه آیا خبر نهٔ درکوم تاسو ته په ډیر ناکاره (دین) سره ددے نه په اعتبار د بدلے
عِنْدَ اللهِ ؕ مَنْ لَّعَنَهُ اللهُ وَغَضِبَ
په نیز د الله تعالیٰ هغه څوك دے چه لعنت کړیدے په هغه باندے الله تعالیٰ او غضب ئے کړے
عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ؕ
په هغه او ګرځولی ئے دی د هغوی نه شادوګان او خنزیران او عبادت ئے کړے د غیر الله،
أُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّأَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾
دا کسان ډیر ناکاره دی په اعتبار د مرتبے او ډیر ګمراه دی نیغے لارے نه۔

تفسیر : پدے کی د ترك موالات څلورم علت دے، چه دوی تاسو او ستاسو دین ته شر وائی۔
او دا جواب دے د اهل کتابو د یو قول چه هغوی وئیلی وو: [لَانَعْلَمُ دِيْنًا شَرًّا مِنْ دِيْنِكُمْ] یعنی مونږ ته ستاسو د دین نه بل لوی شر والا دین نهٔ دے معلوم) یعنی تاسو به ښه خلك یئ لیکن دین مو خراب دے لکه اُوس هم کفار د ځان نه په اسلام باندے تهمتونه بیانوی او ښو خبرو له غلط رنګ ورکوی او دا وائی چه په اسلام کی دهشتګردی او زیاتے دے چه د خلکو نه لاسونه پریکوی او کوړے ورکوی، حدود او رجمونه بدناموی نو اسلام خلکو ته وحشیانه دین ښکاره کوی۔
بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ : **سوال** دا دے چه زمونږ په دین کی خو هیڅ شر نشته او د (بِشَرٍّ مِنْ) اسم تفضیل نه معلومیږی چه زمونږ په دین کی هم شر شته؟
جواب دا دے چه دا د هغوی د ګمان مطابق وئیل شویدے یعنی که ستاسو په ګمان

زمونږ په دین کی شروی نو راشئ چه ددے نه ډیر لوی شر والا دین تاسو ته وښایم۔ نو خپل دین ته نۀ ګورے او زمونږ په دین کی عیب راوباسے، لکه بعض خلك د اهل حدیثو د درے طلاقو مسئله، او اته رکعاته تراویحو باندے عیب وائی (حال دا چه دا په احادیثو کی راغلی دی) او خپلے فقهے ته نۀ ګورے چه په هغے کی روستنو خلکو څومره غلطے او ناکاره مسئلے جوړے کړیدی چه د هغے د بیانولو نه یو حیاء ناك انسان شرم محسوس کوی۔ نو د قرآن نه دا اهل بدعو جواب هم زده کیږی څکه چه اهل بدع د یهودو سره مشابه دی۔

مَثُوْبَةً : په اعتبار د بدلے۔ مَثُوْبَة مصدر میمی دے په معنیٰ د ثواب (بدلے) سره۔

مَنْ لَّعَنَهُ اللهُ : دلته دوی وویل چه ستاسو دین شر دے او په آیت کی جواب راغلو چه تاسو شریان یئ، تاسو په لعنت او غضب او د طاغوت په بندګئ اخته شوی یئ نو تاسو ډیر ناکاره خلك یئ څکه زمونږ دین ته بد ګورئ۔ یعنی تۀ هم ناکاره او دین دے هم ناکاره۔

یا هغوی د دین په باره کی اعتراض کړے وو نو جواب به هم په دین سره وی، نو دلته به مضاف پټ وی [اَیْ دِیْنُ مَنْ لَعَنَهُ اللّٰهُ بِهٖ] او دا بدل دے د (من ذٰلك) نه۔ (زاد المسیر)

یعنی تاسو ته هغه ناکاره دین نۀ ښایم چه الله پرے ناکاره بدلے ورکوی چه هغه دین د لعنتیانو او مغضوب علیهم او د عابدانو د طاغوت دے۔ یعنی تاسو باندے خو د دغه دین په وجه لعنت او غضب وشو نو دا څنګه ښه شو چه انسان پرے لعنتی کیږی؟! نو دلته به د (لَعَنَهُ الله) او (غَضِبَ عَلَيْهِ) نه روستو (بِهٖ) کلمه مراده وی۔

بیا ددے دین نه مراد آسمانی دین نۀ وو بلکه د دوی د څان نه ایجاد کړے دین مراد وو چه هغه بعض رسولان منل او بعض نۀ، او انبیاء قتلول او تحریفونه کول او په دین کی حیلے کول او سودونه او هر قسم فسادونه کول، دغه د دوی دین وو۔

وَغَضِبَ عَلَيْهِ : یعنی هغه دین چه د هغے په وجه پرے الله غضب کړے وو۔ لکه دا غضب په سورة البقره (٦١) (٩٠) آیت کی ذکر شویدے۔

وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ : پدے کی دوه قوله دی (١) څینی وائی چه د یهودیانو څه خلك د خالی په ورځ کی د اعتداء (زیاتی) کولو په وجه شادوګان (بیزوګان) جوړ شو او څه خلکو نه خنزیران جوړ شو کله ئے چه په عیسیٰ علیه السلام تکذیب وکړو۔ التسهیل لابن جزی)

(٢) او څینی وائی چه د اصحاب السبت څوانان شادوګان او بوډاګان ئے خنزیران شو۔

وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ : دا په (لَعَنَهُ الله) باندے عطف دے اَیْ (دِیْنُ مَنْ عَبَدَ الطَّاغُوْتَ) او مَن

کلمه د جمعې او مفرد دپاره يو شان استعماليږي. (يعنې دين د هغه چا چه بندګي ئې کړيده د طاغوت يعنې د سخې عبادت، او د کاهنانو تابعداري ئې کړيده او په معصيت او د حق په خلاف کې ئې د خپلو مشرانو تابعداري کړيده).

لکه د طاغوت تشريح کې مونږ سورة بقره او سورة نساء کې وئيلې وو چه [كُلُّ مَعْبُوْدٍ اَوْ مُطَاعٍ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ] ته وائي نو پدې کې عزير ﷺ، عيسىٰ ﷺ، احبار او رهبان او خپل مشران داخل دي، برابره ده چه هغوی د دوی په عبادت راضي وي او که نهٔ.

اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا : مکان نه مراد ځای دے، نو په آخرت کې د دوی مکان د جهنم اُور دے. او د مؤمنانو په مکان کې هيڅ شر نشته ځکه هغه جنت دے. يا مکان په معنىٰ د مکانت (مرتبے او حالت) سره دے يعنې د دوی حالت خراب دے که په دنيا کې وي او که په آخرت کې.

ځيني وائي : (اولئك) کې اشاره ده هغه کسانو ته چه په تاسو ئې عيب لګولے دے يعنې دغه کسان چه ستاسو په دين عيب لګوی ډير ناکاره دي د هغه کسانو نه چه الله پرے لعنت کړيدے. يعنې دا کشران د مشرانو نه زيات ناکاره دي نو د هغوی دومره بد حالت وو نو د دوی به څومره بد وی؟! (القرطبي)

وَّاَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ : يعنې دوی لعنتيان هم دي او ورسره په دنيا کې ئې صحيح لاره هم ورکه کړيده نو د دوی به څه دين وی؟!

فائده : پدے کې په يهوديانو (او نصاراؤ) باندے ډير سخت رد دے او د هغوی ډيره بد حالي ئې ذکر کړيده دپاره چه آينده دوی مسلمانانو او د هغوی دين ته ژبه را اوږده نکړي، ځکه چه دوی باندے دغه لعنتونه او غضبونه په هغه زمانه کې شوی وو چه رسولان به د دوی ترمينځ موجود وو نو د دوی نه روستنو (کشرانو) حال خو ددوی نه هم ډير ناکاره دے، او دوی ډير لائق دي چه دوی ته د هغوی نه زيات شريان وويل شي اګرکه روستنو يهوديانو هم د غضب او د لعنت ډير کارونه کړي وو او د مسلمانانو په دين باندے ئې عيبونه لګولي وو. (التحرير والتنوير ١٤٤/٥)

وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَقَدْ دَّخَلُوْا

او کله چه راشي دوی تاسو ته وائي دوی چه ايمان راوړے مونږ او حال دا چه داخل شويدي دوی

بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ﴿٦١﴾

په کفر سره او دوی وتلی دی په کفر سره او الله پو هه دے په هغه څه چه دوی ئے پټوی۔

تفسیر: مناسبت :

۱- دا د (شَرٌّ مَّكَانًا) تشریح ده یعنی دوی دومره ناکاره دی چه کلامِ الٰهی په دوی باندے اثر نکوی۔ ۲- یا دا د دوی د شر د علاماتو نه یوه علامه بیانوی چه دوی منافقان دی، او تاسو سره منافقت کوی۔ ۳- نو پدے کی د ترك موالات پنځم علت ذکر دے۔

وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ : أَیْ اِلٰی مَجٰلِسِكُمْ۔ یعنی ستاسو مجلس ته چه راغلی دی نو هم کفر ورسره ملګرے وو او چه بهر وتل نو هم کفر ورسره وو، نو کفر د دوی نه نهٔ دے زائل شوے۔ یعنی هر کله چه دوی تاسو سره منافقت کوی نو تاسو له د دوی سره دوستانه جائز نهٔ ده۔

او دوی به دا منافقت ددے وجه نه کولو چه په مؤمنانو باندے تلبیس وکړی او هغوی بیرته خپل کفر ته واپس کړی لکه په سورة آلعمران (۷۲) آیت کی ددے تفصیل ذکر شویدے۔ ﴿وَقَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوْا بِالَّذِیْ أُنْزِلَ عَلَی الَّذِیْنَ آمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ﴾

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ : یعنی دوی کی دومره لوی شر او ګمراهی پرته ده چه هغه ستاسو د علم نه بهر ده او صرف الله پرے پو هیږی۔

یا دوی چه د خلکو د ګمراه کولو کوشش کوی او دا خبره په زړونو کی پټه ساتی نو الله پرے پو هه دے هغه به خپل مؤمنان بندګان پرے خبروی۔

فائده : پدے آیت کی په طریقه د اشاره د هغه چا دپاره هم وعید پروت دے چه د دین او د علم او وعظ یو مجلس ته حاضر شی او د هغے نه هیڅ فائده وانخلی بلکه مؤمن سړے به ضرور فائده اخلی، او منافق انسان چه څه زړه کی راوړی وی هغه بیرته ځان سره وړی۔ او بعض طلباء یوے دینی مدرسے ته راشی خو خپل زوړ بدعت، تقلید، ګمراهی، شرکی عقیده نهٔ پریدی، دلائل اوری او اثر پرے نهٔ کوی دا هم یهودی خوئی دے۔

وَتَرٰی كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ فِی الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ

او وینے به ته ډیر د دوی نه چه جلتی کوی په ګناه او ظلم کی او په خوړلو د دوی کی

السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾

حرامو لره، خامخا ډیر بد دے هغه څه چه دوی ئے کوی۔

تفسیر : دا بل علت دے د موالات نۀ کولو دپاره، او د یهودو خبائث دی۔

يُسَارِعُوْنَ : د دوی بد صفت دا دے چه چرته د گناه او زیاتی کار وی نو یهودی به ورته منډه وهی، د دوی په خلاف د مؤمنانو صفت دا دے (يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرَاتِ) دوی هر قسم نیکیانو ته جلتی کوی۔ دنیا کی چه څه فساد شروع دے د دوی سرچشمه یهودیان او نصاریٰ دی او بیا ځان ته "بشر دوست" او "سوله ساتی" وائی۔

وَتَرٰی : دا دلیل دے چه دا عمل د گمراهئ او فساد ددوی هر چا ته ښکاره دے۔

يُسَارِعُوْنَ : مسارعه کی اشاره ده چه دوی په غیر د سوچ او فکر نه په عاقبت کی دا کارونه کوی۔

لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْأَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ
ولے نۀ منع کول دوی لره الله والا خلقو (پیرانو) او علماؤ د وینا د دوی نه گناه لره
وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾
او د خوړلو د دوی حرامو لره خامخا ډیر بد دے هغه څه چه دوی ئے کوی۔

تفسیر : اُوس د دوی په ملیانو رد کوی چه هغه هم ناکاره دی او حق پټوی، او دا اوم علت دے، چه دوی کی د خیر والا خلک ډیر کم دی، اکثر ملیان او ربانیین خلک ئے هم ناکاره دی۔

الرَّبّٰنِيُّوْنَ : ددے نه مراد د نصاراؤ رهبان (پیران) دی، یا هغه خلک مراد دی چه د الله پرستئ دعوه کوی، یهود وی او که نصاریٰ، او د احبار نه د دوی لوی ملیان مراد دی، او دوی اگرکه په خپله دغه گناهونه او حرام خوری نۀ کوله لیکن نور خلک به ئے نۀ منع کول نو پدے وجه ناکاره شول۔ نو دا خلک د دوی په نیز ربانیون او احبار وو نۀ د الله په نیز۔

د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی :

[مَا فِي الْقُرْآنِ آيَةٌ أَشَدُّ تَوْبِيْخًا مِنْ هٰذِهِ الْآيَةِ] (ابن جریرؒ، ابن کثیرؒ)

یعنی په قرآن کریم کی د زجر او توبیخ (زورنے) په اعتبار سره ددے نه زیات سخت بل آیت نشته۔ یعنی چه څوک ځان ته دیندار خلک او علماء وائی او د گناه نه منع نۀ نکوی نو هغه غټ بد عمله وی۔ نو دلته دیندارو ته بدعمله پدے وجه وویل شو چه نهی عن المنکر نکوی۔ (ابن جریر)

ضحاكؒ وائی : [مَا فِي الْقُرْآنِ آيَةٌ أَخْوَفَ عِنْدِيْ مِنْهَا، اِنَّا لَا نَنْهٰى]۔ زما په نيز په قرآن كې دا ډير د يرے آيت دے ځكه چه مونږ هم نهي عن المنكر نۀ كوو۔ (رواه ابن جريرؒ)

قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ : پدے كې اشاره ده چه د علماء او نيكانو ذمه وارى دا ده چه خلك به د ګناه د خبرو او د حرام خورئ نه منع كوى او پدے به سخت تركيز كوى۔

د ګناه ډيرے خبرے دى لكه كنځل، غيبت، بهتان، دروغ، د دين پورے توقے، الله ته د فقر نسبت كول، انبياء او كتابونو پورے توقے كول، ډير خلك د قرآن او حديث د مسائلو پورے استهزاء كوى۔ بكر ابو زيدؒ په خپل كتاب (المناهي اللفظية) كې پنځلس سوه منع شوى الفاظ جمع كړيدى نو ددے آيت يو قسم حق ئے ادا كړيدے۔ او اويا (۷۰) غلط كلمات چه خلك ئے استعمالوى د هغے ترديد زمونږ په كتاب امين الفتاوى (۱) كې ذكر شويدى۔

حرام خورئ هم ډيرے زياتى دى لكه سود، جوارى، رشوتونه، د دهوكے او خيانت مال، ناروا بيوع، غلط معاملات، د رسمونو او رواجونو خوراكونه وغيره۔

لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ : أَيْ مِنَ الْكِتْمَانِ۔

يعنى دوى ډير بد كار كولو چه نهي عن المنكر ئے پريښے وو، او حق ئے پټ كړے وو۔

قرطبيؒ وئيلى دى چه دا دليل دے چه د نهي عن المنكر پريخودونكے په شان د كونكى د منكر دے۔ او اشاره ده چه نهي عن المنكر مستقله فريضه ده په شان د امر بالمعروف او يو د بل په ځاى نۀ كافى كيږى۔

يَصْنَعُوْنَ : پدے آيت كې د علماؤ ذم (بدى) ده او مخكې آيت كې د عوامو، نو دلته ئے (يَصْنَعُوْنَ) ووئيل او هلته ئے (يَعْمَلُوْنَ)۔ وجه دا ده چه صنع هغه عمل ته وئيلے شى چه هميشه كولے شى او په هغے كې تجربه حاصله شى او جائز ګڼړلے كيږى نو مليانو چه نهي عن المنكر نۀ كولو نو دا عمل دوى ښه ګڼړلو او هميشه به ئے كولو۔

ابن ابى حاتمؒ د يحيى بن يَعمُر نه روايت كړيدے چه على بن ابى طالب ﷺ په خطبه كې اُووئيل چه اے خلقو ! ستاسو نه مخكنى خلق د ګناهونو د كولو په وجه هلاك شول، كله چه هغوى په ګناهونو كې مخكې شو او د هغوى علماء او مشران (اصحاب الحل والعقد) هغوى منع نكړل نو هغوى د الله په نيوكه كې راغلل۔ پدے وجه تاسو د نيكئ حكم كوئ او د بدو نه منع كوئ مخكې ددے نه چه ستاسو انجام هغه شى كوم چه د هغوى شو۔

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ط غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ
او وائي يهوديان لاس د الله تعالىٰ بند كړے شويدے (بلكه) بند كړے شويدي لاسونه د دوى
وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ لا يُنْفِقُ
او لعنت شويدے په دوى په سبب د هغه چه وائي دوى بلكه لاسونه د الله فراخه دي خرچ كوى
كَيْفَ يَشَآءُ ط وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ
څنګه چه غواړي او خامخا زياتوى ډيرو لره د دوى نه هغه كتاب چه نازل كړے شويدے تا ته
مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ط وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ
د طرفه د رب ستا نه سركشي او كفر، او اچولے دے مونږ په مينځ د دوى كې دشمني او كينه
اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ط كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ لا
تر ورځ د قيامته پورے، هركله چه بل كړي دوى اُور دپاره د جنګ نو مړ كړي هغے لره الله تعالىٰ
وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا ط وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٤﴾
او كوشش كوى دوى په زمكه كې د فساد او الله تعالىٰ مينه نكوى د فساد كونكو سره۔

تفسير: مناسبت:

دا د (قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ) تشريح ده يعنى يهودو چه كومے د ګناه خبرے كولے نو يوه پكې دا ده چه د الله بے ادبي ئے كړے وه۔ او پدے آيت كې اثم، نهم او لسم علت د ترك موالات ذكر دے۔ چه هغه دا دي (وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ) (كُلَّمَا اَوْقَدُوْا نَارًا) (وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ)۔

طبرانيؒ او ابن اسحاقؒ د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت كړيدے چه شاس بن قيس نومے يهودى رسول الله ﷺ ته اُووئيل: ستا رب خو بخيل دے، خرچ نهٔ كوى، نو دا آيت نازل شو۔

او ابو الشيخؒ د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت كړيدے چه دا آيت د بنو قينقاع يهوديانو د سردار ((فنحاص)) په باره كې نازل شويدے چه هغه وئيلي وو چه الله خو غريب دے او مونږ مالدار يو، چه په هغے باندے ابوبكر صديق ؓ هغه وهلے وو۔ ددے تفصيل د سورة آل عمران په آيت (١٨١) كې تير شويدے، هغه بيا مطالعه كړئ۔

بیا دوی دا خبره په کوم وخت کی کړې وه او ولې ئې کړې وه؟ نو ددې سبب د ابن عباس رضی الله عنهما نه دا نقل دې چه د یهودو علماء او عوام په دنیاوی ښه فراخئ کی وو، د عوامو د طرفنه به علماؤ ته د دین د وجه نه قِسم قسم آمدنئ وې او عوامو هم د حلال او حرام فرق نهٔ کولو، لیکن هرکله چه نبی کریم ﷺ مدینې ته هجرت وکړو او هلته دین اسلام خور شو نو د دوی آمدنئ کمې شوې ځکه چه اکثر خلك د دوی نه جدا شول، او اسلام کی داخل شول، نو دوی وویل چه د الله لاس زمونږ نه بند شو او هغه بخل شروع کړو (او خپلو غلطو او گناهونو ته ئې نهٔ کتل) او په سورة آل عمران کی تیر شوی وو چه دوی الله ته د فقر نسبت وکړو لکه اُوس هم ډیر جاهلان چه کله د حرام رزق دروازې پرې بندې شی او روزی ئې تنگه شی نو الله ته ناکاره نسبتونه کوی۔

وَقَالَتِ الْيَهُودُ : أَیْ عِنْدَ نُزُوْلِ الشَّدَائِدِ بِهِمْ ۔ یعنی دوی دا خبره وکړه کله چه په دوی باندې سختیانی راغلې۔او دا په دوی باندې امتحان وو دې دپاره چه دین اسلام ته راشی لیکن دوی نهٔ پو هیدل۔

یَدُ اللهِ مَغْلُوْلَةٌ : ((د الله لاس بند شویدې))۔ دا کنایه وه د بخل نه یعنی هغه بخیل شو (العیاذ بالله)۔نو لاس د الله شته (کما یلیق بشانه) لیکن د (مَغْلُوْلَة) صفت وئیل ورله ناکاره صفت وو نو ځکه پرې الله ددې مطابق رد وکړو۔

دا هغه مجرمان دی چه خپل خالق ئې هم پرینښودو او هغه ته ئې بد بد نسبتونه وکړل، ډیر لوی جرأتمند وو۔ موسیٰ علیه السلام الله ته وفرمایل: [اِجْعَلْ لِیْ اَنْ لَّا اُذْکَرَ اِلَّا بِخَیْرٍ]

ما له دا خصوصیت راکړه چه خلك زما صفتونه کوی او هیڅوك مې بدی نهٔ وائی۔ الله ورته وفرمایل: [یَا مُوْسٰی لَمْ اَجْعَلْهَا لِنَفْسِیْ فَکَیْفَ اَجْعَلُهَا لَكَ]

ما دا د خپل ځان دپاره نهٔ دې گرځولې نو تا له به ئې څنگه وگرځوم۔

(حلیة الاولیاء لابی نعیم ۱۹۸/۳)

(دا مشرکان او کفار ز ما بندگان دی زهٔ ورله رزق ورکوم او ما پیدا کړیدی او ما پسې خبرې کوی) نو پدې کی د یو مؤمن دپاره لویه تسلی پرته ده چه زمونږ د رب پسې دا مجرمان خبرې کوی نو مونږ څوك یو؟!

غُلَّتْ اَیْدِیْهِمْ : دا جمله خبریه هم جوړیږی یعنی ددوی لاسونه بند کړې شویدی، یعنی د بخل دا بد صفت خو په یهودو کی همیشه دپاره راروان دې، نو د خپل بد صفت نسبت رب ته کوی۔

او دا جمله دعائیه هم جوړیږي: یعني بند دِې کړے شي د دوی لاسونه د هر خیر نه. او په جهنم کې دِې هم بند کړے شي. او (غلت) ئے ماضي راوړه دپاره د تیقن او تفاؤل.

وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا : یعني دوی ددے ناکاره وینا په وجه په لعنت اخته شو او د الله د رحمت نه جدا شو. او بخل، حسد، بزدلي او ذلت د دوی قسمت جوړ شویدے.

﴿ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوْطَتَانِ ﴾ یعنی الله خو ډیر فضل او کرم او ډیر غټ جود او سخا والا دے. د هغه سره خو د هر شی خزانه ده، د مخلوق سره چه هر نعمت وی دا د الله د طرف نه دے. پدے کې د هغه هیڅوك شریك نشته، هغه دا هر څه مونږ دپاره پیدا کړیدی.

﴿ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوْطَتَانِ ﴾ بلکه د الله دواړه لاسونه کولاؤ دی) دے نه ښکاره ثابتیږی چه د الله تعالیٰ دوه لاسونه دی، لیکن د مخلوق سره مشابه نهٔ دی، لکه الله د خپل ځان په باره کې فرمائی : ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴾ (الشوریٰ: ۱۱) د هغه په شان هیڅ شے نشته، (نهٔ په ذات کې او نهٔ په صفاتو کې) او هغه آوریدونکے او لیدونکے دے)

همدا د سلف صالحینوؒ او ائمه کراموؒ مذهب دے. د الله د لاسونو تاویل په قدرت، یا نعمت، رحمت یا احسان سره کول لکه چه بعض گمراه ډلے ئے کوی صحیح نهٔ دے. دارنگه دا آیت د هغوی غابنونه ماتونکے جواب دے. دلته د ذکر شوی درے تاپلاتو نه هیڅ یو تاویل په قطعی توگه سره نشي برابریدے !!. دوه قدرته یا دوه نعمته یا دوه احسانه ئے فراخه دی دا معنیٰ نشي جوړیدے.

يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ : اشاره ده چه الله تعالیٰ د خپل حکمت موافق انفاق کوی په هغه باندے د هیچا اعتراض نشي کیدے.

وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا : (لیزیدن) فعل او (ما انزل الیك) ئے فاعل او (کثیرا) ئے مفعول اول او (طغیانا وکفرا) ئے مفعول ثانی دے.

یعنی قرآن به دوی لره طغیان (سرکشی) او کفر زیاتوی او زیات به ئے کړی.

مطلب دا دے چه اے محمد (ﷺ) ! الله چه تا له قرآن او د اسلام په شان نعمت درکړیدے، دا ستا د دشمنانو (یهود وغیره ؤ) دپاره مصیبت جوړ شویدے، ددوی سرکشی به زیاته کړی. مؤمنان خو د قرآن کریم نه ایمان، نیك عمل او علم نافع حاصلوی، او کافران چه د مسلمانانو سره حسد کوی نو په کفر او طغیان کې زیاتیږی. دا ولے زیاتیږی؟ ځکه چه دوی ظالمان دی ﴿ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا﴾ او په قرآن باندے د ظالمانو تاوان زیاتیږی، ځکه چه هرکله یو آیت یا سورت نازلیږی او دوی ته بیان شی نو دوی د هغه نه انکار او

سرکشي وکړي، نو طغیان او کفرئے لا زیات شي۔ یعنې دوی کې مخکې نه طغیان او کفر شته لیکن په قرآن سره نور هم زیات شي او د الله نه ډیر جدا شي۔

وَاَلۡقَيۡنَا بَيۡنَهُمُ الۡعَدَاوَةَ وَالۡبَغۡضَآءَ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ : دا د دوی دپاره الله تعالیٰ عذاب بیانوي چه ما د یهودو او نصاراؤ ترمینځ دشمني او بغضونه تر قیامته پورې اچولي دي۔ یا دا چه د یهودیانو خپل مینځ کې، او دارنګه د نصاراؤ د فِرقو خپل مینځ کې ډیره دشمني ده۔ پدې وجه یهود په یو اویا او نصاریٰ په دوه اویا ډلو تقسیم شویدي۔

كُلَّمَآ اَوۡقَدُوۡا نَارًا : دا بل علت دے یعنې دوی د رسول او مؤمنانو په مقابله کې جنګونه راپورته کوي، نو آیا دوی د موالات لائق دي؟۔

لِلۡحَرۡبِ : فِيۡ مُقَابَلَةِ الرَّسُوۡلِ وَالۡمُؤۡمِنِيۡنَ۔ یعنې کله چه دوی د رسول او مؤمنانو په مقابله کې اُور د جنګ راپورته کړي، او یو تنظیم ددے دپاره جوړ کړي چه د مسلمانانو پروګرامونه او د هغوی علماء ختم کړي، نو الله د هغوی اُور مړ کړي او پلان ئے شنډ کړي او په یو کارئے مصروف کړي چه هغه ترے پاتے شي او مسلمان خپل کار جاري وساتي، نو دوی به همیشه دپاره دغه شان سترې ستومانه وي، لیکن د الله دین او مؤمنان به نشي ختمولے، پدے آیت کې ایمان والو ته ډیر لوی زیرے دے چه که کافران د اسلام په خلاف هرڅو مره زور ولګوي لیکن اسلام نشي ختمولے۔ دوی د مدرسو د بندولو او د اهل حقو د ختمولو ډیر پروګرامونه وکړل لیکن الله تعالیٰ د هغوی مدافعت وکړو او دوی ئے په نورو مصیبتونو کې مصروف کړل۔ او داسے کار به د هر باطل پرست سره کیږي چه کله د اهل حقو په خلاف پروګرامونه جوړوي نو الله به ئے په مصیبتونو مصروفه کوي۔

او د رسول الله ﷺ په زمانه کې هم چه یهودیانو د رسول الله ﷺ په خلاف د جنګ اُور راپورته کول غوختلي دي او د څه شر خورولو اراده ئے کړیده نو الله خپله د هغوی ترمینځ اختلاف پیدا کړیدے، او د هغوی شرئے د رسول الله ﷺ نه لرے کړیدے، لکه د اُحد، او احزاب او غزوه د بني نضیر او بنو قریظه وغیره واقعاتو کې دوی د مؤمنانو په خلاف هر قسم چلونه کړي وو لیکن ناکام او ذلیله شو۔

یا مراد دا دے چه دوی کله هم د چا په خلاف جنګ کړے نو مغلوب او مقهور شویدي او د الله نصرت هیڅ کله هم دوی ته نهٔ دے حاصل شوے۔

نَارًا لِلۡحَرۡبِ : دا کنایه ده د اسباب د جنګ او مکرونو او چلونو نه۔

وَيَسۡعَوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ فَسَادًا : دا بل علت دے۔ د فساد فی الارض نه مراد د دین اسلام

او د قرآن او سنت نه خلك منع كول او د هغې مقابله كول، او د مسلمانانو په معاشره كې فتنې خورول او د يهوديت او نصرانيت اشاعت كول او په اهل حقو باندې پابنديانې لگول، او هر قسم فساد ته شامل دې ځكه چه پدې سره كفر او شرك عام كيږي او دا د دنيا د خرابئ سبب دې۔

وَلَوْ اَنَّ أَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا
او كه چرې كتاب والو ايمان راوړې وې او ځان ئې بچ كړې وې د گناهونو نه
لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ
خامخا رژولې به وې مونږ د هغوي نه بديانې د هغوي او خامخا داخل كړي به وو مونږ دوي لره
جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ
جنتونو د نعمتونو ته۔ او كه چرې دوي قائم كړې وې تورات او انجيل او هغه كتاب
اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا
چه نازل شويدې دوي ته د طرفه د رب د دوي نه خامخا خوړلې به وې دوي
مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ
د خپل بره طرف نه او د لاندې د خپو د دوي نه، بعض د دوي نه ډله ده درميانه تلونكې
وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٦﴾
او ډير د دوي نه بد دي هغه عملونه چه دوي ئې كوي

تفسير : ١-مناسبت : مخكې د هغوي فسادونه ذكر شو او د ترك موالات اسباب او علتونه بيان شو نو اُوس هغوي ته د حق دين (او توبې ويستلو) دعوت دې په طريقه د بشارت اخرويه سره، چه گناهونه به مو معاف كړم او د جنت نعمتونه به دركړم۔

٢- مناسبت : اِنَّ اللّٰهَ ضَيَّقَ عَلَيْهِمْ لِكُفْرِهِمْ وَلَوْ اَنَّهُمْ آمَنُوْا لَوَسَّعَ عَلَيْهِمْ۔

الله تعالىٰ په دوي باندې تنگي د دوي د كفر په وجه راوستې وه نو كه دوي صحيح ايمان راوړې وې نو الله به پرې فراخي راوستې وې۔

ددې نه معلومه شوه چه اقتصاد په اسلام باندې برابريږي۔

اهل بدع د خپلو خيتو د خاطره په حق عمل نۀ کوی نو دلته الله فرمائی : چه په صحیح ایمانِ او تقویٰ سره په انسان باندے رزقونه فراخه کیږی۔

اٰمَنُوا : د ایمان نه صحیح ایمان مراد دے په الله او په آخری رسول او قرآن باندے۔

سَيِّاٰتِهِمْ : يعنی هر قسم گناهونه او ناکاره صفات ځکه چه په اسلام سره ټول گناهونه معاف کیږی۔

او سیئات کی عذابونو ته هم اشاره ده یعنی په دنیا کی به د دوی نه عذابونه دفع شوی وے او په آخِرت کی به نعمتونو ته رسیدلی وے۔

اَقَامُوا التَّوْرٰةَ : د تورات او انجیل د قائمولو معنیٰ دا ده چه د هغے احکام او حدود ئے نافذ کړی وے او د نبی آخر الزمان ﷺ چه کوم صفات په هغه دواړو کی ذکر شویدی په هغے باندے ئے ایمان راوړے وے چه هغه دوی لره په ایمان کی داخلولو باندے مجبوره کوی او د قرآن کریم په کلام الٰهی کیدو باندے ئے ایمان راوړے وے، نو الله تعالیٰ به د آسمانونو او زمکے نه د خپلو برکتونو دروازے په دوی باندے راکولاوے کړے وے، او د روزی ټول اسباب به ئے ورته آسان کړی وے او د ونو میوے او غلے به ډیرے پیدا کیدلے۔

اقاموا التورات : د تورات او انجیل په قائمولو سره ایمان او تقویٰ حاصلیږی، نو دا د تقویٰ او ایمان بل تعبیر دے۔

دا آیت دلیل دے چه د الله تعالیٰ بندگی او اطاعت د رزق د فراخئ سبب دے، لکه چه الله تعالیٰ په سورة الاعراف آیت (۹۶) کی فرمایلی دی :

﴿ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰی آمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ﴾

چه (که کلو والو ایمان راوړے وے او تقویٰ ئے اختیار کړے وے نو مونږ به په دوی باندے د آسمانِ او زمکے نه د برکتونو دروازے کولاوے کړے وے)۔

لَاَكَلُوْا : ددے فائده دا ده چه په ایمان او عمل صالح سره انسان ته الله تعالیٰ په دنیا کی هم بدلے ورکوی او په آخرت کی هم، ځکه چه د الله رحمت فراخه دے۔ نو مخکی (لَكَفَّرْنَا) کی آخرت مراد دے او دلته دنیا شوه۔

او دلته ئے خوراك ذکر کړو ځکه چه د عامو انسانانو خوراك ته ډیرے سترگے پورته کیږی۔

مِنْ فَوْقِهِمْ : ۱-دا یا کنایه ده د ټولو اطرافو نه۔ ۲- یا (فوقهم) حُکامو ته او (تحت ارجلهم) عوامو ته وائی، یعنی دوی ته به دا رزقونه د حُکامو او عوامو د طرفنه راتللے۔

۳- یا فوق آسمان ته او تحت زمکے ته وائي۔ دلته ټول مراد دی۔
أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ : درمیانه روان دی۔ یعنی په حق باندے روان دی۔د اهل کتابو نه چه کوم خلقو په نبی کریم ﷺ باندے ایمان راوړو لکه عبد الله بن سلام، نجاشي او سلمان الفارسی رضی الله عنهم وغیرهم نو الله تعالیٰ د دوی صفت وکړو چه دا یو جماعت او ډله ده چه درمیانه روان دی یعنی په حق۔ لیکن دوی ډیر کم وو او اکثرو اهل کتابو بد بد اعمال کول، حق ئے بدل کړو او د هغے نه ئے اعراض اُوکړو، او د اسلام او د مسلمانانو په دشمنئ کی ئے د حد نه تجاوز اُوکړو۔

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ
اے رسوله ! (ﷺ) ورسوه ټول هغه چه نازل شویدے تا ته د طرفه د رب ستا نه
وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ
او که تا داسے ونکړل نو نهٔ دے رسولے تا هیڅ پیغام د الله تعالیٰ او الله به ساتی تا لره
مِنَ النَّاسِ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٦٧﴾
د خلقو نه یقیناً الله تعالیٰ هدایت نهٔ کوی قوم کافرانو ته۔

تفسیر : ددے ځای نه روستو بیان د طرق التبلیغ دے یعنی اهل کتابو ته به په کومو طریقو دعوت ورکولے شی سره د بیان د خبائثو د هغوی نه، او علتونه د ترك د موالات د هغوی نه۔سره د تحذیر (بچاؤ) نه د هغوی د صفاتو نه او د هغوی سره د تشبه کولو نه۔ او په هغوی باندے نهٔ دهوکه کیدل او ددے خبرے بیان چه دوی د الله تعالیٰ دشمنان دی او د هغه اولیاء نهٔ دی۔

طرق التبلیغ دا دی : اول (بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ) (قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ) (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا) (لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ) (قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا) (لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً) یعنی په تبلیغ کی نرم او سخت دشمن پیژندل ضروری وی۔

او علی العموم د یهودیانو خباثتونه او د هغوی د موالات پریخودل او هغوی صحیح لارے ته رابلل بیان شویدی۔ او د امت اسلامیه دپاره پکی ډیرے فائدے دی۔

الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ په لفظ د (الرسول) سره پدے وجه مخاطب کړو چه هغه ته دا خبره رایاده کړی چه د رسالت منصب ددے خبرے تقاضا کوی چه دا د کوم پیغام په رسولو

مکلف شویدے نو دا په پوره ذمه وارئ سره ادا کړی او پدے کی هیڅ تقصیر ونکړی۔

امام شوکانیؒ لیکلی دی چه د (بلغ ما انزل الیك) د عموم نه دا خبره معلومیږی چه په رسول الله ﷺ بانـدے د الله د طرف نـه واجب وه چـه پـه هـغـه بانـدے کومه وحی نازلیږی خلقـو تـه ئے بغیر د کمی زیاتی نه اُورسوی۔ د هغے نه هیڅ شے پټ نکړی، او دا ددے خبرے دلیل دے چه نبی ﷺ د الله د دین هیڅ حصه په پټه سره کوم خاص شخص ته نۀ ده خودلے چه هغه ئے نورو ته نۀ وی خودلی،

پدے وجه په صحیحینو کی د عائشه رضی الله عنها نه روایت شویدے هغه فرمائی :

[مَنُ زَعَمَ أَنَّ رَسُوُلَ اللّٰهِ ﷺ كَتَمَ شَيْئًا مِنُ كِتَابِ اللّٰهِ فَقَدُ أَعُظَمَ عَلَى اللّٰهِ الْفِرُيَةَ وَاللّٰهُ يَقُوُلُ : يَا أَيُّهَا الرَّسُوُلُ بَلِّغُ مَا أُنُزِلَ اِلَيُكَ مِنُ رَّبِّكَ وَاِنُ لَمُ تَفُعَلُ فَمَا بَلَّغُتَ رِسَالَتَهٗ]۔

یـعـنـی چـه څوك دا گمان کوی چه محمد ﷺ د وحی څه حصه پټه ساتلے وه، نو دے په الله بانـدے ډیـر لـوی دروغ جوړوی ځکه چه الله فرمائی: که تا ټوله وحی ونۀ رسوله نو تا د الله هیڅ پیغام نۀ دے رسولے۔

په صحیح بخاری کی د ابوجُحیفه وَهُبَ بن عبد الله السُوائیؒ روایت دے چه ما د علی بن ابی طالب رضی الله عنه نـه تپوس اُوکړو چه آیا تا سره د وحی څه حصه شته چه په قرآن کی موجود نۀ وی ؟ نو هغه اُووئیل چه نۀ، [لَا وَالَّذِيُ فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ اِلَّا فَهُمًا يُعُطِيُهِ اللّٰهُ فِي الْقُرُآنِ وَمَا فِيُ هٰذِهِ الصَّحِيُفَةِ] (بخاری : ٣٠٤٧)

قسم په هغه ذات چه هغه دانے څیری کړی او روح ئے پیدا کړے سوا د هغه فهم (پوهے) د قرآن نـه چـه الله ئے یـو بـنـده ته ورکوی او څه چه پدے صحیفه کی دی۔ راویؒ وائی چه ما اُووئیـل : پدے صحیفـه کی څه دی ؟ هغه اُووئیل چه د دیت احکام، د قیدی آزادول او دا چه د کافر په بدله کی به مسلمان نشی قتل کیدے)۔

د آیت نـه دا هـم مـعـلـومیږی چه که د وحی څه حصه نبی ﷺ پټولے نو د رسالت ذمه واری نـۀ ادا کیـدلـه۔ او په حجة الوداع کی شریك تمامو صحابه کرامو ددے خبرے گواهی ورکـړه چـه تـا د الله پیـغـام بـغیر د کمی زیاتی نه خلقو ته اُورسولو او امانت دِے پوره طریقے سره ادا کـړو لـکـه چـه امام مسلمؒ د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نـه روایـت کـړیدے چه نبی ﷺ د خطبے په وخت کی د خلقو نه تپوس اُوکړو او ټولو گواهی ورکړه چه آؤ تا پیغام اُورسولو۔

او دا هـم مـعـلـومه شوه چهٔدین کامل مکمل شویدے او د امت دپاره ټول ضروری احکام خودلے شویدی نو څوك چه دا ناقص گنړی لوی دروغجن دے۔

وَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهٗ :

سوال دا دے چه دلته شرط او جزاء یو شان مطلب ورکوی، یعنی که تبلیغ دِ ے ونکړو نو تا تبلیغ ونکړو او ددے خو پوره فائده نۀ راوځی؟

نو اهل التفسیر پدے مقام کی ډیر توجیهات کړیدی :

(۱) یو دا چه د (ان لم تفعل) سره بعض تبلیغ مراد دے او (فما بلغت رسالته) کی کل مراد دے۔ أَیۡ اِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ بَعۡضَهٗ فَمَا بَلَّغۡتَ کُلَّ الرِّسَالَةَ]

که تا بعض حصه تبلیغ پریخودو نو تا ټول رسالت نۀ دے رسولے، یعنی که د وحی پدے پیغام کی یوه مسئله هم درنه پاتے شوه نو ټوله پیغمبری دِ ے نا منظوره ده۔

(۲) بَلِّغۡ جَهۡرًا وَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ جَهۡرًا فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهٗ ۔ ښکاره تبلیغ وکړه (کوم ځای چه جهر ته ضرورت وی) که په ښکاره تو که دِ ے ونۀ رسولو نو تا پیغام نۀ دے رسولے۔

(۳) بَلِّغۡ مِنۡ غَیۡرِ مَخَافَةِ النَّاسِ وَمُدَاهَنَتِهِمۡ وَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهٗ ۔

یعنی پیغام ورسوه په غیر د ویرے او د مداهنت د خلکو نه او که دا کار دِ ے ونکړو او د خلکو نه دِ ے یره وکړه نو تا به پیغام نۀ وی رسولے۔

ډیره سخته خبره ورته الله تعالیٰ کړیده، نو پدے خبره به رسول الله ﷺ ته ښو مره زور ملاؤ شوے وی۔

یَعۡصِمُكَ : أَیۡ یَمۡنَعُكَ مِنۡ فَتۡکِهِمۡ ۔ تا به محفوظ کوی د هغوی قتل کولو نه تا لره۔ (المنار) او نفس تکلیف خو رسول الله ﷺ ته رسیدلے شی لکه په اُحُد وغیره کی۔

په ((والله یعصمك من الناس)) کی د الله وعده ده چه هغه به د خپل رسول ﷺ حفاظت کوی۔ نو همدغسے اُوشوه چه الله تعالیٰ په هر قدم کی د هغه حفاظت اُوفرمایلو۔

بخاری او مسلم او ابن ابی حاتمؒ وغیرهم د عائشه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه ددے آیت د نزول نه مخکی به د نبی ﷺ نګرانی (حفاظت) کیدو، کله چه دا آیت نازل شو نو نبی ﷺ د خیمے نه سر رابهرکړو وے فرمایل : اے خلقو ! واپس لاړ شئ اُوس به زما حفاظت الله تعالیٰ کوی۔

الله تعالیٰ د هغه حفاظت د مکے د مشرکانو نه اُوکړو، نو د زرګونو دشمنانو باوجود هغوی د رسول الله ﷺ یو ویښته ته هم نقصان اُونۀ رسولو۔ په ابتداء کی ئے د تره ابو طالب په ذریعه حفاظت اُوکړو کوم چه د قریشو منلے شوے سردار وو۔ د ابو طالب د مرګ نه روستو مشرکانو څه ضررونه اُورسول لیکن الله د مدینے انصار د نبی ﷺ د

حفاظت دپاره تیار کړل چه هغوی د نبی ﷺ هر قسم مدد اُوکړو، او په خپل ځانونو ئے لوبے اُوکړے خو د نبی ﷺ حفاظت ئے اُوکړو، د اهل کتابو یا د مشرکانو نه چه کله هم چا نبی ﷺ ته نقصان رسول غوختل نو الله د هغوی مکرونه ناکام کړل، یهودیانو جادو اُوکړو نو الله معوذتین د علاج په توګه نازل کړل، او د خیبر یهودیانو چه کله په غوښه کی زهر واچول او په نبی ﷺ باندے ئے د خوړلو اراده اُوکړه نو د وحی په ذریعه الله تعالیٰ نبی ﷺ ته خبر ورکړو او د هغوی د شر نه ئے بچ اُوساتلو۔

ماوردیؒ په خپل کتاب ((اعلام النبوة)) کی د نبی کریم ﷺ د عصمت او حفاظت د عنوان لاندے داسے واقعات لیکلی دی چه په هغے کی دشمنانو د نبی ﷺ د قتل ارادے کړیدی، لیکن الله تعالیٰ د هغه حفاظت کړیدے۔ پدے ضمن کی ئے د ابوجهل، معمر بن یزید او کلدة بن اسد واقعات ذکر کړیدی چه هغوی د نبی کریم ﷺ قتل غوختل لیکن الله کله په یرونکے اژدها سره او کله د خطرناك اُوښ په ذریعه دغه دشمنان داسے مرعوب کړیدی چه د هغوی د تیختے لاره نهٔ وه۔

لَا يَهۡدِي الۡقَوۡمَ الۡكٰفِرِيۡنَ : دا علت دے د مخکی (يَعۡصِمُكَ) دپاره یعنی الله به دغه کسان مقصد ته نهٔ رسوی کوم چه ستا د ضرر پسے لګیدلی وی بلکه دوی به نا مراده او تاوانی وی او د الله وعدے به پوره کیږی تردے چه د هغه دین پوره شی۔ (المنار)

یا مقصد دا دے چه ستا په دعوت به چا ته هدایت کیږی او چا ته نهٔ خو چه څوك د کفر اراده لری او انابت پکی نهٔ وی نو هغه ته به هدایت نهٔ کیږی۔

قُلۡ يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ لَسۡتُمۡ عَلٰى شَىۡءٍ حَتّٰى تُقِيۡمُوا التَّوۡرٰىةَ
تهٔ ووایه ! اے کتاب والو! نهٔ یئ تاسو په هیڅ شی (د دین) تردے چه عمل وکړئ په تورات
وَالۡاِنۡجِيۡلَ وَمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكُمۡ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ ؕ
او انجیل او په هغه کتاب چه نازل کړے شویدے تاسو ته د طرفه د رب ستاسو نه
وَلَيَزِيۡدَنَّ كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ مَّاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ
او خامخا زیات به کړی ډیرو لره د دوی نه هغه کتاب چه نازل شویدے تا ته
مِنۡ رَّبِّكَ طُغۡيَانًا وَّكُفۡرًا ۚ فَلَا تَاۡسَ عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۶۸﴾
د طرفه د رب ستا نه سرکشی او کفر لره نو مهٔ غمجن کیږه په قوم کافرانو۔

تفسير : پدے کی بله طريقه د دعوت ده او دا بيان دے د (بَلِّغْ)

شان نزول

د تفسير علماؤ د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت كړيدے چه څه يهوديان د رسول الله ﷺ خوا ته راغلل (چه په هغوى كى رافع بن جاريه، سلام بن مِشْكم، مالك بن الصيف او رافع بن حُرَيْمِله وو) او ويے وئيل چه آيا ته دَدے خبرے اقرار نهٔ كوے چه تورات د الله كتاب دے؟ نبى ﷺ اُووئيل چه آؤ، نو هغوى اُووئيل چه مونږ په هغے باندے ايمان راوړو او د هغے نه سِوىٰ نورو نه انكار كوو۔

نو دا آيت نازل شو چه اے زما رسوله (ﷺ)! ته اُووايه چه اے اهل كتابو! تاسو په هيڅ دين باندے نهٔ يئ ترڅو چه تاسو په تورات او انجيل كى په موجود اوامرو او نواهيو باندے عمل اُونكړئ چه په هغے كى دا حكم د ټولو نه ړومبے دے چه تاسو به د نبى كريم ﷺ اتباع كوئ او په قرآن به هم عمل كوئ۔ (الطبرى والتحرير والتنوير)

حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ : ۱- دَدے يوه معنىٰ دا ده چه د اهل كتابو سره د تورات او انجيل كوم باقيمانده احكام پاتى دى سره دَدے نه چه په هغے كى تبديلى او تحريف هم شويدے چه په هغے باندے عمل وكړى ځكه چه دَدے كتابونو په احكامو او اوامرو او نواهيو كى تحريف ډير كم شويدے او اكثر تحريف په قِصَص او اخبار او عقائدو كى شويدے او د هغے د اقامت امر نهٔ كيږى، او شك نشته پدے كى چه د تورات او انجيل احكام او مواعظ او نصائحو كى ډير داسے څيزونه شته چه په هغے كى هيڅ عيب نشته او په هغے كى د خلكو دپاره هدايت دے نو كه دوى دغه كتابونه قائم كړى سره د تحريف نه نو دوى به په يو معتبر شى باندے روان شى چه هغے ته دين وئيلے شى، او كله چه هغه قائم نكړى او د هغے په خلاف روان شى نو دوى به د هر شى نه خالى شى چه هغے ته دين وئيلے شى او دوى به په خپل دين باندے كامل مؤمنان نهٔ حسابيږى۔

او دا صحيح معنىٰ ده۔ او دَدے نه دا نهٔ معلوميږى چه ګنے تورات او انجيل قائمولو باندے امر كول دَدے تقاضا كوى چه د هغوى دين محفوظ دے۔

۲- دويم مطلب دا بيان شويدے چه دلته حقيقى او صحيح تورات او انجيل قائمولو باندے امر شويدے او دا دے لره مستلزم ده چه دوى به دَدے تالاش كوى چه كوم كى

تحریف شویدے او کوم کی نهٔ، چه پدے کی حق او باطل معلوم کړی لیکن دا کار انتهائی مشکل دے، نو بیا به دوی په حق دین باندے روان شی، لیکن که دوی د قرآن کریم اتباع وکړی نو ددے تهولو مشقتونو نه به خلاص شی مګر دوی خپل صحیح کتابونو باندے هم عمل ونکړو او نهٔ ئے د قرآن اتباع شروع کړه نو په حق دین روان نشو،

نو ګویا که آیت دوی ته دا خبره وربنائی چه کله دوی د قرآن کریم اتباع ونکړی نو دوی باندے به لوی مشقت لازم وی چه هغه تالاش کول د حق تورات او انجیل دی، او د هغے نه روستو به دوی په یو شی د حق باندے روان شی لیکن بیا به هم تهول حق باندے روان نهٔ وی اګرکه حقیقی تورات او انجیل قائم کړی، او بیا چه کله دا کتابونه په خپل حقیقت باندے پاتے هم نهٔ دی نو دوی به خامخا په حق باندے روان نهٔ وی نو معلومه شوه چه دوی په هیڅ شی باندے مطلقاً روان نهٔ دی۔ نهٔ ئے خپل صحیح کتابونه راواخستل او نهٔ حق قرآن۔

بیا **سوال** راپیدا شو چه هرکله دوی سره حق دین نشته نو بیا دوی ته الله تعالیٰ د تورات او انجیل د قائمولو حکم ولے کوی سره ددے نه چه هغه په قرآن کریم باندے منسوخ شویدی ؟ **جواب** دا دے چه هر عقلمند پدے کی هیڅ شك نهٔ کوی چه د اهل کتابو دپاره دا غوره ده چه د خپل دین په اصلی احکامو عمل وکړی ځکه چه کله دوی په اصلی احکامو عمل شروع کړو نو د ډیرو دروغو او تحریف او عناد او ضرر او فساد فی الارض او د هلاکولو د فصل او د نسل او د زنا نه به بچ شی۔

نو د اول تفسیر په بناء به د قرآن مقصد دا وی چه دوی ته تیزی ورکوی چه که تاسو ایمان په قرآن نهٔ راوړئ نو کم از کم په خپل دین خو عمل شروع کړئ دے دپاره چه نبی کریم ﷺ او د هغه ملګری د دوی د شرونو او ضررونو نه محفوظ شی لیکن کله چه دوی په خپل دین باندے عمل شروع هم کړو بیا به هم دوی په حق او کامل دین باندے روان نهٔ وی بلکه د آیت نه دا معلومیږی چه دوی به په یو شی د دین باندے وی چه هغه د نهٔ دین نه غوره ده، او دا تریے نهٔ معلومیږی چه دوی به په دغه وخت کی په تهول حق او کامل دین باندے روان وی ځکه چه دا صرف اسلام دے چه د الله په نیز باندے کامل مکمل دین دے۔

انتهیٰ ما نقله القاسمی عن بعض المحققینؒ)

عَلٰی شَیۡءٍ : اَیۡ عَلٰی دِیۡنٍ یُعۡتَدُّ بِهٖ)۔

یعنی په یو داسے دین باندے چه هغه معتبر وی د الله په نیز۔ دوی خو په یو شی روان دی چه هغه ګمراهی ده، لیکن په صحیح دین نهٔ دی روان۔

او پدے تعبیر کی انتهائی تحقیر او سپکاوے دے د دوی یعنی ستاسو دین داسے فاسد او باطل دے چه هغه ددے مستحق نهٔ دے چه هغے ته څه شے وویل شی۔ (القاسمیؒ)

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ : ١- ددے نه مراد قرآن کریم دے چه پدے سره د پخوانو انبیاؤ علیهم السلام دینونه کامل شویدی۔ ځکه چه قرآن کریم موجوده یهود او نصاراؤ ته هم راغلے دے۔

٢- یا ددے نه مراد هغه وحی ده چه پخوانو انبیاؤ ته ورکړے شوے وه چه په هغے کی د رسول الله ﷺ د بشارت خبره هم وه۔ (روح المعانی والمنار)

او دغه شان مصداق په ﴿ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ ﴾ کی هم تیر شو، فرق دا دے چه هلته د تیر شوے زمانے حال بیانیدو او دلته د موجوده زمانے خلکو ته خطاب دے، او په دواړو زمانو کی دوی باندے حجت قائم شویدے، نو دوی دغه کتابونه مخکی هم نهٔ وو قائم کړی او نهٔ ئے ددے خطاب په وخت کی قائم کړل، او د دوی دا وس نهٔ وو چه په هغه زمانه کی ئے قائم کړی او نهٔ موجوده زمانه کی نو پدے کی د دوی پدے دعویٰ باندے رد دے چه دوی وئیلی وو چه زمونږ د آخری رسول تابعداریٔ ته ضرورت نشته ځکه چه مونږ د پخوانو انبیاؤ پسے روان یو نو الله ورته فرمائی چه تاسو نهٔ په پخوانو کتابونو عمل کړیدے او نهٔ په موجوده کتاب (قرآن) باندے۔ (المنار٦/٣٩٢)

مفسرین لیکی : أَخْوَفُ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ] : دا آیت هم په قرآن کریم کی ډیر د یرے آیت دے۔ ځکه چه الله فرمائی چه تاسو بی دینه یئ چه آسمانی کتابونه ونهٔ دروئ او په هغے عمل ونکړئ نو هغه خلك بی دینه دی چه د هغوی په مُلك کی او د هغوی په بدن کی قرآن قائم نهٔ وی او په هغے عمل نهٔ وی۔

صاحب المنار وائی : پدے کی عبرت دا دے چه مسلمانان به په هیڅ معتبر دین روان نهٔ وی تردے چه قرآن کریم قائم کړی او ددے هدایت قبول کړی ځکه چه د الله حجت په ټولو بندګانو باندے یو شان دے، نو کله چه الله تعالیٰ د اهل کتابو نه دغه تقلیدونه نهٔ قبلوی کوم چه دوی لره د وحی نه منع کړیدی او سره ددے نه چه په دغه کتابونو کی تحریف او زیادت او نقصان هم شویدے، نو ډیره لائقه ده چه مونږ نه به هم دغه شان کار نهٔ قبلوی سره ددے نه چه زمونږ کتاب محفوظ هم دے۔ لیکن عام خلك ددے نه غافله دی او مذاهبو ته په نسبت کولو باندے راضی شویدی او زمونږ د مشرانو امامانو اقتداء نهٔ کوی او د دین حکمتونو او مقاصدو ته نظر نهٔ کوی۔ او هرکله چه دین ته نسبت کول په آخرت

کې فائده نۀ ورکوي مګر هله چه د دين کتاب قائم کړے شي نو پدے وجه الله تعالیٰ د دغه دليل نه روستو د دين اصول بيان کړيدي کوم چه د اقامت د کتابونو الهيه ۀ مقصود دے چه په هغے باندے جزاء او ثواب مرتب دے۔ (المنار)

وَلَيَزِيدَنَّ : يعني د ډيرو اهل کتابو دپاره قرآن کريم طغيان (سرکشي) او کفر زياتوي ځکه چه دوی په الله او په رسولانو باندے صحيح ايمان نۀ لري او نۀ په صحيح عمل روان دی کوم ته چه دغه کتابونو دعوت ورکړيدے بلکه دوی د خپلو مشرانو باطل تقليدونو پسے روان دی او جنسي عصبيت (تعصب) راخستي دی، او غلط عادات او ردی عملونو کې اخته دی، نو پدے وجه دوی قرآن ته د انصاف په نظر نۀ ګوري او دوی سره حق دين نشته چه په هغے باندے عمل وکړي او هغه عمل د دين اسلام حقيقت معلومولو ته رانزدے کړي او پدے خبره پوهه شي چه د الله دين يو دے مخکني دينونه ئے ابتداء وه او دا دين اسلام ئے اتمام (پوره والے) دے، بلکه دوی اسلام او قرآن ته د تعصب او ظلم په نظر ګوري نو دا ئے سبب د زيادت د کفر او طغيان شو۔

او هرچه په دوی کې لږ خلك دی نو هغوی د توحيد حفاظت کړيدے او دغه تقليدونو د حق د رڼا نه نۀ دی منع کړي، نو هغوی قرآن ته د بصيرت په نظر ګوري او پدے پوهيږي چه دا د رب د طرفنه حق کتاب دے او دا نبي حق نبي دے چه د دوی په کتابونو کې ئے زيرے ورکړے شويدے نو په جلتئ سره په دۀ باندے ايمان راوړي۔ (المنار٦/٣٩٣)

(ما انزل اليك) : مخکې ئے (ما انزل اليهم) ووېل او دلته ئے نسبت رسول الله ﷺ ته وکړو دے کې فرق دا دے چه اول کې اشاره ده چه په قرآن کريم باندے اهل کتاب هم مخاطب دی او هغوی ته هم پدے باندے د ايمان دعوت ورکړے شويدے۔ او دلته ئے نسبت رسول الله ﷺ ته وکړو پدے کې اشاره ده چه ددے کتاب رسول الله ﷺ ته نازليدل دا سبب د طغيان او د کفر د دوی دے، او دوی پدے قرآن پدے وجه کفر نۀ کوي چه ګنے ددے د عقائدو او آدابو او شرائعو نه منکر دی او دا بد ګڼري بلکه د دوی د رسول الله ﷺ او ددۀ د قوم عربو سره دشمني ده۔ ځيني وائي : دا فائده کوي چه دوی د رسول الله ﷺ نه بيزاره دی او د دوی پدے قرآن کريم کې هيڅ برخه نشته۔(المنار)

فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَٰفِرِينَ : ١- يعني کله چه الله تعالیٰ دوی لره ګمراه کوي يا ئے هلاکوي نو په دوی غم مۀ کوه ځکه چه دوی ځانونه خپله هلاکت ته ارتوي۔

٢- يا مطلب دا دے چه کله تا دوی ته د مَا انزل دعوت ورکړو او د دوی طغيان او زيات

کفر دِیے ولیدو نو په دوی باندے خفگان مهٔ کوه ځکه چه د دوی په نفسونو کی انتهائی خباثت دیے نو ددیے ضرر به دوی ته راواپس کیږی نهٔ تا ته او ستا دپاره په مؤمنانو سره د دوی نه بی پرواهی ده۔ (القاسمیؒ)

۳- یعنی په دوی باندے خفگان مهٔ کوه ځکه چه دا داسے خلك دی چه کفر په دوی کی ځای موندلے دیے او کفر د دوی لازمی صفت گرځیدلے دیے او دا نکته ده د وضع د اسم ظاهر په ځای د ضمیر، او ستا دپاره الله کافی دیے او بیا ستا د قوم مؤمنان او د اهل کتابو مؤمنان لکه عبد الله بن سلام وغیره۔ (المنار)

٤- یا د دوی په ایمان نهٔ راوړو مهٔ خفه کیږه او هیڅ پرواه ئے مهٔ ساته۔ (التحریر)

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ
یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدیے او هغه کسان چه یهودیان دی او صابئین
وَالنَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا
او نصاریٰ چا چه ایمان راوړو (د دوی نه) په الله او په ورځ روستنئ او عمل ئے وکړو نیك
فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴿٦٩﴾
نو نهٔ به وی هیڅ یره په دوی او نهٔ به دوی غمجن شی۔

تفسیر : پدیے کی د دعوت طریقه دا ده :

[لَا اِعْتِبَارَ لِلدَّعَاوِیْ اِنَّما الْاِعْتِبَارُ لِلْاِیْمَانِ وَالْعَمَلِ الصَّالِحِ]

یعنی دعوو له اعتبار نشته بلکه ایمان او عمل صالح لره اعتبار دیے۔ تاسو د یهودیت او د نصرانیت دعوے کوئ چه دا الله ته نزدیے دین دیے او مونږ د الله دوستان او محبوبان یو نو دیے دعوو له اعتبار نشته، راشئ صحیح ایمان او نیك عمل شروع کړئ۔

ربط :

۱- مخکی د هغوی کفر بیان شو نو اُوس هغوی ته ایمان طرفته دعوت ورکولے شی۔

۲- پدیے کی تفسیر د اقامة الکتب ذکر دیے۔

۳- صاحب المنارؒ وائی : هرکله چه یو دین ته نسبت کول په آخرت کی هله فائده ورکوی چه د دغه دین په کتاب باندے عمل وکړیے شی نو الله تعالیٰ ددیے نه روستو د دین اصول بیان کړل کوم چه د آسمانی کتابونو د قائمولو نه مقصود دی او په کوم باندے چه

جزاء او ثواب مرتب کیږي نو ان الذین ئے وفرمایل : ددے مناسبت دا شو چه پدے کی الله تعالیٰ دا بیانوی چه اهل کتابو د الله دین نهٔ دے قائم کړے، نهٔ اصول او نهٔ فروع، او نهٔ ئے د الله تعالیٰ د کتابونو حفاظت کړیدے بلکه په هغے کی ئے تحریفونه کړیدی او د خپل ظاهر نه ئے اړولی دی، او نهٔ ئے په الله تعالیٰ او په ورځ د آخرت هغه شان ایمان راوړو په کومه طریقه چه د دوی نیکانو مشرانو راوړے وو او نهٔ دوی د هغوی په شان نیك عملونه وکړل البته معمولی شان څه کسان وو چه هغه په ښارونو کی پټ وسیدل او د الله په توحید به ورته عذابونه ورکړے کیدل چه هغوی د ګیرجو تقلیدونه پریښی وو۔ (المنار)

پدے آیتِ کریمه کی د الله تعالیٰ دا وعده ذکر شوه چه څوك په الله او په ورځ د آخرت ایمان راوړی او نیك عمل کوی هغه باندے به په ورځ د قیامت نهٔ څه یره وی او نهٔ به غم وی، لیکن د نبی کریم ﷺ د بعثت نه روستو دا وعده پدے شرط سره مشروط ده چه هغه تمام خلق او هغه تمامو ډلے چه پدے آیت کی ذکر شویدی دوی به په نبی ﷺ باندے ایمان راوړی، او دین اسلام به قبلوی، او د شریعتِ اسلامیه مطابق به عمل کوی۔

البته کومو خلکو چه د رسول الله ﷺ د راتګ نه مخکی ایمان راوړے وو او عمل صالح ئے کړے وو هغه هم کامیاب وو۔ او ددے آیت باقی تشریح د سورة البقره په آیت (۶۲) کی ذکر شویده۔

صرف فرق دا دے چه هلته (الصابئین) منصوب وو او دلته مرفوع راوړلے شویدے۔

حکمة دا دے چه د نحو قواعد اکثری دی، (مګر دا قول زجاجؒ ضعیف کړیدے- التحریر)

یا دا چه دا عطف دے په محل د اسم د اِن او محل د اسم د اِن مرفوع وی یا دا چه (الصابئون) مبتداء ده او خبرئے پټ دے [أَيِ الصَّابِئُونَ حُكْمُهُمْ كَذٰلِكَ] د صابئون حکم هم دغه شان دے۔ او مقصد پدے کی تاخیر او روستو کول د دوی دی د ټولو نه روستو۔

بیا پدے تاخیر کی فائده څه ده ؟

نو فائده دا ده چه پدے کی تنبیه ده پدے خبره چه که صابئینو صحیح ایمان او عمل صالح اختیار کړو نو په هغوی باندے به هم رحم کولے شی نو پاتے لا نور خلك ؟ ځکه چه صابئین پدے ټولو ډلو کی لوی ګمراهان او د حق نه ډیر جدا دی، او دوی ته صابئین په همدے وجه وئیلے شویدی چه دوی د ټولو دینونو نه وتلی دی۔ (القاسمیؒ)

صاحب المنار وائی : چه د عربو بلغاؤ دا قاعده ده چه په کوم شی باندے تنبیه په سمع (آوریدو) مقصود وی یا مفرداتو یا جملو ته متوجه کول مقصود وی نو هغه د نورو نه په

تغییر د اعراب سره یا په خطابت کې د آواز په پورته کولو سره یا د حروفو په غټوالي سره یا د سیاهۍ د رنګ په بدلولو سره جدا کولے شي، نو دلته هم (الصابئون) باندے دا تنبیه ورکوي چه دوی اهل کتاب دی لیکن پدے آیت باندے مخاطبینو خلکو دوی لره نهٔ پیژندل نو دا ګمان نهٔ کیدو چه دوی به د آسماني کتابونو والو سره پدے حکم کې شریك وي نو په شریعت د بلاغت کې دا خبره ښه شوه چه تنبیه ورکړي پدے خبره سره چه د دوی به هم د نورو مسلمانانو او یهود او نصاراؤ په شان حکم وي کله چه صحیح ایمان راوړي او عمل صالح وکړي، او دا تنبیه ئے د اعراب په ترتیب بدلولو سره ورکړه، او دا تغییر پداسے مقام کې صرف فصیح شمارلے کیږي،

او ددے مثال داسے دے لکه یو تن ووائي : [إِنَّ زَيْدًا وَعَمْرًا وَكَذا بَكْرٌ أَوْ بَكْرٌ كَذٰلِكَ- قَادِرُوْنَ عَلٰى مُنَاظَرَةِ خَالِدٍ] ـ یعني زید او عمر او دغه شان بکر د خالد په مناظره قادر دی، دا به هله بلیغ وي چه کله دا ګمان کیږي چه بکر د خالد په مناظره کې عاجز دے او ستا مقصد دا وي چه تهٔ تنبیه ورکړے په خطائي ددے ګمان باندے نو اعراب د بکر بدل کړه ددے نکتے دپاره۔ (المنار)

لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ
یقیناً اخستے ده مونږ مضبوط وعده د بني اسرائیلو نه او رالیږلي وو مونږ دوی ته
رُسُلًا ۭ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى
رسولان هر کله چه به راغلو دوی ته یو رسول په هغه خبرو چه نهٔ به خوښولو
اَنْفُسُهُمْ ۙ فَرِيْقًا كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ﴿٧٠﴾
زړونو د دوی نو یوه ډله به ئے دروغجنه کړه او بله ډله به ئے وژله۔

تفسیر : پدے (۷۰/۷۱) آیتونو کې د بني اسرائیلو تاریخ بیان شویدے۔

الله تعالیٰ د دوی نه لوظ واخستو چه دوی به صرف د هغه عبادت کوي او اوامرو او نواهیو کې به صرف د هغه اطاعت کوي، او د دوی په حال ئے رحم اُوکړو، د دوی د هدایت دپاره ئے انبیاء علیهم السلام راولیږل، او دوی له ئے حکومت او سلطنت ورکړو، لکه د یوشع بن نون (علیه السلام) په زمانه کې د دوی حکومت شو،

لیکن دوی د زمانے په تیریدو سره د بتانو عبادت شروع کړو، او د انبیاؤ علیهم السلام نه

د بعضو تكذيب ئے اُوكړو او بعض ئے قتل كړل، او گمان ئے اُوكړو چه دوى به نۀ رانيولے كيږى، پدے وجه د حق د قبلولو نه ړاندۀ او كاڼۀ شو نو الله په دوى باندے د بابل بادشاه بخت نصر مسلط كړو. چه هغوى د دوى نه غلامان جوړ كړل او بيت المقدس ښارئے برباد كړو. دے نه روستو الله تعالىٰ تقريباً اويا (۷۰) كاله روستو په دوى باندے بيا رحم اُوكړو او دوى ئے دويم ځلى بيت المقدس ښار ته اُورسول، او د دوى د هدايت دپاره ئے بعض انبياء عليهم السلام راوليږل چه د هغوى د دعوت نه متأثره شو او بيرته ئے د الله عبادت شروع كړو، ليكن د وخت په تيريدو سره د دوى دينى حالت خراب شو تردے چه عيسىٰ عليه السلام الله راوليږلو نو دوى د حق قبلولو نه بيا ړاندۀ او كاڼۀ شول او د هغه د وژلو سازش ئے اُوكړو نو الله خپل نبى عيسىٰ عليه السلام لره آسمان ته پورته كړو، او د رومانيانو په لاس ئے دوى تباه او برباد كړل.

ربط :

يهود او نصارىٰ پدے باندے عادت دى چه د الله د آيتونو نه اثر نۀ اخلى بلكه خپل خيرخواهان وژنى.

كُلَّمَا جَآءَهُمْ : ددے جواب پټ دے [اِسْتَكْبَرُوْا وَأَعْرَضُوْا] دوى به تكبر وكړو او د هغه نه به ئے مخ واړولو.

فَرِيْقًا : دا د دوى د استكبار بيان دے.

په تكذيب كى ئے د ماضى صيغه استعمال كړه او په قتل د رسولانو كى د مضارع پدے كى اشاره ده تصوير د جرم د قتل ته او د هغے د ناكاره صورت استحضار ته چه دا دومره شنيع او قبيح كار وو چه گويا كه دا دے اُوس ئے وژنى دے دپاره چه دوى ته په طريقه د مبالغه توبيخ وركړے شى. او اشاره ده چه دوى په هره زمانه كى د انبياؤ د قتل اراده كړيده او كوى ئے.

وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا
او گمان ئے وكړو چه نۀ به شى (دا كار) عذاب (د دوى دپاره) نو ړاندۀ شول
وَصَمُّوْا ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا وَ
او كاڼۀ شول دوى بيا مهربانى وكړه الله په دوى باندے بيا ړاندۀ شول او

صَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ۚ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٧١﴾

کانړۀ شول ډیر د دوی نه او الله لیدونکے دے د هغه څه چه دوی ئے کوی۔

تفسیر: ربط : دوی کی دا مرض همیشه دے۔

وَحَسِبُوْٓا : یعنی دوی داسے مضبوط گمان وکړو چه هغه په درجه د یقین کی وو۔ أَیْ بِسَبَبِ تَاخِيْرِ الْعَذَابِ۔ یعنی دوی به گمان وکړو په سبب د روستو کیدو د عذاب سره چه گنے عذاب به بیخی نۀ راځی۔

اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ : فتنه په معنیٰ د عذاب سره۔ أَیْ أَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ بِقَتْلِ الْاَنْبِيَاءِ۔

یعنی دوی گمان وکړو چه موجود به نۀ شی عذاب په وژلو د انبیاؤ سره۔

د عام انسان په قتل انسان ښومره پریشانه وی او بیا لا د نبی قتل نو پکار دا وه چه دوی ډیر پریشانه شوی وے۔ لیکن بیخی بی پرواه وو، سهار کی به ئے نبی مړ کړو او په مازیگر کی به ئے د سبزۍ کاړے ولگولو۔

فتنه : امتحان په شدائدو او تکلیفونو ته هم وائی لکه دوی باندے قوی امتونه مسلط شو چه دوی ئے قتل کړل او علاقے ئے ورله خرابے کړے او دوی ئے مغلوبه او ماتحت کړل۔ لکه ددے تفصیل په سورۃ الاسراء (٤) آیت کی راغلے دے۔

فَعَمُوْا وَصَمُّوْا : یعنی ړانده شو د آیتونو د الله نه کوم چه د هغه په کتابونو کی وو، په هغے کی د پخوانو ظالمانو امتونو عقاب او سزا ذکر وه، او ړانده شو د طریقے د الله نه چه د خپل مخلوق سره ئے کړیدی او کانړه شو د آیات الهیه ؤ نه، د الله نښو نښانو ته ئے نۀ کتل او کانړه شو د آوریدو د نصیحتونو نه کوم چه دوی ته د دوی رسولانو راوړی وو، او د الله د عذابونو نه ئے یرولی وو ځکه چه الله ورته صبر کولو۔ نو هرکله چه دوی په ظلم او فساد کی ښه ننوتل نو الله پرے بابل والا مسلط کړل چه د دوی کورونو ته وررننوتل او مسجد اقصیٰ ئے ورله وسیزلو او مالونه ئے ورله لوټ کړل او د دوی حکومت او استقلال ئے ختم کړو۔

ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ : الله پرے مهربانی وکړه چه نور رسولان ئے ورته راولیږل نو د هغے په وجه دوی ته بیرته عزت او بادشاهی ملاؤ شوه لیکن بیا د وخت په تیریدو ړانده کانړه شول نو الله په دوی باندے فارس والا بیا روم والا (رومانیین) مسلط کړل چه د دوی بادشاهی او استقلال ئے ختم کړو۔ (المنار)

وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ : پدے کی (کثیر) فاعل د (صَمُّوْا) دے او دا د [أَكَلُوْنِی الْبَرَاغِيْثُ] او (ذَبُرْنَ النِّسَاء) او (يَتَعَاقَبُوْنَ فِيْكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ) د قبیلے نه دے او دا په نیز د بعض عربو (اَزْد قبیله) جائز ترکیب دے، او د دوی په نیز واو علامه د جمع ده نهٔ فاعل۔ او ځینی ددے تاویل داسے کوی چه (صَمُّوْا) کی واو مبدل مِنْهُ دے او (کثیر) د هغے نه بدل دے نهٔ فاعل۔

او پدے ترکیب راوړو کی فائده دا ده چه اشاره ده چه د بصیرت ړوندوالے او په غوږونو باندے مهر وهل دا ټولو افرادو ته عام نهٔ وو بلکه ډیر خلك په کی دغه شان وو، او د الله قانون او عادت دا دے چه کله فساد او گناهونه په اکثرو کی راشی نو الله عذابونه راولی۔ ځکه چه د لږو خلکو د صلاح (نیکئ) او فساد دومره تاثیر نهٔ وی۔ (المنار)

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ط وَقَالَ
یقیناً کافران دی هغه کسان چه وائی یقیناً الله همدا مسیح ځوی د مریم دے او ویلی دی
الْمَسِيْحُ يٰبَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبَّكُمْ ط اِنَّهٗ
مسیح اے بنی اسرائیلو! بندگی وکړئ د الله چه رب ځما او رب ستاسو دے یقیناً شان دا دے
مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰهُ
چا چه شرك وكړو د الله سره نو يقيناً حرام كړيدے الله تعالىٰ په هغه باندے جنت او ځاى ددهٔ
النَّارُ ط وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ﴿۷۲﴾
اُور دے او نشته ظالمانو له هیڅ مددگاران۔

تفسیر : ربط : ۱- دا د هغوی د ړوندوالی او د کوݨ والی بیان دے اَیْ وَمِنْ عَمْيِهِمْ وَصَمَمِهِمْ هٰذَا الْقَوْلُ۔ یعنی د دوی د ړوندوالی او د کوݨ والی نه دا وینا ده چه هلته نبی وژنی او چه کله عیسیٰ علیه السلام راغے نو هغه نه ئے اله جوړ کړو۔

۲- لکه څنگه چه یهودیانو د الله لوظونه مات کړل نو دغه شان نصاراؤ ډلو هم د الله لوظ مات کړو۔

لَقَدْ كَفَرَ : د اول نه الله د دوی په کفر فتویٰ وکړه ځکه چه خبره ئے انتهائی د الله د بی ادبئ ده۔

پدے کی د نصاراؤ په هغه ډلو د کفر حکم لگولے شویدے چه هغوی اُوویل چه الله د

عیسیٰ علیہ السلام په ذات کی داخل شوید ے او دواړه متحد شویدی۔ او دا په کی د یعقوبیه ؤ عقیده وه چه دوی به دا وئیل چه اِلٰه مرکب دے د درے اصولو نه چه دے ته اقانیم وائی، یعنی اب، ابن او روح القدس، او دا به ئے وئیل چه عیسیٰ علیہ السلام ابن دے او الله اب دے او هر یو د درے واړو نه د بل سره عین او یو شے دے، نو ددے نتیجه دا شوه چه الله بعینهٖ مسیح شو او مسیح بعینهٖ الله شو۔ دا د دوی ګډے وډے عقیدے وے۔ (المنار)

او روستو چه کوم قول د نصاراؤ راځی هغه دا دے چه درے آلهه بیل بیل ګنړی۔

دے نه روستو ئے ددے رد د عیسیٰ علیہ السلام په ژبه سره وکړو چه اے بنی اسرائیلو ! د هغه الله عبادت کوئ چه زما او ستاسو رب دے۔ یعنی زهٔ د الله یو بنده یم، زهٔ الله څنګه کیدے شم ؟ عیسیٰ علیہ السلام چه کله د مور په غیږه کی وو نو وے وئیل چه زهٔ د الله بنده یم، او کله چه لوی شو او الله هغه ته نبوت ورکړو نو هم دغه خبره ئے اُوکړه، او خلق ئے د الله عبادت طرف ته راوبلل، او وے وئیل چه د الله سره چه څوك شرك اُوکړی، په هغه جنت حرام دے او د هغه ځای جهنم دے، په مشرك باندے د الله جنت حرام دے۔ الله دا مضمون د سورة الاعراف په آیت (۵۰) کی هم بیان کړیدے۔ فرمائی : ﴿ وَنَادٰی اَصْحَابُ النَّارِ اَصْحَابَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِیْضُوْا عَلَیْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا رَزَقَکُمُ اللهُ قَالُوْا اِنَّ اللهَ حَرَّمَهُمَا عَلَی الْکَافِرِیْنَ ﴾۔

او دوزخ والا به جنتیانو ته آواز اُوکړی چه په مونږ باندے لږ اُوبه راواړوئ یا هغه څه چه الله تاسو ته درکړیدی نو جنتیان به وائی چه الله تعالیٰ دواړه څیزونه په کافرانو حرام کړیدی۔

او بخاریؒ او مسلمؒ روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ یو سړی ته حکم اُوکړو چه په خلقو کی آواز اُوکړی چه جنت ته به صرف مسلمان داخلیږی۔

نو عیسیٰ علیہ السلام خو په شرك رد کوی او جنت پرے حراموی او توحید ته دعوت ورکوی، نو تاسو څنګه هغه د الله سره شریك ګنړئ، دا د دعوت یوه طریقه ده چه مشرکان په چا ګمراه شویدی د هغه اقوال ورته پیش کړه، بعض خلك په شیخ عبد القادر جیلانیؒ ګمراه شو نو ورتهووایه چه هغه خو موحد وو هغه څنګه د الله سره شریك کیدے شی؟۔ دغه شان مقلدینو ته د امامانو اقوال پیش کړه چه هغوی د تقلید نه منع فرمایلے ده۔

لَقَدْ کَفَرَ الَّذِیْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ م وَمَا مِنْ اِلٰهٍ

یقیناً کافر شو هغه کسان چه وائی یقیناً الله دریم دے د دریو نه او نشته لائق د بندګئ

اِلَّآ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ

سوئ د يو ذات (الله) نه او که منع نشو دوی د هغه څه نه چه وائی دوی

لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾

(نو) خامخا به ورسی هغه کسانو ته چه کفرئے کړے دے د دوی نه عذاب دردناك۔

تفسیر : دلته په هغه نصاراؤ باندے د کفر فتویٰ کیږی چه د اقانیم ثلاثه ؤ عقیده ئے لرله چه الله د درے مجموعے نه یو دے، یعنی پلار، ځوی، او روح القدس۔ یا پلار ځوی او مور۔ دریواړه په یوځای معبود دی۔

او علامه قاسمیؒ وئیلی دی چه په دوی کی (کولی ری دینس) فرقے به ویل چه آلِهه درے دی : اب، ابن او مریم۔ او په علم الیقین کتاب کی دی چه په دوی کی یوه فرقه (مَرْیَمِین) عقیده لری چه مریم او مسیح دواړه آلهه دی او دغه شان عقیده د بربرانیون هم ده۔ او د ابن اسحاقؒ نه نقل دی چه د نجران نصاراؤ نه هم بعض خلکو دغه عقیده لرله۔انتهیٰ۔

الله تعالیٰ داسے عقیده لرونکو ته کافر اُووئیل او وے وئیل چه معبود خو صرف یو دے۔ په انجیل او تورات او تمام آسمانی کتابونو کی دا خبره په ډاګه موجوده وه چه د یو الله نه سوئ هیڅوك لائق د عبادت نشته۔ پدے وجه الله دوی ته دهمکی ورکړه چه د الله په وحدانیت باندے د قطعی دلائلو کیدو باوجود که دوی خپل دروغ جوړوی نو د قیامت په ورځ به دوی ته د اُور دردناك عذاب ورکولے شی۔

نصاراؤ دا عقیده د خپلو مشرانو نه اخستے وه لیکن په هغے باندے نۀ وو پوهه شوی، پدے وجه په دوی کی چه کوم عقلاء دی هغوی دا ارمان کوی چه دوی قادر شی ددے عقیدے نه په خلاصیدو سره نو ښه به وی، لیکن که دوی ترے چرته انکار وکړی نو د عوامو په نصرانیت باندے اعتماد ختمیږی۔ او ځینی پکی د خلکو ذهنونو د راړولو دپاره څه مثالونه ورکوی چه هغه پدے عقیده نۀ صادقیږی لکه وائی چه ددے مثال د نمر دے چه د ټکوړی، او رڼا او ګرمائش نه مرکب دے حال دا چه دا مثال صحیح نۀ دے ځکه چه ګرمائش او رڼا اعراض د نمر دی او عرض د شی عین د شی سره نۀ وی ځکه چه ګرمائش د نمر ته نمر نۀ وئیل کیږی او نۀ رڼا ته نمر وئیلے شی۔ نو دغه شان ابن (عیسیٰ) او روح القدس عین اب (الله) نشی کیدے۔ (المنار)

اَفَلَا یَتُوۡبُوۡنَ اِلَی اللّٰهِ وَیَسۡتَغۡفِرُوۡنَهٗ ؕ

آیا پس توبه نهٔ وباسی (په زړهٔ) دوی الله ته او بخنه نهٔ غواړی (په ژبه) د هغه نه

وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۷۴﴾

او الله بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر: حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه دا د الله تعالیٰ لطف او کرم او خپلو بندګانو سره د فضل او رحمت معامله ده چه ددے لوی ګناه او بنکاره دروغو باوجود هغوی توبی او استغفار طرف ته رابلی او وعده کوی چه څوك توبه اُوباسی نو الله به ئے معاف کوی او په هغه باندے به رحم کوی۔

د توبه او استغفار فرقونه

۱- توبه په زړه سره وی یعنی په زړه سره دِے الله ته رجوع وکړی او استغفار په ژبه سره۔

۲- توبه د توحید په قبلولو سره ده، او استغفار د شرك نه دے۔

۳- ظاهر دا دے چه توبه الله تعالیٰ ته په طاعت ده، او استغفار د شرك او معاصی نه دے۔

ځکه چه توبه کی دا شرط دے چه په مخکنی شرك او ګناهونو به استغفار کوے او بیا به د الله په بندګئ کی لګیا کیږے۔

اَفَلَا یَتُوۡبُوۡنَ: همزه په پټ فعل باندے داخله ده چه په هغے باندے (فلا یتوبون) عطف دے ۱- اَیۡ اَیَسۡمَعُوۡنَ مَا ذُکِرَ مِنَ التَّفۡنِیۡدِ وَالۡوَعِیۡدِ فَلَا یَتُوۡبُوۡنَ۔

آیا دوی دغه خپلے بیوقوفتیاګانے او عذابونه آوری او بیا هم توبه نهٔ وباسی او الله ته رجوع نهٔ کوی۔ دا خو ډیره عجیبه خبره ده۔

۲- اَیُصِرُّوۡنَ عَلٰی مَا ذُکِرَ بَعۡدَ اِقَامَةِ الۡحُجَّةِ وَدَحۡضِ الشُّبۡهَةِ فَلَا یَتُوۡبُوۡنَ؟ الخ۔

آیا دوی په خپل دغه جهالتونو همیشوالے کوی پس د هغے نه چه دوی باندے دلیل قائم شو او شبهات ئے رد شو او توبه نهٔ وباسی۔ (المنار)

مَا الۡمَسِیۡحُ ابۡنُ مَرۡیَمَ اِلَّا رَسُوۡلٌ ۚ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِ الرُّسُلُ ؕ

نهٔ دے مسیح ځوی د مریم مګر رسول دے یقیناً تیر شویدی مخکی ددهٔ نه ډیر رسولان

وَ اُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ

او مور ددهٔ ډیره رشتینې وه، دواړو به خوړلو خوراك، وګوره چه څرنګه بیانوو مونږ دوی ته

الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۷۵﴾

دلیلونه (د توحید) بیا وګوره چه څرنګه اړولے شي دوی (د توحید نه).

تفسیر : اُوس دا خبره بیانوی چه د عیسیٰ علیه السلام په باره کې به کومه عقیده ساتل پکار وی؟ او هرکله چه حق الـه یو شو او د اقانیم ثلاثه ؤ نه مرکب نشو او د اجسامو سره په ذات او صفاتـو کې مشابه نشو نو بیا به د عیسیٰ علیه السلام څـه حال وی؟ ددهٔ په باره کې به کومه عـقیده لرو؟ نو الله ددے جواب ورکوی او اول هغه خصوصیت د عیسیٰ علیه السلام ذکر کوی چه په هغے سره د نورو خلکو نه جدا دے، او بیا ئے هغه حقیقت بیانوی چه د نورو سره پکی شریك دے. (المنار)

او پـدے آیتِ کریمه کې الله تعالیٰ ددے خبرے رد کړیدے چه د عیسیٰ علیه السلام معجزات او د مـریـم عـلیهـا السلام کرامات د دوی د معبود کیدو دلیل دے بلکه ددے نه زیات نه زیات د عیسیٰ علیه السلام د نبی او د مریم ولی کیدل ثابتیږی.

الله تـعـالیٰ اُوفرمایل چه مسیح ابن مریم د نورو رسولانو په شان یو رسول وو، لکه څنګه چـه هـغـه انبیاؤ عـلیهـم الـسـلام تـه الله تـعـالـیٰ مـعـجزات ورکړی وو نو دغه شان دهٔ ته ئے معجزات ورکړیدی. که په دهٔ سره الله برګې بیماری والا ته شفاء ورکړے او مړی ئے راژوندی کړی نو په موسیٰ علیه السلام سره ئے امسا ژوندئ کړیده او د هغے نه ئے مار جوړ کړیدے او دریاب ئے پرے دوه حصے کړیدے. دا ډیر تعجب والا کار وو. که دا الله په غیر د پلار نه پیدا کړے نو آدم علیه السلام ئے بغیر د مور او پلار نه پیدا کړے او دا زیات تعجب والا پیدائش وو.

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ : ددے یـو مـطـلـب خـو مـخـکـې بیان شو. دویم دا چه لکه څـنګه چه مخکنی رسولان تیر شویدی او د دنیا نه تلی دی نو دغه شان به دے هم د دنیا نه ختمیږی نـو پـدے جـمـلـه کـې ددهٔ داسے صـفـت بیان شو چـه ددهٔ د الوهیت منافی دے. (القاسمیؒ)

حکمة : عـلامـه قاسمیؒ وائی چه اول ئے د رسولانو مشابه کړو دا جلی (ښکاره) خبره وه او بیا ئے د دوی حـاجـت طـعـام تـه بیان کـړو دا اجـلیٰ (ډیره ښکاره) خبره وه نو پدے کې د

نصاراؤ په خلاف دلیل نیولو کې ترقي ده د جلې نه اجلئ ته، دے دپاره چه تنبیه راشي په غباوت د دوی باندے که په جلي نهٔ پوهیږي نو په اجلئ خو به پوهه شي۔
وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ : يعني تصديق كونكے وه په وعدو د الله. لكه سورة التحريم (۱۷) آيت كې دي: ﴿وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ﴾ د الله د وعدو او د هغه د كتابونو تصديق ئے كړے وو. يعني تقدير او شرع دواړه ئے منلو وه، او تصديق په معنیٰ د يقين سره دے، يعني يقين والا زنانه وه. نو هغه هم معبود نشي كيدے.
او دا هم دليل دے چه عيسیٰ ﷺ د مور نه پيدا دے نو محتاج دے. نو پدے آيت كې په ډيرو طريقو سره د عيسیٰ ﷺ داسے صفات بيان شويدي چه هغه د اُلوهيت منافي دي.
حافظ ابن كثيرؒ ليكي چه دا آيت دليل دے چه مريم بنت عمران (د عيسیٰ ﷺ مور) نبيه نهٔ وه لكه چه د ابن حزمؒ وغيره گمان دے چه ام اسحاق، ام موسیٰ او ام عيسیٰ الله نبيانے جوړ كړي وو. هغه وائي چه ملائك د ساره او مريم عليهما السلام سره مخاطب شوي وو، او الله په قرآن كې ښكاره وئيلي دي چه مونږ ام موسیٰ ته وحي كړے وه چه ته دهٔ ته پيئ وركوه. ليكن د جمهورو رائے دا ده چه انبياء صرف سړي راغلي دي. الله په سورة يوسف آيت (۱۰۹) كې فرمايلي دي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِيٓ إِلَيْهِمْ مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى﴾ چه (ستا نه مخكې مونږ څو مره انبياء ليږلي، هغه ټول د ښارونو اُوسيدونكو نه سړي وو چه په هغوي باندے مونږ وحي نازل كړے وه).
ابو الحسن اشعريؒ پدے رائے باندے د امت اجماع نقل كړيده، او دلته په اُوچت او اشرف مقام كې ئے د هغے صديقيت بيان كړو كه هغه نبيه وے نو د هغے نبوت به ئے بيان كړے وے لكه څنگه ئے چه د عيسیٰ ﷺ رسالت ښكاره بيان كړيدے. آه.
كانا يأكلان : د دعوت يو ښه او ادبي انداز دا دے چه څوك د چا عبادت كوي نو تهٔ د هغوي عاجزي بيان كړه، لكه دا الفاظ ښكاره دليل دے چه عيسیٰ ﷺ او د هغه مور دواړه د تمامو انسانانو په شان انسانان وو، څكه چه څوك چه خوراك كوي، د هغه هضميدو او بيا د هغے ويستو ته محتاج وي، هغه د غوښے، پوستكي او هډوكو او پلو او نورو اجزاؤ نه مركب د تمام اجسامو په شان يو جسم وي، نو داسے عاجز مخلوق معبود څنگه كيدے شي ؟!.
كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ : خوراك ئے ذكر كړو دا كنايه ده د عاقبت د خوراك نه چه هغه احتياج دے ډيرو څيزونو ته. (تفسير ابن ابي زمنين)

اُنۡظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الۡاٰيٰتِ : یعنی مونږ دوی ته په توحید د الله باندے او په بطلان د اتحاد او اُلوهیت د عیسیٰ علیه السلام او د هغه د مور باندے او د هغوی د شبهاتو په باطلولو باندے ښکاره دلیلونه بیانوو. نو ددے نه دلیل ونیسه د نصاراؤ په خلاف.

ثُمَّ انۡظُرۡ : دوباره ئے په نظر او فکر باندے حکم وکړو، پدے کی مبالغه ده په تعجب کولو په حال د نصاراؤ باندے چه د دومره ښکاره بیان نه روستو چه هیڅ شك نهٔ پریدی بیا هم دوی د خپل کفر نه نهٔ منع کیږی پدے باندے تعجب پکار دے. (ابو السعودؒ) نو اول نظر د استدلال دے او دویم نظر د تعجب شو.

يُؤۡفَكُوۡنَ : دا د افك نه ماخوذ دے، اوړیدو ته وائی. وَهُوَ انۡتِقَالٌ مِنَ الۡجَمِيۡلِ اِلَى الۡقَبِيۡحِ وَمِنَ الصِّدۡقِ اِلَى الۡكَذِبِ وَمِنَ الۡحَقِّ اِلَى الۡبَاطِلِ . (مفردات) او دا په هغه انتقال کی استعمالیږی چه د ښائسته نه بدرنگ ته وی، او د رشتیاؤ نه دروغو ته او د حق نه باطل ته وی. او (یؤفکون) مجهول صیغه ئے پدے وجه راوړے ده چه دوی شیطان باطل ته اړولی دی او د هغه د وسوسے تابع دی.

قُلۡ اَتَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ
ته ووایه !آیا بندگی کوئ تاسو سویٰ د الله تعالیٰ نه د هغه څه چه اختیار نهٔ لری تاسو لره.
ضَرًّا وَّلَا نَفۡعًا ؕ وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۷۶﴾
د ضرر او نهٔ د فائدے او خاص الله آوریدونکے، ډیر پوهه دے.

تفسیر : دا بله طریقه د تبلیغ ده او پدے کی ورته د دوی د معبودانو کمزوری بیانوی. او د نصاراؤ د عقیدے د بطلان یو بل دلیل دے.

مَا لَا يَمۡلِكُ : په آیت کی (ما) اسم موصول دے چه ددے نه مراد عیسیٰ او ام عیسیٰ او عزیر علیهم السلام او نور بتان وغیره دی، چه دا ټول نهٔ څه نفع رسولے شی او نهٔ نقصان. د هر څه اختیار صرف الله ته حاصل دے. که مخلوق ته څه قدرت حاصل دے نو الله ورکړیدے، پدے وجه عیسیٰ علیه السلام او ام عیسیٰ هم د هیڅ شی مالکان نهٔ دی.

او د همدے حقیقت ښکاره کولو دپاره په قرآن کی د (مَنۡ) په ځای (مَا) استعمال شویده، چه د غیر ذی روح دپاره استعمالیږی یعنی ددے دواړو حیثیت د نورو تمامو څیزونو په شان دے چه په هغے کی قدرت نهٔ وی. (زاد المسیر والمدارك)

نو کوم خلك چه وائی (لکه بریلیان په "مقیاس حنفیت" کی لیکی) چه په قرآن کریم کی د بتانو د عبادت رد شته او د نیکانو بندګانو د عبادت رد نشته ځکه چه د اولیاؤ عبادت په حقیقت کی د الله عبادت دے، نو دا سو چه دروغ وائی بلکه دلته مدارك وغیره د (ما) نه مراد عیسیٰ او عزیر علیهما السلام اخستی دی۔

او شعرانیؒ د سیبویه وغیره نحاتو نه نقل کړیدی چه (مَا) کلمه د ذوی العقول او غیر ذوی العقول ترمینځ مشترکه ده۔

صاحب د فتح البیان لیکلی دی چه هر کله د عیسیٰ ؈ دا حیثیت وو (چه نبی وو) نو د اولیاؤ څه حیثیت کیدے شی، ظاهره ده۔

ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا : یعنی بندګی خو د هغه چا پکار ده چه هغه دشمنانو ته په ضرر او خپلو بندګانو ته په نفع ورکولو قادر وی۔

ضرا : ۱- اَیْ دَفْعَ ضُرٍّ وَّلَا جَلْبَ نَفْعٍ۔ یعنی د ضرر دفع کولو او د فائدے راخکلو۔

۲- یا دا مبالغةً وئیل شویدے یعنی ضرر هم نشی درکولے۔ (ابن کثیرؒ)

۳- یا دشمنانو ته د ضرر ورکولو او دوستانو ته د نفع ورکولو۔ دویم تفسیر ډیر غوره دے۔

ددے مثال خلك داسے وائی چه هغه دوائی چه د خوړلو نه روستو ئے نۀ په ضرر پوهه شی او نۀ په فائده نو دا هسے ګیاه وه۔

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ
تۀ ووایه ! اے کتاب والو ! زیاتے مۀ کوئ په دین ستاسو کی بغیر د حق نه
وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ
او تابعداری مۀ کوئ د خواهشاتو د هغه قوم چه ګمراه شویدی مخکی ستاسو نه
وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿۷۷﴾
او ګمراه کړیدی دوی ډیر خلق او بے لارے شویدی (خپله هم) د نیغے لارے نه۔

تفسیر : مناسبت :

۱- په باطلو معبودانو کی د ضرر او نفع عقیده ساتل په دین کی غلو ده نو اُوس ئے د غلو نه منع کوی۔

۲- او دا د تبلیغ بله طریقه ده۔ هرکله چه د نصاراؤ د عقیدے بطلان وشو نو اُوس دوی ته

د حق د اتباع او په باطل کې د غلو نه د لرې کیدو نصیحت کیږي چه اې اهل کتابو! د حد نه تجاوز مهٔ کوئ او د کومو خلکو د تعظیم حکم چه تاسو ته شویدې د هغوی په باره کې دومره غلو مهٔ کوئ چه هغوی د نبوت مقام نه پورته کړئ او د اُلوهیت مقام ته ئې اُورسوئ، لکه څنګه چه تاسو د مسیح علیه السلام سره کړیدی، او د خپلو ګمراه علماؤ اتباع مهٔ کوئ کوم چه خپله ګمراه شو او نوروئې هم د حق نه واړول.

دا آیت دلیل دې چه په دین کې غلو جائز نهٔ ده، لکه ډیر خلق په طهارت کې غلو کوي، او په شریعت کې چه څه ثابت دي د هغې نه مخکې تلل تقوئ ګنړي، او لکه ډیر خلق د صالحینو او د قبرونو په باره کې غلو کوي او د بتانو په شان د هغوی عبادت کوي. امام احمدؒ، نسائیؒ او ابن ماجهؒ وغیرهم د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدې چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل : [اِیَّاکُمْ وَالْغُلُوَّ فِي الدِّیْنِ فَاِنَّمَا اُهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَکُمُ الْغُلُوُّ فِی الدِّیْنِ] (په دین کې د غلو کولو نه بچ شئ، ځکه چه ستاسو نه مخکې خلق په دین کې د غلو کولو په وجه هلاك شو). (نسائی: ٣٠٥٧ وابن ماجه ٣٠٢٩ وسنده صحيح)

او امام بخاریؒ د عمر رضی الله عنه نه روایت کړیدې چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل :
[لَا تُطْرُوْنِیْ كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارٰی عِیْسَی ابْنَ مَرْیَمَ، فَاِنَّمَا اَنَا عَبْدُهٗ فَقُوْلُوْا عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ]
(زما په صفت کې د حد نه زیاتې مهٔ کوئ لکه چه نصاراؤ د ابن مریم سره اُوکړل، زهٔ خو د الله یو بنده یم، پدې وجه ما ته د الله بنده او د هغه رسول وایئ)). (بخاری: ٣٤٤٥)

د غلو ډیره تشریح مخکې سورة النساء کې ذکر شوه.

لَا تَغْلُوْا : یعنی هغه څوك چه تاسو ته نفع او ضرر نشي درکولې نو هغوی ته اله وئیل غلو ده. او هغه ساجد دې تهٔ ترې مسجود او هغه عابد دې ته ترې معبود جوړوې نو دا غلو ده.

او دلته غلو د افراط مراد ده لکه فتح البیان د قتادهؒ نه ددې معنیٰ په [لَاتَبْتَدِعُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ] سره نقل کړیده یعنی په دین کې بدعت مهٔ کوئ. او نصاراؤ به د احبار او رهبانو په وجه د ځان نه تحلیل او تحریم کولو.

فِيْ دِيْنِكُمْ : فائده : د فِيْ دِيْنِكُمْ نه دا فائده معلومیږي چه غلو په دوه قسمه ده یو غلو للدِّین ده (د دین دپاره) او بل غلو فی الدین ده. چه ددې نه په غلو د حق او غلو د باطل سره تعبیر کیږي، دارنګه یو بدعت للدین دې او بل بدعت فی الدین یا بدعت فی الوسائل او بدعت فی المقاصد دې. نو اول قسم هغه دې چه د دین د ترقئ دپاره وسائل جوړ کړي او

هغه وسائلو ته دین نهٔ وائی لکه علم د نحو او صرف وغیره او طریقه د مدارسو او تصنیف او تالیف، او دارنګه د مسجد محراب او لاوډ سپیکر وغیره نو پدے قسم کی منع نشته پدے شرط چه سنت ته نقصان نهٔ ورکوی، او التزام ئے نهٔ کوی۔

او دویم قسم ته بدعت شرعیه هم وئیلے شی هغه دا چه یو شے په دین کی داخل کړی، په عقیده کی وی یا په عمل کی او که نفسِ شے وی یا کیفیت وی، یا مقدار او ځت وی او دے ته دین وائی نو دا بدعت ضلالت دے او پدے آیت کی مراد دے لکه دلته ئے فِیْ دِیْنِکُمْ وئیلے دے یعنی په دین کی دننه۔ (احسن الکلام)

غَیْرَ الْحَقِّ : دا قید اتفاقی دے۔ په دین کی هره خبره چه د ځان نه زیاته شی هغه ناحقه ده لیکن دا قید ئے ورسره دے دپاره وویلو چه اشاره شی چه څوك غلو په دین کی وکړی نو هغه د حق نه وړاندے کیږی۔

لکه ددے بعض مفسرینو داسے تعبیر کړیدے (مُتَجَاوِزِیْنَ وَمُغَایِرِیْنَ عَنِ الْحَقِّ) یعنی چه تجاوز کونکی یئ او جدا کیدونکی یئ د حق نه۔ نو دا حال دے د ضمیر د فاعل نه۔

یا غیر منصوب دے صفت د مصدر محذوف دے۔ أَیْ غُلُوًّا غَیْرَ الْحَقِّ اَیْ غُلُوًّا بَاطِلاً۔ (قاسمی) یعنی داسے غلو مهٔ کوئ چه هغه باطله وی۔

علامه قاسمیؒ وائی چه ددے نه معلومه شوه چه په دین کی غلو په دوه قسمه ده یو غلو الحق ده چه د دین د حقیقت تالاش وکړی او د هغے لرے معانی او مقاصد ولټوی او د هغے په حججو او دلائلو حاصلولو کی کوشش وکړی۔ او دویم غلو الباطل ده او هغه دے ته وائی چه د حق نه تجاوز وکړی او ترے واوړی پدے طریقه چه د دلائلو نه اعراض وکړی او د شبهاتو پسے روان شی۔

بغویؒ وائی : فِیْ دِیْنِکُمُ الْمُخَالِفِ لِلْحَقِّ۔ یعنی تاسو په دین کی داسے غلو مهٔ کوئ چه هغه د حق مخالفه وی ځکه چه دوی په خپل دین کی د حق خلاف شروع کړو او بیا ئے په هغے کي غلو وکړه چه همیشه پرے پاتے شو۔

وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ : دا پسے ځکه وائی چه ډیر خلك چه ګمراه کیږی نو د مشرانو د خواهشاتو او غلطو وینا ګانو د وجه نه۔ او ډیر روستو خلك پدے وجه هم ګمراه شی چه هغوی په مخکنو خلکو باندے ښه ګمان لری چه مخکی ټول نیکان او بزرګان تیر شویدی حال دا چه په امت کی ډیر ګمراهان هم تیر شویدی چه د شرك او بدعت په اثبات باندے ئے کتابونه لیکلی دی، او اهل حق ئے په خپله زمانه کی بدنام کړیدی، نو د داسے

مشرانو پسے ورتلل هلاکت دے، نو ته پدے خبره نشے خلاصیدے چه دا مشرانو لیکلی دی، هغوی خپله گمراه وو نو تهٔ د هغوی په وجه ځان مهٔ گمراه کوه بلکه تحقیق کوه۔ او په علماؤ واجبه ده چه په داسے مبتدعین او گمراهانو به رد کوی دے دپاره چه روستنی خلك د هغه په وجه گمراه نشی۔

قَدْ ضَلُّوْا : پدے کی اشاره ده چه سبقیت او مشری د هغوی فائده نهٔ ورکوی۔ (قاسمی)

وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا : اشاره ده چه ډیر والے د تابعدارو له ئے اعتبار نشته۔قاسمی)

وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ : اول ضلال د هغوی شرك او بدعات وو او دویم ضلال د هغوی دعوت وو شرك او بدعت ته۔او دریم ضلال په دغه شرك او گمراهئ باندے همیشه پاتے کیدل وو۔ او ددے خالت نه بل داسے حالت مونږ نهٔ دے موندلے چه هغه د الله نه لرے کونکے وی او د الله عذاب ته نزدے کونکے وی۔ نعوذ بالله منها ۔ (امام رازیؒ)

یا دریم ځل د دوی د گمراهئ غټ والی ته اشاره ده چه د سواء السبیل نه بالکل گمراه دی، لږ گمراه نهٔ وو۔

وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ : یعنی دوی د انجیل او د نصوصو په متشابهاتو پسے روان وو او هغه ئے محکماتو نه نهٔ واپس کول نو پدے وجه د نیغے لارے نه گمراه شو۔ (قاسمیؒ)

یا اول ضلال د دین نه دے او دریم ضلال د جنت د لاے نه دے۔ یا اول خپله گمراه شو بیا ئے خلکو ته د گمراهئ دعوت ورکړو بیا ئے دا عقیده وساتله چه دغه د گمراهئ دعوت خلکو لره حق ته رابلل دی۔ (کله فی القاسمی)

فائده : د مشرانو خبره منل لازم نهٔ دی کله چه بی دلیله وی او د هغوی تقلید د انسان دپاره عذر نشی جوړیدلے، پدے آیت کی دا خبره دننه پرته ده۔ فتدبر۔

لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ
لعنت کړے شویدے په هغه کسانو چه کافران دی د بنی اسرائیلو نه په ژبه د داؤد (علیه السلام)
وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا
او د عیسیٰ (علیه السلام) ځوی د مریم دا پدے وجه چه دوی نافرمانی کړے وه
وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۷۸﴾ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ
او وو دوی چه د حد نه تیریدل۔ وو دوی چه منع به ئے نهٔ کوله د بد کار نه، چه کوو به ئے هغه

لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٨﴾

خامخا بد دے هغه څه چه دوی به کولو۔

تفسیر: ربط:

دا متعلق دے د (بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ) سره یعنی تبلیغ ددے دپاره کولے شی چه بنده د لعنت نه بچ شی لکه څنګه چه بنی اسرائیلو نهی عن المنکر پریښے وو نو په لعنت اخته شو۔

پدے آیت کی د الله تعالیٰ د طرفنه بل رد دے په اهل کتابو باندے، پدے کیخبر ورکړے شویدے چه د الله تعالیٰ د طرفنه د پخوا زمانے نه د بنی اسرائیلو په کافرانو باندے د داود او عیسیٰ علیهما السلام په ژبه لعنت شویدے، او ددے وجه ئے دا بیان کړه چه دوی د الله نافرمانی کړے وه او د حد نه ئے تجاوز کولو، انبیاء علیهم السلام ئے قتل کړی وو او ګناهونه او معصیتونه ئے ځان دپاره حلال ګڼړل، او یوه لویه ګناه ئے دا هم کړے وه چه دوی به یو بل د ګناهونوکولو نه نهٔ منع کول، د دوی پدے بد کار باندے د زیات انکار دپاره الله اُوفرمایل چه د دوی عملونه ډیر بد وو۔

او دا جواب د یو وَهم هم کیدے شی چه دوی وائی مونږ د انبیاؤ علیهم السلام اولاد یو، مونږ ته ګناهونه نقصان نهٔ راکوی نو جواب وشو چه تاسو باندے خو انبیاؤ لعنتونه وئیلی دی۔ بل تعبیر دا دے چه دا یهود او نصاریٰ آزاریان دی، د رسولانو ښیرو وهلی دی او ځان بزرګان ګڼړی۔

لِسَانِ دَاوُدَ : ١- د ژبے نه مراد یا زبور او انجیل وو۔ ٢- ظاهر دا ده چه ظاهری ژبه مراد ده چه داود ﷺ اصحاب السبت والو ته ښیرے کړے وے نو د هغوی نه شادوګان جوړ شو او عیسیٰ ﷺ اصحاب المائده ته ښیرے وکړے کله چه دسترخوان نازل شو نو هغوی پکی ناشکری شروع کړه، عیسیٰ ﷺ ورته ښیرے وکړے نو الله ترے خنزیران جوړ کړل، نو پدے کی د ترك موالات علت هم ذکر شو چه اے مؤمنانو او منافقانو! تاسو داسے خلك په دوستانے سره نیسئ چه د پیغمبرانو ښیرو وهلی دی او لعنتیان او آزاریان دی۔

كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ : ١-دا یا لازم صیغه ده أَیْ لَا يَنْتَهُوْنَ۔ خپله به د منکراتو نه نهٔ منع کیدل۔ او فَعَلُوْهُ: کول به ئے منکرات۔ یعنی اصحاب المنکرات وو او تائبین نهٔ وو۔

٢- دویم: تناهی یو بل منع کولو ته وائی: أَیْ لَا يَنْهٰی بَعْضُهُمْ بَعْضًا۔

یعنی یو بل به ئے نهٔ منع کول د منکراتو نه او (فَعَلُوْهُ) صفت د (مُنْكَرٍ) دے، یعنی د هغه

منکر نه به ئے یو بل نهٔ منع کول کوم چه به دوی کولو، او یو بل به ئے پرے لیدل۔ نو دے کی دوه جرمونه دی یو خپله گناه کول او دویم : بل د گناه نه نهٔ منع کول۔

مفسرین لیکی چه ددے دواړو آیتونو نه معلومیږی چه د بنی اسرائیلو په کافرانو باندے لعنت لیږل جائز دی اګرکه د انبیاؤ اولاد وی، او دا هم معلومه شوه چه نهی عن المنکر یعنی د بد کسالو نه خلق منع کول واجب دی،

پدے وجه امام د کَم وئیلی دی چه نهی عن المنکر نهٔ کول کبیره گناه ده۔ (قاسمیؒ)

امام شوکانیؒ لیکلی دی چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر (یعنی د نیکئ حکم او د بدئ نه منع کول) د اسلام اهم ترینه قاعده او عظیم ترینه فریضه ده پدے وجه ددے پریخودونکے د گناه کونکو سره شریك او د الله د غضب او انتقام مستحق کیږی، لکه څنګه چه د هغه یهودیانو سره اُوشو کومو چه د خالی د ورځے په باره کی د الله د حکم لحاظ اُونهٔ ساتلو نو الله د هغه خلقو هم شکلونه مسخ کړل کوم چه په هغه عمل کی شریك نهٔ وو، ځکه چه دوی په هغوی باندے انکار نهٔ وو کړے۔ نو د ټولو شکلونه د شادوګانو او خنزیرانو په شان شو۔

امام احمدؒ، ابوداوُدؒ، ترمذیؒ او ابن ماجهؒ وغیرهم ددے آیت په تفسیر کی د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل :

((بنی اسرائیلو چه کله گناهونه کول نو د هغوی علماؤ منع کړل لیکن هغوی نهٔ منل، او هغه علماء به د هغوی ددے حرکت باوجود د هغوی په مجلسونو کی شریك کیدل، د هغوی سره به ئے خوراك څکاك کولو، نو الله تعالیٰ د هغوی زړونه د یو بل سره یو شان کړل۔ (یعنی ناکاره شول او د گناه نفرت ترے ختم شو) او د داود او عیسیٰ علیهما السلام په ژبه ئے پرے لعنت اوکړو، دا پدے وجه اُوشو چه دوی د الله نافرمانی اُوکړه او د حد نه تجاوز ئے اُوکړو))۔ (وسنده حسن)

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اَهمیت په باره کی امام احمدؒ او ترمذیؒ د حذیفه بن الیمان ﷺ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل :

((قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کی زما نفس دے، تاسو به د نیکئ حکم کوئ او د بدئ نه به منع کوئ ورنه نزدے ده چه الله به په تاسو باندے د خپل طرف نه یو عذاب نازل کړی بیا به تاسو د الله نه دعا غواړئ نو هغه به نهٔ قبلوی))۔

اسناده حسن- صحیح الجامع : ۷۰۷۰)

تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
وینې به ته ډیر د دوی نه چه دوستانه کوی د هغه کسانو سره چه کافران دی
لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ
خامخا بد دے هغه څه چه مخکی لیږلی دی دوی لره نفسونو د دوی دا چه
سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَلَوْ
غضب کړے دے الله تعالیٰ په دوی باندے او په عذاب کی به دوی همیشه وی۔ او که چرته
كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ
وے دوی چه ایمان ئے راوړے وے په الله تعالیٰ او (پدے) نبی او په هغه کتاب
اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٨١﴾
چه نازل شویدے هغه ته، نۀ به دوی نیولے هغوی لره دوستان لیکن ډیر د دوی نه نافرمان دی۔

تفسیر: ځینی مفسرین وائی چه پدے کی منافقانو ته زجر دے لیکن ظاهر دا ده چه دا زجر دے اهل کتابو ته، یهود او نصاریٰ اهل کتاب دی او ځان ته جنتیان او د الله محبت والا وائی، نو الله پرے رد کوی چه تاسو ځان ته جنتیان او د الله محبوبان وایئ او بیا د الله د دشمنانو سره دوستی هم کوئ، ځکه چه په اهل کتابو باندے هم د موالات او معادات مسئله فرض وه چه هغوی به هم د الله د دوستانو سره دوستی او د الله د دشمنانو سره دشمنی لری، نو دوی خبره برعکس کړه چه کافرانو سره ئے دوستی شروع کړه او د مؤمنانو سره دشمنی۔ لکه اُوس هم د یورپ وغیره کافرانو دغه طریقه ده چه د اسلام او د مسلمانانو نوم پرے بد لګی عرب وی که عجم، او د اسلام په خلاف روسانو چینیانو او هندوانو بت پرستو کافرانو سره ئے تعلقات وی۔

او د مدینے یهودیانو به د مکے مشرکانو او د مدینے منافقانو سره دوستانه تړله او د هغوی مدد به ئے کولو۔

اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ: یعنی دا خبره ئے د خپلو ځانونو دپاره مخکی ولیږله چه الله پرے غصه شو او هغه ترے ناراضه شو پدے کار سره۔

اَنْ سَخِطَ: په ترکیب کی د (مَاقَدَّمَتْ) کی د (مَا) نه بدل دے یعنی هغه شے څه شے دے

چه دوی مخکی لیږلے دے؟ هغه د الله غضب دے. یا لام مقدر دے (لِأَنْ سَخِطَ اللّٰه)
پدے وجه چه الله په دوی باندے غضب کړیدے.
سخط : سخت او لوی غضب ته وائی چه په هغے کی خفګان سره غصه هم وی.
او دے آیت نه دا معلومه شوه چه د کافرانو په دوستانه سره په انسان باندے یو د الله غضب راځی او بل په عذاب کی همیشوالے.
وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ : یعنی که دوی په تورات او انجیل باندے په ایمان راوړو کی رشتینی وے، او صحیح ایمان ئے راوړے وے نو دوی به کافران په دوستئ سره نهٔ نیولے ځکه چه په دغه کتابونو کی هم د کافرانو ددوستئ نه منع راغلے وه. ددے نه معلومه شوه چه یهودو خپل دین کامل مکمل پریښودے وو. او د موالات او معادات مسئله ئے هم ترے ختمه کړے وه.
وَالنَّبِيِّ : ۱- د نبی نه مراد جنس نبی دے نو ټولو انبیاؤ ته شامل دے،
۲- یا د نبی نه مراد موسیٰ علیه السلام او (ما انزل الیه) نه مراد تورات دے.
(۳) یا د نبی نه مراد رسول الله ﷺ او د (ما انزل الیه) نه قرآن کریم دے. اول ظاهر دے.
فٰسِقُوْنَ : یعنی د الله د طاعت نه بیخی بهر شویدی، نو دے ته فاسق فی الکفر وائی. یعنی په کفر کی دننه فاسقان دی.
پدے آیتونو کی الله تعالیٰ ایمان والو ته وائی چه دوی ته دعوت وکړئ او د دوی نه مهٔ متأثره کیږئ او دوی په دوستانه مهٔ نیسئ او جهاد ورسره وکړئ.

لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ
خامخا مونده به کړے تهٔ ډیر سخت د خلقو نه په دشمنئ کی د مؤمنانو سره یهودیان
وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً
او هغه کسان چه مشرکان دی او خامخا مونده به کړے ته ډیر نزدے د دوی نه په دوستئ کی
لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّ
د مؤمنانو سره هغه کسان چه وائی بیشکه مونږ نصاریٰ یو دا په دے وجه چه بیشکه
مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَرُهْبَانًا وَّاَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۸۲﴾
بعض د دوی نه عالمان دی او عابدان دی او یقیناً دوی لوئی نهٔ کوی (د حق نه).

تفسیر : پدے آیت کی الله تعالیٰ د یهودیانو او مشرکانو د مسلمانانو سره د دشمنئ سخت والے او د نصاراؤ نرم والے بیانوی، او دا تعارف الله تعالیٰ ولے کوی ؟ نو پدے کی یوه فائده دا ده چه [مَعْرِفَةُ الْمَدْعُوِيْنَ فِیْ بَابِ الدَّعْوَةِ]

دعوت الی الله چه کوے نو مدعوین (چا ته چه دعوت ورکولے شی) د هغوی حالت به پیژنے چه څوك سخت دی او څوك نرم، نو هر یو سره به جدا جدا برتاؤ او سلوك كولے شی، هر چا ته یو قسم بیان نهٔ وی، عوامو ته یو شان وی او علماؤ ته بل قسم، ضدیانو ته بل قسم وی، د درس یو شکل وی او د نصیحت بل شکل۔

نو دا هم د طرق الدعوة سره متعلق شو۔

دویم پدے کی الله تعالیٰ مونږ ته انصاف راښائی چه ټول یهود او نصاریٰ گمراهان نهٔ دی بلکه دوی کی ښه خلك هم شته۔

اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً : اَلْمَوَدَّةُ : مَحَبَّةٌ يَظْهَرُ أَثَرُهَا فِی الْقَوْلِ وَالْعَمَلِ۔

دا هغه مینه ده چه اثرئے په خبرو او عمل کی راښکاره کیږی، او دائے صحیح تفسیر دے او په مطلق محبت سره ددے تفسیر ضعیف دے لکه جمهورو هغه کړیدے۔ (المنار/۷/۲)

أَقْرَبَهُمْ مَوَدَّةً : أَیْ بِاعْتِبَارِ قَبُوْلِهِمُ الدَّعْوَةَ۔

یعنی دوی په مینه کی زیات نزدے دی یعنی په اعتبار د قبلولو د دوی دعوت د اسلام لره۔ یعنی نصرانی په نسبت د یهودی سره اسلام زر قبلوی۔

یهودیان ولے په دشمنئ کی سخت دی؟

الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته خبر ورکړیدے چه یهودیان او مشرکان د نورو خلقو په نسبت د مسلمانانو په دشمنئ کی زیات سخت دی۔ ۱- یهودیان د دوی سره پدے وجه دشمنی کوی چه مسلمانانو په عیسیٰ علیه السلام او محمد ﷺ دواړو باندے ایمان راوړو، او دوی د دواړو نه منکر دی۔ ۲- او پدے وجه چه د حق نه انکار او د داعیانو او دعوت الی الله سره دشمنی دوی ته په میراث کی رسیدلے وه، ډیر انبیاء علیهم السلام ئے قتل کړی، او څو څو ځلئے د نبی کریم ﷺ د قتل کولو سازش هم کړے، لیکن هر ځل الله د دوی سازشونه ناکام کړیدی، او د خپل رسول ﷺ حفاظت ئے کړے نو د دوی د حق داعیان بدی شی۔ ضدیان، حسدگر دی۔

۳- او پدے وجه هم چه د اسلام د راتلونه روستو د لوئی یهودی سلطنت قائمیدل ښکاره ختم شو. ٤- بله دا چه دوی د خپل دین په مخالف باندے ظلم جائز ګڼړی او هغوی غلامان ګڼړی او د هغوی قتل ورته مباح ښکاری، او مؤمنان د دوی بیخی برعکس دی، هغوی د دوی په ظلمونو او فسادونو رد کوی نو ځکه ورسره د یهودو دشمنی سخته ده.

۵- دارنګه په یهودو کی د دنیا حرص او مشری طلب کول او تکبر کول عادت دے او نصاراؤ کی دا صفتونه لږ دی.

او شربینیؒ او محمد رشید رضاؒ لیکلی دی چه دا وجه ده چه کله د نبی کریم ﷺ خطونه نصاراؤ ته رسیدلی دی نو یا ئے ایمان راوړیدے او یا نرم شویدی لکه هرقل بادشاه او مقوقس او هوذه بن علی او د عُمان بادشاه جیفر بن جلندی او عبد بن جلندی او غیر د نصاراؤ نه هغوی د رسول الله ﷺ د خط ډیره بی عزتی کړیده لکه کِسریٰ د فارس چه خط ئے ذرے ذرے کړو. نو رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ په خپله زمانه کی د نصاراؤ مودت او اسلام ته قرب لیدلے وو او دغه ئے شوا هد وو او د یهودو نه ئے ډیر تکلیفونه لیدلی وو. (المنار ٤/٧)

او مشرکان پدے وجه دشمنی کوی چه مسلمانانو د الله د وحدانیت اقرار اُوکړو او د انبیاء کرامو په نبوتونو ئے ایمان راوړو، او دوی د کفر او شرك په ژورو تیارو کی ګلوډ پاتے وو.

نصاریٰ ولے مؤمنانو ته په مینه کی نزدے دی؟

او د مسیح علیه السلام منونکو نه چه کوم خلق خپل ځان ته نصاریٰ وائی او د انجیل د منهج مطابق خپل ژوند تیروی، هغوی په مجموعی توګه په خپلو زړونو کی د اسلام او مسلمانانو دپاره نرمی لری، او ددے وجه دا ده چه د دوی په زړونو کی نرمی وی او د یهودیانو په نسبت د دوی په زړونو کی کینه او حسد کم وی.

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه ددے سبب دا دے چه د مسیح په دین باندے د قائم پاتے کیدو په وجه د دوی په زړونو کی نرمی او د همدردئ جذبه وی لکه چه الله تعالیٰ په سورة الحدید آیت (۲۷) کی فرمایلی دی: ﴿ وَجَعَلۡنَا فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأۡفَةً وَرَحۡمَةً ﴾ چه مونږ د مسیح د منونکو په زړونو کی د همدردئ او رحمت جذبه ایخودے ده. په انجیل کی دی چه ((څوك تا په ښی اننګی باندے په څپیړه وهي نو ته هغه ته خپل ګس اننګے وړاندے کړه)). او ددے وجه دا ده چه د دوی مشر (عیسیٰ علیه السلام) هغه پیغمبر وو چه انتهائی درجه

رقت او نرمي پكي وه، او انتهائي درجه زاهد وو او دا قانون دے چه ځوك د چا منونكے شي نو د هغه صفات پكي راځي لكه پدے خبره سوچ وكړه چه د چا شاګردي ډِيے وكړه نو د هغه استاذ صفات به په تا كي راځي لكه استاذ ضدي عنادي وو، نو تا كي به هم راځي، كه مشران ډِيے صوفيان وو نو تا كي به هم صوفيت راځي او خرافات به بيانوے، نو دا امتِ محمديه د رسول الله ﷺ تابعدار دي او په هغه كي خو بيشماره كمالات وو نو ددے د وجه نه پدے امت كي مجموعي طور سره كمالات زيات دي۔

او ددے وجه دا هم ده چه جنګ كول په دين مسيح كي مشروع نۀ وو۔ ددے برعكس د يهودو په مذهب كي دي چه ځوك ستاسو د دين مخالف وي نو هغه ته په نقصان رسولو كي هر ممكن كوشش كوئ۔

ابن مردويۃ د ابو هريره رضي الله عنه نه مرفوعاً روايت كړيدے چه كله هم يو يهودي كوم مسلمان يواځے اُومومي نو د هغه د قتلولو كوشش كوي۔ وسنده ضعيف (ابن كثير ۳/۱٦٦)

نصارىٰ مسلمانانو ته زيات نزدے پدے وجه هم دي چه په هغوي كي د علم حاصلولو او د زهد في الدنيا رغبت موندلے شي او چا كي چه دا دواړه څيزونه موجود وي نو په هغه كي د بغض او حسد ماده كمه وي۔ (السعدي)

لكه دے طرف تۀ د آيت په آخر كي اشاره ده (منهم قسسين ورهبانا) چه په دوي كي علماء او عباد او زهاد وي چه تواضع اختياروي او د يهوديانو په شان په كبر او غرور كي نۀ اخته كيږي، او هر كله چه په دوي كي نرمي ده نو د دوي نه اُوس زمانه كي ډير خلك په اسلام كي داخليږي لكه د "ډاكټر ذاكر نائيك" حفظه الله په دعوت ځو مره نصارىٰ مسلمانان شو دا هر چا ته ښكاره ده۔ او دارنګه د عربو علماؤ په دعوت سره۔ او بعض صوفيان دعوىٰ كوي چه مونږ مسلمانان كړل حالانكه هغه اهل حديث مسلمانان دي صوفيه نۀ دي، بلكه دا چه د صوفيه ؤ دعوت خو كفارو ته نۀ دے هغوي خو صرف مسلمانانو پسے ګرځي، او دا د هغوي په مشن كي نشته چه كفارو ته دعوت وركړي۔

او د نصاراؤ صفت دا هم دے چه كله دوي د الله كلام آوري نو د دوي د سترګو نه اُوښكے روانيږي ځكه چه په هغے كي د نبي كريم بشارت (زيرے) موجود دے او دعا كوي چه اے الله ! مونږ هغه خلقو كي اُوليكه چه د هغه د صحيح كيدو ګواهي وركوي او په هغه باندے ايمان راوړي۔

پدے آيتونو كي د عيسايانو نرمي چه كومه ذكر شويده دا ددے خبرے دليل نۀ دے چه

دوی د مسلمانانو سره دشمنی نهٔ لری. پدے وجه قرآن (أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً) کلمات استعمال کړیدی چه نصاریٰ هم دشمنان دی لیکن یهودیان او مشرکان په دشمنئ کی ډیر سخت دی. په تیره شوے زمانه کی د مسلمانانو او عیسایانو ترمینځ چه کوم جنګونه شویدی د هغے وجه دشمنی هم وه او د یهودیانو د سازشونو په وجه هم داسے شویدی.

دا خبره په ذهن کی ساتل پکار دی چه ډیر کرته په زړونو کی نرمی کیدو باوجود د ذاتی یا قومی مفاداتو د خاطره د ورونو، رشته دارو او قبیلو او قومونو ترمینځ جنګونه کیږی، نو دا دینی نهٔ دی لکه اُوس نصاریٰ خپل مینځ کی هم په جنګ دی لکه امریکا او برطانیه ئے مثالونه دی. نو معلومه شوه چه د دشمنئ او مودت اصلی سبب هغه روحانی حالت دے نو په روحانی حالت کی نصاریٰ مسلمانانو ته نزدے دی او یهود او مشرکان ترے لری دی لکه یهود او مشرکان په راتلونکی اخلاقو او صفاتو کی د یو بل سره شریك دی ، لکه کبر، عتو، ظلم، حُبُّ الْعُلُو (د مشرئ سره مینه)، جنسی تعصب، قومی غیرت، د مادی حیات غلبه، قسوة القلب، د نرمئ او شفقت کمزوری، (المنار وتیسیر الرحمن)

دلته صاحب المنار ډیر ښائسته تفصیلات ذکر کړیدی چه د کتلو قابل دی.

پدے وجه دلته الله تعالیٰ قضیه مهمله وئیلے ده، او داسے ئے نهٔ دی وئیلی چه ټول نصاریٰ نرم دی، ولے دوی خو اُوس په مسلمانانو باندے بمباری کوی او هر قسم فسادونه کوی. او قضیه مهمله په قوت د جزئیه کی وی یعنی مجموعی طور سره نصاراؤ کی په نسبت د یهودیانو نرمی شته، لکه اُوس هم دوی د بشر دوستئ آوازونه کوی او څه ناڅه ددے دپاره منڼه هم وهی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ : قسیسین جمع د قِسِّیس یا د قَسّ ده د نصاراؤ عالِم ته وائی (قاله قطربؒ- قرطبیؒ) دا د قَسّ نه دے په معنیٰ د یو شی پسے ددے دپاره ورپسے کیدل چه هغه طلب کوی. او قَس او قِسیس د علماء او عابدانو تابعدار ته هم وائی.

او قرطبیؒ د عروه بن الزبیرؓ نه روایت ذکر کړیدے چه هرکله نصاراؤ خپل کتاب (انجیل) ضائع کړو او تبدیلی ئے پکی وکړه نو د هغوی نه یو عالِم په حق او استقامت باندے پاتے شو چه هغه نوم قسیس وو نو څوك چه د هغه په دین باندے وو نو هغوی ته به ئے قِسِّیسِین ویل یعنی د قسیس تابعداران.

وَرُهْبَانًا : رهبان : جمع د راهب ده، هغه کسان دی چه عبادتونه کوی او د الله نه یره کوی او مال او جاه ئے مطلب نهٔ وی.

وَّاَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ : دا بل سبب دے یعنی دوی کی د کبر ماده کمه ده، حق زر منونکی دی، پدے وجه مؤمنانو ته نزدے دی، ځکه چه عاجزی کونکے شخص خیر طرفته د مستکبر نه زیات نزدے وی۔ (السعدی)

شان نزول

د مفسرینو اتفاق دے چه دا آیتونه د نجاشی او د هغه د ملګرو د ایمان او د هغوی د صفاتو د بیانولو دپاره نازل شوی وو۔ ابن ابی حاتمؒ د سعید بن مسیبؒ، ابوبکر بن عبد الرحمنؒ او عروه بن زبیرؒ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ عمرو بن اُمیه ضَمریؓ ته یو خط ورکړو او نجاشی ته ئے ولیږلو او نجاشی خط لوستو سره جعفر بن ابی طالبؓ او د هغه سره موجود نور مهاجرین راوغوختل او خپل علماء او زاهدان ئے راطلب کړل، سیدنا جعفر ؓ د سورة مریم تلاوت اُوکړو نو نجاشی او د هغه تمامو ملګرو په قرآن باندے ایمان راوړو او د هغوی د سترګو نه اُوښکے روانے شوے، د هغه خلقو حالت او د ایمانی کیفیت د بیانولو دپاره په مدنی ژوند کی دا آیتونه نازل شوی وو۔

محمد بن اسحاقؒ د ام المؤمنین ام سَلَمه رضی الله عنها نه یو اُوږد حدیث روایت کړیدے چه په هغے کی هغوی د مسلمانانو حبشو ته د هجرت واقعه بیان کړیده۔

او دا چه د قریشو کافرانو عبد الله بن ابی ربیعه او عمرو بن العاص (چه لا تردے وخت پورے ورته د "رضی الله عنه" لقب نهٔ دے ملاؤ شوے) ته ډیرے تحفے او هدیی ورکړے او حبشو ته ئے اُولیږل چه دوی هلته لاړل نجاشی او د حبشو پادریان ئے د مسلمانانو په خلاف ډیر زیات راوپارول چه په څه طریقه مسلمانان مهاجرین د قریشو کافرانو ته حواله کړے شی لیکن کله چه جعفر بن ابی طالبؓ د اسلام تشریح اُوکړه او د نبی کریم ﷺ صفات ئے بیان کړل او د مسیح ابن مریم (علیه السلام) په باره کی ئے د اسلام صحیح عقیده پیش کړه نو نجاشی ډیر زیات متأثر شو او په اسلام مشرف شو۔ انتهیٰ۔

(القرطبی ۲۵۵/۶ وابن کثیر ۱۶۶/۳ والبغوی وغیرهم)

حافظ ابن القیم رحمة الله علیه په ((زاد المعاد)) کی لیکلی دی چه حبشو ته د مسلمانانو هجرت په سنه (۵ هـ) کی شوے وو۔ انتهیٰ۔

د بخاریؒ او مسلمؒ روایت دے چه کله نبی کریم ﷺ ته د نجاشی د مرګ خبر اُورسیدو نو هغه صحابه کرام رضی الله عنهم ته اُوفرمایل چه په حبشو کی ستاسو ورور نجاشی

وفات شویدے، د هغه د جنازے مونځ وکړئ نو ټولو صحابه ؤ سره نبي ﷺ صحراء ته ووتلو او د هغه د جنازے (غائبانه) مونځ ئے وکړو۔

دارنګه دا آیتونه د هغه وفد په باره کې نازل وو چه د حبشو نه مدینے ته راغے، نجاشي رالیږلے وو نو رسول الله ﷺ په هغوی باندے سورة یس ولوستلو نو هغوی ټولو وژړل او ایمان ئے راوړو او بیرته په اسلام مشرف واپس شول، نو پدے کې ابوجهل ورته ووېل چه تاسو خو ډیر کم عقلان یئ چه قوم د تحقیق دپاره رالیږلئ او تاسو په یو مجلس په محمد (ﷺ) باندے خپل دین پریخودو نو هغوی ورته ووېل چه ﴿سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ﴾ سورة القصص کې به ئے تفصیل راشي ان شاء الله تعالیٰ۔ ینظر تفسیر ابن کثیر (۱۶۶/۳)

وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ

او کله چه واوري دوی هغه قرآن چه نازل شویدے رسول ته وینے به ته سترګے د دوی

تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ

چه بهیږي به د اوښکو نه د وجه د هغے نه چه وپیژندلو دوی حق لره وائي دوی

رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۳﴾

اے ربه زمونږه! ایمان راوړیدے مونږ نو ولیکه مونږه د (حق) ګواهي کونکو سره۔

وَمَالَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا

او څه وجه ده مونږ لره چه ایمان به نۀ راوړو په الله تعالیٰ او په هغه څه چه راغلے دے مونږ ته

مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۴﴾

د حق نه او طمع لرو مونږ چه داخل به کړي مونږ لره رب زمونږه سره د قوم نیکانو نه۔

فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

پس بدله ورکړه دوی ته الله تعالیٰ په سبب د هغے چه دوی ووېل جنتونه چه بهیږي به

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِيْنَ

لاندے د هغے نه نهرونه همیشه وي په هغے کې او دا بدله د ښائسته عمل کونکو۔ او هغه

كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓـئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿٨٦﴾

کسان چه کفر ئے کړیدے او دروغجن ئے گنړلی آیتونه زمونږ. همدا کسان اُور والا دی۔

تفسیر : دا د هغوی د نرمئ نښه ده چه د الله کتاب واوری نو د سترګو نه ئے اُوښکی روانی وی۔

تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ : سترګے نۀ بهیږی، بلکه اُوښکے بهیږی مګر دا مبالغه ده او اشاره ده ډیرے ژړا ته ځکه چه سترګه هر طرفته وبهیږی نو ډیره ژړا وی او چه اُوښکی راوبهیږی نو لږه ژړا وی۔

مِـمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ : اول مِنْ اجلیه او دویم تبعیضیه دے یعنی پدے وجه چه دوی د بعض حق په پیژندلو ژړا وکړله او کله چه ټول واوری نو بیا خو به ددے نه زیات ژاړی۔

من الحق : بیا ژړا کله د خپلو ګناهونو د وجه نه وی او کله د الله نعمتونه رایاد کړی، نو حیاء ورشی وژاړی، او کله د عذابونو د وجه نه وی، او کله د حق د پیژندلو د وجه نه وی چه اُوه ! مونږ خو په ډیره غټه ګمراهئ کی پراته وو حقه لاره خو دا ده، ښه دے چه الله مونږ ته حق رانصیب کړو۔

يَقُوْلُوْنَ : دوی ډیرے ښے دعاګانے وکړے، الله ته هغه خوښے شوے نو په قرآن کریم کی ئے نازلے کړے۔ او دا د دوی د نۀ تکبر دلیل دے۔

مَعَ الشّٰهِدِيْنَ : بالحق۔ یعنی د هغه کسانو سره مو ولیکه چه د حق ګواهی ورکوی۔ او مراد ددے نه امت محمدیه دے چه دوی به په قیامت کی د حق ګواهی ورکوی۔

فائده : قرطبیؒ لیکی : [وَهٰذِهٖ أَحْوَالُ الْعُلَمَاءِ يَبْكُوْنَ وَلَا يَصْعَقُوْنَ وَيَسْأَلُوْنَ وَلَا يَصِيْحُوْنَ وَيَتَحَازَنُوْنَ وَلَا يَتَمَوَّتُوْنَ] (القرطبی ٦/٢٥٨)

دا صفات د حق پرستو علماؤ دی چه قرآن آوری نو ژړا کوی خو بیهوشی وربانددے نۀ راځی، او د الله نه دعاګانے غواړی لیکن چغے نۀ وهی او اظهار د غم کوی لیکن د مرګ حالت نۀ ښکاره کوی لکه څنګه چه دا کارونه په متصوفو باندے کیږی۔

وَمَالَنَا : دا وینا په جواب د هغه خلکو کی وه چه دوی ئے په ایمان راوړو ملامته کول چه تاسو ولے بل دین غوره کړو؟ د یو روایت مطابق ابوجهل ورته وویل : تاسو ولے په محمد (ﷺ) باندے ایمان راوړو؟ نو دوی یو باعث او بل مانع او عذر ختمیدل بیان کړل یعنی سبب موجود دے او مانع او عذر نشته نو ایمان به خامخا راوړو، ځکه چه سبب موجود وی

او مانع نۀ وی نو حکم واجب وی. هغه سبب دا دے چه (وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا) يعنی مونږ د خپل رب نه دا طمع لرو چه مونږ ته به بخنه وکړی، او مونږ به په نیکانو کی داخل کړی او د نیکانو طریقه دا ده چه هر چرته حق وی هغه قبلوی او ضد او عناد نۀ کوی. نو دلته به (مَعَ) په معنیٰ د (فِیْ) سره وی، یا دا داخلیدل جنت ته مراد دی.

اَیْ يُدْخِلَنَا رَبُّنَا الْجَنَّةَ مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ. مونږ به داخل کړی جنت ته د نیکانو سره.

وما لنا : يعنی څه وجه ده چه مونږ به ایمان نۀ راوړو يعنی هیڅ عذر نشته.

وَمَا جَآءَنَا مِنَ الْحَقِّ : دا عطف دے په (بالله) باندے. يعنی یو به په الله ایمان راوړو او بل په هغه حق باندے چه مونږ ته راغلو.

فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ : دا د آخرت زیرے دے دوی دپاره.

بِمَا قَالُوْا : دا قول (اقرار) وو په ژبه لیکن د زړه نه وو، لکه مخکی د دوی اخلاص ذکر شو په حق قبلولو او په ژړا کولو سره. نو ددے نه د کرامیه ؤ مذهب نۀ ثابتیږی چه صرف په اقرار سره جنت ملاویږی بلکه دلته دوی تصدیق او اقرار او عمل ټول جمع کړیدی څکه ئے ورته د آیت په آخر کی (مُحْسِنِيْن) هم وویل.

الْمُحْسِنِيْنَ : يعنی د دوی نظر په بره الله باندے لګیدو پدے وجه ئے حق قبول کړو او دعاء هم بنده لره د احسان درجے ته رسوی، بنه فکر او دعا دواړه د احسان اسباب دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ
اے ایمان والو ! مۀ حراموئ (په ځان) پاك ځیزونه هغه چه حلال کړیدی الله تاسو لره
وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾
او زیاتے مۀ کوئ د حد نه يقيناً الله تعالیٰ مینه نۀ کوی د زیاتی کونکو سره.
وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا وَّاتَّقُوا
او خوراك کوئ د هغے نه چه درکړیدی تاسو ته الله تعالیٰ حلال پاك او ویریږئ
اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾
د الله نه هغه ذات چه تاسو په هغه ایمان لرونکی یئ.

تفسیر : ددے نه روستو اُوس بیرته د سورت ابتداء ته واپسی ده چه هغه د حلالو او د

حرامو مسائل دي تر آخر د سورت پورې او په آخر کې به بيا واقعه د عيسىٰ عليه السلام راوړي، دپاره د رد په نصاراؤ باندې ځکه چه دا اکثر امت دې نو د دوی د عقيدې اصلاح به وکړي۔ او مخکې ئې دا بيان کړل چه يهودو د حلال او د حرامو لحاظ ونهٔ ساتلو او د الله حکمونه ئې مات کړل نو الله څنګه ذليله کړل د هغوی مثالونه ئې بيان کړل، او ورسره ئې دا هم بيان کړل چه هرکله دوی کې داخباثتونه دي نو تاسو له د هغوی سره موالات (دوستي) جائز نهٔ ده لکه منافقان دا کار کوي۔

نو ددې نه روستو د سورت دويمه موضوع بيانيږي چه تحليل او تحريم به د شارع د طرفنه وي، بندګان به ئې د ځان نه په خپل مزاج او رايه او فکر سره نکوي، او په آخر کې به ووائي ﴿قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ﴾ چه په قيامت کې به درسره حساب کوي نو رسول الله ﷺ چه تاسو ته کوم حلال حرام راوړل د هغې تابعداري وکړئ۔

شان نزول

ددې آيت د شان نزول په باره کې ګڼړ روايات راغلي دي چه بعض دا دي :

رسول الله ﷺ په يوه موقعه کې د دنيا د بې رغبتئ خبرې وکړې نو څه مؤمنان د عثمان بن مظعون ؓ په کور کې راجمع شو چه تقريباً لس کسان وو نو دا فيصله ئې وکړه چه مونږ به نکاح نهٔ کوو، غوښه به نهٔ خورو او خپل ځان به خسره ګان (خصيان) کوو [وَأَنْ يَجُبُّوا مَذَاكِيرَهُمْ] (خپل خاص اندامونه به پريکوو) او د مسوح (ټاټونو) جامې به اچوو او په زمکه کې به سياحت کوو، او په دنيا کې به زهد او د آخرت سره به مينه کوو تردې چه مرګ راشي او آخرت مو ښه شي۔

مفسرين ليکي چه په دوی کې سيدنا ابوبکر صديق، علي بن ابي طالب، عبد الله بن مسعود، مقداد بن الاسود، سلمان فارسي او ابوذر غفاري او معقل بن مقرن (رضي الله عن الجميع وارضا هم) وو، نو الله تعالىٰ دا آيت نازل کړو چه اې مؤمنانو! په ځان باندې پاک څيزونه مهٔ حراموئ چه الله درله حلال کړيدي۔ (دا خو بيا رهبانيت دې او د دنيا نظام خرابول دي، زمونږ په اسلام کې زهد شته ليکن غلو نشته) (ابن جريرؒ وابن کثيرؒ)

۲- ترمذيؒ د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کړيدې چه يو سړې رسول الله ﷺ ته راغلو او وې وئيل [إِنِّي إِذَا أَصَبْتُ اللَّحْمَ انْتَشَرْتُ لِلنِّسَاءِ وَأَخَذَتْنِي شَهْوَتِي فَحَرَّمْتُ عَلَيَّ اللَّحْمَ] چه کله زهٔ غوښه خورم نو د ښځې خواهش راځي او زما شهوت راپورته کيږي پدې

وجه ما په ځان باندے غوښه حرامه کړیده، نو دا آیت نازل شو۔

(الترمذی: ٣٠٥٤ وسنده صحيح -البانی ومحمد احمد شاکر) (وابن کثیر)

٣- په صحیحینوؒ کی د انس ﷺ نه روایت شویدے چه بعض صحابه کرامو د امهات المؤمنین نه د نبی ﷺ د پټ نیك اعمالو په باره کی معلومات اُوکړو (او د معلوماتو نه روستو) نو د هغوی نه یو تن اُووئیل چه زهٔ به غوښه نهٔ خورم۔ او چا اُووئیل چه زهٔ به وادهٔ نهٔ کوم او چا اُووئیل چه زهٔ به په بستره خوب نهٔ کوم، او چا وویل چه زهٔ به همیشه روژه یم، خوراك به نهٔ کوم۔ نبی کریم ﷺ چه کله ددے نه خبر شو نو وے وفرمایل:

((څه خلق داسے وائی، لٰکِنِّیْ أَصُوْمُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّیْ وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِیْ فَلَیْسَ مِنِّیْ] حال دا چه زهٔ روژه نیسم او ماتوم ئے هم، او اُوده کیږم او رابیداریږم، او غوښه خورم او واده کوم، نو څوك چه زما د سنت نه اعراض کوی هغه به ما نه نهٔ وی))۔

(صحیح بخاری: ٥٠٦٣) وابن کثیر)

او پدے کی حکمة دا دے چه هر کله بنده په ځان باندے دا څیزونه حراموی نو بیا دا څیزونه الله تعالیٰ ولے پیدا کول، دا د الله د حکمة خلاف راځی، او پدے سره په دین کی غلو او د الله د حدودو نه تجاوز راځی۔ ددے د پیدا کولو حکمة هم دا دے چه ددے په استعمالولو کی په بندګانو باندے امتحان شی۔ دا وجه ده چه پدے مقام کی مفسرینو په هغه صوفیاؤ زاهدانو باندے رد کړیدے چه هغوی په زهد کی داسے مرتبے ته ورسیږی چه په زهد کی غوښه نهٔ خوری، او حلال څیزونه په ځان حراموی۔ (القرطبی)

ابن الجوزیؒ وائی چه د بعض صوفیاؤ نه نقل دی چه هغوی به ویل چه د یوے روپئ په اندازه غوښه خوړل څلویښت ورځے زړه سختوی۔ (تلبیس ابلیس ١/١٨٧)

نو د الله د رسول نه پدے کی مخکی کیدل بی دینی ده، او د هغه طریقه دا وه چه یو شے به ملاویدو نو هغه به ئے استعمالولو او د الله شکر به ئے کولو او چه کله به نهٔ ملاویدو نو پرواه به ئے نهٔ کوله، او ددے دپاره به ئے جنګ جګړے نهٔ کولے او نهٔ به د هغے پسے خفه کیدو۔ او په اکثرو انسانانو کی ددے په باب کی افراط او تفریط دے۔

ځینی صوفیان پکی لا دا هم وائی چه د خپلے ښځے سره به د څلورو ګینتو نه زیات نهٔ کینے ګنے ایمان به دِے خرابیږی۔ دا هم په دین کی غلو ده۔

مضمون

ددے آیت نه روستو بیان د اقسامو د قسم دے، چه تحریم حلفی جائز دے او د قسم دوه نوعے ئے ذکر کړیدی، یمین لغو او یمین منعقد، بیا ئے محرمات الٰهیه په (۹۰) آیت کی بیان کړیدی، بیا ئے په اطاعة الله والرسول باندے امر کړیدے او په (۹۳) کی جواب د یو سوال دے د شرابو متعلق۔ بیا د تحریمات الٰهیه موقته ؤ بیان دے چه د یو وخت پورے حرام وی چه هغه په حالت د احرام او حَرَم کی د ښکار کول دی تر (۹۶) پورے،

بیا په (۹۷) کی د نذرونو او نور محرمات الٰهیه ؤ بیانول دی بیا تخویف او بشارت دے، بیا ئے امر په تبلیغ ذکر کړیدے، بیا ئے ترغیب په خیر کی او ترهیب عن الشر بیان کړیدے (قل لا یستوی الخبیث) سره۔ بیا دوه عنوانه دی، بی ځایه تپوسونه مهٔ کوئ او صحیح دین زده کړئ۔ بیا تحریمات د غیر الله دی چه انسانانو حرام کړیدی نهٔ الله تعالیٰ، بیا د مشرکانو دلیل په (۱۰٤) کی، بیا ترغیب دے، بیا مسئلة الوصیة ده او په دروغجن قسم باندے رد دے۔ او په آخر کی الله تخویف اخروی بیانوی مخالفینو د پیغمبر ته په (یَوْمَ یَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ) سره چه دوی به په قیامت کی انتهائی پښیمانه او شرمنده وی او دا د ټولو انبیاؤ حکم دے او خصوصاً بیا د نصاراؤ او ورسره د یهودو قصه بیانوی چه د دوی عقیده د عیسیٰ علیه السلام په باره کی خرابه شوے وه۔

او په آخر د سورت کی داسے آیت دے چه د ټول سورت مضمون لره شامل دے چه بادشاهی د الله ده نو نظام به د هغه چلیږی۔

تفسیر : لَا تُحَرِّمُوْا : اَیْ لَاتَعْتَقِدُوْا حُرْمَتَهٗ۔ یعنی ددے پاکو څیزونو د حرامو والی عقیده مهٔ ساتیٔ۔ څکه دا د الله په خلاف کی ودریدل دی او که چا د ځان نه تحریم وکړو سره د علم نه نو دا مشرك دے په اجماع د مسلمانانو سره څکه چه دا د ځان نه قانون جوړول دی۔

۲-لَا تَنَزَّهُوْا عَنْهُ مِثْلَ الْحَرَامِ وَلَاتُعَامِلُوْا مَعَهٗ مُعَامَلَةَ الْحَرَامِ۔ یعنی ددے نه د حرامو په شان ځان مهٔ ساتیٔ او دے سره د حرامو په شان معامله مهٔ کوئ۔ کله یو سړے یو شے حرام نهٔ ګنړی لیکن دومره ورته بد ښکاره کیږی لکه د حرامو په شان او د هغے په استعمالولو کی عیب ګنړی۔ (تفسیر النیسابوریؒ)

بیا دا تحریم په څلورو طریقو سره دے (۱) د الله حلال د انکار د وجه نه حرام وګنړی او د هغه حرام حلال وګنړی۔ (۲) د عقیدے او د شرکی یرے د وجه نه یعنی یو حلال شے (چه

نسبت ئے یو باطل معبود ته کړے شوے وی) هغه په ځان باندے حرام کړی پدے عقیده چه
که دا په ځان حلال کړم نو دغه معبود به ما ته تکلیف او ضرر راورسوی لکه بحیره او
سائبه شوه۔ (۳) په قرآن او حدیث کی یو شے حلال وی لیکن د علماءِ سوء د تقلید په وجه
بی دلیله هغه حرام وګرځوی۔ (٤) د رهبانیت (صوفیت) د وجه نه بعض حلال څیزونه په
ځان باندے حرام کړی لکه بعض صوفیاء بعض جائز لباس او غوښه خوړل، نکاح کول او
میوے او غوړی استعمالول بند کړی لکه بعض ملنګان دا کارونه کوی نو دلته دا نهی
(لَاتُحَرِّمُوْا) دے ټولو قسمونو ته شامل ده۔ او خصوصاً په آخری قسم باندے رد اول مقصد
دے۔ (احسن الکلام)

طَيِّبٰتِ : مَا اُغْذِیَ وَاُنْمِیَ ۔ چه انسان ته غذاء او نمو پرے ملاویږی۔ او طیبات بیا هر
قسم کارونو، کسبونو، خوراکونو، نکاحونو ته شامل دے، یوائے د خوراکونو پورے خاص
نهٔ دے او دلیل پرے دغه مخکنی شان نزول کی د حلال څیزونو حراموالے دے۔

او حلال هغے ته وائی چه د هغے کسب حلال وی او په صحیح طریقه ګټلے شوی وی۔

بیا ئے حلال او طیب دواړه جمع کړل ځکه بعض څیزونه حلال وی لیکن طیب نهٔ وی
لکه سکاره، کانړے او وسپنه وغیره وخوری، او بعض طیب وی لیکن حلال نهٔ وی لکه
پردے مال۔

حسن بصریؒ ته چا وویل چه دلته یو سړے دے فالوده نهٔ خوری، هغه وویل : ولے ؟ وے
ویل : هغه وائی چه مونږ ددے شکر نشو کولے۔ نو حسنؒ ورته وفرمایل: آیا دے یخی اُوبه
څکی؟ وے ویل : آؤ، ورته ئے وویل : ستا ګاونډی جاهل دے، د یخو اُوبو نعمت د فالودے نه
زیات دے، آیا ددے شکر کولے شی؟۔ (القرطبی۲٦۲/٦)

وَلَا تَعْتَدُوْا : ابن الجوزیؒ ددے پنځه معانی ذکر کړیدی :

(۱) لَا تَجُبُّوْا اَنْفُسَكُمْ (ابن عباسؓ ومجاهدؒ)

زیاتے مهٔ کوئ چه خپل ځانونه خصیان کړئ۔

(۲) لَاتَأْتُوْا مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ (الحسنؒ)

هغه کارونو ته راتلل مهٔ کوئ چه الله ترے منع کړیده۔

(۳) لَاتَسِيْرُوْا بِغَيْرِ سِيْرَةِ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ تَرْكِ النِّسَاءِ وَاِدَامَةِ الصِّيَامِ وَالْقِيَامِ (عکرمة)

تاسو د مسلمانانو نه په غیر د بل چا په طریقه مهٔ روانیږئ چه د ښځو نکاح پریدئ او
همیشه روژے او قیام اللیل وکړئ۔

(٤) لَا تُحَرِّمُوا الْحَلَالَ (مقاتلؒ) حلال مهٔ حراموئ۔

(٥) لَاتَغْصِبُوا الْأَمْوَالَ الْمُحَرَّمَةَ] (الماورديؒ) پردی مالونه مهٔ غصْب کوئ۔

(زاد المسیر : ٢/٢٥٦)

(٦)- علامه قاسميؒ وائی : لَاتَعْتَدُوا عَلَى النَّفْسِ وَالْأَهْلِ بِمَنْعِ الْحُقُوقِ۔

زیاتے مهٔ کوئ په نفس او په اهل باندے چه د دوی نه حقوق منع کړئ۔

(٧) - یا لَاتَعْتَدُوا حُدُودَ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ إِلٰى مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ۔

تجاوز مهٔ کوئ د حلالو د حدودو نه حرامو طرفته۔

(٨) یا د حلالو په حاصلولو کی د حد نه تجاوز مهٔ کوئ چه اسراف طرفته ورشئ۔ لکه کلوا واشربوا ولا تسرفوا په شان دے۔ (القاسميؒ)

وَكُلُوا : یعنی د ځان نه ئے مهٔ حراموئ۔

آیا حلال شي حرامولو سره کفاره لازمیږی؟

(١) امام شافعي رحمة الله علیه او د جمهورو علماؤ مذهب دے چه که یو شخص په ځان باندے د خوراك څکاك شے یا لباس یا بل شے حراموی نو هغه شے نهٔ حرامیږی او نهٔ په دهٔ باندے کفاره شته۔ (علماؤ د ښځے حرامول ددے نه مستثنیٰ ګرځولی دی) ځکه چه د آیت حکم مطلق دے او ځکه چه کوم صحابی (د ترمذی تیر شوی روایت مطابق) په ځان باندے غوښه حرامه کړے وه، هغه ته د الله رسول ﷺ د کفارے حکم ورنکړو۔

(٢) د امام ابوحنیفه او امام احمد رحمهما الله مذهب دا دے چه که یو شخص یو شے په ځان باندے حراموی نو هغه شے حرامیږی او د هغے په خوړلو سره کفاره لازمیږی۔ امام شوکانیؒ وائی چه دا مذهب د آیت خلاف دے او د صحیح احادیثو هم خلاف دے۔ (فتح القدیر) مګر صحیح خبره دا ده چه همدا مذهب د صحیح احادیثو مطابق دے ځکه چه په قصه د ابوبکر صدیق ؓ کی په بخاری کی راغلی دی چه هغه د طعام نه قسم وکړو نو میلمه هم وکړو، بیا ابوبکر صدیق ؓ وفرمایل چه دا شیطانی عمل دے، نو قسم ئے مات کړو او کفاره ئے ورکړه۔ او رسول الله ﷺ فرمائی : زهٔ چه کله په یو شی قسم وکړم او د هغے نه بهتر وینم نو قسم ماتوم او کفاره ورکوم۔ (صحیحین) او سورة التحریم کی راغلی دی چه رسول الله ﷺ د بیبیانو او د حلالو شاتو نه قسم وکړو او په ځان ئے حرام کړل نو الله ورته وفرمایل : چه (قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ) ستاسو د قسمونو کفاره الله تعالیٰ تاسو

باندے لازمه کړه. وانظر تفسیر ابن کثیر)

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ

نهٔ رانیسی تاسو الله تعالیٰ په بے ارادے په قسمونو ستاسو کی لیکن رانیسی تاسو لره

بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ج فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ

په هغهٔ څه چه مضبوط تړلی وی تاسو قسمونه پس کفاره د هغے خوراك ورکول د لسو

مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ

مسکینانو دی د درمیانه هغه خوراك نه چه خوروئ تاسو په اهل خپل باندے یا جامے د هغوی

اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ط فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ط

یا آزادول د مرئی دی پس څوك چه نهٔ مومی په دهٔ باندے روژی دی درے ورځے (پرله پسے)

ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ط وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ط

دا کفاره د قسمونو ستاسو ده کله چه قسمونه وکړئ تاسو او بچ ساتئ قسمونه خپل

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾

دغسے بیانوی الله تعالیٰ تاسو ته احکام خپل دے دپاره چه تاسو شکر وکړئ.

تفسیر: دا دفع د سوال ده چه یو تن په ځان باندے د قسم په وجه یو حلال شے حرام کړی لکه د یو حلال خوراك په باره کی ووائی چه قسم په الله زهٔ ئے نهٔ خورم نو آیا دا به هم گناه وی او بنده به پدے سره مشرك کیږی؟ نو جواب کوی چه تحریم حلفی جائز دے یعنی په قسم باندے یو شے د یو وخت پورے منع کول د یو حکمة د وجه نه جائز دی لکه رسول الله ﷺ دا کار کړیدے، د شاتو په باره کی ئے وئیلی وو (وَاللّٰهِ لَا أَعُوْدُ)

قسم په الله زهٔ به بیا شات نهٔ خورم. او ځان باندے ئے ماریه قبطیه حرامه کړه لیکن الله ورته تنبیه ورکړه چه په ځان باندے هسے حلال څیزونه مهٔ بندوه اگرکه دا جائز کار دے کله چه پکی فائده وی او ددے په وجه بل ته تکلیف نهٔ وی.

او په قسم کی چونکه د الله تعظیم دے او د ځان نه په حرامولو کی تعظیم د غیر الله دے نو د دواړو ترمینځ فرق دے. لکه رسول الله ﷺ فرمایلی دی :

(اِحْلِفُوْ بِاللّٰهِ وَبَرُّوْا وَاصْدُقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ أَنْ يُّحْلَفَ بِهٖ]
تاسو په الله قسمونه کوئ او پکې نيکي کوئ او رشتيا وايئ ځکه چه الله تعالىٰ دا خوښوي چه د هغه په نوم قسم وکړے شي. (ځکه چه پدے کې د الله تعظيم راځي). (حلية ابى نعيم (٢٦٧/٧) صحيح الجامع رقم: (٢١١) وسنده صحيح)

شان نزول

ابن جريرؒ د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کړيدے چه کله آيت ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبَاتِ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ نازل شو نو کومو صحابه کرامو چه په ځان باندے ښځې او غوښه حرامه کړے وه نو هغوی د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اُوکړه چه مونږ به پدے باره کې د خپلو قسمونو سره څه کوو؟ نو الله دا آيت نازل کړو، او د لغو قسم او د زړۀ نه خوړلے شوی قسم حکم ئے بيان کړو.

او دا دواړه (سوال او شان نزول) د ربط وجوهات هم شو.

بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ : لغو هغه شي ته وائي چه په بې پرواهئ سره وغورځولے شي.

دا آيت دليل دے چه په لغو قسم باندے الله تعالىٰ رانيول نۀ کوي او نۀ پرے کفاره شته.

لغو قسم هغه دے چه هغه انسان بغير د نيت نه دغه شان په ژبه باندے د عادت په توګه په غير د ارادے نه راولي، لکه څوك وائي: قسم په الله، قسم په رب، په خپل پيدا کونکی قسم، او د هغه هيڅ نيت نۀ وی. ليکن که يو شخص په يوه خبره باندے د زړۀ په نيت سره قسم خوری او هغه نۀ پوره کوی نو دا به د هغے کفاره ورکوی لکه چه دلته ددے تفصيل بيان شويدے.

د درے واړو قسمونو تفصيل د سورة البقره آيت (٢٢٥) لاندے تير شويدے يو ځل بيا هغے ته رجوع کول فائده ورکوی.

په يمين منعقد کې معمولي شان زيات وضاحت دا دے چه که دا قسم په ګناه شوے وو نو د هغے ماتول واجب دی لکه رسول الله ﷺ فرمائي: چه زۀ په يو شي قسم وخورم او د هغے نه راته غوره ښکاره شي نو قسم ماتوم او کفاره ورکوم. (صحيحين)

او که په نيکئ باندے قسم وی، مثلًا قسم په الله صدقه به کوم، نو دا به خامخا پوره کوی او که پوره ئے نکړو نو ګناهګار دے او توبه او استغفار به کوی او بيا به کفاره هم ورکوی. او که په جائزو څيزونو باندے قسم شوے وو لکه تا وويل چه قسم په الله زۀ به نن

شپه کتاب مطالعه کوم، یا به زهٔ بازار ته نهٔ ځم، نو ستا خوښه ده که دا پوره کوې او که نهٔ لیکن که پوره دِې نکړو نو کفاره به ورکوې۔
بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاِیْمَانَ : سوال دا دے چه په قسم کولو رانیول څنګه وشی حال دا چه قسم ته خو په احادیثو کی ترغیب راغلے دے ؟
جواب : دلته مضاف پټ دے۔ اَیْ بِنَکْثِ مَا عَقَّدْتُّمُ الْاَیْمَانَ۔
یعنی په ماتولو د قسمونو مو رانیسی۔
ځینی روستو (اِذَا حَنَثْتُمْ) لفظ راوباسی۔ یعنی کله چه تاسو قسم مات کړو۔
مګر که آیت په ظاهر باندے واخستے شی نو هم خبره جوړه ده یعنی الله تاسو په قسمونو رانیسی که چرته قسم په ګناه شوے وو نو په عین قسم کی ګناه ده، او که جائز قسم وی او درنه مات شو نو بیا دِے په کفاره رانیسی، او که د ګناه قسم نهٔ وی نو بیا دِے پدے باندے رانیسی چه دا قسم پوره کړه۔ نو په درے واړو صورتونو کی په قسم باندے رانیول راغلل۔
عَقَّدْتُّمُ الْاَیْمَان : عَـقْـدُ الْیَـمِیْن۔ دے ته وائی چه قسم ئے په زړه کی غوټه کړے وی یعنی نیت ئے ورله کړے وی۔ الایمان جمع د یمین ده۔ او یمین قسم ته هم وائی او ښی لاس ته هم او قسم ته ځکه یمین وائی چه په ښی لاس کی قوت وی نو په قسم سره هم یوه خبره قوی کیږی۔
فَکَفَّارَتُهٗ : د کفارے معنیٰ ده ګناه رژول او پټول۔
دلته په کفاره د قسم کی څلور څیزونه خودلے شویدی یو اطعام، دویم جامے ورکول۔ دریم غلام آزادول او څلورم درے روژے نیول۔ نو پدے درے څیزونو کی اختیار دے چه هر یو باندے عمل کوی لیکن دلته الله اطعام (طعام ورکول) مخکی ذکر کړیدی ځکه چه دا افضل ده، وجه داده چه په حجاز کی طعام ته ډیر ضرورت وو، عام خلك په فقر او مسکنت کی اخته وو۔
او ابن العربی رحمه الله وائی چه دا د حالاتو مطابق ورکول پکار دی، که مسکینان طعام ته ضرورت لری نو طعام ورکول افضل دی ځکه که تهٔ پدے وخت کی غلام آزاد کړے نو تا یولسم محتاج زیات کړو۔ او بیا ددے پسے کپړے ورکول دی۔ او الله ته د بندګانو ضرورت معلوم وو پدے وجه ئے اَهم مقدم کړو۔ (القرطبیؒ) لیکن غلام آزادول بالکل صحیح دی۔
او حافظ ابن کثیرؒ وائی چه پدے کی ترقی ده د ادنیٰ نه اعلیٰ ته، ځکه اطعام د جامو نه

آسان دے او جامے د غلام آزادولو نه آسان دی،

د قسم د کفارے اندازه

د لسو مسکینانو د خوراك ورکولو د تحدید په باره کی د صحابه کرامؓ او تابعینؒ ډیر اقوال دی:

۱- د علی بن ابی طالب ﷺ قول دے چه د غرمے او ماښام دوه وخته خوراك ورکول دی۔

۲- حسن بصریؒ او محمد بن الحنفیةؒ وائی چه صرف یو کرت غوښه او روټئ ورکول کافی کیږی۔ ۳- عمر فاروقؓ او عائشةؓ او بعض تابعینؒ وائی چه یو سړی ته به نیم صاع (تقریباً پاؤ باندے یو کلو) غنم یا کجورے ورکول کافی کیږی۔

٤- سلیمان بن یسارؒ وائی ما خلك موندلی دی چه هغوی به په کفاره د قسم کی د غنمو یو مد ورکولو او دا به ئے کافی ګنړلو او دا قول د ابن عمر، ابن عباس، زید بن ثابت رضی الله عنهم دے او دے ته عطاء بن ابی رباحؒ ذهاب کړیدے۔ (القرطبی۲۷٦/٦)وهو الظاهر۔

که یو تن صرف د غنمو شل ډوډئ واخلی او مسکینانو ته ئے ورکړی نو هم جائز ده ځکه چه دا به پخوا زمانه کی بغیر د سالن نه خوړلے شوه او که ترکاری (سالن) ورسره ملګرے کړی نو بهتره ده۔ او دا ډیر آسان کار دے مګر خلك روژو ته رجوع زیاته کوی او مال نۀ لګوی۔

چونکه په آیت کی ددے هیڅ تحدید نشته پدے وجه راجح دا معلومیږی چه لس مسکینانو ته په ډکه خیټه خوراك ورکول کافی کیږی۔

بیا په طعام کی دا هم صحیح ده چه لسو مسکینانو دپاره وړه واخلی او هغوی ته ئے ورکړی مثلًا په یو کور کی لس کسان وسیږی او هغه مسکینان وی نو هغوی دپاره ډیے وړه واخلی او ورډے ئے کړی، یا ډے طعام پوخ کړی او لس مسکینان ډے ورته راوغواړی۔

دغه شان د لباس هم څه تحدید نۀ دے راغلے، پدے وجه د وخت او حالاتو مطابق رائج لباس ورکول کافی کیږی، قمیص پرتوګ، یا لنګ او قمیص۔

ابراهیم نخعیؒ وائی چه داسے لباس به وی چه یو د قمیص او بل د لنګ په ځای کار ورکړی، او صرف جانګے یا قمیص ته جامع لباس نۀ وائی۔

او امام مالكؒ او احمدؒ وائی چه هغه جامه به ورکوی چه په هغے کی د بنځے یا د سړی مونځ کول صحیح وی یعنی چه اُوږے او عورت پټوی، یا ټول بدن پټوی۔ (ابن کثیرؒ)

نو لس جوړے به واخلي او مسكينانو ته به ئے ورکړي۔
اَوۡ تَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ : د رقبه نه مراد غلام يا وينځه ده، او دے ته رقبه ځکه وائی چه ددۀ څټ د مالك سره بند وی۔
د غلام يا وينځے په باره کی د ابوحنيفةؒ قول دے چه مسلم او کافر هر يو کافی کيږی۔
ليکن د شافعیؒ او نورو خيال دے چه مسلمان کيدل ضروری دی لکه چه د معاويه بن الحکم السلمیؓ په روايت کی راغلی دی چه هغه امام مسلمؒ او امام مالكؒ وغيرهما ذکر کړيدے چه دۀ باندے يو غلام آزادول وو، دۀ يوه توره وينځه راوسته نو رسول الله ﷺ د هغے نه تپوس اُوکړو چه (اَيۡنَ اللّٰه ؟) الله چرته دے ؟ هغے اُووئيل : په آسمان کی۔
بيا ئے تپوس اُوکړو چه زۀ څوك يم ؟ نو وے وئيل چه ته د الله رسول ئے۔ نو نبی ﷺ اُوفرمايل : دا آزاده کړه، دا مسلمانه ده۔
مګر راجح قول د امام ابوحنيفةؒ دے ځکه چه دلته آيت مطلق دے او حادثه يوه نۀ ده نو مطلق به په خپل اطلاق جاری کيږی، او دغه روايت کی دا خبره نشته چه دا وينځه آزادول د قسم په کفاره کی وو، بلکه هغه پدے وجه آزادوله چه په مخ ئے وهلے وه او رسول الله ﷺ ورته غصه کړے وه۔ کما فی رواية ابی داود رقم : (۹۳۱)
فَمَنۡ لَّمۡ يَجِدۡ : يعنی که مخکنی څيزونه نۀ مومی، دومره مال ورسره نشته چه مسکينانو ته پرے طعام يا کپړے واخلی، او مريان هم نشته نو بيا به روژے نيسی۔
فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ : آيا دا روژے پرله پسے نيول واجب دی او که مستحب ؟ امام شافعیؒ وائی چه پرله پسے نيول واجب نۀ دی، امام مالكؒ هم دا وائی ځکه چه دلته حکم مطلق دے هيڅ قيد پکی نشته لکه د رمضان مسلسل روژے قضاء شی نو په هغے کی پرله پسے نيول ضروری نۀ دی ځکه چه (فَعِدَّةٌ مِّنۡ اَيَّامٍ اُخَرَ) مطلق حکم دے۔ او احناف او حنابله وائی چه پرله پسے والے شرط دے، دليل کی يو شاذ قراءت د عبد الله بن مسعود ؓ پيش کوی چه په هغے کی (ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ) راغلے دے۔ ليکن جمهور وائی چه دا قراءت متواتر نۀ دے بلکه شاذ دے او شاذ قرائت په منزله د ضعيف حديث وی۔ (ابن کثيرؒ) او په ضعيف روايت باندے احکام شرعيه نۀ بناء کيږی لهذا دا حکم به مطلق پريخودے شی۔
ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيۡمَانِكُمۡ اِذَا حَلَفۡتُمۡ : اَیۡ وَحَنِثۡتُمۡ۔ يعنی چه کله حانث شئ۔ نو ددے سره حنث مراد دے ليکن حلف (قسم) د کفارے دپاره اصل سبب دے، پدے وجه ئے هغه ذکر کړو، نو دا دليل دے چه کفاره به د قسم نه مخکی نۀ ورکوی، او د حانث کيدو نه مخکی

کفاره ورکولو کې اختلاف دے، د یو حدیث نه معلومیږی چه مخکې والے جائز دے۔ کما رواه مسلم "وَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ وَلْيَأْتِ الَّذِىْ هُوَ خَيْرٌ"۔ یعنی د خپل قسم کفاره دِے ورکړی او هغه کار ته دِے راتلل وکړی چه هغه غوره وی۔ (مسلم : ٤٣٦٦)

وَاحْفَظُوْآ اَيْمَانَكُمْ : د قسم د حفاظت ډیر شکلونه دی :

(١) اَلْاِحْتِرَازُ عَنِ الْيَمِيْنِ۔ په بې ضرورته خبرو باندے قسمونو کولو نه ځان ساتل۔ (خازن)

(٢) بِعَدَمِ الْحِنْثِ ۔ د قسم حفاظت دا دے چه ځان حانث نکړی یعنی قسم مات نکړی، نو بیا دا دلیل دے چه قسم نۀ ماتول غوره دی، مگر که په قسم ماتولو کې کومه زیاته نیکی وی نو بیا ماتول غوره دی۔

(٣) بِأَدَاءِ الْكَفَّارَاتِ ۔ د قسم حفاظت دا دے چه کله هغه مات کړی نو بیا کفاره ورکړی، ډیر خلك قسم ماتوی او بیا کفاره نۀ ورکوی حال دا چه د کفارے ادا کول د ایمان د شعبو نه یوه لویه شعبه ده، او داسے فرض دی لکه څنګه چه مونځ. روژه او زکاة فرض دی۔

(٤) لَاتَحْلِفُوْا بِغَيْرِ اللّٰهِ۔

د قسم حفاظت دا هم دے چه صرف په الله به قسم کوی، نۀ په غیر الله۔

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ : دا احکام راتلل د شکر لائق دی ځکه چه که الله تعالیٰ قسم په بندګانو باندے مطلقاً حرام کړے وے نو بندګانو ته ضرر وو، د هغوی په ژوند کې به ډیره تنګی پیدا شوے وے، او که د قسم کفاره ئے نۀ وے وئیلے او د قسم ماتول ئے ناجائز کړے وے لکه په پخوانو امتونو باندے د قسم کفاره نۀ وه نو بیا به هم ډیره ګرانه وه، نو دا آسانیانی الله راولیږلے نو ددے احساناتو شکر لازم دے۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْآ اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ
اے ایمان والو ! یقیناً شراب او جواری او بندګی د بتانو او قسمت معلومول په غشو
رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٩٠﴾
پلیتی ده د عمل د شیطان نه دی نو ځان وساتئ ددے نه دے دپاره چه کامیاب شئ۔

تفسير : پدے کې محرمات الهیه مُؤَبَّدَه بیانیږی یعنی هغه څیزونه چه الله همیشه دپاره حرام کړیدی۔ او دا بل عقد دے د عقودو نه چه څلور څیزونه پکې الله حرام ګرځولی دی او د هغے دوه وجے ئے بیان کړیدی، یو ایراث الخبائث۔ چه دا څیزونه خباثتونه پیدا

کوی- بل تَخْلِيَةُ الْمَحَاسِن۔ دا درنه نیك اخلاق او نیك صفات وباسی- نو هرهغه شے چه د انسان نیك صفات وباسی او بد اخلاق پکی پیدا کوی نو د هغے نه ځان ساتل د هر عاقل دپاره لازم وی۔او دا آخرنے آیت دے چه الله تعالیٰ پرے شراب همیشه دپاره حرام کړیدی۔

اول د سورة البقرے آیت (۲۱۹) کی د شراب او جوارئ خرابیانے بیان شوے، بیا د سورة النساء آیت کی ئے ووئیل چه د مانځه په وخت کی ئے مهٔ څکئ،

بیا عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل : [اَللّٰهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شَافِيًا] اے الله! مونږ دپاره د شرابو په باره کی ښکاره تسلی بخش بیان وکړه، نو الله دا آیت نازل کړو- او ﴿فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ﴾ چه ووئیل شو (آیا تاسو منع کیدونکے یئ؟) نو هغوی ووئیل : [اِنْتَهَيْنَا اِنْتَهَيْنَا]

مونږ منع شو مونږ منع شو- نو د مدینے په لارو کوڅو کی شراب واړولے شو او کټوئ ګانے ئے ماتے کړے شوے، او د یتیمانانو شراب هم واړولے شو، تپوس وشو چه یا رسول الله ! سرکه ترے نهٔ جوړه وو؟ وے فرمایل: مه ئے جوړوئ، او رسول الله ﷺ د شرابو په باره کی سخت وعیدونه بیان کړل چه مُدْمِنُ الخمر (همیشه شراب څکونکے) به الله تعالیٰ جنت ته نهٔ بوځی- او چا چه په دنیا کی وڅکل په آخرت کی به ئے نهٔ څکی- (صحیح مسلم : ۵۳۳٦)

حکمة دے کی دا دے چه شراب عقل ختموی او مؤمن نه چه عقل لاړ شی نو الله به نهٔ پیژنی، د مانځه وخت، خور او مور به نهٔ پیژنی، کنځل او رد بد به وائی۔

نو پدے سره ډیرے بد اخلاقیانی پیدا کیږی، او ورسره درے څیزونه ئے نور هم حرام کړل (جواری، د بتانو عبادت، او د غشو په ذریعه د قسمت معلومولو عمل) دے دپاره چه معاشره بیخی صفا شی۔

مناسبت او ارتباط

۱- اول الله تعالیٰ مسلمانان منع کړل چه دوی د الله حلال کړی څیزونه ځان دپاره حرام نهٔ کړی- اُوس د الله حرام کړی څیزونه بیانیږی دے دپاره چه ددے نه بچ شی۔

۲- مخکی ئے ووئیل چه طیبات مهٔ حراموئ نو د بعضو په نیز خمر او میسر هم د طیباتو نه وو نو اُوس د هغے حرمت بیانوی۔

بلاغة : پدے آیتِ کریمه کی د شراب او جوارئ حراموالے په مضبوطیا سره بیانولو دپاره الله تعالیٰ ډیرے طریقے اختیار کړیدی :

د (انما) لفظ په ابتداء د جمله کې ئے استعمال کړو، د بتانو د عبادت سره ئے دواړه ذکر کړل، دواړو ته ئے (رجس) یعنی گنده شے اُووئیلو۔ د دواړو استعمال ئے شیطانی عمل اُوگرځولو۔ ددے نه د اجتناب کولو حکم ئے اُوکړو۔ او په آخر کې د دواړو د استعمال بد ترین نتائج ئے ذکر کړل۔

اِنَّمَا الْخَمْرُ : خمر په لغت کې په معنیٰ د پټولو سره او خمر ته هم ځکه خمر وائی چه دا هم عقل پټوی۔ په عرف کې : هُوَ النَّيُّ مِنْ مَاءِ الْعِنَبِ اِذَا اشْتَدَّ وَغَلٰى وَقَذَفَ بِالزَّبَدِ) (فتح البیان) د انگورو کچه اُوبه چه کله تینگے شی او وخوټ کیږی او زگونه گوزار کړی۔ او بیا نشه پیدا کړی او فقهاء احنافو همدے لغوی عرف ته کتلی دی پدے وجه ئے شراب صرف د انگورو نه حرام گرځولی دی۔ او دا ئے وئیلی دی چه شراب صرف د انگورو نه جوړیږی او که د نورو څیزونو نه جوړ شو هغے ته به شراب نۀ وائی بلکه هغه به نبیذ وی نو که ډیر ئے نشه پیدا کوله او لږ ئے نۀ پیدا کوله او لږ ئے استعمال کړل نو دا به حرام نۀ وی البته که نشے حد ته ورسیدل نو بیا به حرام وی او کله چه د انگورو نه وی نو هغه به مطلقاً حرام وی لږ وی که ډیر وی اگر که یو څاڅکے وی۔ دا مذهب د آیت او د صحیح حدیث او د صحیح قیاس خلاف دے۔(القرطبی۲۹٤/٦)

او قاعده دا ده چه کله شارع یو لفظ استعمال کړی او هغه ئے تشریح ونکړی بیا به لغت ته رجوع کیږی لیکن کله چه شارع د هغے تشریح خپله وکړی نو بیا به لغت ته رجوع نۀ کیږی۔ نو شارع د خمر تعریف داسے کړیدے امام مسلمؒ د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ]
هر نشه راوستونکے شے شراب دی او نشه راوستونکے شے حرام دے) (صحیح مسلم :٥٣٣٦)

او حدیث کې دا قانون هم راغلے دے : [مَا أَسْكَرَ كَثِيْرُهُ فَقَلِيْلُهُ حَرَامٌ] هر هغه شے چه ډیر ئے نشه راولی نو لږ ئے هم حرام دی)۔ (ابو داود : ٣٦٨٣) والترمذی : ١٨٦٥) وغیرهما بسند صحیح)

امام رازیؒ لیکلی دی چه دا آیت د نص په طریقه صریح دلالت کوی چه نشه پیدا کونکی څیزونه حرام دی، ځکه چه الله تعالیٰ د شرابو د حراموالی سبب هغه دنیوی او دینی نقصانات خودلی دی کوم چه په شرابو کی موندلے شی۔ او دا نقصانات د هغے د نشے د وجه نه وی کومه چه په شرابو کې وی، پدے وجه دا خبره په قطعی توگه ثابته شوه چه هر نشه راوستونکے شے حرام دے او بیا ئے دغه حدیث د ابن عمرؓ ذکر کړیدے۔

نو ددے وجه نه نسوار او بهنگ وغیره چه نشه راوستونکی څیزونه دی حرام دی۔ لکه

پوډر، چرس نور مخدرات، الکحول شو ددې په دوايانو کې استعمال هم جائز نهٔ دے.
زمونږ په زمانه کې اکثرې دوايانې د نشو دي، د مسلمان دپاره دا جائز نهٔ دي ددے نه ځان ساتل ضروري دي.
فائده : شريعت د نفس، مال، عزت او عقل او دين حفاظت دپاره هميشه کوشش کوي، پدے آيت کې د عقل، دين او عزت حفاظت دے بلکه د مال هم دے فتدبر.
وَالْمَيْسِرُ : د جوارئ ډير انواع دي (۱) يو دا چه په شريکه ډير کسان مال واچوي او بيا په آسانئ باندے يو ته يو شے ملاؤ شي او نور خلك محرومه شي، نو يا سو چه گټه يا سو چه تاوان وشي، نو انسان د گټے او د خطرے سره مخامخ وي او په بيع کې دا خطره نهٔ وي.
ددے يو صورت د لاټرئ هم دے، او د لډو او شطرنج او نرد شير، بيلټ گيم لوبې هم پکې داخليږي.
د مجاهد او طاووس رحمهما الله نه روايت شويدے چه ماشومان چه په غوزانو لوبې کوي، او د يو بل نه د گټلو شرطونه لگوي دا هم جواري ده. راشد بن سعدؒ او حمزه بن حبيبؒ وائي : اندے جنکول او بيا هغه د يو بل نه گټل هم جواري ده.
سعيد بن المسيبؒ وائي : د جاهليت په زمانه کې به جواري داسے کيدله چه د يوے چيلئ يا د دوه چيلو غوښه به د شرط په طور خرڅولے شوه.
زهريؒ وائي : چه جواري به داسے وه چه په مالونو او ميوه جاتو به غشي وروشتلے کيدل او بيا به د جوارئ په ذريعه هغه قبضه کيدل. (ابن کثيرؒ)
په دے دور کې د جوارئ ډير صورتونه دي مسلمان له ترے ځان ساتل پکار دي لکه بيمه انشورنس، يا تکافل تعاوني نظام شو دا هم جواري ده، تفصيل ئې په الدين الخالص (۱۰) جلد کې وگوره. دارنگه سوالونه حل کولو دپاره د تولو نه پيسے جمع کول او يو ته انعام ورکول لکه دا کار اُوس په موبائيل سستم کې شروع دے دا هم سود او جواري ده. دارنگه حوافز تجاريه بعض صورتونه فتاوى الدين الخالص باب القمار (۱۰) جلد کې وگوره.
وَالْاَنْصَابُ : جمع د نصب ده ۱ - كُلُّ مَا نُصِبَ وَعُبِدَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ حَجَرٍ وَشَجَرٍ وَقَبْرٍ)
هر هغه شے چه ودرولے شي او د الله نه سوئ د هغے بندگي وکړے شي، کانړے وي که ونه او که قبر.
(۲) [مَا يُنْصَبُ لِلتَّقَرُّبِ بِهٖ اِلَى اللّٰهِ اَوْ لِلتَّبَرُّكِ بِهٖ اَوْ لِتَعْظِيْمِهٖ كَتَمَاثِيْلِ الرُّؤَسَاءِ وَالزُّعَمَاءِ فِي

الْعَهْدِ الْحَاضِرِ]

(هر هغه شے چه ددے دپاره ودرولے (مقرر) شي چه الله ته پرے ځان نزدے کوي، یا د هغے په وجه برکت حاصلوي لکه دیوال قبر وغیره، یا د هغه د تعظیم دپاره ودرولے شوي (دیوال ته زوړند شوي) وي لکه پدے زمانه کې د تنظیمونو او د ملکونو مشرانو او بادشاهانو تصاویر شو (لکه پدے ملك کې په هر سرکاري دفتر کې دا لازم وي چه د جناح تصویر به دیوال ته د هغه د تعظیم دپاره زوړندوي)۔ (ایسر التفاسیر لابی بکر الجزائری ۳۷٤/۱)

۳- او مشرکانو د کعبے په خوا کې ګټے ودرولے چه په هغے به ئے ذبح کولے او پدے سره به ئے ځان خپلو بتانو او باطل معبودانو ته نزدے کولو۔ لکه ددے تشریح د سورت په ابتداء کې وګوره۔

وَالْأَزْلَامُ : ددے دوه مصداقه دي (۱) په غشو باندے تقسیم کول۔

(۲) او خپل قسمت معلومول۔ لکه تشریح ئے مخکې ذکر شویده۔

رِجْسٌ : په نیز د جمهورو پدے څیزونو کې رجس (پلیتی) معنوي ده، نو شراب هم معنوي پلیت دی چه شکل ئے حرام دی او ظاهراً پاك دی که په جامه باندے ولګیدل نو وینځل ئے ضروري نهٔ دي، او یو دلیل ئے دلالة الافتران دے چه دلته ئے د میسر او انصاب او ازلام سره یو ځای ذکر کړیدی او هغه خو ظاهراً پلیت نهٔ دي نو دغه شان شراب هم شو۔

نو ددے نه دا هم معلومه شوه چه الکحل وغیره چه د شرابو یو قسم دے چه دا په دوایانو او په عطرونو او سپرے ګانو کې یو ځای کولے شي نو دا اګرکه پلیت نهٔ دي لیکن ددے استعمال هم صحیح نهٔ دے ځکه چه دلته الله تعالیٰ (فَاجْتَنِبُوهُ) امر کړیدے په اجتناب باندے نو ددے نه هم ځان ساتل ضروري دي۔ البته که نسبت د کحولو په عطر یا سپرے یا دوائي کې کم وي لکه په سلو کې پنځه فیصده وي نو بیا باك نشته ځکه چه په دغه وخت کې دا نهٔ وئیلے کیږي چه دا پنځه فیصده مُسْکر (نشه راوستونکې) دي، او پدے کې د آیت علت هم نشي راتلے (چه دشمني او بغضاء راپیدا کیدل او د الله د ذکر نه مشغوله کیدل) لیکن بیا هم احتیاط دا دے چه ځان ترے وساتي۔

او د مفتي الدیار السعودیة ابن باز ؒ نه تپوس وشو چه کله کحول ویلي شوي وي او د زهرو د قبیلے نه ګرځیدلي وي، آیا په هغے باندے تطیّب جائز دے ؟ (یعني که هغه په عطرو او سپرے کې ملاؤ شي او بیا ئے د خوشبوئي په ځای استعمال کړي؟) نو هغه وویل : چه پدے باندے تطیّب جائز دے او پدے کې هیڅ مانع نهٔ ښکاره کیږي۔

(فتاوى الاسلام سؤال وجواب، سوال رقم: ٣٤٦٧)

لیکن زمونږ په نیز دغه فتویٰ په محل د نظر کی ده ځکه چه د (فاجتنبوه) خلاف راځی، دویم تعاون علی الاثم والعدوان دے که بل چا اچولی وی او ته د هغے بیع شراء او سپلائی کوے۔

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ : کامیابی به ځکه راځی چه په ایمان سره د مؤمن زړه صفا شو او د شراب او جوارئ وغیره نه د هغه ظاهر د گندونو نه صفا شو نو ظاهراً او باطنا صفا شو او دغه کامیابی ده۔ بلکه د انجام د ښه کیدو ذریعه ده۔

فائده : مُهایمیؒ په تفسیر ((تبصیر الرحمن)) کی لیکلی دی چه په شرابو څکلو کی د عقل بربادی ده او په جوارئ کی د مال بربادی ده (گټه پکی کله کله وی) او په انصاب کی د انسان د عزت بربادی ده چه مخلوق ته تذلل او عبادت کوی۔ او په ازلام کی د علم بربادی ده او کثرتِ جهل دے۔ (احسن الکلام) او مخکی فائده کی تیر شو چه اسلام همیشه ددے څیزونو د حفاظت کوشش کوی۔

اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ
یقیناً غواړی شیطان چه واقع کړی په مینځ ستاسو کی دشمنی او کینه
فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ
په څکلو د شرابو سره او کولو د جوارئ کی او منع کړی تاسو د ذکر د الله تعالیٰ نه
وَعَنِ الصَّلٰوةِ ج فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿٩١﴾
او د مانځه نه نو آیا تاسو منع کیدونکی یئ؟

تفسیر : یعنی په شراب او جوارئ کی نقصانات شته چه خبائث په بنده کی راپیدا کوی،

اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ : په آیت کی د شراب او جوارئ دینی او دنیاوی مفاسد هم بیان کړے شویدی، چه دا دواړه څیزونه د مسلمانانو ترمینځ دشمنی پیدا کوی او د مانځه او ذکر الٰهی نه منع کوی۔

الْعَدَاوَةَ : (کنځل وهل او قتال کول) ځکه چه څوك شراب وڅکی نو بیا رد بد او کنځل کوی نو د خلکو ورسره دشمنی او بغض پیدا شی او په جوارئ کی د مال بیللو په

وجه یو بل سره جګړے پیدا شی، او ډیر کرته یو بل قتل کړی چه په هغے سره شیطان ته ښه موقعه ملاؤ شی۔

فِي الْخَمْرِ : ۱- أَيْ فِي اسْتِعْمَالِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ۔ یعنی د شرابو او د جوارئ په استعمالولو کی۔ ۲- یا فی اجلیه ده۔ یعنی د وجه د شرابو او د جوارئ نه۔

وَيَصُدَّكُمْ : دغه خو ظاهری نقصانات وو، او باطنی نقصان دا دے چه پدے څیزونو کی چه کله بنده مشغول شی نو د الله د یاد او د هغه د عبادت نه بیخی غافل کیږی، لکه د شطرنج لوبے والو حال وګورئ مونځ څه چه د خپل کور او کار نه هم خبر نهٔ وی۔

هر کله چه په دے څیزونو کی دومره ظاهری او باطنی نقصانات دی نو آیا یو مسلمان چه کله دا واوری، بیا به هم نهٔ منع کیږی۔ او د شطرنج (از مری) لوبی ته امام شافعیؒ مکروه او نورو علماؤ حرام وئیلی دی۔ (ابن کثیرؒ)

او ددے نه دا معلومه شوه چه هر هغه لوبه چه بنده د مانځه نه او د عباداتو نه غافله کوی هغه به حرامه وی او که یو بنده ورسره فرض مونځ په خپل وخت کولے شی نو بیا نهٔ ده حرامه۔

فائده : کرکټ ملکی سطح باندے کیږی، خلك د مانځه نه څه چه د کارونو نه هم وباسی، نو هیڅ بعیده نهٔ ده چه د هغے په تحریم باندے هم فتویٰ ورکړے شی۔ نیټ، فیس بك د خلکو دین، عمر او مال تباه کړو، دغه خبائث سره د زیادت نه په هغے کی هم موجود دی نو حتی الوسع ځان ترے ساتل پکار دی او د هغے فضول استعمالول چه نهٔ په کی د دین فائده وی او نهٔ د دنیا، د مسلمان آخرت تباه کول دی۔

وَعَنِ الصَّلٰوةِ : دا تخصیص بعد التعمیم دے، مونځ په ذکر کی داخل دے لیکن د اهتمام د وجه نه ئے جدا ذکر کړو۔

((فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُوْنَ)) یعنی اُوس به تاسو ددے د استعمال نه بند شئ او که نهٔ د بل کوم حکم انتظار کوئ؟۔ نو عمر فاروق ﷺ او نورو صحابه کرامؓ اُووئیل چه اے الله! مونږ بند شو۔ (مسند احمدؒ)۔

او دا استفهام دے په معنیٰ د امر سره (یعنی اِنْتَهُوْا) منع شئ، او پدے استفهام کی تاکید زیات وی د امر نه۔

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ج

او تابعداری کوئ د الله تعالیٰ او تابعداری کوئ د رسول (ﷺ) او ویریږئ (د خلاف د دواړو نه)

فَإِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ فَاعۡلَمُوٓا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الۡبَلٰغُ الۡمُبِينُ ﴿۹۲﴾

نو که وګرځیدئ تاسو نو پوهه شئ چه بیشکه په رسول زمونږ رَسَول دی ښکاره۔

تفسیر : یعنی که د یو شی په منافعو او ضررونو خبر نشوئ بیا هم د الله او د رسول د احکامو تابعداری وکړئ او د هغه د قانون د مخالفت نه بچ شئ، او که بچ نشوئ نو ستاسو عذر زائل دے، زما رسول به صرف تاسو ته د الله احکام بیانوی نور ستاسو او د الله معامله ده۔

وَاحۡذَرُوا : د اطاعت سره ئے د حذر قید ځکه ولګولو چه هیڅ عبادت او اطاعت په غیر د حذر نه نشی کیدے، عبادت هله قبلیږی چه په حذر سره وی یعنی دا احتیاط به کوی چه چرته د الله حکم رانه مات نشی، او که بی باکه وی نو ډیرے بندګیانی به ترے پاتی وی۔

یا حذر اشاره ده ګناهونو پریخودو ته او طاعت عبادت دے او دا کمال دے۔

وَاحۡذَرُوا أَيۡ مِنۡ مُخَالَفَتِهِمَا۔ یعنی د دوی د مخالفت نه ویریږئ او بچاؤ اختیار کړئ۔

فَإِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ : ددے جزاء پټه ده یعنی که تاسو واوړیدئ د الله او د رسول د اطاعت نه نو تاسو مستحق د عذاب یئ او ستاسو عذر ختم دے، او په رسول باندے به هیڅ ملامتیا نهٔ وی۔ یا جزاء داسے ده : ثَبَتَتِ الۡحُجَّةُ عَلَيۡكُمۡ۔ په تاسو باندے حجت قائم شو۔

لَيۡسَ عَلَى الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ

نشته په هغه کسانو چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړی نیك هیڅ ګناه

فِيمَا طَعِمُوٓا إِذَا مَا اتَّقَوا وَّءَامَنُوا

په هغه څه کی چه خوړلی دی دوی په هغه وخت چه ځان بچ کوی (د شرك نه) او ایمان لری

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوا وَّءَامَنُوا ثُمَّ اتَّقَوا

او عمل کوی نیك بیا ځان ساتی د حرامو نه او ایمان همیشه لری بیا ځان بچ ساتی (د شبهاتو نه)

وَّأَحۡسَنُوا ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِينَ ﴿۹۳﴾

او خائسته عمل کوی او الله تعالیٰ مینه کوی د خائسته عمل کونکو سره۔

تفسیر :

شان نزول

دا جواب د سوال دے کله چه الله شراب حرام کړل نو بعض مسلمانانو ته دا شك راپیښ شو چه مخکې چه مونږ څکل آیا زمونږ عبادتونه به برباد وی او مونږ به گناه کړی وی؟ او ځینی مسلمانان شهیدان شویدی او شراب د هغوی په خیټو کې وو نو آیا دوی به د گناه په حالت کې تللی وی؟ لکه د انس بن مالك ﷛ روایت وگوره هغه فرمائی :

ما د ابو طلحهؓ په کور کې خلقو ته شراب ورکول (په هغه وخت کې شراب د کجورو نه جوړیدل) چه رسول الله ﷺ دا اعلان اوکړو چه شراب حرام شو۔ نو ابو طلحه ﷛ ما ته اُووئیل چه لاړ شه دا بهر واړوه، نو زهٔ بهر لاړم هغه مے واړول۔ او هغه د مدینے په کوڅو کې اُوبهیدل۔ بعض خلقو اُووئیل چه څه کسان پدے حال کې مړهٔ شویدی چه شراب د هغوی په خیټو کې وو ؟ (لکه په اُحد کې بعض شهیدان شو نو آیا هغوی د جرم په حالت کې لاړل ؟) نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔ (بخاریؒ وترمذیؒ)۔

او دا سوال په هره زمانه کې یو نوی حق پرست ته راپیښیږی چه مخکې مونږ د بدعت په طریقه عملونه کړیدی، اُوس راته صحیح د سنت لاره ملاؤ شوه، نو آیا زمونږ هغه زاړه عملونه به برباد وی ؟ نو دلته د هغے ښائسته جواب موجود دے۔

چه مخکنی عملونه که انسان په غلطه طریقه کړی وی مگر د الله د یرے د وجه نه ئے کړی وی یا ئے د حراموالی نه مخکې شراب څکلی وی، جواری ئے کړی وی او په هغه زمانه کې هم د الله نه یریدونکے وی، ایمان او عمل صالح کونکی وی، نو د هغه دپاره د اباحت په وخت کې د یو مباح شی په استعمالولو کې هیڅ حرج نشته خاصکر کله چه هغه خلك په عام حالاتو کې په تقویٰ او ایمان سره متصف وی او بیا د ایمان او د تقویٰ او د عمل صالح په وجه ئے ترقی کړی وی، او د احسان اعلیٰ مقام ته رسیدلی وی چه هلته بنده ورسی نو الله تعالیٰ ورسره خصوصی محبت ساتی نو کوم پاك صحابه کرامؓ چه په ایمان او تقویٰ کې ئے ټول عمر تیر کړیدے او احسان درجے ته رسیدلو سره د الله په لاره کې شهیدان هم شو نو د هغوی په باره کې داسے قسم شکونه او شبهاتو پیدا کولو هیڅ گنجائش نشته چه هغوی د یو داسے شی د استعمالولو سره د دنیا نه رخصت شویدی چه په هغه وخت کې حرام نهٔ وو او روستو حرام شو۔

نو پدے کې د جواب سره سره یوه لطیفه اشاره ده د دغه صحابه کرامؓ فضیلت ته هم چه دوی په ایمان او تقویٰ او عمل صالح او د احسان په اعلیٰ درجه باندے متصف وو۔

او دا شان نزول بعض صحابه کرامؓ ته (لکه عمرو بن معدیکرب او قدامه بن مظعون

رضی الله عنهما) ته نهٔ وو معلوم پدے وجه هغوی به دا ویل چه د ایمان او تقویٰ والو دپاره شراب حرام نهٔ دی، لیکن کله چه ورسره صحابه کرامو (ابن عباس، عمر فاروق او علی رضی الله عنهم) مناقشه وکړه او هغوی ته ئے شان نزول بیان کړو چه دا آیت د هغه چا په باره کی نازل وو چه هغوی مخکی د حراموالی نه شراب څکلی وو او بیا مړه شوی وو نو د خلکو گمان راغلے وو چه دوی به گناهگار وی او عمرؓ قُدامهؓ ته وویل : (چه دائے اَوښے هم وو) چه کله تا د الله نه تقویٰ کړے وے نو تا به شراب نهٔ څکلے، مطلب ئے دا وو چه تا د آیت تاویل او تفسیر خطا کړیدے۔ (القرطبی۶/۲۹۸)

لکه اُوس یو تن حق قبول کړی نو خلك ورته ووائی چه اُوسه پورے تا کوم مونځونه کړی وو، هغه غلط وو نو د هغے جواب هم دا دے چه الله تا په هغے باندے نهٔ گناهگاروی، مثلًا تا رفع الیدین نهٔ کول، د نامه نه دِبے لاندے لاس کیخودل یا دِبے زوړند ساتل او د سنت طریقو نه د بعض ملیانو یا د رواج په وجه محروم وے، نو هغه مونځونه هم ستا قبول دی څکه چه هغه هم تا د الله او د رسول د تابعداریٔ په وجه کړیدی او تا خو قرآن او حدیث سره ضد نهٔ کولو لیکن کله چه تا ته سنت طریقے راورسیدے او بیا هم پرے عمل نهٔ کوے نو تهٔ د خپل ځان خیرخواه نهٔ یی، او چه ضد کوے نو مونځ نهٔ قبلیدل لا څه چه د ایمان د ختمیدو خطره ده (فلا وربك لا یؤمنون) کی داخل نشے۔

طَعِمُوٓا : اَیُ مِنَ الْخَمْرِ وَاَكَلُوْا مِنَ الْمَيْسِرِ۔

یعنی شراب ئے څکلی دی او د جواریٔ مال ئے خوړلے دے۔

وَّاٰمَنُوْا : دلته درے ځل تقویٰ او ایمان ذکر شویدے یا خو تاکید غرض دے چه مؤمن به بار بار ایمان او تقویٰ تازه کوی۔ او دے کی جدا جدا مصداقات هم مفسرینو لیکلی دی :

۱- اوّل (آمنوا) د کفر او شرك نه ایمان راوړل دی او دویم ایمان په تحریم د خمر باندے دے او دریم ایمان (بِجَمِيْعِ مَا جَاءَ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ) یعنی رسول الله ﷺ چه څه راوړی وی په هغے ټولو ایمان لری، یا استقامت او ثبات علی الایمان مراد دے۔ ظاهر دا ده چه تاکید غرض دے او د ایمان بار بار تازه کول پکار دی څکه چه ایمان زر خرابیږی۔

او **وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ** هم دوه کرته ذکر شو یا خو تاکید غرض دے، یا دا چه اول صالحات فرض او مستحب دواړو ته شامل دے، او دویم صالحات په اداء د فرائضو مراد دے۔

او تقویٰ هم درے کرته ذکر ده دے کی هم (۱) یا تاکید غرض دے چه په هر وخت کی تقویٰ پکار ده۔ (۲) یا دا چه اوله تقویٰ د شرك نه ده، او دویمه تقویٰ د کبائرو نه ده، او دریمه

تـقـویٰ د صـغـائرو نه ده، او ددے نه روستو بنده د احسان درجے ته رسیږی نو ځکه ئے ورپسے (واحسـنـوا) احسـان ذکـر کـړیدے۔ (۲) اوله تقویٰ مطلق ده یا د شرك او کفر نه ده، او دویمه تقویٰ د حرامو او کبائرو نه ده، او دریمه تقویٰ د شبهاتو او صغائرو نه ده۔

(۳) یا – اِتَّقَوا الشِّرْكَ یـعـنـی د شرك نه ئے تقویٰ کړیده او دویمه تقویٰ د شرابو څکلو نه ده او دریمه تقویٰ (مِنَ الْعَوْدِ اِلَى الْخَمْرِ) شرابـو تـه د بیرته واپسئ نه ده۔ یا د مباحاتو نه ده چه کله د هغې په استعمال سره بنده ذلیله کیږی۔

وَّاَحْسَنُوْا : دا ئے د تـقـویٰ سره ولے ملګرے کړو؟ نو دے کی حکمة دا دے چه ډیر کرته بـنده عملونه کوی بغیر د توجه د الله نه او عمل چه بی توجه وی، نو د هغے اثر نهٔ وی نو الله ورسره احسـان یـو ځـای کـړو چـه تقویٰ به کوی په طریقه د احسان سره (ان تعبد الله کأنك تراه) د الله به داسے بندګی کوی لکه چه الله ته ګوری او داسے بندګان د الله خوښ وی۔

یا احسان کی اشاره ده اتباع د سنت ته۔

يَـٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ
اے ایمان والو! خامخا امتحان کوی په تاسو الله تعالیٰ په څه شی د ښکار نه
تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ
چه رسیږی هغے ته لاسونه ستاسو او نیزے ستاسو دے دپاره چه ښکاره کړی
اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى
الله تعالیٰ هغه څوك چه یریږی د هغه نه په غائب والی کی نو چا چه زیاتے وکړو
بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۹۴﴾
پس ددے نه نو هغه دپاره عذاب دردناك دے۔

تفسیر : دلتـه مـوقـت مـحـرمات بیانوی یعنی چه د یو وخت یا مکان پورے خاص وی لـکـه په حالت د احرام یا په حرم کی ښکار کول، او پدے کی مقصد امتحان دے په بندګانو چـه څـوك د هـغـه نـه غائبانه یره کوی۔ او بل مقصد پکی د بنده د حرامو نه په ځان ساتلو باندے عادت کول، نو دا ټریننګ دے، دے دپاره چه بنده په آینده ژوند کی احتیاط کوی۔

پـدے آیتِ کریمه کی الله تعالیٰ خپلو مؤمنانو بندګانو ته خطاب کولو سره اُوفرمایل چه

الله تـعـالیٰ په دوی بـانـدې امتـحـان کـوی دې دپاره چه فرمانبردار او غیر فرمانبردار دواړه معـلـوم شی، پـدې وجـه الله تـعـالیٰ په دوی باندې د احرام په حالت کی ښکار کول حرام اُوګرځـول او بیـا ئـې حالت داسې کړو چه وړوکې او غټ ښکارئې د دوی ښی او ګس طرف ته راوستـل دې دپاره چه الله وینی چه څوك د هغه د حکم په منلو سره دې له ګوتې نهٔ وروړی او څوك د هغه نافرمانی کوی۔

ابن حبانؒ لیکلی دی چه دا آیت د عُمره حدیبیه په باره کی نازل شوې وو کله چه ځنګلی حیـوانـات، مـارغـان او د ښکار نور حیوانات د دوی د خیمو خوا ته ډیر راتلل چه دوی داسې هیـڅ کـلـه هـم نـهٔ وو لیـدلـی نـو الله تعالیٰ د امتحان په توګه په حالت د احرام کی د هغې د وژلونه منع کړل۔

او دلته د ښکار متعلق احکام بیان شو، وجه دا ده چه دا د عربو د ژوند یوه اهمه ذریعه وه او په عامو خلکو کی مشهور وو او زیات به ملاویدو۔

مسائل او علوم

د مُحرم (احرام والا) دپاره ښکار ذبح کول دوه قسمه دی یو اهلی (کورنی) حیوانات دی نو دا په اتفاق د علماؤ سره د محرم دپاره ذبح کول جائز دی، لکه ګډه، بزه، چرګه وغیره ذبح کـولې شی۔ دویم غیر اهلی دا په دوه قسمه دی یو د دریاب دی، نو دا هم د محرم دپاره قرآن کریم جائز کړیدی (اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ) کی به راشی۔

او دویـم بـری (دشتـی، صـحـرائـی) حیـوانـات دی نو دا بیا دوه قسمه دی یو مُؤذِیُ (ضرر ورکـونـکـی) دی نـو ددې وژل ورلـه جـائـز دی کله چه پرې حمله کوی لکه شرمخ، ګیدړ او زمرې وغیره او که حمله نکوی نو وژل ئې جائز نهٔ دی۔

او پدې کی پنځه څیزونه نور رسول الله ﷺ خودلی دی چه هغه ضرر ورکونکی دی لکه چه په صحیحینو کی د عائشې رضی الله عنها نه روایت شویدې چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل: ((پنځه قسمه حیوانات بد کاره دی، دوی به په حدودو د حرم کی هم قتلولې شی : کارغه، تپوس، لړم، مږه او چیچونکې سپې))۔ (صحیح بخاری: ٣٣١٤) مسلم (١١٩٨)

زیـد بن اسلمؒ او ابن عُیینهٔؒ وائی چه ((چیچونکې سپې)) تمام خطرناکو حیواناتو ته شامل دې۔ او ددې تـائیـد ددې نه هم کیږی چه نبی کریم ﷺ چه کله عتبه بن ابولهب ته ښیرې اُوکړې نـو وې وئیـل چه اې الله! تـه پـه دهٔ بـانـدې سپې مسلـط کـړه نو په زرقاء مقام کی

ځنګلي ځناورو هغه ځیرې کولو سره ختم کړو)۔
او په یو روایت کې د لړم په ځای مار هم راغلې دے۔ بلکه د ترمذيؒ په روایت کې دي: يقتل المحرم السبع العادي) (الترمذي :٨٣٨ حسنه الترمذي وضعفه الالباني) محرم سړے حمله کونکے درنده قتلولے شي۔ نو پدے سره ښه وضاحت وشو۔
او بل غیر مُؤذي حیوان دے نو د هغے وژل، هغے ته اشاره کول، هغه ښکار کونکي ته خودل، یا ورسره په ښکار کولو کې مدد کول، دا ټول ناروا دي۔ که دا ئے وکړل نو یو به توبه وباسي، او بل به د هغے کفاره ورکړي، او کفاره ئے دا ده چه د هغے مثل به ورکړي او که مثل نۀ ملاویدو نو د هغے قیمت به ولګوي او په هغے باندے به طعام واخلي او مسکینانو ته به ئے ورکړي، او که قیمت ورسره نۀ وو نو بیا به د هغے موافق روژے ونیسي لکه تفصیل ئے روستو راځي۔
او دا ښکار په حرم کې هم ناروا دے او په حالت د احرام کې هم۔
لَيَبۡلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ : د الله د امتحان یوه طریقه دا ده چه کله به یو حرام شے راډیر کړي لکه په حالت د احرام کې به ښکار ستا مخے ته تیریږي راتیریږي خو په تا به امتحان وي، او ته به ښۀ محتاج هم ئے۔
تَنَالُهٗۤ اَيۡدِيۡكُمۡ : یعنې ستاسو لاسونه به ورته رسیږي لکه د حیواناتو اګئ یا واړه بچي راخستل چه منډه نشي وهلے، او بعض په نیزه وهلے شي لکه اُوسئ او سوئ وغیره شو۔
لِيَعۡلَمَ اللّٰهُ : یعني الله راښکاره کوي خلکو ته چه څوك د هغه نه په غیبو کې یریږي۔
مَنۡ يَّخَافُهٗ بِالۡغَيۡبِ: لکه صحراء ده او هیڅوك نشته او ښکار ستا خوا ته کیږي او ته وائے چه الله راته ګوري نو دا ستا د ایمان نښه ده، په امتحان کې کامیاب شوے۔
فَمَنِ اعۡتَدٰى بَعۡدَ ذٰلِكَ : یعنې چا چه ددے تحریم نه روستو زیاتے وکړو او ښکار ئے په حالت د احرام او حرم کې وکړو نو د هغه دپاره دردناك عذاب دے۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقۡتُلُوا الصَّيۡدَ وَاَنۡتُمۡ حُرُمٌ ؕ وَمَنۡ قَتَلَهٗ مِنۡكُمۡ
اے ایمان والو ! مۀ وژنئ ښکار چه تاسو په احرام کې یئ او چا چه ووژلو ښکار ستاسو نه
مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحۡكُمُ
په قصد سره نو (دۀ باندے) بدله ده په شان د هغے چه دۀ وژلے دے د څاروو نه فیصله به کوي

بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ
پدیے سره دوه انصاف والا ستاسو نه هدیه به وي رسیدونکے کعبے ته یا به کفاره وي
طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اَوْعَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ
خوراك د مسکینانو یا برابر ددے روژے نیول دي دا ددے دپاره چه وشکي سزا د کار خپل
عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ وَمَنْ عَادَ
معافي کړیده الله تعالیٰ د هغے نه چه مخکې څه شویدي او څوك چه راواپس شو (حلال ګنړلو
فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۹۵﴾
ددے ښکار ته) نو بدله به واخلي الله تعالیٰ د هغه نه او الله غالبه بدله اخستونکے دے۔

تفسیر : پدے کې د ښکار کولو نه منع ده په حالت د احرام او حرم کې، او که یو شخص د احرام په حالت کې یو حیوان یا ښکار قتل کړي، نو په هغه به څه حکم مرتب کیږي؟، نو هغه دلته بیان شویدے۔

لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ : رسول الله ﷺ د قتل سره اشاره کول او خودنه کول هم حرام ګرځولي دي، ځکه هغه مقدمات د قتل دي۔

مُتَعَمِّدًا : د قصد صورت دا دے چه دا ورته یاد وي چه زهٔ په احرام کې یم او د حرم په حدودو کې دننه یم۔

آیا په سهوه سره په ښکار وژلو کې کفاره شته؟

(۱) ابن عباسؓ، امام احمدؒ او داود ظاهريؒ وغیرهم د آیت نه دلیل نیولو سره وئیلي دي چه په غلطۍ سره یا په هیره سره یو ښکار یا حیوان قتلولو باندے هیڅ کفاره واجب نهٔ ده او همدا قول حق دے۔

(۲) د ابن عمرؓ، حسنؒ، نخعيؒ، زهريؒ، ابوحنیفهؒ، مالكؒ او شافعيؒ وغیرهم (رحمهم الله) رایه دا ده چه کفاره په هر حالت کې واجبیږي، او په آیت کې د (مُتَعَمِّداً) لفظ د عام حالت د بیانولو دپاره راغلے دے، شرط نهٔ دے۔ د ابن عباسؓ یو دویم روایت دے چه کفاره په هغه شخص واجبیږي چه حالت د احرام ترے هیر وي او قصداً ښکار کوي۔ یعنی په یره سره هم کفاره شته او دا قول د مجاهدؒ هم دے۔ (القرطبيؒ)

او امام زهريّ وائي : [مَضَتِ السُّنَّةُ أَنَّ الْخَطَأَ فِيْ هٰذَا مِثْلَ الْعَمْدِ]
سنت طريقه دا ده چه خطاء پدے باب كې د قصد په شان ده۔ نو ددے روايت خو يو سند نشته۔ او د رسول الله ﷺ نه ددے په باره كې هيڅ سنت نۀ دے نقل۔
بله دا چه دغه روايت د زهريّ يو خو ددے آيت خلاف دے چه (مُتعمّدًا) قيد ئے لګولے دے او بل د حديث خلاف دے چه دے امت ته خطاء او نسيان معاف دی۔ او قياسونو ته ضرورت نشته۔ نو ځکه اول قول د امام احمدؒ، داودؒ او ابن حزمؒ صحيح دے ځکه چه دليل ورسره د قرآن كريم نص دے۔
مِّثْلُ مَا قَتَلَ : د امام ابوحنيفهؒ په نيز په قيمت كې مماثلت مراد دے چه دے ته مثل معنوي وائي، او د مالكؒ، شافعيؒ، احمدؒ او جمهورو فقهاؤ په نيز په خِلقت كې مماثلت مراد دے يعنى مثل صوري۔ شوكانيؒ ددويم قول تائيد كړيدے ځكه چه د ((مِنَ النعَم)) يعنى د اُوښ، غوا، او چيلۍ صراحت شويدے، او بل دليل ((هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَة)) دے، يعنى هغه فديه به حيوان وي او كعبے ته به رسولے شي)۔
د امام ابوحنيفهؒ دا هم قول دے چه د مماثل حيوان د موجوديدو سره قيمت وركول جائز دي، او محرم ته اختيار دے۔ مګر دا د آيت د ظاهر خلاف دی۔ او د صحابه كرامؓ د عمل مخالف دے۔
مِنَ النَّعَمِ : دا بيان دے د (مِثْل) دپاره يعنى بدله ده د چارپيانو نه په مثل د هغے حيوان چه دۀ وژلے دے۔
ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ : ددے نه مراد صحابه كرامؓ دي چه هغوي عادلان دي، او هغوي په خپلو زمانو كې د حيواناتو مثلونه خودلي دي، او په احاديثو كې ذكر دي لكه د شتر مرغ، اُوښ مشابه دے، او د ځنګلي غوا كورنۍ غوا مشابه ده، او د اُوسۍ چيلۍ مشابه ده، نو بس په هغوي به فيصله وي، او كه په كوم يو حيوان كې هغوي نه څه نقل نۀ وي، نو بيا به دوه مسلمانان چه په عدالت مشهور وي هغوي به ددے اندازه لګوي چه دا حيوان د فلاني حيوان برابر دے۔
هَدْيًا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ : يعنى كوم ښاروي باندے چه دوه عادلانو فيصله وكړه نو هغه به د هدي په حكم كې وي چه اشعار به ئے كولے شي او قلاده به ورته اچولے شي۔
بٰلِغَ الْكَعْبَةِ : د كعبے نه مراد ټول حرم دے يعنى دا هدي به په حرم كې ذبح كولے شي او په مسكينانو به خوړلے شي او دے ته دمِ جنايت، او دم د قتل الصيد وائي۔

اَوْ کَفَّارَةٌ طَعَامُ : ددے صورت دا دے چه یو تن سُویٔ وژلے ده نو ددے په بدله کی یو گډ پرے راغے نو اُوس به د گډ قیمت ولګولے شی مثلًا د هغه زمانے مطابق گډ په لسو روپو دے او په دغه لسو روپو باندے پنځه صاعه طعام (غنم) کیږی نو دے به نیم صاع هر مسکین ته ورکړی۔ او نیم صاع څه دپاسه یوه کیلو ده۔

اَوْعَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا : د بعض علماؤ اهل ظاهرو په نیز (ذٰلِكَ) اشاره ده حیوان ته یعنی په حیوان باندے چه څومره کسان مړیږی (مثلًا په گډ باندے شل کسان مړیږی) نو دے به د هغے مطابق (شل) روژے ونیسی۔ لیکن دا تفسیر دومره ظاهر نهٔ دے،

جمهور اهل علمٓ وائی چه (ذلك) اشاره ده (طَعَامُ مَسَاكِينَ) ته یعنی مثلًا لس مسکینان په پنځه صاعو باندے مړیدل نو لس روژے به ونیسی، د هر نیمائی صاع په مقابله کی به یوه روژه ونیسی۔

لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ : یعنی دا کفاره پرے ولے راغله؟ نو وجه دا ده چه کله ورته د خپل کار سزا ملاؤ شی، پیسے ترے لاړی شی بیا به داسے نهٔ کوی، او روژے چه سړے ونیسی نو نفس ئے کمزورے شی، او وږے تږے شی نو آینده کی به داسے کار نهٔ کوی۔

وبال : سزا د جرم ته وائی۔

عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ : یعنی د جاهلیت په زمانه کی که چا داسے کړی وی نو هغه معاف دے۔ بعضو ددے مطلب دا بیان کړیدے چه د کفارے حکم نازلیدو نه مخکی که چا داسے کړی وی نو هغه معاف دے۔

وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ : یعنی څوك چه د تحریم نه روستو ښکار کولو ته راوګرځیدو نو الله به ترے بدله اخلی، سزا به ورکوی۔

فائده : د جمهورو په نیز پدے کفارو کی په هر یو کی اختیار دے چه په کوم باندے مخکی عمل کوی۔ او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت شویدے چه خوراك ورکول، او روژه نیول د فدیے د حیوان نهٔ ملاویدو په صورت کی جائز دی۔ او دا احتیاطی قول دے او اول قول کی نرمی ده۔

اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ

حلال کړے شویدے تاسو لره ښکار د دریاب او خوراك د هغے، دپاره د فائدے ستاسو

وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ

او د قافلے والو دپاره او حرام کړے شویدے په تاسو ښکار د وچے ترڅو پورے چه یئ تاسو

حُرُمًا ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِيٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾

په احرام کی او ویریږئ د الله تعالیٰ نه هغه ذات دے چه هغه ته به ورجمع کولے شئ۔

تفسیر : په حالت د احرام کی د ښکار حرمت او د هغے د کفارے بیانولو نه روستو پدے آیت کی الله تعالیٰ د احسان په توګه دا وئیلی دی چه د مُحرم دپاره د دریاب ژوندی مهیانو ښکار او د هغه مړهٔ شوی مهیان خوړل هم حلال دی کوم چه چپو وهلو سره د دریاب غاړے ته راغلی وی۔

جمهورو علماؤ ددے آیت نه د دریاب مردار مهیان خوړل حلال ګرځولی دی۔ دے نه سویٰ د جابر ﷺ د هغه حدیث نه ئے هم دلیل نیولے دے چه مالك، بخاریؒ او مسلمؒ وغیرهم روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ د ابوعبیده بن الجراح ﷺ په قیادت کی د دریے سوه کسانو یو لښکر د سمندر غاړے طرف ته اُولیږلو۔ د هغوی د سفر توخه ختمه شوه نو د دریاب غاړے ته هغوی ته یو ډیر غټ مړ ماهی ملاؤ شو چه د هغے غوښه دوی اتلسو ورځو پورے خوړله۔ په بعض روایاتو کی دی چه صحابه کرامؓ د هغے څه حصه مدینے ته هم راوړه، او رسول الله ﷺ هم د هغے نه خوراك اُوکړو۔

دغه شان د ابو هریره ﷺ د روایت نه ئے دلیل نیولے دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو چه اے د الله رسوله ! مونږ په دریاب کي سفر کوو، مونږ سره اُوبه کمے وی، که په هغے سره اودس کوو نو تږی کیږو، آیا مونږ بهٔ د دریاب په اُوبو باندے اودس کوو ؟ نو نبی ﷺ اُوفرمایل : ((ددے اُوبه پاکے دی، او ددے مړ شوے حیوان حلال دے))۔

(مالك، شافعی، احمد او اصحاب السنن)۔

یو بل روایت دے چه امام احمدؒ او ابن ماجهؒ د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((زمونږ دپاره دوه مردارے او دوه وینے حلالے کړے شویدی : دوه مردارے یعنی ماهی او ملخ۔ او دوه وینے یعنی کلیجی او تورے))۔ (وسنده صحیح)

د همدے آیت نه دلیل نیولو سره بعض فقهاؤ وئیلی دی چه د دریاب تمام حیوانات خوړل بغیر د استثناء نه جائز دی۔ او بعض علماؤ چندخ ترے مستثنیٰ ګرځولے دے۔ څکه

د عبد الرحمن بن عثمان التیمیؓ روایت دے چه امام احمدؒ او ابو داودؒ روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ د چندخ د وژلو نه منع کړیده۔ (باسناد صحیح -ارناووط)

اُحِلَّ لَکُمۡ صَیۡدُ الۡبَحۡرِ : د صید دوه معانی دی

(۱) یو معنیٰ مصدری یعنی په دریاب کی ښکار کول۔

(۲) دویم مصدر په معنیٰ د مفعول سره یعنی مَصِید۔ هغه حیوان چه ښکار کړے شوے وی په دریاب کی۔

او د بحر نه مراد هر قسم اُوبه دی برابره ده چه دریاب وی، که نهر، او که ډنډ وی یعنی مائی حیوان ښکار کول جائز دی۔

د صید او طعام فرق

وَطَعَامُهٗ : د صید او طعام فرق دا دے ۱- چه طعام : مَا رَمَاهُ الۡبَحۡرُ۔ هغه ښکار چه دریاب غاړے ته راګوزار کړے وی لکه مخکی په قصه د ابو عبیده بن الجراح ؓ کی تیر شو۔او صید هغے ته وائی چه تا پکی ښکار کړے وی۔

۲- یا صید هغه ته وائی چه تازه ونیولے شی، او طعام هغه دے چه مالح وی یعنی د مخکی نه نیولے شوے وی او د حفاظت دپاره ئے په مالګه کی اچولے وی نو هغه هم په حالت د احرام کی خوړل جائز دی۔لکه خلك دا کار په سفرونو کی کوی۔ مطلب دا چه که په حالت د احرام کی نیولے وی او که د مخکی نه ئے نیولے وی دواړه جائز دی۔

وَحُرِّمَ عَلَیۡکُمۡ صَیۡدُ الۡبَرِّ مَادُمۡتُمۡ حُرُمًا : په حالت د احرام کی د اُوچے حیواناتو ښکار حرام دے۔ د آیت ظاهری معنیٰ دا ده چه د مُحرم دپاره د اُوچے د ښکار غوښه خوړل حرام دی۔ اګرکه ښکار کونکے بل څوك وی۔ د جمهورو علماؤ رائے دا ده چه که د محرم دپاره ښکار کړے شوی وی نو د هغه دپاره خوړل به ئے حرام وی، او که نهٔ وی نو حلال به وی۔

او بعض علماؤ وئیلی دی چه د محرم نه سویٰ د بل چا ښکار کړے شوے حیوان به مطلقاً حلال وی اګرکه د محرم دپاره ئے نیولے وی، لیکن راجح دا ده چه حدیث کی دی:

[کُلُوۡا لَحۡمَ الصَّیۡدِ وَاَنۡتُمۡ حُرُمٌ مَا لَمۡ تَصِیۡدُوۡهُ اَوۡ یُصَدۡ لَکُمۡ]

(مسند احمد رقم الحدیث۱۵۱۹۷) و (۱۵۲۲۲) وسنده صحیح لغیره)

د ښکار غوښه خورئ کله چه تاسو په حالت د احرام کی یئ ترڅو پورے چه تاسو ښکار کړی نهٔ وی یا ستاسو دپاره ښکار کړے شوی نهٔ وی۔ نو د محرم دپاره که بل چا ښکار کړے

وی نـو هم جائز نهٔ ده، او پدے باندے دلیل حدیث د بخاری دے چه رسول الله ﷺ ته صعب بـن جثامه صحرائی خر هدیه کړو نو هغه بیرته واپس کړو ځکه چه هغه د رسول الله ﷺ دپاره ښـکار کړے وو۔ نو که یو تن ځان دپاره ښکار کړے وی او بیا ئے څه برخه ترے محرم ته ورکـړه نـو مـحـرم دپاره بیـخی جائز ده۔ او پدے طریقه سره د ټولو روایاتو تطبیق راځی ولله الحمد علی اتمام دینه وشرعه۔

جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ
گرځولے ده الله تعالیٰ کعبه کور عزتمند سبب د ژوند د خلقو او میاشت عزتمنه او قربانی
وَالْقَلَآئِدَ ۭ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا
او امیلونو والا ځاروی دا ددے دپاره چه تاسو پوهه شئ چه بیشکه الله تعالیٰ پوهیږی په هغه څه
فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٩٧﴾
چه په آسمانونو کی دی او هغه څه چه په زمکه کی دی او بیشکه الله تعالیٰ په هر شی پوهه دے

تفسیر : پدے آیت کریمه کی الله تعالیٰ د بعض محرماتو حکمت بیانوی چه الله تعالیٰ پـه بـعـض ځیزونـو بـانـدے پابندیانی ولګولے او عزت ئے ورله ورکړو دا ولے ؟ نو دے کی د بندګانو نظریه او عقیده جوړول او امتحان کول او د الله کمالات پیژندل ئے حکمة دے۔

جَعَلَ اللّٰهُ : دلتـه جـعـل تشریعی او تکوینی دواړه مراد کیدے شی۔ یعنی الله په شریعت کـی د کـعبـے د تـعـظـیـم او هـلـته د بندګئ حکم کړیدے او تقدیراً هم الله تعالیٰ سبب د ژوند جوړ کړیدے۔

الْكَعْبَةَ : کعبـه په اصل کی اُوچتوالی ته وائی لکه کعب : ګیټو ته وائی ځکه چه دا په خپه کی نیغ راوتے وی، نو کعبه اُوچت ځای ته وائی۔

الْبَيْتَ الْحَرَامَ : دا عطف بیان دے او عطف بیان کله په غیر مشهور سره هم کیږی۔

قِيٰمًا : یعنی سبب د ژوند دے۔

لِّلنَّاسِ : د الناس نه مراد یا ټول انسانان دی :

۱- نـو سبب د ژونـد مـطـلـب دا چه تـرڅـو پورے کعبه موجوده او ولاړه وی، نو عالَم به مـوجـود او پـه خپـل حال به وی، او کله چه کعبه ورانه شوه نو قیامت به راځی لکه حدیث کی دی چه ذو السویقتین به راځی او کعبه به ورانوی بیا به قیامت راځی۔

او دا د قیامت د علاماتو نه لویه علامه ده. نو کعبه د ژوند سبب اجتماعی دے او مخکی سورة النساء کی مال ته قیام وئیل شوے وو هغه سبب انفرادی وو.
۲- یا د قیام نه مراد دا چه [یَقُوْمُ بِهَا أَمْرُ دِیْنِهِمْ وَدُنْیَاهُمْ].
د کعبے په وجه به دین او دنیا ودانه وی ترڅو چه کعبه وی دین به ژوندے وی، او دارنګه د کعبے په وجه ډیرو انسانانو ته او حکومتونو ته فائدے رسیږی.
په هغه زمانه کی به چه کعبے له کوم حجاج راتلل نو د عربو به ډیره فائده کیدله اُوس هم دغه شان ده چه ډیر انسانان پرے آباد دی، ایجنسیانو والا، جهازونو والا، کرایانو والا، ګاړو والا، عام تجارتونو والا ټول ددے نه مستفید کیږی او ژوند ئے برابریږی.
ځینی مفسرینو د (الناس) نه مراد خاص د جاهلیت د زمانے عرب مراد کړیدی چه الله تعالیٰ کعبه چه بیت الحرام (عزتمند کور) دے د عربو دپاره د دنیوی او دینی فوائدو او مصالحو ډیره لویه ذریعه جوړه کړے وه، په حدودو د حرم کی داخلیدو نکے به د هرے یرے نه امن کی کیدو، هلته به د کمزورو مدد کیدو، د هغوی په تجارتونو کی به فائده کیده، او عبادت ګذار به هلته د زړهٔ په آرام سره په عبادت کی لګیا وو او هر قسم میوے به د نورو ښارونو نه هلته رسیدلے. نو دائے خصوصی مصداق شو چه د هغه زمانے سره لګیدو او روستنو خلکو ته هم پکی اشاره شته، لیکن عموم بهتر دے.
علماء فرمائی: ترڅو چه په دنیا کی قرآن او کعبه موجود وی نو دین به ژوندے وی او که دواړه ختم شو نو دین ختم دے، دا وجه ده چه کفار ددے دواړو د ختمولو ډیر کوشش کوی.
د عطاء بن ابی رباحؒ نه نقل دی :[لَوْ تَرَكُوْهَا عَامًا وَاحِدًا مَا أُمْهِلُوْا]
که خلك کعبه یو کال پریدی (چه بیخی څوك حج یا عمرے ته رانشی) نو خلکو ته به مهلت ورنکړے شی بلکه ټول به هلاك شی.
ددے وجه نه د هغه خلکو خبره غلطه ده چه وائی جهاد شروع دے حجونو ته مهٔ ځئ او دغه مال په جهاد کِی ورکړئ. نهٔ بلکه دواړه کارونو به کولے شی.
وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ : دا خصوصی د عربو سره لګی.
د شهر حرام (عزتمنے میاشتے) نه مراد رجب، ذی القعده، ذی الحجه او محرم څلور میاشتے دی. پدے میاشتو کی به عربو د خپلو دشمنانو نه د بدلے اخستو دپاره قتال نهٔ کولو. ددے میاشتو د حرمت خیال به ئے ساتلو.
او دے میاشتو ته الله تعالیٰ د آسمانونو او د زمکے د پیدائش په وخت عزت ورکړے وو،

بیا د ابراهیم علیه السلام په دین کی ډیرے مشهورے وے نو ځکه به عربو پدے باندے کلك عمل کولو اګرکه مشرکان وو، نو د عربو دپاره پدے کی ډیره فائده وه پدے کی به ئے په غیر د یرے نه سفرونه کول نو د هغوی ژوند پرے ودان وو۔

وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ: او د (هدی) حیوان او قلاده (امیل) اغوستولے شوی اُوښان هم د دوی دپاره الله تعالیٰ د امن ذریعه جوړه کړے وه ځکه چه کوم شخص به د (هدی) عام حیوان یا قلاده اغوستولے شوے اُوښ ځان سره واخستو یا به خپله په خپل څټ کی قلاده اچولو سره حرم طرف ته روانیدو نو هغه به مامون (په امن کی) کیدو، په لاره کی به هیچا هغه ته تعرض نهٔ کولو۔

یا دا چه په هدی او قلائد لیږلو سره په دین باندے عمل کیږی او پدے سره دین محفوظ کیږی او هغه د ژوند سبب دے۔ اول مطلب ئے غوره دے۔

ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوا : ۱- ذلك اشاره ده مخکی (کعبی، شهر حرام، هدی او قلائد) ته او مطلب دا دے چه الله تعالیٰ عربو ته د فائدے رسولو او د هغوی د ضرر او نقصان لرے کولو دپاره دا ټول اسباب تر هغه وخته پورے مهیا کړی وو چه د هغوی څه حکومت نهٔ وو، نهٔ څه نظم او نسق وو، هر شخص او هره قبیله بی واګو وه، نو دا ددے خبرے یقینی دلیل دے چه الله تعالیٰ د آسمان او زمکے تمام شیونه د هغے د واقع کیدو نه مخکی پیژنی او څه چه تر قیامته پورے کیږی هغه هم پیژنی۔ (تیسیر الرحمن)

۲- زجاج وئیلی دی چه (ذلك) کی اشاره ده ټولو احکامو ددے سورت ته، نو پدے کی حکمت بیانوی ددے تحریماتو چه دا الله ددے دپاره مقرر کړل چه ستاسو د الله په علم باندے علم راشی چه الله د زمکے او د آسمانونو په ټولو څیزونو عالِم دے او هغه پدے طریقه چه الله هغه ذات دے چه کائنات ئے پیدا کړل او بیا ئے پدے کی داسے کامل نظام مقرر کړو ځکه چه پدے سره د انسانانو ژوند تیریږی نو الله هغه ذات دے چه د بندګانو په مصلحتونو پوهیږی، او د نظام په چلولو پوهیږی، که دا احکام الله نهٔ وے مقرر کړی نو افراتفری او ګډوډی به وے، نو بنده ته به د الله علم او حکمت نهٔ معلومیدلے، نو الله تعالیٰ ددے نظام داسے ترتیب ورکړو چه بنده پو هه شی چه الله تعالیٰ څومره د لوی علم او قدرت او کمالاتو والا دے۔ او د بنده چه کله د الله په علم باندے علم راشی نو پدے سره د الله تعظیم په زړه کی راځی او پدے سره ایمان مضبوطیږی۔ او حدیث کی دی :

[أَفْضَلُ الْإِيمَانِ أَنْ تَعْلَمَ أَنَّ اللَّهَ مَعَكَ حَيْثُمَا كُنْتَ]

بهترين ايمان دا دے چه ته پدے خبره پو هه شے چه الله تعالیٰ تا سره دے کوم ځای کی چه ته یې. (یعنی په اعتبار د علم او قدرت سره).

[المعجم الاوسط رقم: ٨٧٩٦) مسند الشاميين رقم: (٥٣٥)

اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٨﴾

پو هه شئ چه بیشکه الله تعالیٰ سخت عذاب والا دے او بیشکه الله تعالیٰ بخونکے رحم کونکے دے

تفسير: اوس مخالفت کونکو ته تخويف او تابعداری کونکو ته بشارت بيانوی او د الله دوه صفتونه راوړی چه څوك ددے شرعی نظام مخالفت كوی نو الله به سخته سزا ورکړی او که څوك ئے اطاعت كوی نو الله به ورته بخنه وكړی. او دا وجه د ربط هم ده.

مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا

نشته په رسول (ﷺ) باندے مګر رَسَول دی. او الله تعالیٰ پو هیږی په هغه څه

تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٩٩﴾

چه ښکاره کوئ تاسو او په هغه څه چه پټوئ تاسو.

تفسير: اُوس دا خبره بيانوی چه څوك دا نظام شرعی خرابوی نو رسول الله ﷺ به پدے ګناهګار نهٔ وی بلکه د هغه ذمه واری خو دين بيانول دی، او هغه خپله ذمه فارغه کړه او حجت ئے قائم کړو او هدايت ته راوستل او نيك عمل باندے راوستل د هغه کار نهٔ دے. نو که ددے نه روستو څوك اطاعت نهٔ كوی نو د هغه عذر به نهٔ وی پاتے. د امت کار منل او د نبی کار بيانول دی.

او پدے کی داعی ته لويهٔ تسلی وی چه هرکله چه تا دعوت کولو نو د خلکو خبره منل او نهٔ منل ستا کار نهٔ دے، ستا ذمه فارغه ده.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ : يعنی الله ته ستاسو هر عمل معلوم دے نو سزا او جزا ورکول د الله کار دے، الله به درسره حساب کوی.

قُلْ لَّا يَسْتَوِی الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ؕ

تهٔ ووايه ! نهٔ دی برابر پليت او پاك، اګر که تعجب کی اچوی تا لره ډير والے د پليت،

فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِی الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۰﴾

پس ویریږئ د الله نه اے خالص عقل والو! دے دپاره چه تاسو کامیاب شئ۔

تفسیر : پدے آیت کی یو غرض خو دا دے چه پدے کی الله تعالیٰ فرق په مابین د متناقضینو کی بیانوی چه د الله په قانون کی فرق بین المتماثلین او جمع بین المتناقضین نشته یعنی کوم دوه څیزونه چه یو بل سره یو شان وی، په هغے کی فرق نۀ کوی او کوم دوه څیزونه چه د یو بل مخالف او ضد وی لکه تور او سپین او طیب او خبیث او مؤمن او کافر د هغوی ترمینځ جمع والے نکوی، او دا دلیل دے د هغه په حکمة باندے۔ د آیت عنوان دا دے [اَلتَّرْغِيْبُ فِي الْخَيْرِ وَالتَّحْذِيْرُ عَنِ الشَّرِّ]

پدے کی د خیر ترغیب او د شر نه یره ورکول دی۔ بل پدے کی دا خبره بیانوی چه د عمل لږ والی او ډیر والی ته اعتبار نشته بلکه اعتبار د عمل ښائست لره دے لکه دا په نورو ځایونو کی هم د شریعت قانون دے (اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا)۔

او ددے ضرورت د مخکنو آیتونو د حُجاجو سره هم دے چه څوك حج ته ځی نو هغوی ډیروالے اَهم ګنړی او ښائست لره دومره اعتبار نۀ ورکوی، ډیرے عمرے، ډیر طوافونه او ډیر مونځونه کوی لیکن ښائسته ئے نۀ کوی، په طوافونو کی خلکو له ډغرے ورکوی او جلتی کوی نو دا صحیح طریقه نۀ ده۔ کمال دا دے چه یو طواف وکړه لیکن په ډیره توجه او محبت سره او آرام سره دا د ډیرو طوافونو نه غوره دے۔

اَلْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ : یعنی د الله په نیز خبیث او طیب برابر نۀ دی (فَلَا بُدَّ مِنَ الْجَزَاءِ عَلَيْهِمَا) نو پدے باندے جزاء ورکول ضروری شو، په خبیث بده بدله او په طیب نیکه بدله۔

وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ : یعنی اګرکه تا په تعجب کی اچوی چه فلانو خلکو سره څومره مالونه دی، څومره ګاړی دی، څومره خلك ورسره دی؟ نو که تا په تعجب کی اچوی او خوشحالوی دِے خو بیا هم د الله په نیز دے لره هیڅ اعتبار نشته۔

د خبیث او طیب مصداقات

خبیث او طیب اقوال، اعمال، اشخاص، اموال، حلال او حرام، صحیح او غلط مذاهب او عقیدو ته شامل دے، (نیشاپوریؒ) یو سړی ډیرے خبرے وکړے لیکن خبیثے او بل لږے

وکړے لیکن طیبے، یو سړی ډیر اعمال خبیث او بل لږ عمل طیب وکړو، یو تن سره ډیره نفری ده او بل سره لږ ملګری دی، لیکن طیبین دی نو دا برابر نۀ دی، پدے وجه ډیرو شاګردانو لره اعتبار نشته بلکه ښه او نیکانو لره اعتبار دے، یو تن سره ډیر حرام مالونه او بل سره لږ حلال دی نو دواړه برابر نۀ دی، یو تن په صحیح مذهب روان دے او ډیر کسان په غلطه عقیده او نظریه روان وی نو دواړه برابر نۀ دی، که ډیر والی لره اعتبار ورکړے شی نو بیا خو کفار او مجرمین په صحیح مسلمانانو ډیر زیات دی۔

نو آیت کی مونږ ته دعوت دے چه مؤمنانو لره پکار دی چه د خبیث نه پرهیز اُوکړی او طیب او صالح ته ترجیح ورکړی اګرکه کم وی۔

یٰۤاَیُّهَاالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَسۡـَٔلُوۡا عَنۡ اَشۡیَآءَ اِنۡ تُبۡدَ
اے ایمان والو ! تپوسونه مۀ کوئ په باره د څیزونو کی که ښکاره شی
لَکُمۡ تَسُؤۡکُمۡ ج وَاِنۡ تَسۡـَٔلُوۡا عَنۡهَا
تاسو ته (جواب د هغے) خفه به کړی تاسو او که تپوس کوئ تاسو د هغے په باره کی
حِیۡنَ یُنَزَّلُ الۡقُرۡاٰنُ تُبۡدَلَکُمۡ ط
په هغه وخت چه نازلولے شی قرآن (نو) ښکاره به شی تاسو ته (جواب د هغے)
عَفَا اللّٰهُ عَنۡهَا ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ حَلِیۡمٌ ﴿۱۰۱﴾
معافی کړیده الله تعالیٰ د هغے (تپوسونو) نه، او الله تعالیٰ بخونکے صبرناك دے۔

تفسیر: **مناسبت:** - یَنۡبَغِیۡ اَنۡ یَّسۡأَلَ عَنِ الطَّیِّبِ لَا عَنِ الۡقَبِیۡحِ۔

مسلمان لره پکار دی چه د طیب په باره کی تپوس وکړی نۀ د خبیث په باره کی، په غلطو خبرو که تا سره ډیر علم راشی نو څه فائده ؟

په بل تعبیر: پدے آیت کی ترغیب دے اهم شی اختیارولو ته او د غیر اهم پریخوستو ته۔

عنوان د آیت: ۱- [اَلنَّهۡیُ عَنۡ سُؤَالِ الۡاَشۡیَاءِ الَّتِیۡ لَا نَفۡعَ فِیۡهَا] ۔

یعنی پدے آیت کی د هغه څیزونو د تپوس نه منع شویده چه په هغے کی فائده نۀ وی، ځکه دا په لا یعنی (بی فائدو) خبرو کی مشغوله کیدل دی چه مؤمن به ددے نه ځان ساتی،

او بله دا چه شریعت او نبی ددے دپاره نهٔ دے راغلے چه د هغه نه به بی ځایه تپوسونه کیږی۔

۲- عنوان : اِرْشَادِ الْعِبَادِ اِلٰی تَعْلِيْمِ الدِّيْنِ۔ الله تعالیٰ بندګانو ته دعوت ورکوی چه صحیح دین زده کړئ ځکه چه څوك بی ځایه تپوسونه کوی نو د صحیح دین او د الله د معرفت نه محرومیږی۔ د ابوالدرداء ﷺ نه نقل دی : [اَلْعِلْمُ كَثِيْرٌ وَالْوَقْتُ قَلِيْلٌ فَعَلَيْكَ بِالْاَنْفَعِ فَالْاَنْفَعِ] وخت کم دے او علم ډیر دے نو فائده مند راواخله او غیر فائده مند پریده۔

شان نزول

د آیت شان نزول دوه خبرے دی :

(۱) اول مشهور حدیث چه په صحیحینو وغیره کی راغلے دے، حاصل ئے دا دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ د قیامت په باره کی ملګروته بیان وکړو، او د آخرت هیبت ئے بیان کړو نو په رسول الله ﷺ ډیر اثر وشو او بعض ملګرو باندے دومره اثر ونشو نو هغوی داسے تپوسونه شروع کړل چه دومره فائده مند نهٔ وو نو نبی کریم ﷺ جواب ورکړو ، بیا ئے تپوس وکړو نو بیا ئے جواب ورکړو، نو پدے کی رسول الله ﷺ په غصه شو او منبر ته وختلو چه مانه تپوسونه کوئ قسم په الله زهٔ به جواب درکوم ترڅو چه زهٔ دلته یم، (دا د غصے الفاظ وو) نو پدے کی ډیر مسلمانان پوهه شو او مخونه ئے پټ کړل او ژړل ئے چه مونږ رسول الله ﷺ ته تکلیف ورکړو لیکن بعض ملګری بیا هم متوجه نشو نو پدے کی عبد الله بن حذافه السهمی ﷺ راپاڅیدو او تپوس ئے وکړو :

چه زما پلار څوك دے؟ (ځکه هغه ته به خلکو بد نسبت کولو) نو ورته ئے وفرمایل : (حُذافه) بیا بل تن پاڅیدو: زما پلار څوك دے، وے فرمایل : فلانے۔ بل وویل : زما پلار چرته دے ؟ هغه وفرمایل : په اُور کی دے۔ بل تن وویل : اَيْنَ مَدْخَلِيْ ؟ زهٔ به چرته ځم؟ وے فرمایل : اِلَى النَّارِ ۔ اُور ته به ځے۔ بل وویل : (اَيْنَ نَاقَتِيْ؟ زما اُوښه چرته ده؟) نو پدے کی عمر فاروق راغلو او په ګونډو باندے کیناستو او بار بار ئے دا کلمه وئیله :

[رَضِيْنَا بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا]

مونږ د الله په رب کیدو باندے او د اسلام په دین کیدو او د محمد ﷺ په رسول کیدو باندے راضی یو۔ نو د رسول الله ﷺ غصه ختمه شوه او دا آیتونه نازل شو۔

(صحیح البخاری کتاب الاعتصام بالکتاب و السنة : (۷۲۹٤) (٤٦۲۱) (٤٦۲۲) وصحیح مسلم

كتاب الفضائل : رقم : ۲۳۵۹)

. چه مقصد ئے دا وو چه نبی خو دے له نهٔ دے راغلے چه ستاسو د بی ځایه تپوسونو جوابونه به درکوی او ستا پلار به معلوموی او ستا جنت او جهنم به معلوموی، بلکه هغه خو د عقائدو او د نظریاتو د اصلاح او د شرعی احکامو د بیانولو دپاره راغلے دے۔ او دغه یو شخص ته ئے چه وویل چه ته به اُور ته ځے نو دغه به منافق وو۔

۲- شان نزول :

امام احمدؒ، ترمذیؒ وغیره د علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه او ابن ماجهؒ د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه کله ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾ نازل شو چه په هغے کی الله تعالیٰ د حج د فرضیت اعلان کړیدے، نو بعض خلقو (اقرع بن حابس رضی الله عنه) تپوس اُوکړو چه اے د الله رسوله ! [أَفِي كُلِّ عَامٍ] آیا دا حکم د هر کال دپاره دے؟ نو نبی صلی الله علیه وسلم غلے شو، دے خلقو دوباره تپوس اُوکړو، چه آیا دا حکم د هر کال دپاره دے ؟ نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : [لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ] نهٔ، لیکن که ما وئیلی وے آؤ، نو دا حکم به د هر کال دپاره واجب شوے وے او کله چه واجب شوے وے نو تاسو به پدے باندے عمل نهٔ وے کړے نو بیا به عذاب درکړے شوے وے۔ (صحیح ابن ماجه : ۲۸۷٦)۔

او دا ئے هم فرمایلی دی : [ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ] ما پریدئ چه تر څو ما تاسو پریښی یئ (یعنی زهٔ د بیان دپاره راغلے یم، هرکله چه زهٔ بیان نکوم نو تاسو تپوسونه مهٔ کوئ) ځکه چه پخوانی خلك د ډیرو تپوسونو او د انبیاؤ سره د اختلاف کولو په وجه هلاك شویدی۔ دے نه روستو دا آیت نازل شو۔

نو ددے نه معلومه شوه چه فرضی مسائل جوړول نهٔ دی پکار، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمایلی دی : تاسو فرضی مسائل مهٔ جوړوئ بلکه په کومه زمانه کی چه یوه مسئله واقع شی نو په هغه زمانه کی الله تعالیٰ علماؤ ته د هغے د جواب توفیق ورکوی آه،

په هره زمانه کی علماء شته چه د مسائلو حل کولے شی [لَاتَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ] (صحیحین)

او دا په بندګانو باندے حجت وی لکه سیوطیؒ پدے باندے کتاب لیکلے دے۔

او امام شاطبیؒ د بی فائدے څیزونو په باره کی د تپوس کولو ډیر ضررونه او د منع ډیر وجوه لیکلی دی هغے ته رجوع پکار ده (الموافقات ۱/ ٥٤ المقدمة الخامسة)

۳- د سعید بن جبیرؒ نه نقل دی چه ځینی خلکو د بحیرے او سائبے په باره کی تپوس کړے وو نو دا آیت نازل شو لیکن مخکی شان نزولونه صحیح دی او دا خبره ضعیفه ده۔
نو پدے آیت کریمه کی الله تعالیٰ خپلو مؤمنانو بندګانو ته د الله او د هغه د رسول سره د یو تشریعی ادب تعلیم ورکړیدے او هغوی ئے د داسے سوالاتو نه منع کړیدی چه په هغے کی په ظاهره کی هیڅ فائده نۀ وی، او خامخا د تلاش نه ئے منع کړیدی، ځکه چه ډیر کرته دداسے غیر ضروری سوالاتو په جواب کی داسے خبرے اوریدل مخے ته راځی چه په هغے سره انسان ته تکلیف رسیږی۔
تَسُؤْكُمْ : یعنی خپه به مو کړی لکه تا ته وویل شے چه تۀ به جهنم ته ځے نو تولو خلکو کی به وشرمیږے، او د عبد الله بن حذافه ﷺ مور خپل ځوی ته په غصه شوه چه ما نه په جاهلیت کی بدکاری شوے وے، او تا ته رسول الله ﷺ وئیلی وے چه ته د حذافه ځوی نۀ ئے نو تا به زۀ همیشه دپاره شرمولے وے۔
فائده : امام شاطبیؒ په الموافقات کی لیکلی دی چه لس قسمه تپوسونه کول ناروا دی ۱- سوال د هغه شی چه دین او دنیا کی فائده نۀ درکوی لکه یو تن داسے ووائی چه عیسیٰ ﷺ بره په آسمان کی روټئ خوری او که نۀ؟ نو دا تپوس به الله ته سپارے۔ یا تپوس د عبد الله بن حذافه ﷺ چه زما پلار څوك دے؟۔
۲- هغه سوالونه چه تعنت پکی وی یعنی د عالِم بندول ئے مقصد وی، نۀ د پوهیدو دپاره۔ ۳- اغلوطات۔ هغه مسائل چه علماء پکی خطاء کولے شی۔ (او جواب ئے نۀ وی)
٤- سُؤَالُ الْاَشْيَاءِ الْوَاضِحَة ۔ سوال د هغه شیانو چه د هغے پوره بیان شوے وی، واضح وی نو تپوس ته ضرورت نشته لکه د حج په باره کی دا تپوس (أَفِيْ كُلِّ عَامٍ) آیا دا به هر کال وی؟۔
٥- سوال د هغه شی چه په هغه وخت کی ئے ضرورت نۀ وی (فرضی مسائل وی)۔
٦- د احکام شرعیه ؤ د علتونو تپوس کول چه شرع کی هغه ذکر نۀ وی۔ لکه حائضه زنانه د مانځه قضاء ولے نۀ راوړی؟۔
۷- سوال د هغه څیزونو چه تکلف پیدا کوی لکه عمرو بن العاص ﷺ د حوض مالك ته وویل چه آیا ستا حوض ته دردندګان راځی؟ نو عمر فاروق ﷺ وویل : دا خبر مونږ ته مۀ راکوه دا متکلف دے۔
۸- سوال په معارضه د کتاب او سنت کی په خپله رایه سره۔

۹- سوال د متشابهاتو نه۔ ﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ﴾ د امام مالكؒ نه د الله د استواء د کیفیت په باره کی تپوس وشو نو هغه باندے خولے راغلے او بیا ئے جواب ورکړو چه استواء معلومه ده او سوال ددے نه بدعت دے۔

۱۰-د صحابه کرامؓ د مشاجراتو (اختلافاتو او جګړو) په باره کی تپوسونه کول۔ دا تول په (لَا تَسْئَلُوْا) کی داخل دی مګر بعض به د بعضو نه سخت وی او بعض به محل د اجتهاد وی۔

علامه قاسمیؒ لیکی : ۱- ددے مثال دا هم دے چه تفریعات په داسے مسائلو باندے کول چه په هغے باندے د کتاب او سنت او اجماع نه دلیل نۀ وی او د هغے وجود هم نادر وی او په هغے باندے بی ضرورته وخت ضائع کوی،

۲- او ددے نه زیات سخت د هغه غیبی امورو په باره کی تپوس کول دی چه شریعت په هغے باندے اجمالی ایمان لازم کړیدے لکه د عذاب قبر یا د الله تعالیٰ اسماء او صفات واخله چه ددے ډیر کیفیات ئے نۀ دی بیان کړی۔

۳- وَمِنْهَا مَا لَايَكُوْنُ لَهٗ شَاهِدٌ فِيْ عَالَمِ الْحِسِّ،

او بعض هغه دی چه هغه په سترګو نۀ ښکاره کیږی او د هغے څه مثال نۀ وی لکه د قیامت د وخت په باره کی سوال کول یا د روح یا ددے امت د مودے په باره کی سوال کول۔ او دغه شان نور څیزونه چه هغه صرف په نقل معلومیږی۔

٤- او ددے نه هم سخت سوال هغه دے چه د هغے نه ډیر تالاش انسان په شك او حیرانتیا کی اچوی، لکه د تقدیر په باره کی ډیر تپوسونه کول۔

(محاسن التاویل للقاسمی وفتح الباری وتفسیر المنار۷/۱۲٦)

اشکال وجواب

وَاِنْ تَسْئَلُوْا عَنْهَا حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ : پدے جمله کی اشکال راځی چه مخکی وائی تپوسونه مۀ کوئ او دلته وائی که سوال کوئ نو ښکاره کولے به شی درته۔

نو ددے څو مصداقه دی (۱) دلته الله تعالیٰ مطلقاً د تپوسونو نه منع نۀ ده کړے بلکه ﴿اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ قید ئے لګولے دے یعنی چه د هغے ښکاره کیدل بدی ده د هغے تپوس مۀ کوئ، او که یو شی ته ضرورت وی لکه د مانځه، اوداسه، د عقیدے وغیره تپوسونه نو هغه منع نۀ دی لکه صحابه کرامؓ به داسے قسم ډیر تپوسونه کول او دا د دین

د زده کولو ذریعه ده.

نو دلته به (عَنۡهَا) ضمیر راجع وی نورو څیزونو ته لکه دا د علم بلاغت قانون دے چه صنعت استخدام کولے شی یو شے مخکی ذکر شی نو په ظاهری لفظ سره ترے یو مراد کړے شی او په ارجاع د ضمیر سره ترے بل شے مراد شی. لکه ﴿وَأَوۡرَثۡنَاهَا بَنِیٓ إِسۡرَٰٓءِیلَ﴾ کی نورو باغونو ته ضمیر راجع دے نۀ د مصر. دارنګه ﴿إِنِ امۡرُؤٌ هَلَكَ....وَهُوَ یَرِثُهَآ﴾ النساء: ۱۷٦)

نو دلته به معنیٰ دا وی چه که تاسو تپوسونه د فائده منو څیزونو په باره کی کوئ کله چه قرآن کریم نازلولے شی نو هغه به تاسو ته ښکاره کولے شی نو پدے کی ترغیب دے صحیح تپوسونو ته.

۲- او حافظ ابن القیم رحمه الله ددے مطلب داسے بیان کړیدے چه که د قرآن یو آیت د نازلیدو نه روستو ستاسو په ذهنونو کی د هغے متعلق کوم سوال راځی نو زما رسول (ﷺ) به د هغے جواب درکوی، او د آیت تشریح به کوی. نو پدے سره هم دغه سوال زائل کیږی چه د مطلق سوال نه منع کړے شوے وه. (القاسمی)

یعنی که تاسو د هغه څیزونو په باره کی تپوس کوئ کوم چه په قرآن کریم کی اجمالاً نازل شوی وی او تاسو د هغے بیان طلب کول غواړئ نو تاسو ته به هغه ښکاره کولے شی ځکه چه په دغه وخت کی تاسو د هغے بیان ته محتاج یئ نو پدے کی به (حِینَ) ظرف وی د (تَسۡـَٔلُوا) دپاره. (القاسمیؒ)

۳- تفسیر: د تپوس دوه وختونه دی یو د وحی د نزول زمانه ده او بل د هغے نه روستو. نو معنیٰ به دا وی ﴿وَإِن تَسۡـَٔلُوا عَنۡهَا﴾ که تاسو د دغه څیزونو په باره کی تپوسونه کوئ کله چه قرآن نازلیږی، نو هغه به درته ښکاره کولے شی خو بیا به مو خفه کوی. او که رسول الله ﷺ وفات شو او د یو عالِم نه څوك د دغه بی فائدو څیزونو په باره کی تپوس وکړی نو ددے دومره ضرر نشته ځکه چه هغه په وحی سره خبره نۀ کوی، هغه ته الله تعالیٰ د چا جهنمی یا جنتی کیدل د وحی په ذریعه سره نۀ ښائی. لیکن خامخا سوالات کول په اسلام کی ښه خبره نۀ ده منلے شوے.

په یو حدیث کی دی [مِنۡ حُسۡنِ إِسۡلَامِ الۡمَرۡءِ تَرۡكُهٗ مَا لَایَعۡنِیۡهِ] چه د سړی د اسلام د ښه کیدو نخه دا ده چه هغه غیر ضروری خبرو نه پرهیز اُوکړی). (ترمذی، ابن ماجه وسنده صحیح). لیکن اول تفسیر ظاهر دے. ځکه چه دویم تفسیر کی مطلب دا جوړیږی چه د

عالم نه بلا ضرورته تپوس جائز دے او حال دا چه خبره خو داسے نۀ ده۔
٤- د ابن عباسؓ نه داسے تفسير نقل دے : تاسو تپوسونه مۀ کوئ د څيزونو په باره کی څکه که قرآن کريم د هغے په باره کی سختی راوليږی نو تاسو به هغه خفه کړی ليکن انتظار کوئ که چرته قرآن نازليږی او ستاسو د يو شی تپوس ته ضرورت وی نو تاسو چه د څه په باره کی تپوس کوئ نو د هغے بيان به خامخا مونده کوئ۔ (قاسمیؒ)
حافظ ابن حجرؒ په فتح البارى کی وائی : حاصل دا دے چه دا آيت نازل شويدے په سبب د ډيرو تپوسونو يا په طريقه استهزاء يا امتحان سره او يا په طريقه د تعنت سره چه که د دغه شی په باره کی تپوس ونکړے شی نو هغه به په اباحت باندے پاتے وی۔ (يعنی تعنتی سوالونه مۀ کوئ چه په ځان باندے سختی رانۀ ولئ)۔ قاسمیؒ)
عَفَا اللّٰهُ عَنۡهَا ١- يعنی په تيره شوے زمانه کی چه څه شويدی هغه الله معاف کړيدی، آينده داسے کار نۀ دے پکار۔ پدے کی اشاره ده چه دغسے تپوسونه گناه ده۔
٢- ددے دويم مطلب دا هم بيان شويدے چه دا جمله صفت د هغه (اشياء) ده يعنی الله تعالىٰ چه په قرآن کريم کی څه نۀ دی بيان کړی، (سکوت ئے ترے کړيدے ددے دپاره چه په تاسو تکليف رانشی او تاسو باندے آسانی راولی) نو د هغے په باره کی تپوسونه مۀ کوئ، هغه الله معاف کړيدی، که الله غوختلے نو د هغے بيانولو سره به ئے په تاسو واجب کړی وے۔ دلته به (عَفَا) په معنىٰ د (سَكَتَ) سره وی۔ (قاسمیؒ) دا بعيد تفسير دے۔
په صحيحينو کی د سعد بن ابی وقاص ﷛ نه روايت شويدے
[اِنَّ أَعۡظَمَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ جُرۡمًا مَنۡ سَأَلَ عَنۡ شَیۡءٍ لَمۡ يُحَرَّمۡ فَحَرِّمَ مِنۡ أَجۡلِ مَسۡئَلَتِهٖ]
چه په مسلمانانو کی د ټولو نه لوئی مجرم هغه دے چه هغه د يو داسے شی په باره کی تپوس اُوکړی چه هغه د مخکی نه حرام نۀ وو او ددهٔ د سوال کولو په وجه حرام کړے شی۔
(صحيح بخاری : ٧٢٨٩)
يو بل حديث په صحيحينو کی د ابو هريره ﷛ نه روايت شويدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [دَعُوۡنِیۡ مَا تَرَكۡتُكُمۡ، اِنَّمَا أَهۡلَكَ مَنۡ كَانَ قَبۡلَكُمۡ كَثۡرَةُ سُؤَالِهِمۡ وَاخۡتِلَافُهُمۡ عَلٰی أَنۡبِيَائِهِمۡ] ترڅو چه ما تاسو پريښی يئ نو تاسو ما هم پريدئ، څکه چه ستاسو نه مخکنی خلق د هغوی ډيرو تپوسونو او د انبياؤ مخالفت هلاك کړی وو)۔ (صحيح بخاری : ٧٢٨٨)
غَفُوۡرٌ حَلِيۡمٌ : الله بخنه کونکے دے پدے وجه ئے تاسو ته معافی وکړه او په تير شوی عملونو ئے راگير نۀ کړئ۔

﴿قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ اَصْبَحُوْا بِهَا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾

يقيناً تپوس کړے وو داسے څيزونو يو قوم مخکې ستاسو نه بيا وګرځيدل په هغے باندے کافران۔

تفسير : دا اُوس مثال راوړی د پخوانو خلکو چه هغوی د بعض څيزونو په باره کې تپوسونه وکړل، کله چه هغه قبول شو نو بيا ئے ترے انکار وکړو ځکه چه د هغوی تپوسونه تعنتي او ضدی وو او د هدايت په نيت نهٔ وو. (ابن کثيرؒ)

لکه ددے مثال به روستو په مائده سره راوړی چه بني اسرائيلو مائده وغوښته کله چه هغه راغله نو بيا ئے پکې ناشکرى شروع کړه نو خنزيران ترے جوړ شو. يا د صالح عليه السلام قوم د هغه نه د کاڼړی نه د ناقے (اُوښے) راويستلو مطالبه وکړه کله چه هغه الله راويستله نو بيا ئے ذبح کړه، نو الله پرے عذاب راوستو، او بني اسرائيلو د جهاد سوال کړے وو ﴿اِبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ کله چه فرض شو نو واوړيدل، او ددے په پخوانو اقوامو کې ډير مثالونه دی. نو الله فرمائي چه تاسو هم د دغه شان څيزونو په باره کې تپوسونه مهٔ کوئ،

او دا د اَقرع بن حابس ؓ د تپوس سره ډير ښه لګي چه تاسو د حج د هر کال تپوس کوئ که الله ووائي چه هر کال فرض، نو بيا به ئے نشئ کولے، په تکليف کې به پريوځئ او به امت کې به ترے ډير خلك انکار وکړی. نو د الله رسول په خپل حال پريدئ.

رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته درے ورځے تراويح وکړے بيا راونهٔ وتلو ځکه چه د صحابه کرامو ډير شوق وو، رسول الله ﷺ ويريدو چه چرته فرض نشي.

سَاَلَهَا : کې ضمير دغه اشياء ته راجع دے او مراد ترے نه د هغے مثل دے، يعني لکه څنګه چه د هغوی تپوسونه ممنوع وو او وبال ثابتونکي وو نو ستاسو تپوسونه هم دغه شان دی. او په مثل باندے ئے تصريح ونکړه پدے کې مبالغه ده په تحذير (يره ورکولو) کې. (قاسمیؒ)

اَصْبَحُوْا بِهَا : يعني د هغے په سبب، ځکه چه د کوم څيز جواب به ورکړے شو نو هغے باندے به ئے عمل نکولو، لکه بني اسرائيلو به د خپلو انبياؤ نه د څه څيزونو په باره کې تپوسونه وکړل نو کله چه به هغوی ته په هغے باندے حکم وشو نو هغوی به پريخودل نو د هغے په وجه هلاك شول نو معنیٰ دا چه تاسو د هغوی مشابهت مهٔ کوئ. (قاسمیؒ)

مَاجَعَلَ اللّٰهُ مِنۢ بَحِيۡرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ
نۀ دے مقرر کړے الله تعالیٰ غوږ پریکړے شوے حیوان او نۀ آزاده پریخودلے شوے
وَّلَا وَصِيۡلَةٍ وَّلَا حَامٍ ۙ وَّلٰكِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا
او نۀ پیوسته کړے شوے او نۀ ملا ساتونکے لیکن هغه کسان چه کافران دی
يَفۡتَرُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ ؕ وَاَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۰۲﴾
جوړوی په الله تعالیٰ باندے دروغ، او ډیر د دوی عقل نۀ لری.

تفسیر : دا بیان د نذرونو او تحریماتو د غیر الله دے چه یو تن راولګی د غیر الله په نوم نذر او منښته وکړی او هغه حرام وګرځوی نو هغه بیانوی بیا پرے رد کوی.

ربط او مناسبت :

په تیر شوی آیتونو کی الله تعالیٰ د حلال او پاك څیزونو د حراملو نه منع اُوکړه او حکم ئے اُوکړو چه الله چه کوم حلال او پاکه روزی درکړیده نو هغه خورئ، دے نه روستو د خوراك څکاك د څیزونو د اُوچے، او دریابی ښکار، د هدی حیوان او د قلادے اغوستولے شوی هغه اُوښانو ذکر اُوشو چه د الله په نوم باندے حرم طرف ته لیږلے کیږی.

او په حدودو د حرم کی هغه د الله د رضا دپاره ذبح کیږی.

پدے مناسبت سره اُوس هغه حیوانات ذکر کیږی چه هغه عربو د الله په ځای د بتانو په نوم پریخودی وو او د هغے خوراك ئے ځان دپاره حرام ګرځولے وو.

په عربو کی دوه قسمه شرکونه موجود وو (۱) شرك فی الالوهیة. د الله سره په عبادت کی برخه داران جوړول، مخلوق ته عاجزی، سجدے لګول او په هغوی کی کمالات ګڼړل.

(۲) شرك فی التحلیل والتحریم. د ځان نه حلال حرام جوړول، او د خپلو معبودانو د نزدیکت دپاره ئے ډیر څیزونه د ځان نه حرام کړی وو لکه بچی به ئے نذر کول او د هغوی دپاره به ئے وژل.

حلال حیوانات ئے په ځان باندے منع کړی وو ځکه چه شرك یو داسے مصیبت دے چه په انسان باندے ډیره سختنه راولی چه هغه سختنه په اسلام کی نشته،

بحیره او سائبه د ځان نه اول عربو ته عمرو بن لُحی الخزاعی راوړے وے،

په صحیحینو کې د ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اُوفرمایل :
رَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرِ بْنِ لُحَيِّ الْخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ، كَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ]
((ما عمرو بن عامر خزاعی اُولیدو چه هغه په جهنم کې خپلے کولمے راخکلے، ځکه چه دا اولنے هغه شخص وو چه بحیره او سائبه حیوانات ئے پریخی وو، او د اسماعیل ﷺ دین ئے بدل کړے وو))۔ (بخاري: ٤٦٢٢) مسلم (٢١٢٩)

په مسند احمدؒ کې د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : ((ابو خزاعه عمرو بن عامر اولنے هغه شخص وو چه هغه بحیره او سائبه حیوانات پریخی وو، او ما هغه اُولیدو چه په جهنم کې ئے خپلے کولمے راخکلے))۔ (احمد : ٤٢٥٨ مسند ابن مسعود ورقم : ٧٦٩٦ مسند ابی هریرة)

دا د رسول الله ﷺ نه مخکې د جاهلیت په دور کې تیر شویدے، او دا د خلکو مشر وو او هغوی کې بزرګ وو او دے شام ته تلے وو هلته ئے عَمَالقه قوم ولیدو چه د بتانو عبادت ئے کولو، دا څه کوئ ؟ هغوی وویل : ددے په وجه بارانونه کیږی او برکات نازلیږی، نو دهٔ ورته وویل : ما له هم یو بت راکړئ، نو دهٔ هغه راوړو او عرب ئے بت پرست جوړ کړل،

او بیا ئے ددے بتانو په نوم باندے دغه حیوانات هم حرام کړل، حال دا چه د ابراهیم ﷺ په دین کې دا څیزونه جائز وو۔ بیا شیطان پکې ژاله واچوله نو ددے په باره کې ئے په عربو باندے ښے لوبی وکړے۔

او دلته الله تعالیٰ د څلورو څیزونو نومونه اخستی دی مګر دا قسم شرکونه په دنیا کې په مختلفو نومونو او مختلفو طریقو باندے موجود دی، خوراکونه، لباسونه، حیوانات، غوړی، ماسته شومله ئے د ځان نه حرام کړی او نذر کړیدی لکه مشرکان د قبرونو او د اولیاؤ د مزاراتو دپاره غواګانے میخے نذر کوی او هغے ته هیڅوك ضرر نشي ورکولے لکه د پاکستان په اسلام آباد کې د ((بری امام)) په خوا کې حیواناتو ته وګورئ چه په سړکونو ګرځی څوك ورته هارن هم نهٔ وهی، ددے نه خطره محسوس کوی،

زمونږ دا امت هم د ټولو شرکیاتو نه تیریږی، په هر قوم کې داسے شرکی کارونه شته چه جاهلیت والو ته به سلام وکړی۔

مَاجَعَلَ اللّٰهُ : دلته جعل تشریعی مراد دے أَيْ مَا شَرَعَهُ اللّٰهُ ـ یعنی دا څیزونه الله تعالیٰ مشروع (مقرر) کړی نهٔ دی، یعنی د الله په دین کې ددے حرمت نشته بلکه دا جائز حیوانات دی او خلکو په ځان باندے حرام کړیدی نو ددے حرامول غلط دی مګر که چا دا

نـذر د غیـر الله جـوړ کـړل نو بیا به ئے مسلمان نهٔ خوری، البته که څوك د جهاد په طریقه دا ونیسـی نـو بیـا غنیمت طریقے سره خوړل ئے حلال دی۔ یا دا چه چا بحیره، سائبه د ځان نه حرام کـړے او د بـابا یا بت دپاره ئے نذر کړے نو که هغه توبه ویستله بیرته به دا حیوانات حلال شی۔ ددے دوه شرطونو نه علاوه ددے استعمال جائز نهٔ دے۔

((بحیره)) لغت کی مَشْقُوْقَةُ الْاُذُن۔ غوږ پریکړے شوے حیوان ته وئیلے شی۔

۱- دا هـغه اُوښے ته وئیلے شی چه هغے پنځه ځله بچے راوړے وی او آخری ځل ئے نر بچے راوړے وی نو د هغے غوږ به ئے پریکړو او آزاده به ئے کړه، نهٔ به په هغے باندے سوریدل او نهٔ به ئے ذبح کوله، او نهٔ به ئے هغه حامله کیدو ته ورکوله او هغه به ئے د اُوبو د ځای او چراګاه نه نـهٔ بـنـدولـه او کـه یـو مانده ستړی، ے سورلئ انسان به هم هغه لیدله نو په هغے به نهٔ سوریدلو۔ ۲- یا بحیره بنت السائبه ده لکه روستو تعریف کی معلومیږی۔

((سائبه)) په لغت کی آزاده پریخودلے شوے ته وئیلے شی۔ ۱- کومے اُوښے چه به لس ځله بـڅـه بـچے اُوزیږولـو او پـه هـغـے کی به نر بچے نهٔ وو نو هغه به ئے پریخودله نهٔ به په هغے بـانـدے سوریدل او نهٔ به ئے د هغے ویښته پریکول، او نهٔ به د کومے ګیاه نه منع کولے شوه او نـهٔ بـه ئے سـوئ د هـغـے د بچی او میلمه نه او منجورانو نه چا ددے پئ څکل، دا به ئے ډیره مبارکـه ګـنـړلـه۔ او ددے نـه روستو به دے چه کوم بچے راوړو نو هغے ته به ئے بحیره وئیله غـوږ بـه ئے ورله پریکړو او هغه به ئے د خپلے مور سره یو ځای پریخودو او هیچا به ورته څه نـهٔ وئیـل او صـرف مـنـجـورانـو بـه ترے فائده اخستله۔ نو بناء پدے تفسیر باندے بحیره د سائبے لور ده۔

۲-ددے یـوه بـلـه مـعـنـیٰ هـم بیـان شویده چه دا به ئے هغه اُوښے ته وئیله چه هغه به په زمـانـه د جاهلیت کی د نذرانے په توګه یا د بتانو په نوم باندے پریخودلے شوه، نهٔ به په هغے بـانـدے سـوریدل او نهٔ به ئے د هغے نه د بار وړلو کار اخستو۔ یعنی داسے نذر به ئے کولو که زمـا مـریض ته شفا ملاؤ شوه نو زهٔ د فلانی بت په نوم یو حیوان سائبه کوم، نو کله چه به مـریـض تـه شـفـاء ملاو شوه نو دوی به حیوان سائبه کړو او هغه به ئے سَدَنَه (منجورانو) ته ورکـړو چه د هغوی څه خوښه وه هغه به ئے پرے کول۔ او که چا به هغے ته څه تعرض وکړو نو هغه ته به ئے دنیا کی سزا ورکوله۔ (قاله ابوروقؒ- والسدیؒ، ذکره ابن کثیرؒ)

۳- یوه دریمه معنیٰ دا هم بیان شویده چه کله به یو تن د لرے سفر نه راتلو یا به یو بیمار روغ شـو یـا بـه د هغے چارپایه د یو مشکل یا جنګ نه بچ کیدو نو وئیل به ئے چه زما اُوښه

آزاده ده.

((وصیله)) د وَصْل نه ده يو ځاى والى ته وائى، يعنى يو ځاى كړے شوے حيوان.

۱- دا به ئے هغه چيلئ يا ګډے ته وئيله چه شپږ ځله به ئے دوه ښځه بچى راوړل او اُووم ځل به ئے يوه ښځه او يو نر بچے راوړو نو خلقو به وئيل چه ښځے خپل ورور يو ځاى كړو پدے وجه نر به ئے د خپلو معبودانو دپاره ذبح كولو.

۲- محمد بن اسحاقؒ وائى: وصيله په ګډو بزو كى دا وه چه كله به يوے ګډے لس ښځے ګډے په پنځه خيټو كى غبرګونى وزيږولے، نو هغے ته به ئے وصيله وئيله او هغه به ئے پريخودله، نو كه ددے لسو نه روستو به ئے نر يا ماده وزيږوله نو هغه به صرف سړو خوړله او ښځو باندے حرامه وه او كه مرداره به شوه نو بيا به پكى ټول شريك وو. (ابن كثيرؒ)

((حام)) د حمايت نه دے، ساتنے او حفاظت ته وائى، يعنى هغه اُوښ چه خپله شا ئے بچه ساتلے ده. ۱- دا به ئے هغه اُوښ ته وئيلو، چه د هغه په ښځه اُوښه باندے به د ختلو تعداد مقرر كيدو، دے نه روستو د هغه په بدن باندے به ئے د شترمرغ وزر تړلو او هغه به ئے د بتانو دپاره پريخودلو.

۲- د بعضو په نيز ((حام)) [كَانَ الرَّجُلُ اِذَا لَقِحَ فَحْلُهُ عَشْرًا، قِيلَ حَامٌ، فَتَرَكُوهُ]
(ابن عباسؓ- ابن كثيرؒ)

هغه اُوښ ته وئيلے كيږى چه د هغه د شا نه لس ځله اُوښے بچى راوړى وى، بيا به ئے هغه پريخودلو.

ددے څلورو قسمه حيواناتو په تشريح كى نور هم ډير اقوال راغلى دى. ليكن د هغوى ترمينځ هيڅ منافات نشته، ځكه چه د جاهليت والو ګمراهيانے قسماقسم وے چه هغه الله نۀ وے مشروع كړے بلكه مشركانو د خپلو طرفونو نه ايجاد كړے وے. (تفصيل دپاره زاد المسير ۲/۲۷٤)، القرطبى، ابن كثير، الرحيق المختوم، سيرة ابن هشام ته رجوع پكار ده).

كَفَرُوا يَفْتَرُونَ : يعنى دا څيزونه الله تعالىٰ نۀ مشروع كړى او نۀ د هغه په نيز د قربت او ثواب ذريعه ده بلكه دا مشركانو د خپل ځان نه دروغ جوړ كړيدى او دا ئے خپلو ځانونو دپاره شريعت جوړ كړيدے ددے په ذريعه الله ته ځان نزدے كول غواړى ليكن دا ورته هيڅرے نۀ حاصليږى بلكه پدے باندے به رانيولے كيږى. (المنار)

وَاَكْثَرُهُمْ : د (الذين يفترون) نه مراد اَلسَّادَةُ وَالْكُبَرَاءُ (سرداران او مشران) دى او د

(وَاکثرُهم) نه د هغوی تابعدار مراد دی. نودا اشکال نهٔ کیږی چه لږ پکی عقلمند دی او اکثر بی عقله دی حال دا چه مشرکان خو ټول بی عقله دی،
نو دلته دا اشکال ختم شو ځکه چه دغه کمے مشران دی او اکثر چه کشران دی هغوی بی عقله دی پدے نهٔ پو هیږی چه دا خو افتراء (د ځان نه جوړه شوے طریقه) ده.
(التسهیل وزاد المسیر عن الشعبیؒ)
۲- لَا یَعْقِلُوْنَ : أَنَّ هٰذَا التَّحْرِیْمَ مِنَ الشَّیْطَانِ. (قتادة- زاد)
اکثر د دوی دا عقل نکوی (فکر نکوی) چه دا تحریم د شیطان د طرفنه دے.

وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰی مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ
او کله چه وویلے شی دوی ته راشئ هغه څه ته چه نازل کړیدے الله تعالیٰ
وَاِلَی الرَّسُوْلِ قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَیْهِ
او رسول ته، وائی دوی کافی ده مونږ لره هغه لارچه موندلی دی مونږ په هغے
اٰبَآءَ نَا ط اَوَلَوْ کَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ شَیْئًا
پلاران خپل، آیا اګرکه وو پلاران د دوی چه نهٔ پو هیدل په هیڅ شی
وَّلَا یَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۴﴾
او نهٔ لاره موندونکی وو. (بیائے هم دوی تابعداری کوی).

تفسیر : نو اُوس د قرآن او د حدیث په مقابله کی د مشرکانو دلیل چه هغه د پلار نیکه رنده تابعداری ده. (یعنی تقلید)
د مشرکانو څلور دلیلونه مونږ په سورة البقره کی ویلی وو چه اتباع الآباء، اتباع الظن، اتباع الخرص او اتباع الاکثریة دی.
یعنی کوم مشرکان چه په مختلفو شرکی اعمالو کی اخته وو، هغوی ته به چهٔ کله وئیلے شو چه تاسو د خپلو پلارانو نیکونو تقلید پریدئ کومو چه د الله په باره کی دروغ جوړ کړی وو، او الله او د هغه رسول چه څه وائی په هغے عمل اُوکړئ نو دوی فوراً وائی چه مونږ خو د خپلو پلارانو نیکونو تقلید کوو. الله تعالیٰ ددے جواب ورکړو چه آیا پلاران نیکونه د تقلید د دوی دپاره کافی کیږی اګرکه د دوی پلارانو نیکونو حق نهٔ پیژندلو.

اولـوکان : دے ته بيان الواقع وائی او ددے مفهوم نۀ وی مراد چه که د چا پلار پو هيږی نو خير دے د هغه پسے به د قرآن او حديث په خلاف روانيدل جائز وی، نۀ بلکه علی کل حال د هغه پسے ورتلل حرام دی، خو قيد واقعی د زيات قباحت دپاره بيانيږی چه د دوی پلاران نيکونه د دين په هيڅ شی نۀ پو هيدل او دوی وريسے ورروانيږی نو دا ډيره لويه بی وقوفی ده، دوی د هغوی نه هم ډير گمراه او لوی جاهلان دی۔ (ابن کثیرؒ)

وَّلَا يَهْتَدُوْنَ : اَیْ اِلَی الْحَقِّ۔ يعنی حق ته نۀ وو رسيدونکی۔

فائده: که څوك د يو عالِم پسے ورځی او د کتاب او سنت په خلاف د هغه تقليد کوی هغه هم پدے آيت کی داخليږی ځکه چه هغه هم پدغه خاص مسئله کی لا يعلمون او لا يهتدون الی الحق دے، په دغه مسئله نۀ دے پو هه شوے او حق ته نۀ دے رسيدلے۔

او که د هغه خبره د قرآن او سنت موافق وه نو بيا خو تۀ د عالِم پسے روان نۀ يی بلکه تۀ د دليل پسے روان شوے، عالِم ستا دپاره صرف رهنمائی وکړله او دا هغه خبره ده چه د ډيرو مقلدينو دماغ پرے نۀ کولاويږی۔ (والله يهدی من يشاء الی صراط مستقيم)۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ، لَا يَضُرُّكُمْ
اے ايمان والو ! لازم ده په تاسو ذمه واری د ځانونو ستاسو ضرر نۀ درکوی تاسو ته
مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ط اِلَى اللهِ
هغه څوك چه گمراه شی کله چه هدايت ومونډلو تاسو خاص الله تعالىٰ ته
مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾
واپس کيدل دی ستاسو ټولو نو خبر به درکړی تاسو ته په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔

تفسير : ۱- مقصد پدے آيت کی اَلْاَمْرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنهی عن المنکر يا اَلْاَمْرُ بِالدَّعْوَةِ اِلَى اللهِ دے يعنی پدے کی حکم کوی چه الله طرفته دعوت وکړئ۔

۲- په آيت کی امر دے په حِفْظُ النُّفُوْسِ بِدِيْنِ اللهِ بـانـدے چـه د الله پـه ديـن باندے خپل نفسونه محفوظ وساتئ۔

ربط او مناسبت

(۱) قرطبیؒ د جابر بن زيدؒ نه نقل کړيدی چه هرکله به يو کس اسلام راوړو نو کافرانو به

ورتـه ويـل چه تا خپل مشران كم عقل او گمراه وگڼړل ځكه كه زمونږ مشران بى علمه بى هدايتـه وو نـو ستـا مشران هم دغسے تير شويدى، نو پدے آيت كى ددے جواب ذكر كوى چـه د پـلار او نيكـه په غلطه لاره تلل بچى لره هيڅ ضرر نۀ دے كله چه بچے په هدايت او صحيح لاره روان وى۔

(۲)- مـخـكـى ړونـد تقليد او د هلاكونكى بدعت خطره بيان شوه نو اُوس ايمان والو ته نـصيـحـت اُوكـړے شو چه دوى د قرآن او د سنت په اتباع سره د خپل ځان د اصلاح په فكر كـى شـى، او دوى تـه اطمينان هم وركړے شو چه انسان كه د هدايت په لاره روان شى او امر بـالـمـعروف او نهى عن المنكر فريضه د خپل وسع مطابق ادا كوى، نو د بل چا د گمراهئ ويـال بـه ددۀ پـه سر نۀ راځى ځكه چه د قيامت په ورځ به هيڅوك د بل چا د سر نه بوج نۀ پـورتـه كـوى، او هر شخص ته به د هغه د كړو بدله ملاويږى۔ د بل چا گناه به د هغه په سر نۀ اچولے كيږى۔ پدے آيتِ كريمه كى همدا مطلب واضحه شويدے، ليكن ددے دا مطلب هيچرے نۀ دے چه په مسلمان باندے امر بالمعروف او نهى عن المنكر واجب نۀ دے۔

بلكه عبد الله بن المبارك رحمه الله وائى :

[هٰذِهٖ اَوْكَدُ آيَةٍ فِىْ وُجُوْبِ الْاَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ]

دا آيت پـه بـاره د وجـوب د امـر بالمعروف او نهى عن المنكر كى ډير تاكيد كونكے دے۔ (نقله الرازىؒ- القاسمىؒ والقرطبىؒ)۔

اصحاب السنن روايت كړيدے چه ابوبكر ﷺ د حمد او ثنا نه روستو اُووئيل :

[يَـا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّكُمْ تَقْرَؤُوْنَ هٰذِهِ الْآيَةَ (لَا يَضُرُّكُمْ) وَتَضَعُوْنَهَا فِىْ غَيْرِ مَوْضِعِهَا وَلَاتَدْرُوْنَ مَا هِيَ، وَاِنِّىْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : اِنَّ النَّاسَ اِذَا رَاَوْا مُنْكَرًا فَلَمْ يُغَيِّرُوْهُ يُوْشِكُ اَنْ يَّعُمَّهُمُ اللّٰـهُ بِعِقَابِهٖ] (ابـوداود فى الـمـلاحـم : ٤٣٤٠، والترمذى واحمد (١/٥٧) وابن ماجه (٤٠٠٥) وفى صحيح الترغيب والترهيب رقم : ٢٣١٧) وسنده صحيح)

اے خـلـقو ! تاسو دا آيت لولئ او ددے غلط مطلب اخلئ، ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلى دى چـه كـلـه خـلـق بـدى وينـى او هغـه نـۀ بدلوى نو نزدے ده چـه د الله عذاب بـه دا تول راگيروى۔

د ابوبكر صديق ﷺ مـطلب دا دے چه ددے آيت تفسير او فهم به د رسول الله ﷺ په فهم بـانـدے اخستے شى او هـغه ددے نه امر بالمعروف او نهى عن المنكر اخستے دے، نۀ ددے پريخودل۔ قاله ابوعبيدؒ- البغوى ٣/١٠٩)

ددې آيت مصداقات

۱- د عبد الله بن مسعود ﷺ نه ددې آيت په باره کې داسې نقل دي چه ددې آيت زمانه لا نۀ ده راغلې بلکه پدې به په روستو زمانه کې عمل کيږي، دا به هغه زمانه وي چه کله امر بالمعروف او نهي عن المنکر فائده نۀ ورکوي. هغه وفرمايل:

[مُرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ مَا قُبِلَ مِنْكُم فَإِنْ رُدَّ عَلَيْكُم فَعَلَيْكُم أَنْفُسَكُمْ]

امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ ترڅو چه ستاسو نه قبليدې شي او که په تاسو باندې رد شي نو بيا د خپل ځان غم کوئ. (بغوی)

او دليل پدې باندې د ابو ثعلبه خُشَني ﷺ روايت دې (چه ترمذیؒ روايت کړيدې)

ابو امية الشعبانيؒ وائي: زۀ ابو ثعلبه خشني ﷺ ته راغلم او ورته مې وويل چه ددې آيت سره به څه کوې؟ هغه وويل: کوم؟ ما وويل: ﴿عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ﴾ هغه وويل: قسم په الله تا خو د ډير خبردار نه تپوس وکړو؟

ما ددې په باره کې د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو نو هغه وفرمايل:

[بَلِ ائْتَمِرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ حَتّٰى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا وَهَوًى مُتَّبَعًا وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً، وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِيْ رَأْيٍ بِرَأْيِهٖ وَرَأَيْتَ أَمْرًا لَا بُدَّ لَكَ مِنْهُ فَعَلَيْكَ بِنَفْسِكَ وَدَعْ أَمْرَ الْعَامَّةِ]

اې خلکو! امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ تردې چه (تاسو داسې زمانه وينئ چه په هغې کې دا کارونه شروع شي) چه هر شخص د بخل پسې روان شي، د خپل خواهش بنده شي، دنيا لره په دين ترجيح ورکوي، او هر سړې خپلې رائې باندې خوشحاله وي.-رسول الله ﷺ د هغه زمانې مسلمانانو ته دا نصيحت کړيدې چه کله داسې زمانه راشي نو عوام خلق پريده او د خپل ځان په فکر کې لګيا شه.

(ترمذی: ۳۰۵۸ ابوداود: ۴۳۴۳ وسنده حسن بالفاظ متقاربة -زبير عليزئ)

او سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما ته چا وويل چه که ته پدې ورځو کې کينې او امر بالمعروف او نهي عن المنکر ونکړې نو ښه به وي ځکه چه الله داسې فرمايلي دي، نو ابن عمرؓ وفرمايل: دا آيت زما او زما ملګرو دپاره نۀ دې، مونږ ته رسول الله ﷺ فرمايلي وو، حاضر شخص دې غائب ته ورسوی" نو مونږ حاضر يو او تاسو د غائبانو په حکم کې يئ.

دا آيت د هغه خلکو په باره کې دې چه زمونږ نه روستو به راځي، که هغوی ته څه وويل شي نو نۀ به ئې قبلوي. (الطبری ۱۱/۱۴۳) وابن کثير (۳/۲۱۴)

او دا زمانه تقریباً ډیره رانزدې ده، بلکه رارسیدلې ده که څوك ایماني بصیرت لري.
(۲) مصداق : چه دا آیت زمونږ او د رسول الله ﷺ تولو زمانو ته شامل دے او مطلب د آیت د ربط نه معلوم شو چه [لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ اَیْ مِنْ آبَاءِ كُمْ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ].
یعنی که ستاسو د پلارانو نه څوك پخوا گمراه شویدے د هغوی په تاسو هیڅ ذمه واری نشته بلکه د خپل ځان غم وکړئ ددے رسول تابعداری وکړئ او حق قبول کړئ. لکه دا اعتراض د گمراهانو په هر وخت کی وی نو دغه جواب به ورته کولے شی.
(۳) د اَنْفُسَكُمْ نه مراد همجنس دی ځکه چه امت په منزله د یو جسد دے نو مطلب دا دے چه د خپلو همجنسو په دعوت سره ساتنه وکړئ که بیا هم څوك حق ته نهٔ راځی او د گناهونو نه نهٔ منع کیږی، نو په تاسو باندے ئے هیڅ نقصان نشته کله چه تاسو خپله په هدایت کلك روان یئ او هغه گناهونو کی نهٔ شریك کیږئ ځکه چه په هغوی باندے حجت قائم شو او خبره ورته ورسیده. نو پدے کی امر بالمعروف ته دعوت شو.
(٤) – ددے نه زیات غوره مصداق دا دے چه دلته الله تعالیٰ (اِذَا اهْتَدَيْتُمْ) لفظ وئیلے دے او هدایت یو کامل شے دے چه تول دین ته شامل دے، او انسان به هله هدایت والا گرځی چه د دعوت کار وکړی نو څوك چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر نهٔ کوی نو هغه مُهتدی (حق والا) نهٔ دے بلکه گمراه دے.
نو پدے کی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر معنیٰ خپله پرته ده.
معنیٰ دا ده : د خپل ځان غم وکړئ، تاسو ته ضرر نهٔ درکوی هغه څوك چه گمراه کیږی کله چه تاسو خپله په کامل هدایت روان یئ او کامل هدایت دا دے چه خپله نیك عمل کوئ او بل ته دعوت ورکوئ نو که ددے نه روستو څوك گمراه کیږی په تاسو ئے هیڅ ضرر نشته. لکه ددے تفسیر او وضاحت بل آیت کوی، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِنْ شَيْءٍ وَلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ﴾ (الانعام: ٦٩) د دواړو مقصد یو دے.
فَيُنَبِّئُكُمْ : د انسان تول عملونه به د ویډیو په شکل راروان وی چه د تول عالَم مخلوقات به ورته گوری نو څومره به شرمیږی؟! پدے وجه دا د لوی عذابونو مرادفه سزا ده او ډیره سخته یره پکی پرته ده.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ
اے ایمان والو ! گواهی په مینځ ستاسو کی کله چه نزدے راشی یو تن ستاسو ته مرگ

حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْاٰخَرٰنِ
په وخت د وصیت کولو کی دوه کسان عادلان دی ستاسو نه یا نور دوه دی
مِنْ غَيْرِكُمْ اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ
د سِویٰ ستاسو نه (یعنی کافرانونه) که تاسو سفر کوئ په زمکه کی
فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ الْمَوْتِ ۭ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ
نو ورسی تاسو ته مصیبت د مرگ را ایسار به کړئ تاسو دے دواړو لره روستو د مانځه
فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ
(د مازیگر) نه نو قسم به وکړی دواړه په الله تعالیٰ که شك کوئ تاسو (وائی به)
لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۙ
نۀ اخلو مونږه پدے سره بدله (مال) اگرکه وی دا (چاله چه قسم خوړلے شی) خپلوان
وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ اِنَّـآ اِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ﴿۱۰۶﴾
او نۀ پټوو مونږه گواهی د الله تعالیٰ یقیناً مونږ به په دغه وخت خامخا د گناهگارو نه یو۔

تفسیر : د حلال حرام مسائل شروع دی نو ددے په مناسبت بله مسئله د حلال او حرامو راوړی۔ او پدے کی بل عقد ذکر دے۔ نو دا مناسبت شو د مضمون د سورت سره۔

جزوی مناسبتونه دا دی (۱) مخکی حفظ النفوس وو، دلته حفظ الاموال دے۔

۲- قسم د الله په نوم پکار دے۔

عنوان د آیت : شَهَادَةُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْكَافِرِيْنَ فِي الْوَصِيَّةِ مَقْبُوْلَةٌ]۔

په باب د وصیت کی د مؤمنانو او کافرانو دواړو گواهی قبوله ده۔

یا [مَسْئَلَةُ الْوَصِيَّةِ فِي السَّفَرِ وَتَحْلِيْفُ الشُّهَدَاءِ] په سفر کی د وصیت مسئله او گواهانو ته قسم ورکول۔ په شریعت کی گواهانو ته قسم ورکول کله نا کله شته۔

مکی بن ابی طالبؒ وائی : ددے آیتونو په باره کی اهل معانی وئیلی دی چه دا آیتونه په قرآن کریم کی د اِعراب، حُکم، معنی او مصداق په اعتبار سره ډیر مشکل دی۔

قاضی ابو محمد ابن عطیهؒ وائی : هٰذَا كَلَامٌ مَنْ لَمْ يَقَعْ لَهُ الثَّلْجُ فِيْ تَفْسِيْرِهَا]

يعنى دا خبره د هغه چا ده چه د آيت په تفسير باندے ئے سينه يخه شوى نۀ وى (او سم پرے پوهه شوے نۀ وى) (المحرر الوجيز ٢/ ٣٥٩ والقرطبى ٦/ ٣٤٦)
او همدا واقعى خبره ده چه هيڅ اشكال پكى نشته.

شان نزول

ددے آيت شان نزول امام بخارىؒ په كتاب الوصايا او ترمذىؒ په كتاب التفسير كى او دارقطنىؒ وغيره ذكر كړيدے، په بعضو كى الفاظ كم او په بعضو كى زيات دى، چه حاصل ئے دا دے: دوه كسان (تَمِيْم دارى، او عَدِى بن بَدَاء) دواړه بهر ملكيان وو او دواړه نصرانيان وو، دوى به مدينے او مكے او شام ته د تجارتونو دپاره تلل راتلل نو پدے كى يو مسلمان سړے (بُدَيْل بن وَرْقاء السهمى ﷺ) هم ددے كسانو سره شام ته د تجارت دپاره ملګرے شو، په شام كى دۀ تجارتونه وكړل او ډير مال ئے پيدا كړو په هغے كى د سپينو زرو جام ئے واخستو چه (مُخَوَّص بِالذَّهَب) وو يعنى سرۀ زر ترے تاو كړے شوى وو، چه په هغه زمانه كى ئے د زرو درهمو قيمت لرلو.
اراده ئے دا وه چه دا به د هغه ځاى بادشاه (نجاشى) ته هديه كړى او ددے په بدله كى به ورته څه وركړى (لكه عرب به دغه شان د بادشاهانو ملاقات ته تلل) نو پدے كى بديل بن ورقاء بيمار شو په ځان پوهه شو چه زۀ مرم، نو يو ئے خط وليكلو او په هغے كى ئے خپل ټول سامان وليكلو او پټ ئے په سامان كى كيخودو او دويم ئے دغه دوه ملګرو (چه نصارىٰ وو) ته وصيت وكړو زما دا مال به مكے مكرمے ته ويسئ او زما خپلوان چه د عمرو بن العاص كورنئ ده هغوى ته به ئے وركړئ.
بيا دے وفات شو نو هغوى خښ كړو او مال ئے راواخستو وے كتلو نو په هغے كى قيمتى قيمتى څيزونه ئے ترے پټ كړل چه يو پكى دا جام وو دا پكى ډير قيمتى وو، كله چه دوى راغلل په مكه كى ئے دغه باقى مال عمرو بن العاص او د هغوى خپلوانو ته وركړو او دا ئے ورته ووېل چه ستاسو سړے مړ شو او مونږ دفن كړو او دغه ئے مال دے، نو هغوى ورله شكريه وكړه، پدے كى چه دوى سامان وكتلو نو خط پكى راووتو، په هغے كى ئے د سپينو زرو جام ليكلے وو او په سامان كى هغه نۀ وو نو دوى په دغه دوه كسانو دعوه وكړه چه تاسو دا جام پټ كړيدے. هغوى انكار وكړو، او قسم ئے وكړو چه مونږ نۀ دے پټ كړے (دوى منكرين وو څكه ئے ورته قسم وكړو) پدے كى دا فيصله رسول الله ﷺ ته راوړے

شوه نو هغه دے منکرینو له د مازیګر مانځه نه روستو قسمونه ورکړل، نو دوی په قسم سره بری (خلاص) شو۔

د یو څو ورځو تیریدو نه روستو دغه جام په مکه کی د یو دکاندار سره ښکاره شو، تحقیق وشو، معلومه شوه چه دکاندار د تمیم داری او عدی نه په پیسو اخستے دے، نو پدے صورت کی بیا لانجه راپیدا شوه چه دغه کسانو دروغجن قسم کړیدے نو پدے صورت کی عمرو بن العاص او د هغه خپلوانو دعوه وکړه چه تاسو دروغ وئیلی دی او قسمونه مو په دروغو کړیدی نو پدے کی دے دواړو وویل چه صحیح دا ده چه دا جام ستاسو د مړی وو لیکن (زمونږ دعوه دا ده چه) دا ترے مونږ په پیسو اخستے وو او خپل مال مو خرڅ کړیدے نو پدے صورت کی دوی مدعیان شو، او عمرو بن العاص دوی ترے انکار وکړو چه تاسو نۀ دے اخستے نو دوباره لانجه راواپس شوه، نو رسول الله ﷺ قسمونه عمرو بن العاصؓ او د هغه خپلوانو ته ورکړل نو هغوی قسمونه وکړل چه قسم په الله تاسو دا جام نۀ دے اخستے۔

(دوی په قرائنو باندے قسم وکړو چه یو خط وو او بل د جام پیدا کیدل وو او په قرائنو هم قسم جائز دے)

نو پدے کی په دغه دوه کسانو باندے تاوان راغلے لیکن بیا هم هغوی انکار کولو، نو پدے کی څه ورځے روستو تمیم داری ایمان راوړو نو هغه اقرار وکړو چه آؤ مونږ خرڅ کړیدے او پنځه سوه درهمه ما اخستی او پنځه سوه عدی بن بداء نو ده خپل پنځه سوه درهمه ورکړل او خلك لاړل په عدی باندے جمع شو نو د هغه نه ئے په زوره پنځه سوه درهمه واخستل۔

نو دا آیتونه الله تعالیٰ د هغوی په باره کی نازل کړل او داسے واقعه د ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه په دورِ امارت کی راغلے وه، یو مسلمان د کوفے نه مدینے ته روان وو د اهل ذمه ؤ کلی ته په رسیدو کی پرے وفات راغے نو دوه ذمیانو کافرو ته ئے وصیت وکړو چه زما دا مال فلانی ځای ته ورسوئ، پدے کی خلکو شك وکړو چه ذمیانو ددے مال نه غلا کړیده نو لانجه چه ابو موسیٰ اشعری ؓ ته راغله هغه وویل چه دا مسئله د رسول الله ﷺ په زمانه کی هم راغلے وه، بیائے هغوی ته قسم ورکړو۔

د آیت **مطلب** دا دے چه اے مسلمانانو ! کله چه تاسو د سفر په حالت کی یئ او ستاسو د مرګ آثار راښکاره شی او تاسو سره مال او سامان وی، نو د الله حکم دا دے چه د

مسلمانانو یا غیر مسلمونه دوه د عدل او رشتیا والا په هغې باندې گواه جوړ کړئ، که د دغه دواړو گواهانو په باره کې د مړي د وارثانو شك راشي چه کیدې شي دوی به خیانت کړې وي او د مړي څه مال به ئې پټ کړې وي، نو هغوی به د مازیگر مانځه نه روستو د قسم کولو دپاره بند کړې شي، بیا به هغوی په الله باندې قسم اُوکړي او وائی به چه مونږ د مال په وجه په الله باندې په دروغه قسم نهٔ خورو، اگرکه د چا دپاره چه مونږ قسم خورو هغه خپلوان ولې نهٔ وي، او د کومې گواهي حکم چه الله ورکړیدې د هغې په پټولو سره مونږ ځان نهٔ گناهگاره وو، او که د هغه دواړو د قسم خوړلو نه روستو پته ولگی چه هغوی خیانت کړیدې نو د مړي د خپلوانو نه به دوه نزدې خپلوان رامخې ته شي او قسم به وکړي چه زمونږ د دواړو گواهي د دوی دواړو د گواهي نه زیاته قابل قبوله ده چه دوی خیانت کړیدې او د دروغو نه ئې کار اخستې دې، او دا چه مونږ په دوی باندې کوم د خیانت تهمت لگولې دې نو پدې کې مونږ په دوی باندې زیاتې نهٔ دې کړې۔ که مونږ زیاتې کړې وي نو د ظالمانو نه به شو او د الله د ناراضگئ او د هغه د عذاب مستحق به شو۔

دې نه روستو الله تعالیٰ پداسې طریقې سره د قسم کولو حکمت او مصلحت بیان کړیدې چه ددې فائده به دا وي چه گواهان به د آخرت د عذاب نه په یره سره، د واقعې په کار کې بغیر د څه تبدیلی راوستو نه گواهي ورکوي۔ او د خیانت د شك کیدو په صورت کې د دوه نزدې خپلوانو نه د قسم اخستو حکمت دا دې چه د سفر د حالت گواهان به یریږي چه که مونږ دروغ اُووئیل نو زمونږ قسم به رد کیږي او نزدې خپلوان به قسم خوري او زمونږ دروغ به خلقو ته ښکاره کیږي۔

شَهَادَةُ بَيۡنِكُمۡ : یعنی گواه مقررول۔ او گواه کول۔

اثۡنٰنِ دا خبر دې د (شَهَادَةُ) یعنی گواهان مقررول په مینځ ستاسو کی دوه کسان دی۔

یعنی چه کله مړ کیږي او وصیت کوی نو پدې وخت کې به دوه کسان مقرروی۔

اَوۡ اٰخَرٰنِ : یعنی که مؤمنان عادلان نهٔ ملاویږي نو ستاسو نه غیر کافران هم مقررولې شئ۔ د کافرانو گواهي په عامو ځایونو کی نهٔ ده منظوره مگر په بعض سختو حالاتو کی منظوره ده او دا د شریعت استثناء ات دی۔

مِنۡ غَيۡرِكُمۡ : ددې نه مراد کافران دی۔ او کوم خلك چه د (غَيۡرِكُمۡ) نه مراد د قبیلې نه علاوه نور خلك اخلی نو هغه صحیح نهٔ ده ځکه چه مسلمان که هر څو مره وړاندې قبیلې والا وی تول وروڼه ورونه دی۔

اِرۡتَبۡتُمۡ : دا قسم به په هغه وخت کی ورکولے شی چه ستاسو شك وو چه دا کسان به دروغجن وی۔ لَا نَشۡتَرِیۡ : یعنی هغه قسم کونکی به په قسم کی داسے وائی چه مونږ نهٔ اخلو پدے قسم کولو سره دنیا۔

وَلَوۡ کَانَ ذَا قُرۡبٰی : ددے قریبه معنیٰ دا ده چه اگرکه وی دا مَقسم لَهٔ (چا دپاره چه قسم خوړلے شی) خپلوان یعنی زهٔ دا قسم د خپلوان دپاره نهٔ کوم پاتے لا دا چه زهٔ ئے د پیسو دپاره وکړم۔ لکه په محاوره کی دا وئیلے کیږی چه زهٔ د پلار دپاره قسم نهٔ کوم نو د پیسو دپاره به ئے څنگه وکړم؟۔ نو دا په محاوره بناء دے۔

۲- بعید تفسیر دا دے چه کَانَ کی ضمیر (مال) ته راجع دے یعنی اگرکه دا مال زما زړه ته ډیر قریب او محبوب دے لیکن قسم پرے نهٔ کوم۔ اوله معنیٰ ظاهر د قرآن دے۔

فَاِنۡ عُثِرَ عَلٰٓی اَنَّهُمَا اسۡتَحَقَّآ اِثۡمًا
پس که خبرېدل وشو پدے چه یقیناً دا دواړه مستحق شوی د گناه دی (په دروغه قسم کولو سره)
فَاٰخَرٰنِ یَقُوۡمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِیۡنَ اسۡتَحَقَّ عَلَیۡهِمُ
نو نور دوه کسان به ودریږی په ځای ددے دواړو د هغه کسانو نه چه ثابت شویدے حق د هغوی دپاره
الۡاَوۡلَیٰنِ فَیُقۡسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَآ
چه نزدے دی دواړه مړی ته نو قسمونه به وکړی دواړه په الله تعالیٰ چه خامخا گواهی زمونږ
اَحَقُّ مِنۡ شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعۡتَدَیۡنَآ ز صلے
ډیره رشتینے (یا لائقه) ده د گواهئ د هغه (مخکنو) دواړو نه او زیاتے نهٔ دے کړے مونږه
اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۱۰۷﴾ ذٰلِكَ اَدۡنٰٓی اَنۡ یَّاۡتُوۡا
یقیناً مونږ به په دغه وخت د ظالمانو نه یو۔ دا کار ډیر نزدے دے دیته چه راتلل به کوی دوی
بِالشَّهَادَةِ عَلٰی وَجۡهِهَآ اَوۡ یَخَافُوۡٓا اَنۡ تُرَدَّ اَیۡمَانٌ
په گواهئ په طریقه د هغے (د وجے د ویرے د الله نه) یا به یریږی چه واپس به شی قسمونه (د دوی
بَعۡدَ اَیۡمَانِهِمۡ ط وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسۡمَعُوۡا ط وَاللّٰهُ
پس د قسمونو د دوی نه او یره وکړئ د الله نه او واورئ (دا خبره) او الله تعالیٰ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

هدایت نهٔ کوی قوم نافرمانو ته۔

تفسیر : فَاِنْ عُثِرَ : یعنی په دغه ځای خو لانجه ختمه شوه لیکن که ددے نه روستو بله لانجه راپیدا شوه نو د هغے حکم واورئ۔

عثر : ای اُطُّلِعَ۔ یعنی معلومه شوه او اطلاع ملاؤ شوه۔

اسْتَحَقَّآ اِثْمًا : دا دواړه د ګناه حقدار شویدی یعنی ګناه ئے کړیده چه په دروغه ئے قسم کړیدے۔ حاصل معنی ئے ده : فَعَلَا اِثْمًا۔ کړے ئے ده ګناه۔

مِنَ الَّذِيْنَ : دا نور دوه کسان به څوك وی؟ د هغے بیان کوی چه دا د هغه کسانو نه دی۔

اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ : چه په دوی باندے حق ثابت شوے وو ځکه چه د دوی دعوه ئے په قسمونو سره ضائع کړے وه، او دغه جام ئے د خپل ځان دپاره حق ګرځولے وو۔ نو اُوس به دوی نه دوه کسان راپاڅیږی۔

الْاَوْلَيٰنِ : چه دا دواړه کسان مړی ته نزدے دی۔ اولیٰ په معنیٰ د اَقْرَب سره دے۔ مړی ته چه څوك نزدے وو مخکی په دوی باندے حق ثابت شو نو اُوس به دوی راپاڅیږی او قسمونه به وکړی ځکه چه په دے وخت کی دوی منکر دی او هغه جام اخستونکی دعویدار دی چه دا مونږ په پیسو اخستے دے۔او قسم منکر له وی نو ځکه به دوی قسم کوی۔

لَشَهَادَتُنَآ : پدے ځای کی د شهادت نه مراد قَسم دے او د شهادت او قَسم خپل مینځ کی مناسبت دے۔ځکه چه د یو بل په معنیٰ راځی۔

اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا : احق په معنیٰ د اَصْدَقُ (ډیر رشتینی) سره دے۔ یعنی زمونږ ګواهی او قسم ډیر رشتینی دے د هغوی د قسمونو نه ځکه چه مونږ سره قرائن دی مثلًا د واقعے مطابق یوه قرینه دا ده چه دوی اول وئیلی وو چه مونږ جام نهٔ دے لیدلے، اُوس وائی چه مونږ اخستے دے، او بله قرینه لیکل دی، دریمه قرینه د مکے دکاندار وائی چه مونږ د تمیم او عدی نه اخستے دے۔

اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ : یعنی مونږ به ظالمان یو که په دوی باندے دروغ وایو۔

ذٰلِكَ اَدْنٰى : (ذٰلك) اشاره ده دویم قسم کولو ته یعنی دا روستنی کسان چه قسم وکړی

نو دا ډیره نزدے ده چه خلك به آینده کی په خپله صحیح طریقه ګواهی ادا کوی۔
عَلٰى وَجْهِهَآ : اَیِ الصَّحِيْحِ۔ یعنی په خپله صحیح طریقه۔
اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ : او دا ګواهی به ولے په صحیح طریقه ادا کوی؟ اِمَّا لِخَوْفِ اللّٰهِ۔ یا خو به د الله نه یریږی اَوْ لِخَوْفِ رَدِّ الْاَيْمَانِ۔ یا د یرے ددے نه چه د دوی قسمونه به رد کړے شی لکه څنګه چه د مخکنو خلکو قسمونه رد کړے شو۔
اَيْمَانٌ : کی تنوین عوضی دے اَیْ اَيْمَانُ الْاَوَّلِيْنِ۔ یعنی د مخکنو کسانو قسمونه۔
بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ : روستو د قسمونو د روستنو نه۔ لکه په دغه واقعه کی د مخکنو قسم رد شو او د روستنو قسم ثابت شو۔
مطلب دا شو چه یا به هغوی وائی چه دروغ نشو وئیلے څکه چه د الله نه یریږو، او یا به وائی چه که چرته صبا پته ولګی نو دا کسان به راپسے قسم وکړی او زمونږ قسم به غلط کړی نو ویه هم شرمیږو او قسم به مو هم لاړ شی او سامان به هم رانه واخلی نو ددے قانون د وجه نه به هغوی د الله صحیح حکم ادا کوی۔
وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ : اَیْ حَالَ اخْتِيَارِهِمُ الْفِسْقَ۔ یعنی کله چه په فسق کی مشغول وی نو الله ورته هدایت نۀ کوی څکه چه هدایت د فسق منافی شے دے، څکه هدایت د الله په هر حکم باندے عمل کول دی او فسق د الله حکم ماتولو ته وائی۔ او کله چه فسق پریدی او انابت پکی پیدا شی نو بیا ورته الله هدایت کوی۔
آیت په احسن طریقه حل شو والحمد لله۔
فوائد الآية : (۱) په اسلام کی د مال حفاظت ډیر اهم شے خودلے شویدے۔
(۲) د ضرورت په وخت کی د کافر ګواهی هم قبلیږی۔
(۳) مرګ یو لوی مصیبت دے۔ الله تعالیٰ مونږ دے طرفته متوجه کوی۔
(٤) د قسمونو او ګواهئ دپاره افضل وخت اختیارول پکار دی۔
(٥) د شك په وخت ګواهانو له قسمونه ورکول جائز دی۔
(٦) اوله فیصله ماتیدل په دلیل سره صحیح دی، البته په اجتهاد سره به نشی ماتولے لکه بخاری کی دی، طاووس او ابراهیم او شریح رحمهم الله وائی : [اَلْبَيِّنَةُ الْعَادِلَةُ اَحَقُّ مِنَ الْيَمِيْنِ الْفَاجِرَةِ] تحت رقم (۲۶۷۹)
عادل ګواه د دروغجن قسم نه ډیر حقدار دے۔ یعنی یو تن په دروغه قسم وکړی بیا د فیصلے نه روستو، دغه مقابل شخص ګواه راولی نو معلومیږی چه ددے قسم خوړونکی

قسم دروغجن وو نو فیصله به د گواه والا دپاره کیږی. لکه دغسے فیصله عمر فاروق د یهودی دپاره وکړه د مسلمان په خلاف او دغه قول ئے ذکر کړو. (فتح الباری وشرح ابن بطال۱۵/ ۷۲)

او څینو ئے مطلب دا بیان کړیدے چه یو تن په قسم کونکی باندے گواهی وکړی چه دهٔ چه په کوم شی قسم کړے نو د هغے په خلاف ئے اقرار کړے نو پدے گواه سره ښکاره شوه چه د قسم کونکی قسم په دروغه وو نو اُوس به د هغه په خلاف فیصله کیږی. (ځکه چه دلیل د هغه په خلاف قائم شو). دا مطلب ابوعبیدؒ بیان کړیدے. (بتصرف یسیر) (فتح الباری۵/ ۲۸۸)

(۷) د قرائنو په وجه گواهی او قسم کول جائز دی.

(۸) د جگړه مارو د یو بل بدی ذکر کول د ضرورت په وخت کی جائز دی.

(۹) د الله تعالیٰ احکام ټول د حکمتونو او بهترو مقصدونو نه ډك دی.

(۱۰) د خلکو مالونه په غلا، یا دروغو، یا دروغجنه گواهئ سره فسق دے او دا سبب دے ددے چه بنده د الله تعالیٰ د هدایت نه محروم شی نو ددے نه سخت پرهیز پکار دے.

يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ
یاد کړه هغه ورځ چه راجمع به کړی الله تعالیٰ رسولان نو اُویه وائی څهٔ
اُجِبْتُمْ ؕ قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۱۰۹﴾
قبول والے شوے وو ستاسو دوی به وائی هیڅ علم نشته مونږ ته یقیناً تهٔ ښه پوهه ئے په پټو خبرو.

تفسیر: پدے آخری دوه رکوع گانو کی بیا د بنی اسرائیلو واقعات بیانوی.

مناسبت

۱- د مضمون د سورت سره مناسبت دا دے چه [هٰذِهِ الْعُقُوْدُ الَّتِىْ بَيَّنَهَا لَكُمْ رَسُوْلُنَا فِىْ هٰذِهِ السُّوْرَةِ تُسْئَلُوْنَ عَنْهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ] . دا عقود چه تاسو ته زمونږ رسول بیان کړل تاسو نه به د قیامت په ورځ ددے په باره کی تپوس کیږی. نو دا تخویف اخروی دپاره د تاکید مخکنو احکامو دے، او دا داسے دے لکه د خاتمے په شان چه یو تن تقریر وکړی او آخر کی ووائی چه دا ضروری خبرے دی ددے په باره کی به حساب کیږی. نو د ټولو پیغمبرانو نه

به الله تپوس کوی او پدے سره به د هغوی امتونه راګیروی چه دوی د پیغمبرانو څومره تابعداری کړیده، نو اے مؤمنانو! تاسو نه به هم تپوس کیږی۔

۲- ابن عاشورؒ لیکی چه دا متعلق دے د مخکی واقعاتو د نصاراؤ سره، اول د حلال حرامو مسئلے بیان شوے بیا په یهودیانو او نصاراؤ رد وشو بیا د حلال او حرامو مسئلے بیان شوے نو اُوس بیرته خپلے خبرے ته واپسی وشوه لکه دا د قرآن او د تقریر طریقه ده چه بیرته خپلے خبرے ته واپسی کولے شی، نو دلته وائی چه د ټولو پیغمبرانو د امتونو نه به د قیامت په ورځ تپوس کیږی او خصوصاً اے نصاراؤ تاسو نه به د عیسیٰ علیه السلام په باره کی تپوس کیږی چه دوی ورته د الله څوی وئیلے دے او د هغه په باره کی سخت کافران شویدی او ډیر لوی امت پرے ګمراه شویدے، دا وجه ده چه دلته ئے د عیسیٰ علیه السلام څلور ځل نوم اخستے دے او په هرځل ئے (ابن مریم) ورته وئیلے دے، دپاره ددے چه په نصاراؤ باندے پوره رد وشی چه دا ابن الله نهٔ دے بلکه د مریم څوی دے۔ نو اے نصاراؤ ! د عیسیٰ علیه السلام په باره کی عقیده صحیح کړئ او د الله توحید مهٔ پریدئ۔ (التحریر والتنویر ۲۵۸/۵)

نو حاصل ددے دواړو ربطونو دا شو چه اے امت محمد ! تاسو نه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په باره کی او ددے احکامو په باره کی او اے نصاراؤ تاسو نه به د عیسیٰ علیه السلام په باره کی تپوسونه کیږی، تاسو د هغے دپاره څه جواب تیار کړیدے؟۔

۳- ابن عاشورؒ دا هم وائی : مخکی د مخلوق په وصیت باندے شهادت ذکر وو، نو اُوس دلته د خالق په وصایاؤ باندے د رسولانو شهادت ذکر کوی ځکه چه دینونه د الله تعالیٰ د طرفنه وصیتونه دی چه بندګانو ته ئے ورکړیدی۔

او دا ربط چه بعض مفسرینو بیان کړیدے چه دا د (لایهدی الفاسقین) سره متعلق دے یعنی الله هدایت فاسقانو ته نکوی د قیامت په ورځ، نو دا ربط صحیح نهٔ دے ځکه چه په قیامت کی د هدایت نفی کیدلو هیڅ فائده نشته۔ (التحریر والتنویر ۲۵۸/۵)

او که د هدایت نه جنت ته رَسول مراد شی نو هم د سیاق د آیتونو سره پوره سمون نهٔ خوری نو بس غوره دغه مخکنی مناسبتونه دی۔

تشریح الالفاظ والکلمات

يَوْمَ يَجْمَعُ : دا یوم ظرف دے د (اُذْكُرْ) راياد کړه هغه ورځ۔ یا (اِحْذَرُوْا) (وَاتَّقُوْا) ویریږئ پورے متعلق دے۔ یا یوم ظرف دے د روستو پټ فعل دپاره یعنی يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ

يَكُوْنُ فِيْهِ مِنَ الْأَهْوَالِ مَا لَايَفِيْ بِبَيَانِهٖ مَقَالٌ] (المنار)
په کومه ورځ چه الله رسولان راجمع کړي او د هغوی نه تپوسونه وکړي نو په دغه ورځ به داسے لوی هیبتونه وی چه د هغے بیان نشی کیدے۔ اول تقدیر واضح دے او د قرآن کریم د نورو مواضعو موافق دے۔
فَيَقُوْلُ : ماذا اجبتم : پدے تپوس کی امتونه راگیرول مقصود دے، چه تاسو دین بیان کړونو امتونوتاسو له څه جواب درکړو؟ آیا ایمان او اقرارئے وکړو او که کفر او استکبار؟ (المنار)
او تپوس مقصود نهٔ دے ځکه چه د انبیاؤ نه تپوس په باره کی نور آیتونه په قرآن کریم کی راغلی دی۔ کله چه دا تپوس کیږی نو ټول امتونه به ولاړ وی او داسے سخت هیبت کی به وی چه رپیږی به او په زنګنونو به پرمخے پراته وی ﴿وَتَرٰى كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً﴾ (الجاثية:٢٨)
دغه هیبتی حالت ته الله تعالیٰ دلته اشاره غوندے ورکړیده چه نور قرآن کی د هغے تفصیلات راغلی دی، نو چا چه د پیغمبر خلاف کړے وی او په هغه ئے کفر کړے وی او د هغه سنت ئے رد کړی وی نو د هغه به څه حالت وی ؟
دے کی دِے هر عاقل سوچ او فکر وکړی او په خپل ایمانی سترګو دِے دے ته وګوری نو ډیر عبرت به واخلی، دے ته د عرصات شرم وائی۔
مَاذَآ أُجِبْتُمْ : آیا ستاسو ټولے خبرے ئے منلی او که بعض او که ټولے ئے رد کړیدی؟۔
علماؤ لیکلی دی چه (مَاذَا أُجِبْتُمْ) مجهول صیغه استعمال شویده یعنی تاسو ته څه جواب درکړے شویدے؟۔ الله تعالیٰ دا ونهٔ وئیل چه هغه قومونو تاسو ته کوم جواب درکړو۔ پدے کی دے طرف ته اشاره ده چه په هغه ورځ به الله تعالیٰ انتهائی درجه په غضب وی۔ د صحیح بخاریؒ روایت دے چه زما رب به په هغه ورځ دومره په غضب وی چه د هغے نه مخکی به هم کله دومره نهٔ وی په غضب شوے او نهٔ د هغے نه روستو۔
قَالُوْا : په ماضی سره ئے تعبیر وکړو دپاره د تحقق الوقوع یعنی دا سوال اوجواب به په قیامت کی داسے یقینی کیږی لکه چه مخکی واقع شوے وی۔

سوال وجواب

لَا عِلْمَ لَنَا : سوال دا دے چه انبیاء څنګه وائی چه مونږ ته علم نشته حال دا چه دوی ته

خو دا معلومه وه چه چا خبره منلې او چا نهٔ ده؟
جواب دا دے چه دلته د لاعلم لنا يو څو مصداقات دي :
(۱) لَا عِلْمَ لَنَا اَیْ بِجَمِیْعِ اَفْعَالِهِمْ۔
يعنی د هغوی ټولو کارونو باندے زمونږ هيڅ علم نشته۔ (المنار)
(۲) لَا عِلْمَ لَنَا بَعْدَ وَفَاتِنَا ۔ زمونږ د وفات نه روستو مونږ ته علم نهٔ وو چه دوی څه کول۔
(ابن الانباریؒ- التحرير والتنوير)
دے نه معلومه شوه چه ټول پيغمبران (په شمول د رسول الله ﷺ) د مرګ نه روستو د امت په هيڅ احوالو نهٔ پوهيږی مګر دا چه الله تعالیٰ خبر ورکړی چه ستا امت دا کارونه کوی۔
(۳) لَا عِلْمَ لَنَا بِمَا اَحْدَثُوْا بَعْدَنَا ۔ مونږ ته هيڅ علم نشته په هغه څه چه دوی زمونږ نه روستو کومه بی دينی پيدا کړيده۔ (ابن جُرَيْجؒ،-ذکره البغویؒ)
٤- لَا عِلْمَ لَنَا بِبَوَاطِنِهِمْ۔ مونږ ته هيڅ علم نشته د دوی په باطن باندے او په ظاهر باندے چه مونږ ته کوم علم وو هغه تا نه پټ نهٔ دے۔
(٥) ظاهر دا ده چه دلته پدے جمله کی تفويض مقصد دے، يعنی تهٔ علام الغيوب ئے (په هر غيب تهٔ پوهيږے) او ددے تفصيلات تا ته معلوم دی، او لږ لږ کوم معلومات چه دوی ته وو نو د هغے بيان ئے هم نهٔ دے کړے ادباً وتفويضاً۔ ځکه چه دوی ته معلومه ده چه د الله مقصد دا نهٔ دے چه تاسو مونږ ته ددے امتونو عملونه بيان کړئ ځکه چه په هغے باندے خو الله تعالیٰ د دوی نه زيات پوهه دے، نو ځکه ئے تفويض وکړو چه ته د دوی په حال باندے عالِم ئے نو تهٔ ورسره پوهه شه لکه روستو راځی ﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ تهٔ پوهه شه او ستا بندګان پوهه شه، زمونږ پکی څه کار نشته خو مونږ ستا دين مکمل بيان کړيدے۔ اګرکه په نورو مواقعو کی به په امتونو باندے د هغوی د اعمالو ګواهی ورکوی ليکن دلته دا مقصد نهٔ وو۔

(القاسمی والمنار ۷/۲۰۲ والتحرير)

ځينی وائی د ډير هيبت د وجه نه ئے سکوت کړيدے ليکن دا خبره ضعيفه ده ځکه چه انبياء عليهم السلام په قيامت کی په امن باندے وی۔
عَلَّامُ الْغُيُوْبِ: او هغه ذات چه په پټو ځيزونو پوهيږی نو ښکاره ځيزونه به د هغه نه څه پټ پاتی شی۔

ابن عاشورؒ وائی : رسولانو چه دا تفویض وکړو نو پدے کی ډیرو خبرو ته اشاره شوه :
(۱) په کافرانو باندے گواهی ده چه الله تعالیٰ د دوی سره کومه معامله وکړه نو هغه حقه ده۔
(۲) د کافرانو بی وقوفتیا ښکاره کول مقصد دے چه که دوی اُوس انکار کوی نو دا به ورته فائده نۀ ورکوی۔
(۳) امتونو ته هغه خبرے رایادول چه هغوی پرے د رسولانو سره کومه معامله کړے وه ځکه پدے قول کی چه ﴿اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ﴾ دے، تعمیم دے چه امتونو ته د هغوی تکذیب او ضد او عناد رایادوی لکه په محاوراتو کی خلك چه د یو شی په باره کی تپوس وکړی نو جواب کونکے ورته وائی : زۀ تا ته پدے باندے زیات علم نۀ درکوم۔ یا داچه ته پرے ښه پوهه یی۔ (التحریر والتنویر۲۵۹/۵ لابن عاشور)

اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِيْ عَلَيْكَ وَعَلٰى

کله چه وبه وائی الله تعالیٰ اے عیسیٰ ځوی د مریم رایاد کړه نعمتونه زما په تا باندے او په

وَالِدَتِكَ ۘ اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ قف تُكَلِّمُ النَّاسَ

مور ستا باندے په هغه وخت چه مضبوط کړے ما تۀ په روح پاك سره خبرے دِے کولے

فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ج وَاِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ

د خلقو سره د مور په غیږه کی او په پوخ عمر کی او کله چه تعلیم درکړو ما تاته د کتاب

وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ج وَاِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ

او سنت او د تورات او انجیل او کله چه جوړول تا د خټے نه په شان د شکل د مرغۍ

بِاِذْنِيْ فَتَنْفُخُ فِيْهَا فَتَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِيْ ج وَتُبْرِئُ

په حکم ځما پس پوکے به وکړو تا په هغے کی نو شوه به مرغۍ په حکم ځما او روغول به تا

الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ بِاِذْنِيْ وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى

مورزادی ړوند او برگی مرض والا په حکم ځما او کله چه راویستل به تا مړی (د زمکے نه)

بِاِذْنِيْ وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَنْكَ اِذْ جِئْتَهُمْ

په حکم ځما او کله چه بند کړل ما بنی اسرائیل ستا (د وژلو) نه کله چه راوړل تا دوی ته

بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۰﴾

ښکاره معجزات نو وويل کافرانو د دوی نه، نۀ دے دا مګر جادو دے ښکاره۔

تفسير :

په ميدان محشر کی به چه کله ټول انسانان د الله مخے ته سر خکته وی په هغه وخت به الله تعالیٰ عيسیٰ ابن مريم سره بالخصوص خبرے شروع کړی ځکه چه د دنيا دوه لوئی امتونه د هغه په باره کی په ګمراهئ کی اخته شويدی۔ يهوديانو اُووئيل چه عيسیٰ جادوګر او ولدِ زنا وو، او نصرانيانو دعویٰ اُوکړه چه هغه الله او ابن الله وو۔

الله تعالیٰ به هغه سره مخاطِب وی او د ميدان محشر خلق به ئے اوری ، دے دپاره چه د مجرمين يهودو او نصاراؤ په افسوس او پښيمانتيا کی زيادت اُوشی، او هغوی ته د خپل کبر او غرور او ګمراهئ يقين اُوشی، نو دلته به الله تعالیٰ د هغه احتياج بيانوی په پنځه ځيزونو کی،

اول په نعمتونو کی۔ دويم احتياج په تصرفاتو (معجزاتو) کی، دريم په حفاظت کی د شر د بنی اسرائيلو نه او څلورم د ملګرو په پيدا کولو کی، او پنځم په معجزه د مائده کی

نو پدے کی رد دے په نصاراؤ چه هرکله هغه دومره محتاج بنده دے نو الٰه او ابن الله به څنګه جوړ شی؟ او دے خلکو باندے تعريض دے چه تاسو د داسے کمزوری او محتاج بنده عبادت کريدے؟! نو هغوی به خړ شی۔

اذْكُرْ نِعْمَتِيْ عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ : په عيسیٰ عليه السلام باندے خو د الله بی شماره دينی او دنياوی احسانات وو او د عيسیٰ عليه السلام په مور مريم بنت عمران عليها السلام باندے د الله احسان دا وو چه الله هغے لره پاکيزه ګرځولے وه او د ټول جهان د ښځو نه ئے چاڼ کړے وه۔

اِذْ اَيَّدْتُّكَ : دلته الله تعالیٰ داسے ځيزونه ذکر کوی چه په هغے سره د عيسیٰ عليه السلام کمزوری او عبديت ثابتيږی او الوهيت ئے نفی کيږی دپاره د رد په نصاراؤ، او دارنګه په يهودو باندے چه هغه ته ولدِ زنا وائی۔(العياذ بالله) نو اول دا چه عيسیٰ عليه السلام تائيد ته محتاج دے۔

تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ : ماشوم خبرے نشی کولے ليکن الله تعالیٰ د هغه نه دا خبرے راويستلے نو پدے کی هم الله ته محتاج وو۔ او دے ته اِرْهَاصات د انبياؤ وائی يعنی د نبوت نه مخکی خبرے۔او دا هم د تائيد يو صورت دے۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلي دي: د آیت مطلب دا دے چه ما تا لره د وړوکوالي او ځوانئ په دواړو حالتونو کې الله طرف ته رابلونکے نبي جوړ کړے وو، ما تا لره په وړوکوالي کې کله چه ته د مور په غیږه کې وے د خبرو قوت درکړے وو، نو تا د خپلے مور د هر عیب نه د پاکئ ګواهي ورکړه، او زما دپاره د خپل عبدیت اقرار دے وکړو، او خلقو ته دے خبر ورکړو چه ما تهٔ رسول جوړ کړے ئے او خلقو ته دے زما د عبادت دعوت ورکړو۔

وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ : د کتاب نه مراد خط او کتابت او ظاهري علم دے چه لیکلے کیږي، او د حکمة نه مراد فهم او ادراك او هغه باطني علم دے چه نهٔ لیکلے کیږي۔

یا د کتاب نه مراد قرآن کریم او د حکمة نه مراد سنت د نبي کریم ﷺ دے، او دا احسان په عیسیٰ علیه السلام باندے به د هغه د نزول نه روستو وي۔

وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ : مورزادي ړوند چه د هغے د علاج نه طبیبان او ډاکټران عاجز دي۔

بِإِذْنِيْ : الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته څلور معجزات ورکړي وو چه هغه دلته ذکر شوي دي، او د هرے معجزے سره د «بِإِذْنِيْ» کلمه راغلے ده یعني د عیسیٰ علیه السلام په لاس باندے د هغه معجزے ښکاره کیدل د الله په حکم سره او د هغه په قدرت سره کیدل، په هغے کې د عیسیٰ علیه السلام د ذاتي قدرت هیڅ دخل نهٔ وو۔ او دا دلیل دے ددے خبرے چه د انبیاء علیهم السلام او غیر انبیاء (د هیچا) په اختیار کې هیڅ نشته۔

وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِإِذْنِيْ : لکه عیسیٰ علیه السلام به د مړي راژوندي کولو په وخت داسے وئیل (قُمْ بِإِذْنِ اللهِ) د الله په اذن (توفیق) راپاڅیږه۔

وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ : بني اسرائیلو عیسیٰ علیه السلام لره وژلو نو الله ترے هغوی واړول او ددهٔ حفاظت ئے وکړو، او ددے وجه نه عیسیٰ علیه السلام دوه څله هجرت د بني اسرائیلو نه کړیدے۔

إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ : دا ورسره ددے دپاره وائي چه بني اسرائیلو به څکه وژلو چه ددهٔ دعوه به غلطه وه، نو الله فرمائي: چه تا بینات پیش کړي وو لیکن دے ظالمانو هغه نهٔ منل نو پدے کې په اشاراتو کې یهودیان راګیرول مقصد دے، نو په دغه وخت کې به په یهودیانو ظالمانو باندے رپ رپي ولګي چه دا خو مونږ یادوي۔

وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيّٖنَ أَنْ اٰمِنُوْا بِيْ
او کله چه الهام وکړو ما (یعني په زړونو کې مے واچولو) حوارینو ته چه ایمان راوړئ په ما

وَبِرَسُوۡلِیۡ ج قَالُوۡۤا اٰمَنَّا وَاشۡهَدۡ بِاَنَّنَا مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾

او په رسول ځما وویل دوی ایمان راوړے دے مونږه او ګواه شه چه یقیناً مونږه منونکی یو۔

تفسیر : دا د عیسیٰ علیه السلام سره خبرے شروع دی او په مینځ کی د هغه مخالفینو ته زورنے بیانیږی او منونکو ته زیری۔ او پدے کی په عیسیٰ علیه السلام باندے دا نعمت دے چه الله د هغه دپاره نیکان او ښه ملګری پیدا کړل او دا لوی نعمت دے ځکه چه د انسان ښه ملګری نۀ وی نو دا لوی عذاب دے۔

وَاِذۡ اَوۡحَیۡتُ اِلَی : وحی نه مراد الهام دے چه د هغوی په زړونو کی دا خبره راغله چه په الله او په رسولانو ایمان راوړل پکار دی۔

یا د وحی نه مراد په ژبه د عیسیٰ علیه السلام وحی ده یعنی عیسیٰ علیه السلام ته الله وحی وکړه چه اے عیسیٰ! تۀ دے خلکو تهووایه چه په الله او په رسولانو ایمان راوړئ نو الله هغوی ته د ایمان توفیق ورکړو۔

اَلۡحَوَارِیّٖنَ : د عیسیٰ علیه السلام خاص مُخلص ملګرو ته وائی۔

اِذۡ قَالَ الۡحَوَارِیُّوۡنَ یٰعِیۡسَی ابۡنَ مَرۡیَمَ هَلۡ یَسۡتَطِیۡعُ رَبُّكَ اَنۡ یُّنَزِّلَ

کله چه وویل حوارینو اے عیسیٰ ځوی د مریم! یقیناً طاقت لری رب ستا چه نازل کړی

عَلَیۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ؕ قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۱۲﴾

په مونږ باندے ډك دسترخوان د آسمان نه وویل عیسیٰ علیه السلام ویریږئ د الله نه که تاسو مؤمنان یئ۔

تفسیر : پدے کی بل احسان ذکر کوی چه ما ستا دعاګانے هم قبولے کړیدی او د هغے په نتیجه کی تاسو ته مائده نازله شویده چه دا د عیسیٰ علیه السلام په نبوت او رشتینوالی باندے یو قطعی دلیل وو۔

او دا واقعه ددے دپاره راوړی چه تاسو بی ځایه او تعنتی سوالونه مۀ کوئ لکه حوارینو دغه شان سوال د مائدے وکړو نو بیا پکی پیل شو نو دا به د (لَا تَسۡـَٔلُوۡا عَنۡ اَشۡیَآءَ) سره متعلق وی۔ لکه دا د قرآن طریقه ده چه په اشاراتو کی دعوت کوی۔

بعض علماؤ لیکلی دی چه دا واقعه په انجیل کی نۀ ده ذکر شوے او نصاراؤ د مسلمانانو په ذریعه پیژندلے وه۔

د واقعې نوعیت دا وو چه د عیسیٰ علیه السلام حوارینو د اسلام په ابتدائی زمانه کی د هغه نه مطالبه اُوکړه چه الله د هغوی دپاره د آسمان نه د قسماقسم خوراکونو یو دسترخوان نازل کړی دے دپاره چه دوی ئے اُوخوری او د دوی زړونو ته زیات اطمینان او یقین حاصل شی۔
یا عیسیٰ: حوارینو عیسیٰ علیه السلام ته په نوم آواز اُوکړو او د هغه نسبت ئے مور طرف ته اُوکړو، دے دپاره چه څوك دا شك اُونکړی چه دا خلق د عیسیٰ علیه السلام د اُلوهیت یا ولدیت معتقد وو۔ (القاسمیؒ)
صاحب د تفسیر التسهیل (ابن جزیؒ) لیکلی دی چه پدے خلکو کی زمونږ د نبی کریم ﷺ د صحابه کرامؓ نه ادب کم وو ځکه ئے ورته په نوم آواز وکړو او زمونږ صحابه کرامؓ هیڅکله په نوم آواز نهٔ دے کړے بلکه یا رسول الله او یا نبی الله به ئے وئیلو۔ (بلکه په نوم باندے آواز کول قرآن کریم منع کړیدی)۔ (التسهیل لعلوم التنزیل ۳۹۲/۱)
هَلْ يَسْتَطِيعُ : ((آیا ستا رب زمونږ دپاره د آسمان نه دسترخوان نازلولے شی؟))
ددے په باره کی علماؤ وئیلی دی چه دا لفظ ددوی غلط نهٔ وو پدے وجه عیسیٰ علیه السلام ددے نه منع نکړل، او مخکی د حوارینو صفت الله تعالیٰ وکړو چه دا مؤمنان خلك وو، نو بیا دوی دا لفظ ولے استعمال کړیدے؟ آیا د دوی د الله تعالیٰ په قدرت کی شك وو؟
نو مفسرینو ددے یو څو توجیهات لیکلی دی:
(۱) هَلْ په معنیٰ د (قَدْ) سره دے یعنی یقیناً ستا رب ددے طاقت لری۔ لکه ﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ﴾ ﴿هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ﴾
(۲) استطاعت کی معنیٰ د خوشحالئ پرته ده أَيْ هَلْ يَرْضَى رَبُّكَ۔ آیا په خوشحالئ به ستا رب مائده نازله کړی چه ناراضه پرے نشی۔ نو دا به بیا د اَدب سوال وی۔
(۳) یا دا په ظاهر باندے بناء ده، او دوی دا سوال د ناپوهئ د وجه نه کړیدے، او پدے باندے د جهالت د وجه نه نهٔ دی کافر شوی، ځکه چه جهالت عذر دے ځکه که یو تن د جهالت په وجه یوه خبره وکړی، او بیا د پوهے نه پس منع شی نو پدے باندے نهٔ گنهگاریږی لکه بعض صحابه کرامؓ رسول الله ﷺ ته د حنین غزاته د تللو په موقعه د هغوی د نوی مسلمانیدو په وخت کی وویل:
[اِجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتُ أَنْوَاطٍ]
زمونږ دپاره هم داسے ونه مقرر کړه لکه څنګه چه دے خلکو لره مقرر ده چه تورے ورته زوړنده وو او برکت پکی راځی۔

(دا شرکی کلمه وه لیکن په ناپوهۍ باندے وشوه، نوی مسلمانان وو)
لکه څنګه چه په بنی اسرائیلو کی یو سړی (چه کفن کش وو) بچو ته په وصیت کولو کی وویل چه ما به د مرګ نه روستو په اُور باندے وسیزئ، او بیا به ایرے په هوا کی والوزوئ [لَئِنْ قَدَرَ اللّٰهُ عَلَيَّ] که چرته الله تعالیٰ په ما باندے قادر شو نو سخته سزا به راکړی چه هیچا ته ئے نهٔ ده ورکړے۔ نو الله تعالیٰ راپورته کړو ورته ئے وویل : داسے دِے ولے وکړل؟ هغه وویل : ستا د یرے د وجه نه، نو الله ورته بخنه وکړه۔ (نو دا خبره ددهٔ په ناپوهۍ وه څکه الله تعالیٰ معاف کړو) (صحيح بخارى : ٣٤٧٩، ٣٤٨١) (٧٥٠٦)
بعض علماء وائی چه دا د اسلام په ابتدائی زمانه باندے محمول دے چه د حوارینو په زړونو کی لا اسلام پوره ځای نهٔ وو نیولے، او د الله د مقام نه لا تر اُوسه پورے پوره خبر نهٔ وو۔
(٤) غوره توجیه علامه ابن عاشورؒ لیکلے ده چه دا قول د عربیت مطابق دے چه هغوی په عرض (درخواست) او دعاء کی داسے الفاظ استعمالوی، هغوی یو تن ته چه د یو کار طاقت لری داسے وائی [هَلْ تَسْتَطِيْعُ كَذَا] آیا تهٔ ددے طاقت لرے؟ ددے معنیٰ دا وی چه که چرته هغه شخص ستا مطلوب پوره نکړی نو تا به د هغه دپاره عذر طلب کړے وی۔
دارنګه دا ترکیب په هغه وخت کی استعمالیږی چه سائل دا نهٔ خوښوی چه مسئول په هغه شی باندے مکلف کړی چه هغه ته ګران وی، او سائل ته دا معلومه وی چه دا به په مسؤول باندے ګرانه نهٔ وی لکه په حدیث د یحیی المازنی کی دی چه یو سړی عبد الله بن زیدؓ ته وویل : [أَتَسْتَطِيْعُ أَنْ تُرِيَنِيْ كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَتَوَضَّأُ] آیا ته طاقت لرے چه ما ته وښائے چه رسول الله ﷺ به څنګه اودس کولو۔ نو دلته سائل پو هه وو چه په عبد الله بن زید باندے به ددے جواب ګران نهٔ وی۔ نو د حوارینو دا قول دلالت کوی په تلطف او تأدب باندے په سوال کی لکه دا د خالصو مؤمنانو سره مناسبه ده، او دا شك نهٔ دے د الله په قدرت کی، لیکن دوی دا سوال ددے دپاره کولو چه په زړونو کی ئے ایمان نور هم مضبوط شی، او پدے سره د دلیل عقلی نه دلیل محسوس ته نقل شی۔ لکه ابراهیم عليه السلام وئیلی وو ﴿رَبِّ أَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى﴾ هلته هم شك نهٔ وو۔ (التحرير والتنوير ٥/ ٢٦٤)۔
مَآئِدَةً : د مَادَ يَمِيْدُ نه دے په معنیٰ د مائله کولو سره، او دا په معنیٰ د فاعل یا د مفعول سره دے، نو مائدے ته مائده څکه وائی چه د خوراك والو لاسونه ځان ته مائل کوی یا د خوراك والو لاسونه هغے ته مائل کیږی۔

د مائده، سُفره او خِوَان فرق

سُفره هغه دسترخوان دے چه د څرمنے نه جوړوی او خلك ئے په زمکه د روټئ د خوراك دپاره اچوی، خِوان: تیبل او میز ته وائی چه رسول الله ﷺ پدے باندے هیڅکله روټئ نهٔ ده خوړلے ځکه چه دا د جبابره ؤ متکبرانو طریقه ده۔ او مائده هغه دسترخوان ته وائی چه په هغے باندے فی الحال طعام پروت وی۔

اتَّقُوا اللهَ : عیسیٰ ؑ ورته ووئیل: د الله نه یره وکړئ او دا سوالونه مهٔ کوئ کیدے شی چه دا ستاسو دپاره فتنه (ازمائش) وګرځی، او د رزق په طلب کولو کی په الله باندے توکل وکړئ که تاسو مؤمنان یئ۔

قَالُوْا نُرِيْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُنَا وَنَعْلَمَ
ووئیل دوی: غواړو مونږ چه خوراك وکړو ددے نه او مضبوط شی زړونه زمونږ او پوهه شو مونږه
اَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۱۱۳﴾
چه یقیناً رشتیا وئیلی دی تا مونږ ته او شو مونږه په هغے باندے د ګواهی کونکو نه۔

تفسیر : نُرِيْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا : حواریینو د مائدے د طلب کولو سبب دا اُوخودلو چه مونږ ددے نه خوراك اُوکړو (او دا ځکه چه دوی یوه میاشت روژه نیولے وه نو وږی وو، خوراك ته محتاج وو) او زمونږ زړونو ته اطمینان او یقین حاصل شی، او مونږ ته معلومه شی چه ته په دعویٰ د نبوت کی او پدے دعویٰ کی رشتینے ئے چه الله به مونږ ته په جنت کی نعمتونه راکوی، او بنی اسرائیل چه کوم موجود نهٔ دی مونږ به د هغوی په مخکی د مائدے د نازلیدو ګواهی ورکوو، دے دپاره چه د هغوی ایمان هم زیات شی، او د هغوی نه چه لا تر اُوسه چا ایمان نهٔ دے راوړے چه هغوی هم ایمان راوړی۔

نو یو د لوږے زائل کول او بل د یقین ډیرول ئے مقصد وو چه دا د هر مؤمن طریقه ده چه یقین ډیرولو کوشش کوی او بل ته دعوت ورکول ئے مقصد وو۔

نَّاْكُلَ مِنْهَا : دلته قرطبیؒ د ماوردیؒ نه نقل کړیدی چه دلته د خوراك نه مراد برکت حاصلول دی د هغے نه۔ اَیْ نَاْكُلُ مِنْهَا لِنَنَالَ بَرَكَتَهَا] ۔ مونږ د هغے نه ددے دپاره خوراك وکړو چه د هغے برکت حاصل کړو۔ او ابن کثیرؒ د بعضو نه نقل کړیدی چه دا خوراك دوی

د فقر او د حاجت د وجه نه غوښتو، دے د پاره چه دوی ترے هره ورځ خوراك كوی او د هغے په وجه د الله په بندګئ باندے قوی کیږی۔ (ابن کثیرؒ)

وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا : یعنی زمونږ زړونو ته اطمینان او یقین زیات شی په قدرت د الله تعالیٰ باندے ځکه چه د علم استدلالی سره چه مشاهده یو ځای شی نو یقین زیاتیږی۔

قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَامَآئِدَةً مِّنَ
وویل عیسیٰ ځوی د مریم اے الله ! ربه زمونږ نازل کړه په مونږ باندے درسترخوان د
السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَ وَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ج
آسمان نه چه شی زمونږ د پاره اختر د اولنو زمونږ او روستنو زمونږ او نخه به شی ستا د طرف نه
وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿١١٤﴾ قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ
او رزق راکړه مونږ ته او ته ئے غوره د رزق ورکونکو نه۔ وویل الله تعالیٰ یقیناً زهٔ
مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ج فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيْ
نازلونکے د دے یم په تاسو نو چا چه کفر وکړو روستو د دے نه ستاسو نه نو یقیناً زهٔ به
اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١١٥﴾
عذاب ورکوم هغه ته داسے عذاب چه عذاب به نهٔ ورکوم داسے عذاب هیچا ته د مخلوقاتو نه۔

تفسیر : قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ : کله چه عیسیٰ علیه السلام ته معلومه شوه چه د دوی مقصد صحیح دے او په خپل سوال کلك ولاړ دی، نو عیسیٰ علیه السلام اُودس وکړو او مونځ ئے وکړو او بیا په انتهائی خشوع او خضوع سره ئے د الله نه دعا اُوکړه چه اے الله ! زمونږ د پاره د آسمان نه یو دسترخوان نازل کړه چه په هغے کی د هغه جنت نعمتونه وی چه د هغے تا مونږ سره وعده کړیده او هغه ورځ زمونږ د پاره او زمونږ نه روستو راتلونکی نسلونو د پاره د عید (اختر) ورځ شی، او ستا د کامل قدرت او د رشتینے وعدے او ستا د طرف نه زما د نبوت د تصدیق نخه شی۔ اے الله ! مونږ چه تا نه کوم سوال کړیدے دا پوره کړه۔ الله تعالیٰ اُوفرمایل چه زهٔ به دا نازلوم لیکن د دے نه روستو چه د دوی نه چا کفر اُوکړو نو هغه ته به زهٔ د تمام جهان والو نه لوئی عذاب ورکوم۔

عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما فرمائی : درے قسمه کسانو ته به الله تعالیٰ

د قیامت په ورځ سخت عذاب ورکوی (۱) آل فرعون۔ ﴿أَدْخِلُوٓا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾
(۲) ددے امت منافقانو ته۔ ﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾
(۳) چا چه د اَصحاب المائده نه ناشکری کړے وه۔ ﴿أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِينَ﴾۔ (ابن جریر الطبری ۱۱/۲۳۳) ابن کثیرؒ ۲/۲۲۶)
اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ : اُلوهیت او ربوبیت دواړه ئے په دعا کی یو ځای کړل، پدے کی ډیرے عاجزئ ته اشاره ده۔ او اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام رب او الـه نهٔ دے بلکه د الـه او رب نه سوالونه کوی۔
تَكُونُ لَنَا : چه شی دا مائده یعنی ورځ د نزول ددے۔
عِيدًا : دا د عَوُد نه دے، باربار راواپس کیدو ته وائی، دلته یا لغوی معنیٰ مراد ده بار بار خوشحالی۔ یا عرفی اختر مراد دے۔
وَاٰيَةً مِّنْكَ : یعنی ستا د توحید او زما د نبوت رشتینی دلیل به وی۔
وَارْزُقْنَا : او مونږ له پدے مائدے سره خوراك راکړه۔
وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِينَ : نور مخلوق هم رازقان دی، لیکن د هغوی رزق مجازی دے، الله تعالیٰ ته بهتر رزق ورکونکے ځکه وائی چه الله رزقونه پیدا کوی، بیا ئے په ټول مخلوق کی تقسیموی، او دا کار مخلوق نشی کولے او د الله رزقونه هر قسمه دی، ظاهری، معنوی، د هر رګ، د هرے سترګے، د هر اندام رزق ورکونکے دے۔
فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ : پدے جمله کی اشارات دی یو دے امت ته اشاره ده چه بے ځایه سوالونه مهٔ کوئ لکه اصحاب المائده سوالونه وکړل الله تعالیٰ قبول کړو مګر ناشکری ئے وکړه نو هغوی ته الله تعالیٰ ناشنا عذابونه ورکړل۔
ددے نه دا معلومه شوه چه کرامتونه غوښتل نهٔ دی پکار ځکه چه دا قانون دے چه څوك یو کرامت وغواړی نو بیا به د هغے مطابق پابند ژوند تیروی، که پابندی ئے ونکړه نو الله ئے هلاکوی، لکه یو تن داسے ووائی چه اے الله ! ما له داسے کرامت راکړه چه زهٔ ددے ځای نه کورته په هواء والوزم نو الله پدے قادر دے چه هغه ته دا توفیق ورکړی لیکن د الله دا قانون دے چه دا راتلونکی زندګی به ورنه په پابندئ کی غواړی، که پابندی ئے ونکړه په دنیا کی سخت عذاب ورکوی۔ او که کرامتونه ئے نهٔ غوختل بلکه عام مؤمن وی کله ورنه ګناه کیدله او توبه ئے ویستله او کله نیکی نو الله ئے په هغے هم بخښی۔
نو د دوی کرامت ښکاره شو چه دستراخوان نازل شو لیکن دوی پابندی ونکړه او

گناهونه به ئے كول نو الله سخت راونيول چه خنزيران ئے ترے جوړ كړل۔

آيا مائده نازله شوے وه؟

د اهل علمو اختلاف دے چه د آسمان نه مائده نازله شوے وه او كه نۀ ؟۔

(۱) د حسن بصریؒ او مجاهدؒ رائے ده چه مائده نۀ وه نازله شوے۔ حسنؒ به وئيل چه كله الله ﴿فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ﴾ الخ اُووئيل نو دے خلقو اُووئيل چه بيا زمونږ ددے ضرورت نشته دے، نو مائده نازله نشوه۔ مجاهدؒ وائي چه دا يو مثال وو چه الله تعالىٰ ددے دپاره بيان كړے وو چه انبياء كرامو نه دِے د هغوى قومونه د نخو مطالبه اُونكړى۔

حافظ ابن كثير رحمه الله وائي چه دے رائے ته تقويت پدے سره هم ملاويږى چه نصارىٰ دا نۀ پيژنى، او د دوى په كتابونو كى ددے ذكر نۀ دے راغلے۔ كه داسے شوى وے نو دے خلقو به هغه بيان كړى وے، او د دوى په كتابونو كى به موجود وے۔

(۲) ليكن د جمهورو رائے دا ده چه مائده نازله شوے وه او دا ځلوبنت ورځو پورے وه ځكه چه الله تعالىٰ ﴿اِنِّىْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ﴾ وئيلى دى او د الله وعده حقه وى، او ضرور پوره كيږى۔ او د سلفو د اخبارو او آثارو نه هم ددے تائيد كيږى۔

ترمذیؒ د عمار بن ياسر ﷺ نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : ((د آسمان نه مائده نازله شوه چه په هغے كى روټئ او غوښه وه او هغوى ته حكم اُوشو چه نۀ به خيانت كوى او نۀ به ئے صبا دپاره جمع كوئ۔ ليكن دوى خيانت اُوكړو (پټول ئے شروع كړل) او جمع ئے كړه، صبا دپاره ئے كيخوده نو په بيزوګانو او خنزيرانو سره بدل شو))۔ (ترمذى: ۳۰۶۱ وسنده ضعيف- البانى، فيه عنعنة سعيد بن ابى عروبة وعنعنة قتادة وهما مدلسان)

ابن ابى حاتمؒ د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت نقل كړيدے چه كله عيسىٰ ابن مريم عليه السلام دعا اُوكړه نو ملائك د آسمان نه مائدے سره نازل شو۔ او مخكى د عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما روايت هم ذكر شو۔

حافظ ابن كثيرؒ او ابن جريرؒ همدے رائے ته ترجيح وركړيده چه واقعى د آسمان نه مائده نازله شوے وه۔ او هرچه دوى په كتابونو كى نۀ ده ذكر نو وجه دا ده چه دوى د خپلو كتابونو نه ويستلے ده، پدے وجه چه پدے كى د دوى مسخ ذكر شويده او دا د دوى دپاره د شرم خبره وه لكه څنګه چه دوى به د سبت (خالى ورځے) واقعه پټه ساتله۔

او تاریخي روایاتو کې دي چه دا دسترخوان چه کله نازل شو نو د بني اسرائیلو مالدار، غریب، وږوکي او غټ، مریض او روغ ټول د خوراك دپاره حاضر شو چه په یو بل باندې راپریوتل، نو عیسیٰ علیه السلام د دوی نمبر مقرر کړو چه یوه ورځ به چا وخوړله نو په دویمه ورځ به هغه نهٔ راتللو، په مینځ کې به ئې یوه ورځ پریخودله، پدې طریقه څلویښت ورځې تیرې شوې، بیا دا مائده د الله په حکم سره آسمان طرفته پورته شوه چه د هغې سورې په زمکه باندې پروت ښکاره کیدو، الله تعالیٰ خپل نبي عیسیٰ علیه السلام ته وحي وکړه چه پدې مائده کې زما رزق صرف د فقیرانو، یتیمانانو او مریضانو دپاره دې، صحتمند او مالدارو دپاره نهٔ دې، نو مالداره پدې خبره په حسد کې شو نو خبرې ئې شروع کړلې او خپله هم په شك کې پریوتل او نور خلك ئې هم په شك کې اچول او غلطې خبرې ئې خورول شروع کړل، شیطان په دوی باندې قبضه وکړه، او د نیکانو خلکو په زړونو کې ئې هم وسوسې واچولې او دغه شان فسادونه پکې راغلل او فسق او فجور پکې پیدا شو، (ابن کثیرؒ وغیره)

نو عیسیٰ علیه السلام دوی ته ښیرې وکړې چه اې الله! خنزیران ترې جوړ کړه نو خنزیران ترې جوړ شو، او لږ وخت پورې وو او آخر هلاك شو۔

دا خلك مؤمنان وو لیکن د ګناهونو او د الله د امر ماتولو په وجه پرې دغسې دنیاوي عذاب راغلو۔

او دا د الله تعالیٰ ددې امت سره ډیر لوی رحم او فضل دې چه دوی باندې داسې قسم عذابونه نهٔ راولي ګنې تا به ډیر خلك لیدلې چه خنزیران او شادوګان به ترې جوړیدلې او په لارو کوڅو کې به ئې منډې تررې وهلې، مګر د دوی دپاره ئې سزا آخرت ته ساتلې ده۔ کوم چه کفار دي او د مؤمنانو سزا په دنیا کې فتنې او زلازل او پریشاني ده لکه رسول الله ﷺ فرمائي: ((زما امت مرحوم امت دې په دوی باندې په آخرت کې عذاب نشته، ددوی عذاب په دنیا کې فتنې، زلزلې، او قتلونه دي))۔ (ابوداود: ٤٢٨٠ وسنده صحیح)

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَ اَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ
او کله چه ووېل الله تعالیٰ اې عیسیٰ ځوی د مریم! آیا تا وئیلي دي خلقو ته
اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالَ
چه ونیسئ ما او مور زما دوه حقدار د بندګئ سوئ د الله تعالیٰ نه وبه وائي عیسیٰ

سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ بِحَقٍّ ۚ اِنْ كُنْتُ

پاک یې ته، نهٔ دی جائز ما لره چه ووایم زهٔ هغه څه چه نهٔ وی زما دپاره لائق، که چرې

قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ۚ تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ

ما داویلی وی نو یقیناً پوهه یې ته په هغې، پوهېږې ته په هغه څه چه ځما په زړهٔ کی دی

وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِكَ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿١١٦﴾

او نهٔ پوهېږم زهٔ په هغه څه چه په نفس ستا کی دی یقیناً ته ښه پوهه یې په پټو خبرو۔

تفسیر : دا اعاده ئې بُعْدِ عَهْد ده۔ خبرې مینځ کی ډیرې وشوې نو بیرته ئې خبره سرته بوتله۔

مناسبت :

فَرَّطُوْا فِیْ حَقِّ الْمَائِدَةِ وَحَقِّ اللّٰهِ ۔ بنی اسرائیلو د مائدې په باره کی هم تفریط (کوتاهی) کړیده چه ناشکری ئې کړیده او د الله په حق کی هم، چه د الله حق ئې عیسیٰ ﷺ ته ورکړو۔

ءَ اَنْتَ قُلْتَ : دا خو الله تعالیٰ ته بهتره معلومه ده چه عیسیٰ ﷺ دا خبره نهٔ ده کړې لیکن پدې کی د هغه اُمت راګیرول دی چه هغوی په عیسیٰ ﷺ باندې دروغ جوړ کړی وو چه مونږ ته هغه او د هغه مور دا حکم کړیدې چه مونږ ئې اله جوړ کړئ۔

دویم پدې کی عیسیٰ ﷺ ته دا خودل دی چه ستا نه روستو نصاراؤ ستا دین بدل کړیدې۔ دریمه فائده دا ده چه خلکو ته دا خبره ښکاره کول مقصد دې چه عیسیٰ ﷺ د وفات نه روستو د اُمت د حال نه خبر نهٔ دې۔

او په حدیث د ترمذیؒ کی راغلی دی چه پدې کی مقصد عیسیٰ ﷺ ته حجت خودل دی چه ته ئې داسې ووایه۔ او دا سوال چه کله په عیسیٰ ﷺ باندې وشی نو په هغه باندې به سخت هیبت راشی ځکه چه د الله خبرې ډیر رعب لری۔

سُبْحٰنَكَ : یعنی ته د شریکانو او هر عیب نه پاک یې۔

مَا يَكُوْنُ لِيْٓ : یعنی دا په معنیٰ د [مَا يُمْكِنُ وَمَا يَنْبَغِيْ وَمَا يُتَصَوَّرُ] سره دې یعنی دا زما دپاره مُمکن او مناسب نهٔ ده چه زهٔ داسې خبرې وکړم۔

مَا لَيْسَ لِيْ بِحَقٍّ : یعنی خپل اُلوهیت ته دعوت ورکول زما په هیڅ طریقه سره حق نهٔ دې۔

اِنۡ كُنۡتُ قُلۡتُهٗ فَقَدۡ عَلِمۡتَهٗ : یعنی که ما دا خبره کړې وی نو ته به پرے پوهه ئے ځکه چه په تا باندے هیڅ شے پټ نهٔ دے، معلومه شوه چه ما نهٔ ده کړے۔ ابوالسعودؒ وائی : صدور ددے قول د عیسیٰ علیه السلام نه مستلزم دے علم د الله تعالیٰ لره قطعاً، اوانتفاء د علم د الله تعالیٰ په صدور ددے قول د عیسیٰ علیه السلام نه دا مستلزم دے انتفاء د صدور ددے قول د عیسیٰ علیه السلام نه ځکه چه انتفاء د لازم مستلزم ده انتفاء د ملزوم لره۔ مطلب دا چه که ماویلی وی نو ته به پرے پوهه یې او هرکله چه تا ته نهٔ ده معلومه، نو معلومه شوه چه ما نهٔ ده وئیلے۔

(تفسیر ابی السعود۲/۳۲۱)

تَعۡلَمُ مَافِیۡ نَفۡسِیۡ : یعنی که ما چرته په زړه کی پټه ساتلی وی او اُوس انکار کوم نو تهٔ زما په زړه باندے هم عالِم یې۔

وَلَاۤ اَعۡلَمُ مَافِیۡ نَفۡسِكَ : انبیاء علیهم السلام د الله تعالیٰ ډیر معرفت لری لیکن د الله د ذات حقیقت او د هغه په نفس کی چه کوم عِلمونه دی هغه پوره نشی معلومولے، ﴿وَلَا یُحِیۡطُوۡنَ بِهٖ عِلۡمًا﴾ (طه: ۱۱۰)

نفس د الله د صفاتو نه دے، د الله نفس شته څنګه چه د هغه د شان سره لائق وی، او پدے کی دا تاویل کول چه [لَا أَعۡلَمُ مَا فِیۡ سِرِّكَ وَمَا فِیۡ غَیۡبِكَ]

(زهٔ نهٔ پوهیږم په هغه څه چه ستا په راز او ستا په غیبو کی دی) دا د الله د صفت نه انکار دے او د سلف صالحینو د منهج نه خلاف دی۔

اِنَّكَ اَنۡتَ عَلَّامُ الۡغُیُوۡبِ : پدے کی ددے خبرے اقرار او اعلان دے چه د غیبو خبرے د الله نه سِوا هیڅوك نهٔ پیژنی، پدے کی انبیاء او غیر انبیاء ټول برابر دی۔ انبیاؤ ته هم د غیبو هغه خبرے معلومیږی چه په وحی سره هغوی ته خودلے کیږی۔

مَا قُلۡتُ لَهُمۡ اِلَّا مَاۤ اَمَرۡتَنِیۡ بِهٖۤ
نهٔ دی ویلی ما دوی ته مګر هغه خبره چه حکم کړے تا ما ته په هغې سره
اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ رَبِّیۡ وَرَبَّكُمۡ ج وَكُنۡتُ عَلَیۡهِمۡ شَهِیۡدًا
دا چه بندګی کوئ د الله چه رب ځما دے او رب ستاسو دے او وم زهٔ په دوی باندے ګواه
مَّا دُمۡتُ فِیۡهِمۡ ج فَلَمَّا تَوَفَّیۡتَنِیۡ كُنۡتَ اَنۡتَ الرَّقِیۡبَ
ترڅو چه وم په دوی کی نو هرکله چه پوره واخستم تا زهٔ نو خاص تهٔ نظر ساتونکے ئے

عَلَيۡهِمۡ ؕ وَاَنۡتَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ﴿۱۱۷﴾

په دوی باندے او ته په هر شی باندے حاضر ناظر ئے۔

تفسیر : سوال پیدا شو چه بیا تاسو څه دپاره بنی اسرائیلو ته ورغلی وئ؟ نو جواب وشو په طریقه د ادب سره چه ما خو بنی اسرائیلو ته نور هیڅ خبره نهٔ ده کړے سویٰ د هغے نه چه تا پرے ما ته حکم کړیدے او تا ما ته دا حکم کړیدے چه (اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ) نو (اُعۡبُدُوا اللّٰهَ) بیان دے د (مَا اَمَرۡتَنِیۡ بِهٖ)۔ نو معلومه شوه چه ما دوی ته د خپل اُلوهیت په باره کی هیڅ نهٔ دی ویلی، دا د دوی دروغ دی چه ما پورے ئے تړلی دی۔

وَ كُنۡتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيۡدًا : یعنی کله چه زهٔ په دوی کی موجود وم نو ما ته معلومه وه چه دوی ستا بندګی او اطاعت کولو نو دوی بنه خلك وو۔

فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِىۡ : یعنی هر کله چه تا زهٔ پوره واخستم، بره آسمان ته دِے وخیژولم او د مرګ معنیٰ ئے هم صحیح ده ځکه چه دا خبره به په قیامت کی کوی۔ نو بیا ته زما د امت په حال باندے خبردار وے چه دوی زما نه روستو څه کارونه کړیدی۔

كُنۡتَ اَنۡتَ الرَّقِيۡبَ عَلَيۡهِمۡ : دے آیت نه دا هم معلومه شوه چه انبیاء کرام علیهم السلام چه کله خپل دنیاوی عمر پوره کړی او عالَم برزخ ته منتقل شی نو هغوی ته د خپلو امتونو د احوالو او اعمالو پته نهٔ لګی۔ امام بخاریؒ په کتاب (الصحیح) کی په ډیرو بابونو کی د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ خطبه اُووئیله او وے فرمایل چه د قیامت په ورځ به د امت څه کسان راوستے شی چه هغوی به په ګس طرف روان کړے شی، نو زهٔ به وایم :

[یَا رَبِّ! اُصَیۡحَابِیۡ، فَیُقَالُ : اِنَّكَ لَاتَدۡرِیۡ مَا اَحۡدَثُوۡا بَعۡدَكَ فَاَقُوۡلُ كَمَا قَالَ الۡعَبۡدُ الصَّالِحُ، ﴿وَكُنۡتُ عَلَیۡهِمۡ شَهِیۡدًا مَا دُمۡتُ فِیۡهِمۡ فَلَمَّا تَوَفَّیۡتَنِیۡ كُنۡتَ اَنۡتَ الرَّقِیۡبَ عَلَیۡهِمۡ، فَیُقَالُ : هٰؤُلَاءِ لَمۡ یَزَالُوۡا مُرۡتَدِّیۡنَ عَلٰی اَعۡقَابِهِمۡ مُنۡذُ فَارَقۡتَهُمۡ﴾

اے ربه ! دا خلق خو زما ملګری دی، نو هغه ته به اُووئیلے شی : ته نهٔ پو هیږے چه دوی ستا نه روستو په دین کی څه څه نوے خبرے پیدا کړے وے۔ نو زهٔ به د الله د نیك بنده (عیسیٰ) په شان وایم : ﴿وَكُنۡتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيۡدًا مَا دُمۡتُ فِيۡهِمۡ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِىۡ كُنۡتَ اَنۡتَ الرَّقِيۡبَ عَلَيۡهِمۡ﴾ نو هغه ته به بیا وئیلے کیږی چه دا خلك ستا د دنیا نه د رخصتیدو نه پس همیشه روستو پاتے شوی وو او په خپلو پوندو اوړیدلی وو۔ (محاسن التاویل)

وَاَنۡتَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ شَهِیۡدٌ : شهید د شهادت نه دے په معنیٰ د علم سره یعنی په هر شی عالِم یی۔

اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ فَاِنَّهُمۡ عِبَادُكَ ج وَاِنۡ تَغۡفِرۡ لَهُمۡ

که عذاب ورکوے تهٔ دوی ته نو یقیناً دوی بندګان دی ستا او که تهٔ بخنه کوے دوی ته

فَاِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۱۱۸﴾

نو یقیناً تهٔ غالبه حکمتونو والا یے۔

تفسیر : اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ : د عیسیٰ علیه السلام په بیان سره نصاریٰ او یهود راګیر شول نو پدے کی عیسیٰ ﷺ الله تعالیٰ ته د هغوی د معاملے تفویض (سپارښتنه) کوی ځکه چه عیسیٰ ﷺ ډیر نرم دل پیغمبر وو، چه اے الله ! ستا خوښه ده که دوی ته عذاب ورکوے هم ستا بندګان دی او د بل چا بندګی ئے کړیده نو دوی مستحق د عذاب دی او که ته ورته بخنه کوے هم پدے باندے تهٔ قادر ئے۔

اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ : ددے جزاء پټه ده [اَیۡ فَلَا اِعۡتِرَاضَ عَلَیۡكَ لِاَنَّهُمۡ عَبَدُوۡا غَیۡرَكَ] یعنی که ته دوی ته عذاب ورکوے په تا به هیڅ اعتراض نهٔ وی ځکه چه دوی ستا نه علاوه د بل چا بندګی کړیده او ستا حق ئے برباد کړیدے۔ ددے نه غوره دا ده چه [اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ فَاِنَّهُمۡ مُسۡتَحِقُّوۡنَ لِذٰلِكَ فَاِنَّهُمۡ عِبَادُكَ وَعَبَدُوۡا غَیۡرَكَ] که ته دوی ته عذاب ورکوے نو دوی ددے مستحق دی ځکه چه ستا بندګان دی او عبادت ئے د بل چا کړیدے۔

وَاِنۡ تَغۡفِرۡ لَهُمۡ : [فَاِنَّكَ قَادِرٌ عَلٰی ذٰلِكَ] یعنی که ته ورته بخنه کوے نو پدے باندے قادر یی۔ سوال کافر ته خو مغفرت نهٔ کیږی نو څرنګ وائی ان تغفر لهم ؟ جواب دا دے چه دلته یو د الله قانون دے او یو ئے قدرت دے، د الله قانون دا دے چه مشرك ته بخنه نکوی، او قادر دے چه ټول مشرکان معاف کړی او جنت ته ئے بوځی۔

او ډیر ته بعض متکلمین اخلاف الوعید وائی۔

لکه د عربو په نیز به خلاف الوعد (د وعدے خلاف) عیب ګنړلے کیدو او اخلاف الوعید به ښه صفت وو په بعض اوقاتو کی، ددے وجه نه الله تعالیٰ د ډیرو ګناهګارو دپاره د ګناه سزا بیان کړی وی لیکن د هغے سره سره ئے معاف کړی، (سویٰ د شرك نه) دا بیا د الله احسان دے اخوا د قانون د هغه نه۔

رسول الله ﷺ به په تهجدو کی دا آیت بار بار لوستلو او رکوع او سجده به ئے کوله، پدے کی د هغه امت ته هم اشاره ده۔

قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ۭ لَهُمْ
ووئیل الله دا ورځ ده چه فائده به ورکوی رشتینو ته رشتیا وینا د هغوی، د هغوی دپاره
جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ
جنتونه دی چه بهیږی به لاندے د هغے نه نهرونه، همیشه به وی په هغے کی همیشه،
رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۱۹﴾ لِلّٰهِ
راضی دے الله تعالیٰ د دوی نه او راضی دی دوی هغه نه، دا کامیابی ده لویه۔ خاص د الله دپاره
مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ۭ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۲۰﴾
بادشاهی د آسمانونو او زمکے ده او د هغه څه چه پدے کی دی او هغه په هر شی قادر دے۔

تفسیر : هرکله چه مخکی د عیسیٰ علیہ السلام جوابونه ذکر شو نو اُوس د نفس شوق پیدا شو چه په دغه ورځ به الله تعالیٰ بندګانو ته څه وائی، نو هغه بیانوی۔

کله چه هغه د ملحدینو نصاراؤ نه براء ت ښکاره کړو نو الله تعالیٰ د هغه د رشتینوالی ګواهی ورکړه او هغه ئے په صادقینو کی شمار کړو او وے وئیل چه د قیامت ورځ به هغه ورځ وی چه رشتینو ته به د هغوی رشتیا فائده ورکوی او دوی ته به داسے جنتونه ملاویږی چه د هغے نه لاندے به نهرونه روان وی چه دوی به په هغے کی همیشه وی او الله به د دوی نه راضی وی او دوی به د الله نه راضی وی او همدا به لویه کامیابی وی۔

صِدْقُهُمْ : د صدق دلته درے مصداقات دی۔ (۱) صدق فی العقیدة۔ رشتینی عقیده، چه هغے ته مطابقة الخبر للواقع وائی یعنی تهٔ دا خبر ورکوے چه الله شته او برہ دے او محمد رسول الله ﷺ د الله حق رسولے دے، نو دا د واقع مطابق دی نو تهٔ رشتینی عقیدے والا شوے۔ او که د چا په عقیده کی صدق نهٔ وی لکه داسے وائی چه الله هر ځای کی دے، د هغه د صفتونو نه انکار کوی، او محمد رسول الله ﷺ صرف د عربو پیغمبر ګنړی نو دا د واقع سره برابره نهٔ ده، نو دا رشتینی عقیده نشوه۔ او عیسیان چه وائی عیسیٰ علیہ السلام عین الله یا ابن الله دے، او یهود وائی عزیر ابن الله دے نو دوی صادقان نشو۔ څکه د واقع سره ئے

برابره خبره ونکړه۔
(۲) صدق فِي الْقَوْل : هره خبره رشتیا کول۔
(۳) صدق فِي الْعَمَل۔ چه عمل کی رشتینی وی،
داسے نۀ لکه زمونږ د زمانے ډیر خلك چه په خوله باندے د دین، او د دین د اعمالو صفت کوی چه مونځ او زکاة او حج او صدقه ښه شے دے لیکن عمل پرے نۀ کوی نو دا رشتینی نۀ دے۔ ددۀ په عمل کی تګی ده لکه منافقان ﴿يُخَادِعُوْنَ اللهَ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ والا دی۔ نو دا درے قسمه رشتینوالے چه په چا کی راغلو نو دا کامیاب دے۔
علامه رشید رضاؒ داسے جامع تعبیر کوی:
[يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ فِيْ اِيْمَانِهِمْ وَشَهَادَاتِهِمْ وَسَائِرِ اَقْوَالِهِمْ وَأَحْوَالِهِمْ]
یعنی هغه رشتینو ته به د هغوی رشتیا فائده ورکوی چه په ایمان او ګواهیانو او په ټولو اقوالو او احوالو کی رشتینی وی۔ (المنار۷/۲۲۸)
نو پدے آیت کی دعوت دے صدق ته په ټولو څیزونو کی، او پدے باندے ئے کامیابی بنده کړیده۔
او بیا دا خبره یاد ساتل پکار دی چه هغه رشتیا ویل په آخرت کی فائده ورکوی چه انسان په دنیا کی رشتینی وی، ورنه په آخرت کی به کافران هم د خپل کفر اقرار کوی او ابلیس به د خپل کفر او انکار اقرار کوی لیکن هلته رشتیا فائده نۀ ورکوی ځکه چه دا رشتیا د دنیا د عمل سره موافق نۀ ده۔
فائده : آیت دلیل دے په فضیلت د صدق باندے په ټولو احوالو کی او په حدیث کی دی: الصدق ینجي والکذب یهلك۔ رشتیا خلاصول کوی او دروغ هلاکول کوی۔ او په یو بل حدیث کی ارشاد دے [إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِيْ إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِيْ إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتّٰى يُكْتَبَ صِدِّيْقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِيْ إِلَى الْفُجُوْرِ وَإِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِيْ إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتّٰى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّٰهِ كَذَّابًا] (بخاری : ٦٠٦٤) مسلم (٦٨٠٣)
یقیناً رشتیا نیکئ ته رسول کوی او نیکی جنت ته رسول کوی، او یو تن به همیشه رشتیا وائی تردے چه د الله په نیز به رشتینی ولیکلے شی او یقیناً دروغ بدکارئ ته رسول کوی او بدکاری اُور ته رسول کوی، او یقیناً یو سړے به خامخا د دروغو کوشش کوی تردے چه هغه به د الله په نیز دروغجن ولیکلے شی۔
لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ : په آخره کی د الله تعالیٰ د کامل تصرف او مالکیت او ملوکیت

بيان دے چه د تهول سورت سره متعلق دے۔

مناسبت

۱- د نـزدے آيت سره مناسبت دا دے چه هركله بادشاهي د الله ده نو پدے وجه صادقين جنت ته داخلوي۔ ۲- يا د عيسىٰ ﷺ د واقعے سره لگى چه عيسىٰ ﷺ او د هغه مور الـه نشي كيدے ځكه چه هغه مخلوق او مملوك دے او د آسمان او د زمكے ترمينځ رابند دے او پـه هغـه كى د الله تـصرف چـلـيـږى، او الله تعالىٰ د كائناتو مالك دے، نو د هغه سره څوك شريك نشى كيدے، هغه په هر شى قادر دے نو هغه صرف د بندگئ حقدار او لائق دے۔

۳- د مضمون د سورت سره هم متعلق دے چه د حلال او حرام واك به د الله وى ځكه چه كائنات او انسانان د هغه دى نو حكم به هم د هغه وى۔

امتيازات او خصوصيات

۱- دا سورت په بيان د كثرتِ حلال او حرام كى د نورو سورتونه ممتاز دے۔
۲-شپاړس كرته پكى (يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا) آواز راغلے دے چه داسے په نورو سورتونو كى نشته۔
۳- د دفع د موالات دپاره ډير علتونه پدے سورت كى بيان شو۔
٤- پنځه اسباب د دفع د ارتداد پكى بيان شو۔
٥- د مائدے واقعه او د بحيره او سائبه او وصيله او حام ذكر په همدے سورت كى شويدے۔
٦- آية د وصيت او شهادت پكى ناشنا دے۔

د الله په توفيق سره ختم شو تفسير د سورة المائده په تاريخ : عاشر رمضان ١٤٣٥ هـ الموافق : ١٠/جولائى ٢٠١٤ اسريت - كالام روډ سوات۔
وكتبه : ابوزهير فى خيمة الاخ المخلص الفاضل خير الرحمن السواتى۔
تاريخ الاخراج : صفر المظفر (٢٧) ١٤٣٥ هـ موافق : ١٨/١٢/٢٠١٤



فهرست تفسیر حکمة القرآن جلد (٤)

